كاشفة

پښتو شرح د

كافية

تصنيف اللطيف

مفتی عطاء الرحمٰن ملتانی

پښتو مترجم

مولوی شاه حسین

مكتبة الاصلاح
محله جنگی پشاور

زیر اهتمام
0333-920 23 38

کاشفة

پښتو شرح

کافية

(تصنيف لطيف)

مفتي عطاء الرحمٰن مُلتاني

(پښتو مترجم)

مولوي شاه حسين

ناشر

اعراف پبليشرز

ميلاويدو پته

مكتبة الاصلاح

محله جنګی بازار پيښور

کتاب نوم: کاشفة پښتوشرح کافیة

تصنیف لطیف: مفتی عطاء الرحمٰن مُلتانی

پښتومترجم: مولوی شاه حسین

ناشر: اعراف پبلیشرز محله جنګی پیښور

091-2580006/25680268

میلاویدو پته: مکتبه الاصلاح محله جنګی پیښور

بسم الله الرحمٰن الرحيم

تقرظ

نمونه سلف قدوة الخلف شيخ النحو والصرف استاذی المکرم مولانا نصرالله خان صاحب مدظله ،مدرسه بحر العلوم توحيد آباد

دارشاد الصرف ډيرے شرحے چاپ شوی دی ليکن ديو څو خصوصياتو په وجه دا دنورو شرحو ممتاز ده (۱) بهترين مقدمه او مبادات (۲) دَ قانون دَ تفهيم دپاره دَ هر قانون سره حل شوی صيغے (۳) بيادېو نوع دَ قوانينو دپاره مشترکه حل شوی صيغے (۴) دهر قانون دپاره فائدے چه ملغرے او جواهر دی.(۵) خاصيات ابواب (۶) په آخره کښے ۴۰۰۰ هزار ناياب ،لاجوابه حل شوی صيغے . داکتاب دَ صرف دَ شلو کتابونو خلاصه ده. دَ علماء کرامو اوطلبه عظام دپاره مفيد شرح ده صرف دکتب خانے نه بلکه دَ زړهٔ اودماغو زينت جوړ کړے شی.

الله تعالیٰ عزتمند مصنف ته او ددوی تصنيفاتو ته شرف دَ قبوليت ورکړی آمين يارب العٰلمين

محمد نصرالله عفی عنه.

تقرظ

جامع المعقول والمنقول غزالی دَ زمانے ،رازی دوران مولانا قاضی حمیدالله خان صاحب مهتمم مدرسه مظاهر العلوم گوجرانواله نحمده ونصلی ونسلم علی رسوله الکریم!

بنده امداد الصرف شرح دَارشاد الصرف کتلی ده چه دَ صرف په مسائلو کښے خزانه ده دَ صیغو په فائده کښے سمندر دے او په علم الصرف کښے دا رومبے کتاب دے چه په دیکښے نایاب او احتمالی صیغه جات دی .دبنده په نظر کښے تر نن بورے داسے صیغے په هیڅ یو کتاب کښے نه دی لیکلے شوی.

لهٰذا داکتاب دَ شوقینو دپاره یقیناً بے جوابه تحفه ده چه ددے په کتلو سره زړهٔ دخوشحالی نه ډک شو چه الحمد لله ددے کم علمیٔ په زمانه کښے هم خلاف عالَم څنګه اهل علم پیدا کړی دی په دے بانده بس زهٔ خو دومره وایم چه الله درالمصنف اللهم زد فزده حمیدالله خان

التقريظ الاجلی للمفتی الاعلی النحرير الاتقی

الفقيه الاتقی

مُحَمَّد عيسی

دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ العليا

الحمد لله الّذی خلق الانسان بتشريفه وعلمه القرآن بتعليمه وجعل علوم العربية الأولية من التصريف والنحو وغيرها وسيلته وموصلته فبفضل الله وبرحمته يكاد الانسان يفهم القرآن بلغة القرآن ويبين و يوضح معانيه ومقاصده مما علمه البيان۔

اما بعد فان اخانا فی الله الفاضل الاديب الاريب البارع فی علوم الصرف والنحو مولانا عطاء الرّحمٰن الملتانی كثر الله أمثاله وأدام الله انفاسه شرح الكافية فی النحو لعلامة ابن الحاجب المسمّٰی بالكاشفة شرحًا قويًا فی مقاصده وبليغًا فی معارفه فی الاردية متضمنا للسوال والجواب ومشتملا علی تفاصيل المناسبة بقدر الحساب بحيث يسهل المرام تسهيلًا شافيًا وبحال الراغبين وافيًا فجعله الله نافعًا وذخرًا له ولاساتذته۔ امين۔

محمد عيسی عفی عنه
خادم لجامعة المفتی
فتاح العلوم نوشهره سانسی گوجرانواله
۴، ربيع الثانی ۱۴۲۱ھ بمطابق ۷، جولائی ۲۰۰۰ء

بسم الله الرحمٰن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ ضَاعَفَ اَجرَ الْمُجْتَهِدِ عَلیٰ صَحِیْحٍ والصَّلوٰةُ والسَّلَامُ عَلیٰ رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ تَمَثَّلَ مِثَالًا غَیْرَلَفِیْفٍ عَلیٰ اٰلِهٖ وَصَحْبِهِ الْمُنْتَثِلِیْنَ اَلْهَا مِزِیْنَ غَیْرِ نَقْصٍ وَتَعْلِیْلٍ اَمَّا بَعْدُ

(مباء یات) اول فصل

بسم الله الرحمٰن الرحيم

سبحان من برهانه اجلى واعلیٰ شانه

اعلى العلى سلطانه سبحانه سبحانه

ترجمه: پاک دے هغه ذات چه دهغه برهان ښکاره دے اودهغه شان اوچت دے او بادشاهی ئے هم اوچته دة او پاک دے دهر څه نه اوپاک دے دهر څه نه.

رومبئ خبره:. دعلم نحو ضرورت او اهمیت لغت عربی ته چه کوم رومبے والے اوغورة والے حاصل دے هغه پټ نه دے چه په هغے باندے دقرآن وحدیث (چه د اسلام مبدأ او منتهی دے) ورود یقین دلیل دے .چه ددے حفاظت اودَاشاعت دَ بقا او احیا دپارة اسلاف واخلاف رضی الله عنهم جدو جهد قابل تقلید اوقابل رشک مثال دے چه ددے دپارة دوی علمونه ایجاد کړل اودتعلیم وتعلم سلسله ئے جاری کړة اودَ تصنیف وتالیف دروازة ئے کلاؤ کړة ورنه نن خود لغت عربی اسرار ورموز وضاحت او بلاغت وحقائق او دقائق معلومول خو یو طرفته کړة. ددے دتلفظ هم په چاکښے استطاعت او قدرت نشته بلکه مخکښے هم نه وؤ. نوصحابه کرامو صرف ونحو ایجاد کړة یوڅومثالو نه :

رومبے مثال:. دَ عمرؓ په دور خلافت کښے یواعرابی خلقو ته اووئیل من یُقْرِءُ لی ماانزل علی محمد ﷺ چه رسول الله ﷺ باندے نازل کړے شوی قرآن مجید نه څه حصه ماته څوک اولولی. یوسړی اووئیل زة به ئے اولولم نو دَهغه معلم دسورت براء ت آیت کریمه ان الله بریئ من المشرکین ورسوله اولوستو چه په دیکښے دَلفظ رسوله په لام باندے زیرے اولوستو چه ددے

معنی جوړیږي چه ہے شکه الله تعالیٰ دَمشرکانو اودَخپل رسول نه جدا دے (معاذالله) نو دغه متعلم اعرابی اوونیل چه زۀ هم دَرسول نه جدا یم عمرؓ را اوغوښتو اوتپوس نے ترینه اوکړو چه تا دَرسول ﷺ نه دَ جدایئ اعلان کړے دے اعرابی عرض اوکړو چه زۀ قرآن مجید دَ لوستلو په اراده مدینے منورے ته راغلے اووم یوسړی ماته دا آیت اولوستلو چه په دیکښے الله تعالیٰ دخپل پیغمبرنه دجدایئ اعلان کړے دے نوزۀ په دجدایئ اعلان ولے نه کوم .زما څه قصور دے نو عمرؓ پوهه کړو چه (رسوله) په لام باندے کسره نه ده ضمه ده .چه ددے معنی دہ چه الله تعالیٰ اودَهغه رسول ﷺ دَمشرکینو نه بیزاره دے نودغه وخت عمرؓ حکم اوکړو چه څوک دلغت عالم وی هغه دِ تعلیم ورکړی او ابوالاسود دوئیلی ته ئے دَعلم نحو دَ تدوین حکم ورکړو (ددینه معلومه شوه چه د نحو موجد اول عمرؓ دے)

دوئم مثال: په یو روایت کښے دی چه ابو الاسود دوئیلی وائی چه یوه ورځ زه دَعلیؓ په خدمت کښے حاضر شوم نو دے ډیر فکرمند ناست وؤ. اوماته ئے اوونیل چه ماد یوسړی نه واوریدل چه غلط وئیل ئے کول نوخیال راغے چه زه اصول عربیت باندے یو کتاب اولیکم بیایوڅو ورځے پس زه حاضر شوم نو دوئ ماته یوکتاب راکړو چه په هغے کښے دَ نحو یو څو قواعد لیکلی شوی وؤ.

اَلْكَلَامُ كُلُّهُ ثَلٰثٌ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ. فَالْاِسْمُ مَا اَنْبَأَ عَنِ الْمُسَمّٰى وَالْفِعْلُ مَا اَنْبَأَ عَنْ حَرْكَةِ الْمُسَمّٰى وَالْحَرْفُ مَااَنْبَأَ عَنْ مَعْنًى لَيْسَ بِاِسْمٍ وَلَا فِعْلٍ كُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ كُلُّ مُفْعُوْلٍ مَنْصُوْبٌ كُلُّ مَضَافٌ اِلَيْهِ مَجْرُوْرٌ.

دریم مثال: دَ معاویهؓ په خدمت کښے بنت خویلد اسدی اوونیل اِنَّ اَبِيْ قَدْ مات وَتَرَكَ لِيْ مَالًا. دۀ (مالًا) په اماله سره اولوستو حالانکه دَاماله هیڅ مقام نشته .معاویهؓ دا تلفظ ناخوښه کړو. علیؓ ته ددے واقعے خبر اوشو نو باب اِنَّ باب اضافت او باب اماله ئے اولیکل.

څلورم مثال: عبدالملک خلیفه مروانی ته یو سړے راغے چه هغه دخپل زوم شکایت اوکړو نو هغه له تپوس په ماشالك سره پکار وو چه ستا څه معامله ده لیکن وے وئیل ماشانَكَ چه ته چا عیب دار جوړ کړے. اودغه رنګ تپوس پکارو وو مَن خَتَنُكَ چه ستا زوم څوک دے لیکن دۀ وئیل چه مَن

ختنګ چه ستا ختنه چا اوکړه .

پنځم مثال: مَنِ الْمُتَوَفِّيْ (په صيغه دَاسم فاعل) علیؓ جواب کړو هواللّٰهُ چه مرګ ورکونکے اللّٰه دے حالانکه دَهغه دپاره داسے تپوس پکار وو من الْمُتو فیٰ (په صيغه داسم مفعول) چه دا فوت شوے څوک دے)ددے مثالونو نه زمونږ مدعیٰ دَ ورځے دَ رنړا په شان واضحه شوه چه علوم بالخصوص دَ نحو نه بغير دَ لغت عربيه ډيرمشکل دے. په دے وجه په يوڅو ارشادات مبارکه او اقوال طيبه سره اهميت بيان کړے شوے دے.

(١)قَالَ النَّبِيُّ ﷺ رَحِمَ اللّٰهُ اِمْرَاً اَصْلَحَ مِنْ لِسَانِهٖ

(٢) قَالَ ابوبكر وعمرؓ عنهما تَعَلُّمُ اِعْرَابِ الْقُرْاٰنِ اَحَبُّ اِلَيْنَا مِن تَعَلُّمِ حُرُوْفِهٖ .

(٣) قال عمررضی اللّٰه عنه لَاَنْ اَقْرَاَ فَاُخْطِئَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَقْرَاَ فَاَلْحَنَ لِاَنِّيْ اِذَا اَخْطَاْتُ رَجَعْتُ وَاِذَا لَحَنْتُ اِفْتَرَيْتُ

(٤) قَالَ عُمَرُؓ لِقَوْمٍ رَمَوْ فَاَسَاؤُا بِئْسَ مَارَمَيْتُمْ فَقَالُوْا اِنَّاقَوْمٌ مُتَعَلِّمُوْنَ ،فَقَالَ وَاللّٰهِ لَخَطَئُكُمْ فِيْ كَلَا مِكُمْ اَشَدُّ مِنْ خَطَئِكُمْ فِيْ رَمْيِكُمْ.

(٥) قَالَ عَلِيٌّؓ قِيْمَتُ كُلِّ امْرِءٍ مَايُحْسِنُ.

(٦) قَالَ بَعْضُ السَّلْفِ رُبَمَادَ عَوْتُ فَلَحَنْتُ فَاَخَافُ اَنْ لَّا يُسْتَجَابَ لِيْ.

دوئمه خبره: مدون اول څوک دے په ديکښے يو څو اقوال دی (١) عمرؓ مدول اول دے (٢) علیؓ دے(٣) ابوالاسود دويلی تابعی دے دویٔ علیؓ ته اووئيل نَحَوْتُ اَنْ اَصْنَعَ مِيْزَانًا لِلْعَرَبِ لِيَقُوْمُوْا بِهٖ لِسَانَهُمْ

دريمه خبره: دنحو معانی لغوی (١) قصد (٢) مقدار(٣) قبيله (٤) طرف(٥) صرف(٦) نوع (٧) مثل (٨) لاره (٩) صيانت(١٠) فصاحت(١١) ميلان کول(١٢)تابعداری کول (١٣) اعتماد کول (١٤)لرے کيدل.

معانی اصطلاحی:۔ يعنی تعريفات او موضوع اوعرض وغايت

تعريف: اَلنَّحْوُ هُوَ عِلْمُ الْاِعْرَابِ.

(۲)اَلنَّحْوُ هُوَ عِلْمٌ بَاحِثٌ عَنْ مَعْرِفَةِ اَحْوَالِ الْمُرَكَّبَاتِ اِعْرَابًا وَّبِنَاءً وَاِفْرَادًا وَّ تَرْكِيْبًا .

(۳) اَلنَّحْوُ عِلْمٌ مُسْتَخْرَجٌ بِالْمَقَايِيْسِ الْمُسْتَنْبَطَةِ مِنْ اِسْتِقْرَاءِ كَلَامِ الْعَرَبِ الْمُوْصَلَةِ اِلٰى مِعْرِفَةِ اَحْكَامِ اَجْزَاءِهٖ الَّتِىْ اُئْتُلِفَ مِنْهَا.

دنحوموضوع: اَللَّفْظُ الْمَوْضُوْعُ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ . دَبعضو په نيزد كلمه ده دَ بعضو په نيزد كلمه اوكلام دے.

غرض اوغايت: هُوَ تَحْصِيْلُ الْمَلَكَةِ الَّتِىْ يَقْتَدِرُ بِهَا عَلٰى اِيْرَادِ تَرْكِيْبٍ وُضِعَ لِمَا اَرَادَهُ الْمُتَكَلِّمُ مِنَ الْمَعْنٰى

صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيِّ فِى الْكَلَامِ

پنځمه خبره: دعلم نحو وجه تسميه: چه كله ابوالاسود دوېلى ددے قوانينو سره دَيوڅو اسبابو اضافه اوكړه باب عطف باب نعت، باب تعجب،باب اِنَّ اودائے دَعلى رضي الله عنه په خدمت كښے پيش كړل نو على رضي الله عنه اوفرمائيل چه لكِنَّ هم په دے باب كښے داخل كړه.بيائے په دے اوفرمائيل مَااَحْسَنُ هٰذَا النَّحُو الَّذِىْ نَحَوْتَ نوپه دے وجه ددے فن نوم نحوشو.

شپږمه خبره: طبقات نحو: رومبۍ طبقه: په دے طبقه كښے عمرؓ متوفى ۲۴ هـ او على رضي الله عنه متوفى ۴۰ هـ او ابوالاسود دوئلى متوفى ۶۹ هـ قابل ذكر دى .دوى د ټولو نه مخكښے دَ علم نحو تدوين اوكړو. د دوئ نه دَعلم نحو مبارک اضافه اوشو اوپه دے سره دقرآن اوسنت هر لفظ محفوظ شو.

دوئمه طبقه: ددے نه پس د ابوالاسود رحمة الله عليه دَمشهور شاګردانو دور شروع شو .چه په خپله زمانه كښے دَعلم نحو ستنے وے .چه دَ هغوى نه پنځه شاګردان عنبة الفيل ،ميمون الاقران،نصربن عاصم، عبدالرحمٰن بن هرمز،يحيىٰ بن يعمر مشهور ترين دى. ددغه حضراتو دنحو خدمت اوكوشش سره دغه وخت دعلم نحو عمارت اودريدو يعنى علم نحو مستقل مقام حاصل كړو.

درئمه طبقه: ددے نه پس د ابوالاسود د دوه زامنو اودَهغوى دشاګردانو دور شروع شو. د دوى زامن

ابو الحرب او عطاء دي د دوئ شاګرد عبدالله بن اسحاق عيسیٰ بن عمرو والثقفیؒ، او ابو عمرو بن العلاءؒ دا هم دَ نحو شيخان وو. او په دغه دور کښے دعلم نحو تصانيف شروع شول.

څلورمه طبقه: ددے نه پس علامه خليل نحوی بيا علامه سيبويهؒ او کسائیؒ زمانه شروع شوه چه په هغے کښے دَعلم نحو په مسائلو باندے مناظرے شروع شوے. تردے پورے چه دَ ويښته نه نے څرمن اويسته. چه ددے په وجه په دے علم کښے ښه ترقی اوشوه او محقق علم جوړ شو.

پنځمه طبقه: ددے نه روستو امام اخفش او امام فراء تشريف راوړو. د دوی په زمانه کښے دَعلماء نحو دوه ډلے جوړے شوے. يو بصری دوئمه کوفی د دوی سخت اختلاف جاری وو. چه ددے په وجه دَ تصانيفو عام رواج اوشو او دَنحوی مذاهبو بنياد کيښودے شو.

شپږمه طبقه: ددے نه پس علامه صالح بن اسحاق جرمی رحمة الله عليه، بکر بن عثمان مازنی رحمة الله عليه دور شروع شو په ديکښے داسے نحوی ترقی اوشوه چه زنانو به هم دَنحو مسائل پيژندل او دَ اشعارو تصحيح به ئے کوله.

اوومه طبقه: ددينه پس دَنحو مشهور عالم امام مبردؒ، امام ثعلبؒ تشريف راوړو. دوئ په خپل وخت کښے علم نحو ته ښه عروج ورکړو.

اتمه طبقه: دينه پس جناب ابو اسحٰق زجاجیؒ، محمد بن سراج، ابن درستور يه، او د مهرمانؒ دور شروع شو دا دَعلم زرين دور وو.

نهمه طبقه: په دے درجه بدرجه دَنحوی ترقی نه پس ابوعلی فارسی، حسن سيرافی دَعلی بن عيسیٰ دور شروع شو په ديکښے دنحو دومره زور وو چه ښهر په ښهر او کور په کور نحوی عالم به ملاويدو بيا دَ علماؤ نحوی مهارت او دعلمی شوق په بنا باندے ځائے په ځائے دنحوی مذاکراتو او دَ مناظرو مجالس به منعقد کيدل. چه په دے سره داسے شوق پيداشو چه دَنحوی تکرار نه سوا دَعلماؤ خوراک نه هضم کيدو. او کيناستو پاسيدو زينت نحوی تذکره جوړه شوه. تردے پورے چه نحوی حکايات شروع شول لکه چه مولانا روم رحمة الله عليه خپل خاص انداز سره حکايت اوليکلو.

آن يکے نحوی بہ کشتی درنشست   رو بہ کشتی بان نہاد آن خود پرست

گفت هیچ از نحو خواندی گفت لا　　　گفت نیمے عمر تو شد در فنا
دل شکسته گشت کشتیبان زتاب　　　لیک آن دم گشت خامش از جواب
باد کشتی را بگرداپے فگند　　　گفت کشتیبان بدان نحوی بلند
هیچ دانی آشنا کردن بگوے　　　گفت نه از من تو سیاحی مجوے
گفت کلی عمرت ای نحوی فناست　　　زانکه کشتی غرق این گردابہاست

لسمه طبقه: ددینه پس د شیخ عبدالقادر جرجانی ،علامه ابن حاجب او دعلامه ابن هشام رحمهم الله زرین دور شروع شو. د دوئ علمی کمال ، اونحوی خدماتو سره دَلغت عربی د سالمیت نحوی نمر راوختو چه ترقیامته پورے د عربیت دَصحت یو قانونی معیار جوړ شو. اودغه نحوی قانون سره دعربی لغت فصاحت اوبلاغت د اسرار ورموزو سره لطف اندوز شول دَقرآن سنت حقائق معلومیدل راروان وی.

هندوستان کښے علم نحو: ۸۲۷ھ کښے دَعلم نحو ماهر استاذ علامه بدر الدین محمد بن دمامینیؒ دتولونه مخکښے هندوستان ته تشریف راوړو یوکال پس وفات شو په دغه لږ دوخت کښے باوجود ددے چه دَعلم نحو خاص خدمتت ئے اونه کړو لیکن دَ دوی په هند کښے تشریف راوړل دَ اشاعت نحو موجب شو په هند کښے بل نحوی قاری شهاب الدین دهلوی رحمه الله دے چه دقاضی عبدالغفار دهلوی رحمه الله خاص شاګرد وو. دوئ په هند کښے نحو ته ښه رواج ورکړو او په هند کښے دعلم نحو اغاز اوشو.

اوومه خبره: کافیه ته چه کوم شرف قبولیت حاصل شو هغه په هیڅ اهل علم باندے پټ نه دے .چه ددے تقریبًا یوسل دوه پنځوس (۱۵۲) شروح په عربئ فارسئ کښے دی. چه ددے تعارف طارق نجم عبدالله په حاشیه دکافیه کښے کړے دے.او بعضو لیکلی دی چه ددے شروح درے سوه شپیته دی اوبعضو علماؤ دا کافیه دَ تصوف کتاب مقرره کړے دے .لکه چه میر عبدالواحد بلګرامی رساله سنابل کښے تر غیر منسرف پورے دَ تصوف په انداز کښے شرح لیکلی ده اوعلامه آزاد بلګرامی فرمائی چه ما دَ کافیه نور شروح دَ تصوف په انداز کښے لیکلی دی . اومولانا مفتی محمود حسن ګنګوهی فرمائی چه بعضے حضراتو د اۮعلم کلام رساله منلی ده ددے شرح لے دَ

متکلمينو په طرز ليکلی دہ په دے سرہ دکافيه دَ مقبوليت او محبوبيت ښه اندازہ کيدے شي .

اتمه خبره : حالات صاحب کافيه: اسم گرامی عثمان بن عمربن ابی بکر کمافی طبقات النحاة .عثمان بن ابی بکر ابن يونس, کمافی حاشية الاميرِ .کنيت :ابو عمرو لقب:جمال الدين .د دوئ پلار سلطان عزالدين موشک صلاحی دربان وو په دے وجه په ابن حاجب سرہ مشهور شو. او ۵۷۰ھ (قصبه اسنا) چه دَ مصر په ملک کښے واقع دہ اوپه مقام اسکندريه کښے په تاريخ ۲۶ شوال ۶۴۶ هجري کښے وفات شو ټول عمرئے ۷۶ کاله شو په ځوانئ کښے دانتقال خبرئے غلط دے تبحر علمی کښے ئے ډير اوچت مقام لرلو.

نهمه خبرہ شرح کافيه دَاحقر څلورم تصنيف دے چه ددے نه مخکښے تنوير شرح دَ نحومير ،ملاؤ الصرف، شرح دَ ارشاد الصرف ،قدوة العامل اردو شرح مأة عامل چاپ شوي دي اونور کتابونه زير ترتيب او زيرتصنيف دي .حقيقت خو دادے چه اصل فضل اورحمت دَ خلاق او علام جَلَّ شأنُه دے چه هغه علوم او عقل ورکړو بيا محنت اوکمال دَهغه اسلافو او اکابرو دے چه هغوی دعلومو فوائد اودَ حقائقو دقائقو فوائد ،نکات ولطائف دکتابونو به سمندر کښے واچول تدبروا وتفکروا غوند کلماتو سرہ مخاطب کړل ددغه جواهراتو اوموتيانو دچانړ کولو اود ګنهولو حکم فرماشول بحمد الله اخلاف او اصاغر دخپل خپل استطاعت مطابق نموئے وهلے اود ياقوتو مرجانو نه پيرے شوي لرپانے ئے دَ تصنيف په صورت کښے پيش کولے او احقر خونه دَ اکابرو نه دے اونه دَ اصاغر نه دے (چرته پدی (وړوکے غوندے مارغه دے) اوچرته دپدی مارغه ښوروہ .بلکه د دوئ څپلئ دَ سرتاج ګنړولو والادي نو بيا چرته دَ تصنيف اهل دے البته خواهش دادے چه د دوئ په خادمانو کښے زما نوم هم شمار شي احب الصالحين ولست منهم لعل الله يرزقنی صلاحاً .

ترجمه: مينه ساتم دَ نيکانو سرہ او زہ د دوی نه نه يم کيدے شي الله راکړی ماته صلاحيت او اصلاح . نو په دے وجه لوستونکی د نيکه اوښه خبرہ دوی طرفته منسوب کړی او غلطئ دِ زما طرفته نسبت کوی اوخبر دِ راکړی چه اصلاح اوکړے شي.

يوضروري عرض: احقر مخکښے څه مسودہ تيارہ کړی دہ چه په هغے باندے بعضے مشفق اومحقق استاذانو مشورہ ورکړہ چه شرح داسے پکاردہ چه په هغے سرہ شرح جامی آسانه شي. په

دے وجه احقر عموماً دَمولانا جامي طرز اختيار كړے دے چه دَجامي لوستل آسان شي اوبعضے خلقه به ضرور دا اعتراض كوي چه دا شرح اوږده ده (اګرچه دا مختصر كړے شوي ده) اونفسي كتاب بانـدے پوهه پكار ده ياد ساتئ د ادشمنئ په انداز دوستي ده اودَ اسلافو دَ طرز تدريس نه بالكل بے خبري او ناواقفيت دے ورنه دَ مفصل په مقابله كښے كافيه اودَشرح ابن عقيل په مقابله كښے شرح جامي ولے او سلم العلوم ولے اومسلم الثبوت ولے تفسير بيضاوي ولے . داخبره مسلم ده چه تحقيق اوتدقيق سره ذهانت فطانت استعداد اوملكه زياتيږي كميږي نه اوكثرت الفاظ كثرت مضامين سره اوكثرت معاني دا دليل دَ زكاوت دليل دے . احقر خو خپل استاذ محترم شيخ النحو مولانا عبدالستار صاحب (قادر پور صالح) دپاره دعاګو دے چه دوي ماته هداية النحو دَجامي په انداز باندے اولوستله.

لسمه خبره: چه كله يوكار بغير دَمحنت اويكسو يئ نه نه كيږي نوبيا علم چه دَ الله رب العزت صفت دے اودَ پيغمبر ميراث دے هغه بغير دَ يكسويئ او محنت نه څه رنګ حاصل شي. همدغه وجه ده چه كله دَ اسلافو جوند ته ګورو نو عقل حيران پاتے شي. (۱) امام محمد رحمه الله تعالیٰ په مطالعه كښے دومره قدر به غرقاب وو چه دَ سلام په جواب كښے دَ بے خبرئ په وجه دعاګول به ئے شروع كړه اودَ كپړو دَ خيرن والي احساس به هم نه كيدو. اوچرګ ئے په دے وجه ذبح كړو چه مطالعه كښے خلل راتشي اودَ شپے به ډير كم اوده كيدو اكثر حصه به ئے په درس تدريس اومطالعه كښے تيروله. اوفرمائيل به ئے كيف انام وقد نامت عيون المسلمين توكلا على الله فاذا نمت ففيه تضييع الدين اوامام شافعي رحمه الله فرمائي چوله شپه امام محمد رحمه الله سره مِ تيره كړه او شپه په مطالعه كښے تيره شوه او هم په دغه اودس دَصبا مونځ مِ اوكړو.

(۲) دَامام ابويوسف رحمه الله تعالیٰ ځوئے وفات شو مګر كفن دفن اوجنازه كښے په دے وجه حاضرنه شو چه دامام ابو حنيفه رحمه الله تعالیٰ د درس څه حصه زما نه فوت نه شي.

(۳) دامام زهري رحمه الله تعالیٰ دَ مطالعے نه تنګه راغله بي بي ئے اووئيل والله هذه الكتب اشد عَلَيَّ من ثلث ضرائر چه په الله قسم دا كتابونه په ما باندے دَدرے سوۈ بنو نه زيات درانه دي.

(۴) امام رازي رحمه الله تعالیٰ ته به افسوس كيدو چه دَ خوراک وخت ولے دَعلمي مشاغلو نه خالي

تیریږی.

(۵) دَمولانا قاری عبدالرحمٰن محدث پانی پتیؒ دَ سبق دَ پابندئ داحال وو چه دَ دمدرسے دَ چهټیانو نه علاوه به نه کور ته تلو او نه به ئے خطونه لوستل اوله به ئے جواب ورکولو رښتیا وئیلی دی .

شاعر:

بقدر الکد تکتسب المعالی من طلب العلی سهر اللیالی

تروم العز ثم تنام لیلا یخوض البحر من طلب الالی

یادساتئ کندذهن کیدل دَ علم لوستلو نه او ترقئ نه مانع منه دے خپله امام ابو حنیفه رحمه الله امام ابو یوسف رحمه الله ته اوفرمائیل چه ته ډیر کند ذهن وے لیکن خپل کوشش ته مخکښے کړے. دغه رنګ امام طحاویؒ ته خپل ماما دَ کند ذهن کیدو طعنه ورکړه اووے وئیل په الله قسم ستا نه به هیڅ نه جوړیږی لیکن د دوئ محنت دۀ لره امام تسلیم کړو البته ترک معصیت پرومبے شرط دے .

شکوت الیٰ وکیع سوء حفظی فاوصانی بترک المعاصی

طلبه کرام ته آخری ګذارش په دے شعر باندے غور اوکړئ

ہمیں دنیا سے کیا مطلب مدرسہ ہے وطن اپنا

مریں گے ہم کتابوں پر ورق ہونگے کفن اپنا

ترجمه: زمونږ دنیاسره څه سروکار دے مدرسه دۀ وطن زمونږ اومرګ به راځی مونږ ته په کتابونو باندے اودغه ورقونه به خپل کفن جوړوؤ.

تلك عشرة كاملة

بسم الله الرحمٰن الرحیم○

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كُلُّهُ وَبِيَدِكَ الْعِلْمُ كُلُّهُ وَعَلٰى رَسُوْلِكَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ كُلُّهُ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ رِضْوَانُكَ كُلُّهُ الَّذِيْنَ اَحْيَوْا كَلِمَتَهٗ وَكَلَامَهٗ كُلَّهٗ اَمَّا بَعْدُ فَيَقُوْلُ الْعَبْدُ الْفَقِيْرُ اِلَى الْمَنَّانِ عَطَاءُ الرَّحْمٰنِ بن العلام شبیر احمد المُلتانی غفر لهما الرحمٰن لَمَّا كَانَ الْكَافِيَةُ مَتْنًا يَمُنَ

الْمُتُوْنِ كَالشَّمْسِ بَيْنَ النُّجُوْمِ وَبَحْرًا عَمِيْقًا وَبَحْثًا لَطِيْفًا بِعِبَارَةٍ دَقِيْقَةٍ نَفِيْسَةٍ عَجِيْبَةٍ حَتّٰى لَا يَسْتَطِيْعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُحَصِّلِيْنَ اَنْ يَّجِدَ مَطَالِبَهٗ وَمَقَاصِدَهٗ وَكَانَ شُرُوْحُهٗ فِي اللُّغَةِ الْعَرَبِيَّةِ وَالْفَارِسِيَّةِ مِائَةً وَّخَمْسِيْنَ اَوْ ثَلَاثَ مِائَةٍ وَّسِتِّيْنَ وَكَانَ يَلْتَمِسُ مِنِّيْ بَعْضٌ مِنَ الْمُتَعَلِّمِيْنَ الْعَالِيْنَ وَمِنَ الْمُعَاصِرِيْنَ الْمُحِبِّيْنَ اَنْ اَشْرَحَهٗ فِي اللُّغَةِ الْاُرْدَوِيَّةِ شَرْحًا شَافِيًا كَافِيًا صَافِيًا فَنَحَوْتُ نَحْوَ مَرَامِهِمْ وَجَمَعْتُ فِيْهِ فَوَائِدَهٗ وَفَرَائِدَهٗ وَحَقَائِقَهٗ وَدَقَائِقَهٗ مِمَّا وَجَدْتُهٗ فِي الْكُتُبِ الْمُعْتَبَرَةِ وَسَمِعْتُ مِنَ الْمَشَائِخِ الْبَرَرَةِ لَا مِنْ فِكْرِي الْقَاصِرِ وَذِهْنِي الْفَاتِرِ فَسَمَّيْتُهُ الْكَاشِفَةَ مُحْتَاجًا اِلٰى نِعَمِ اللّٰهِ الْكَافِيَةِ وَمِنَنِهِ الشَّافِيَةِ فَقَالَ صَاحِبُ الْكَافِيَةِ اَلْكَلِمَةُ لفظ

اَلتَّحْقِيْقَاتُ الْاَرْبَعَةُ فِیْ لَفْظِ الْكَافِيَةِ

(۱)**تحقیق صیغوی**: لفظ کافیه دَاسم فاعل صیغه ده که چرے تاء دَنقل وی یا دَ مبالغه وی نو کواحد مذکر صیغه به شي اوکه چرے تاء دَ تانیث وي نو کواحد مؤنث صیغه به شي.

(۲) **تحقیق معنوی**: لفظ کافیه کَفٰی يَكْفِيْ(ض) نه دے چه دد ے درے معانے راځي.

(۱) په معنی دَ اکتفٰی په دے صورت کښے به دا باب لازمي وی او فاعل باندے با زائده شي لکه كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا

(۲)په معنی دَ اغنٰی په دے صورت کښے متعدی په یو مفعول سره به وی اوپه فاعل به باء زائد نه وی لکه اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ

(۳) په معنی وقٰی به په دے صورت کښے په متعدی بدو مفعول وی .او باء به نه وی لکه كَفَى اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ الْقِتَالَ په رومبی صورت کښے کافیه په معنی مُكْتَفِيَةٌ او په دوئم صورت کښے معنی مُغْنِيَةٌ لِلطَّلَبَةِ مِن غیره اودرئم صورت کښے په معنی وَاقِيَةُ الطَّلَبَةِ الْخَطَأَ اللَّفْظِيَّ.

تحقیق ترکیبی: اولاً دوه احتماله دي .

رومبی احتمال: لفظ کافیه مبنی په سکون لامحل لهامن الاعراب وی .

دوئم احتمال:معرب وی بیا په معرب کښے یوځو احتمالات دي.

(١) مرفوع مُبتدا محذوف الخبر .لكه :كَافِيَةٌ هٰذَا ،كَافِيَةٌ هٰذِهٖ.

(٢) ياخبر محذوف المبتداء .لكه:هٰذَاكَافِيَةٌ هٰذِهٖ كَافِيَةٌ.

(٣)منصوب وى مفعول به فعل محذوف دپاره : اِقْرَأْ كَافِيَةً.

(٤)مجرور وى.چه ددے فعل اوحرف جارمحذوف وى لكه خُذْ بِالْكَافِيَةِ.

(٤) تحقيق علمى: دَعلم تعريف: مَاوُضِعَ لِشَيْءٍ مُعَيَّنٍ بِحَيْثُ لَا يَشْتَمِلُ بِذٰلِكَ الْوَضْعِ غَيْرَهٗ.

فائده: كه موضوع له په خارج كښے معين وى نوعلم شخصى وى لكه زَيْدٌ اوكه په ذهن كښے وى نوعلم جنسى وى لكه اسامه اوكه ماهية كليه وى نو اسم جنس لكه أَسَدٌ دَ كتابونو نومونه دَقبيلے دَ اعلام نه جنسيه دى .لكه: كافيه ،نحومير وغيره .

فائده: لفظ (١) متن، (٢)شرح،(٣)حاشيه،(٤)منهيه،(٥)دتعليق تحيق.

دمتن: لغوى معنى ملا او اصطلاحى معنى مَايَكُونُ مَعِبًا وَمُحتَاجًا اِلَى الشَّرحِ.

دشرح لغوى معنى:. كلاويدل او تعريف مَا يُوْضَحُ الْمَتْنُ كُلَّهُ.

حاشيه: لغوى معنى غاړه او اصطلاحى معنى چه دَمتن بعض مقامات حل كړى خواه مصنف ليكل اوكړى ياُبل څه .

تعليق ددے لغوى معنى ده زوړندول او اصطلاحى معنى كښے دَحاشيه مترادف دے

منهيه: لُغَةً لغوى معنى دينه كيدو والا اوپه اصطلاح كښے هغه عبارت چه دَمتن دَتشريح دپاره مصنف اوليكى.

فائدے دپاره د ذكر كولو د تسميه اودپريخودلو د تحميد

سوال: صاحب كافيه كتاب په تسميه سره ولے شروع كړو؟ احقر ددے

جواب: يعنى دَ تسميه فوائد تنوير شرح نحومير كښے ذكركړى دى هلته نے اوګورئ.

سوال: تسميه نه پس تحميد ئے ولے ذكر نه كړو په دے سره دَقرآن اوحديث نه مخالفت لازميږى؟

جواب: په حدیث شریف کښې دی چه لَمْ یُبْدَأْ لفظ راغلے دے .یعنی شروع اوکړه دَالله تعالیٰ په حمد سره خواه په لوستلویا لیکلو.په حدیث شریف کښې دَلَمْ یُکْتَبْ لفظ نه دے استعمال کړے شوے. اودَ ظَنُّوْا لِلْمُؤمِنِیْنَ خَیْرًا دلانه زمونږ یقین دے چه مصنف رحمه الله تعالیٰ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ لوستلی ده اوکتاب ئے شروع کړے دے

جواب: بِسْمِ اللّٰهِ کښې هم حمد موجود دے په دے وجه په حدیث عمل شوے دے .

جواب: حدیث تسمیه او حدیث تحمید دواړو سره مقصود دَالله تعالیٰ ذکردے چه په بسم الله کښې موجود دے . اعتراض که مقصود ذکر دَالله تعالیٰ وو نودے برعکس به ئے کړے وے.

جواب دَتسمیه په باره کښې زیات تاکید دے بلکه ددے دَ ابتدا بالکتابة دپاره مستقل حکم دے. لکه دَنبیﷺ فرمان دے اَلَا مَنْ کَتَبَ مِنْکُمْ کِتَابًا فَلْیَکْتُبْ فِیْ اَوَّلِهٖ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ O

جواب: بعضو جواب کړے دے چه کافیه دَشافیه جزدے . اوشافیه مصنف تسمیه اوتحمید دواړو سره شروع کړه کافیه چه جز دے هغه ئے فقط په بسم الله سره شروع کړه لیکن دا جواب مردود دے ځکه چه مصنف دَشافیه په شروع کښې لیکلی دی چه کافیه مادمخکښې نه لیکلی ده.

جواب: مصنف کسر نفسی کړی ده لیکن دا جواب هم مخدوش دے ځکه چه کسر نفسی سره په حدیث باندے عمل پریخودل ناجائز دی .

جواب: بعضو دا جواب ورکړے دے. چه دَ کافیه بعضے نسخو کښې تحمید موجود دے.

دَ قرآن مخالفت جواب: علامه ابن حاجب دَقرآن مخالفت نه دے کړے بلکه عین موافقت ئے کړے دے ځکه چه دَقرآن دوه ترتیبونه دی.

(١) ترتیب نزولی (٢) ترتیب جمعی

ترتیب نزولی کښې دَ قرآن ابتدا فقط بسم الله سره ده ځکه چه اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّکَ الَّذِیْ دټولو نه مخکښې نازل شوے دے اودا دَ مصنف ړومبے تصنیف دے په دے وجه مصنف دَ ترتیب نزولی موافقت کړے دے.

سوال:ماتن دکلمه او کلام تعریف ولے ذکر کړو؟

جواب:داکلمه او کلام دعلم النحو موضوع ده اوپه علم کښے دموضوع نه بحث کیدے شی .

سوال:دا ضابطه مسلم ده. اَلْمَوْضُوْع مَفْرُوْغٌ مِنْ هٰذَا الْفَنِّ وَمَبْحُوْثٌ فِيْ الْفَنِّ الْاٰخَرِ دموضع دَ ذات نه بحث نه کیږی بلکه دَ موضوع عوارض ذاتیه نه بحث کیږی.

جواب: ستاسو خبره منو لیکن چونکه دَذات دَ معرفت نه بغیر دَ احوالو او عوارض ذاتیه معرفت نه شو کیدے نو په دے وجه مجبورًا ئے رومبے دکلمے او کلام تعریف اوکړو.

سوال: کلمه ئے په کلام باندے ولے مقدم کړه حالانکه دواړه موضوع دی .چه کله په کلام کښے دَکلمے په نسبت فائده زیاته وه نوپه دے وجه صاحب الفیه کلام په کلمه باندے مقدم کړیدے دے.

دتقدم پنځه قسمونه دی.

(۱)**تقدم زمانی**:چه په لحاظ دَ زمانه دَ مؤخر نه مقدم وی کَتَقَدُّمِ آدم علیه السلام علینا.

(۲)**تقدم رتبی**: چه په لحاظ دَ مرتبه دَ مؤخر نه مقدم وی لکه دَبعضے صحابو مرتبه په بعضو باندے.

(۳)**تقدم وضعی**: واضع په وضع کښے یوشیز په بل باندے مقدم کړے وی کَتَقَدُّمِ الْاَوَّلِ عَلَى الثَّانِيْ

(٤)**تقدم علی**: كَتَقَدُّمِ الْعِلَلِ الْاَرْبَعَةِ عَلَى الْمَعْلُوْلِ .عِلت فاعلی ،عِلت مادی ،عِلت صوری ،عِلت غائی

(۵)تقدم طبعی:په لحاظ سره مقدم دی

فائده: دَمقدم موجود کیدو سره دَمؤخر موجود کیدل لازم نه راځی لکه دَ مکان ښخشو طرفته اختیاج دے لیکن دا ضروری نه ده چه کله هم ښخښتے وی نو مکان به هم ضرور وی او هم دغه فرق تقدم علی اوتقدم طبعی کښے دَے .هغه علت تأمیری اوداعلت ناقصه دے دَجواب حاصل دا شو چه کلمے ته دَکلام نه تقدم طبعی حاصل وو نو په وضع کښے ئے مقدم کړو چه وضع دَطبع موافق شی .

په بل عنوان سره :کلمه مفرد ده اوکلام مرکب دے لهذا مصنف کلمه په کلام باندے مقدم

كېږي. په دې وجه چه كلمه جزو دې او كلام كل او داخبره ظاهره ده چه مفرد په مركب باندې او جزپه كل باندې مقدم كيږي.

بحث الكمة

كلمه دَ كافيه ړومبے لفظ دے .ددے تشريح دَ الكلمة درے جزونه دي.

(۱) أَلْ يعني الف لام (۲) كلمه (۳) تاء

بحث د الف لام: الف لام په دوه قسمه دے (۱) اسمی (۲) حرفی.

الف لام اسمی په معنی دَالذی دوه صورتونه دي:

(۱) كثير الاستعمال ، داپه اسم فاعل او اسم مفعول باندے داخليږي اَلضَّارِبِ،اَلْمَضْرُوْب

(۲) قليل الاستعمال دا ظرف،جمله اسميه ،فعل مضارع باندے داخليږي اشعارو كښے لكه :

مَنْ لَا يَزَالُ شَاكِراً عَلىٰ الْمَعَهْ
فَهُوَ حَرٍ بِعِيْشَةٍ ذَاتِ سَعَهْ
مَنِ الْقَوْمُ الرَّسُوْلُ اللّٰهُ مِنْهُمْ
لَهُمْ دَانَتْ رِقَابُ بَنِيْ مَعَدٍ
وَاِذْ يُخْرِجُ الْيَرْبُوْعَ مِنْ نَافِقَائِهِ
وَ مِنْ حُجْرِهٖ بِالشِّيْحَةِ الْيَتَقَصَّعُ

د الف لام حرفي دوه قسمونه دي:

(۱) الف لام زائده (۲) الف لام غير زائده

الف لام زائده هغه دے چه كهغے په حذف سره په معنى كښے فرق نه راځي بيا دَ زائده څلور قسمونه دي.

(۱) عوضى لازم .لكه لفظ اللّٰه

(۲) عوضى غيرلازم لكه الناس

(۳) غير عوضى لازم داداخليږي په اسماء منقوله باندے لكه اللات والعزىٰ او اسماء غير منقوله

بانـدے لکه السوئل او اعلام غالب الاطلاق باندے. اعلام غالب الا طلاق هغه کلمات ته وئيلے شی چه قبل العلمية عام وی او روستو خاص شی لکه القاسم، الحارث الفضل، النجم، البيت، المدينه،

(۴) غير عوضی غير لازم لکه: فيا الغلامان الذان فرا

دغير زائده څلور قسمونه دی. (۱) جنسی (۲) استغراقی، (۳) عهد خارجی (۴) عهدذهنی.

وجه دحصر دالف لام دَ مدخول نه مراد ماهيت وی يا افراد که ماهيت وی نو الف لام جنسی به وی لکه وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ . اَلرَّجُلُ خَيْرٌ مِنَ الْمَرْأَةِ . او که افراد مراد وی نو کل افراد به مراد دی يا بعض که کل افراد مراد وی نو الف لام استغراقی به وی لکه وَالْعَصْرِ اِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ.

او که بعض افراد مراد وی نو بيابه د دوه حالونه خالی نه وی چه بعض معين افراد به مراد وی يا غير معين که بعض معين افراد مراد وی نو الف لام به عهد خارجی شی لکه: فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ .

او که بعض افراد غير معين مراد وی نوالف لام عهد ذهنی به وی لکه فاخاف ان ياكله الذئب

فائده: د الف لام عهد خارجی درے صورتونه دی.

(۱) **عهد ذکری** يعنی چه دَهغے معهود مخاطب مذکور وی صراحةً لکه: فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ يا کنايةً لکه لَيْسَ الذَّكَرُ كَالْاُنْثٰى دالذکر کا معهود مَافِيْ بَطْنِيْ کښے کنايةً مذکوردی.

(۲) **عهد علمی** يعنی چه دَهغے معهود متکلم او مخاطب مخے ته وی لکه اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ، هذاالرجل عالم

فائده: اسم تفصيل باندے چه کوم الف لام داخليږی هغه بالاتفاق اسمی نه وی او وه صفت مشبه کښے اختلاف دے صحيح د ادَه چه صفت مشبه باندے الف لام حرفی وی اسمی په معنی الذی نه وی.

فائده: اسم فاعل اسم مفعول باندے الف لام اسمی وی ليکن دا ضروری نه ده چه دهر اسم فاعل او اسم مفعول الف لام اسمی وی .

سوال: الکلمة باندے الف لام کوم يودے چه کوم جوړکړے هغه به غلط وی الف لام اسمی نه کيدل خو واضح دے ليکن حرفی شی زائده هم نه جوړيږی ورنه دَمبتدا نکره کيدل به لازم شی اوغير زائده

شي جنسي ،استغراقي ، عهد خارجي عهد ذهني هم نه جوړيږي .اوجنسي او استغرقي خو په دے وجه نه جوړيږي چه تاد وحدت ددے منافي دے او عهد خارجي په دے وجه نه جوړيږي چه ذ معهود معين كيدل ضروري دي او كلمه غير معين ده ځكه كلمه نحوي هم ده اومنطقي هم ده اولغوي هم او شرعي هم اوعهد ذهن جوړ كړے نو نكارت دَ مُبتدا به لازم شي.

جواب: معترض صاحب الف لام جنسي دے باقي پاتے شو ستاسو سوال چه ستاسو اوونيل چه الف لام جنسي كښے عموم وي اوتائے وحدت كښے خصوصي اوعموم ،خصوص كښے منافات دے اوددے جواب دادے چه مونږ قطعاً دانه منو چه جنس او واحد كښے منافات دے ورنه دَ جنس اووحدت په يويل باندے حمل نه صحيح كيږي حالانكه صحيح دے لكه ونيلے شي .هٰذَا الْجِنْسُ وَاحِدٌ وَاهٰذَا الْوَاحِدُ جِنْسٌ چه ددے تفصيل دادے چه دَوحدت درے قسمونه دي .

(۱) وحدت جِنسيّه نوعيّه لكه:اَلْحَيَوَانَ وَاحِدٌ اَيْ جِنْسٌ وَّاحِدٌ.

(۲) وحدت نوعيّه لكه:اَلْاِ نْسَانُ وَاحِدٌ اَيْ نَوْعٌ وَّاحِدٌ.

(۳) وحدت شخصِيّه لكه:زَيْدٌ وَاحِدٌ اَيْ شَخْصٌ وَّاحِدٌ.

وحدت شخصيته فقط دَجنس منافي دے اودلته دامراد نه دے.

جواب: عهد خارجي هم جوړيږي په دے وجه چه معهود متعين اومعلوم دے چه كلمه نحوي ده ځكه چه علم نحوكښے دَكلمه نحوي ذكر كيږي نه دغير

دوئم جز يعني بحث كَلِمْ چه ددے دوه تحقيقه دي.

(۱)تحقيق اشتقاقي

(۲)تحقيق صيغوي

تحقيق اشتقاقي: كَلِمْ كلمه ، كلام مُشتق دي ياغير مُشتَق. په ديكښے اختلاف دے اوپه ديكښے دوه مذهبونه دي.

رومبے مذهب: (دَجمهورو په نيزد) كَلِمْ ،كلمه ،كلام داكلمات مُستقله دي نه مشتق دي نه مشتق منه دي .

دوئم مذهب: (دَ بعضو په نیزد) مشتق دے کَلْمٌ نه.

سوال: مشتق اومشتق منه کښے مناسبت لفظی اومعنوی کیدل ضروری دی اودلته باندے لفظی مناسبت خوشته چه مادة یوه دة لیکن دلته معنوی مناسبت نه شی موندلے ځکه کَلْمٌ په معنی دَ زخم کولو اوکَلِمةٌ کلمه کلام په معنی مَایَتَکَلَّمُ به دی.

جواب:دمناسبت درے قسمونه دی

(۱) مطابقی، (۲) تضمنی، (۳)التزامی

دلته معنی التزامی په اعتبار سرة مناسبت موجود دے څه رنګ دَکَلْمٌ معنی زخم کول دی نودغه رنګ بعضے کلماتو سرة هم زخم کیږی لکه دَعلی رضی الله عنه شعر دے:

جَرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِیَامٌ

وَ لَا یَلْتَامُ مَا جَرَحَ اللِّسَانُ

چه ددے ترجمه شاعر په اردو کښے داکړی دة چه دَچارة اوتورے په ذریعه جوړ کړے شوے زخم به ډک اوجوړشی لیکن دَ ژبے په ذریعه جوړ کړے شوے زخم همیشه دپارة تازة وی . لیکن جمهوردا په یوڅو وجو سرة ضعیف ګڼړی .

اوله وجه: ددے مشتق منلو په صورت کښے دَمناسبت بعیدة ارتکاب کولے شی.

دوئمه وجه : دامناسبت بعیدة هم په کلام کښے خو ثابت دے لیکن په کلمه کښے نشته ځکه چه کلمه غیر مفید وی.

درئمه وجه:مطلق کلام کښے هم دا مناسبت نه ثابتیږی بلکه صرف کلام خبیثه کښے نه په کلام طیب کښے

څلورمه وجه : دَکَلْمٌ په زخم سرة درد کیږی اود کلام په زخم سرة غم کیږی په دے وجه مولانا جامیؒ دا مذهب په قِیْلَ سرة نقل کړے او ضعیف ئے قرار کړے دے.

تحقیق صیغوی :ددینه مخکښے یوة فائدة اوپیژنئ .

فائدة: جمع، اسم جمع، اسم جنس ، ، **جمع** هغه دة چه دَ دوة نه په زیاتو باندے دلالت اوکړی اودَ

هسغه مادے نه ددے مفرد وی لکه رجالٌ.

اسم جمع هغه ده چه ډغے واحدخونه وی لیکن صیغه دَ جمع والا وی لکه قَوْمٌ ،رَهْطٌ.

جنس هغه دے چه په قلیل اوکثیر باندے صادقیږی مَآءٌ عَسْلٌ .

اسم جنس هغه دے چه علی سبیل البدلیة په قلیل وکثیر باندے صادق راشی لکه رجلٌ

تحقیق صیغوی دَ جمهورو. دَ جمهورو نحویانو مذهب دادے چه کَلِمْ جنس دے

اوصاحب اللباب الصحاح ، علامه جوهری اودبعضو په نیزد جمع دے اوددے دلیل دادے.

دلیل :که جنس وے نوددے اطلاق قلیل اوکثیر باندے به جائز وے لیکن ددے استعمال دَ

مافوق الاثنین سره مختص دے .

جواب:یودے وضع اویودے استعمال وضع په اعتبار سره ددے اطلاق په قلیل اوکثیر باندے

جائز وو لیکن په استعمال کښے دا مافوق الاثنین سره مختص شو اوضابطه ده چه اَلْاِ عْتِبَارُ لِلْوَ ضْعِ لَا

لِلْاِ سْتَعْمَالُ.

دلائل جمهور: چه ددینه یودلیل نقلی دے اودرے عقلی .

دلیل نقلی : ددینه مخکښے ضابطه اوپیژنئ جمع مذکر دَلایعقل صفت جمع یا واحد مونث راځی.

واحد مذکر نه راځی اوس ددلیل حاصل دادے چه په قرآن مجید کښے اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ

کښے دلنه دَ الکلم صفت الطیب واحد مذکر دے.که الکلم جمع وے نو ددے صفت الطیبه یا

الطیبات به راتلو لهذا صفت واحد مذکر راوړل ددے خبرے دلیل دے چه کلم جنس دے جمع

نه ده.

جواب: بعضو جواب کړے دے چه دَ اَلْكَلِمْ نه مخکښے دَ بعض لفظ مقدر دے لهذا الطیب

دَالکلم صفت نه دے بلکه دَلفظ بعض صفت دے .

جواب الجواب: دَلفظ بعض مقدر منل غلط دی ځکه چه دَ بعضیت والا معنی دَ اول نه موجود ده

ددے معنی ده چه الله تعالیٰ طرفته کلمات طیبه ځی نه ټول کلمات لهذا لفظ بعض مقدر منل

مستدرک دے چه ډغے نه قرآن مجید پاک دے.

دونم دلیل: قَرَاتُ اَحَدَ عَشَرَ کَلِماً دا کَلِم دے دَ عدد اوسط تمیز دے او ضابطه دۀ چه دَ عدد اوسط تمیز مفرد منصوب وی جمع نه وی لهذا دَ عدد اوسط تمیز واقع کیدل دلیل دیدے خبرے چه دا لفظ کلم جنس دے جمع نه دۀ .

جواب: مونږ ددے تمیز کُلَیْمَةٌ راوړو .

جواب الجواب: دا هم تحکم دے یعنی دعویٰ بلادلیله دۀ .

درئم دلیل :۔ ددے تصغیر کُلَیْمٌ راځی که جمع وے نوددے تصغیر به نه راتلو بلکه دَکَلِمَةٌ به کُلَیْمَةٍ راځی.

جواب مونږ ددے تصغیر کُلَیْمٌ نه منو بلکه کُلَیْمَةٌ راځی.

جواب الجواب: داهم تحکم دے .

دلیل رابع: کَلِمٌ دَجمع دَ اوزانو نه نه دے .درنم جزء تاء دے چه ددے تحقیق تیر شوے دے .

اَلْکَلِمَةُ لَفَظٌ وُضِعَ لِمَعْنی مُفْرَدٍ په دے عبارت کښے د کلمه تعریف دے .

تنبیه: تعریفاتو کښے عمومًا پنځه درجے بیانولے شي. درجه اولیٰ کښے به دَ مشکل الفاظو تشریح کیدے شي دوئمه درجه کښے فوائد دَ قیودو بیانولے شي .درنمه درجه کښے دَ تعریف مختصر مفهوم بیانولے شي څلورمه درجه کښے به ترکیب بیانولے شي .پنځه درجه کښے به تعریفاتو باندے وارد شوی اعتراضاتو اودهغے جوابات بیانولے شي.

ړومبۍ درجه: دَمشکل الفاظو تشریح

لفظ دامصدر دیچه ددے لغوی معنی دۀ غورزول خواه په خله سره وی یا په غیر خله سره لکه اَکَلْتُ اَلتَّمْرَةَ وَلَفَظْتُ النَّوَاةَ لَفَظَتِ الرَّحیٰ الدَّقِیقَ. اواصطلاحی معنی:مَایَتَلَفَّظُ بِهِ اَلْاِنْسَانُ. اصطلاح کښے لفظ دیته وائی چه دَهغے انسان تلفظ اوکړی.

سوال: لغوی اواصطلاحی معنی کښے مناسبت وی دلته څه مناسبت دے ؟

جواب:عموم اودخصوص والا نسبت دے لغوی معنی عام دۀ اواصطلاحی معنی خاص دۀ .

سوال : دا تعریف جامع دَپاره دَ افرادو نه دے ځکه چه اللّٰه تعالیٰ اوکَجناتو اوملائکو کلماتو ته شامل

نه دے ځکه چه هغه انسان پورے رسیږی هم نه نوانسان دد ے تلفظ څه رنګ کوے شی ؟
حالانکه ستاد تعریف مطابق لفظ هغه دے چه دهغے انسان تلفظ اوکړی .

جواب: زمونږ په تعریف کښے د بالقوة قید محذوف دے اوس تلفظ بالقوه ټولو کلماتو ته به شامل شی .

وُضِعَ دا د الوضع نه دے چه دد ے لغوی معنی ده کیښودل اصطلاحی معنی : تَخْصِيْصُ الشَّيْي بِالشَّي بِحَيْثُ مَتىٰ اُطْلِقَ اَوْ اُحِسَّ الشَّي الاَوَّلُ فُهِمَنْهُ الشِيْ الثَّانِيْ داطلاق مثال زید چه دده نوم اخستو سره دده ذات په ذهن کښے راځی. داحساس مثال شنو اوسرو اشارو سره لارے کلاویډو ویډو اوبندیډو علم راځی.لغوی اواصطلاحی معنی کښے مناسبت واضح دے .

سوال: د وضع تعریف جامع نه دے ځکه چه حروف تهجّی خارجیږی په دے وجه چه حروف هیڅ موضوع خودی مګر دا بغیر دضَمِ ضمیمه نه اوئیلے شی نو معنی ذهن ته نه راځی.

جواب: مولانا جامی جواب ورکړو چه اُطْلِقَ بمعنی اُسْتُعْمِلَ دے .داخبره واضحه ده چه دحروفو استعمال ضَمِ ضمیمه سره کیږی لهذا تعریف جامع شو.

لِمَعْنىً لغوی معنی کښے درے احتمالات دی .(۱) ظرف مکان وی په معنی دځائے د قصد(۲) مصدر میمی وی په معنی قصد کول (۳) اسم مفعول په معنی قصد کړے شوے .

سوال دادرے واړه احتمالات باطل دی.

احتمال اول: په دے وجه باطل دے چه ځائے د قصد خوخپله لفظ دے نه معنی .

دوئم احتمال :داپه دے وجه باطل دے چه په دے صورت کښے معنی به شی کلمه هغه لفظ دے چه وضع کړے شی قصد کولو دپاره حالانکه دکلمے وضع قصد دپاره نه ده بلکه مقصود متکلم دپاره دے .

درئم احتمال: دا په دے وجه باطل دے چه لفظ معنی داسم مفعول صیغه ده باقی وزن ئے داسم مفعول نه دے ددے جواب دادے چه دلته تعلیل شوے دے چه معنی په اصل کښے مَعْنُوْیٌ وو. قُوَیْلٌ والا قانون سره واو مو یاء کړه اویاء مویه یاء کښے مدغم کړو مَعْنیٌ شو بیاد

دَعِيٌّ په قانون سره یوه یا موحذف کړه نو مَعْنِيٌّ شو. بیادِعِيٌّ قانون سره دیا کره ماقبل فتحه سره تبدیل کړه مَعْنَيٌّ شو بیادَقال والاقانون سره یا په الف سره بدله کړه معنیٌ شو.

(۲) ظرف مصدرمیمي په دے دوارو احتمالاتو کښے هم اسم مفعول معنی بهٔ مراد وي په معنی دَ المقصود ځکه چه لکه ظرف اوکمصدر میمي معنی حقیقي مراد احستل صحیح نه وي نو داسم مفعول په تاویل کښے کوے شي لکه هـٰذَا ضَـرْبُ الْاَ مِيْرِ بمعنی مَضْرُوْبُ الْاَ مِيْرِ، شَرْبٌ عَذْبٌ بمعنی مَشْرُ وْبٌ ،مَرْکَبٌ فَارَه اَیْ مَرْکُوْبٌ ،او

اصطلاحي معنی: مَایُقْصَدُ بِشَيْءٍ معنی هغه ده چه دهغے اراده اوکړے شي عام ده لفظ سره وي یا غیر لفظ سره وي .چه ددے مزید تفصیل غرض جامي په شرح دَجامي کښے اوګوری.

مُفْرَدٌ دااسم مفعول صیغه ده چه کافراد نه ماخوذ دے.

فائده :مفرد دَ شپږو څیزونو په مقابله کښے راځي .

(۱) شَ تشنیه اوجمع په په مقابله کښے

(۲) دَمضاف په مقابله کښے

(۳) دشبْه مضاف په مقابله کښے

(۴) دَنسبت په مقابله کښے لکه دَ تمیز په بحث کښے

(۵)دَمرکب په مقابله کښے

(۶)دداسے کلام په مقابله کښے چه دَاصل مراد نه یوزائد امر باندے مشتمل نه وي لکه فن بلاغت کښے.

فائده:مفرد.دَلفظ اومعنی دوارو صفت جوړیږي لکه څه رنګ چه کلیّت وجزئیت دَلفظ اومعنی دوارو صفت دے البته افراد وترکیب اولاً دَ لفظ صفت دے او ثانیًا دَمعنی . اوکلیّت وجزئیت برعکس دے.تردے پورے دَالفاظو تریح وه .

دوئمه درجه فوائد قیود.

فائده: دَتعریف تعریف هُوَ الِا ظِّلَاعُ عَلَی الذَّاتِیَاتِ اَوبِهِ الِا مْتِیَازُ عَنْ جَمِیْعِ الْمُشَارِکَاتِ یوممي

صورت کښې تعریف ته حد وئیلے شي اودوئم صورت کښې تعریف ته رسم ونیلے شي کافیه کښې چه کوم تعریف به راځي هغه از قبیل رسم نه به دی.

فائده: دَتعریف دَشرائطونه یوشرط دَتساوی دے لکه دانسان تعریف حیوان ناطق سره کولے شي . ددے شرط په وجه سره وئیلے شي چه دَ تعریف دپاره جامع ومانع کیدل ضروری دی. په بل عنوان سره مطردومنعکس کیدل ضروری دی

دَ"جامع" کیدو مطلب دادے چه تعریف داسے پکار دے چه دَ مُعَرَّف تمامو افرادو ته شامل وی اودَ"مانع" کیدو مطلب دادے چه دَمعرف دَافرادونه علاوه بل فرد داخلولو ته ورنکړے هسداجامع دمانع تعریف عمده وی.

فائده: په تعریف کښې جنس اوفصل ذکر کولے شي اودا تعریفات خودَ غیر ذی روح څیزونو دے چه دَهغے نه جنس وی اونه فصل مګرداسے الفاظ ذکرکوے شي. چه په هغے کښې یو په منزله دَجنس اوباقي په منزله دَفصل اودَقیود وی دا فوائد چه ددے تعلق منطق سره دے دَاحقرتصنیف اطلاحات منطق ملاخطه کړئ.

فوائد قیود: په دے تعریف کښې څلور الفاظ دی.(۱) لَفْظٌ (۲) وُضِعَ(۳)لِمَعْنًی(۴) مُفْرَدًا "**لفظ**" داجنس دے چه مفرد :،مرکب او موضوع ،مهمل ټولوته شامل دے .

"**وضع** "دومبے فصل اوقید دے په دے سره الفاظ مُهمله کارج شو "لمعنی" دوئم قید دے ددے فائده داده چه په دے سره حروف هجاء او حروف مبانی اوځي .مګر حروف معانی نه اوځي ځکه چه هغه موضوع لمعنی وی.

مفرد: دادرئم فصل اوقید دے. په دے سره الفاظ مرکبه خارج شو دقیودو په فائدو باندے اعتراضات اوجوابات .

سوال: شیخ رضی اعتراض اوکړو چه مصنف ته پکار وو چه په تعریف کښې ئے داسے قید ذکر کړے وے په هغے سره دوال اربعه قطے وے ځکه چه دا موضوع لمعنی دی. حالانکه کلمه نه ده؟

جواب: فاضل هندی جواب ورکړے دے چه دوال اربعه په لفظ ونیلو سره خارج شول لهذا زیاتي

دَځه قید ضرورت نشته .

تردید جواب: بعضے شارحینو داجواب ردکړے دے چه لفظ خوجنس دے چه مخرج نه شی جوړیدے ورنه دا به فصل جوړشي .چه په هغے سره به دکلمے تعریف دَجنس نه خالی شی او ناقص به شي.

جواب الجواب:فاضل هندی ددے جواب ورکړو چه کله په یوتعریف کښے جنس ،فصل کښے دعموم دخصوص من وجه نسبت وی نوهلته هر یو جنس اوفصل جوړوے شی. دلته هم لفظ اووضع کښے دعموم خصوص من وجه نسبت دے د وضع جنس اومنے چه دوال اربعه ؤ ته هم شامل دے اولفظ فصل منلوسره داخارج کړے شي.بیا لفظ جنس منلوسره مُهملات داخل کړے وضع فصل اومنے خارج کړے شي.

اصح الجواب: مولانا جامیؒ دَرضی اوفاضل هندی دواړو بانَدے ردکړے دے چه اے رضی صاحب خروج فرع ده دَخول چه کله روال اربعه په تعریف دَکلمه کښے دسره هډو داخل نه شو نو خارج به څه کړے اے فاضل هندی صاحب چه کله دَرضی صاحب سوال وارديږی نه نودَجواب څه ضرورت دے.

سوال: لَفْظٌ دا دَوُضِعَ نه مفهوم وی .ځکه چه دَوُضِعَ په تعریف کښے دَ شئ اول نه مراد لفظ دے نولهذا لفظ ذکر کول لغوه اوبے فائدے دے .

جواب:مخکښے تقریر بانَدے غوراوکړئ.

سوال:مَعْنًی ذکر هم عبث اولغوه دے ځنګه چه هغه هم وضع نه ذهن ته راځی .په دے وجه چه دَ شی ثانی نه مراد معنی ده.

جواب:دا دَ تصریح بما عُلِمَ ضمناً دَقبیلے نه دے.

جواب: دېنه مخکښے صنعت تجرید اوګڼره تجرید وئیلے شی دَ معني یوجز حذف کول لکه سُبْحٰنَ الَّذِیۡۤ اَسۡرٰی بِعَبۡدِهٖ لَیۡلًا

دَاسریٰ معنی ده دَشپے تګ اومخکښے بیا دَلیلهٌ ذکر راغلے دے په دے وجه په اسریٰ کښے

تجريد کيدے شي چه دشپے والا معنى حذف کولے شي نودغه رنګ دلته هم تجريد به کوو.

سوال:په تجريد کښے څه نکته اومصلحت وى نو دلته څه نکته اومصلحت دے؟

جواب:دلته مصلحت دادے چه دوضع نه پس معنى ئے ذکرکړه مبتدى طالب علم ته ئے اووئيل چه مفرد ، مرکب لفظ هم صفت جوړيږى اودمعنى هم .

درئمه درجه ترکيب: الکلمة مرفوع بالضمه لفظا مبتلا مرفوع بالضمه لفظا موصوف وُضِعَ فعل ماضى مجهول ضمير کښے مُسْتَتِر مبتدا لفظ مرفوع محلا نائب فاعل لِمَعْنيٍ لام حرف جار معنیٌ مجرور بالکره تقديرا جارمجرو ملاؤ شول ظرف لغو متعلق دے وضع پورے فعل خپل نائب فاعل او متعلق سره ملرو جمله فعليه خبريه شوه دلفظ صفت شو.

دمفرد درے ترکيبونه دى. (۱) لفظ مُفْرَدٌ مرفوع لفظًا صفت ثانى دے دَلَفْظٌ (۲) لفظ مفردًا منصوب بالفتحه لفظًا حال وى دوضع دضمير نه يا حال دى دمعنى نه(۲) مفردٌ مجرور بالکره لفظا صفت وى دمعنى دمفرد درے واړه ترکيبونو باندے اشکال وارديږى.ړومبى ترکيب باندے اعتراض وارديږى.

سوال که مفرد فرفوع وى نو صفت ثانى به جوړ شي دَلَفِظٌ اوس دلفظ دوه صفتونه شو. يو صفت جمله وضع اودوئم صفت مفرد به شي. اوقاعده دادة چه کله ديوموصوف دوه صفتونه په داسے طورسره وى چه يوصفت مفى وى اويوصفت جمله نو صفت مفرد به مقدم کولے شي .دلته خلاف قاعده ولے کړے شوے دے دينه څه نکته حاصله شوه .

جواب:داقاعده اکثرى ده کلى نه ده لکه قرآن مجيد کښے دى هٰذا کِتَابٌ اَنْزَلْنَا هُ مُبَارَكٌ.

جواب:دنکاتو دحاصلو دپاره قاعده ئے ترک کړه .

ړومبى نکته : مصنف طلباؤ ته اووئيل چه لفظ ړومبے دوضع صفت جوړيږى.بيادافرادواودترکيب.

دوئمه نکته :. مفرد ئے مؤ خر کړو دائے هم اووئيل چه مفرد اومرکب والا صفت چه لکه څه رنګ دلفظ دے همدغه دمعنى هم دے.

درېمه نکته: مفرد مقدم کولو سره دَوضع والا معنی دَمفرد نه فهم کیدے نودَ وضع ذکر هم بے فائده به وے حالانکه دَ متبدی طلبه ؤ رعایت کولو سره دَوضع ذکر صراحةً ضروری وؤ. دا نکات ثلثه دَ مقدم کولو په صورت کښے نه حاصلیدل دونم ترکیب باندے هم اعتراض واردیږی.

سوال: مفرد منصوب لوستل غلط دی ځکه که مفرد منصوب وے نو ددینه روستو الف به لیکلے شوے وے لهذا دا منصوب والا ترکیب دَ رسم الخطی دَ قاعدے خلاف دے .

جواب: دَمتقدمینو په نیز د الف لیکل ضروری نه دی دلته مصنف هم دَ متقدمینو مذهب اختیار کړو.

جواب: داقاعده هم اکثری ده لکه په قرآن مجید کښے ارشاد دَالله تعالیٰ دے مَآاَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً په دیکښے لفظ کافه منصوب دے بغیر دَالف نه.

جواب: دَرسم الخطی دَقاعدے دَپاره شپږ شرائط دی

رومبے شرط: ددغه منصوب نصب یقین وی.

دوئم شرط: په دغه منصوب باندے الف لام به هم داخل نه وی احترازی مثال: ضَرَبْتُ الرَّجُلَ

درېم شرط : ددغه منصوب په آخرکښے تاء تانیث نه وی احترازی: مثال ضَرَبْتُ جَارِيَةً

څلورم شرط :دغه منصوب نه وی احترازی مثال :ضَرَبْتُ غُلَامَ زَيْدٍ،

پنځم شرط: دغه منصوب غیر منصرف هم نه وی احترازی مثال : رَاَيْتُ اَحْمَدَ ،

شپږم شرط: ددغه منصوب په آخرکښے الف مقصوره هم نه وی دلته رومبے شرط مفقود دے .ځکه چه نصب متعین نه دے بلکه د رفع جر هم احتمال دے .

سوال: دَوُضِعَ دَ ضمیر نه حال جوړول صحیح نه دی ځکه چه ضمیر نائب فاعل دے حالانکه حال دَفاعل یا دَ مفعول نه وی.

جواب:نائب فاعل فاعل حقیقی خونه وی لیکن فاعل حکمی خویقیناً وی بلکه علامه زمخشریؒ په نیزد نائب فاعل فاعل حقیقی وی.

سوال : بیا هم دَ ضمیر نه حال نه جوړیږی ځکه چه حال ذوالحال کښے مقارنت زمانی شرط دے

چه کله وضع مقدم وی افراد اوترکیب پاندے؟

جواب: دا تقدم وتاخر ذاتی دے اوزمانه دَدواړو یوه ده کتقدم حرکة الید علی حرکة المفتاح

سوال: مونږ منو چه دَ وضع دَ ضمیر نه حال واقع کیدل درست دے لیکن معنی نه حال جوړول غلط دی اوکه ته ضرور جوړوے نو زمونږ دَ درو سوالونو جواب راکړئ مونږ به اومنو.

سوال: معنی ذوالحال نکره ده او قاعده ده که چرے ذوالحال نکره وی نودَحال مقدم کول واجبیږی لیکن دلته خو مقدم نه دے.

سوال: حال وی دَفاعل نه یا مفعول نه او لمعنی نه فاعل دے اونه مفعول دے

سوال: دَ ذوالحال اوحال عامل یووی لیکن دلته دَ هر یو عامل جدا جدا دے دَ مفرّا عال وُضِعَ اودَ لمعنی عامل حرف جار لام دے.

جواب دسوال اول: ستاسو چه کومه قاعده بیان کړی ده هغه نامکمل ده .په دے قاعده کښے داهم لیکلے شوی دی که چرے ذوالحال نکره مجرور وی نوحال مقدم کول واجب به نه وی دلته هم ذوالحال مجرور دے.

جواب دسوال ثانی: لمعنی ذوالحال بالواسطه مفعول دے.

جواب سوال ثالث: د ذوالحال عامل وُضِعَ دے په واسطه دَلام.

درئم ترکیب په مجرور باندے اعتراض: مفرد مجرور لوستل هم غلط دی .په دے وجه چه په دے صورت کښے صفت جوړیږی دَمعنی .چه ددینه وهم پیدا کیږی چه معنی مخکښے صفت مفرد مرکب سره لګی روستو وضع سره ځکه چه ضابطه ده چه کله په یو موصوف بالصفقه باندے حکم اولګولے شی نوصفت دَ مخکښے په موصوف کښے موجود وی . اوحکم روستو لږی لکه حالانکه هرڅیز د مخکښے نه وضع وی روستو بیا مفرد مرکب جوړیږی

جواب: دلته مجاز بالمشارفت دے یعنی چه کوم صفت اوحکم روستو لګیدو والا وو هغه مخکښے اولګولے شی لکه قرآن مجید کښے دی اَعْصِرُ خَمْراً اوپه حدیث کښے دی مَنْ قَتَلَ قَتِیْلًا فَلَهٗ سَلْبُهٗ. اوطالبعلم ته مولوی اوئیلے شی په اعتبار دَمایؤول الیه دلته هم دغسے ده یعنی معنیٌ چه بعد

الوضع دَ مفرد مرکب صفت ګڼیدل وو مجازا قبل الوضع نے اوګڼلو.

سوال: اَلْكَلِمَةُ مبتدا مؤنث ده او لَفْظٌ خبر مذکر دے حالانکه دَ مبتدا او خبر ترمینځ تذکیر او تانیث کښے مطابقت ضروري وي چه دلته موجود نه دے؟

جواب: ددے مطابقت دپاره اته شرائط دي.

رومبے شرط: مبتدا او خبر دواړه اسم ظاهر وي احترازي مثال: هِيَ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ.

دوئم شرط: خبر مشتق وي که مشتق نه شي نو مطابقت به هم ضروري نه شي. لکه زَيْنَبُ وَ سَقَرُ مَاءٌ وَجُوْرٌ مُنْتَنِعٌ.

څلورم شرط: خبر اسم تفضيل مُستعمل په مِن سره وي احترازي مثال: اَلصَّلوٰةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ.

پنځم شرط: خبر الفاظ مشترکه بين المذکر والمونث هم نه وي. احترازي مثال: اَلْاِمْرَاَةُ جَرِيْحٌ صَبُوْرٌ

شپږم **شرط**: خبر الفاظ مُختصه بالمؤنث نه هم نه وي احترازي مثال اَنْتَ طَالِقٌ حَائِضٌ

اووم شرط: خبر اسماء متوغله في الابهام نه نه وي اسمائے متوغله في الابهام هغه اسماء ته وئيلے شي چه باوجود دَاضافه الى المعرفه کيدو نه معرفه کيږي هغه الفاظ دادي. مثل، غير، شبه، قبل، بعد، فوق، تحت، يمين، شمال

اتم شرط: خبر دَ مبالغے صيغه هم نه وي اوس دَ جواب حاصل داشو چه دلته دوئم او درئم شرط نه شي بيامونده. ځکه چه خبر لفظ مصدر دے. او اَلْمَصْدَرُ کَالْخُنْثٰى قَدْ يُذَكَّرُ وَقَدْ يُؤَنَّثُ.

سوال: چلومونږ منو چه مطابقت ضروري نه دے ليکن ممتنع خو هم نه دے که لَفْظَةٌ وئيلے وے نو مطابقت راتلو او دغه رنګ ماخذ او ماخوذ کښے هم مطابقت کيږي ځکه چه کافيه ماخوذ دے دَمفصل نه او په مفصل کښے دَکلمه دَتعريف دَلاندے لَفْظَةٌ دے.

جواب: په اصل کښے دلته په يوه مسئله کښے اختلاف دے دَصاحب مفصل په نيزد دَکلمے دپاره وحدت شرط دے. په دے وجه هغوي دَ خپل مذهب بيانولو دپاره اللفظة اووئيل او چونکه

دصاحب كافيه په نيزد په كلمه كښې دَ وحدت شرط نه وو په دے وجه تاء ئے رانه وړو اولفظ ئے اووے.

ثمره اختلاف: ددے اختلاف نتيجه او ثمره په عبدالله اوعبدالرحمٰن كښے په ښكاره كيږي چه كله عَلَمْ وي .دعلامه جار الله زمحشري په نيزد داكلمه نه ده .ځكه چه لفظ واحد نه دے اودعلامه ابن حاجب په نيزد داكلمه ده .په دے وجه ددے په نيزد دَكلمے دپاره لفظ واحد كيدل ضروري نه دي.

ترديد دجواب: داجواب دَ مولانا جاميؒ وو چه بعضے شارحينو ردكړے دے چه دهغے حاصل دادے چه دَصاحب مفصل په نيزد هم دَكلمے دپاره وحدت شرط نه دے ځكه چه دكلمے په تقسيم كښے داسم مثال عبدالله ئے وركړے دے .چه لفظ واحد نه دے حالانكه اسم دَكلمے قسم دے چه ددينه واضح معلوميږي چه هغه دوه لفظونه يوه كلمه منى .باقي پاتے شو دسوال جواب هغه دادے چه مصنف دااختصار په وجه دَلفظ سره تاءِ ذكر نه كړه ورنه دوه نورو تاګانو ذكركول راځي. عبارت داجوړيږي چه اَلْكَلِمَةُ لَفْظَةٌ وُضِعَتْ لِمَعْنًى مُفْرَدَةٍ چه خلاف اختصار دے.

څلورمه درجه مختصر مطلب: په دے عبارت كښے مصنف دكلمے تعريف كول غواړي مُفْرَدٌ كه دَلَفْظٌ صفت وي نوتعريف به داشي كلمه هغه لفظ مفرد دے چه وضع كړے شوے وي معنى دَپاره اوكه مفرداصفت وي دَ مَعْنًى نو تعريف به داشي چه كلمه هغه لفظ دے چه معنى مفرد دپاره وضع كړے شوي وي.

پنځمه درجه: سوالات اوجوابات سابقه درجاتو كښے شوي وي يوڅو سوالات ملاحظه كړئ.

سوال: دكلمے تعريف جامع نه دے ځكه چه داسم وضع زيدو عمروغيره دپاره اودفعل ضَرَبَ،يَضْرِبُ دحرف من ،الي وغيره دپاره حالانكه دالفاظ دي معنى نه ده اودتعريف كلمه كښے موضوع للمعنى ذكر دے.

جواب: معنى څه ته وائي؟ معنى خوديته وائي چه مَقْصُوْد مِنَ الشَّئِ وي عام دے لفظ وي يا غير لفظ اوستاسو زيدٌ ،ضَرَبَ ،مِن ته الفاظ وائي داهم مقصود دے دَاسم فعل حرف نه لهذا تعريف جامع

شو.

سوال: دبعضے الفاظو وُضِعَ سره معاني مرکبه دپاره مثلًا. جملة ،کلام،خبر،ددے وضع زید قائم، قام زید دپاره وي حالانکه تعریف ونیلے شوي وي چه معنی مفرد دپاره موضوع ده لهذا بیا هم تعریف جامع نه شو.

جواب: زَيْدٌ قَائِمٌ ،قَامَ زَيْدٌ کبنے دوه اعتباره دي . دمعنی په اعبتار سره مرکب دي. لیکن دَ الفاظو په اعتبار سره مفرد دي ځکه چه ددے وضع دَالفاظ مفرده په مقابله کبنے شوي دي.

سوال: بیا هم تعریف جامع نه شو ځکه چه اَلرَّجُلُ،قَائِمَةٌ، بِصْرِيٌّ اوځی ځکه چه ددے معنی مرکب ده مثلًا الرجل کبنے الف لام دلالت کوي تعین باندے اورجل په شخص باندے نو په دے الفاظو کبنے دَلفظ جزء دَمعنی په جزء باندے دلالت کوي. حالانکه دامفرد دي ځکه چه د دوئ اعراب يو دے..

جواب: الرجل وغیره که دَتعریف دَکلمے نه اوځی نو اودځی .ځکه چه مرکب دي باقی پاتے شواعراب اوحد دادَشدة اتصال په وجه سره دے.

سوال: دا تعریف ددخول غیر نه مانع نه دے ځکه چه عبدالله حالت علمیت کبنے داخلیږی په دے وجه دَلفظ جزء دَمعنی په جزء باندے دلالت نه کوي حالانکه مرکب دي ځکه چه دوی ته دوه اعرابه ورکړے شوي دي.

جواب: که چرے دادَکلمے په تعریف کبنے داخلیږی نوداخل دِ شي ځکه چه داحالت علمیت کبنے مفرد دي باقی پاتے شوه د دوه اعرابو کیدل دادَ وضع اول په اعتبار سره دي.

سوال: په علم نحو کبنے دَالفاظو نه بحث کیږی نه دَمعانیونه لهذا الرجل وغیره لفظا مفرد وو ددے داخلول پکار وو او عبدالله وغیره لفظا مرکب وو دائے خارج کړے دے خالانکه دلته دَمعنی اعتبار اوکړے شو چه خلاف مقصود دے.

جواب: علم نحوکبنے مطلقا دَ الفاظو نه بحث نه کیږی بلکه الفاظ موضوعه للمعانی نه بحث کیږی لهذا دَلفظ سره سره دَمعنی اعتبار کول هم ضروري دي.

فائده: مولانا جامیؒ صاحب مفصلؒ اودصاحب کافیه بیان کړے شوی تعریف باندے تبصره کوی چه دَصاحب مفصل تعریف : اَلْكَلِمَةُ اللَّفْظَةُ الدَّالَّةُ عَلٰى مَعْنًى مُفْرَدٍ. کښے یوه خالی ده اویونقصان دے خوبی دا ده چه اللفظه سره تالګولو سره چه کوم الفاظ دخارج کیدو مستحق وو هغه ئے خارج کړل مثلاً عبدالله حالت علمیت ئے خارج کړو اونقصان داد ے چه کوم الفاظ د داخلیدو مستحق ووهغه ئے دَمعنی سره دَمفرد قید لګولو سره خارج کړل لکه الرَّجُلُ ،قَائِمَةٌ که صاحب مفصل دَمعنی سره دَمفرد قید نه لګولے نوښه به وے.

اودَصاحب کافیه په تعریف کښے دوه خرابیانے دی.

(۱) چه کوم الفاظ لائق الخروج وو هغه دَلفظ سره دَتاء قید نه لګولوسره داخل کړل لکه عبدالله علمیت کښے او

(۲)چه کوم لائق الدخول ووهغه ئے دَمعنی سره دَمفردقید لګولوسره خارج کړل لکه الرجل قائمة .

جواب تبصره: ددے تبصره اواعتراض منشا داده چه مولانا جامی پوهه شو چه کنحویانو کار دَلفظ اواعراب لحاظ کول دی نه دَمعنی او دا خبره ظاهره ده که چرے صرف دَلفظ اواعراب اعتبار اوکړے شي یعنی اعراب یو وی نو مفرد که دوه وی نومرکب په دے اعتبار سره چونکه الرجل قائمة اعراب یودے اودَعبدالله ،عبدالرحمان دوه اعراب دی لهذا دالرجل اخراج اود عبدالله داخلول درست نه دے .لیکن دَمولانا جامی داتبصره اوصاحب کافیه باندے اعتراض درست نه دے ځکه چه نحوی حضرات دالفاظو سره سره دَمعنی هم لحاظ کوی لهذا دَمصنف دا دوه خرابیانے نه دی بلکه خوبیانے دی.

وَهِيَ اِسْمٌ وَّفِعْلٌ وَّحَرْفٌ رومبئ درجه تشریح دالفاظو :واؤُ دواو لس قسمونه دی(۱) استینافیه، (۲) عاطفه،(۳) حالیه(۴) اعتراضیه(۵) زائده،(۶)قسمیه(۷) علامت جمع (۸) بمعنی مع،(۹) بمعنی او ،(۱۰) واؤبمعنی رُبَّ.

هِیَ دا ضمیر دپاره دواحده مؤنث غائبه وَهِیَ په قانون دَ شَهِدَ وَهْيَ لوستل جائز دی.

اِسْمٌ اِسم ماده اشتقاق کښے اختلاف دے.

دبصرينو مذهب: اسم مشتق دے دَسِمُوٌ نه واونے حذف كړو دسین اعراب میم ته وركړے شو بیاد ابتداء بالسكون په وجه همزه وصلی راوړے شوه نواسمٌ شو.

دليل دبصرينو : داسم تصغير سُمَیٌّ راځي اوجمع تكسير اَسْمَاءٌ اوقاعده ده التصاغير والتكاسير تردان الشي الیٰ اصلها كه اصل وِسْمٌ وے نو تصغیر وَسِیْمٌ اوجمع د تكسیرر اسامٌ راځي.

وجه تسميه: علی مذهب البصرین دَ سِمُوٌ معنی ده اوچتیدل اواسم هم خپلو دواړو قسیموباندے اوچت وی په دے وجه ددے نوم اسم كیښودے شوے دے.

دكوفينو مذهب: اسم په اصل كښے وِسْمٌ واو ئے حذف كړو دَهغے په عوض كښے همزه وصليه راوړے شوه نو اسم شو.

وجه تسميه: ددوی په نیزد وجه تسمیه داده چه اسم مأخوذ دوِسْمٌ نه اودَ وِسْمٌ معنی ده علامت اونښه اوداهم چونكه خپله معنی باندے علامه وی په دے وجه دیته اسم وئیلے شي. ليكن راجح مذهب دَبصرینو دے .اودَ كوفینو مرجوح دے. هم په دے وجه مولانا جامیؒ د دوئ مذهب په صیغه دتمریض قیل سره نقل كړے دے. مزید تفصیل اسرارالعربیه كښے اوګورئ.

دَفعل وجه تسمیه: دَفعل لغوی معنی ده كول یعنی حدث اودَ اصطلاحی معنی په اعتبار سره فعل د درے څیزونو نه مركب دے. (١) حدث (٢) زمانه (٣) نسبت الی الفاعل اوپه اصل كښے فعل نوم وو دَفعل لغوی یعنی دَحدث اودافعل لغوی یعنی حدث چونكه فعل اصطلاحی كښے موجود وو په دے وجه ددۀ نوم هم فعل كیښودے شو نودا تَسْمِيَةُ الْكُلِّ بِإِسْمِ الْجُزْءِ او تَسْمِيَةُ الْمُتَضَمِّنِ بِإِسْمِ الْمُتَضَمَّنِ دَقبیلے نه وی یاتَسْمِيَةُ الْفَرْعِ بِإِسْمِ الْاَصْلِ دَ قبیلے نه دے.

دحرف وجه تسميه: دحرف لغوی معنی ده طرف چه مأخوذ دے من حرف الوادی ای طرفة

دوئمه درجه مفهوم ومطلب: مصنف دكلمے دَ تعریف نه پس تقسیم بیانول غواړی .

فائده: دَتعریف نه پس تقسیم نه درے فائدے حاصلیږی.

(١) تعریف سره دشئ مفهوم معلومیږی اوتقسیم سره وجود خارجی .

(٢)تعریف سره دَشئ مفهوم معلومیږی اوتقسیم سره مصداق.

(۳) تعریف سره دَشئ اجمالاً علم حاصلیږی اوتقسیم سر تفصیلًا .

(۱)اسم (۲) فعل (۳) حرف .

سوال: هی ضمیر مبتداء ده اواِسْمٌ اِلیٰ اٰخِرِہٖ خبر دے اودلته مبتدا اوخبر کښې مطابقت نشته ؟

جواب: دَمطابقت متعدد دشرطونه مفقود دی

سوال :ضابطه اَلضَّمِیْرُ اِذَا دَارَبَیْنَ الْمَرْ جِعِ وَالْخَبْرِ فَرِعَایَةُ الْخَبْرِ اَوْلیٰ مِنَ الْمَرْجِعِ یعنی ضمیر کښې دَ مرجع په ځائے د خبر لحاظ ساتل اولیٰ وی . لهذا مصنف دَخبر رعایت کولو سره هو اِسمٌ ونیل پکار وو.

فائده: هم داحکم دَاسم اشاره دے چه اسم اشاره کښې دَمشار الیه نه بلکه دَخبر اعتبار کیږی لکه فَلَمَّا رَاٰئ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّیْ.

جواب: فاضل هندی جواب ورکړو چه دَهِیَ خبر مُنْقَسِمَةٌ محذوف دے اواِسْمٌ خبر دے دَمبتداء محذوف چه احدها دے اوهم دغه رنګ دفعل دپاره ثانیها اودَ حرف دپاره ثالثها محذوف دے. لیکن داجواب ضعیف دے ځکه چه په دے جواب کښې دَارکان کلام حذف لازمیږی.باقی پاتے شو ددے سوال جواب څه دے؟ ددے جواب دادے چه کومه قاعده ستاسو پیش کړی ده هغه قاعه معتبره نه ده .

سوال: دَهِیَ ضمیر مرجع څه ده .لفظ کلمه دے یا مفهوم کلمه .دا دواړه باطل دی .په دے وجه که چرے لفظ اَلْکَلِمَةُ جوړ کړو نو چونکه الکلمه اسم دے. په دے سره خو دا تقسیم دَاسم شی چه دَاسم درے قسمونه دی .اسم ،فعل ،حرف اود اِنْقِسَامُ الشَّیِ اِلیٰ نَفْسِهٖ وَاِلیٰ غَیْرِہٖ . لازم به راشی چه باطل دے . اوکه چرے مفهوم کلمه جوړه کړے نو راجع مرجع کښې مطابقت نه پاتے کیږی ځکه چه راجع چه ضمیر دے هغه دمؤنث دے .اومرجع مفهوم کلمه مذکر دے .

جواب: دَضمیر مرجع لفظ کلمه او تقسیم دَ مفهوم کلمه دے .لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ .اوس راجع مرجع کښې به مطابقت هم راشی اودَ اِنْقِسَامُ الشَّیْءِ خرابی به هم لازم راشی .

جواب: مرجع مفهوم کلمه دے اومفهوم کلمه همیشه مذکر نه وی .بلکه دَلفظ تابع وی که چرے

لفظ مذكر دے نو مفهوم به هم مذكر وي او كه لفظ مؤنث وي نومفهوم به هم مؤنث وي.

سوال: دَمصنف اقسام كلمه په واو عاطفه سره ذكركول درست نه دي ځكه چه واو عاطفه په جمعيت باندے دلالت كوي . په دے صورت كښے معنى به داشي كلمه،اسم ،فعل اوحرف د درے واړو دَ مجموعه نوم دے هر ه يو ه جداكلمه نه ده حالانكه د دوئ نه هر ه يو ه جدا جدا كلمه ده.

جواب: دلته واو په معنى دَ أو دے . اوس دَعبارت حاصل به داشي چه كلمه اسم دے يافعل دے ياحرف دے.

جواب: ددے نه مخكښے دوه فائدے اوپيژنئ.

فائده: كل او كلي كښے درے فرقونه دي.

فرق: (۱) دَكل افرادو ته اجزاء اوكلي افرادو ته جزئيات ونيلے شي.

فرق: (۲) دَكل اطلاق په تمامو افرادو باندے كولے شي هر هر فرد باندے نه شي كيدے اودَكلي خپلو جزئياتو نه هرهر جزئي باندے اطلاق كيدے شي.

فرق: (۳) دَجزء منتفي كيدو سره كل منتفي كيږي ليكن دَ جزي په انتفاء سره كلي نه منتفي كيږي . دَكلي مثال: السَّكَنْجَبِيْنُ مَآءٌ وَخَلٌّ وَعَسَلٌ او دَكلي مثال انسان دے چه افراد ئے زيد"عمروبكر دي.

فائده : چه كوم ځائے عطف وي هلته ربط وي كله عطف مقدم وي ربط باندے اوكله ربط مقدم وي عطف باندے ددے دپاره ضابطه ياده ساتئ چه كوم ځائے تقسيم الكل الى الاجزاء وي هلته عطف مقدم وي. اوچه كوم ځائے تقسيم الكل الى الجزئيات وي هلته ربط مقدم وي اودلته باندے تقسيم الكلي الى الجزئيات دے لكه الانسان زيدٌ وعمرو ،بكرٌ نومعنى به د اشي چه انسان زيد، عمرو اوبكر دے .او تقسيم الكل الى الاجزاء كښے عطف مقدم وي ربط باندے ځكه چه دكل يوفرد باندے اطلاق صحيح نه وي .مثال تير شوے دے. اوستا سوال هله واردېږي چه كله تقسيم الكل الى الاجزاء وي .

حاصل دجواب دادے چه داتقسيم الكلي الى الجزئيات دے په دے كښے ربط مقدم دے اوس معنى به داشي چه كلمه اسم دے اوفعل دے او حرف دے.

سوال: دَمصنف صاحب داتقسیم منطقی اصولوسره باطل دے ځکه چه مونږ یوقیاس تیاروو. لیکن نتیجه غلطه رااوځی. اَلْکَلِمَةُ صَادِقَةٌ عَلَی الْفِعْلِ . وَلَا شَیْءَ مِنَ الْفِعْلِ بِصَادِقٍ عَلَی الْاِسْمِ .نتیجه لَاشَی مِنَ الْکَلِمَةِ بِصَادِقَة عَلَی الْاِسْمِ.

جواب: ستاسو دَ قیاس صغریٰ مهمله ده چه دَهغے په وجه نتیجه غلطه شوه .لهٰذا ستا قیاس غلط دے .زمونږ تقسیم بالکل صحیح دے.

سوال: مصنف اسم په فعل باندے اوفعل اوپه حرف باندے ولے مقدم کړل؟

جواب: اسم اشرف وو ځکه دا مسند هم وی او مسند الیه هم .چه دَهغے په وجه دااسم په کلام جوړیدو کښے دَغیر محتاج نه دے نوپه دے وجه دائے فعل اوحرف باندے مقدم کړواوفعل چونکه دَحرف نه اعلیٰ وؤ ځکه چه مسند وی اودَکلام جزء جوړیږی. نوپه دے وجه فعل ئے په حرف باندے مقدم کړو.

لِاَنَّهَااِمَّا اَنْ تَدُلَّ عَلٰی مَعْنٍی فِیْ نَفْسِهَا وَلَا الثَّانِی الْحَرْفُ وَالْاَوَّلُ اِمَّااَنْ یَقْتَرِنَ بِاَحَدِالْاَزْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ اَوْلَا الثَّانِیْ اَلْاِسْمُ وَالْاَوَّلُ الْفِعْلُ په دے عبارت کښے دوه تردیده او څلور شقونه دی ړومبی شق کښے دَفعل اوپه دوئم کښے داسم تعریف دے.

مختصر مطلب : مصنف دتقسیم کلمه نه پس دَاقسام کلمه دپاره دلیل حصر بیانوی چه دَهغے حاصل دادے .چه کلمه به دوه حالونه خالی نه وی معنی مستقل باندے به دلالت کوی یانه که دلالت اونه کړی نوحرف دے که دلالت اوکړی. نوبیا په دوه حالونه خالی نه وی دروزمانه یوزمانے پورے به ئے اقتران وی یانه که اقتران نه وی نواسم که وی نو فعل شو. (احقر دوه نورے وجه حصر تنویر اوسعایة النحو کښے ذکر کړی دی.

سوال: دلته دعویٰ دَحصرخوهیڅ شته نه دلیل به څهٔ وائی.

جواب: دلته اګر چه دعویٰ صراحةً مذکور نه ده لیکن ضمناً مذکوره ده هغه دغه رنګ چه لِاَنَّهَااِلیٰ آخِرِهٖ دا جار مجرور متعلق دے .دمُنْحَصِرَةٌ لهٰذا دعویٰ دَحصر ذکر هم اوشو.

جواب: اَلسُّکُوْتُ فِیْ مَعْرَضِ الْبَیَانِ بَیَانٌ یعنی دَ مُصنفٌ اقسام ثلثه نه پس سکوت کول هم

دعویٰ دَحصر دہ .

سوال: دَحصر څومره اقسام دي اودلته کوم قسم دے؟

جواب: دَحصر څلور قسمونه دي.(۱) حصرعقلي(۲) حصرقطعي(۳) حصر جعلي.(۴) حصراستقرء ي

وجه حصر: فقط دَاقسامو دَمفهوم ملاخطه کول جزم بالانحصار دَپاره به کافي وي يانه که کافي وي نودا حصرعقلي به وي چه ددے سلامت چه هغه اقسام دَاثبات ونفي ترمينځ دائر به وي. اوکه کافي نه وي نودروحالونه به خالي نه وي يادليل طرفته به احتياجي وي يا تتبع اود تلاش ياقاسم طرفته که دليل طرفته احتياجي وي نوداحصر قطعي به وي اوکه تتبع اوتلاش په طرف احتياجي وي نوداحصر استقرائي به وي اوکه قاسم يعني تقسيم کوونکي طرفته احتياجي نوداحصرجعلي به وي اودلته حصرعقلي هم دے. اوحصر قطعي هم .

سوال: دليل ددعویٰ مطابق نه دے ځکه چه دليل کښے دَ دلالت ذکردے حالانکه دَکلمے په تعريف کښے دَدلالت ذکر نشته.

جواب:مطابقت موجود دے ځکه چه دَکلمے په تعريف کښے دَوضع ذکر دے. اووضع دلالت ته مُستلزم دہ لهذا دَکلمے تعريف يعني دعویٰ کښے دَدلالت ذکر ضمناً موجود دے.

مشهُور اعتراض:لانهاکښے هاضمير چه دَاِنَّ اسم دے چه کلمے طرفته راجع کيدو په وجه ذات دے او اَنْ تَدُلَّ په تاويل دَمصدر سره خبر دے اودَخبر حمل دَاِنَّ په اسم باندے حالانکه مصدر وصف دے اودَ صف حمل په ذات باندے جائز نه وي ددے يوڅو جوابات ورکولے شي.

جواب:دمولانا جامي جواب اَنْ تدل خبرنه دے بلکه دامبتدا مؤخره دہ چه ددے دَپاره خبر من صفتها مقدر دے دامبتدا خبر ملاؤ شول جمله اسميه خبردے دَ اَنَّ يادسائتئ جمله کښے من حيث الجمله دال په ذات مع الوصف وي اودذات مع الوصف حمل په ذات باندے جائز وي.

دفاضل هندي جواب:مونږ په ځائے دَخبر تاويل کولوکښے دَاَنَّ په اسم کښے تاويل کوؤ. چه دَهاضمير نه مخکښے مضاف محذوف دے لفظ صفت ياحال دے عبارت به داسے شي. لان حال الکلمة اي صفة الکلمة اوس دا حمل المصدر علی المصدربه شي. ليکن داجواب مرجوح دے ځکه چه

دَکلمے حصر په شي دغه احوال مذکوره کښې چه دَکلمے حال دلالت یاعدم دلالت دے. حالانکه داسے نه دے بلکه دَکلمے نوراحوال هم شته.

صاحب غاية التحقيق کاجواب: داتاویل اوکړے شي چه خبر مصدر دلالة په معنی دَاسم فاعل دال کړے شي. اوس به عبارت داسے شي. لان الکلمة امادالة علی معنی داجواب هم مرجوح دے ځکه چه په دیکښے مجاز درمجاز لازمیږي. اولاً دَان په وجه تدل دَمصدر په تاویل کړے شوے دے. بیا دوباره مصدر دَاسم فاعل په معنی کښے اوکړے شي داذامناسب دے.

دشیخ رضی جواب: چه دلالتها خبرنه مخکښے ذومضاف محذوف دے اوذومصدر دَذات په تاویل کښے ورکوی نودَذات په ذات باندے به حمل راشي چه جائز دے. دا جواب هم مرجوح دے ځکه چه خبر محض ذات به جوړشي. حالانکه خبر کښے وصف هم ملحوظ وی اوذو دَان دَ مقتضی هم خلاف دے.

دمیر سید شریف جواب: مصدر په دوه قسمه دے (۱) صریحی (۲) تاویلی اوضابطه ده چه حمل المصدر علی الذات ناجائز دے دامصدر صریحی دپاره دے نه تاویلی دپاره دلته هم خبر اَنْ تدل مصدر تاویلی دے. داجواب هم مرجوح دے په دے وجه چه محققینو دافرق نه دے تسیلم کړے د دویٔ په نیزد چه لکه څه رنګ دَمصدر حقیقي حمل په ذات باندے جائز نه دے همدغه رنګ دمصدر تاویلی هم جائز نه دے.

سوال: دفی نفسها څه مطلب دے؟

جواب:فی په معنی دَاعتبار دے لکه الدارفی نفسها حکمها کذا یعنی دَ دار دَخپل ذات په اعتبار سره دا قیمت دے. قطع نظر دَخارجی امورو نه چه داپه ښهر کښے دے بجلی،سونی ګیس،ټیلیفون سهولت شته یانه؟ اوس به معنی داشي چه کلمه په داسے معنی باندے دال وی چه معتبر فی ذاته اوملحوظ بذاته یعنی معنی مستقله وی امر خارج دضم ضمیمه محتاج نه وی.

سوال: زما په پوهه کښے دَفی نفسها قید بے فائدے دے ځکه چه فی نفسها مطلب دا بیانول دی چه معنی دَکلمے مدلول دے حالانکه دَانْ تدل مقصد هم دغه دے.

جواب: دَفی نفسها مطلب ونیلے شوے دے چه کلمه په اعتبار دَذات سره خپله معنی باندے

دلالت كولو كښې چرته دَغير ضم ضميمه محتاج نه وي او آن تـدل كښې فقط دا دے چه كلمه خپله معنى باندے دلالت كوي خواه دلالت په اعتبار د ذات سره وي يا په اعتبار دَغير .

الحاصل: آن تـدل كښـے دلالت مطلقه دے اوفي نفسها كښـے دلالت مقيده دے لهذا في نفسها قيد مستدرك نه دے بلكه بافائده اوضروري دے اوّلا په دے باندے دوه سوالونه واردېږي .

سوال: ستاسو دَحـرف پـه تـعريف كښـے دَ دلالت نفي كړې ده چه په هغـے سره دَوضع نفي هم كيږي ځـكه چـه دلالت عام دے اووضع خاص اوضابطه ده چه دَعام په نفي سره دَخاص هم كيږي لهذا چه كله دَوضع هـم نفي اوشوه نوحرف مهمل جوړ شو. اودَكلمے قـسم پاتے نه شو. حالانكه حرف موضوع دے او دَكلمے قـسم دے.

جواب: ضابطـه ده چه كله نفي مقيد بالقيد باندے داخل وي نو عموماً نفي د قيد كيږي نه دَمقيد دلتـه عبارت اولاً تـدل عـلى مـعـنـى في نفسها كښـے هم نفي دَ قيد يعني دفي نفسها كړے دے. اومقيد چه دلالت دے دَهغـے نفي نه ده دلهذا چه كله دَحرف په تعريف كښـے دَدلالت نفي اونه شوه نودَوضع نفي هم اونه شوه.

سوال : اَوّلاً نـه پـس پـوره جـمـلـه معطوفه حذف دے .حالانكه حرف عطفه موجود وي نودَمعطوف حذف ناجائز وي.

جواب: دَمعطوف حذف هغه وخت ناجائز وي چه كله دَمعطوف متعلق هم موجود نه وي حالانكه دلته متعلق يعني لا موجود دے.

الثاني په دے باندے څلور اعتراضات واردېږي.

سوال: لـفـظ الثـانـي صـفـت دے .دالكلمة موصوف محذوف چه په هغـے سره موصوف صفت كښـے مطابقت نه پاتے كيږي .

جواب: دَالثاني موصوف القسم دے نه الكلمة .

سوال: ستاسو اوولېل چه لفظ الثاني حرف دے حالانكه دااسم دے .

جواب: دالفظ الثاني حرف نه دے بلكه ددے مصداق حرف دے .

سوال: الثـانـي مبتـدا والحـرف خبـردے . ضابطه ده چه كله مبتدا اوخبر دواړه معرف بلام وي

نوضمیر فصل راوړلے شي. دلته ولے رانه وړلے شو.

جواب: ضمیر فصل هغه وخت راوړي چه کله دَموصوف صفت سره دَالتباس خطره وي اودلته دا خطره نشته.

سوال: تقسیم کښے حرف مؤخر اووجه حصر کښے دَمقدم کولو څه حکمت دے.

جواب: حکمت داد ے چه په تقسیم کښے حرف ئے مؤخر کړو مرتبه ئے بیان کړه چه ددے مرتبه دَاسم اوفعل نه کمه ده اوپه تقسیم کښے آخری غاړه کښے اوپه وجه حصر کښے اوله غاړه کښے ئے ذکرکړو لغوی معنی طرفته ئے اشاره اوکړه چه دَحرف معنی غاړه ده.

جواب: دَحرف تعریف عدمي وو اوعدم دَوجود نه مقدم وي په دے وجه ئے مقدم کړو.

جواب: اختصار هم په دیکښے وو.

سوال: ستاسو اونیل چه دحرف تعریف عدمي دے حالانکه عدمي څیز تعریف نه جوړیږي.

والاول اماان یقترن په دے هم هغه اعتراض اوجواب کیږي چه لانها امان تدل باندے اوشو.

سوال: یقترن په دے باندے سوال کیږي چه دَیقترن دَضمیر مرجع څه ده لفظ اول دے یامعنی ؟او دا داوړه باطل دي. که راجع وي لفظ په طرف نومعنی درسته نه ده ځکه چه معنی به شي چه لفظ اول به مقترن شي.ددو زمانو نه یوزمانے سره حالانکه لفظ اول خواسم دے هغه څه رنګ مقترن کیدے شي دَزمانے سره اوکه راجع وي المعنی په طرف نودَ اضمار قبل الذکر خرابي به لازم راشي.

جواب: ضمیر راجع دے المعنی په طرف اومعنی اګرچه صراحةً مذکور نه ده مګر دالاول به ضمن کښے مذکوره ځکه چه الاول دال دے اومعنی مدلول ده.

سوال: الازمنه موصوف دے اوالثلاثه صفت دے اوضابطه ده چه دَاسم عدد موصوف هم حقیقتًا تمیز وي. لیکن دَالازمنه تمیزکیدل غلط دي ځکه چه الثلاثه اسم عدد دپاره تمیز مذکر راځی اودا مؤنث دے.

جواب: الازمنه هم مذکر دے ځکه چه داجمع دے دزمان.

جواب: داضابطه تمیز دپاره ده دَموصوف دپاره نه ده.

فائده: خبر سره درے اغراضونه یوغرض مقصود وی. (۱) دمبتدا تعریف مقصود وی لکه الکلمة لفظ. (۲) دمبتدا صفت بیانول مقصود وی لکه زید عالم. (۳) دمبتدا تقسیم مقصود وی لکه وهی اسم الخ دبصریینو په نیزد فعلونه درے دی. (۱) ماضی (۲) امرځکه چه زمانے درے دی.

وجه دحصر: معنی درے حالتونو نه خالی نه ده زمانه اخبار نه مقدم وی یا به مؤخر وی یا مقارن چه اول وی نو ماضی دوئم وی نو استقبال چه درنم وی نوحال. درے زمانو باندے دلیل فرمان دالله يَعْلَمُ مَابَيْنَ اَيْدِيْنَا وَمَاخَلْفَنَا وَمَابَيْنَ ذٰلِكَ. عندالکوفیین فعلونه دوه دی. فعل ماضی فعال مضارع اوامر به فعل مضارع کښے داخل مئی.

فائده: دابو جعفربن صابر په نیزد دکلمے څلورم قسم اسم فعل دے چه دغے نوم خالفه دے لیکن مردود دے ځکه اسماء افعالو باندے داسم تعریف صادقیږی لهذا دابه هم په اسم کښے داخل شی.

وَقَدْ عُلِمَ بِذٰلِكَ حَدُّ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهَا دمصنف په دے عبارت سره دوه غرضونه دی. (۱) دخپل عبارت اودکتاب خوبی بیانول چه باوجود دمختصر کیدو وجه حصر سره داقسام ثلثه تعریف معلوم شو. یعنی زما کتاب داداء المطالب الکثیرة بالفاظ قلیلة حقیقتًا مصداق دے. (۲) طلباؤ بیدارول دی چه وجه حصر سره داقسام ثلثه تعریفونه یادکړئ چه وجه حصر کښے دوه تردیده دی اوڅلور شقونه دی. دتردیداول شق ثانی کښے دحرف تعریف اودتردید ثانی شق اول کښے فعل اوشق ثانی کښے داسم تعریف دے.

سوال: واو کوم یودے ؟

جواب: واوعاطفه ،استینافیه معترضه اوحالیه هم جوړیږی. اوکه واو عاطفه وی نومعطوف علیه به مقدر منلے شی. آنحصرت الکلمة اوکه استینافیه وی نودسوال مقدر جواب به شی. چه داقسام ثلثه تعریف ئے ولے اونه کړو؟جواب ئے ورکړو قدعلم اوواو اعتراضیه په هغه مذهب باندے جوړیږی چه دهغوئ په نیزد جمله معترضه په آخرکښے هم واقع کیږی.لکه اناسیدولد آدم ولا فخر(الحدیث) په دیکښے لافخرجمله معترضه په آخرکښے واقع ده اود واو حالیه په صورت کښے جمله معطوف علیه محذوف به منلے شی او ددے دضمیر نه به حال واقع شی .مثلًا دآنحصرت دضمیر نه .

قَدۡعُلِمَ

سوال: مصنف عُلِمَ اووئيل عُرِفَ ئے ولے اونه وئيل ؟

جواب: دَعلم اطلاق ادراک کلياتو باندے کيږي اودَمعرفت اطلاق ادراک جزئيات باندے دلته هم دَکلياتو ذکرووپه د ے وجه عُلِمَ ئے اووئيل .

بِذٰلِكَ

سوال: دَباسببيه دلته ذکرکول درست نه دي ځکه چه دليل دَقبيلے دَتصديقاتو نه دے اوحدود تعريفات دَقبيلے دَتصوراتو نه نولازم به راشي دَتصوراتو مستفادکيدل دَتصديقاتو نه حالانکه ضابطه داده چه لَايُعۡلَمُ التَّصَوُّرُمِنَ التَّصۡدِيۡقِ.

جواب: داباءدَاستعانت ده يعني دليل حصر اومعاون دے دَاقسام ثلثه دَحدودو دَپيژان دَپاره اودَ تصديقاتو تصوراتو معلومولو دپاره مدد اومعاون کيدو کښے هيڅ حرج نشته.

ذٰلِكَ

سوال: ذٰلِكَ په ځائے هذه مناسب ووځکه چه مشار اليه دليل دَحصردے چه قريب دے اوذالک بُعد دپاره دے.

جواب: دَبعد دوه قسمونه دي.(۱) بعد رتبي(۲) بعد زماني دلته بعد رتبي مراد دے مصنف ذالك راوړو د دليل حصر عظيم الشان کيدو په طرف ئے اشاره اوکړو لکه قرآن مجيد کښے ذالک الکتٰبُ کښے بعد رتبي مراد دے .

سوال: مشار اليه دَپاره مبصر محسوس کيدل ضروري دي حالانکه دليل حصر غير مبصرٌ اوغير محسوس دے لهذا اسم اشاره ذکر کول غلط دي.

جواب: کله کله دَ ډير زيات وضاحت په وجه غير مبصر غير محسوس ته دَمبصر اومحسوس درجه ورکړے شي اسم اشاره کوے شي. لکه ذالکم اللّٰه دلته مصنف اسم اشاره راوړو سره دا وئيل غواړي چه دليلِ حصر دومره واضح دے چه ګويا دَمحسوساتو دَقبيلے نه دے.

حَدٌّ

سوال: اقسام ثلثه په تعريف باندے دحد اطلاق درست نه دے ځکه چه حد هغه تعريف ته وئيلے شي چه ذاتياتو سره اوکړے شي حالانکه داتعريف عرضياتو نه دے ځکه چه مفهومات اعتبار يه دقبيلے دَعرضياتو نه وي .

جواب:دامنطقي اصطلاح ده دَنحويانو په نيزد جامع مانع تعريف ته حدوئيلے شي دلته دَحدنه هم دغه مراد دے .

کُلُ

سوال: داکل کوم يودے ؟ځکه چه کل په څلور قسمه دے؟

(۱) کل افرادي چه په کښے دَکل دَمضاف اليه هرفرد مراد وي لکه كُلُّ إِنْسَانٍ أَلْزَمْنٰهُ طٰئِرَهٗ فِيْ عُنُقِهٖ (۲) کل مجموعي : چه په هغے کښے دکل دَمضاف اليه هر فرد مرادنه وي بلکه ټول افراد مراد وي لکه وَعَلَّمَ اٰدَمَ اَلْاَسْمَاءَ كُلَّهَا (۳) کل اطرادي : چه دَتعريف جامع مانع کيدو دَپاره راوړے شي .(۴) کل په معنی دَکلي.

جواب: دلته کل افرادي اوکل مجموعي دواړه جوړيږي.

سوال: دَمصنف په عبارت کښے تکرار دے دَاقسام ثلثه ؤ تعريفات ئے درے ځل بيان کړل اولا دليل حصرکښے ثانيًا قَدْ عُلِمَ کښے ثالثًا صراحۃً دهريو تعريف ئے اوکړو چه دَاختصار خلاف دے.

جواب: طلبه په اعتبار دَطبائعو په درے قسمه دی.(۱) ذکي،(۲) متوسط (۳) غبي..

ذکي هغه دے چه دَکلام مقصود صرف په اشارة سره ذهن نشين کړي اومتوسط هغه دے چه په تنبيه سره اوغبي هغه ته وئيلے شي چه نه په اشارة پوهيږي اونه په تنبيه سره بلکه تصريح سره پوهه شي. نومصنف دَدرے واړه طبائعو رعائت ساتلے دے .ذکي دپاره ئے په دليل حصرکښے اشارة اوکړه اومتوسط ته ئے په قد علم سره تنبيه اوکړه اودَغبي دَپاره ئے روستو صراحة دَاسم فعل حرف تعريف اوکړو.

الحاصل: دادَمصنف دَذهانت اوهوښيارتيا دليل دے .چه په دے باندے مولانا جامیؒ لِلّٰهِ دَرُّ

اَلْمُصَنِّفِ اوونیل اوډتعجب اظهار نــے کړے دے.

اَلْكَلَامُ مَاتَضَمَّنَ كَلِمَتَيْنِ بِالْاِسْنَادِ

مصنف ډکلمے تعریف اوتقسیم نه پس ډکلام تعریف اوتقسیم کړے دے دلته هم تعریف دے په دے وجه پنځه درجات به بیانولے شي.

رومبۍ درجه: ډمشکل الفاظو تشریح: الکلام الف لام ډجنس دی بلکه چه کوم ځائے هم معروف وی هلته الف لام ډجنس وی کلام اسم مصدر چه معنی ئے دہ ونیل تضمن: ډضمن نه دے معنی ئے دہ یو څیز په ترخ کښے نیول کلمتین دا تثنیه دہ ډکلمه بالاسناد باسببیه دہ اسناد مصدر دے چه ډهغے معنی دہ نسبة احدالکلمتین الی الاخریٰ بحیث تفید المخاطب فائدة تامة یصح السکوت علیها.

دوئمه درجه: مختصر مطلب کلام هغه لفظ دے چه متضمن وی دوه کلموته په اسناد سره یعنی یوه کلمه مسند الیه وی اودوئمه مسند.

فائده: په کلام کښے دوه څیزونه وی.(١) تلفظ (٢) افادہ که تلفظ وی او افادہ نه نوکلام نه دے اوکه افادہ وی تلفظ نه وی نوهم کلام ورته نشي ونیلے .

دریمه درجه: فوائد قیود: الکلام معّرف دے ماجنس دے په معنی ډلفظ دا ټولو الفاظو ته شامل دے خواہ موضوع وی یا مهمل مفرد وی یا مرکب تضمن کلمتین دا من وجه جنس دے اومن وجه فصل اول په دے سره ټول الفاظ مهمله اومفرده خارج شول اوبالاسناد دافصل ثانی قید ثانی دے چه ددینه مرکبات ناقصه خارج شول . باقی ډکلام په تعریف کښے مرکبات تامه پاتے شول.

خلورمه درجه: ترکیب داسهل دے.

پنځه درجه : سوالات اوجوابات

سوال: مصنف ته پکار وو حرف عطف ئے راوړے وے اووالکلام ئے ونیلے وے چه دنحو دواړو موضوګانو کلمه اوکلام کښے مناسبت راغلے وے ؟

جواب(١): ډکلام بحث بالکل جدا بحث دے .چه هغے ته مصنف باب بعد الباب فصل بعد الفصل درجه ورکولو سره حرف عطف ئے ذکر نه کړو.

جواب(٢): که حرف عطف ئے ذکرکړے وے نوکلمه معطوف علیه متبوع به وے او الکلام

معطوف تابع چه په هغے سره داوهم کیدے شو .چه کلمه دنحو موضوع بالاصالت او کلمه بالتبع دے حالانکه دواړه مستقل او بالاصالت موضوع دی.

سوال: لفظ ماکښے څلور احتمالات دی اوڅلور واړه باطل دی.(۱) دمانه مراد لفظ وی نودا تعریف په نعم باندے صادق راځی .ځکه چه نعم هم زید قائم دوه کلموته شامل دے حالانکه نعم کلام نه دے.(۲) که دمانه مراد شی وی نه دا تعریف دیوال اوکاغذ باندے به صادق راشی.چه کله په هغے باندے زید قائم اولیکلے شی ځکه چه دیوال اوکاغذ هم شئ دے اودوه کلموته متضمن دے.(۳) که دمانه مراد کلمه وی نوداهم غلط دے .ځکه چه یوه کلمه دوه کلمو ته څه رنګ متضمن کیدے شی. او حمل الجزء علی الکل خرابی به لازم راشی .(۴) که دما نه مراد کلام وی نو داخذا المحدود فی الحد خرابی به لازم راشی چه دور دے اوباطل دے ځکه چه معرف هم کلام دے او تعریف کښے هم دکلام ذکر راغے.

جواب: دما نه مراد لفظ دے باقی دادے چه نعم دوه کلموته متضمن نه دے بلکه ددے نه پس دوه کلمے محذوف وی.

فائده: ماکله دمبتدا قائم مقام وی اوکله دخبر په دے وجه نحویانو ضابطه جوړه کړی ده چه کله لفظ مامبتدا واقع وی نو ما موصوله به وی ځکه چه هغه معرفه وی اومبتدا هم دتعریف تقاضا کوی اوچه کله خبر وی نو مابه موصوفه وی ځکه چه هغه نکره وی اوخبر کښے تنکیر اصل وی.

سوال: ستاسو په تعریف کښے داتحاد التمضن والمتضمن خرابی لازم راځی. مثلاً زید قائم کلام دے چه متضمن دے اوهم زید قائم کلمتین ده چه متضمن دی حالانکه متضمن اومتضمن کښے مغایرت وی لکه په ګلاس کښے اوبه وی نوګلاس متضمن او اوبه متضمن دے چه په دیکښے مغایرت موجود دے.

جواب: زید قائم کلام متضمن دے اجتماعی حیثیت سره او کلمتین متضمن دے د انفراد په لحاظ سره بدل شی نوحکم هم بدلیږی.لولا اعتبار الحیثیات لبطلت الحکمة.

سؤال: جَسَقٌ مُهمَلٌ داکلام خودے لیکن دوه کلمے نه دی ځکه چه جَسَقٌ مُهمَلٌ لفظ دے چه کلمه نه ده لهذا تعریف جامع نه شو.

جواب: زمونږ مراد دوه کلمونه عام دے حقیقي وي یا حکمي او جَسَقٌ هم کلمه حکمي دے .

سوال: اِضْرِب خویوه کلمه ده بیا هم کلام دے .

جواب: په دیکښے دونه کلمه ضمیر مُسْتَتِر دے .

سوال: زید قائم ایوه په دیکښے خودرے کلمے دي. حالانکه ستاسو اوونیل چه دوه کلموته متضمن وي.

جواب: مونږ اقله درجه بیان کړي ده کم ازکم دوه کلمے وي ذزیاتو مونفي نه ده کړې .

تحقیق اول: دنحویانو اختلاف دے دمسند اومسند الیه متعلقاتو په کلام کښے دخل شته یانه صاحب مفصل هوالمرکب مبتدا خبر معرفه راوړلوسره تصریح ئے اوکړه چه د متعلقاتو اوملحقاتو کلام کښے قطعًا هیڅ دخل نشته مثلًا ضربت زیدا قائما کلام فقط ضربتُ دے لیکن دصاحب کافیه دکلام نه په ظاهره کښے معلومیږي چه د- سند او مسند الیه متعلقاتو په کلام کښے دخل شته یعني ضربت زیدا دا مجموعه کلام دے مولانا جامي لفظ ظاهرًا راوړو اشاره ئے اوکړه چه کیدے شي چه دفقط قید ملحوظ وي.

تحقیق ثاني: جمله او کلام کښے فرق شته اوکنه په دیکښے درے مذهبونه دي.

رومبے مذهب: دصاحب مفصل اوصاحب اللباب په نیزد هیڅ فرق نشته جمله اوکلام کښے ترادف دے.

دوئم مذهب: صاحب تسهیل علامه تاج الدین فاضل اسفرائني اودشیخ رضي دے د دوئ په نیزد جمله اود کلام کښے فرق دے . جمله عام ده اوکلام خاص دے ځکه چه په کلام کښے د نسبت مقصودي کیدل شرط دي اوپه جمله کښے نشته مثلًا جاء نيْ رجلٌ قام ابو ه کښے جاء ني رجل کلام دے ځکه چه استاد مقصود لذاته دے اوجمله هم ده . اوقام اوبوه جمله خوده لیکن کلام نه دے ځکه چه نسبت مقصودي نه دے الحاصل په دیکښے نسبت دعموم خصوص مطلق دے .

درئم مذهب: دبعضے مخاتو په نیزد هم په دیکښے دا عموم خصوص مطلق دے .لیکن برعکس یعني جمله خاص ده اوکلام عام دے ځکه چه دکلام اطلاق دالله تعالیٰ په کلام باندے هم کیږي اودانسانانو په کلام باندے هم لیکن دجمله اطلاق په کلام الله باندے نه شي کیدے کلام الله خو

ونيلے شي جمله اللّٰه نه شي ونيلے اوډمصنف كلام پرمبو دوه مذهبونو بانـدے محمول كولے شي كه الاسنـاد بـانـدے الف لام جنسـي اومـنـلـے شي نو مطلق اسناد مراد به وي چه ددے نه مخکښے دمـذهـب تـائيـد پـه کيږي اوكه الف لام عهد خارجي اومنلے شي نونسبت مقصودي به مراد وي چه په دے سره د دونم مذهب تائيد په اوشي ډمصنف داعبارت هم ډير عمده دے.

فائده: اسنـادد غيـر مقصود لذاته په اووه مقاماتو بانـدے کيږي.(۱) جمله چه خبر واقع وي(۲) جـمـلـه صـفـت (۳) جـمـلـه حـاليـه(۴) جـمـلـه صـلـه(۵) جـمـلـه شرط مگر جزا(۶) قسم مگرجواب قسم(۷)جمله منادي مگر مقصود بالنداء.

وَلَا يَتَاَتّٰى ذٰلِكَ اِلَّا فِيْ اسْمَيْنِ اَوْاِسْمٍ وَّ فِعْلٍ

مـصـنف دكـلام تـعـريف كـولـو نه پس په دے عبارت كښے ډكلام تقسيم بيانوي چه ډكلام فقط دوه قسمونه دي.

وجه حصر: كـلام د دوه اسونو نه به جوړيږي لكه زيد قائم ديته جمله اسميه ونيلے شي .ياډيوفعل اوډيـو اسـم نه به جوړيږي لكه قام زيد ديته جمله فعليه ونيلے شي عقلاً شپږ احتمالات دي چه په دے شعر كښے مذكور دي .

اسم واسم فعل وفعل حرف وحرف

اسم وفعل وفعل وحرف واسم وحرف

ليکن معتبر ددينه صرف دوه احتمالات دي چه د دوه اسونونه مركب وي يا ډيو فعل او اسم نه .

دليـل ډكـلام پـه تـعـريف كښـے اسـنـاد شـرط دے يـعـنـي يوه كلمه مسند وي اودونمه مسند اليه اومـسـنـداو مـسـنـد اليـه صـرف هغه دوه احتمالاتو كښے موندلے شي نورو كښے نه لهذا صرف همدا احتمال درست دے.

سوال: يازيد كلام دے چه ډاسم او حرف نه مركب دے لهذا ستا تقسيم مات شو.

جواب:مونږ تسليموو چه يازيد كلام دے ليكن دا نه منو چه ډ حرف او اسم نه مركب دے بلكه دا ډفعل او اسم نه مركب دے ځكه چه يا قائم مقام ادعوا اَطْلُبُ دے لهذا كلام ډاسم وفعل نه مركب شو

سوال: ډكـلمے به تقسيم كښے ډكلمه حصر ذكر نے اونه كړو اودلته ډكلام به تقسيم كښے ډكلمه

حصر ذکر کړے دے ددے څه وجه ده ؟

جواب: دَکلمے انحصار اقسام ثلاثه کښے حصر عقلي وو يعني بل هيڅ احتمال نه وو. او دَکلام حصر عقلي نه دے بلکه څلور نور احتمالات وو لهذا هلته هډو ضرورت نه وو او دلته ضرورت وو ځکه کلمه حصر ذکر کړه.

سوال: لَا يَتَأتّى اتيان نه ده په معنى دَ راتلو او دا دَ ذى روح صفت دے اوکلام غير ذى روح دے.

جواب: دَ اتيان دوه معنے ده. (۱) راتلل چه حقيقي معنى ده (۲) حصول چه مجازي معنى ده دلته دونبه معنى حصول مراد دے لايتأتي بمعنى لايحصل .

سوال: دَاسم وفعل نه مراد جمله فعليه ده نوفعل به ئے مقدم کړے وے اواسم مؤخر مصنف اسم ولے مقدم کړو.

جواب: اسم ئے په وجه دَ شرافت مقدم کړو.

سوال: چه کله مصنف اختصار پسے لګيدے وو نو بيا دومره اوږد عبارت ئے ولے ذکر کړو حالانکه دا داسے مختصر کيدے شو الکلام ما تضمن اسمين او اسماً وفعلا؟

جواب: موجوده عبارت سره درے نکات حل کيږي چه ستا پيش کړے شوی عبارت کښے نشته .

نکته اول: دَکلام تعريف اوتقسيم دَکلمے دَتعريف اوتقسيم موافق شو ځکه چه دَکلمے تعريف وتقسيم جدا جدا وو دلته دَکلام تقسيم د تعريف هم جداجدا شول **نکته دوئم** زمونږ عبارت دَاجمال وتفصيل حاصل نه وو **نکته درئمه** زمونږ عبارت دَلا اوالا په وجه په حصر باندے مشتمل دے چه ضروري وو او ستا عبارت داسے نه دے.

اَلِاسْمُ مَادَلَّ مَعْنًى فِىْ نَفْسِهٖ غَيْرِ مُقْتَرِنٍ بِاَحَدِ الْاَ زْمِنَةِ الثَّلَاثَةِ

رومبی درجه :دَمشکل الفاظو تشريح،په ديکښے مشکل الفاظ نشته .

دوئمه درجه: مختصر مطلب، مصنف دَکلام تعريف او تقسيم دَفراعت نه پس دَ غبي طالب علم رعايت کولو سره دَاسم صراحة تعريف کوی .اسم هغه کلمه ده چه دلالت اوکړی په داسے معنى

بانـدے چـه حـاصـلیدو والا دہ .ددے په ذات کښے نه ملاو شوی وی درے زمانو نه یو زمانے سرہ .

دریمه درجه: فوائد قیود:په هر تعریف کښے جنسی اوفصل وی په دیکښے دَمانه مراد کلمه دہ چـه جنـس دے اوکلمے درے قسمونو ته شامل دے فی نفسه یومبے فصل دے چه په دے سرہ به حرف خارج شی غیر مقترن دافصل ثانی دے په دے سرہ فعل خارج شو.

څلورمه درجه ترکیب: الاسم مبتدا ماموصوفه دَلَّ فعل او ضمیر مُسْتَتِر فـاعل علی حرف جـارمعنـی مجـرور تـقـدیرًا موصوف فی نفسہٖ متعلق دَحاصل سرہ صفت شو دَ غیر مقترن .که غیر مجـرور الـوستے شی نودَ معنی دوئم صفت به شی اوکه منصوب اولوستے شی نودَ معنیٰ نه به حال شی اوکه مرفوع اولوستے شی نو خبرثانی به شی دَالاسم .

پنځه درجه سوالات اوجوابات:

سوال: لـفـظ مـاکښے څلور احتمالات کلها باطل (۱) کماته مراد شی دوی نو تعریف په دوال اربعه بـانـدے صادق راځی ځکه چه هغه هم یوشی دے چه مستقله معنی بانـدے دلالت کوی اواقتران زمانه هم نشته.(۲) که دَمانه مراد لفظ وی نو دا تعریف کلام (زَیْدٌ قَائِمٌ) په مجموعه بانـدے صادق راځـی. (۳) کـه مـا اسم مـراد وی نـودَ دور خرابی لازم راځی .(۴) که کلمه مراد وی نو راجع اومرجع کښـے مـطـابـقت نه پاتے کیږی ځکه چه دَدَلَّ ضمیر مـذکر دے او ددۀ مرجع کلمه مونث دہ حالانکه راجع مرجع کښے په یو وخت پنځو څیزونو کښے مطابقت ضروری دے(۱)تذکیرو تانیث(۲) افراد وتثنیه وجمع.

جواب: دَمـانـه مـراد کـلـمـه دہ ځکه چـه قاعدہ دہ چه مقسم په خپلو اقسـاموکښے معتبر وی او مـاچـونـکه دَ لـفظ په اعتبار سرہ مذکر او دَمعنی په لحاظ سرہ مؤنث دے او ضابط دہ که چرے یو لـفـظ داسـے وی چـه پـه هـغـے کښے دواړہ اعتبارہ وی نو هغه طرفته دَ مذکر ضمیر راجع کول هم صحیح دی اودَ مؤنـث هـم اودلتـه هـم پـه ماکښے دَلفظ اعتبار کولوسرہ دَمذکر ضمیر راجع کړے شوے دے.

فائده: دَتذکیر درے قسمونه دی .(۱) تذکیر لفظًا اومعنًی وی لکه زیدٌ (۲) تذکیر معنا فقط وی

لکه طلحة (۳) تذکير لفظًا فقط وي لکه کلمةٌ دغه رنګ دَ تانيث هم درے قسمونه دي (۱) تانيث لفظًا فقط لکه غُرْ فَةٌ د في نفسه په قيد سره فعل هم خارجيږي ځکه چه دَفعل معنی هم غير مستقل ده په دے طريقه چه فعل دَ درے ځيزونو دَمجموعه نوم دے . (۱) حدث (۲) زمانه (۳) نسبت الی الفاعل دوه ځيزونه يعني حدث اوزمانه مستقل ده ليکن نسبت غير مستقل دے .اوقاعده ده چه کوم ځيز مستقل اودَ غير مستقل نه مرکب وي هغه غير مستقل وي. په دے وجه چه منطقي ضابطه ده چه نتيجه هميشه دَ اخص ارذل تابع وي. لهذا دغير مقترن قيد لغوه اومستدرک جواب معنی نه مراد معنی مطابقي او تضمني ده اودَفعل معنی مستقل ده په اعتبار دَ معنی تضمني لهذا دَفي نفسه په قيد کښے فعل داخل پاتے شو. چه په غير مقترن سره خارج کړے شوے دے. .

سوال:ددے تعريف جامع نه دے ستاسو اووئيل چه اسم هغه کلمه ده .چه خپله معنی باندے خپله دلالت کوي اوضم ضميمه ته محتاج نه وي مونږ درته ښايو چه اسم دے ليکن دَضم ضميمه محتاج دے لکه کلا کلتاً اذا ذو، متي.

جواب: مونږ مخکښے هم وئيلے دي چه اعتبار دَ وضع وي نه دَ استعمال ددغه اسما دَاصل په اعتبار سره معنی مستقل ده.

سوال: دا تعريف دخول غير نه مانع نه دے افعال منسلخه افعال مقار به باندے دا تعريف صادق راغے ځکه چه په دوئ کښے اقتران زمانه نشته ؟

جواب:دادے چه دَوضع اولیٰ په اعتبار سره اقتران زمانه وه اوس نشته نو هيڅ نقصان نشته.

سوال: ستا تعريف په بل يو لحاظ سره هم جامع نه دے په مصادرود باندے نه صادقيږي مثلًا ضرب په معنی وهل دا وهل درے زمانو نه په يوه زمانه کښے به وي لهذا دَ مصدر معنی هم مقترن باحدالازمنة شوه.

جواب: دَ اقتران دوه قسمونه دي اقتران في الفهم ،اقتران في الوجود مونږ دَ اقتران في الفهم نفي کړي ده او مصادرو کښے چه کوم اقتران دے هغه اقتران بالزمان بحسب الوجود دے مضرنه دے .

سوال:بياهم تعريف جامع نه دے غدا امس اليوم ،الئن په دے اسماء کښے اقتران بالزمان ي:

بحسب الفهم دے .

جواب: ستاسو پوهه شوی نه یئ مونږ اوونیں چه معنی جدا وی بیا ددغه معنی دَزمانے سره عدم اقتران وی هغه اسماؤ کښے چه تاته په نظر راځی .داځو ددغه اسماؤ معنی ده واضع دغه اسماؤ همدغه معانو دَپاره وضع کړو نه داچه دَ معنی زمانے سره اقتران دے.

سوال: ستاسو تعریف دخول غیرنه مانع نه دے په فعل مضارع باندے صادق راځی .ځکه چه فعل مضارع کښے دوه زمانے موندلے شی. اوستاسو صرف دَ یوزمانے نفی کړی ده؟

جواب: (انکاری) مونږ نه تسلیموؤ چه فعل مضارع کښے دوه زمانے بیاموندے شی ځکه چه په استعمال کښے په یووخت یوه زمانه بیاموندے شی.

جواب:(تسلیمی) چه کله دَ یوزمانے بیاموندو سره کلمه دَاسم دَتعریف نه اوځی نو هغه کلمه چه په هغے کښے دوه زمانے بیاموندے شی نو هغه خو به په طریقه اولیٰ اوځی. اوعهد خارجی به شی.

فائده: الاسم باندے الف لام جنسی به شی چه کله دَ معرف کیدو لحاظ اوکړے شی که چرے دَ یوبلے قاعدہ لحاظ اوکړے شی چه دَهغے تفصیل دادے چه کله دَیو اسم اعادہ اوکړے شی نو څلور صورتونه جوړیږی (۱) دواړه معرفه وی(۲) دواړه نکره وی(۳) ړومبئ معرفه اودوئم نکره(۴) ړومبے نکره او دوئم معرفه وی که دواړه معرفه وی یا ړومبے نکره وی او دوئم معرفه نو ددے دواړو صورتونو حکم دادے چه ثانی دَاول عین به وی اونورو دواړو صورتونو کښے ثانی دَ اول غیر وی لکه اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا دلته الله تعالیٰ دَیوعسر په مقابله کښے د دوه یسرو دَ ورکولو وعده اوکړه او وَاَرْسَلْنَا اِلٰى فِرْعَوْنَ رَسُوْلًا فَعَصٰى فِرْعَوْنُ الرسول.

سوال: وَهُوَ الَّذِيْ فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ دلته ثانی دَاول غیر نه دے بلکه عین دے.

جواب: داقاعده اکثری ده کلی نه ده.

وَمِنْ خَوَاصِّهٖ دُخُوْلُ اللَّامِ وَالْجَرِّ وَالتَّنْوِيْنِ وَالْاِسْنَادُ اِلَيْهِ وَالْاِضَافَةِ

ړومبی درجه: دَمشکل الفاظو تشریح: مِن تبعیضیه دے اومن تبعیضیه دوه طریقو سره ترکیب کیدے شی (۱) جارمجرور جوړکړے شی (۲) من په معنی دَبعض مضاف ،مضاف الیه

جوړ کړے شي.

خواص: خواص جمع دہ دَخاصیته تعریف خاصته الشئ مایوجد فیه ولا یوجد فی غیرہ خاصه دوہ قسمونه دی.(۱)شامله (۲) غیر شامله خاصه شامله هغه دے چه خپلو ټولو افرادو کښے پیاموندے شي.لکه ضحک بالقوة غیر شامله چه په بعضو افرادو پیاموندے شي.لکه ضحک بالفعل بیا خاصه په دوہ قسمه دہ (۱) لکه ناطق انسان دپارہ (۲) اضافیه لکه حساس انسان دپارہ .

دخول :درے لفظونه دی(۱) دخول(۲) طوق(۳) اتصال دَیوشی په شروع کښے راتلو ته دخول او په آخرکښے راتلوته لحوق ونیلے شي اواتصال عام دے .دواړو ته شامل دے. د الف لام بحث تیر شوے دے.

التنوین:دَتنوین تعریف: اَلتَّنْوِیْنُ سَاکِنَةٌ تَتْبَعُ حَرْکَةِ اٰخِرَ الْکَلِمَةِ لَا لِتَاکِیْدِ الْفِعْلِ.

دَتنوین لغوی معنی: جَعْلُ اْلِاسْمِ مُنَوَّنًا دَتنوین پنځه قسمونه دی لکه چه دا شعردے

تنوین پنج قسم است اے یارمن بگیر
اول تمکن است ثانی عوض ثالث تنکیر
دیگر مقابله است ترنم برادرم
این پنج یاد کن که شوی شاہ بےنظیر

(۱) تنوین تمکن: هغه دے چه دَ مدخول تمکن کیدو باندے دلالت اوکړی.

(۲)تنوین تنکیر:هغه دے چه دَمدخول نکرہ کیدو باندے دلالت اوکړی.

(۳) تنوین عوض:هغه دے چه دَڅه عوض کښے وی چه دَهغے درے صورتونه دی.

(۱) عوض عن الجمله لکه یَوْمَئِذٍ حِیْنَئِذٍ(۲) عوض عن المضاف الیه لکه کُلٌّ فِیْ ذَلِكٍ ای کُلُّهُمَا(۳) عوض الحرف لکه دواعٍ

(۴) تنوین تقابل:دا تنوین په جمع مؤنث سالم کښے وی چه دمذکر سالم دَ نون په مقابله کښے راځی.

(۵) تنوین ترنم: چه دَ تحسین صوت دَپارہ دَاشعارو په آخرکښے راځی.

اَلإِسْنَادُ چه ددے لغوی او اصطلاحی معنی تیره شوی ده. دَالاسناد استعمال په دروطریقو سره کیږی(۱) په سره یعنی الاسناد به دغه وخت ددینه مراد مسند به وی (۲) او که دَالیه سره وی نوددے نه مراد مسند الیه وی(۳) که ددے دواړو نه بغیر وی یعنی فقط الاسناد وی نودواړو کښے یومراد کیدے شی. الاضافة ددے استعمال هم الاسناد په شان دے.

دوئمه درجه ترکیب: مِن تبعیضیه دے چه خواصه مجرور .داجارمجرور چه ملاؤ شی خبر مقدم اومابعد دخول اللام مبتدا یا په معنی دَبعض شی نو مبتدا او مابعد دخول اللام خبر دے. الجراو التنوین کښے دوه اعرابه دی.(۱) جر (۲) رفع که مجرور وی نو عطف به شی په اللام باندے په دے باندے سوال به کیږی چه .

سوال: په دے ترکیب کښے لفظ دخول به داخل شی جر اوتنوین باندے چه دَ دغے مطلب به راشی چه جر اوتنوین شروع کښے راځی حالانکه دا په آخرکښے راځی.

جواب: دخول نه مراد اتصال دے چه عام دے. دخول اولحوق دواړو ته شامل دے . اوکه چرے مرفوع اولولے نو عطف به شی دَخول باندے .مگر یاد ساتئ دَمرفوع کیدو په حالت کښے جراو تنوین مصدر مجهول به وی. په معنی دَمجرور کیدل. اومنون کیدل الاضافته والاسناد صرف مرفوع دی. اوددے عطف په دخول باندے دے .ځکه چه دا نه په شروع کښے راځی اونه به آخرکښے بلکه درمیان کښے وی.

درئمه درجه مختصر مطلب: مصنف داسم دَتعریف نه پس ددے خاصے بیانول غواړی. ځکه چه په دے سره دغه درے فوائد به حاصل شی چه دَ تعریف نه پس په تقسیم سره حاصلیږی .مصنف دلته صرف پنځه خاصے بیان کړی دی. چه په دغے کښے درے لام جر ،تنوین خاصے لفظی دی. اود دوه خاصے اضافه اواسناد الیه معنوی دی.

وجه دحصر: خاصه لفظی دوه حالونه به خالی نه وی په اول کښے به وی یا آخرکښے که په اول کښے وی نولام تعریف دے. اوکه په آخرکښے وی نوبیا به دوه حالو نه خالی نه وی متبوع به وی یا تابع که مبتوع وی نوجر دے اوکه تابع وی نو تنوین دے .

خاصه: معنوی هم دوه حالونه به خالی نه وی مرکب ناقص به وی یا مرکب تام که مرکب ناقص دی

نو دا اضافت دے اوکه مرکب تام وی نو اسنادالیه.

خلورمه درجه: سوالات وجوابات

سوال: خاصه لفظي ئے معنوی باندے ولے مقدم کړه .

جواب: چونکه خاصه لفظي چه دَلفظونونه معلومیږي اودَ خاصه معنوی نه فهم کیږي اوظاهرده چه لفظ په معنی باندے مقدم وی په دے وجه ئے مقدم کړه.

سوال: خاصه لفظي کښے ئے دا ترکیب ولے کیښودو چه لام ئے په جر باندے اوجرئے په تنوین باندے مقدم کړو؟

جواب: لام تعریف چونکه په اول کښے راځی .جرا وتنوین په آخرکښے په دے وجه لام ئے مقدم کړو اوچونکه جر متبوع دے اوتنوین تابع دے اومتبوع مقدم وی دَ تابع نه نو ځکه جر ئے په تنوین مقدم کړو.

سوال: خاصه معنوی کښے اضافه ئے په اسناد باندے ولے مقدم کړو.

جواب: اضافت دَمرکب ناقص کیدو په وجه قلیل اوخفیف دے اواسناد مرکب تام کیدو په وجه کثیر او ثقیل دے اودا خبره ظاهره ده چه قلیل خفیف مخکښے وی کثیر ثقیل باندے نو په دیوجه اضافت ئے په اسناد باندے مقدم کړو.

سوال: مِنْ خَوَّا صِهٖ. په دے عبارت کښے تعارض اومنافات دے ځکه چه من تبعیضیه قلت باندے دلالت کوی او لفظ خواص جمع کثرة ده چه په کثرت باندے دلالت کوی هَلْ هٰذَا اِلَّا اِجْتِمَاعُ الضِّدَّیْنِ.

فائده:جمع قلت اوکثرت کښیدوه مذهبونه دی.

رومبے مذهب: اول جمع قلت اوجمع کثرت د دواړو مبدا درے دی اودَقلت منتهی لس دی اودجمع کثرت انتها نشته .

دوئم مذهب : جمع قلت دَ درونه شروع کیږي په لسو باندے ختمیږي اوجمع کثرت من العشرة اومن فوق العشرة الیٰ غیرالنهایة.

سوال:چه کله دَاسم خواص ډیر وو نو مصنف فقط پنځه ولے بیان کړی داخو ترجیح بلا مرجع دهٔ.

جواب: اصل مقصود خو مسائل اوفوائد ښودل دی. اوچونکه ددغه پنځو خواصو متعلق مسائل او فوائد ډیر زیات وو مثلًا دَ لام متعلق دا بحث به کیږی چه دَلام څو قسمونه دی کوم یومراد دے بیادَ تعریف دپارهٔ څه بله آله هم شته یانه یوا فقط لام دَ تعریف وی یا الف لام چونکه علم معانی کښے ددغه خواصو په بارهٔ کښے ډیر فوائد اومسائل لیکلے شوے دی نولهذا دا ترجیح مع المرجح دے.

دُخول اللام: داسم پرومبئ خاصه لام دے لکه الرَّجُل .

سوال :لام خو په فعل باندے هم داخلیږی لکه لیضرب اوحرف باندے هم لکه لقَبِل نو بیا څه رنګ دَاسم خاصه شوهٔ حالانکه خاصه خودیته وئیلے شی چه په دغه شی کښے بیا موندے شی اوپه غیرکښے نه وی.

جواب: زمونږ مراد مطلق لام نه دے بلکه لام تعریف دے نوپه دے وجه خو مونږ لام معرف بلام عهد خارجی راوړے دے چه اشارهٔ اوشی چه مطلق لام دَاسم خاصه نه دهٔ بلکه صرف لام تعریف دَ اسم خاصه دهٔ.

سوال: لام تعریف خونه وی بلکه الف لام وی ستاسو الف ولے ذکرنه کړو.

جواب:دلته درے مذهبونه دی(۱) دَ سیبویه دَخلیل(۳) ابوالعباس مبرد

دخلیل بن احمد په نیزد آلْ لکه هل یعنی دَالف لام دواړو مجموعه حرف تعریف دے چه دَهغے دلیل دادے چه تعریف ضد دے دَ تشکیک اوحرف تشکیک هَل دے چه دَ دوهٔ حرفونه مجموعه دهٔ لهذا دا حرف تعریف هم د دوهٔ حرفونو مجموعه کیدل پکار دی . لکه آل دامذهب ضعیف دے ځکه که چرے الف هم دَتعریف وے نودلام په شان په مینځ دکلام کښے حذف کیدے به نه حالانکه دا حذف کیږی.

ابولعباس مبرد په نیزد چه همزهٔ دَ تعریف دهٔ لام خو همزهٔ استفهام اوهمزهٔ په تعریف کښے فرق کولو دپارهٔ راوړے شوی دهٔ مطلب دا دے چه همزهٔ اصل دهٔ اولام فرع دے دامذهب ضعیف نه دے بلکه اضعف دے ځکه چه په دے مذهب کښے همزهٔ چه اصل دهٔ هغه حذف کیږی او چه کوم لام فرع دهٔ هغه باقی پاتے کیږی.دَ سیبویه نیزد لام دَ تعریف دے همزهٔ وصلی دهٔ چه ابتداء بالسکون

په وجه راوړلے شي.

دَ سيبويه دلائل،اول دليل:تعريف ضد دے دَ تنكير اودَتنكير دپاره نون تنوين دے چه حرف واحد ساكن دے نودَ تعريف دپاره هم حرف واحد ساكن كيدل پكار دي چه لام ساكن دے.

دليل ثاني حرف تعريف دا علامت وي دَ تعريف اوضابطه ده والعلامة لاتحذف نو لهذا هم لام علامت دَ تعريف ځكه چه حذف كيږي نه بخلاف دَ همزه چه هغه حذف كيدو په وجه علامت دَ تعريف نه جوړيږي همدا مذهب قوي او راجح دے مصنف دا اختيار كولوسره دخول اللام نے اووے الف نے پريخودو.

سوال: لام تعريف ساكن وي مفتوح ،مكسور ، مضموم ولے نه وي؟

جواب: كه لام تعريف مفتوح وي نولام تاكيد سره به التباس راغلے وے ځكه چه لام امر مكسور وي او لام تعريف مضموم په دے وجه نے جوړ نه كړو چه ضمه تقيله ده په دے سره به داتقيل جوړ شوے وے لهذا ساكن جوړ كړے شو.

سوال: لام تعريف ساكن وو نوابتدا بالسكون دَپاره الف ولے راوړے شو حالانكه نور حروف خوهم وو؟

جواب: الف لام كښے خاص تعلق دے چه الف زرهٔ دے دَلام اولام زړه دے دَالف ځكه چه كله الف ليكلے شي نولام په مينځ كښے راځي اوچه لام ليكلے شي نوالف په مينځ كښے راځي .په دے وجه الف راؤړے شوے دے.

سوال: لام تعريف داسم خاصه ده دخول اللام خونه دے بيا لفظ دخول ولے راوړلے شوے دے.

جواب: لفظ دخول ددے وئيلو دپاره نے راوړے دے چه لام دكلمه په شروع كښے راځي اولام بغير دَ دحول علي الكلمة دَاسم خاصه څه رنګ جوړيږي.

سوال: لام تعريف دَاسم خاصه ولے جوړه كړے شوي ده؟

جواب: د لام تعريف وضع ده معني مستقل مطابقي باندے دلالت كولو دپاره اود فعل معني مستقله خو وي ليكن تضمن وي اودَ حرف معني مستقله همو وي نه لهذا معني مستقل مطابقي نه وه مګر اسم كښے په دے وجه داسم خاصه نے جوړه كړه.

سوال: كه مصنف دلام په ځانے دَحروف تعريف ذكر كړے وے نوښه وه ځكه چه ميم هم حرف

تعریف وو هغه به هم داخل شوے وے دقبیله حمیری یوسړی دنبی ﷺ نه تپوس اوکړو اَمِّنَ اَمْبِرِّ اَمْصِیَامُ فِی اَمْسَفَرِ نبی ﷺ اوفرمائیل لَیْسَ مِنَ اَمْبِرِّ اَمْصِیَامُ فِی اَمْسَفَرِ دلته میم دَ تعریف دے .

جواب: (تسلیمی) میم دتعریف دپاره کیدل غیر مشهور اوناٰدر دی اوقاعده ده چه النَّادِرُ کَالْمَعْدُوْمِ

جواب: (انکاری) میم مستقلًا حرف تعریف نه دے بلکه لام تعریف نه متبدل دے اودَ قبیله حمیری لغت دے . وصَرَّح به الرضی

جواب: دالغت غیر فیصح دے باقی پاتے شو دَنبی ﷺ دَ جواب تکلم فرمائیل حالانکه نبی ﷺ افصح العربؐ وو ددے جواب دا دے چه دنبی ﷺ دَ اخلاق عظیمه نه وو چه دَ سوال مطابق جواب به ئے ورکولو چا سوال اوکړو کَمْ فِیْ کَمْ مِنْ کَمْ عَلٰی کَمْ نبی ﷺ جوابًا ارشاد اوفرمائیلو اِثْنَیْنِ فِیْ مِنْ اِثْنَیْنِ عَلٰی اثْنَیْنِ ای فَرْضٌ وَوَاجِبٌ فِیْ لَیْلٍ وَنَهَارٍ مِنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ عَلٰی اَلْاِنْسِ وَالْجِنِّ.

والجر:دوئمه خاصه لفظ جر دے.

سوال : جر ئے داسم خاصه ولے جوړه کړه.

جواب: جراثر دے دَحرف جر اوحرف جار دِاسم سره خاص وو په دے وجه دا اثرجرئے هم دَاسم خاصه جوړه کړه چه تَخَلُّفُ اَلْاَثَرِ عن المُؤَثِّر رانشي.

سوال :مونږ درته ښایو چه تخلف عن الموثر لکه نمر، سپوږمۍ موثردی چه په آسمان کښے دی ددیے اثر رنړا په زمکه بأندے ده نو اثر موندے شي.بغیر دَ موثر نه.

جواب: موثر دوه قسمه دی(۱) موثرطبعی (۲)موثر کسبی اول قوی دے او ثانی ضعیف دے . اوچونکه نمر اوسپوږمۍ طبعی دی چه په هغے کښے تخلف کیږی اوداعوامل مؤثر کسبی دی چه په دیکښے تخلف نه کیږی .

سوال: مجیب صاحب ستاسو اووئیل چه مؤثر دَ څه سره خاص شي اثرهم دَهغه سره خاص به وی دا غلطه ده مثلًا لن دا دَ فعل سره خاص دے مگر ددے اثر چه نصب هغه دَفعل سره خاص نه دے

بلکه اسم پانسے هم راځي. لکه اِنَّ زیدًا .

جواب: اثـر دوه قسـمـه دے (۱) چـه دهغـے موثر اوعامل يو نوع وي کله جر دپاره حروف جاره وي. اوپـه دیـکښـے تـخلف نه وي يعني دَ څه سره موثر مختص وي اثر به هم ددے سره مختص وي (۲) هغه اثر چه دَهغه عامل اومؤثر متعدد نوع وي لکه نصب چه ددے عامل فعل هم دے اوحروف نـاصبـه هم اومشبه بالفعل وغيره هم دلته اختصاص نشته ځکه که چرے په يومقام کښـے فعل نه شي موندلے نوکیدے شي چه حروف مُشَبّه بالفعل وي چه دَهغے په وجه نصب وي.

سوال: حضرت جي غلام زيد کښے جر دے بغير دَ حرف جارنه نو اختصاص چرته لاړو؟

جواب: دااضـافـت مـعـنـوي دے او په ديکښـے حرف جار مقدر وي لهذا اختصاص باقي پاتے شي البتـه يـاد سـاتـئ اضـافـت لـفـظيّه کښے دوه مذهبونه دي.(۱) حرف جار مقدر وي(۲)مقدر نه وي داجـواب پـه ړومبـي مـذهـب پانـدے مبني وي. اودوئم مذهب پاندے اشکال باقي پاتے کيږي چه دَهـغـے دَپـاره دوئـم دلیـل ورکولے شي چه اضافت لفظيّه فرع ده دَ اضافت معنويه. او اضافت معنويه تـعـريف يا دَ تحقيق فائده ورکوي . اودا تعريف او تخصيص نه شي موندلے مگر په اسم کښـے لهذا چه کـلـه اضافت معنويه داسم سره مختص وو نواضافت لفظيه چه فرع ده هغه هم داسم سره مختص کړے شو لِاَنَّ الْفَرْعُ لَا يُخَالِفُ الْاَصْلَ.

التنوين: دريمه خاصه تنوين دے.

سوال: تنوين دَاسم خاصه ولے جوړه کړې ده؟

جواب: دَ تـنوين پنځه قسمونه دي .چه دَهغے نه څلوردَاسم خاصے دي اود يوقسم تنوين ترنم عام دے. اوددے څـلـورو وجـوه تـخـصيص دادي. (۱) تنوين تمکن داپه مُنصرف اوغيرمُنصرف کيدل دَاسـم خـاصـه ده دائـے هـم دَاسم سره خاص کړه. (۲) تنوين تنکير داپه تعريف او تنکير کښـے فرق کـوي اوچـونـکـه تـعـريف اوتـنکير داسم سره مختص وو نودائـے هم داسم سره مختص لړو.(۳) تنوين عـوض دا دَ مـضاف اليه په عوض کښـے وي اواضافت دَاسم سره خاص وو نو دائـے هم خاص کړو.(۴) تـنـويـن تـقـابـل دا دَنون جمع مذکر سالم په مقابله کښـے وو اودغه نون جمع دَاسم سره مختص وه نو دائـے هم دَاسم سره خاص کړو.

اَلِا ضَافَةُ: څلور مه خاصه اضافت دے مأد الفاظو په تشریح کښے ونیلی ووکه چرے اَلِاضَافَةُ وی بغیر دَ به او الیه نه نو دواړه مراد کیدے شي لیکن مضاف بالاتفاق داسم خاصه ده اوپه مضاف الیه کښے اختلاف دے دَ بعضو په نیزد مضاف الیه دَ اسم خاصه نه ده .څکه چه فعل هم مضاف الیه واقع کیږی لکه يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ کښے يَنْفَعُ مضاف الیه دے دَیوم دَپاره اودبعضے نحویانو په نیزد مضاف الیه هم دَاسم خاصه ده .اودیوم ینفع الصادقین نه جواب ورکوی. چه کوم فعل هم مضاف الیه واقع کیږی هغه ټول اسم تاویلی دی. دَمصنف په عبارت سره دَ دواړو تائید کیدے شي فَتَدبَّرْ.

والا سناد الیه: دَپنځمے خاصے بیان دے.

سوال: دَاسناد نه مراد څه دے مسند یا مسند الیه هر دواړه باطل دی .که مسند مراد وی نوفعل هم مسند وی اوکه مسند الیه وی نوواذا قیل لهم امنوا کښے امنوا فعل دے او مسند الیه دے.

جواب: مسند الیه مراد دے څکه چه مصنف دَالیه ذکر کړے دے.باقی پاتے شو ستا اشکال چه امنوا فعل دے اومسند الیه دے ددے جواب دادے چه دااسم تاویلی دے.

سوال: ضَرَبَ فِعْلٌ اومِنْ حرفٌ په دیکښے ضَرَبَ فعل دے اومن حرف دے بیاهم مسند الیه مبتدا واقع ده.

جواب: دغسے مثالونو کښے لفظ مراد وی نه معنی اوقاعده ده چه کله فعل اوحرف اودَحمله نه مراد لفظ وی نو حکما اسم وی .

سوال: مسند الیه دَقبیلے دَذات نه دے اوخواص دَقبیلے دَ اعراض نه دی نودا مسند الیه څه رنګ خاص جوړیږی ؟ جواب:مولانا جامی جواب ورکړے دے چه دَاسناد معنی ده کون الشئ مسند الیه اوس دا معنی مصدری ده چه دَ قبیلے دَ اعراض نه دی.

سوال: الاسناد الیه مبتدا مؤخر ده من خواصه خبر مقدم او ضابطه ده چه :اَلْخَبَرُ يُفِيْدُ مَالاَ الْمُبْتَداء چه خبر داسے فائده ورکوی چه دَ مبتدا نه حاصلیږی نه .دلته دَ خبر نه خاصے والا فائده حاصلیږی چه خپله مبتدا الاسناد سره هم حاصلیږی . په داسے طریقه چه دَ الاسناد الیه ضمیر راجع دے اسم طرف ته عبارت به داسے شي. الاسناد القائم بالاسم داخبره ظاهره ده چه کوم اسناد دَاسم

سره قائم شي نوهغه به هم داسم خاصه شي ځکه چه اسناد عرض دے اوعرض ذیومحل سره قائميږي.

جواب:مختلف اعتبارات وي بعضے اوقاتو کښے په يواعتبار سره حکم غلط وي اوپه بل اعتبار سره درست وي مثلاً که چرے انسان کښے ذحيوان ناطق کيدو اعتبار اوکړے شي نوداسے ونيل به غلط شي الانسان حيوان ناطق. اوکه په انسان کښے فقط ذ جسم اعتبار اوکړے شي نوبيادحيوان ناطق حکم لګول درست دي دلته هم هم‌دغسے دے چه که چرے ذ اليه ذ ضمير مرجع اسم کښے ذ شي اعتبار اوکړے شي نوذمن خواصه حکم لګول درست دي اوذاسم اعتبار اوکړے شي نوغلط دے اومونږ دلته په اسم کښے ذ مطلق شي اعتبار کوو.

فائده: من خواصه خبر مقدم دے اوذخبر تقديم پنځو وجوهوسره کيږي (۱) تخصيص دپاره لکه في الداررجلٌ .(۲) حصر دپاره لکه في الدار زيدٌ(۳) عظمت شان دپاره لکه لله الحمد(۴) خبر صدارت کلام ته متضمن وي لکه اين زيدٌ(۵) قرب مرجع دپاره لکه من خواصه.

وَهُوَ مُعَرَبٌ وَمَبْنِيٌّ :مصنف ذاسم ذ تعريف اوخواصو نه پس تقسيم بيانوي چه ذاسم دوه قسمونه دي.(۱) معرب او (۲) مبني.

وجه ذحصر: دا ده چه اسم د دوه حالونه خالي نه دے مرکب به وي ياغير مرکب که غير مرکب وي نومبني به وي لکه زيد،عمرو،بکر که مرکب وي نو بيا د دوه حالونه خالي نه دے مرکب مع العامل به وي يامرکب مع غير العامل .که مرکب مع غير العامل وي نومبني لکه غلام زيد کښے غلام مبني دے اوکه مرکب مع العامل وي نو بيا د دوه حالونه به خالي نه وي مشابه مبني الاصل به وي يانه که وي نو مبني به وي لکه قامه هولاء اوکه مرکب مع العامل وي اود مبني الاصل سره مشابه نه وي نو معرب به وي لکه قام زيد.

وجه تسميه: (۱)معرب ذ اعراب نه دے ذ اعراب معني ده اظهار لکه ونيلے شي اَعْرَبَ الرَّ جُلُ عَمَّافِيْ نَفْسِهٖ . چه معرب ذ ظرف صيغه ده په معني ذظاهر کيدو ذځائے او چونکه معرب باندے اعراب ظاهريږي په دے وجه ديته معرب ونيلے شي .(۲)معرب ذاعراب نه دے چه ذهغے مجرد عَرِبَ يَعْرَبُ په معني ذفساد دے لکه عَرِبَتْ مِعْدَ تُهٗ دهغه معده خرابه اوفاسده

شوي، ده چه کله دا باب ته یوړے شو نو دَباب افعال یوخاصیت سلب مأخذ والا مونږ لے شي چه دَهغے په وجه ددے معنی شوه ازاله دَفساد اومعرب دَاسم مفعول صیغه ده په معنی دَفساد لرے کړے شوي اومعرب بائندے چونکه اعراب راځي چه دَهغے په وجه دَمعانو دَ اشتباه فساد ختم شو په دے وجه دیته معرب ونیلے شي دَ خاصیاتو بحث دَ احقر تصنیف املاء الصرف شرح دَارشاد الصرف کښے ملاخطه کړئ.

سوال: چه کله دَاسم دوه قسمونه وو نومصنف اداۃِ حصر ولے ذکر نه کړل .

جواب: دلته عطف مقدم دے په ربط بائندے چه مفید للحصر دے.

سوال: معرب په مبنی بائندے ولے مقدم کړی ده؟

جواب: دَیوڅو وجوهو په بنا بائندے .

اوله وجه: دَمعرب تعریف وجوري وو اودَ مبنی تعریف عدمي وو. اوچونکه وجودي اشرف دے دَعدمي نه ځکه ئے معرب مقدم کړو.

دوئمه وجه: معرب په خپل اصل بائندے قائم دے . اومبنی دَخپل اصالت نه اوړیدلی ده .ځکه اسماؤ کښے اصل معرب کیدل دي.اومبنی کیدل خلاف اصل دي لکه چه ضابطه ده کُلُّ اِسْمٍ رَئَيْتَهٗ مُعْرَبًافَهُوَ عَلیٰ اَصْلِهٖ وَكُلُّ اِسْمٍ رَئَيْتَهٗ مَبْنِيًا فَهُوَ عَلیٰ خِلَافِ اَصْلِهٖ.

دریمه وجه: دَمعرب مباحث کثیر اواهم وو یعني مرفوعات ،مضوبات،مجرورات کنمی ﷺ فرمان چه العزة للتکاثر نو په دے وجه معرب موپه مبنی بائندے مقدم کړو.

سوال: دَاسم تقسیم معرب مبنی په طرف غلط دے ځکه ضابطه ده المقسم اعم من الاقسام دلته معامله برعکس ده مقسم خاص او اقسام عام دي دا رنګ چه اسم خاص دے چه دااسم نه فعل وی اونه حرف حالانکه معرب عام دے اسم هم وی او فعل مضارع هم ؟

جواب: داستاسو سوال هله واردیږی چه کله دَاسم تقسیم مطلق معرب او مبنی په طرف وی حالانکه دلته دَاسم تقسیم اسم معرب اواسم مبنی په طرف دے ځکه چه المعرب او المبنی صیغه دَصفت دي چه ددے دَپاره موصوف الاسم محذوف دے.

فَالْمُعْرَبُ الْمُرَكَّبُ الَّذِیْ لَمْ يُشْبِهْ مَبْنِیَّ الْاَ صْلِ

ړومبۍ درجه دَ الفاظو تشریح : په دیکښې دوه لفظونه دی (١) لم یشبه (٢) مبنی الاصل.

مشابهت ابتدا په درے قسمه ده(١) ضعيفه (٢)متوسطه (٣)قويه.

(١) مشـابهت ضعيفه:لکه چه دغير منصرف دَفعل سره مشابهت وی. ددے مشابهت ثمره دا راوتله چه ددغه منصرف نه بعضے اعراب یعنی کسره اوتنوین ختم شول.

(٢) مشـابهت متوسطه: لکه چه دَاسم فاعل دَفعل مضارع سره حرکاتو اوسکناتو کښے مشابهت دے ددے مشابهت فائده دا شوه چه اسم فاعل ته دَفعل یو اصلیت ملاؤ شو یعنی اسم فاعل عامل جوړ شو.

(٣) مشـابهت قـويـه :لـکـه چه دَ اسماء غير متمکنه و مشابهت دے ددے مشابهت فائده داشوه چه داسمـاء غيـر مـمـکـنه نه بالکل اعراب ختم شو اومبنی جوړ شو. دلته همدغه مشابهت قويه مراد دے .اوددغه مشابهت یو څو اقسام دی .چه هغه تنویر شرح د نحومیر یاسعاية النحو کښے ملاحظه کړی.

مبنی الاصل : په دیکښے درے مذهبونه دی (١) بصرين (٢) کوفين(٣) اخفش.

بصرين: پـه نيـزد مبـنـی الاصـل درے دی.(١) تـمـام حروف(٢) فعل ماضی(٣) فعل امرحاضر معلوم.

کوفين: په نيزد دوه دی (١) تمام حروف (٢) فعل ماضی .

اخفش: په نيزد څلور دی. درے همدغه اوڅلورم جمله من حيث الجمله .

دوئمه درجه مختصر مطلب: مـصـنف داسـم معرب تعريف کوی اسم معرب هغه دے چه مرکب وی دَخپل عامل سره اودَ مبنی الاصل سره مشابه نه وی.

درئمه درجه فوائد قيود: پـه دیـکـښـے دوه قیدونه دی(١) المرکب دا ړومبے قید دے .چه ددے فائده داده چه تمام مفردات خارج شو .(٢) لم یشبه مبنی الاصل ددے قیدنه اسماء غير متمکنه خارج شول .

څلورمه درجه ترکیب دا سهل دے .

پنځمه درجه سوالات وجوابات :

سوال: اوس ستـاسـو ونيـلـی دی چـه الـمرکب صفت دے دَاسم حالانکه اسم خو مفرد وی ددے نه؛

خولازم شو په اسم باندے دَ مرکب اطلاق کيدل چه يقيناً غلط دے.

جواب: دَمرکب دوه معانے دی (١) مرکب مع الغير (٢) مرکب من الغير.

مرکب مع الغير: دادَ مفرد منافی نه دے بلکه په دے سره مفرد هم مفرد پاتے کيږی لکه قام زيد په ديکښے مع الغير هم دے. اومفرد هم دے او البته مرکب من الغير دا دَ مفرد منافی دے ليکن زمونږ مراد دلته مرکب مع الغير دے.

سوال: چه کله دَلفظ مرکب دوه معانے شوے نو دامشترک شو اوضابطه ده چه مشترک په تعريف کښے ذکرکول ناجائز وی ځکه چه په مشترک کښے ابهام وی. اوپه تعريف کښے **مقصود توضيح** وی

جواب: مشترک په تعريف کښے ذکرکول هلته ناجائز وی. چه کوم ځائے قرينه نه وی. اودلته قرينه موجود ده هغه دادة چه دغه تقسيم داسم دے دغه قسم دَمفرد دے.

سوال: دا تعريف دَدخول غير نه مانع نه دے غلام زيد کښے په غلام باندے صادق راځی. ځکه چه دا مرکب دے اودمبنی الاصل سره مشابه هم نه دے حالانکه دامبنی دے.

جواب: المرکب نه مراد العامل دے اوغلام زيد مرکب خودے ليکن دَ عامل سره مرکب نه دے.

سوال: بيا خومبتدا او خبر هم دَ معرب دَ تعريف نه خارج شول ځکه چه ددے عامل لفظونو کښے هيڅ شته نه لهذا دا تعريف جامع نه شو.

جواب: دَعامل نه مراد عام دے عامل لفظی وی يا معنوی.

سوال: ستا تعريف جامع نه شو په غير منصرف باندے صادق نه راځی. ځکه چه ستاسو اووئيل چه دَمبنی الاصل سره مشابه نه وی او غير منصرف مبنی الاصل فعل ماضی سره مشابهت لری.

جواب: زمونږ مراد مشابهت مؤثره مناسبت قويه دے او مونږ مخکښے ونيلی دی چه دَغير منصرف مناسبت ضعيفه دے.

سوال: بيا هم ستا تعريف جامع نه شو په اسم فاعل باندے صادقيږی ځکه چه ددهٔ مشابهت دے دَ مضارع سره اومضارع مبنی الاصل دے ځکه چه هغه مضارع فعل دے اودَ صل په اعتبار سره مبنی دے.

جواب: دمبني الاصل دوه معانــے دي (۱) الاصل في البناء (۲) الاصل فيه البناء دلته پرومبیٰ معنی مراد ده.

جواب: اضافت بیانیه دــے اوچه پرته اضافت بیانیه وي هلته دَ عموم خصوص من وجه نسبت وي چه په هغے کښے درــے مادــے وي.

(۱) دوا پره مادــے وي چه لکه څه رنګ فعل ماضي مبني هم او اصل هم (۲) مبني وي اصل نه وي لکه اسم غیر متمکن (۳) اصل وي مبني نه وي لکه مصدر.

فائده: دَمناسبت څلور قسمونه دي (۱) مجانسبت (۲) مماثلت (۳) مشاکلة

مجانست معنی ده اشتراک الشتین في الجنس لکه انسان او اس په حیوانیت کښے مشترک دي

مماثلت :اشراک الشیئین في النوع لکه زید او بکر په انسانیت کښے شریک دي.

مشابهت: اشتراک الشیئین في الوصف لکه اسد ورجل په وصف شجاعت کښے شریک دي.

مشاکلت: اشتراک الشیئین في الشکل والصورة لکه په کاغذ باندــے کمزري تصویر چه دَاصل مزري په صورت کښے شریک دــے.

تحقیق مقام: په اسماء معدوده کښے اختلاف دــے چه معرب دــے یا مبني دَصاحب مفصل په نیزد معرب دي. اودَصاحب دکافیه مذهب دادــے چه اسماء معدوده مبني دي وجه دَاختلاف دَمعرب په تعریف کښے اختلاف کیدل دي.

صاحب مفصل: په نیزد معرب هغه دــے چه په هغے کښے استعداد اوصلاحیت داعراب وي یعنی عامل سره دَمرکب کیدونه پس په دــے باندــے اعراب راتلے شي .خواه بالفعل مرکب وي یانه وي مستحق دَاعراب وي یانه وي. داتعریف په اسماء معدوده باندــے صادق راځي.

علامه ابن حاجب: په نیزد معرب هغه دــے چه په هغے کښے صلاحیت او استعداد هم وي اوبالفعل وجود اعراب هم وي اسماء معدوده چونکه بالفعل مستحق دَاعراب نه دي بلکه پس دَترکیب نه به مستحق کیږي . لهذا مبني به شي. هدا وجه ده چه علامه زمخشري دَالمرکب قیدته دــے ذکر کړــے اوعلامه بن حاجب ذکر کړــے دــے یادساتئ دا نزاع دَ مرکب په اصطلاحي معنی کښے ده په لغوي معنی کښے نه ده بلکه لفظي ده ځکه چه څوک معرب مني هغوئ معرب بالقوه مني بالفعل نه

منى اوچه څوک دَمعرب نفى كوى هغوئ دَمعرب بالفعل نفى كوى هل هذا الانتزاع لفظى.

سوال: مصنف دَمعرب تعريف مشهور بين الجمهور نه عدول ولے اوكړو تعريف مشهور دا دے چه (اما اختلف اخره باختلاف العوامل).

جواب: تعريف مشهور كښے دَتقدم الشى على نفسه خرابى لازم راځى.په دے طريقه چه كه چرېدَ ذات معربه تعريف اوكړے شى اِخْتِلَافُ الْاٰخِرِ بِاِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ سره خوذات دَمعرب معرّف شى اواختلاف الاخر به معرف شى .اوضابطه داده چه دَمعرّف معرفت مقدم وى دَ معرّف په معرفت باندے نو لهذا اختلاف الاخرباختلاف العوامل معرفت مقدم به شى ذات دَمعرب باندے حالانكه همدغه اختلاف باختلاف العوامل دَمعرب غرض وغايت كيدو په وجے سره مؤ خر دے. ځكه چه دشى غرض مؤ خر وى .لهذا اختلاف الاخر باختلاف العوامل معرّف كيدو په وجه مقدم شو اودَ غرض كيدو په وجه مؤ خر نودَيوځيز خپل ذات باندے مقدم كيدل لازم راغلل. اوهمدغه تقدم الشئ على نفسه دے. اودور دے چه باطل دے.ددليل تلخيص دَقياس په طريقه داسے كيدے شى. مَعْرِفَةُاِخْتِلَافِ الْاٰخِرِبِاِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ مُتَقَدِّمَةٌ عَلٰى ذَاتِ الْمُعَرَّفِ (لِاَنَّهٗ مُعَرِّبٌ) وَمَعْرِفَةُ الْمُعْرَبِ مُتَقَدِّمَةٌ عَلٰى اِخْتِلَافِ الْاٰخِرِ بِاِخْتِلَافِ الْعَوَمِلِ (لِاَنَّ الْاِخْتِلَافَ غَرَضٌ لَهٗ) مَعْرِفَةُ اِخْتِلَافِ الْاٰخِرِ بِاِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ مُتَقَدِّمَةٌ عَلٰى اِخْتِلَافِ الْاٰخِرِبِاِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ وَهُوَتَقَدُّمُ الشَّيْءِ عَلٰى نَفْسِهٖ وَاللَّازِمُ بَاطِلٌ فَالْمَلْزُوْمُ مِثْلُهٗ په دے وجه مصنف دَ تعريف مشهوربين الجمهور نه عدول اوكړو.

وَحُكْمُهٗ اَنْ يَّخْتَلِفَ اٰخِرُه بِاِخْتِلَافِ الْعَوَامِلِ لَفْظًا اَوْتَقْدِيْرًا .

دَمعرب دَ تعريف نه پس دحكم بيان دے دَمعرب حكم داده چه عامل بدليدو سره دَ معرب آخر بدل شى خواه اختلاف لفظى وى يا تقديرى .

سوال: دَحكم يوځو معانے دى. (١) الاثرالمرتب على الشى(٢)خطاب الله المتعلق بافعال المكلفين (٣) ماثبت بالخطاب(٤) اسناد امرالى امر اخرالٰى اخره (٥) نسبت تامه خبريه (٦) محكوبه دلته كوم يومراد دے.

جواب: الاثرالمرتب علی الشی دامعنی مراد دہ.

سوال: دحکم اضافت دے ضمیر پہ طرف اوقاعدہ دہ چہ کلہ داسم ظاهر اضافت پہ طرف وی مفید لـلاستغراق وی اوس ٥. مطلب به داشي چه د معرب تمام احکام منحصر دی په دغه حکم کښې حالانکه دَمعرب نورهم ډیر احکام دي.

جواب: دلته اضافت استغراقی نه بلکه عهدی دے باقی پاتے شو هغه قاعده هغه اکثری ده یادساتئ الف لام په شان دَ اضافت هم څلور قسمونه دي.

سوال: دَمعرب حکم جامع نه دے په دے وجه چه ددینه خوډیر زیات معرب خارج دي مثلًا دَفاعل حکم رفع ده اودَ مفعول حکم نصب اوغیر منصرف حکم عدم دخول الکسرة والتنوین دے حالانکه دامعرب دي لیکن ددے حکم اختلاف الاخر نه دے بلکه علی سبیل الترقی مونږ دا وایو چه داحکم خودَمعرب دَیو فرد نه دے ځکه چه هر فرد معرب دپاره یو اعراب متعین دے نه مختلف اعراب؟

جواب: مولانا جامي جواب ورکړو من حیث هو معرب چه دَمعرب کیدو په حیثیت سره دَهر معرب همدا حکم دے. اختلاف الاخر البته چه کله دیوعامل سره وی هلته به هم دغه یو اعراب متعین وی مثلًا زید چه کله دَضَرَب فعل سره شی نورفع به متعین شی دَفاعلیت په بنا باندے.

سوال:بیاهم دَ معرب دا حکم جامع نه دے مثلًا مسلمون معرب دے لیکن دفاعل بدلیدو سره ددے اخری حرف نون دے .چه نه بدلیږی . لکه قام مسلمون ورایت مسلمین ومررت بمسلمین .

جواب: دَمسلمون اخری حرف نون نه دے بلکه واو دے چه دَعامل بدلیدو سره بدلیږی.

سوال: بیا هم داحکم جامع نه شو مثلًا دَ زید آخری دال دے ، نه بدلیږی لکه قام زیدٌ ،رایت زیدًا.

جواب: دَاختلاف آخر دوه قسمونه ده .(۱) اختلاف صفتی(۲) اختلاف ذاتی اختلاف ذاتی چه یوحرف به بل حرف سره بدل شی هغے ته اعراب بالحرف وئیلے شی او اختلاف صفتی چه یوحرکت په بل حرکت سره بدل شی هغے ته اعراب بالحرکت وئیلے شی. اودلته اختلاف الاخر کښے تعمیم دے چه هر دواړه مراد دی دَمسلمون اعراب بالحرف وو اودَ زید اعراب بالحرکت دے.

سوال: بیاهم داحکم جامع نه دے مثلاً قام موسیٰ رأیت موسیٰ ،مررت موسیٰ په دیکښے په موسی کښے نه اختلاف ذاتي شته اونه صفتي یعنی نه اعراب بالحرف اونه اعراب بالحرکة.

جواب: معترض صاحب ستاسو ته دَمعرب په حکم کښے دَ لفظا او تقدیرا قید په نظر رانغے چه په هغے کښے مصنف تعمیم بیانکړے دے چه اختلاف لفظي وي یا تقدیري اوموسیٰ کښے اختلاف تقدیري موجود دے چه ددے تفصیل دَ اعراب په اقسامو کښے به انشاء الله اوګورئ.

سوال: بیا هم دا حکم جامع نه دے ضربت زیدا،اَنّ زیدا،اني ضارب زیدا په دے امثله ؤ کښے عامل مختلف دے په اول مثال کښے عامل فعل دے اوپه ثاني کښے حرف دے اوپه ثالث کښے اسم دے لیکن زیدا خوهم منصوب دے چه په هغے کښے دَ هیڅ قسم اختلاف نشته.

جواب: دَ اختلاف عامل نه مراد دَ عامل دَذات اختلاف نه دے بلکه دَعمل اختلاف مراد دے اوستاسو پیش کړے شوي مثالونو کښے دَعامل ذات خومختلف دے لیکن زیدا دپاره عمل دَ ټولویو نصب دے.

سوال: بیا هم داحکم جامع نه دے .مثلاً اسماء مفرده چه کله ابتداء عامل سره مرکب کړے شي نوددے حکم اختلاف اخر نه وي بلکه حدوث اعراب دے.

جواب: داحکم خاصه غیر شامله دے اوواقعة ددے اسماؤ حکم جدا دے چه حدوث اعراب دے

سوال: العوامل جمع راوړے اودَجمع کم ازکم درے فرد وي ددے مطلب به دا شي چه کم ازکم درے عامل داخل وي بیا به دَمعرب اخر بدل شي حالانکه دا بالکل باطل دے .

جواب: معترض صاحب الله دپاره دَکتابونو خوڅه نه څه مطالعه خوکوه هلته به تاته دا قاعده ملاؤ شي چه کله جمع باندے الف لام داخل شي نو دَ جمعیت والا معنی باطلیږي .

سوال: مجیب صاحب ستاسو لوئے صاحب مطالعه په نظر رائي دَ لفظا او تقدیرا ترکیب خوراته بیان کړه.

جواب: حاضرجي ضرور درته بیانوم ددے یوڅو ترکیبونه کیږي.(۱) مفعول مطلق دے په اعتبار دَ حذف مضاف اختلاف لفظ اوتقدیر بیا مضاف موحذف کړو هغه اعراب مضاف الیه ته

موور كړو .(٢) دا تميز محول عن الفاعل دے څكه چه په اصل كښے يختلف لفظ آخره او تقدير آخره (٣) بمعنى ملفوظا مقدرا سره وى داحال دے(٤) دَكان خبر وى تقديردَ عبارت سواء كان الا ختلاف لفظا اوتقديراً

أَلإِ عـراب مَااخْتَلَف آخِرُه به لِيدُلّ على المعانِي المُعْتَوِرَةِ عليه رومبى درجه مشكل الفاظ يو لفظ المعتوره قابل تشريح دے. ليكن ددے تشريح به په سوال اوجواب كښے بيان كړے شي.

دوئمه درجه: مختصر مفهوم مصنف ددے عبارت نه دَ اعراب تعريف بيانوى .

ربط د ماقبل سره: چونكه په حكم كښے ونيلے شوى وو چه دَ معرب آخر مختلف كيږى اوس دا ونيل غواړى چه سبب دَ اختلاف څه دے. اوسبب اختلاف اعراب او عامل دے لهذا رومبے دَ اعراب تعريف وتقسيم بيا دَعامل تعريف به كوؤ. داعراب تعريف اعراب هغه حركت اوحرف دے چه دَ معرب دَ اخر مختلف كيدو سبب وى چه دلالت اوكړى په هغه معانو بانـدے چه په معرب بانـدے پرله پسے وارديږى .

درئمه درجه تركيب: الاعراب مبتدا ده ما اختلف اخره بهٔ خبر دے ليدلے دا جمله په تأويل مقدر مجرور ، جارمجرورملاؤ شول متعلق شو اختلف پورے.

څلورمه درجه د سوالاتو جوابانو:

سوال: معرب ئے په اعراب بانـدے ولے مقدم كړو؟

جواب: معرب ذات دے او اعراب وصف دے .اوذات مقدم وى په وصف بانـدے په دے وجه ئے مقدم كړو.

سوال: ستاسو دَبيان كړے شوى اعراب دا تعريف دخول غير نه مانع نه دے. څكه چه عامل او معنى مقتعى بانـدے صادق راځى څكه چه داهم شي دے اوپه ديسره دَ معرب اخر مختلف كيږى چه دَهغے تفصيل دادے چه معرب بانـدے عامل داخليږى چه دَهغے په وجه معنى پيدا كيږى بيا هغه معنى دَ اعراب تقاضا كوى بيا اعراب سره معرب مختلف كيږى .مثلاً قام زيد په ديكښے قام عامل زيـد پـه مـعـرب بـانـدے داخل شو. چه په زيد كښے ئے معنى دَ فاعليت پيدا كړه بيا دغه معنى فاعليت دَ اعراب رفع تقاضا اوكړه بيا دغه رفع سره دَ زيداخر مختلف شو.لهذا دا درے واړه سبب شو

البته اعراب سبب قریبه دے اومعنی مقتضی سبب بعید او اعراب سبب ابعد دے په دے درے واړو باندے ذ اعراب تعریف صادق راځي. حالانکه عامل او معنی متقضی اعراب نه دی.

جواب: معترض صاحب دا اوړد تقریر ستاسو په دے چه اوکړو چه ستاسو ذ مانه مراد شي اخستے دے حالانکه ذمانه مراد حرکت اوحرف دے . فاین الاشکال.

سوال: اوس بیاهم دا تعریف مانع عن دخول الغیر نه دے په دے وجه دا په ټولو حروف عامله باندے صادق راځي. این المفر

جواب: ذ حرف نه مراد حروف مباني دی نه حروف معاني

داول سوال درئم جواب: ذاعراب په تعریف کښے باذسَبَبِیَّت ده اود سبب نه مراد سبب کامل دے ځکه چه قاعده ده.چه المطلق اذا اطلق یرادبه الفرد الکامل اوسبب کامل سبب قریب دے. چه اعراب دے لهذا ددینه عامل اومعنی مقتضی خارج شول.

سوال: غلامی کښے ذ میم حرکت کسره باندے ذ اعراب تعریف صادق راځي مثلًا جاء نی غلامی کښے ذ یائے متکلم نه مخکښے غلام ذ رفع سره وو.بیا یائے متکلم په طرف اضافت سره په میم باندے کسره راځي چه ذهغے په وجه ذ معرب اخر مختلف شو. حالانکه دا اعراب نه دے لهذا دا تعریف مانع نه شو.

جواب: ددینه مخکښے فائده اوپیجنئ .

فائده: غلامی کښے درے مذاهب دے .

رومبے مذهب: ذمصنف په نیزد معرب دے .دلیل غلامی کښے اضافت دے چه ذ معرب خاصه ده لهذا دا معرب دے.

دوئم مذهب: عندالبعض مبني دے. دلیل غلامی کښے اضافت الی یاء المتکلم دے. چه په دیکښے شدید اتصال دے .چه ذهغے په وجه غلامی ګویا چه یوه کلمه ده. اومیم وسط کلمه دے. اووسط کلمه کښے اعراب نه جاري کیږي نودا به هم مبني وي.

درئم مذهب: ذ بعض په نیزد غلامی نه معرب دے اونه مبني دلیل غلامی کښے دوه اعتباره دی.

(۱) دَ اضافت اعتبار اوکړے نوبیا معرب کیدل پکار دی (۲) شدة اتصال په وجه دَ وحدت کلمه اعتبار اوکړے. نوبیا مبنی کیدل پکار دی. او قاعده ده إِذَا تَعَارَضَاتَسَاقَطَا چه کله د دوه څیزونو تعارض راشی نو دواړه ساقطیږی .لهٰذا غلامی نه معرب دے اونه مبنی .دا مذهب اضعف دے بهرحال په دے دواړو مذهبونو باندے به سوال نه کیږی البته دَ مصنف په مذهب باندے به سوال کیږی.

جواب: په تعریفاتو کنبے دَ حیثیت قید معتبر وی. اودلته دَ اعراب په تعریف کنبے دَمن حیث هومعرب کیدو په حیثیت سره وی اوفیما نحن فیه غلامی کنبے اختلاف دَیاء متکلم په وجه سره دے نه دَ معرب په وجه ځکه چه یاء ماقبل باندے کسره غواړی.

فائده: دَ مطلق اعراب تعریف الاعراب ماجیئ به لبیان مقتضی العامل من حرف اوحرکة اوسکون اوحذف.

دبناء تعریف: هولزوم أخر الکلمة حرکة اوسکونًا بغیر عامل او اعتلال .

فائده :دَاعراب درے قسمونه دی .(۱) اعراب بلاصالة لکه دَاسماء متمکنه اعراب چه کله توابع نه وی. (۲) اعراب بالتبعیه لکه دَ توابعو اعراب(۳) اعراب بالمشابه لکه دَفعل مضارع اعراب ځکه چه دَفعل مضارع اعراب دَاسم فاعل دَ مشابهت په وجه سره دے.

دغه رنګ دبنا درے قسمونه دی.(۱) بناء بالاصالة لکه تمام حروف(۲) بناء بالتبعیة لکه توابع منادی.(۳) بناء بالمشابه لکه اسم غیر متمکن .

تنبیه: دَ اعراب په تعریف باندے مزید هغه سوالات اوجوابات واردیږی په دَ معرب په حکم باندے کړے شوی دی . ترکته احترازًا عن التکرار.

لِيَدُلَّ عَلَى الْمَعَانِي الْمُعْتَوِرَةِ عَلَيْهِ

په دے عبارت کنبے دَ شارحینو اختلاف دے چه داعبارت دَ اعراب په تعریف کنبے داخل دیا نه دَفاضل هندی په نیز تعریف تردے پورے جمعا منعا مکمل شوے دے. ددے عبارت هیڅ تعلق د اعراب دَ تعریف سره نشته نه لفظاً اونه معناً اولیدل متعلق دے دَ فعل محذوف سره او دا جمله مستأنفه ده دَ سوال مقدر جواب دے.

سوال: لِمَ وُضِعَ اَلْإِعْرَابُ جواب ئے ورکړو لِيَدُلَّ الخ .

دلیل (۱):که چرے دا عبارت داخل فی التعریف وی نو دا به قید احترازی جوړ شی. حالانکه دا قید احترازی نه دے. دلیل(۲) مصنف خپله شرح الکافیه الامالی کښے ددے جملے په باره کښے تصریح کړی ده لیس هذا من تمام الحد ددینه معلومه شوه چه حد سره متعلق نه دے بلکه دَ امر خارج سره متعلق دے دَ بعضو شارحینو په نیزد داداخل فی التعریف دے جواب دلیل دا قید اتفاقی دے احترازی نه دے ځکه چه تعریفاتو کښے بعض قیودات اتفاقی شوی هم دی چه په هغے سره وضاحت مقصود وی. اودَلیدل اختلف متعلق دے نه دَمحذوف ځکه چه ظرف لغواصل دے او ظرف مستقر خلاف اصل جواب دلیل (۳) فاضل هندی صاحب د مصنف دَ عبارت مقصد بالذے نه دے پوهه شوے . د.مصنف دَعبارت مقصد دا دے چه دَ اعراب دَ تعریف جامع مانع کیدو کښے ددے عبارت هیڅ دخل نشته .ځکه چه نه دا جنس دے اونه فصل لیکن دا مقصد قطعًا نه دے چه ددے تعلق بالکل نشته بلکه تعلق شته چه هغه وضاحت دپاره ذکر کړے شوے دے. په دے بناء بالذے پس هذامن تمام الحد ئے اوونیل لیس هذا من الحد نه دے

سوال: دَلیدل دَضمیر مرجع څه ده؟

جواب: الاختلاف یا مابه الاختلاف دے چه دَ هغے تفصیل دا دے چه داعراب په باره کښے دوه مذهبونه دی.

رومبے مذهب: دَ بعضے نحویانو په نیزد اعراب نوم دے دَنفس الاختلاف .دلیل اعراب ضد دے دَ بناء اوبناء نوم دے دَعدم الاختلاف نو اعراب به نوم شی دَ اختلاف .

دوئم مذهب: اعراب نوم دے دَ مابه الاختلاف دلیل اعراب علامت دے دَمعرب او علامت متحقق موجود وی اومتحقق موجود مابه الاختلاف رفع ، نصب جر دے نه نفس اختلاف ځکه چه هغه امر معنوی دے اوهم دا دوئم مذهب راجح دے .ځکه چه اگر نفس اختلاف وی نو بعضے اسماء معربه به بلا اعراب نه پاتے شی .لکه اسماء معدوده چه کله ابتداءً عامل سره مرکب وی نوهغه معرب دی لیکن اختلاف نه شی پیاموندے ځکه چه اختلاف خو دَ تبدیل حرکة بحرکة دَآخر نوم دے چه دلته موجود نه دے.

سوال: المعاني نے معرف باللام ولے راوړه ؟

جواب: المعاني معرف بلام عهد خارجي نے راوړلو اووے ونيل چه دَ معاني نه مراد معاني مخصوصه معاني ثلاثه دي. (۱) فاعلية(۲) مفعوليت(۳) اضافة دا مراد دي نه چه مطلق معاني .

سوال: المعتوره دا باب اعتور يعتور په معنی د اخذجماعة شيئاً فشيئًا متناوبة متعدی بنفسه وی ددے صله علی نه راځي دلته علی صله نے ولے راوړه؟

جواب: فاضل هندي جواب ورکړو چه دا اسم مفعول دے په معنی دَ ماخوذه او قاعده ده فعل مجهول او اسم مفعول دَ متعدی باب نه هم لازمي وي. اودَ لازمي متعدی کولو دپاره علی ذکر کولے شي .ليکن دا جواب ضعيف دے. ځکه چه فعل اوشبه فعل کښے اصل دا دے چه د دوئ اسناد الی الفاعل وي اوپه دے تأويل کښے اسناد المفعول کړے شوے دے .چه خلاف اصل دے. دونمه وجه دَضعف دا هم ده چه تأويل داسے کيدل پکار دے. چه په هغے کښے حقيقي معنی باطله نه دوي معتوره اسم فعل په معنی ماخوذه اخستو سره لغوی حقيقي معنی باطله به شي په دے وجه چهٔ معتوره معنی يوځيز يوبل پسے اخستل اودَ ماخوذه معنی په يووخت واخستے شي. باقي پاتے شو جواب باصواب څه دے هغه جواب جواب صحيح دا دے چه دلته صفت تصمين دے.

دَ صفت تضمين تعريف: يوفعل يا شبه فعل کښے دَ دوئم فعل ياشبه فعل دَ معنی لحاظ کيدو سره د دوئم صله د ړومبي دپاره ذکر کړے شي دلته په المعتوره کښے دَ واردة دَ معنی لحاظ کولو سره دَ واردة صله علیٰ ئے ذکر کړه اوپه ترکيب کښے عليه متعلق دے دَ واردة دا واردة حال دے دَ المعتوره دَضميرنه .

وجه تسميه: (۱) دَ اعراب معنی ظاهرول لکه فرمان نبوی دے . الثَّيبُ تُعرِبُ علی نفسها (۲) دَ اعراب معنی ده ازالة الفساد چه ددے دَمجر دمعنی ده فسا دپه باب افعال کښے سلب ماخذ دے.لکه څه رنګ چه دَ بعضے مفسرينو په نيزد اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَکَادُ اُخْفِيْهَا ای اُزِيْلُ اخفاء دا دواړه معانے دَمعرب وجه تسميه کښے هم تيرے شوي دي. (۳) دَ اعراب په وجه معرب دَ سامع دپاره محبوب جوړيږی لکه په قرآن مجيد کښے عُرُبًا اترابًا عربًا په معنی د محبوب زنانه اوچونکه معرب دَ اعراب په وجه محبوب جوړيږی په دے وجه نے ددهٔ نوم اعراب کښودلے دے(اسراء

وَاَنْوَاعُهٗ رَفْعٌ وَنَصْبٌ وَجَرٌّ فَالرَّفْعُ عَلَمُ الْفَاعِلِيَّةِ وَالنَّصْبُ عَلَمُ الْمَفْعُوْلِيَّةِ وَالْجَرُّ عَلَمُ اْلِاضَافَتِ

د اعـرابـو دَ تـعـريف نـه پـس دَ اقـسامو بيان دے مختصر مطلب د اعرابو درے قسمونه دي .(۱) رفع(۲) نصب(۳) جر رفع دَ فاعليت علامت دے اونسب د مفعوليت او جر دَ اضافت

وجه حصر: اعراب د دوه حالونه به خالي نه وي عمده بانـدے به دلالت كوي يافضله بانـدے .كه عمده بـانـدے دلالت اوكـړي نـورفـع ده .كـه فـضله بانـدے دلالت اوكړي نوبيا به دوه حالونه خالي نه وي بلاواسطه به دلالت كوي يا بالواسطه كه بلاواسطه وي نودا نصب دے .اوكه بالواسطه وي نوجر دے.

سوال :مصنفؒ انواعه اووئيل اقسامه ئے ولے اونه وئيل ؟

جواب: مـصـنف معترض صاحب تاسو ته يوه نكته اوښودله چه اعراب جنس دے .اورفع نصب ،جر دانـوع دي.لكه څه رنګ چه دَهر نوع دلانـدے ډير افراد وي نوددے دَلانـدے هم افراد شته . دَرفع درے افـراد دي.(۱) رفـع پـه ضمه سره (۲) په واوسره (۳) الف سره او نصب هم نوع ده چه ددے څـلـور افـراد دي (۱) فتحے سره (۲) كسـرے سره(۳) الف سره(۴) ياء سره اوجرهم نوع دے چه دَهغے درے افراد دي.(۱)كسرة سره (۲) فتحه سره (۳) ياء سره.

سوال: دا تـقـسيـم الـكـلـي الي الجزئيات دي لكه څه رنګ چه تاسو وئيلي ووهي اسم الیٰ آخره كښے تـقسيم الكلي او تقسيم الكلي الي الجزئيات كښے ربط مقدم وي په عطف بانـدے اوس معني به شي انـواع اعـراب رفـع دے پـه ديـكښـے دَمفرد حمل اودَ جزو حمل په كل بانـدے لازم راځي .واللازم باطل فالملزوم مثله.

جواب: هـر ځائے تقسيم الكلي نه وي دلته تقسيم الكل الي الجزاء او تقسيم الكل الي الاجزاء كښے عـطف مـقـدم وي په ربط بانـدے . اودَعطف په وجه دا به يوخبر جوړشي .اودغـسے جمع به جوړه شي. څكه چه ضابطه: اَلْجَمْعُ بِحَرْفٍ كَالْجَمْعِ بِلَفْظِ الْجَمْعِ .لهـذا د كـل په كل بانـدے او دَجمع په جمع بانـدے حمل اوشو چه درست دے.

سوال: اعراب درے ولے جوړ كړے شوي دي؟

جواب: چـه كـلـه معانے درے وے (۱) فاعليت (۲) مفعوليت (۳) اضافة نو اعراب هم درے

وضع کړیشول.

سوال : ذاعراب څلورم قسم هم شته. جزم ئے ولے بیان نه کړو؟

جواب: دلته د اسم ذ اعرابو بیان دے چه درے دی اوجزم خو دفعل اعراب دے.

سوال :اعرابو ته ئے رفع ،نصب ،جر اوونیل لیکن ضمه ،فتحه ،کسره ئے ورته ولے اونه ونیل ؟

جواب: معترض صاحب یاد ساته ذ حرکاتو درے القاب یعنی نومونه وی (۱) رفع، نصب ،جر دا مختص دی معرب سره (۲) ضم ،فتح ،کسرداذمبنی سره خاص دی(۳) ضمه ،فتحه ،کسره دا مشترکه ،حرکات اعرابیه اوحرکات بنائیه کښے چه کله ذ حرکات اعرابیه نوم هم دغه وو نوځکه ئے رفع ،نصب ،جر اوونیل

سوال: ذ علم څلور معانے راځی .(۱) نوم (۲) علامت (۳) جنډه(۴) ذغرهٔ سوکه دلته کومه یوه معنی مراد ده؟

جواب: ذ علامت والامعنی مراد ده.

سوال: ستاسو اوونیل چه رفع ذ فاعل علامت دے. مبتداء خبر باندے خوهم رفع وی نودغه رنګ نصب کمفعول نه علاوه په حال په تمیز باندے هم وی .حالانکه علامت اوخاصه په غیر کښے نه شی موندلے.نولهذا دا علامت څه رنګ شو؟

جواب: په فاعل کښے تعمیم دے .خواه فاعل حقیقی وی یاحکمی او مبتدا خبر فاعل حکمی دی مبتدا دارنګ چه فاعل مسند الیه وی اومبتدا هم مسند الیه اوخبر دارنګ چه فاعل ذکلام خبر وی نودغه رنګ په خبر کښے هم دکلام جزء وی. اومفعول کښے هم تعمیم دے. مفعول حقیقی وی یاحکمی اوحال تمیز وغیره مفعول حکمی دی. ځکه چه لکه څه رنګ مفعول ذکلام مکمل کیدو نه پس واقع کیږی نودغه رنګ نور منصوبات هم ذ کلام پوره کیدو نه پس واقع کیږی .

سوال: یوطرف ذ اختصاء دعویٰ کوئی بل طرفته یاء اوتاء مصدریه اضافه بلافائده کوئ داخو په قول او فعل کښے تضاد دے. تاسو دپاره علم الفاعل ،علم المفعول ونیل پکار وو؟

جواب: تاسو د السائل کالاعمیٰ واقعة مصداق یئ. روره صاحبه ذ یاء اوتاء مصدریه اضافه مو اوکړه چه رفع ذ ذات فاعل علامت نه دے بلکه وصف فاعل دے. دغه رنګ نصب ذات کمفعول نه

دے الخ لهٰذا دا اضافه مع الفائده ده .

سوال: مجیب صاحب غصه کیږه مه چه دَ تاء یاء دومره لویه فائده ده نوپه اضافت کښے نے ولے رانه وړله؟

جواب: اضافة دَمصدر صیغه چه په هغے کښے دَیاء اوتاء مصدریه ضرورت نشته.

سوال: رفع دَ فاعلیت نصب دَمفعولیت اوجردَ اضافت علامت نے ولے جوړکړل.

جواب: رفع ثقیله ده اوفاعل قلیل دے نوپه دے وجه قلیل ته نے ثقیل ورکړه اونصب خفیف دے اومفعول کثیر دے نوپه دے وجه کثیر ته نے خفیف ورکړو باقی پاتے شو جر هغه نے مضاف الیه ته ورکړو.

دوئمه وجه: رفع دَخپل اخوینو نه قوی ده اوفاعل هم قوی اونصب هم ضعیف دے او مفعول هم ضعیف ځکه چه په کلام کښے فضله واقع کیږی اوجربین بین متوسط دے او مضاف الیه هم متوسط دے .ځکه چه کله رکن کلام کله فضله لهٰذا قوی نے دَ قوی سره او ضعیف نے دَ ضعیف سره اومتوسط نے دَ متوسط سره مختص کړو .

فائده: دَفاعلیت مفعولیت په یاء تاء کښے اختلاف دے . بعضو په نیزد یاء تاء دَ مصدریت دی کلمه دَ مصدر په تأویل کښے ورکوی مولانا جامیؒ اوئیل چه یاء دَنسبت ده او اسم منصوب صیغه دَ صفت وی چه دَهغے دپاره دوه موصوف محذوف دی. الخصله ای علامة الخصلة المنسوبة الی الفاعل او خصلة فاعل عمده وی اوس به مطلب داشی چه رفع د فاعل دَعمده کیدو علامت دے .

وجه تسمیه: دَاقسام ثلثه و وجه تسمیه دَرفع معنی ده اوچتیدل او چونکه درفع دَادانیګی په وخت ښکته شونډه اوچتیږی په دے وجه دیته رفع ونیلے شی .اودغه رنګ دا دَ خپل اخوینو نه اوچت دے په دے وجه ورته رفع ونیلے اودَنصب معنی ده اودرول ،جماوول چونکه دَ نصب دَاداکولو په وخت دواړه شونډے په خپل ځائے جماؤ پاتے کیږی نو په دے وجه ورته نصب ونیلے شی. او د جر معنی ده رابنکل چونکه دوه د ادا کولو په وخت ښکته شونډه ښکته طرفته راکاږی .نوپه دے وجه دیته جرونیلے شی .اودغه رنګ دا دفعل او مشبه فعل معنی خپل مدخول طرفته راکاږی.

اَلْعَامِلُ مَابِهٖ یَتَقَوَّمُ الْمَعْنیٰ الْمُقْتَضِیْ لِلْاِ عْرَابِ

داعراب د تعریف اوتقسیم نه پس دَعامل تعریف کوی .

رومبۍ درجه: مختصر مفهوم عامل هغه دے چه دَ هغه په وجه داسے معنی حاصله شي چه داعراب تقاضا اوكړي .لكه جاء زيد كښے دَجاء په وجه په زيد كښے دفاعليت والا معنى حاصله شوه چه هغه دَ رفع تقاضا اوكړه. هغه معانے چه داعراب تقاضا كوى هغه درے دى (۱) فاعليت (۲) مفعوليت(۳) اضافة

دوئمه درجه: فوائد قيود ماپه منزله دَجنس دے .په معنى دَ شئ كيدو سره ټولو اشياؤ ته شامل دے او په يتقوّم المعنى المُقتضي للاعراب په قيد سره دَعامل نه علاوه تمام څيزونه وتلى دى.

درئمه درجه سوالات اوجوابات:

سوال: دا تعریف جامع نه دے په عامل مضارع باندے نه صادقيږي ځكه چه عامل مضارع سره معنى مقتضي للاعراب نه حاصليږي ؟

جواب: دا دَ مطلق عامل تعريف نه دے داسم دَعامل تعريف دے لهذا په عامل دَمضارع باندے نه صادقيږي نوتيک ده چهراتلل هم نه دي پكار .

سوال: دَالْعَامِلُ نه متبادر الى الذهن عامل لفظي دے .ځكه چه هغه فرد كامل دے لهذا دا تعريف دَعامل لفظي به شي نه دَعامل معنوى .

جواب: دَالعامل نه مراد عامل لفظي اوعامل معنوى دواړه دي.

سوال: ستاسو تعريف دخول غير نه مانع نه دے چه داحروف په مضارع باندے صادق راځي ځكه چه دَ حروف مضارعة نه مضارع كښے مشابهت باسم الفاعل والا معنى حاصليږي حالانكه هغه عامل نه دے.

جوب: المعنى المقتضي نه معاني مخصوصه معاني ثلثه مراد دے اودا مشابهت دهغه معانو نه نه دے.

سوال: بياهم تعريف د دخول غير نه مانع نه دے چه دا په معمول باندے صادق راځي. ځكه چه دَعامل په تعريف كښے يتقوّم لفظ راغلے دے. چه دَهغے معنى قائم كيدل دي اوس تعريف به داسي شي چه عامل هغه دے چه دَهغے سره معنى مقتضي قائمه وي مثلًا جاء زيد كښے دَزيد سره

معنی مقتضی معنی دَفاعلیت قائمه دهٔ لهٰذا دا زید عامل شو حالانکه زید معمول دے نه عامل.

جواب: یتقوّم پـه معنی دَ یحصل دے اوس تعریف به داشی چه عامل هغه دے چه دهغے په وجه معنی مقتضی حاصله شی .اوس زید معمول باندے تعریف به صادق نه راځی ځکه چه معمول سره معنی مقتضی نه حاصلیږی .

سوال: ستاپه تعریف کښے دَیتقوّم لفظ دے چه ماخوذ دے دقیام نه اوقیام خو دذی روح صفت دے ستاسو دعامل صفت څه رنګ جوړ کړو اوحالانکه عامل غیرذی روح دے؟

جواب: معترض صاحب مونږ اوس نه دی وئیلی چه یتقوّم په معنی دَ یحصل دے ستاسو صرور سوال کول وو؟ اوجی دَطلبه ؤ دَفائدے دپاره.

سوال: دَاعراب په تعریف کښے به جار مجرور مؤخر اودلته دَعامل په تعریف کښے دَفعل نه مقدم کولو څه حکمت دے.

جواب: اوجی اوس ستاسوال ښه دے جواب داد ے چه دَاختلاف آخر یو سبب اعراب نه وو بلکه عامل اومعنی مقتضی هم سبب وو. په دے وجه (به) جارمجرور نے مؤ خراوساتلو چه دَحصر والا معنی پیدانه شی . اودلته دَمعنی مقتضی دَحصول سبب هم یو وو چه عامل دے په دے وجه (به) جارمجرور نے مقدم کړو چه دَحصر والا معنی پیدا شی ځکه چه قاعده ده التقدیم ماحقه التاخیر یفید الحصر.

سوال :ستاسو دَترتیب خارجی خلاف ولے اوکړو او حالانکه خارج کښے عامل مقدم وی بیا معرب اوبیا اعراب ستاسو معرب مقدم کړو بیا اعراب اوبیا موعامل ذکر کړو.

جواب: معرب په اعراب باندے نے ځکه مقدم کړو چه معرب ذات دے اواعراب صفت دے .اوذات مقدم وی پـه صفت بـاندے .اواعراب نے په عامل باندے په دے وجه مقدم کړو چه دَعامل فهم کول موقوف دے په معانی مقتضیه باندے ځکه چه تعریف عامل کښے ددے ذکر دے .اودَمعانی مقتضیه فهم کول موقوف دی په اعراب باندے په دے وجه اعراب نے په عامل باندے مقدم کړو .چه دهغے تفصیل په فلسفی انداز کښے زده کړئ.

فائده: د موجود خارجی دڅلورو عللونه مرکب کیږی .(۱) علت ماردیه(۲) علت فاعلیه(۳) علت

صوریه(۴) علت غائیه.

وجه حصر: علت به د دوه حالونه خالي نه وي په معلول کښې به داخل وي یا دَمعلول نه خارج که به معلول کښې داخل وي نوبیا به معلول دَدوه حالونه خالي نه وي موجود بالقوه به وي یا موجود بالفعل که معلول موجود بالقوه وي نوعلت مادیة شو اوکه معلول موجود بالفعل وي نوعلت صوریه شو اوکه علت دَ معلول نه خارج وي نو بیا به د دوه حالونه خالي نه وي منه المعلول بالاجله المعلول اوکه منه المعلول وي نوعلت فاعلیة به شي اوکه لاجله المعلول وي نوعلت غائیه به شي مثال لرګے علت مادیه دے اوکټ علت صوریه دے اوترکان علت فاعلي دے اوکټ باندے ناسته دا علت غائي دے اوس فیما نحن فیه کښې هم څلور علتونه دي چه معرب علت صوري دے او اعراب علت مادي دے. اوعامل علت فاعلي دے اودلالت علی المعنی المعتوره علت غائي دے.

ضابطه: علت مادیه اوعلت صوریه د دواړه علت دي دَ شئ دَ ماهیت دُپاره البته علت فاعلي دَ وجود خارجي دپاره او وجود غائي وجود ذهني دپاره اوداهم قاعده مسلمه ده چه علت ماهیت مقدم وي علت وجود باندے ځکه چه قوت په فعلیت باندے مقدم وي.

سوال: دَعلت صوري او علت مادي مقدم کیدل په علت فاعلي باندے صحیح دے لیکن علت غائي (لیدل علی المعاني) ته علت فاعلي (العامل مابه) الخ باندے نے ولے مقدم کړو. حالانکه علت غائي خو دعلت فاعلي دَ معلول معلول دے .ددے روستو کول پکار وو؟

جواب: ستاسو قاعده بالکل مسلمه ده لیکن مقصود بالذات علت غائي وو په دے وجه دائے په علت فاعلي باندے مقدم کړو .

جواب :دَعلت غائي تقدم تبعًا دَعلت صوري په ضمن کښې به شي اودَعلت غائي تقدم قصدًا ممنوع دے نه تبعًا.

فَالْمُفْرَدُ الْمُنْصَرِفُ وَالْجَمْعُ الْمُكَسَّرُ بِالضَّمَّةِ رَفْعًا وَالْفَتْحَةِ نَصْبًا وَالْكَسْرَةِ جَرًّا

دمخکښې سره ربط: داعراب دَتعریف او تقسیم نه پس محل اعراب بیانول غواړي چه دهغے نه مخکښې فائده اوپیژنئ.

فائده : داعراب دوه قسمونه دي. اعراب بالحرکة او اعراب بالحرف اعراب بالحرکة رفع ،نصب ،جر

دي، او اعراب بالحرف واو، الف، یاء دي ،اعراب بالحرکة اصل دے او اعراب بالحرف فرع دے

دلیل اول: اعراب بالحرف پیداکیږي ذاعراب بالحرکة نه واو دَضمه نه الف دَفتح نه یاءَ دَ کسرے نه چه کله دا اوږد کړے شي.

دلیل ثاني: اعراب بالحرف عوض دے دَ اعراب بالحرکة اومعوض اصل وي او عوض فرع.

دلیل ثالث: اعراب بالحرکة بسیط دے ځکه چه ضمه ،فتحه ،کسره، دهیڅا نه مرکب نه دي اواعراب بالحرف مرکب دے .په دے وجه چه واو دَضمه نه مرکب دے اوالف د دوه فتحونه او یا دوه کسرو نه او داخبره ظاهره ده چه بسیط اصل وي اومرکب فرع

دلیل رابع: اعراب بالحرکت خفیف دے اواعراب بالحرف ثقیل دے اوخفت اصل دے اوثقل فرع ده.

فَالْمُفْرَدُ: بانـدے فافصیحیه ده چه همیشه دَ شرط مقدر په جز باندے راځي.

اِذَا فَرَغْنَا مِنَ الْاِعْرَابِ وَاَنْوَاعِهٖ فَنَقُوْلُ الْمُفْرَدُ، په دے عبارت کښے المفرد صفت دے دَ الاسم(موصوف) چه محذوف دے. اعراب بالحرکة اواعراب بالحرف دهریو دوه دوه قسمونه دي .اعراب لفظی ،اعراب تقدیري دَاعراب ټول نهه قسمونه جوړیږي. اودَاِسم متمکن په اعتبار سره دَاعراب شپاړس قسمونه دي.مصنف په دے عبارت کښے دَاسم متمکن نه ړومبی درے قسمونو اعراب بیانوي.

ړومبے قسم: مفرد منصرف صحیح لکه زیدٌ .

دوئم قسم: جاري مجری صحیح صحیح دنحویانو په نیزد هغه کلمه ده چه دهغے دلام کلمه په مقابله کښے حرف علت نه وي یعني فقط دناقص اولفیف نه علاوه ټولو ته صحیح ونیلے شي. اوجاري مجریٰ صحیح دیته ونیلے شي .چه دَهغے دَلام کلمه په مقابله کښے حرف علت وي لیکن ماقبل ساکن وي.لکه دَلْوٌ ظَبْيٌ

درئم قسم: جمع مکسر منصرف ددے درئے واړو قسمونو اعراب رفع په ضمے سره اونصب په فتحے سره او جر په کسرے سره وي.

سوال: ستاسو تقرير دَ متن موافق نه دے .ځکه چه په متن کښ دا اعراب دوه قسمونو ته ورکړے شوے دے. د درنم قسم جاري مجراني صحيح خوهيو ذکر نشته ؟

جواب: مصنف دَالمفرد المنصرف سره دصحيح قيد نه دے لګولے سره اوونيل چه دلته دواړه قسمونه نے مراد اخستي دي .يعني صحيح اوجاري مجرى صحيح.

سوال: درے درے قسمونو ته دا اعراب ولے ورکړے شوے دے؟

جواب: داسم متمكن دا درے واړه اقسام دخپل غير په اعتبار سره اصل دي .دا رنګ چه مفرد په مقابله دَ تثنيه اوجمع اصل دے .ومنصرف دغير منصرف په مقابله کښے اصل دے صحيح دغير صحيح په مقابله کښے اصل دے. اوجاري مجراني صحيح دغير صحيح په مقابله کښے اصل دے اوجمع مکسر دَجمع سالم په مقابله کښے اصل دے ځکه چه اصل د ادے چه مفرد اوجمع کښے تغاير تام وي چه په جمع مکسر کښے دے چه کله درے واړه قسمونه اصل وو او اعراب بالحركة هم اصل وو نو اصل ته نے دَاصل اعراب ورکړو.

سوال: دَالجمع صفت المكسر ذكر كول غلط دي . ځكه چه په دے صورت کښے معنى به داشي. داسے جمع چه ماته شوى وى حالانكه رجال جمع مکسر خودہ ليکن ماته شوى نه دہ .

جواب: دلته دَمکسر لغوى معنى مراد نه دہ بلکه اصطلاحى معنى مراد دہ چه هغه جمع چه په هغے کښے د واحد بناء سالم نه وى.

جواب: مکسرً صفت بحال متعلقه دے .اصل عبارت الجمع المكسر واحده.

سوال: اسماء سته مسكبره هم مفرد دى دوئ ته دا اعراب ولے ورنکړے شول؟

جواب: دَمفردنه مراد هغه مفرد دے چه لفظاً اومعنىً دواړو اعتبارو سره مفرد وى. اسماء سته مكبره لفظًا خو مفرد دى ليكن معنىً تثنيه دى.

سوال: دَرفعًا نصًا جرًّاځه ترکيب وو. چه په هغے کښے درے احتماله دى. (۱) مفعول فيه (۲) حال (۳) مفعول مطلق تول غلط دى مفعول فيه کيدل په دے وجه غلط دى.(۱) مفعول فيه ظرف مکان ياظرف زمان وى اوداظرف نه دے(۲) مفعول مطلق کيدل په دے وجه غلط دى چه دَمفعول مطلق دَخپل فعل سره هم معنى كيدل ضرورى دى اودلته نشته ځکه چه فعل يُعرَبَانِ دے

(۳) حال کېدل په دے وجه غلط دی .چه ذحال په ذوالحال باندے حمل کیږی اورفع نصب جر داخومصدر اووصف دی .لهذا لازم راغي. ذوصف حمل په ذات باندے چه باطل دے .

جواب: درے واړه ترکیبونه درست دی.(۱) دا مفعول فیه دے په اعتبار د حذف مضاف ای حالة الرفع حالة النصب(۲) مفعول مطلق دے په اعتبار ذموصوف محذوفه ای اعرابًا رفعًا(۳) داحال دے څکه چه دا مصدر مبنی للمفعول دے یعنی رفع په معنی دمرفوع تقدیر عبارت یُعْرَبَانِ بِالضَّمَّةِ حَالَ کَوْنِهِمَا مَرْفُوْعَیْنِ وَلْفَتْحَةِ مَنْصُوْبَیْنِ وَالْکَسْرَةِ مَجْرُوْرَیْنِ

سوال:چه کله ستاسو اختصار غواړئ نو المفرد والجمع المکسر المنصرمان به موونیلے وے حالانکه ستاسو په عبارت کښے ذمنصرف دوه مرتبه ذکردے .

جواب: ستاسو ذعبارت نه داوهم کېدے شو چه منصرفان تثنیه تغلیبی ده .حقیقتًا خوذجمع مکسر صفت دے .او تغلیبًا ذمفرد صفت دے .لیکن داجواب ضعیف دے. څکه چه په غالب اومغلوب کښے شرط دے تضاد نه وی.جواب باصواب: په دے صورت کښے موصوف مفرد اوصفت منصرفان ترمینځ ذ المکسر فاصله ده چه اجنبی دے او قاعده ده چه داجنبی فاصله ناجائز وی .

سوال : بِالضَّمَّةِ رَفْعًا وَالْفَتْحَةِ نَصْبًا وَالْکَسْرَةِ جَرًّا داد اختصار بالکل خلاف دے تاسو ته پکار وو چه صرف ذ رفع ،نصب ،جر ذکر موکړے وے یاضمه فتحه کسره موذکر کړے وے. حالانکه ستاسو دواړه ذکرکړل لَاطَائِلَ تَحْتَهٗ.

جواب: که چرے فقط رفع ،نصب جر موذکر کړے وے نو پته نه لګیده چه اعراب بالحرکة مراد دے یااعراب بالحرف څکه چه دا دواړو ته شامل دے اوکه فقط ضمه کسره مو ذکر کړے وے نو پته نه لګیده چه حرکات اعرابیه مراد دی یاحرکات نباشیه څکه چه دا دوړو ته شامل دے په دے وجه ضمه فتحه کسره نے ذکر کړه اووے ونیل چه اعراب بالحرکة مراد دی.

جَمْعُ الْمُؤَنَّثِ السَّالِمِ بِالضَّمَّةِ وَالْکَسْرَةِ

څلورم قسم: د اعراب د دونم قسم اوداسم متمکن دڅلورم قسم بیان دے .ذجمع مؤنث سالم

اعراب رفع په ضمے سرہ نصب اوجر په کسرے سرہ.

سوال: نصب ئے دَجر تابع ولے کړو؟

جواب: جمع مؤنث سالم فرع دہ دَجمع مذکر سالم چونکه په جمع مذکرسالم کښے نصب دَ جر تابع وو په دے وجه چه ددے فرع جمع مؤنث کښے هم نصب ئے دَجر تابع کړو چه دَفرع په اصل باندے زیادت لازم رانشی .

سوال: زیادت خوبیا هم لازم راځی ځکه چه دَجمع مونث سالم اعراب بالحرکت اصل دے .اواعراب بالحرف فرع دہ.

جواب: (انکاری) اعراب بالحرکۃ مطلقاً اصل نه دے او بالحرف مطلق فرع نه دہ بلکه مفرد کښے اعراب بالحرکۃ اصل دے اوپه جمع کښے اعراب بالحرف اصل لهذا فرع ته دَ فرع او اصل ته دَاصل والا اعراب ورکړے شو. فَلِهٰذَا لَايَلْزَمُ مَزِيَّۃُ الْفَرْعِيَّۃِ عَلَى الْاَصْلِيَّۃِ.

جواب:(تسلیمی) چلو مونږ منو چه جمع مؤنث سالم ته داصل اعراب ورکړے شو .ددے وجه دا دہ چه مؤنث ثقیل دے نوبیا په دَغیر مُنصرف سبب جوړیږی اومذکر خفیف دے .او اعراب بالحرکۃ خفیف او اعراب بالحرف ثقیل دے . په دے وجه ضابطه الثقیل یقتضی لخِفَّۃ په دے وجه ثقیل نه خفیف اوخفیف ته ثقیل اعراب ورکړے شو.

سوال: چه کله جمع مؤنث سالم فرع دے او جمع مذکر سالم اصل دے .نوبیافرع په اصل باندے ولے مقدم کړے شوہ؟

جواب: مصنف داسماء متمکنه ؤ اعتبار اونه کړو بلکه دَاعرابو اعتبار ئے اوکړو اوچونکه دَاعراب بالحرکۃ بیان کیدو اودجمع مؤنث سالم اعراب هم بالحرکۃ وو نو ځکه ئے دا مقدم کړو.

سوال: دا اعراب جامع نه دے ځکه چه ثُبُونَ،اَرضُونَ،قِلُونَ. جمع مؤنث سالم دی لیکن دوئ ته دا اعراب نه دے ورکړے شوے اومانع هم نشته ځکه چه مرفوعات ،منصوبات،مجرورات جمع مؤنث سالم نه دے لیکن اعراب هم دا ورکړے شوے دے.

جواب: جمع مؤنث سالم کښے دوہ تعمیمونه او یوتخصیص دے .

تخصیص دادے چه ددے په آخرکښے الف تا زائدہ وی لهذا ارضون،ثبون اواموات،ابیات، په

خارج شي.

دريم تعميم: خواه واحد مذکر وي يامونث لهذا مرفوعات ، مسلمات به داخل شي .

دوئم تعميم: خواه صفه اوس جمع وي يانه وي .لکه عرفان جمع دَ عرفة دَعرفه معنى ده نهم دَ ذوالحجه .ليکن اوس عرفات جمع پاتے نه شو بلکه ديوميدان نوم کيښودے شو داهم داخل دے .

سوال: اسالم دلفظ المونث صفت دے .يا دَلفظ جمع هر دواړه باطل دي .که دَ المونث صفت وي نو معنى فاسديږي کماهوالظاهر اوکه دَ لفظ جمع وي مونث وي نو معنى درست ده ليکن مونث دتوابعوپه بحث کښے يوه قاعده ذکر کړه چه موصوف اخص وي يا مساوي چه دَصفت په موصوف باندے فوقيت لازم راشي دلته نه موصوف اخص دے نه مساوي ځکه چه موصوف لفظ جمع مضاف دے معرف بالّلام په طرف اوصفت معرف بالّلام دے.

جواب: معترض صاحب ستاصغرئ مسلم ده .ليکن کبرئ دِ مسلّم نه ده .ځکه چه مضاف الى المعرف بالّلام اودَ معرف بالّلام درجه برابر ده.لهذا موصوف اوصفت برابر شول.

سوال: مونږ نه منو چه دَجمع مونث سالم اعراب په يو وخت ضمه ، کسره وي ځکه چه دَحرکتين محل په واحد کښے کيدل باطل دي.

جواب: دلته لږ شان عبارت مقدر دے.اصل عبارت بِالضَّمَّةِ رَفْعًا وَبِالْكَسْرَةِ نَصْبًا وَجرًا.

فائده: دَجمع مونث سالم بوقت علميت څه حکم دے دَاحقر تصنيف قدوة العامل اردو شرح مائة عامل کښے اوګورئ.

غَيْرُ الْمُنْصَرِفِ بِالضَّمَّةِ وَالْفَتْحَةِ

پنځم قسم: دَاعراب درنم قسم اوداسم متمکن پنځم قسم دغير منصرف بيان دَغير منصرف اعراب رفع ضمه سره نصب اوجر فتحه سره .

سوال: غير منصرف کښے جرنے دَنصب تابع ولے کړو؟

جواب: دغير منصرف مشابهت دے دَفعل سره اوپه فعل باندے کسره نه راځي نودغه رنګ په غير منصرف باندے کسره نه راځي نوپه دے وجه جر نے دَنصب تابع کړو .

سوال: چه کله غیر منصرف فرع وو دَمنصرف نو دُ ته اعراب فرعی اعراب بالحرف ورکول پکار وو. نوستاسو اعراب بالحرکة ولے ورکړو؟

جواب: درے واړو حالتونو کښے دوه اعراب ورکول بے شکه هغه اعراب بالحرکت ولے نه وی فرعی وی لهذا فرع ته نے اعراب فرعی ورکړو نه اصلی.

سوال: لفظ (غیر) الفاظ متوغل فی الابهام نه دیچه دد ے دپاره قاعده داده چه باوجود دَمضاف الی المعرفه کیدو نکره پاتے کیږی .لهذا غیر المغرف نکره ده اومبتدا جوړیږی . حالانکه دَنکره مبتدا کیدل باطل دی.

جواب: معترض صاحب لاتقربوا الصلٰوة باندے عمل مه کوه دَقاعدے بله حصه هم اوګوله هغه داده چه دَلفظ غیر که مضاف الیه داسے وی چه دَهغے ضدیووی نوبیادَاضافة الی المعرفه نه معرفه جوړیږی . لکه غیر السکون حرکة اوکه چرے ضدین ډیروی نوهم نکره پاتے کیږی لکه غیر زید دَلته هم (غیر) دَمضاف الیه ضدیودے .لهذا معرفه کیدوسره مبتدا ده.

سوال: جمع مؤنث اوغیر منصرف دواړه فرعی دی نوبیا جمع مؤنث سالم په غیرمنصرف باندے ولے مقدم کړے شوی ده؟

جواب: په یوڅو وجوهو سره.

اوله وجه: جمع مؤنث اودَغیر منصرف دواړو مخالفت دے دَمفرد سره لیکن دَجمع مؤنث سالم مخالفت په یوڅیز کښے دے. دَنصب نه راتلل اودَ غیر منصرف دوه څیزونو کښے مخالفت دے.(۱) دَجرنه راتلل(۲) دَتنوین نه راتلل چونکه دَجمع مؤنث مخالفت کم وو. نو هغه نے مقدم کړو او دَغیر منصرف مخالفت زیات وو په دے وجه هغه نے مؤخر کړو.

دوئمه وجه: دَجمع مؤنث سالم اعراب قائم دائم پاتے کیږی اودَغیر منصرف اعراب (۱) ضرورت شعری(۲) تناسب (۳) اضافة او (۴) الف لام په وجے سره بدلیږی اودَ اعرابو قائم پاتے کیدل اصل وی اوبدلیدل فرع ده په دے وجه جمع مؤنث نے مقدم کړو نورهم وجوه شته.

أَبُوْكِ وَأَخُوْكِ لِـوَحَمُوْكِ وَهَنُوْكَ وَفُوْكِ وَذُوْمَالٍ مُضَافًا اِلٰى غَيْرِ يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ بِالْوَاوِ وَالْاَلِفِ وَالْيَاءِ

تر دے پورے دَاعراب بالحركة بيان وو اوس دَاعراب بالحرف بيان دے.

شپږم قسم: دَاعرابو شلورم قسم اودَاسما، متمکن شپږم قسم دَاسما، ستة مکبرة اعراب رفع په واو سره اونصب په الف سره اوجر په يا، سره په دے مقام باندے شلور تحقيقات مقصود دي. (۱) صيغوی تحقيق (۲) معنوی تحقيق (۳) شرائط (۴) وجه دَاعراب دَسوال او جواب په صورت کښے

(۱) صيغوی تحقيق أَبُوْكَ أَخُوْكَ ،حَمُوْكَ،هَنُوْكَ. داشلور کلمات ناقص واوی دي. په اصل کښے أَبَوٌ، أَخَوٌ،حَمَوٌ ،هَنَوٌو خلاف قياس واو نے حذف کړو أَبٌ ،أَخٌ،حَمٌ ،هِنٌ شول.

سوال: چه کله قانون موجود دے چه قال او التقا. ساکينونه واو حذف کوليشي نو بيا خلاف قانون دَحذف کولو څه مقصد دے.

جواب: که قانون سره حذف کړے شي. نودا اعراب به نه شي ورکولے بيا داسم مقصورة والا اعراب به ورکولے شي په دے وجه خلاف قانون نے حذف کړے دے.

پنځمه کلمه: فُوْكَ دے اجوف واوی دے ياء نے خلاف قانون حذف کړة.اوميم نے ميم سره تبديل کړة فَمٌ شو ليکن چه کله مضاف واقع شي نوواو به واپس راوړلے شي لکه فوک .

شپږمه کلمه: ذُوْ دے چه دَدے اصل ذَوْوٌ وو پروميے واو يا دونم واو نے حذف کړو. اوواونے ساکن کړو او ماقبل ته نے ضمه ورکړة نو ذُوْ شو دا لغيف مقرون دے.

(۲) **معنوی تحقيق**: أَبٌ معنی دة پلار ،أَخٌ معنی رور حَمٌ مشهورة معنی ليور کيدے شي. ليکن دَ حَمٌ صحيح معنی دة دَزنانه نيزدے رشته دار چه دَخاوند دَطرف نه وی مثلًا دَ خاوند رور وغيرة دَهَنٌ مشهورة معنی شرمگاة ليکن صحيح معنی الشي المنکر چه دَهغے ذکر قبيح دے. مثلًا عورت غليظه ،صفات، ذميمه ،حسد ، بغض، کينه افعال قبيحه شراب،زنا ،فم په معنی دَخله دَذُومعنی دة صاحب.

سوال: أَبُوْكَ ، أَخُوْكَ،هَنُوْكَ اضافت واحدمذکر په طرف ليکن دَحموک ضمير مؤنث طرفته ولے کړے شوے دے.

جواب: اوس ونيلے شوی دی. چه حَمٌ دا دَ زنانه نيزدے رشته دار دے لهذا ضمير مخاطب

مونث به راوړے شي.

سوال: دېنځو اسماؤ اضافت ضمیر طرفته کړے شوے دے. لیکن دَ ذُوْ اضافت اسم ظاهر طرفته کړے شوے دے چه دَهغے وجه داده چه دَذُوْ په ذریعه جنس دَ ماقبل صفت جوړولے شي .دا خبره واضحه ده چه جنس اسم ظاهر وي نه اسم ضمیر په دے وجه ددے اضافت ضمیر په طرف جائز نه دے.

(۳) دَاعراب شرائط: دغه اسماء سته ؤ د اعراب بالحرف دپاره څلور شرطونه دي.

(۱) دااسماء سته مکبره وي که چرے دامصغر وي نودجاري مجریٰ صحیح والا اعراب به نے شي.

(۲) دا اسماء مُوحّد وي که تثنیه جمع وي نو اعراب تثنیه جمع والا به شي.

(۳) دا اسماء مضاف وي که بغیر اضافت وي نومفرد منصرف والا اعراب به شي.

(۴) یا متکلم په طرف مضاف نه وي ورنه دغلامي والا اعراب به نے شي.

(۴) وجه اعراب:

سوال: مصنف دوه شرطونه ذکر کړي دي تاسو دوه نور دَکوم ځائے رااویستل معلومه شوه چه تاسو دَمصنف نه عالم یئ؟

جواب: (۱) مکبر(۲) موحد دغه دوه شرطونو په طرف مصنف په مثالونو سره اشاره اوکړه معلومه شوه چه معترض صاحب تاسو لونے غافل یئ.

سوال: اسماء سته مکبره چه کله اصل دي نودوئ ته داصل والا اعراب ولے ورنکړے شول.

جواب: اصل اعراب دَاعراب بالحرکة دپاره شرط دادے چه په هغے کښے دَقبلولو صلاحیت وي .اود دغه اسماؤ په اخر کښے دَحرف علت کیدو په وجه دَاصل اعراب دَ قبلولو صلاحیت نشته په دے وجه اعراب فرعي ورکړے شوے دے.

جواب: اعراب بالحرف هم په یو لحاظ سره اصل دے ځکه چه قوي دے.

جواب: درے واړه حالتونو کښے درے واړه اعراب کیدل هم اصل دي لهذا اصل ته دآصل والا اعراب ورکړے شوي دي.

جواب: مفرد تثنیه جمع کښے منافرت شدیده اووحشت تامه موندلے شو. په دے وجه نحویانو

سوچ اوکړو چه د دوئ صلح اوکړے شي. په دے وجه مفرد ته دَتثنیه اوجمع والا اعراب ورکړے شوے دے.

سوال: د دغه اعرابو دپاره دَشپږ عدد څه خصوصیت دے. پنځویا اوو عدد ولے ورنکړے شو.

جواب: دتثنیه درے حالتونه وو. اودَجمع هم درے حالتونه وو په دے وجه دغه شپږ وحالتونوسره تشبیه ورکولو دپاره دشپږ وعدد منتخب کړے شو.

جواب: دَتثنیه درے قسمونه دي. تثنیه حقیقي، تثنیه صوري او تثنیه معنوي دغه شپږو اسمونو سره تشبیه ورکولو دپاره دَشپږو عدد منتخب کړے شوے دے.

سوال: دا شپږ اسماء نے ولے منتخب کړل. نور نے ولے منتخب نه کړل په دیکښے څه حکمت دے؟

جواب: دغه شپږو اسمونو نه علاوه بل یواسم داسے نشته چه دَهغے په آخرکښے حرف علت وي او داعراب بالحرف دَقبلولو صلاحیت وي.

جواب: ددغه شپږو اسمونو دَتثنیه اوجمع سره زیات مشابهت وو چه لکه څه رنګ تثنیه اوجمع کښے تعدد وو نوپه دیکښے هم تعدد دے. لکه دَ ابوک نه پلار اوځونے ذهن ته راځي الخ.

سوال: ددغه شپږو اسمونو نه علاوه مونږ تاسو ته داسے اسم ښایو چه دَهغے په آخر کښے حرف علت هم شته اوپه هغے کښے تعددهم موندلے شي لکه یَدٌ دمٌ ولے منتخب نه کړے شول.

جواب: ددغه شپږو اسمونو حرف علت داسے محذوف دے چه واپس هم راځي اویَدٌ ، دَمٌ هیچرے واپس نه راځي. ځکه چه د دوي حرف علت نسیًامنسیًا حذف کړے شوے دے.

سوال: عبارت یُعْرَبُ بِالْوَوالي آخره تاسو اوایئ چه دا اعراب بالحرف واجب دے یاجائز دے دواړه باطل دي. که تاسو جائز اوایئ نو ابوک، اخوک، ذومال اوځي ځکه چه ددوي اعراب بالحرف واجب دے اوکه واجب او ایے نو فُوْك، هَنُوْكَ حَمُوْك تربنه اوځي ځکه چه دافمک، هنک حمک دا اعراب بالحرکة سره لوستل هم جائز دي.

جواب: دا قضیه ممکنه مقیّده بجانب الوجود دے په دیکښے سلب ضرورة عن جانب العدم وي

.اوس به مطلب داشي چه داعراب بالحرف وجود ضروري نه دے اوداعراب بالحرف وجود یاخوبه واجب شي لکه ابوك ،اخوك،ذومال یاجائز لکه اخوك ،هنوك،حموك.

اَلْمُثَنّٰی وَكِلَا مُضَافًا اِلٰی مُضْمَرٍ وَاِثْنَانِ وَاِثْنَتَانِ بِالْاَلِفِ وَالْیَاءِ

اووم قسم: داعرابو پنځم قسم اوداسم متمکن اووم اتم ،نهم قسم بیان .

فائدہ: تثنیه په دریقسمه ده(۱)تثنیه حقیقي چه دده دپاره درے شرطونه دي(۱) تثنیه والا معنی وي(۲) تثنیه والا وزن وي(۳) دده دماده نه دده مفرد وي لکه رجلان

(۲) تثنیه صوري هغه ده چه په هغے کښے دوه شرطونه دي.(۱) معنی دتثنیه والا وي(۲) تثنیه والا وزن هم وي لکه اثنان وَاثنتانِ (۳) تثنیه معنوي هغه ده. چه په هغے کښے یوشرط وي. معنی دَ تثنیه والا وي لیکن وزن تثنیه والانه وي او دَماده نه مفرد هم نه وي لکه کِلا ،کِلتَا دده درے واړو قسمونو اعراب رفع په الف سره نصب اجر یا ماقبل مفتوح سره لکه جاء الرجلان کلاهماواثنان واثنتان .

سوال: چه کله تاسو اختصار غواړئ نو فقط المثنیٰ به موونیلے وے نوپه دیکښے تثنیه صوري اومعنوي هم به داخل شوي وو؟

جواب: زمونږ مراد مثنیٰ سره ماصدق علیه لفظ المثنیٰ دے .او دا دواړو افراد مثنی نه نه دي په دے وجه چه ددغه دواړو معنی اگر چه تثنیه والا دے لیکن دده دلفظ نه مفرد نه دے .او مثنیٰ دپاره لفظ مفرد شته لهذا دا دواړه دده دَملحقاتونه دي .

سوال: تثنیه معنوي نے په تثنیه صوري باندے ولے مقدم کړه حالانکه تثنیه معنوي کمزوري ده ځکه چه په دیکښے یوشرط موندلے شي ؟

جواب: دده دَکمزورئ په وجه مودے مقدم کړو چه دَمخاطب دَذهن نه اونه ځي.

سوال: تاسو دَکلاذکر کړے دے دَکلتا ذکر موولے اونه اوکړو؟

جواب: کلا اصل دے اوکلتافرع ده قاعده ده چه ذکر الاصل یستلزم ذکر الفرع داصل په ذکر کښے فرع خودبخود داخلیږي .

سوال: دغه رنګ خواثنان اصل وو او اثنتان فرع دلته نے دواړه ولے ذکر کړل ؟

جواب: د دواړه نسے ذکر کړل اشاره نسے او کړه چه ددے استعمال تذکير وتانيث دپاره دباقي اسماؤ غوندے دے .يعني مذکر دپاره بغير دتاء اثنان او دمؤنث دپاره دتاء. سره اثنتان دنورو اسماء غوندے نه دے داسماء عدد تفصيل ان شاء الله مخے ته راروان دے.

سوال: تثنيه حقيقي تثنيه صوري دپاره نسے هيڅ شرط اونه لګولو تثنيه معنوي دپاره داضافت الى الضمير شرط نسے ولے اولګولو ؟

جواب:تثنيه حقيقي اوصوري دپاره هم يواعراب متعين وو. ليکن دتثنيه صوري دپاره دوه اعراب وو. که اسم ظاهر طرفته اضافت وي نواعراب بالحرکة که ضمير طرفته وي نو داعراب بالحرف چونکه داعراب ورکولو دپاره داضافت الى الضمير شرط وونو په دے وجه شرط نسے ذکر کړو.

سوال: دکلا کلتا اضافت الى الظاهر وي نواعراب بالحرکة اګر اضافت الى الضمير وي نواعراب بالحرف ددے څه وجه ده؟

جواب: اسم ظاهر اصل دے اواعراب بالحرکة هم اصل اوضمير هم فرع اواعراب بالحرف هم اوکلاکلتا کښے دوه اعتباره وو.(۱) لفظا مفرد(۲) معنى تثنيه که دلفظ لحاظ اوکړے شي. نو اعراب بالحرکة او که دمعنى لحاظ اوکړے نو اعراب بالحرف کيدل پکار وو مونږ ددواړو لحاظ اوکړو چه کله اسم ظاهر په طرف وي نواعراب بالحرکة چه اصل ته داصل اعراب ورکړے شي .اوکه ضمير طرفته وي نودمعنى لحاظ کولوسره اعراب بالحرف چه فرع ته فرعي اعراب ورکړے شي.

جَمْعُ الْمُذَكَّرِ السَّالِمِ وَأُولُوْ وَعِشْرُوْنَ وَاَخَوَاتِهَا بِالْوَاوِ وَالْيَاءِ .

لسم قسم: داعراب شپږم قسم اوداسم متمکن لسم ،يولسم، اودولسم قسم بيان لسم قسم جمع مذکر سالم يولسم قسم جمع معنوي (اُولُوْ) دولسم قسم جمع صوري عشرون ته ترتسعون پورے ددے درے واړو قسمونو اعراب رفع په واو سره نصب اوجر پياء ماقبل مکسور سره .

سوال: داعراب دا تعريف جامع نه دے (څکه چه مرفوعات ،سجلات ،سفرجلات پاندے صادق نه راځي حالانکه دا جمع مذکر سالم دي) اومانع هم نه دے (څکه چه سنون، ارضون، قلون، پاندے صادق راځي) حالانکه داجمع مؤنث سالم دي؟

جواب: قاعده ده چه کله څوذکر دعلم کيږي ليکن مراد وصف مشهور وي لکه لِكُلِّ فرعون موسىٰ اي

شکل مبطن محق دلته هم ذکر خودعلم دے یعني دَجمع مذکر سالم لیکن مراد وصف دے یعني هر هغه جمع چه دهغے په اخرکښے واو، نون دي خواه مذکر وي یامونث .

سوال: جمع معنوي ئے په جمع صوري باندے ولے مقدم کړه ؟

جواب: هم هغه دے

سوال: تاسو عشرون ته جمع صوري ونیلی ده حالانکه ددے دَماده نه ددے مفرد موجود دے. عَشَرٌ لهذا جمع حقیقي شوه؟

جواب: دجمع اطلاق کم ازکم په دوه باندے کیږي که درے عشر شمار کړے شي نودیرش جوړیږي اوس دعشرون معنی دیرش شوه چه بالکل باطل ده حالانکه ددے اطلاق په شلو باندے دے لهذا عشر ددے مفرد قطعًا نه شي جوړولے؟

سوال :تاسو عشرون دپاره ثلاثون الی اخره ته اخوات اوونیل حالانکه اخوات خوذ دوي العقول وي او دا عشرون خو غیر ذي روح دي.

جواب: اخوات په معنی دَ نظائر مشابهات دي ذکر دَ مشتبه دے اواراده دمشتبه به دے اوداستعاره مصرحه ده.

سوال: تثنیه اوجمع ته اعراب اصلي ئے ولے ورنکړل ؟

جواب: چونکه تثنیه اوجمع هم فرع په دے وجه دیته فرعي اعراب اعراب ئے بالحرف ورکړو.

سوال: چلو فرعي اعراب یعني اعراب بالحرف ورکول وو نوپه درے واړو حالتونو کښے اعراب ولے ورنکړے شول.

جواب: اعراب بالحرف درے وو چه دَهغے دوه صورتونه وو یاخوبه په دواړو کښے مشترک کولے یابل یوته به ئے ورکولے اودوئم به ئے محروم کولے دا دواړه صورتونه باطل دي .ځکه که چرے مشترک کولے ئے نوبه تثیه اوجمع کښے التباس لازم راتلو که یو مو محروم کولے نوداهم ناجائز وو په دے وجه مونږ اعراب بالحرف تقسیم کړو تثنیه ته حالت رفعي کښے موالف ورکړو اوجمع ته حالت رفعي کښے واو ورکړو باقي یاء پاتے شوه اواعراب دوه (نصب اوجر) پاتے شول. نومونږ یاء حالت جري کښے تثنیه اوجمع دواړو ته ورکړه اونصب موذجر تابع کړو یعامو اوکتل

سوحالت نصبي وجري تثنيه وجمع ياء سره دے نوالتباس لازم راتلو په دے وجه تثنيه کښے دياء نه ماقبل ته مفتوح اوجمع کښے دپاره نه ماقبل مکسور کړو چه التباس رانشي .

سوال: حالت رفعي کښے تثنيه ته الف او جمع ته واو ولے ورکړل برعکس ئې نے کړے وے. په ديکښے څه نکته ده.

جواب: په ديکښے دوه نکتے دي:

اوله نکته : الف خفيف وو او تثنيه کثير الاستعمال ځکه چه په ديکښے د دوى العقول شرط نشته او واو ثقيل اوجمع مذکر سالم قليل الاستعمال ځکه چه په ديکښے د دوى العقول شرف دے نومناسب وو خفت کثرت ته او ثقل قلت ته ورکړے شي.

دوئمه نکته : په فعل کښے تثنيه دننه الف ضمير فاعل وى اوپه جمع کښے واو ضمير فاعل وى نومونږ هم داسم تثنيه اوجمع ته دَ فعل تثنيه اوجمع ته تشبيه ورکولو تثنيه ته الف اوجمع ته واو سره اعراب ورکړو .

سوال: په تثنيه کښے نون مکسوره اوپه جمع کښے نون مفتوحه ولے په ديکښے څه نکته ده .

جواب: همدغه دوه نکتے دي.

سوال: نصب اوجر ديوبل تابع کيږي ليکن رفع مودَچاتابع نه کړه اونه موبل ددے تابع کړو ددے څه وجه ده؟

جواب: رفع عمده ده اونصب وجرفضله دي اوچونکه عمده اوفضله تابع اومتبوع نه شول جوړيدے په دے وجه دانے جوړنه کړو البته نصب وجر دواړه فضله اوهغه نے تابع متبوع جوړول.

اَلتَّقْدِيْرُ فِيْمَا تَعَذَّرَكَعَصًا وَغُلَامِيْ مُطْلَقًا اَوِاسْتُثْقِلَ كَقَاضٍ رَفْعًاوَجَرًّا وَنَحْوُ مُسْلِمِيَّ رَفْعًا وَ اللَّفْظِيُّ فِيْمَا عَدَاهُ تردے پورے د اعراب بالحركة لفظي اواعراب بالحرف لفظي بيان وو چه په مغے کښے دَاعراب شپږ قسمونه اودَاسم متمکن دولس قسمونه بيان شوى دي .دَاعراب باقي درے قسمونه او داسم متمکن څلور قسمونه پاتے شو. اوس اعراب تقديرى کښے ددے بيان دے. په دے عبارت سره اعراب تقديرى چه په درے قسمه دے اودَاسم متمکن باقي څلور قسمونه وو

دهغے بیان دے .ذاعراب اووم قسم رفع تقدیری په ضمه سره نصب تقدیری فتحے سره وجرتقدیری کسره سره دا ذاسم متمکن دوه قسمونه ته ورکړے شوے دے .دیارلسم قسم اسم مقصور ده لکه عصااو څوارلسم قسم غیر جمع مذکر سالم مضاف الی یاء المتکلم لکه غلامی ذاعراب اتم قسم رفع ضمه تقدیری سره نصب فتحه لفظی سره .

سوال :مسئله ذاعراب چلیده دلته مصنف ذالتقدیر نه ذتقدیر مسئله شروع کړه دا خروج من المبحث دے.

جواب: التقدیر بانده الف لام عوض عن المضاف الیه دے علی مذهب الکوفیین او الف لام عهدی دی. علی مذهب البصرین تقدیر ذعبارت تقدیر الاعراب حاصل جواب دلته ذمطلق تقدیر بیان نه دے بلکه ذاعراب تقدیری بیان دے.

سوال: ذ تعذر معنی ده چه ترڅوپورے وصول ممکن وی مگر مشقت اوتکلیف سره حالانکه عصا اوغلامی کښے اعراب خو ناممکن اومحال دے:

جواب: تعذر په معنی ذ امتنع دے ځکه چه تعذر کښے ذ معرب اخری حرف ذ اعراب هیو قابل نه پاتے کیږی اواستثقال کښے داعراب قابل خو کیږی لیکن اعراب په دے بانده لوستل درودن وی.

سوال: ستاسو اوونیل چه تعذر به معنی ذامتنع دے ذاعراب منتغ کیدل په مبنی کښے وی په دے سره خوعصا اوغلامی مبنی شول حالانکه دا معرب دے؟

جواب: مبنی کښے دوه څیزونه ممتنع وی(۱)ظهور اعراب هم ممتنع (۲) تقدیر اعراب هم ممتنع اودلته صرف یوڅیز ممتنع دے. ظهور اعراب تقدیر اعراب ممتنع نه دے لهذا دا اعراب به همه غه معرب شی. اوعصا اوغلامی به هم معرب شی.

سوال: تَعَذر په استثقال بانده ولے مقدم کړو؟

جواب: تَعَذُّر ذ تقدیر اعلیٰ فرد دے. اواستثقال ادنی فرد دے .په دے وجه چه تعذر کښے ذمعرب اخری حرف ذ اعراب قابل نه پاتے کیږی او استثقال کښے ذاعراب قابل خو پاتے کیږی لیکن اعراب ثقیل وی اواعلیٰ په ادنیٰ بانده مقدم وی په دے وجه مونږ تعذر په استثقال

بانـدے مقدم کړو.

سوال: مصنف دتعذر دوه مثالونه ورکړل ليکن کاف مثليه فقط معطوف عليه باندے راوړو لکه عصا وغلامي ليکن استثقال کښے دوه مثالونه ورکړل . يومبي مثال سره (کاف) راوړو اودونم مثال سره (نحو) لفظ راوړو حالانکه که (نحو) لفظ نے نه ذکر کوے نومُسْلِمِيَّ عطف په قاضٍ باندے کيدو نوکاف پـه دواړو بـاندے بـه داخل شوے وے مقصد به هم حاصل شوے وے او اختصار به هم شوے وے.

جواب: عصا اوغلامي کښے دوه قسمه مشابهت دے .اوقاضي اومسلمي کښے دوه قسمه مخالفت دے عصا اوغلامي کښے يومبے مشابهت په دے باندے اعراب درے واړو حالتونو کښے محال وي. دونـم مشابهت چه ددے دواړو اعراب بالحرکة تقديري دے. قاضي اومسلمیّ کښے يومبے مخالفت قاضي دواړو حالتونو کښے اعراب تقديري دے اومسلمي کښے فقط په يوحالت کښے اودونـم مخالفت قاض کښے اعراب بالحرکة تقديري دے اومُسْلِمِيَّ کښے اعراب بالحرف تقديري دے .په دے وجه عصا وغلامي کښے اتحاد ومشابهت ښودولو دپاره يوکاف مثليه فقط معطوف عليه باندے راوړے اودلته قاض اومسلمي کښے اختلاف ومخالفت ښودولو دپاره قاضي باندے (کاف) اومسلمي باندے دَ(نحو) لفظ راوړے دے.

سوال: اعراب تقديري ئے په اعراب لفظي باندے ولے مقدم کړو حالانکه اعراب لفظي اصلي او اعراب تقديري فرع دے ؟

جواب: دا اعراب تقديري مواقع قليل اوسهل الضبط وو او دَ اعراب لفظي مواقع کثير وو چونکه مصنف دااختصار پسے وو او اختصارپه دیکښے ووچه دَاعراب تقديري مواقع ومحل ښودولو سره اوائي واللفظي فيما عداه

فائده: اَلْاِعْرَابُ اللَّفْظِيُّ مَالَا يَمْتَنِعُ ظُهُوْرُهٗ فِي اللَّفْظِ وَلَا يَسْتَثْقِلُ اَلْاِعْرَابُ التقديري هُوَمَا يَمْتَنِعُ وَيَسْتَثْقِلُ ظُهُوْرُهٗ فِي اللَّفْظِ لَا تَقْدِيْرُهٗ الاعراب اَلْمَحَلِيُّ هُوَمَايَمْتَنِيْ ظُهُوْرَهٗ وَتَقْدِيْرُهٗ في اللفظ.

ضابطه: مصنف اعراب تقدیري دپاره داضابطه بیان کړې ده چه هر هغه مقام چه چرته اعراب لفظي ممتنع وي یا ثقیل وي هلته به اعراب تقدیري وي اوچه چرته متعذر اوثقیل نه وي هلته اعراب لفظي به وي .

تفصیل: اعراب بالحرکة متعذر ممتنع وي مګر اعراب بالحرف نه وي بیا اعراب بالحرکة لفظاً ومتعذر اوممتنع یوقسم دے اومقامونه دوه دي. (۱)اسم مقصوره لکه عصا(۲) غیرجمع مذکر سالم مضاف الی یاء متکلم ددے اعراب په درے واړو حالتونو کښې اعراب بالحرکة تقدیري به وي اسم مقصور باندے ذاعراب متعذر کیدو دلیل ذاسم مقصور په آخرکښې که الف په لفظونو کښې موجود وي نواعراب نه قبلوي .که چرے الف حذف شي نوبیامحل اعراب چه الف وو باقي پاتے نه شو. لهذا دواړو صورتونو کښې اعراب متعذر ممتنع شو.دونم مقام غلامي باندے متعذر ممتنع کیدو دلیل ذغلامي په اخرکښې کسره ذمناسبت په وجے سره دے. اوکه ذاعراب په وجه هم بیاموندے شي نولازم به راشي. تَوَارُدَ الْمُؤثِرَيْنِ علی أَثْرِ وَاحِدٍ ،والَّلازِمُ بَاطِلٌ فالملزومُ مِثْلُهُ.

سوال:ستاسو په غلامي کښې دیاء متکلم دکسره اعتبار کړے دے لیکن ذعامل ذکسره ولے نه؟

جواب: کسره مناسبت کسره عامل نه ځلورو مرتبو سره مقدم دے عامل باندے مقدم دے اوعامل معنی مقتضي باندے اومعنی مقتضي اعراب باندے اوذتقدم اسباب ترجیح نه دي په دے وجه کسره دمناسبت اعتبار نے اوکړو ذعامل ذکسره نه .

جواب: اعراب بالحرکة اواعراب بالحرف ثقیل وي. ذهر یوذپاره یویو مقام دے .داعراب بالحرکة ذثقیل کیدو مقام اسم منقوص دے .لکه قاض په دیکښې رفعي اوجري حالت ثقیل دی. اونصبي حالت ثقیل نه دے په دے وجه دوه اعراب رفع اوجر تقدیري به وي. اونصب فتحه لفظي سره دلیل استثقال ذعلم الصرف مشهوره قاعده ده چه هغه کله چه ناقص یائي وي په هغے باندے رفع اوجر راتلل ثقیل دي ذاعراب بالحرف ذ ثقیل کیدو یومقام جمع مذکر سالم مضاف الیٰ یاء متکلم دے.

ددے یواعراب تقدیري دے. رفع تقدیر په واو سره دلیل ذمسلمي په اصل کښې مسلموي وو قویله "قویله" والا په قانون سره واو نے یاء کړه اوادعام نے اوکړو مُسْلِمِيَّ شو بیا ذعِيَّ په قانون سره ضمه ماقبل په کسره سره تبدیل کړه مُسْلِمِيَّ شو په دیکښې رفع په واو سره لوستل وولیکن واو

خوپه یاسره بدله شوی ده په دے وجه رفع په تقدیر واو سره په وی البته نسب وجر یاء سره نوستل وو اویاء موجود ده په دے وجه نصب وجر یاء لفظی سره به شی چه دده نه ماسوا اعراب لفظی وی.

بحث دغیر منصرف :غیرالمنصرف مافیه علتان من تسع او واحدة منها تقوم مقامهما ربط مصنف دَمنصرف اوغیر اعراب په ماقبل کښے بیان کړی وونوضرورت ووچه دا اوښائی چه منصرف اوغیر منصرف څه ته وائی. د دوئ تعریف څه دے په دے وجه اوس دَ غیرمنصرف تعریف اوبحث ذکرکوی . په دے عبارت کښے دَ غیر منصرف تعریف دے لهذا هغه پنځه درجات به بیانیږی

رومبی درجه مختصر مفهوم: غیر منصرف هغه اسم معرب دے چه په هغے کښے دنهه اسبابو منع صرف نه دوه سببونه یایوسبب چه قائم مقام د دوه وی بیاموندے شی.

وجوهات تسمیه: (۱) دَصرف معنی ده گرزیدل .چونکه منصرف هم دَعواملو په وجه گرزی راگرزی په دے وجه دیته منصرف وئیلے شی .اوغیر منصرف په بعضے حالت کښے نه گرزی په دے وجه دیته غیر منصرف وئیلے شی.(۲) دَصرف معنی خالص دے چونکه منصرف دفعل دَمشابهت نه خالی وی په دے وجه منصرف خالص اوغیر منصرف غیر خالص وی. په دے وجه دیته غیر منصرف وئیلے شی .(۳) دَصریف معنی شپلیے وهل دی چونکه دَمنصرف په اخرکښے دَتنوین کیدو په وجه دشپلیی اواز پیدا کیږی په دے وجه دیته منصرف او غیرمنصرف کښے تنوین نه کیدو په وجه دَشپلیی آواز نه پیداکیږی په دے وجه دیته غیر منصرف وئیلے شی.

دوئمه درجه فوائد قیود: ماجنس دے چه هر اسم ته شامل دے .فِيْهِ عِلَّتَانِ اَوْوَاحِدَةٌ مِنْهَا تَقُوْمُ مُقَامَهُمَا داقید دے چه ددینه هغه اسم منصرف اووتو چه په هغے کښے دوه سببونه نشته . لکه رَجُلٌ،زَيْدٌ .دغه رنگ هغه به هم اوځی چه په هغے کښے یوسبب خو موجود وی لیکن د دوه قائم مقام نه وی لکه نُوْحٌ،

درئمه درجه ترکیب: غیرالمنصرف مبتدا ده ماموصوله ده فیه متعلق شو ثابت پورے خبر مقدم شو ملتان موصوف من تِسْعٍ متعلق دثَابِتَتَانِ چه صفت دے عِلَّتَانِ موصوف، موصوف خپل

صفت سره ملاؤ شومعطوف علیه اَوْ عـاطفه واحدةٌ مِنْهَا متعلق شو ثابتةٌ پورے صفت اول شو تقوم مقـامهما صفت ثاني ،موصوف صفت ملاؤ شول معطوف اودا معطوف علیه څهل معطوف سره ملاؤ شو خبـر دے بیاجـمـلـه اسمیه خبـر یـه جـوړه شـوه صفت دے دَمابیا موصوف صفت خبر دے دَغیر المنصرف .

څلورمه درجه سوالات وجوابات :

سوال: مصنف صاحب ستاسو خودَغیر منصرف تعریف اوکړو لیکن دَمنصرف موولے اونه اوکړو ؟

جواب: دَغیـر منصرف دَتعریف نه دَمنصرف تعریف خپله معلومیږي په دے وجه هغه نے ذکر نه کړو.

سوال: برعکس به ئے کړے وے؟

جواب:دغیـر منصرف تعریف وجودي وو اودَمنصرف عدمي وو اوداخبره خوظاهره ده چه قابل ذکر وجودي څیز وي نه عدمي.

سوال: مـنـصـرف اصـل وو اوغیـر مـنـصـرف فرع وو اوقاعده ده .الاصل یذکروالفرع یترک ستاسو دَقاعدے خلاف اوکړو؟

جواب:فـقـط یـوه قـاعـده نـه ده نورے هم شته . القلیل یذکر والکثیر یترک چونکه غیر منصرف مختصراو قلیل وو اومنصرف مفصل اوکثیر وو لهذا دلته دا قاعده جاري کړے شوه اودوئمے ته ئے الوداع اوونیل.

سوال: تـاسـو تقدیري اعراب بیانولو سره لفظي هم لږ شان بیان کړے وولیکن غیرمنصرف دبیان کړو منصرف دِذر اهم بیان نه کړو. اخر څه وجه داعراض ده؟

جواب: د اعـراب تـقـدیـري عـنـوان دلـفـظي عنوان ته مشتمل نه وو لیکن دغیر منصرف عنوان مـنـصـرف تـه مشتـمـل وو ددے فـرق پـه وجـه هلته د ذکر ضرورت وودلته نه وو اوس په تعریف باندے یوڅو سوالات اوجوابات.

سوال:دغیـر منصرف تعریف دخول غیرنه مانع نه دے مثلًا ضَرَبَتْ کښے دوه علتونه د وزن فعل اوتأنیث موجود دي لیکن داغیر منصرف نه دے.

جواب: زمونږ مراد دَمانه اسم دے اوضربت فعل دے لهذا دا تعريف په دے بانديے صادق نه راتشي .

سوال: بیاهم تعریف مانع نه شو حَضَارِ ،تَمَارِ باندے صادق راځی. ځکه چه دوه علتونه علميت اوتانيث موجود دی. او اسم هم دے حالانکه داغير منصرف نه دے؟

جواب: زمونږ مراد داسم نه اسم معرب دے لهذا حَضَارِ تَمَارِ مبنی کيدو په وجه خارج دی.

سوال: بیاهم دخول غير نه مانع نه دی مثلا قَائِمَةٌ ،ضَارِبَةٌ اسم معرب هم دی دوه سببونه تانيث اووصف هم کښے پیاموندلے شی. حالانکه داغير منصرف نه دی منصرف دی؟

جواب: مولانا جامی ملتان نه پس یوقید ذکر کړے دے مؤثرتان دوه علتونه مؤثر وی دلته خودوه علتونه شته ليکن مؤثر نه دی دَتانيث دَتاثير دپاره علميت شرط دے چه دلته موجود نه دے.

سوال: بیاهم تعریف جامع نه دے ځکه چه نوح باندے صادق راځی چه هغه اسم معرب هم دے اودوه سببونه هم موندلے شی عجمه اوعلميت اودَعجمه دَتاثير دپاره دَعلميت شرط هم موندلے شی حالانکه دا منصرف دے.

جواب: دلته بل یوقید هم ملحوظ دے مع استجماع شرائطها يعنی دَتاثير ټول شرطونه بیاموندے شی اوپه نوحٌ دعجمه دتاثير دپاره دونم شرط احد الامرين دے هغه نه شی بیاموندے لهذا زمونږ تعريف دخول غيرنه مانع شو .

وهی شعرعدل ووصف وتانيث ومعرفة وعجمة ثم جمع ثم تركيب والنون زائدة من قبلها الف ووزن الفعل وهذا القول تقريب دغيرمنصرف په تعريف کښے چونکه دنهو اسبابو ذکروو. اوس مصنف هغه اسباب منع صرف بیانول غواړی دَشعر په صورت کښے داشعر دابو سعيد عبدالرحمٰن بن محمد بن عبيد الله الانباری الکوفی دے .دَشعر مطلب واضح دے یوڅو ترکیبی سوالات.

سوال: هر ضمير مبتدا ده عدل ووصف خبر دے په دے باندے هغه دوه اعتراضونه واردیږی چه هی اسم "وفعل" کښے تیر شوی دی.

سوال: ثم تراخی دپاره راځی .ددے نه معلومه شوه چه داسباب مذکوره نه پس جمع ترکيب سبب

جوړیږي چه دبدیهي البطلان دے.

جواب: دلته ثـم تـراخـي دپاره نـه ده بلکه محض وزن شعري دمحافظت دپاره راوړلے شوی ده. اوذتراخي دپاره هم جوړیږي .لیکن تراخي اوبعد رتبي به مراد وی کما هوالظاهر.

والنُّوْنَ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَاأَلِف دَشعر دا مصرعه ترکیبي لحاظ سره قدرے مشکل دے توجه اوفرمائي ددے دوه ترکیبونه دي.

رومبے ترکیب: فاضل هندی دا ترکیب کړے دے اَلنُّوْنَ مرفوع لفظا موصوف زائدة مرفوع لفظا صفت من قبلها الف دوه ترکیبونه دي.(١) من قبلها متعلق ثبت فعل سره چه مقدر دے اوالفٌ فاعلٌ ثَبَتَ داجمله فعلیه به شي.(٢) من قبلها متعلق شوذثابت خبرمقدم اوالف مبتدا مؤخر دابه جمله اسمیه شي دواړو صورتونو کښے ظرف مستقرشو صفت ثاني ذالنُّوْنَ.

سوال: موصوف صفت په تعریف او تنکیر کښے مطابقت وی دلته نشته ځکه چه النون معرفه ده زائدة نکره ده.

جواب: النُّوْنَ بانـدے الف لام زائده دے چه مفید للتعریف نه وی یا الف لام عهد ذهني دے چه ددے صفت نکره راځي کما صرح به الرضي.

دوئم ترکیب: اَلنُّوْنَ ذوالحال زائده منصوب لفظا حال.

سوال: حال دفاعل نه وی یا ذمفعول نه او النُّوْنَ خونه فاعل دے اونه مفعول.

جواب: النون فاعل دے دفعل مقدر چه تَمْنَعُ دے چه په دے بانـدے قرینه دشاعر دونم شعر دے.موانع الصرف تِسْعٌ الخ په دے ترکیب کښے من قبلها الف جمله اسمیه فعلیه به شي ذ النون نه یا ذزائدة دضمیرنه رومبی صورت کښے حالین مترادفین اوپه دونم صورت کښے حالین متدا خلین به شي.لیکن په دے ترکیب کښے دالف زائد کیدل معلومیږي نه دنون حالانکه دواړه زائده دي. نوپه دے وجه خوونیلے شي الالف والنون الزائد تان .دمولانا جامي ترکیب ډیرعمده دے چه حاضر خدمت دے .من قبلها داظرف لغوه دے.او دزائدة متعلق دے اوالف فاعل دے ذ زائدة فاعل دے تَمْنَعُ النُّوْنَ زائدةٌ من قبلها الفٌ اوس به معنی داشي بندوی نون کلمه دمنصرف کیدو نه اوحال دادے چه ددغه نون نه مخکښے الف زائده وی لیکن یادساتئ دالف دنون نه مخکښے زائد

كيدو نـه مـراد دا بـه اخستـے شي چه الف ونون دواړه وصف زيادة كښـے شريک دی .ليکن الف وصف زيادة سـره متـصف كيـږی دنـون نه مخکښـے مولانا جامي په دے بانـدے نظرپهش كړو جاء زيد راكبـا مـن قبله اخوه كجاء فاعل زيد دے . دغه رنګ دَتمنع فاعل النون دے دَ راكبًا زيد نه حال نه رنګ زائـدة دَ الـنـون نه حال دے من قبله متعلق دَراكبًا دغه رنګ من قبلها متعلق دے دَزائدة اخوه فاعل د راكبًادغه رنګ الف فاعل زائدة.

الحاصل : لکه څه رنګ چه ددے محاوره نه داخبره پوهه كښـے راځي چه زيد اواخ دواړه وصف ركوب كښـے شـريک دی. البته داخ دَركوب سره متصف كيدل مخکښـے دی. اودزيد روستو دغه رنګ دلته هم به دغه خبره پوهه كښـے راشي چه داالف ونون دواړه وصفونه زيادة كښـے شريک دی دواړه زائدہ دی ليکن دَالف اتصاف بالزيادة مخکښـے اوكنون روستو دے.

هٰذا القول تَقريبٌ: مولانا جامي ددے درے مطلبونه بيان كړی دی .

رومبے مطلب: تـقـريـب مصدرمبني للفاعل دے تقدير دعبارت هذا القول مقرَّبٌ الى الحفظ علـل تسعه په صورت دَنظم نيائول مقرب الى الحفظ دے ځکه چه تجربے سره ثابت دے چه كلام منظوم په نسبت دكلام منثور زرياديږی .

دوئم مطلب : دَتقريب نه پس ياء نسبت محذوف دے اى تقريبيٌّ په معنى دمجازيٌ اوس مطلب به داشي چه امـور تـسـعـه ؤ كښـے هريو ته علت وئيل داقول حقيقي نه دے بلکه مجازی دے په دے وجه چه حقيقة د دوه أمرونو مجموعه علت جوړيږی .يوازے هريوعلت نه دے مګر دكل حكم په جزء بانـدے اولګولے شو. داذكر الكل دَارادة الجزء دَقبيلے نه دے.

دريم مطلب: تـقـريـب مصدر مبني للمفعول دے تقدير عبارت: هذا القول مَقرّبٌ الى الصواب يـعـنى دَنهه وآسبابو قول مقرب الى الصواب دے په دے وجه چه دَاسباب منع صرف تعداد كښـے اختلاف دے درے منهبونه مشهور دی(۱) دَجمهورو نحاتو په نيزد نهه دی اودَبعضو په نيزد يونس دی نهه هـمـدغـه دی اودوه نـور دی.(۱) شبـه الف تـأنيث لکه اشياء (۲) دَتنكيرنه پس دَ وصف اصلي اعتبار كول لکه احمر كښـے پس دَ تنكير نه اودَبعضو په نيزد دوه مبهونه دی .(۱) تركيب (۲) حكايت بـاقـي پاتـے شوه داخبره چه د دوه منهبونو وجه ئـے رد كړی ده ددے وجه دا ده چه يولسو والا قول

کښے څه نورے سبب نشته په دے وجه چه شبه الف تانیث په تانیث کښے داخل دے اود وصف اصلی اعتبار پس دَتنکیر نه داپه وصف کښے داخل دے .لهذا سببونه نهه شول. دَ دوه سببونو والا دَقول رد دادے چه په دیکښے اجمال دپاسه اجمال دے چه مخل بالفهم دے .دغسے حکایت یعنی وزن فعل مستقل سبب شمارل نه دی پکار ځکه چه داهم په ترکیب کښے شامل دے لکه څه رنګ چه ملاعبدالرحمٰن فرمائی چه زه دبخارو مدرسے ته لاړم ماتپوس اوکړو چه اسباب منع الصرف شومره دی هغوئ اوونیل چه دوه دی ماورته اوونیل چه کوم دوه جواب ئے راکړو ترکیب اوحکایت ماورته اوونیل وجه دَ حصرڅه ده جواب ئے راکړو هیڅ سبب مؤثر نشته مگر پس دَترکیب نه بیاما اوونیل حکایت مستقل مه شمارکوه ځکه چه داهم د دونم سبب په شان پس دترکیب نه سبب جوړیږی په دے باندے خوموش شو هیڅ جواب ئے رانکړو.

سوال: چه کله نظم په نسبت دنثر زریادیږی اویاد پاتے کیږی نودَغیر منصرف دتعریف دپاره هم دَ ابوسعید نحوی کوفی دونم شعر به ئے هم نقل کړے وے چه هغه دا دے.

مَوَانِعُ الصَّرْفِ تِسْعٌ كُلَّمَا اجْتَمَعَتْ

ثِنْتَانِ مِنْهَا فَمَالِلصَّرْفِ تَصْوِيْب

جواب:دغیر منصرف دوه قسمونه وو چه کله په دے شعر کښے فقط دیوقسم ذکر وو. نودا تعریف ناقص وو. په دے وجه مصنف دانقل نه کړو لیکن صاحب جامع الغموض مولانا عبدالنبی صاحب په دے توجیه باندے اوفرمائیل فهٰذا التوجیه بعد تَعَمُّقِ النَّظْرِ مُفْتَقِرٌ اِلٰی تَوْجِيْهٍ اٰخَرَ.

وحکمه ان لاکسرة ولا تنوین ترکیب واو استینافیه حکمه مبتدا ان محفف من المثقله ددے اسم ضمیر شان محذوف دے رد تحفیف مسئله دَاحقر رساله قدوة العامل کښے اوګورئ (لَا) نفی جنس دے کَسْرَةٌ اسم اوفیه خبر محذوف دے الاکسرة ولاتنوین باندے لاحول ولاقوة الابالله والا پنځه وجوه جائز دی .ان الاکسرة الخ جمله اسمیه جوړېدو سره خبر دے دَ حکمه او داجمله اسمیه خبر په مستانفه کیدو سره دسوال مقدر جواب دے سوال دا کیدو چه ماحکمه دغیر منصرف تعریف خوداوښودلو حکم ئے څه دے جواب ئے ورکړو حکمه ان لاکسرة ولاتنوین دغیر منصرف حکم

دادے چه په دے باندے کسرہ اوتنوین نه راځي.

دلیل: دغیرمنصرف مشابهت دفعل سرہ چه کله څه رنګ په فعل کښے دوہ فرعیین موندے شي

(۱) احتیاج الی الفاعل (۱) اشتقاق من المصدر دا مذهب دبصرینو دے. چه مصدر اصل او فعل فرع دوارہ مذهبونه مع الدلائل داحقر په تصنیف تنویر شرح نحومیر کښے اوګورئ دغه رنګ غیر منصرف کښے هم دوہ فرعیین او دوہ علتونه پیاموندلے شي. اوداداسباب تسعه ؤ نه هر یوفرع دہ کماهوالظاهر.

سوال: دحکم یوځو معانے دي دلته په معنی داثر دے اوداثر نسبت موثر طرفته کیږی اومؤثر علتان دے حالانکه ستاسو خونسبت غیر منصرف طرفته اوکړو چه مؤثر نه دے.

جواب: تیک دہ مؤثر علتان دے په حقیقت کښے دحکم نسبت دي طرفته کول پکار وو. لیکن هغه علتین خوهم په غیر منصرف کښے پیاموندلے شو. ددغه اذنی ملاسبت په وجه مجازاً نے اوونیل چه داحکم اواثر ګویا دغیر منصرف دے نودا نسبت مجازي دے.

سوال: دکسرہ نفي خود غیر منصرف په اعرابو کښے کړے شوي وہ بیا دوبارہ نے ولے ذکرکړہ حالانکه تاسو دعوئ داختصار کوئ.

جواب: دمصنف مقصد دوارہ حکمونه جمع کول دي چه دطلب علم دپارہ یادول آسان شي.

جواب: دیووهم ازاله مقصودہ چه دکسرہ اوتنوین دعدم دخول په بارہ کښے درے مذهبونه دي

رومبے مذهب. په غیر منصرف باندے کسرہ نه راتلل اصل دي اوتنوین ددے تابع دے.

دوئم مذهب. دتنوین عدم دخول اصل دے اوکسرہ تابع

درئم مذهب: د دوارو نه راتلل اصل دي چونکه دمصنف مذهب هم دغه وو اوس که چرے کسرہ نے نه وے راوړے نوچابه فهم کړے وے چه دمصنف په نیزد هم تنوین اصل دے اوکسرہ تابع په دیوجه کسرہ نے ذکر کړہ اوددے وهم ازاله نے اوکړہ.

جواب: متقدمینو دغیر منصرف هدا تعریف کړے وو نومصنف بعینه هدا دغیر منصرف حکم جوړ کړو.

سوال: عرفات غیرمنصرف دے په دے باندے کسرہ اوتنوین داخلیږی. دغه رنګ دجمع مؤنث

سالم صیغه که دَچانوم کیښود ے شي.

جواب:په د ے بانـد ے تنوین تقابل د ے .اومونږ دتنوین تمکن نفی کړی ده اوباقی پاتـې شه د
دکسره داخـلیـدل هـغـه دَمجبوری په وجه سره ده .ځکه هغه جمع مؤنث سالم کیدو په وجه سره نصب
دَکسره تـابـع شـو ے ده اوس کـه چـر ے دَغیرمنصرف کیدو په وجه کسره دَنصب تابع شي نو دَتابع
مبتوع اودَمبتوع تـابـع کیـدل بـه لازم راشي. یـادسـاتـئ چه علت مخدوش د ے . ځکه چه په د ے
باند ے دَمفرد منصرف والا اعراب هم خوجائزدی لَوْلَا الْحَيْثِيَّاتُ لَبَطَلَتِ الْحِكْمَةُ

وَيَجُوْزُ صَرْفُهُ لِلضَّرُوْرَةِ اَوْلِلتَّنَاسُبِ مِثْلُ سَلَاسِلًا وَّاَغْلٰلًا مـصـنف دَغیـر منصرف حکم بیانولو نه
روستـو دد ے ضـد بیـانول غواړی ځکه چه قاعده ده بِضِدِّهَا تَتَبَيَّنُ الا شياء دَضرورة شعری په وجه اودَ
غیر منصرف سره مناسبت برقرار ساتلو دپاره غیر منصرف منصرف لوستل جائز دي.

(۱) دَضرورت شعری دوه قـسمونه دي (۱) ضرورة دَوزن شعر (۲) ضرورة قافیه .

ضرورة وزن شعر داد ے: مُوَافَقَةُ اَحَدِ الْمِصْرَ اعَيْنِ بِالْاٰخِرِ فِيْ عَدَدِ الْحُرُوْفِ

ضرورة قافیه داد ے :مُوَافَقَةُ الْحَرْفِ الا خير مِنْ اَحَدِ الْمِصْرَ اعَيْنِ بِالْاخرفی الْحَرْكَةِ .بیادَ ضرورة
وزن شعر دوه قـسمونه دي.

(۱) احترازعن الْاِنْكِسَارِ یـعـنـی کـلمه که چر ے غیر منصرف اولوستے شي نودَشعروزن ماتیږی لکه
دَفاطمهؓشعر:

صُبَّتْ عَلَيَّ مَصَائِبٌ لَوْ اَنَّهَا

صُبَّتْ عَلَى الْاَيَّامِ صِرْنَ لَيَالِيَا

دلتـه مـحـل استشهـاد مـصـائب د ے .که چر ے په د ے باند ے تنوین اونه لوستے شي.نو وزن
متفاعلن به شي. حالانکه دَشعر دپاره دَمتفاعلینو وزن پکار د ے چه دَ تنوین نه جوړیږی.

(۲) احتـرازعـن الـزحـاف یعنی کلمه که چر ے غیر منصرف اولوستے شي نووزن شعر خوباقی پاتے
کیږی مګر سلاست اوراونګی ختمیږی لکه دامام شافعیؒ شعر دَ امام ابو حنیفهؒ په مدح کښ ے:

اَعِدْ ذِكْرَ نُعْمَانٍ لَنَا اَنَّ ذِكْرَهُ

هُوَالْمِسْكُ مَا كَرَّرْتَهُ يَتَضَوَّعُ

كه نعمان بانــدے كسره اوتنوين اونه لوستے شي نووزن به باقي پاتــے نه شي مگر دَ شعر سلاست اوروانگي ختميږي دونم قسم دضرورت رعايت قافيه مثال دَعلیؓ اشعار:

سَلَامٌ عَلٰى خَيْرِ الْاَنَامِ وَ سَيِّدِ

حَبِيْبِ اِلٰهِ الْعَالَمِيْنَ مُحَمَّدِ

بشير نذير هاشمي مكرم

عطوف رحيم من يسمي بِاَحْمَدِ

كه احمد بانــدے كسره اونه لوستــے شي نو وزن خو به برقرار پاتــے شي ليكن رعايت دَقافيه به پاتــے نه شي ځكه چه حرف دال په ټــامو مصرعو كښــے مذكور دے.

الحاصل: دَضرورت درے مقامات شول چه په هغے كښــے منصرف غير منصرف لوستل واجب دي اودَتناسب دپاره يومقام دے چه جوازي دے دَتناسب مثال سَلَا سِلًا وَاَغْلَالًا پــه ديكښــے سلاسلًا غير منصرف وو ليكن اَغْلَالًا سره مناسبت پيدا كولودپاره دا منصرف لوستــے شي. يعني مُنَوَّن لوستــے شوے دے.

سوال: دتناسب مثال خوصرف سَلَا سِلًا دے دَ اغلالًا ذكر عبث دے.

جواب: ټيك ده مثال خوصرف سَلَاسِلًا دے ليكن مصنف دا وائي چه دَ كومے كلمــے دَمناسبت په وجــه منصرف لوستلے شي هغه اغلالًا دے دلته تناسب صيغوي هم دے ځكه چه دواړه دَجمع ضَغے دي اوتناسب معنوي هم دے ځكه چه د دواړه تعلق د ترولو سره دے.

سوال: تناسب برعكس هم كيدے شو چه منصرف نــے غير منصرف جوړ كړے وے.

جواب: معترض صاحب لــړ شان خيال كوه چه منصرف خواصل دے اوغير منصرف خلاف اصل اوس ستاسو اوايئ چه آيا اصل دخلاف اصل مناسب كيدے شي.

سوال: ديجوز تعلق د للتناسب سره خوصحيح دے ځكه چه دَتناسب په وجه منصرف لوستل جائز دي. ليكن لـلضرورة سره غلط دے ځكه چه دَ ضرورت په وجه دغير منصرف الضراب واجب

دے .نه جائز .لهذا يجب للضرورة ويجوز للتناسب ونيل پكار وو؟

جواب: دريے درے لفظونه دي .(۱)وجوب يعني وجود ضروري وي اوعدم ممتنع ومحال وي (۲) امتناع يعني عدم ضروري وي اووجود ممتنع وي (۳) امكان يعني وجود وعدم نه هيڅ يوضروري نه وي بيا دَامكان دوه قسمونه دي(۱) امكان خاص يعني وجود وعدم دواړه ضروري نه وي (۲) امكان عام يعني وجود وعدم نه لاعلى التعين هيڅ يوضروري نه وي بيا دَ امكان عام دوه قسمونه دي امكان عام مقيد بجانب الوجود يعني چه دهغے وجود ضروري نه وي خواه عدم ضروري وي يانه اوس دَجواب حاصل دادے چه دا سوال هله واردیږي چه كله دَ يجوز نه چه كوم امكان فهم كيږي دَ هغے نه مراد امكان خاص يا امكان عام مفيد بجانب العدم وي حالانكه دلته مراد امكان عام مفيد بجانب الوجود دے اوس به معني داشي چه دَ ضرورة اوتناسب په وجه دغير منصرف منصرف لوستل ممتنع نه دے عام دے چه منصرف لوستل ضروري وي لكه دَ ضرورة شعري په وجه يا جائز وي لكه دَتناسب په وجه

سوال: مصنف دَغير منصرف تعريف مافيه ملتان اوواحدة اومتقدمينو تعريف كړے دے مالاكسرة فيه ولا تنوين مصنف دمخالفت په دے وجه كړے دے چه دَمتقدمينو په نيزد ادخال كسره وتنوين سره غير منصرف منصرف جوړيږي اودَ مصنف په نيزد نه .اوس يجوز صرفة سره نے دَخپلے خبرے ترديد نے اوكړو اوچه كله كلمه غيرمنصرف جوړيږي دوه علتونو نه نوبيا دوه علتونو سره سره دَضرورة اوتناسب په وجه دَكسره اوتنوين داخليدو سره څه رنګ منصرف جوړيږي.

جواب: يجوز صرفه دَصرف دوه معانے كيږي. اوۀ ضمير مرجع هم دوه جوړيږي(۱) اصطلاحي معنى په دے صورت كښے به ضمير راجع شي غيرمنصرف په طرف مقصود دادے چه غير منصرف بانديے دَمنصرف حكم به جاري شي دا مراد نه دے چه غيرمنصرف منصرف جوړيږي. اوكه چرے دَصرفا لغوي معنى وي نوضمير به راجع الى الحكم شي معنى به داشي چه ضرورت شعري اودَتناسب په وجه دَغير منصرف حكم اړول اوبدلول جائز دي.

فائده: رضي صاحب واني چه كوم غيرمنصرف كښے الف مقصوره وي نودَهغے منصرف لوستل جائز نه دي اوشارح الباب فرمائي چه تانيث په الف مقصوره سره لكه حبلیٰ منصرف لوستل جائزنه دي ځكه

چه ضرورة ملجئه الی صرفه نشته په دے وجه که چرے منصرف وی نو الف به حذف شی او تنوین به راشی یو ساکن حذف کول او دونم ساکن راوړل کوم یو ضرورت دے .لیکن مولانا جمال الدین صاحب مطلقا ردکوی ځکه که چرے دشعر قافیه نون ساکن یانون موصول وی نوپه دواړو کښے ضرورة ملجئه الی صرفه دے.

فائده: اَفعَلُ مِن متصرف کیدل عندالکوفیین ممتنع دی .ځکه چه ذ مِن مجرور مضاف الیه دے او اَفعلُ مضاف دے اوپه مضاف باندے تنوین نه راځی. لهذا دلته به هم نه راځی. لیکن رضی رد کړیدے دَضرورة په وجه جائز دے اودا مضاف نه دے کالمضاف دے.

فائده: دَکوفینو اوبعضے بصرینو په نیزد دَضرورة شعری په وجه منصرف غیر منصرف نوستل جائز دی.لیکن دَیوشرط سره چه علمیت وی د دوئ مستدل دا شعر دے.

فما کان حِصْنٌ ولا مأبس

يَفُوقَانِ مِرْدَاسَ فِيْ مَجْمَعِ

دلته مرداس منصرف غیرمنصرف اولوستے شو ورنه مراد سًا به لوستلے شو لیکن جمهورو بصرینو دا ردکړے دے. چه دَضرورة په وجه اشیاء خپل موصول طرفته واپس کیږی نه چه اشیاء دخپل اصل نه اوځی .هدا وجه ده.چه په اشعارو کښے قصرممدود جائز دے .لیکن مدمقصور جائز نه دے.

الا نَادِراً او دا روایت غلط دے .وَلاَ نُصَافُ انَّ الرِّوَايَةَ لَوْ ثُبَتَتْ عَنْ ثِقَةٍ لَمْ يَجُزْ رَدُّهَا وَاِنْ ثَبَتَتْ هُنَاكَ رِوَايَةٌ اُخْرٰى (رضی شرح کافیه)

وَمَا يَقُوْمُ مَقَامَهُمَا الْجَمْعُ وَأَلِفَا التَّانِيْثِ

دصاحب کافیه غرض ددے عبارت نه اسباب تسعه زنه هغه سبب بیانول دی ،چه یوسبب قائم مقام د دوه سببونو وی داسے سببونه دوه دی (۱)جمع منتهی الجموع(۲) تانیث بألف مقصورہ او تانیث بألف ممدودہ.

سوال: کلمه غیر منصرف وی دَمشابهت بالفعل په وجه اوهغه مشابهت د دوه فرعیت په اعتبار سره دے که چرے علت یوشی نوفرعیت به هم یوشی .نودفعل سره به نے مشابهت رانشی نوکلمه به

غیرمنصرف څه رنګ شي لهذا یوعلت قائم مقام ذ دوه نه جوړیږي .

جواب: اګر چه په ظاهره کښې علت واحد دے مګر حقیقة دوه علتونه دي ځکه چه په دیکښې تکرار موندلے شي .ذجمع منتهی الجموع دوه قسمونه دي.(۱) حقیقي (۲) حکمي.حقیقي هغه دے چه ذجمع نه جمع راوړلے شوی وي. اوحکمي هغه جمع ده چه ذ مفرد نه راوړلے شوی وي اوذ منتهی الجموع په وزن باندے وي ذحقیقي مثال : اکالب جمع ده اَكْلُبْ اوامکب جمع کلبٌ ده اواناعیم جمع ذ اَنْعَام ده اوانعام جمع ده ذنَعَمْ.

دحکمي مثال: مساجدُ جمع ذ مسجد ده اومصابیح جمع ده ذمصباح حقیقي کښے حقیقة تکرار دے اوحکمي کښے حکمًاتکرار دے تانیث بالف مقصوره اوبالف ممدوده کښے تکرار دارنګ دے. چه یوتانیث الف مقصوره اوالف ممدوده کله هم نه حذف کیږي.

سوال: تانیث بالتاء مثلًا قائمةٌ حالت علمیت کښے لازمیږي بیاداهم قائم مقام ذ دوه سببونو جوړ کړه؟

جواب: زمونږ مراد لزوم تانیث نه وضعي دے او تاء تانیث کښے لزوم عارضي دے.

سوال:چه کله جمع ټول واحد قائم مقام دوه سبب دي نوبیا مسلمون اورجال هم غیرمنصرف کیدل پکاردي؟

جواب: الجمع باندے الف لام عهد خارجي دے چه ذهغے نه مراد جمع منتهی الجموع دے.

فَالْعَدْلُ خُرُوْجُهٗ عَنْ صِيْغَتِهٖ ددے ځائے نه مصنف ذعلل تسعه تفصیل بیانوي. بیاالعدل ئے معرفه راوړو اوقاعده ده چه **اَلْمَعْرِفَةُ اِذَااُعِيْدَتْ مَعْرِفَةً يُرَادُ بِهٖ عَيْنُ الْاُوْلٰى**.هغه عدل مراد دے.

ړومبۍ درجه تشریح الفاظ: فاء تفسیریه ده ځکه چه ذاجمال نه پس په تفصیل باندے داخل دے ذعدل لغوي معنی ده اوړیدل.

فائده: ذعدل صله الیٰ وي نومعنی میلان کول (۲) اوکه صله عن وي نومعنی به شي اعراض کول.(۳) اوکه صله من وي نوذلرے والي اوبعد والا معنی به شي.(۴) اوکه صله في وي نومعنی به شي تغیر اوتصرف .دلته عدل مصدر مجهول دے. په معنی کون الاسم معدولًا اولفظ خروج مصدر

مجهول دے په معنی کون الاسم مخرجًا دَصیغه لغوی معنی ده صورت او اصطلاحی معنی. هی فَیْئَةٌ حاصلةٌ عن ترکیب الحروف و الحرکات والسکنات الاصلیة معنی ده هغه شکل وصورت چه دَقانون موافق وی .

دوئمه درجه مختصر مفهوم دمطلب : دَیواسم دَخپل داسے شکل وصورت نه چه دقانون مطابق وو دَهغے نه وتن .په دے شرط چه مادہ او معنی اصلی باقی پاتے شی. اودا تبدیلی بغیر دځه صرفی قانون نه وی.

درئمه درجه فوائد قیود: خروجه په منزله دجنس دے .اوصیغه دا پرومبے قید دے ددینه اسماء محذوفة الاعجاز به اوځی. لکه ید،دم او دہ ضمیر په قید سرہ اسماء مشتقه به اوځی ځکه چه هغه دخپل شکل وصورت نه نه اوځی بلکه دَمصدر نه اوځی. په دے وجه دَضمیر په قید سرہ معنی دادہ چه دَاسم دخپل شکل وصورت نه وتل. اود الاصلیة په قید سرہ هغه اسماء شاذہ یعنی هغه اسماء چه خلاف قیاس ویستلے شوی وی لکه اَقْوَسٌ اَنیبٌ چه جمع ده دَقوسٌ اونابٌ

څلورمه درجه سوالات وجوابات:

سوال: عدل نے په نورو اسبابو ولے مقدم کړو حالانکه عدل سبب فرض دے اوباقی اسباب حقیقی او واقعی دی نومناسب دا ووچه برعکس نے کړے وے؟

جواب: عدل مؤثر دے بغیر دَشرط نه اودباقی اسبابو دمؤثر کیدو دَ پارہ شرائط دی چونکه په دے اعتبار سرہ ده ته فوقیت حاصل وو په تمامو اسبابو باندے په دے وجه ئے مقدم کړو .

فائده: تشریح الفاظو کښے مونږ ونیلی دی چه عدل مصدر مبنی للمفعول دے .چه ددینه داسوال چه عدل په معنی داخراج یابیرون آوردن دَمتکلم صفت دے .اوخروج په معنی بیرون آمدن اوداتفسیر المباین بالمباین دے چه باطل دے. داسوال مندفع شو. ځکه چه عدل په معنی معدولیت هم دَلفظ صفت دے .بیا مخکښے مونږ دَعدل اوخروج تفسیر کون الاسم سرہ اوکړو دڅلورو سوالونو جواب موورکړے دے.

سوال: چه کله عدل مصدر مجهول دے نودا ذات مع الوصف دے حالانکه خروج محض وصف دے. نولازم راغے دَ محض حمل په ذات مع الوصف باندے چه ناجائز دے ؟

سوال: چه كله عدل ذات مع الوصف دے نودا دَسبب جوړيدو صلاحيت هم،و لري نه ځكه چه ټول اسباب دَقبيلے دَاوصافونه دي.

سوال: عدل مصدر متعدى دے اوحالانكه خروج مصدر لازمي دے.نودا تفسير المصدر المتعدى بالازمي وذاايضًا باطل.

سوال: عدل په معني معدوليت وي نوتعميم به شي. خواه اسم معدول وي ياشي معدول .حالانكه دا تعميم خلاف مقصود دے.

جواب: عدل په معني كون الاسم سره اسئله اربعه ؤ جواب اوشو ځكه چه كون هم محض وصف دے اوخروج هم په دے وجه حمل درست شو . په دے سره رومبے سوال مندفع شو. اوعدل په معني كون كيدو په وجه محض وصف دے لهذا ددے سبب جوړيدل هم درست شول. په دے سره دونم سوال هم مندفع شو .اوكون مصدر لازمي دے اوخروج هم . په دے درنم سوال مندفع شو اوعدل په معني كون الاسم كيدو په وجه تعميم هم ختم شو ځكه چه داسم معدول كيدل مراد دے نه دَمطلق شئ په دے سره څلورم سوال هم مند فع شو.

اے معترض صاحب : خروج په معني كون الاسم فحرجامو كړو ستاسو بل يوسوال هم ختم كړو چه سوال عدل بمعني كون داحاصل بالمصدر دے .حالانكه خروج ذات مصدر دے حالانكه دحاصل بالمصدر تفسير ذات مصدر سره باطل دے.

جواب: خروج بمعني كون الاسم كيدو په وجه داهم حاصل بالمصدر دے.

سوال: اسم نوم دے دمادة او دَصورت اوصيغه هم دَ عربو په نيزد دَصورت اومادة دمجموعه نوم دے په دے سره خودَ اخراج الكل عن الكل خرابي لازم راځي.لهذا د اتعريف غلط دے.

جواب: مونږ په تعريف كښے دَ بقائے مادة قيد لګولے دے چه په هغے سره دَصيغه نه مراد فقط هيّت اوصورت به شي. كماهو عند النحاة يعني داسم دخپل صورت اوشكل نه وتل د دونم صورت په طرف ليكن مادة بقي پاتے شي.

سوال: بياخويه داخراج الكل عن الجز خرابي لازم راشي.

جواب:داناجائز هغه وخت وي چه كله جزئين نه يو جزء دونم جزء بأندے مشتمل اومحمول نه وي

ورنه جائز کیږی او دلته هم صورت مادہ باندے مشتمل دے .

سوال: دعدل تعریف دخول غیر نه مانع نه شو اسماء مشتقه باندے صادق راځی مثلاً ضَارِبٌ ،مضروبٌ خپل اصلی شکل ضربٌ نه وتلے دونم شکل نے اختیار کړے دے .

جواب: معترض صاحب فوائد قیود کښے ونیلے شوی دی دَصیغه اضافت ضمیر طرفته کیدو سره مشتقات خارج شول ځکه چه مصدر دَ مشتقاتو اصل شکل نه دے.

سوال: بیاهم تعریف دخول غیرنه مانع نه شو اسماء محذوفة الاعجاز باندے صادق راځی. لکه یَدٌ دَمٌ په اصل کښے یَدَوٌ دَمَوٌ وو خپل اصل صورت نه وتلی دی؟

جواب: معترض صاحب داونیلے شوی دی چه دَصیغه په قید سره دااسماء محذوفة الاعجاز اوځی ځکه چه دَصیغه نه مراد صورت دے یعنی اصلی صورت بدل شی مگر مادہ باقی پاتے شی. اودغه اسماؤ کښے صورت اومادہ دواړه تبدیل دی.

سوال: بیاهم مانع نه شو مغیرات قیاسیه باندے صادق راځی مثلاً مَقُوْلٌ ، مبیعٌ دخپل اصلی صورت نه وتلی دی اومادهاصلی هم باقی دہ حالانکه عدل نه دے.

جوب: دَصورت سره دَ اصلیته په قید سره مغیرات قیاسیه اوځی ځکه چه دَصورت اصلیه نه خروج اوپه صورة اخریٰ کښے دخول دے خبرے سره مستلزم دے صورة اخری مغائر وی دصورة اصلیه په دے معنی چه صورة اصلیه دقانون موافق صورت اخریٰ دقانون مخالف وی. خلاصه دا راووتله چه دَ الاصلیة دقید نه دامعلومه شوه چه داسم تبدیلی بغیر دَقاعده قانون صرفی نه وی اومغیرات قیاسیه کښے تبدیلی قانون صرفی سره دے. لهذا تعریف صادق به نه راځی.

سوال: بیاهم تعریف مانع نه شو. مغیرات شاذه باندے صادق راځی مثلاً اَقْوَسٌ اَنْیَبٌ خپل اصلی شکل دَاقیاسٌ انیابٌ نه وتلی دی .ځکه چه ضابطه دہ چه اجوف چه کله دَفعل په وزن وی. ددے جمع دَافعال په وزن باندے راځی. اودا قوسٌ نابٌ اجوف فَعْلٌ په وزن باندے دے لهذا ددے جمع اقواسٌ انیابٌ شی ددغه اصلی شکل نه وتلے اَقْوَسٌ انیبٌ والی صورت نے اختیار کړے دے .شه مادہ هم باقی دہ اوشکل ثانی دَ شکل اول هم مغائر دے. په دے معنی اول په قانون صرفی دے اوثانی بلاقانون صرفی دے. لهذا دَعدل تعریف مع الشرائط صادق راځی. حالانکه دیته هیڅوک

عدل نه وانی.

جواب: مونبر دا خبره نه منو مغیرات شاذه دَخپل اصلی شکل نه خروج وی څکه چه اقوسٌ انیبٌ ابتداو هم خلاف قیاس قوسٌ اوناب نه جمع جوړه کړے شوه نه داچه دَقوسٌ نابٌ نه اولا اقوسٌ انیابٌ بیا اقواس،انیاب سے اقْوُسٌ اَنْیُبٌ که چرے داسے کیدے نوبیاهم دیته جموع شاذه به نه ویلے کیدے لهذا دلته خروج متحقق هیو نشته.

فائده: مولانا جامی ددے امثله ارېعو هم یوجواب کړو دے چه دَهغے حاصل دادے چه کله تعریف سره جمیع مادعا نه ممتاز کول مقصود نه وی بلکه دبعضے څیزونو نه جدا کول مقصود وی نوهلته تعریف بالاعم کول جائز دی.دلته هم عدل دَهغے څیزونو نه یعنی علل ثمانیه نه جدا کول مقصود دے .لهذا ددے تعریف جامع ومانع کیدل هیڅ ضروری نه دی اوددے سره مصنف بانـدے باندے ردنے هم اوکړه چه مصنف کافیه په چه دهغے هیڅ ضرورت نه ووڅکه چه تعریف بالاعم خوهم جائز دے.

جواب: دَمصنف د طرف نه داجواب ورکړے شوے دے. چه دَ متقدمینو په نیزد تعریف بالاعم جائزدے .لیکن دمتاخرینو په نیزد جائز نه دے بلکه ددوئ په نیزد دَتعریف دَشرائطو نه یوشرط دَتساوی دے (دَاحقر رساله اصطلاحات منطق اوګورئ) اومصنف هم دَمتاخرینو مذهب اختیار کولوسره تعریف جامع ومانع جوړولو دپاره داجوابات ورکړل.

تَحْقِيْقًا اَوْ تَقْدِيْرًا دَعدل دَتعریف نه پس دَتقسیم بیان دے. عدل په دوه قسمه دے.(۱) عدل تحقیقی (۲) عدل تقدیری

فائده: په عدل کښے دنحاتو اختلاف دے چه عدل سبب حقیقی واقعی دے یا سبب اعتیاری فرضی دے.دفاضل هندی او بعضے نحاتومذهب دادے چه داسبب حقیقی واقعی دے مثلاً ثلاث مثلث کښے عدل دَمخکښے نه وو اوروستو په غیر منصرف کښے لوستلے شوے دے .دمحققینو په نیزد سبب فرضی اعتباری دے په دے وجه چه نحویانو بعضے کلمات اوکتل چه غیرمنصرف لوستلے شوے اوسبب یو وو حالانکه ضابطه دا چه غیرمنصرف د دوه سببونو نه کیږی دلونے تبتع اوتلاش نه روستو چه کله دونم ملاؤ نه شو. نومجبوراً ئے عدل فرض کړو مثلاً ثلاث ،مثلث

غیرمنصرف لوستلے شول اوسبب یووو وصف اوبل هیڅ سبب نه وو نوعدل نے دضرورت اومجبورئ دلاسه دے فرض کړو لهذا عندالمحققین خواه عدل تحقیقي وي یاتقدیري دواړه فرضي او اعتباري تقدیري دي. ددے اختلاف په وجه دعدل تحقیقي او عدل تقدیري په تعریف کښے هم اختلاف دے ددینه مخکښے یوه خبره ذهن نشین کړئ. چه عدل مصدر مجهول په معنی معدول دے یعنی ویستلے شوے .دیته فرع اومعدول هم وئیلے شي .اود کومے کلمے نه ویستلے شوے وي هغے ته معدول عنه او اصل وئیلے شي اوس تعریف زده کړئ.

دعدل په تعریف کښے رومبے مذهب:فاضل هندي رضي اودعام نحاتو دے.

دعدل تحقیقي تعریف: خروجٌ محققٌ عن اَصْلٍ مُحَقَقٍ

دعدل تقدیري تعریف: خُرُوْجٌ اِعْتِبَارِيٌّ عَن اَصْلٍ اِعْتِبَارِيٍّ.

دوئم مذهب :دمحققینو دے.

دعدل تحقیقي تعریف:خُرُوْجٌ اِعْتِبَارِيٌّ عن اصلٍ محققٍ

عدل تقدیري:خُرُوْجٌ اِعْتِبَارِيٌّ عَنْ اَصْلٍ اِعْتِبَارِيٍّ.

یعنی دعام نحاتو په نیزد عدل تحقیقي کښے دواړه څیزونه حقیقة وي یعنی معدول عنه اصل هم حقیقي دے اوبیا ددینه عدل یعني خروج هم حقیقي دے.مثلًا ثلاث ددے معدول عنه او اصل (ثلاثةٍ ثلاثةٍ) هم حقیقة موجود دے بیا ثَلَاثَةٌ ثَلَاثَةٌ نه دثُلَاث اخراج هم حقیقةً موجود دے اوپه عدل تقدیري کښے یوڅیز یعنی خروج واقعي حقیقي وي. اودوئم څیز یعنی (معدول عنه اصل) محض فرضي اعتباري وي مثلًا عمر عدل تقدیري دے ددے اصل معدول عنه (عامرٌ) قطعاً نه دے مګر عامرِ فرضي نے جوړ کړے دے لیکن عمر دعامر نه خروج حقیقة واقعةً دے فرضي نه دے اود محققینو په نیزد عدلِ تحقیقي عدل تقدیري دواړو کښے خروج محض فرضي دے.مګر په عدل تحقیقي کښے معدول عنه اصل ثلاثة ثلاثة حقیقةً اود عمر اصل عامر فرضي دے مګر دثلاث خروج دثلاثه ثلاثة حقیقةً اود عمرا صل عامر فرضي دے مګر دثلاث خروج دثلاثه ثلاثة نه اودعمر داعامر نه دواړه فرضي اعتباري دي.

دعامو نحاتو دلائل: دمصنف قول تحقيقاً اوتقديراً د: دَ خروجًا صفت دے .ددينه دا واضحه شو چه عدل تحقيقي کښے خروج تحقيقي اوپه عدل تقديري کښے خروج تقديري فرضي وي.

دليل ثاني: عدل تحقيقي ديته ونيلے شي چه دهغے په اصل بأندے دغير منصرف لوستلو نه علاوه دليل موجود وي اومولاناً چه په اصل بأندے دليل وي بعينه په فرع بأندے هم دليل وي اوپه فرع بأندے دليل کيدل بعينه په خروج بأندے دليل دے چه کله په خروج بأندے دليل شو بيأپه عدل تحقيقي کښے خروج تحقيقي شو. اوعدل تقديري هغه دے .چه دهغے په اصل بأندے دغير منصرف لوستلو نه علاوه دليل موجود نه وي مولاناً چه کله په اصل بأندے دليل نه شو نوپه فرع بأندے هم نه شو چه کله په فرع بأندے نه شو نوپه خروج بأندے هم دليل نه شو نوپه عدل تقديري کښے خروج تقديري فرضي شو.

دليل ثالث: که چرے عدل دواړو کښے تقديري فرضي وي نو لازم به راشي تقسيم الشئ الیٰ نفسه والی غيره چه باطل دے .او دواړه کښے فرق به هم نه وي .

جوابات دَمحققينو دطرف نه :

داول دليل جواب: تحقيقاً تقديرًا بيشکه دخروجًا صفت دے مگر صفت بحاله نه دے .بلکه صفت بحال متعلقه اودَ خروج متعلق اصل معدول عنه تحقيقي يأتقديري وي.يعني حقيقت کښے تحقيقاً اوتقديراً دَمعدول عنه صفت دے.

د دوئم دليل جواب: دومره خبره خومنو چه الدليل علی الاصل دليل علی الفرع وي ليکن داهيڅکله نه منو چه دليل علی الفرع دليل علی الخروج وي. ځکه چه داسے ممکن دے چه اصل هم موجود وي اوفرع هم موجود وي مگر خروج نه وي لکه اقوس انيب .

ددرئم دليل جواب: دعدل تقسيم په اعتبار دَمعدول عنه دے. که چرے اصل معدول عنه محقق وي نوعدل تحقيقي که اصل مقدر وي نوعدل تقديري لهذا انقسام الشئ الی نفسه والی غيره خرابي به لازم رانشي.

خلاصه: عام نحاة دا تقسيم دَنفس عدل په اعتبار سره کوي اومحققين دَمعدول عنه په اعتبار سره .

ثُلَاثَ مَثْلَثَ دلته دَعدل دتقسيم نه پس مثالونه بيانوي ثُلَاثَ وَمَثْلَثُ داغير منصرف دي ځکه چه

دوه سببونه موندے شي.(۱) عدل(۲) وصف .دادعدل تحقيقي مثال دے په دے وجه چه ددے په اصل بأندے دغير منصرف لوستلو نه علاوه دليل موجود دے چه ددوئ اصل ثلاثةٌ ثلاثةٌ دے دليل دثُلاث معني درے درے اوډمثلث معني هم درے درے د دوئ په معني کښے تکرار دے .اوقاعده ده چه تکرار معني دلالت کوي په تکرار لفظ بأندے.

سوال: تثنيه اوجمع کښے هم دمعني تکرار وي حالانکه په لفظ کښے تکرار نشته.

جواب: په لفظ کښے هم تکرار دے ځکه چه تثنيه کښے الف مستقله کلمه ده اوپه جمع کښے واو مستقله کلمه ده.

سوال: ثلاثه ثلاثة کښے وصف عارضي دے .په دے وجه واضع دا دَعدد دپاره وضع کړل چه دَغير منصرف سبب وصف اصلي دے نه چه عارضي .

جواب: معترض صاحب ټيک ده چه ثلاثة ثلاثة کښے وصف عارضي دے مگر ثُلاث مثلث کښے وصف اصلي دے ځکه چه قاعده ده چه اَلعَدْلُ فِيْ حُكِمِ وَضْعٍ ثَانٍ لهذا وصفيت والا معني موضوع لهٗ او اصلي وضعي شو.

فائده: اُحَادُ مَوْحَدُ نه رباع مَرْبَعُ پورے بالاتفاق غير منصرف دي اوخماس مَخْمَسُ نه عَشَارُ مَعْشَرُ پورے بالاختلاف ليکن اصح داقول غير منصرف دي .

واُخَرُ:دا هم دَعدل تحقيقي مثال دے ځکه چه ددے په اصل بأندے دَ غير منصرف لوستلو نه علاوه دليل موجود دے .دَدے اصل اَلْاٰخَرُ يااُخَرُمِنْ دے.دليل اُخَرُ جمع ده دَاخريٰ اوخريٰ مؤنث ده دَاٰخَرُ اواٰخَرُ اسم تفصيل دے اوقاعده داده چه د اسم تفصيل استعمال په درو طريقو سره کيږي (۱)الف لام سره (۲) مِن (۳) اضافت سره اواُخَرُ دغه درو نه دَ هيڅ يوسره مستعمل نه دے دينه معلومه شوه چه دامعدول دے دَالاخرنه يا اُخَرُمن نه.

سوال:اضافت نه ولے معدول نه منے:

جواب: اضافت سره اومنو نومضاف اليه به محذوف منلے شي .حالانکه قاعده ده چه مضاف اليه حذف کړے شي نو دے صورتونو کښے يوصورت به شي. (۱) دَ مضاف اليه په عوض مضاف

بانـدے تنوین لکه یَومئذ حنیئذ (۲) یامضاف مبني علی الضم لکه قبل بعد (۳) یادمضاف تکرار لکه یا تیم تیم عدِیّ دلته درو نه هیڅ یونشته نورومبني دوه طریقے متعین شوے .

سوال: اٰخَرْ بیشکه په اعتبار دَاصل اسم تفصیل دے په معنی دَاَشدّ تاخیًرا مگر اوس په معنی دغیر مستعمل دے اوداسم تفصیل والامعنی ختم شوه.

جواب: حضرت جی اعتبار دَاصل وی نه دَ استعمال ددغه وهم دَازالے دپاره خومصنف ددے مثال انتخاب کړے دے. اوداهم ورسره یادساتئ چه په آخر کښے وزن فعل اووصف دے اوپه اخریٰ کښے الف مقصوره دے چه په دیکښے عدل نشته عدل چونکه اخر کښے وو په دے وجه دا مثال نے پیش کړو .

سوال: اُخَـرُ دَ الاخُـرُ نـه معدول منلوکښے هیڅ فائده نشته بلکه نقصان دے ځکه چه الاخر معرفه ده اواُخَرْ ذنکره اومعرفه فائده کښے دَنکره نه اعلیٰ وی لهذا د طلب ادنی من الاعلیٰ خرابی به لازم راشي.

جواب: دَاُخـر موصوف نـکـره وو پـه دے وجـه دَمـعـرفه نه معدول کړے شوے دے. چه په دیـکـښـے فـائده داده چه په دے سره موصوف صفت کښے مطابقت راشي ځکه چه په صفت موصوف کښے مطابقت واجب دے.

وَجُمَعْ: داغیـر مـنـصـرف دے پـه دیکښے دوه سببونه موجود دی. (۱) عدل (۲) وصف داهم دَعدل تحقیقی مثال دے ځکه چه ددے په اصل بانـدے هم دغیر منصرف نه علاوه دلیل موجود دے ددے اصل جُمْعٌ یاجُمَاعٰی یاجُمْعَاوات دے دلیل جُمَعُ جمع ده دَجمعاء مؤنث دے دَاَجْمَعْ فَعْلَاءُ دَمونث دوه قسمونه دی. (۱) فَعْلَاء صفتی چه ذات مع الوصف بانـدے دلالت اوکړي (۲) فَعلَاءِ اسمی چه محض په ذات بانـدے ولالت اوکړي قاعده داده دَفَعْلَاء صفتی جمع دَفُعْلٌ په وزن بانـدے راځي. لکه دَحمرا جمع حُمْرٌ اود فُعْلَاء اسـمـی جمع مکسر دَفعالی' په وزن بانـدے او جمع مونث دَفعلاوات په وزن بانـدے لکه دَصحرا جمع صحاری یاصحراوات فیما نحن فیه که چرے جمعاء فعلاء صفتی وی نودد ے جمع جُمْعٌ (بسکون الـمیـم) پـه وزن بانـدے پکارے ده. که فعلاء اسمی وی نوبیا جماعیٰ یاجمعاوات پکـار ده. حـالانـکه دادَجمعا جمع درے وزنونو نه په هیڅ وزن بانـدے نه ده بلکه جُمَعْ (بفتح المیم)

دے دینه معلومه شوه چه داجمع ددغه درے اوزانو نه دیووزن نه معدول ده .

سوال: جُمَعُ په معنی دَکل کیدو سره تاکیدی معنوی دپاره استعمالیږی اوتاکیداو وصف کښے منافات دے .لهٰذا دَوصفت اعتبار کولوسره غیر منصرف مقرر کول غلط دی.

جواب: معترض صاحب مخکښے هم مونږ ونیلی وو چه دَاصل اووضع اعتبار کیږی نه دَاستعمال په جمع کښے هم اصلاوضعاً صفت دے یادساتی دَجَمَعْ په شان کُتَعْ بُتَعْ بُصَعْ هم عدل تحقیقی اودَوصف په وجه غیرمنصرف به شی.

سوال: جموع شاذه اقوس ،انیب اص اقراس انیاب ییاهم دلیل موجود دے کماهر بیادَجمع په شان په دیکښے هم عدل تحقیقی منل پکار دی.

جواب: دَ عدل دپاره د دوه څیزولو کیدل پکار دی (۱) وجود اصل (۲) داصل نه دَ اخراج اعتبار وی دلته داخراج اعتبار وی دلته دَاخراج اعتبار نه دے کړے شوے په دے وجه خوشاذه مقرر کړے شو.

نَحْوَ عُمَرَ دَعدل تحقیقی دَمثالونو نه پس دَعدل تقدیری دَ مثالونو بیان:عمر کلام عرب کښے غیرمنصرف لوستلے شو. نحویانو اوکتل چه سبب یو علمیت اوسبب واحد کافی لمنع الصرف نه وی. په دے وجه مجبوراً عدل نے فرض کړو چه دامعدول دے دَعامر نه داعدل تقدیری دے .ځکه چه اصل معدول عنه یعنی عَامِرٌ بانددے دغیر منصرف نه علاوه دلیل موجودنه دے .

سوال: عمر کښے عدل تقدیری منل مستلزم دَدور دے په دے وجه چه تقدیر عدل موقوف دے دَعمر غیرمنصرف لوستلو باندے. اودَعمر غیرمنصرف لوستل موقوف دے عدل تقدیری باندے کماهوالظاهر دا تَوَقُّفُ الشَّیِ عَلٰی نفسه چه دور او باطل دے واللازمه باطل فالملزوم مثله.

جواب: معترض صاحب ستاسو لویه غمره کړی ده لیکن زیاتی سور اوکړی دور دپاره د اتحادجهت توقف شرط دے چه مقصود دے ځکه چه عمر کښے تقدیر عدل باندے غیر منصرف موقوف بِحَسْبِ الذهن اودَغیر منصرف په عدل باندے موقوف کیدل بحسب الخارج دے.

فائده: عمر نوم دے ددونم خلیفه سخر دنبی علیه الصلوٰة والسلام چه زوم دَعلی رضی الله عنه دے چونکه دَعدل وانصاف مخزن او منبع وه په دے وجه ددهٔ نوم نامی اسم گرامی کښے هم عدل دے.

بَابِ قَطَامِ فِيْ تَمِيْمٍ دعدل تقديري دونم مثال قطام دامعدول دے قَاطِمَةٌ نه چونکه په دے اصل باندے دليل نشته په دے وجه عدل تقديري دے . قطام سره (باب) لفظ نے راوړو قاندے طرفته نے اشاره اوکړه چه دَقطام نه مراد هر هغه اسم دے چه دَفعال په وزن باندے وي اوډاعيان مؤنثه علم وي اوغير ذات الراء وي. يادساتئ په ديکښے دَعدل تقديري اعتبار دغير منصرف دپاره نه دے بلکه نظائر باندے محمول کولود پاره .

تحقيق مقام: دفعال څلور قسمونه : (۱)فَعَالِ اَمْرِي يعني هغه فعال چه دَامر حاضربه معني کښے وي لکه نزال په معني دَاَنْزِلْ.(۲) فعال مصدري يعني چه دَمصدر معرفه په معني کښے وي لکه فَجَارِ په معني دَالفُجُوْر(۳) فعال صفتي يعني چه دَصفت په معني کښے وي لکه فساق په معني دفاسقٌ (۴) فعال علمي يعني چه دأعيان مؤنثه نه دَچاعلم وي. دَفعال علمي دوه قسمونه دي.(۱) ذات الراء وي لکه حضَارِظَمَارِ (اوچت ځائے) دَ(ستوري نوم) (۲) غيرذات الراء لکه قَطَامِ غلاب .

دړومبي قسم حکم: دادے چه مبني دے په دے وجه چه ددے مبني الاصل فعل دَامر حاضر په معني کښے اوددے په ځائے باندے واقع دے .دَدونم اودرنم قسم حکم دادے چه دادواړه قسمونه هم مبني دي په دے وجه چه ددے مشابهت دَفعال امري سره دے دوه خبروکښے (۱) په اعتبار دَوزن چه واضح دے(۲) په اعتبار دَعدل.

فائده: دَاسماء افعال فعال کښے عدل موندے شي. دَعدل ضرورت په دے وجه پيښ شو. چه قاعده ده چه کله هم په فعل کښے دَدوام او استمرار معني مقصود وي نوداپه اسم سره تبديل کولے شي. لهذا په ديکښے عدل موندلے شوے دے. دا معدول دي دَاَنْزِلْ اُتْرُكْ نه چه لکه څه رنګ ړومبے قسم(فعال امري) کښے عدل دے. دغسے په ديکښے عدل دے. فَجَارِ معدول دے دَالفجور نه اوفساق معدول فاسقٌ نه .

دَڅلورم قسم حکم :ددے په حکم کښے درے مذهب دي .

ړومبے مذهب:. دَاهل حجاز مذهب دادے چه څلورم قسم فعال علمي مطلقاً خواه ذات الراء وي ياغيرذات الراء مبني دي .چه تمام باب فعال حکم يوشي په ديکښے عدل فرض کوي.چه دَفعال امري سره عدلاً مشابهت راشي.

دوئم مذهب: دَبعضے بنوتمیم دادے چه فعال علمی مطلقاً معرب غیرمنصرف دے ځکه چه دوه سببونه موجود دی. (۱) علمیت (۲) تأنیث ددویٔ په نیزد دَعدل تقدیری منلو ضرورت نشته.

درئم مذهب: دَاکثر بنو تمیم دادے .چه فعال علمی ذات الراء اوغیرات الراء کښے فرق کوی. (۱) ذات الراء مبنی دہ (۲) غیرذات الراء معرب غیر منصرف دے عدل تقدیری دواړه کښے شته په اول کښے عدل فرض کوی مبنی کیدو دَپاره ځکه چه دوه سببونه علمیت اوتأنیث مبنی کیدو دَپاره ناکافی دی. اوثانی کښے حمل علی النظائر دپاره فرض کوی .

سوال: اکثر بنوتمیم فعال علمی ذات الراء اوغیرذات الراء کښے فرق ولے کوی ؟

جواب: دذات الراء په اخرکښے راء دہ چه دَاماله تقاضا کوی. اوامالہ تقاضا کوی دَمبنی په کسره کیدو په دے وجه دامبنی دے پخلاف دغیر ذات الراء ددے په اخر کښے راء نشته .

سوال: دلته دهغه عدل بحث وو چه دَمنصرف سبب وومصنف دغه عدل چه دَحمل علی النظائر په وجه فرض کیدے شو هغه ئے ولے بیان کړو.

جواب:صاحب متوسط جواب اوکړو چه مونږ ته دَکافیه یوه نسخه مقروٴة علی المصنف ملاؤ شوه چه په هغے کښے دَباب قَطَامِ هیڅو ذکر نشته دهغے نه معلومه شوه چه مصنف خپله حذف کړوځکه دَمقام سره مناسب نه وو؟

جواب: مصنف باب قطام ذکر کړو صراحت ئے اوکړو چه دحمل علی النظائر په وجه عدل تقدیری وی اواشاره ئے اوکړه چه مبنی کښے هم عدل تقدیری وی .چه طالبعلم دا ذهن نشین نه کړی چه عدل تقدیری فقط غیر منضرف دپاره وی . بلکه عدل درو وجونه فرض کیدے شي. واللّٰه اعلم وعلمه اَتَم وَاَحْکَمْ.

فائده:عدل اوتضمن کښے دعموم خصوص من وجه نسبت دے چه په هغے کښے درے مادے وی.(۱) مادہ اجتماعی آمسِ معدول دے دَالا مس نه او متضمن لام تعریف ته هم دے .(۲) مادہ افتراقی لارجلّ فی الدار مغنی مِن ته متضمن دہ مگر عدل نه دے (۳) مادہ افتراقی (۲) ثلث مثلث عدل خودے لیکن تضمن نه دے .

دوئم سبب وصف:

اَلْوَصْفُ: دَعدل نه پس دوئم سبب وصف بیانوی.

سوال: دعدل تعریف نے کړے دے مګر دَوصف نے ولے اونه کړو؟معترض صاحب دَعدل په تعریف کښے خفاء وه په دے وجه هغه نے بیان کړو باقي دهیڅ یوسبب تعریف نے اونه کړو لیکن مونږ ستاسو ته وایو دَوصف لغوی معنی بیانول اصطلاح دَنحاتو کښے دوه معانے مستعمل دی(۱) الوصف تابع علیٰ معنیً فی متبوعه .وصف هغه تابع دے .چه دَخپل مبتوع په معنی باندے دلالت اوکړی. (۲) کَوْنُ اَلِاسْمِ دَالًّا علی ذاتٍ مُبْهَمَةٍ مَاْخُوْذَةٍ مَعَ بَعْضِ صِفَاتِهَا وصف هغه کلمه ده چه په یوداسے ذات باندے دلالت اوکړی چه په هغے کښے دَیووصف لحاظ کړے شوے وی بیاد وصف دوه قسمونه دی(۱) که چرے دلالت بحسب الوضع وی نووصف اصلی به وی لکه اَحْمَرُ(۲) اوکه دلالت بحسب الاستعمال وی نووصف عارضی به وی لکه مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ.

شرطه ان یکون فی الاصل:دَوصف دَتاثیر اوسبب جوړیدو دپاره شرط دادے چه وصف اصلی وضعی وی یعنی په وخت دَوضع کلمه کښے موجود وی. اووصف عارضی یعنی چه په وخت دَوضع خوپه کلمه کښے موجود نه وی لیکن په استعمال کښے اوموندے شي. دادَغیر منصرف سبب به نه شي.

سوال: وصف دَپاره داصل شرائط نے ولے اولګول؟

جواب: غیر منصرف کښے اصل خلاف اصل طرفنه منتقل کیږی چه دَهغے دَپاره سبب قوی کیدل ضروری دی او وصف عارضی سبب ضعیف دے ځکه چه عارضی فی محل الزوال وی.

سوال: الاصل معرفه ده چه مخکښے دَعدل تعریف الاصلیته کښے مذکوره دے او:

قاعده ده چه: اَلْمَعْرِفَةُ اِذَاأُعِيْدَتْ مَعْرِفَةً تَكُوْنُ عَيْنَ اَلْاُوْلیٰ. لهذا هلته دَاصل معنی قاعده اوقانون وو دلته هم همهغه به وی اوس به مطلب داشی چه وصف دَقاعده او قانون مطابق وی اومَرَرْتُ بِنسوةٍ اربع کښے (اَرْبَعٍ) وصف دَقانون مطابق دے حالانکه داوصف سبب نه دے.

جواب: الاصل باندے الف لام عهد خارجی دے چه دَهغے نه مراد وضع ده.

سوال: فی دَظرفیت دپاره اوالاصل نه ظرف زمان او نه ظرف مکان.

جواب: فی په معنی دَعند یعنی دَوصف شرط دادے چه په وخت دَوضع وی.

فلا تضره الغلبة: فاء تفريعيه ده يافافصيحيه ده چه شرط دَمقدر په جزاء باندے وی تقدیر عبارت: إِذَا كَانَ الْاَمْرُ ذٰلِكَ فَلَا تَضُرُّهُ الْغَلَبَةُ چه كله سبب جوړيدو دپاره دَوصف اصلي وضعي كيدل شرط دی نوبیا په استعمال كښے بے شكه وصفيت زائل كيدو سره اسميت غالب راشي نوبيا هم سبب جوړيدو دپاره سببيت مصر دمانع نه دے ليكن زوال بالكليه نه وی.

سوال: كه چرے أَسْوَدُ دَ يورحل ابيض نوم كيښودے شي نودا په منصرف شي حالانكه وزن فعل اودوصف الي په وجه غير منصرف كيدل پكار وو چه دَ دينه معلومه شوه چه غلبه دَاسميت وصف دَپاره مضراء مانع نه دے.

جواب: معترض صاحب ستاسو غلبه دَاسميت په معنى هډوپوهه شوی نه یئ. چه داسم خپلو افرادو نه دَبعضے افرادو سره په داسے طريقه خاص كيدل چه په دے باندے دلالت كولو كښے دَقرينه محتاج نه وی لكه اسود دَهر تور څيزدَپاره وضع كړے شوے دے .چه دَهغے ډير فراد دی .په ديكښے تور مارهم دے اوس أَسْوَدُ دَ تورمار سره خاص شوے دے. چه كله هم اسود اونيلے شی بغير دځه قرينے نه نوذهن كښے تور مار راځي. اومادَه نقض كښے ابيض باندے دَاسود اطلاق كړے شوے دے .چه دَ سرنه ددے فرد هډو نه دے.

فلذلك صرف اربع فى مررت بنسوته اربع وامتنع اسود وارقم فاتفريعيه اور لام تعليليه ذالك دَاسم اشاره مشار اليه سابقه دواړه امر دی.(۱) اصالة وصفيت(۲) عدم مضرت غلبه دَامر اول نتيجه داده چه مررت بنسوة اربع كښے (اربع) منصرف دے ځكه چه وصف اصلي نه دے عارضي دے دَامرثاني نتيجه داده.چه أَسْوَدُ او أَرْقَمُ او أَدْهَمْ كښے باوجود دَغلبه اسميت على الوصفيت غير منصرف دے .دَغلبه اسميت على الوصفيت تفصيل دَأَسْوَدْ وضع هر تور څيز دَپاره ده مگر اوس ددے دَافرادو نه دَتور مار نوم كيښودلے شوے دے. دغه رنگ دَارقم په وضع باندے دَهغه څيز دَپاره دے چه په هغے كښے سواد اوبياض مگر اوس دَ هغے دَافرادو نه دَمار نوم كيښودلے شوے دے چه په هغے كښے سواد اوبياض اوادادهم وضع دے دَهر هغه څيز دَپاره چه په هغے كښے دُهْمَةٌ (توروالے) وی مگر اوس دهغے دَافرادو نه دَتورے اوسپنے دَبيړۍ نوم كيښودلے شوے

دے .دا درے وارد اسمونه دَغلبه اسمیت په وجه دَوصفیت نه خارج شول لیکن وصفیت بالکلیه زائل نه شو بلکه من وجه باقي دے په دے وجه داخپلو معانیو اصلیو کښے هم استعمالیږي .

فائده: علمیت اوغلبه اسمیت کښے فرق دادے چه غلبه اسمیت سره معنی وصفی بالکل ختمیږي نه اوعلمیت سره معنی وصفی بالکل ختمیږي.

وَضَعُفَ مَنْعُ اَفْعٰی لِلْحَیَّةِ وَاَجْدَلْ لِلصَّقْرِ اَخْیَلْ لِلطَّائِرِ داجمله دسوال مقدر جواب دے.

سوال: داکیږي چه کله وصف اصلی دپاره غلبه دَاسمیت مضرنه دہ نو اَفْعٰی ،اَجْدَلْ،اَخْیَلْ دَوصف اصلی اووزن فعل په وجه غیرمنصرف کیدل پکار دي. حالانکه ددے منصرف کیدل قوی دي غیرمنصرف کیدل ضعیف دي باقي پاتے شوه داخبره چه په دیکښے وصف اصلی څه رنګ دے افعیٰ مشتق دے دَفَعْوَةٌ نه په معنی دَهر خبیث څیز مګر روستو دادَمار نوم نے کیښودلے دے .دغه رنګ اَجْدَلْ مشتق دے دَجَدْلٌ نه په معنی دَقوة مګر روستو د امختص شو. دشکرے سره دغه رنګ اَخْیَلْ مشتق دے دَخیلان نه په معنی دتوره نقطه دار مګر روستو داخاص شو دَیومارغه سره (الو)(ګونګے مارغه) یاتیتر لهذا وَصف اصلی باوجود منصرف لوستل دلیل دے چه غلبه دَاسمیت مضردے.

جواب: معترض صاحب داخبره تیک دہ چه ددے غیرمنصرف کیدل ضعیف دي لیکن غلبه اسمیت په وجه سره نه بلکه په دے وجے سره چه په دغه اسماؤ کښے دَ وصف موندل یقیني نه وو ظني اووهمي وو او دَغیر منصرف سبب وصف اصلي یقیني وی نه ظني .

سوال: که چرے په دیکښے دَ وصف اصلی کیدل قطعي نه وی نو عدم وصیفت هم خویقیني نه دے. نوبیا انصراف اوعدم انصراف یوشان کیدل پکار دي. حالانکه غیر منصرف کیدل ضعیف دي. اومنصرف کیدل قوی دا ولے ؟

جواب: چونکه په اسماؤ کښے اصل انصراف وو په دے وجه منصرف لوستل راجح دي.

دریم سبب تانیث :

اَلتَّانِيْثُ بِالتَّاءِ شَرْطُهٗ الْعَلَمِيَّةُ دَوصف دَفراغت نه پس دریم سبب تانیث بیانول غواړي ابتداً دَتانیث

دوه قسمونه دی. (۱) تانيث بالالف (۲) تانيث بالتاء.

بيا دَ تانيث بالالف دوه قسمونه دی. (۱) تانيث بالف مقصوره (۲) تانيث بالف ممدوده ددے دواړو سبب جوړيدو دَپاره هيڅ شرط نشته. بلکه يوسبب قائم مقام دَ دوه سببونو دے. کمامر.

فائده: تانيث دپاره پنځه شرطونه دی (۱) تاء زائده وی (۲) تاء متحرک وی (۳) دَتاوء ماقبل مفتوح وی (۴) دَاسم په اخر کښے وی (۵) هغه تاء حالت وقف کښے په هاسره بدله شی. ديته تانيے ممدوده ونيلے شی ددے په مقابله کښے تاء طويله ده. لکه اخت وغيره د. تانيث بالتاء دوه قسمونه دی (۱) تانيث لفظی (۲) تانيث معنوی. که چرے تاء ملفوظ تانيث لفظی سبب جوړيدو دَپاره علميت شرط دے.

سوال: ستاسو تانيث لفظی دپاره دَعلميت شرط لګولے دے حالانکه ظلمةٌ کښے علميت نشته مګر تانيث موجود دے.

جواب: دَعلميت شرط وجود تانيث دَپاره نه دے بلکه تاثير دَپاره. دغسے معترض صاحب يادساته چه دَغير منصرف په اسبابو کښے چه کوم شرطونه دی هغه دَتاثير اوسبب جوړيدو دَپاره دی موجوديدو دَپاره نه دی.

سوال: تانيث بالتاء دَپاره دَعلميت شرط ئے ولے اولګولو؟

جواب: وجه اول: تانيث بالتاء عارضی شيز دے. اوهر عارض محل زوال کښے وی چه دَعلميت په وجه کلمے ته تانيث به لازم شی. ځکه چه قاعده ده چه: اَلْاَعْلَامُ لَا تَتَغَيَّرُ بِقَدْرِ اَلْاِمْکَانِ.

علم حتی الامکان تغير تصرف نه محفوظ وی مګر ضرورة لکه منادی مرخم کښے تغير کيږی.

وجه ثانی قاعده: اَلْعَلَمُ فِیْ حُکْمِ وَضْعٍ ثَانٍ. علم ګويا چه دَکلمه وضع ثانی وی. اوقاعده ده چه دَکلمه کومو حروفو باندے وضع اوشی نو هغه حرف دکلمے نه جداکيږی نه. لهذا چه کله مونث بالتاء دَچاعلم کيښودے شو نو هغه تاء تانيث ددے نه په جدا کيږی. نه.

سوال: لزوم علت غير منصرف کښے اعتبار کوی اوعلت بناء کښے ولے نه حالانکه منبی کيدل دَغير منصرف نه اقویٰ اواعلیٰ دے. ځکه چه غيرمنصرف کښے فقط جر اوتنوين سلب کيږی

.اومبنی کښے اعراب بالکلیة مسلوب وی .لهذا لَارَجُلَ اَحَدَ عَشَرَ مبنی نه وی ځکه چه علت دَبنا عارضی دے.

جواب: علت بناء امثله مذکوره کښے اقویٰ دے اگر چه یوازے دے.

وَلْمَعْنَوِیُّ کَذٰلِکَ دَتانیث معنوی تشبیه ورکړے شوی ده . دَتانیث لفظی سره په اشتراک علمیت کښے یعنی علم دواړو دَپاره شرط دے مگر فرق دے.

سوال: چه کله تانیث لفظی اومعنوی دواړه دپاره علمیت شرط دے نوبیا دواړه ئے جدا ولے ذکرکړل یوځائے به ئے ذکر کړے وے؟

جواب: دواړو کښے فرق وو چه تانیث لفظی کښے علمیت وجوب منع صرف دپاره شرط دے. اوتانیث معنوی کښے جوازمنع صرف دپاره په دے وجه دواړه ئے جدا جدا ذکر کړل .

وَشَرْطُ تَحَتُّمِ تَأْثِیْرِہٖ الزِیَادَةُ علی الثَلَاثَةِ اَوْ تَحَرُّکُ الْاَوْسَطِ اَوْ الْعُجْمَةُ دَتانیث معنوی دَ وجوب تاثیر دپاره احدالامور الثلاثه شرط دے چه کله زائد علی الثلاث وی یاثلاثئ متحرک الاوسط وی یاعجمه وی .

سوال: تانیث معنوی کښے دَوجوب تاثیر دَپاره دَعلمیت نه علاوه احدالامور الثلاثه ولے شرط مقرر کړے شو. اوتانیث لفظی دَپاره ولے نه؟

جواب: که چرے تانیث معنوی کښے دغه امورشرط مقرر نه کړے شی نوکلمه به ثلاثی ساکن الاوسط عربی شی .چه په دیکښے کمال خفت به شی چه کله دغیر منصرف دَاسبابو دپاره قوی اوثقیل کیدل ضروری وو په دے وجه ددغه امورو شرط ئے اولګولو چه ثقل اوقوة پیداشی . دامراول نه ثقل دارنګ دے چه حرف رابع قائم مقام تاء تانیث لفظی به شی دامر ثانی نه په دے طریقه چه حرکة الاوسط دَحرف رابع قائم مقام به شی وَامرثالث نه دارنګ چه دَ عجمیانو زبان عربیانو دَپاره مشکل اوثقیل وی.

فَهِنْدٌ یَجُوْزُ صَرْفُهٗ وَزَیْنَبُ وَسَقَرَ وَمَاهُ وَجُوْرُ مُمْتَنِعٌ

شرائط مذکوره دَتفریع بیان هِنْدٌ منصرف لوستل جائز دی. ځکه چه وجوبی شرط احد الامور الثلاثه

نه هیڅ پوښتنه. البته غیرمنصرف لوستل هم جائز دی. ځکه چه دوه سببونه موجود دی تانیث معنوی ،علمیت اوزینب سقر ماه جور غیرمنصرف لوستل واجب دی. ځکه چه په دیکښے داحد الامور الثلاثه والا شرط وجوبی موجود دے. په اول کښے زیاده علی الثلاث اوثانی یعنی سقر کښے متحرک الاوسط او ثالث یعنی ماه جور کښے عجمه ده.

فَإِنْ سُمِّيَ بِهِ مُذَكَّرٌ فَشَرْطُهُ الزِّيَادَةُ عَلَى الثَّلَاثَةِ تانیث معنوی دپاره احدالامور الثلاثه هغه وخت شرط دے چه کله دمؤنث علم وی. که دیومذکر علم وی نوبیا فقط داشرط دے. (احدالامور الثلاثه) کافی به نه وی. ځکه چه دمذکر علم کیدو سره تانیث بالکل ختم شو. لهذا منع الصرف دپاره دشرط قوی ضرورت وو اوهغه شرط دادے چه هغه کلمه زائد علی الثلاث وی. په دے وجه حرف رابع نائب دے د تانیے تانیث په خلاف دتحرک الاوسط داخو نائب النائب دے. ځکه چه دانائب دے دحرف رابع اوحرف رابع نائب دے دتانیے تانیث لهذا ددے اعتبار به نه شی کیدے. دغه رنګ عجمه هم سبب ضعیف دے ددے به هم اعتبار نه شی کیدے.

فَقَدَمٌ مُنْصَرِفٌ وَعَقْرَبُ مُمْتَنِعٌ دماقبل په شرط باندے تفریع چه قَدَمٌ چه خپله معنی جنسی اله المشی په وجه مؤنث سماعی معنوی دے.

که چرے دادیومذکر نوم کیښودے شی نومنصرف به وی ځکه چه تانیث بالکلیه ختم شو. نه خوحقیقتاً باقی دے ځکه چه دمذکر علم جوړشو اونه حکمًا ځکه چه حرف رابع نه دے چه نائب وی دتانیے تانیث.

عقرب خپله معنی جنسی په وجه مؤنث معنوی دے. که چرے دا دیومذکر علم کښودے شی. نوغیر منصرف به شی. په دے وجه چه شرط موجود دے چه حرف رابع قائم مقام دے دتانیث لهذا حکمًا تانیث باقی دے.

تحقیق مقام: مصنف خو یوشرط ذکر کړو لیکن حقیقت دادے چه ددے دپاره درے شرطونه نورهم شته.

شرط اول: په دیکښے تانیث حقیقی وی تاویلی نه وی. احترازی مثال: کِلَابٌ داپه تاویل دجماعة

مؤنث معنوي دے. اوزائد على الثلاث هم دے مگر غیرمنصرف نه دے ځکه مؤنث تأويلي دے حقيقي نه دے.

شرط ثاني: مغه تانيث دَمذكر نه منقول نه وي يعني رومبے مذکر بيامؤنث بيادَمذكر علم شي. نوددغه تانيث هيڅ اعتبار نشته دا تانيث دَعلمين مذكرين ترمينځ واقع دے. بمنزله دَطهر متخلل چه لكه څه رنګ ددے اعتبار نشته نودغه رنګ ددے هم اعتبار نشته.

شرط ثالث: مغه كلمه دَتانيث په مذكركښے استعمال نه وي بيادد ے ځلور صورتونه دي. (۱) دغه كلمه دَتانيث په مذكور كښے استعمال غالب وي ددے حكم دا دے چه ددے غيرمنصرف لوستل ناجائز دي. (۲) مذكر اومؤنث دواړو كښے استعمال برابر وي. ددے غير منصرف لوستل اولیٰ دي. (۳) فقط هم په مؤنث كښے استعمال وي. نودغے غير منصرف لوستل واجب دي.

ځلورم سبب معرفه:

اَلْمَعْرِفَةُ شَرْطُهَااَنْ تَكُوْنَ عَلَمِيَّةً

اسباب منع صرف نه دسبب رابع دمعرفه بيان دے.

سوال: معرفه دَاسباب منع صرف نه شمارل غلط دي. ځكه چه معرفه خوذات معين ته وئيلے شي. او اسباب خودَقبيلے دَاوصافو نه ودي؟

جواب: المعرفة مصدر ميمي دے. په معنیٰ دَالتعريف اوتعريف وصف دے.

جواب: معرفه محل دے او تعريف حال دے. دادَمن قبيل ذكر المحل وارادة الحال دے.

سوال: دَ(اَنْ) دَ دخول په وجه دَكونها په تاويل كښے دے اوپه علميت كښے ياء دتاء دَمصدريت ده چه دَكون په معنی كښے دے اوس حاصل عبارت به داشي شرطها كونها كونها علمًا په دے بانده سوال كيږي چه دَكون تكرار لازم راځي.

جواب: (تسليمي) په علميت كښے ياء اوتاء دَمصدريت دي ليكن دَكون اول نه مراد جنس دے. اودَكون ثاني نه مراد نوع يعني دَجنس تعريف دَپاره شرط داد ے چه نوع دَعلم نه وي ځكه چه تعريف جنس دے چه ددے دَپاره متعدد انواع وي.

جواب: (انكاري) چه په علميت كښے ياء كنسبت ده د. مصدريت نه ده اي شرطها ان تكون منسوبةً

الى العلم

سوال:دَمعرفه سبب جوړېدو دَپاره علميت نے ولے شرط مقرر کړو باقي اقسام سبب ولے نه شي جوړېدے.

جواب: دَمعرفه باقي اقسامو کښے دَسبب جوړېدو هډو صلاحيت نه وو ځکه چه مضمرات ،موصولات اشارات دامبني اوغير منصرف معرب دے. دونمه وجه دادة چه يوضد دَبل ضد سبب نه شي جوړيدے. اوتعريف بالّلام ددغه تعريف بالاضافة غير منصرف منصرف جوړوي. نودَغير منصرف سبب څه رنګ جوړيدے شي. باقي پاتے شوة معرفه بالنداء هغه اګر مفرد معرفه دے نومبني اوكه مضاف ياشبه مضاف وي نومعرف بالاضافة كښے به داخل شي. اوكه نكرة وي نودغسے خارج .لهذا فقط علميت يوداسے قسم وو چه دَغير منصرف سبب جوړيدو.

سوال: چه كله هم علميت سبب جوړيدو نوبيا عنوان هم دَالعلمية قانمول پكار وو چه اختصار شوے دے اودغسے دَكافيه خپل ماخذ مفصل سره موافقت به هم راغلے وے.

جواب: تمام اسباب منع صرف د دوئم ځيز فرع وو. اودَمعرفه فرع كيدل دنكرة دَنه دااظهر دے بنسبت دَعلميت په دے وجه علميت فرع دة دَنكرة په واسطه دَمعرفه په دے بناء بانددے المعرفه نے سبب مقرر كړو چه ددے فرعيت واضح شي.

پنځم سبب عجمه :

اَلْعُجْمَةُ دَاسباب منع صرف نه سبب خامس عجمه دة .دَعجمه تعريف چه غير عربي لفظ وي او په عربئ كښے استعمال وي.

سوال: عجمه دَغير منصرف داسبابو نه شمار كول غلط دي .په دے وجه چه عجمه خوداسے لفظ ته ونيلے شي چه هغه غير عرب وضع كړے وي اوعجمه په دے معني عين اسم دے. حالانكه اسباب منع صرف خواوصاف دي نه مَنْ قَبِيْلِ الذَّوَات.

جواب: دلته دَعجمه كون اَللَّفْظِ مِمَّا وَضَعَهُ غَيْرُ الْعَرَبِ يعني ديولفظ دَهغه الفاظو نه كيدل چه هغه غير عربو وضع كړي وي اوعجمه په دے معني دَاوصافو نه دة.

شَرْطُهَاآنْ تَکُوْنَ عَلَمِیَّةً فِیْ الْعُجْمَةِ دَعجمه دَتاثیر دَپاره دوه شرطونه دي.

رومبی شرط:دَعجمه سبب جوړېدو دَپاره دَعلمیت شرط نـے ولـے اولګولو .

سوال: دَعجمه سبب جوړېدو دَپاره دَعلمیت شرط نـے ولـے اولګولو.

جواب: دَعـربو عادت دے چه دَکوم لفظ تلفظ ګران ګنړي په هغـے کښے تغیرو تصرف کوي حتی چـه عربي لفظ ولـے نه وي. اوعجمي لفظ چه کله دَ عربیت په طرف منتقل وي نودا به هم ثقیل شي لهٰذا ددهٔ دَتـغیر وتصرف نه محفوظ ساتلودَ پاره دَعلمیت شرط نـے اولګولو چه ثقل باقي پاتـے شي ځکه چه اعلام حتی الامکان دَتغیر وتصرف نه محفوظ وي.

سوال: ستـاسـو دَعـجمه دَپاره شرط اولګولو چه په عجمي ژبان کښـے علم وي نو قانون په عجمي ژبان کښــے عـلم نه دے في لغة الروم هر عدده اوکره څیز ته وئیلـے شي بیا چه کله عربیت طرفته منتقل شو نـوعـلـم جوړشو چه دَیوقاري نوم دے ددغه قانون منصرف کیدل پکاروو حالانکه دا غیر منصرف دے.

جواب: عـلـمیت کښـے تـعمیم دے .خواه حقیقة عجمه کښـے علم وي لکه ابراهیم یاحکمًا علم وي .لـکـه قـانون اوحکمًا علم کیدو مطلب دادے چه په عجمه کښـے خوعلم نه وو مګر عربو چه کله دے نـقـل کـړو نـوبـغیـر دَڅـه تـغیـر اوتـصرف دَچاعلم ئـے کیښودو چونکه چه څه رنګ علم حقیقي دَتغیر وتبدیل محفوظ وي نودغه رنګ داهم محفوظ دے او ددے نقل باقي دے.

خلاصه: دادہ چه دَعجمه دعلم کیدو درے صورتونه وي(۱) عجمه کښـے علم وو او په وخت دَانتقال هـم علم لکه ابراهیم (۲) په عجمه کښـے علم نه وو مګر انتقال الی العرب په وخت تغیر وتبدیل نه علم کیښـودے شـوے وي. (۳) نـه پـه عـجـمـه کښـے علم وي اونه په وخت دَانتقال علم وي بلکه تغیر وتـصـرف نه پس علم کیښودے شي .لکه لجام دابه سبب جوړ نه شي اومنصرف به شي. اوړومبي دواړو صورتونو کښـے به سبب جوړېدو سره غیرمنصرف به شي.

فائده: دَکون دَتکرار والاسوال دلته هم به وارد شوے وے مګر المعرفه کښـے دوه جوابونه ئـے نه ورکـړي وو دلتـه بـه فـقط یوجواب کیږي چه یاء نسبت دہ باقي پاتـے شو دوئم جواب یاء تاء مصدریه والاهغه جواب دلته نه جوړیږي ځکه چه ماقبل کښـے دَمعرفه انواع وو اودلته دَعجمه هیڅ یونوع نشته.

وَتَحَرُّكُ الْاَوْسَطِ اَوِالزِّيَادَةُ عَلَى الثَّلَاثَةِ دعجمه سبب جوړیدو دپاره دونم شرط داد ے چه احدالامرین شرط نے ولے اولګولو.

جواب:عجمه کښے دائقل اعتباري څیز د ے اودغیر منصرف داسبابو دپاره دقوي ثقل ضرورت وو .په د ے وجه ئے داشرط اولګولو . چه دغه ثقل دعقلی درجے نه اوځي درجه دمحسوس ته راشي.

فَنُوْحٌ مُنْصَرِفٌ وَشَتَرُ وَاِبْرَاهِيْمُ مُمْتَنِعٌ لوح دا دشرط ثانی په انتفاء باند ے متفرع د ے چه ابراهیم ادا دشرط ثانی په وجود باند ے متفرع د ے یعنی دا غیر منصرف د ے .ځکه چه دوه سببونه پیاموندلے شي.(۱) عجمه (۲) علم شرط ثانی هم موجود د ے شتر ثلاثی متحرک الاوسط د ے او ابراهیم زائد علی الثلاث د ے.

سوال: صاحب کافیه دشرط اول په انتفاء باند ے تفریع ولے بیان نکړو؟

جواب: دعلامه ابن حاجب دنوحٌ سره غرض تفریع بیانول نه دي بلکه یوه مسئله اختلافی کښے ما هو المختار بیانول دي.

مسئله اختلافي :دعلامه جارالله زمخشری مذهب داد ے چه عجمه کښے فقط علمیت وي نوهغه منصرف اوغیر منصرف لوستل جائز دي لکه نوحٌ.

دلیل علامه زمخشر عجمه قیاس کوي په تانیث معنوی باند ے چه لکه څه رنګ په تانیث معنوی کښے فقط علمیت وي نوهغے منصرف اوغیر منصرف لوستل جائزدي. چه لکه څه رنګ هندٌ منصرف اوغیرمنصرف نودغه رنګ نوح منصرف اوغیر منصرف لوستل جائز دي.د.مصنف اوجمهورو په نیزد په عجمه کښے فقط علمیت وي لکه نوح دد ے منصرف لوستل واجب دي غیر منصرف لوستل جائز نه دي اودد ے تانیث معنوی سبب ضعیفه د ے .ځکه چه عجمه امر لغوي د ے په د ے وجه لفظونو کښے هیڅ علامت اونشاني نشته. اوتانیث معنوی هم اګرچه امر معنوي د ے مګر بعضے وختونو کښے دد ے علامت په لفظونو کښے ظاهریږي.لکه دهندٌ په تصغیر کښے هنیدٌ کښے تاء ظاهیږي . لهذا عجمه اوتانیث معنوی کښے فرق د ے.چونکه تانیث معنوی په نسبت دعجمه سبب

قوي وو په دے وجه په دیکښے فقط علمیت دعدم النصراف دجواز دپاره کافي دے. اوپه عجمه کښے کافي نه دے.

سوال: ماهٌ جورٌ کښے خوهم عجمه اوعلم دے. په دیکښے عجمه ته اعتبار ورکولوسره ولے غیر منصرف لولي اوحالانکه دنوحٌ غوندے ساکن الاوسط دي؟

جواب: ماهٌ جورٌ کښے دعجمه دعتبار مستقل سبب کیدو په حیثیت سره نه دے بلکه دوئم سبب د تانیث معنوي دتقویت دپاره اعتبار کړے شوے دے اوپه دیکښے دوه سببونه دي. (۱) تانیث معنوي (۲) علمیت موجود دي. په خلاف دنوح په دیکښے دعجمه نه علاوه دوه سببونه نشته که چرے دعجمه اعتبار اوکړے نودمستقل سببیت په اعتبار سره به شي چه په ساکن الاوسط کښے باطل دے.

فائده: انبیاء کرامو علیهم السلام اوملائکو اواسماء شهور دپاره تنویر شرح نحو میر اوګورئ

اَلْجَمْعُ دشپږم سبب بیان شپږم سبب جمع ده.

سوال: جمع دَاسباب منع صرف نه شمارول درست نه دي ځکه چه دا ذات دے او اسباب دقبیلے د اوصافونه دي؟

جواب: دلته مراد جمعیّة الجمع دے چه وصف دے.

شَرْطُهُ صِيْغَةُ مُنْتَهَى الْجُمُوْعِ: دَجمع دَسبب جوړیدو دپاره دوه شرطونه دي. یووجودي اودوئم سلبي. رومبے شرط چه هغه جمع دجمع منتهی الجموع په وزن بآندے وي دَجمع منتهی الجموع مخصوص وزن دادے چه رومبی دوه حرفونه به مفتوح وي درئم ځائے الف علامت جمع اقصی بیادَالف نه پس یوحرف به مشدد شي لکه دَوَابُّ یادوه حرفونه به وي رومبے مکسور او دوئم حسب عامل لکه مساجد یادرے حرفونه به وي رومبے مکسور دوئم ساکن درئم حسب عامل لکه مصابیح.

سوال: دَجمع دَپاره دَمنتهی الجموع دوزن شرط ئے ولے اولګولو ؟

جواب: چه جمع د تغیر اوتبدل نه محفوظ شي اودا وزن دتغیر اوتبدل نه محفوظ وي ځکه چه جمع منتهی الجموع نه پس بله جمع نه جوړیږي ددے وجے نه خوهم دیته جمع اقصی اومنتهی الجموع وئیلے شي.

سوال: ستاسو اوونيل چه دَمنتهى الجموع نه پله جمع نه شي جوړيدے مونږ درته ښايو چه صَوَاحِبُ اواَيَامِنِ چه منتهى الجموع دي ددينه صَوَاحِبَات ،اَيَامُنو ن جوړ كړے شوي دي.

جواب: مونږ دجمع تكسير نفي كړي ده چه دَمنتهى الجموع نه جمع مكسر نه جوړيږي باقى پاتے شوه جمع سالم هغه جوړيږي اومادة نقص كښے هم جمع سالم جوړه كړے شوي ده نه جمع مكسر.

فائده: منتهى دامصدر ميمى دے اوكالجموع نه مراد مافوق الواحد دے . اوس مطلب به داشي چه جمع منتهى الجموع هغه ده چه په هغے پاندے ددوه جمعو انتها شوي وي ددے دوه قسمونه دي. (١) جمع منتهى الجموع حقيقي چه دَجمع نه جمع راوړے شوي وي لكه اكالِبُ چه جمع ده دَ اَكْلَبُ او اَكْلَبُ جمع كَلْبُ. (٢) جمع تقديري يعنى چه دَ مفرد نه راوړے شوي وي مگر وزن هم هغه وي لكه مَسَاجِد چه جمع ده دَمَسْجِدٌ. دَ وزن درے قسمونه دي .دَاحقر تصنيف املاء الصرف شرح ارشاد الصرف كښے اوگورئ .

بِغَيْرِ هَاءٍ: دوئم شرط سلبي دے چه دَجمع په اخركښے تاء نه وي چه دَوقف په حالت كښے ها جوړه شي.

سوال: په جمع كښے بغير هاءِ شرط ئے ولے اولگولو؟

جواب: چه كوم جمع مع الهاء وي هغه د مفرداتو هم وزن وي .چه دَهغے په وجه دَ جمعيت په قوت كښے ضعف راحئ. بيا هغه دَ غير منصرف سبب نه جوړيږي لكه فرازنة په وزن دَطواعية وكراهية .

سوال: چه لكه څه رنگ دَفرازنة ويستلو دَپاره دبغير هاءٍ شرط لگولے دے نودغه رنگ مدائني ويستلو دَپاره بغير ياء النسبة شرط به ئے لگولے وے. ځكه چه په مدائني كښے دواړه شرطونه موجود دي. (١) وزن صيغه كمنتهى المجوع ده اوبغير هاءٍ هم دے ليكن غيرمنصرف نه دے ددينه معلوم شوي ده .چه ددے غير منصرف نه كيدل دَياء نسبت په وجه سره دي. نومصنف ته پكار دي چه يوشرط (بغير ياء النسبته) اضافه ئے كړے وے؟

جواب: دوه لفظونه دي (١) مدائن (بغيرياء انسبته) داغير منصرف دے. په دے وجه چه جمع منتهى الجموع دَمدينه جمع ده (٢) مدائِنٌ (مع ياء النسبته) دامنصرف دے ځكه چه دامفرد دے جمع هيڅ نه ده لهذا مدائني دَمعكښے نه خارج دے چه ددے دَپاره دَ زياتي قيد ضرورت نشته.

وَاَمَّا فَرَازِنَةٌ فَمُنْصَرِفٌ.

سوال: اَمَّا کښــے دوه احتمالـه دی (۱) استئنافیه (۲) تفصیلیه دلته دواړه نه جوړیږی استینافیه په دے وجه نـه جوړیږی چه هغه په شروع کښے وی. اودا په وسط کښے ده. او تفصیلیه په دے وجه نـه جـوړیـږی چـه هـغـه په ما سبق کښے دَاجمال مقتضی ده اودلته په ماقبل کښے اجمال نشته اوس تاسو اوائی چه اَمَّا کوم یودے.

جواب: امـا تـفصیلیه دے اوپه ماقبل کښے اګر چه صراحة اجمال نشته مګر ضمنًا بغیر هاءِ کښے موجود دے چه جمع په دوه قسمه ده جمع مع الهاء اوجمع بغیر الهاء.

سوال: فزانه مبتدا اومنصرف خبر دے دلته مطابقت په تذکیر اوتأنیث کښے نشته؟

جواب: دَفرازنة نه ماقبل مضاف محذوف دے اَمَّا نَحْوُ فَرَازِنَةٍ.

وَحَضَاجِرُ عَلَمًالِلضَّبْعِ په دے عبارت سره علامه ابن حاجب دسوال مقدر جواب ورکول غواړی.

سوال: حـضـاجـر دَبـجو علم دے (بجو یوحیوان دے چه ګورځے په غارکښے وی اودشپے بهر ته راوځـی) دَعـلـمیت پـه وجـه جمعیت باطل شو. ځکه چه قاعده ده چه جمعیت اوعلمیت کښے تضاد وی. اوس پـه دیـکښـے خـو وزن بـاقـی دے مـګـر جـمـع نشته نولهذا دامنصرف پکار وو حالانکه دا غیر منصرف دے.

جواب: جـمـع په دو قـسمه ده (۱)جمع اصلی (۲) جمع حالی. حضاجر اګرچه جمع حالی نه ده مګر جمع اصلـی ده ځکه چه داجمع دَحِضَجَرٌ بجو ته وئیلے شی. لیکن دَاصل اعتبار کولوسره غیرمنصرف لوستلے شی.

سوال: ددے تـکـلف کولو ضرورت نشته ځکه چه مقصود خوغیر منصرف لوستل دی. هغه خوپه بله طریقه سره هم کیدے شی. چه په دیکښے دوه سببونه نور هم موجود دی. (۱) علمیت (۲) تأنیث.

جواب: دَحـضـاجـر اطلاق فرد واحد باندے هم او افراد کثیره باندے هم په اول صورت کښے مـعـرفـه ده اوپـه ثانی کښے نکره. اوس که چرے دَ علمیت اعتبار اوکړے شی. نو په اول صورت کښے غیر منصرف به شی اوپه ثانی کښے منصرف حالانکه حضاجر په هر صورت کښے غیرمنصرف

دے. په دے وجه دعلمیت اعتبار نه کوي.

سوال: چه کله دجمع اصلی اعتبار دے نوداصل شرط به نے لګولے وے شرطه ان یکون فی الاصل به نے وئیلے دے لکه څه رنګ چه په وصف کښے نے اوونیل.

جواب: که چرے دا شرط نے لګولے وے نو چا به فهم کولے چه لکه څه رنګ وصف په دوقسمه دے (۱)وصف اصلی حقیقی (۲) وصف عارضی. نودغه رنګ جمع هم په دوه قسمه ده جمع حقیقی، جمع عارضی حالانکه دجمع قسمونه نشته په دے وجه نے داشرط اونه لګولو.

وَسَرَاوِيْلُ اِذَا لَمْ يُصْرَفْ وَهُوَالْاَكْثَرُ فَقَدْ قِيْلَ اَعْجَمِيٌّ حُمِلَ عَلٰى مَوَازِنِهٖ وَ قِيْلَ عَرَبِيٌّ جَمْعُ سِرْوَالَةٍ تَقْدِيْرًا.

سوال: مخکښے خوستاسو تاویل اوکړو چه جمع په دوه قسمه ده (۱) جمع اصلی (۲) جمع حالی موجودوکړله ځان مو خلاص کړو لیکن سراویل خونه حالاً جمع ده اونه اصلاً بلکه مفرد ده پرتوګ ته وئیلے شي بیا ستاسو دا غیرمنصرف ولے لولئ؟

جواب: دسراویل په انصراف اوعدم انصرف کښے اختلاف دے دبعضو په نیزد منصرف دے .په دے مذهب باندے خودسره هیڅ اشکال نه واردیږي. اود جمهورو په نیزد غیرمنصرف دے. په دے باندے اشکال مذکوره واردیږي ددے په جواب کښے دنحاتو دوه ډلے دي. (۱) سیبویه اوددهٔ دمتبعینو په نیزد دالفظ عجمی دے اوپه کلام دعربو کښے ددے چه څومره هم وزن کلمے وے هغه ټول غیر منصرف لوستلے شوے داهم په دغه اوزانو باندے محمول کولو سره غیر منصرف لوستلے دے .یعنی دحمل علی النظائر په وجه (۲) مبرد اوددهٔ دمتبعینوپه نیزد دالفظ عربی دے جمع په دوه قسمه ده (۱) جمع حقیقی (۲) جمع تقدیری .(چه دهغے مفرد موجود نه وي مګر فرض کړے شوي وي) اودا جمع تقدیری ده ددهٔ مفرد دسروالهٔ فرض کړے شوے دے.

فائده: ملاعصام لیکلي دي چه ماځیل څوئے ته لوستل اوکړل نوهغه اشکال اوکړو چه مبرد د سیبویه په شان حمل علی الموازن ولے نه مني ماجواب اوکړو چه سیبویه خو عجمي لفظ مني.اودعجمي ژبان لفظ په عربی کښے په منزله دمسافر دے .اومسافر دمقیم تابع کیږي په دیکښے حمل علی الموازن

خوکېدے شي مګر مبرد خومغه عربي مني . چه خپله اصل دے متوطن دے په دیکښے تمیعیت اوحمل علی الموازن نه شي کیدے .

سوال: ستاسواوونیل چه منصرف لوستونکو پاندے ددے اشکال به وارد نه شي دادرست نه دے ځکه چه کله فراز نه دَ مفردات کراهیة دَمشابهت په وجه لوستلے شي نوسروایل جمع مصابیح سره دَ مشابهت په وجه غیر منصرف ولے نه شي لوستلے دا اشکال په مغه چا به واردیږي چه داعربي لفظ مني.

جواب: سراویل په فرازنه باندے قیاس کول داقیاس مع الفارق دے ځکه چه دَفرازته غیر منصرف لوستلو سره اصل نه به په دوه طریقو موافقت وي یو موافقت خودادے چه قاعدة چه فرع دَاصل مشابه اوتابع وي او فرازنه جمع دة او جمع فرع وي دَمفرد چه کله منصرف اولوستلے شي نودَاصل موافقت به راشي. اودوئم موافقت به شي داچه دَکلمه منصرف لوستل اصل دے . چه کله دا منصرف اولوستلے شي. نودوئم به موافق داصل کار شي. په خلاف دَسراویل نه چه مفرد دے اوقوي او اصل دے .چه کله مغه غیر منصرف اولوستلے شي نودَاصل اوقوي مشابهت به راشي ضعیف اوفرع سره دایو خلاف اصل کار به اوشي. (داغیر منصرف لوستل خلاف اصل دي) دا دوئم مخالفت به راشي.

وَنَحْوُ جَوَارٍ كَقَاضٍ په ماقبل کښے دَحضاجر اوسراویل دَحکم بیان ووچه په مغے کښے وزن وي اوجمع نه وي اوس دَمغه لفظ بیان کوي چه په مغے کښے جمیعت خووي مګرو زن نه وي په دے عبارت کښے دَجمع الجموع ډیو مسئلے بیان دے جوار سره (نحو) لفظ ئے راوړو قاعدة طرفته ئے اشارہ اوکړه مغه قاعدة کلیه دادة چه هر مغه جمع منتهی الجموع منقوص (ناقص) چه دَفراعل په وزن باندے وي خواه ناقص واوي وي یاناقص یائي حالت رفعي اوجري کښے قاضٍ په شان دے لکه څه رنګ په قاضٍ کښے حالت رفعي وجري کښے یاء ساقطیږي اوماقبل والا حرف باندے تنوین راځي. دغه رنګ (جَوارٍ) کښے به کیږي مګر حالت نصبي یوشان نه دے ځکه چه قاضٍ هم مغه او(جوارٍ) کښے یاء باندے نصب به راشي اوپه وجه دَعدم انصراف تنوین به نه راځي.

سوال: دَجوارٍ قاضٍ سره تشبیه ورکول درست نه دي په دے وجه دَقاضٍ وزن فاعل دے اودَجوار فَوَاعِلُ .

جواب: دَاتشبیه في الحکم دے یعنی هر جمع منقوص چه دَفواعل په وزن بانــدے وی ددے حکم رفعی اوجری حالت کښے دَقاضٍ په شان دے.

سوال: داتشبیـه فی الـحکـم هـم درست نه دے ځکه چه دَقاضٍ حـکـم خـوانصراف دے بالاتفاق اوحالانکه چه دَجوارٍ په انصراف اوعدم انصراف کښے اختلاف دے؟

جواب:داتشبیـه فی الحکم بحسب الصورة دے یعنی دا تشبیه په انصراف اوعدم انصراف کښے نه ده بلکه بحسب الصورة دے.

سوال: دا تشبیه في الحکم بحسب الصورة هم درست نه ده چه واضح ده؟

جواب: داتشبیه في الحکم بحسب الصورة حذف یاء اوادخال تنوین کښے دے.

تحقیق مقام: هـر جـمـع مـنـقـوص چـه دَفواعل په وزن بانـدے وی حالت نصبی کښے بالاتفاق غیرمنصرف دے ځکه چه صیغه دَمنتهی الجموع ده لیکن حالت رفعی اوجری کښے ددے په انصراف اوعـدم انصراف کښے اختلاف دے.په دیکښے ټول درے مذاهب دی. (۱) زجاج اودَهغه متبعین (۲) سیبویه اومتبعین (۳) کسائی. ددے اختلاف مدار په بل یواختلاف بانـدے دے. چه آیا اعلال مقدم وی انـصـراف اوعـدم انـصـراف بـانـدے یاانصراف اوعدم انصراف مقدم وی په اعلال بـانـدے پـه دیـکـښـے دَنحاتو دوه ډلے دی. دَیو طبقے په نیزد اعلال مقدم وی په انصراف اوعدم انـصـراف بانـدے دلیل دا ورکوی چه دَاعلال تعلق دَکلمے دذات سره وی اودَ انصراف عدم انصراف دَکلمے دَصفاتو اواحوالو سره .دا خبره ظاهره ده چه لکه څه رنګ ذات مقدم وی .صفاتو بانـدے دغه رنګ متعـلـق بالذات مقدم به وی متعلق حال بانـدے لهذا اعلال مقدم شو انصراف اوعدل انصراف بـانـدے. ددویـمے طبقے پـه نیزد انـصـراف اوعدم انصراف مقدم دے اعلال بانـدے. دلیل داورکـوی چـه اولاً دَکـلـمـه تـلـفـظ کیـدے شي. ثانیًا داکتلے شي چه داکلمه دَاعلال تقاضا کوی یانه اوداخبـره ظـاهـره ده. چه تلفظ انصراف اوعدم انصراف په اعتبارسره به شي. لهذا چه کله تلفظ مقدم دے نوانـصـراف عدم انصراف به هم مقدم وی دَچاپه نیزد چه اعلال مقدم وی په هغوی کښے بیادوه مذهبونه وی.

رومبے مذهب: دَزجاج اودَ هغه دَمتبعینو مذهب دادے.چه پس دَ تعلیل نه جمعیت خو شته

لیکن وزن دَجمع والا پاتے نه شو بلکه مفرد (سلامٌ وکلاوٌ) سره دَمشابهت په وجه منصرف به شي ددوئ په نیزد مخکښے دَاعلال نه هم منصرف اوپس دَاعلال نه هم منصرف او هر دواړو صورتونو کښے تنوین تمکن به شي باقي پاتے شوه دا خبره چه مخکښے دَاعلال نه ولے منصرف دے په دے وجه چه اصل په اسماؤ کښے انصراف دے.

دوئم مذهب: دَسیبویه اود.هغه دَمتبعینو چه مخکښے دَاعلال نه خومنصرف دے ځکه چه اصل په اسماؤ کښے انصراف دے. مگر پس دَاعلال نه غیر منصرف دے.

دلیل: یاء مقدر اومقدر په منزله دَملفوظ وی گویا چه یاء په لفظونو کښے موجود ده لهذا وزن جمع موجود دے. په دے وجه غیر منصرف به شي. باقي پاتے شوه داخبره چه دَمقدر ملفوظ کیدو بانديے څه دلیل دے. حضرت صاحب ددے دلیل دادے چه په دے باندے دَاعرابو جاري کیدل ورنه په حالت رفعي کښے به (جوارٌ) لوستلے شو. لهذا ددوئ په نیزد مخکښے داعلال نه دَتنوین تمکن اوپس دَاعلال نه تنوین عوض دے.عند المبردعوض عن حرکة الیاء او عند سیبویه وخلیل عوض عن الیاء دَسیبویه اوزجاج په مذهب کښے فرق دے توجه اوکړئ.

درئم مذهب : دامام کسائی دے چه انصراف وعدم انصراف مقدم وی په اعلال باندے ددہ مذهب دادے چه جوارٍ حالت جري خوحالت نصبي په شان دے چه لکه څه رنگ حالت نصبي کښے غیر منصرف دغه رنگ حالت جري کښے هم غیر منصرف دے چه په دیکښے جر سره دَنصب نه لوستلے کیږي. مدرت بجواریَ چونکه(ی) باندے فتحه ثقیل نه ده په دے وجه چه صیغه اووزن جمع موجود دی مخکښے مذهبونو کښے حالتین کښے تعلیل کیږي اوپه دے مذهب کښے فقط حالت واحده باندے.

- **تعلیل علی المذهبین الاولین** :. جواريُ ضمه دَیاء ثقیله وه یدعوا یرمی ولا قانونسره ئے داحذف کړه .بیا التقاء الساکنین مخکښے مده وه هغه ئے حذف کړه جوارٍ شو.

تعلیل علی مذهب الثالث: دَجواريُ ضمه ئے حذف کړه دَهغے په عوض کښے تنوین راوړو بیا التقاء الساکنین الخ .

فائده: محذوف اومقدر کښے فرق دا دے چه محذوف لفظونو اونیت دواړو کښے ساقطیږي.

اومقدر په نیت کښې فرق اوپه لفظ کښې ساقطیږی بیاد محذوف دوه صورتونه وی.(۱) علی الدوام ساقط وی چه هغې ته نسیا منسیا ونیلې شي .لکه یدٌ،دمٌ (۲) لاعلی الدوام بلکه اعلال موجود پاتې شي .نوساقط ورنه نه لکه قاضٍ داعٍ

اووم سبب ترکیب:

اَلتَّرْكِيْبُ: دَاسباب منع صرف نه اووم سبب ذکر دے.

سوال: رَكَّبَ يُرَكِّبُ تَرْكِيْبًا خودَمتکلم صفت دے حالانکه اسباب منع خو دَاوصاف اسم دَقبیلې نه دی لهذا داسبب شمارول درست نه وی .

جواب: دَترکیب لغوی معنی یوځائے کول ،ملاوول اواصطلاحی معنی هو صیرورة کلمتین او اکثر کلمة من غیر حرفیة جزءً دوه یا د دوه کلماتو نه زیاتی کلمو یوه کلمه کیدل په دے شرط چه دَیواسم یوحرف جزء نه وی لهذا النجم اوبصری اشکال به نه وی او ترکیب په دے معنی دَاسم صفت دے دَمتکلم نه دے.

سوال: دَترکیب دا تعریف جامع نه دے ترکیب توصیفی ،اسادی ،اضافی کښې دوه کلمې یو کیږی نه. کماسیجیئ.

جواب: بالقوه مراد دے اوداخبره ظاهره ده چه په وخت دَ علمیت او اسم جنس دیوکلمه کیدو صلاحیت دے.

جواب: الترکیب بانـدے الف لام عهد خارجی دے. هلته هغه ترکیب مراد دے چه دَقبیلې دَاسبابو نه منع دے .لهذا داتعریف په ترکیب مذکوره بانـدے صادق نه راځی نوهیڅ حرج نشته.

سوال: بیا دَاشتراط علمیت هیڅ ضرورت نه پاتے کیږی ځکه چه یوه کلمه کیدل علمیت کښې به دے.

جواب: حصر ممنوع دے ځکه چه ممکنه ده اولاً معنی جنسی طرفته بیامعنی علمی طرفته نقل کرے شي.بیا معنی جنسی لے نقل کړه لکه څه رنګ چه دَتنکیر علم په وخت کیږی که چرے هم تسلیم هم کړے شي. بیاجواب به داشي چه علمیت شرط تحقق اوثبوت دے نه قید ترکیب.

شَرْطُهُ الْعَلَمِيَّةُ دترکيب دغير منصرف سبب جوړيدو دپاره دوه شرطونه .(۱) وجودي (۲) سلبي رومبے شرط علميت دے.

سوال: دترکيب سبب جوړيدو دپاره دعلميت شرط نے ولے اولګولو.

جواب: ترکيب يوعارضي څيزدے په دے وجه چه اصل کلماتو کښے داوي چه هره کلمه بلاترکيب استعمال وي ځکه چه دهر کلمه وضع علي الانفراد دے لهذا داترکيب عارضي شو .اوقاعده :اَلعَارِض فِي مَحَلِّ الزَّوَالِ په دے وجه ددے دتغير وتبدل نه محفوظ ساتلو دپاره دعلميت شرط ئے اولګولو.

وَاَنْ لَّا يَكُوْنَ بِاِضَافَةٍ وَلَا اِسْنَادٍ دوئم شرط دادے چه ترکيب اضافي اوترکيب اسنادي نه وي .

سوال:مرکب اضافي دغير منصرف سبب ولے نه جوړيږي؟

جواب: علي مذهب الجمهور ترکيب اضافي غير منصرف منصرف جوړوي. اوعلي مذهب المنصف دمنصرف په حکم کښے ورکوي. نوداترکيب اضافي دغير منصرف سبب څه رنګ جوړيږي.

سوال: ترکيب اسنادي ولے سبب جوړيږي.

جواب: ترکيب دپاره علميت شرط دے .اوقاعده ده چه هغه اعلام چه مشتمل علي الاسناد وي هغه من قبيل المبنيات وي چه کله دامبني دي نودغير منصرف سبب څه رنګ جوړيږي.

سوال: اعلام مشتمله علي الاسناد من قبيل المبنيات ولے وي .

جواب: مرکب اسنادي چه که دچا علم کيښودے شي نوهلته مقصود يوخاص واقعے طرفته اشاره وي کــه چــرے دا معرب اولوستلے شي .نودااختلاف اعراب په وجه تغير به راشي .په دے سره واقعه غريبه باندے دلالت به ختم شي. په دے وجه دامبني مقرر کولے شي. مثلاً تَاَبَّطَ شَرًّا تابط فعل ضمير فاعل اوشرًّا مفعول چه ددے معني ده هغه په ترخ کښے شر پټ کړو بيا دا ديو سړي علم کيښودے شو خاص واقعه داده چه يوسړي دلرګو ګيډے راوړو اوکورته راغے بي بي نے پرانستو نودغے نه مارراووتو په دے باندے بي بي داجمله تابط شرًّا اووے بيادے نوم مشهور شو.اوس هر شرير ته ونيلے شي.

سوال: دَترکیب شپږ قسمونه دي لکه څنګه چه شعر دے.

بود ترکیب نزد نحویاں شش
اضافی داں تو تعدادی و مزجی
ہم اسنادی و توصیفی و صوتی
بیادش گیر اگر خائف ز فوتی

سوال: دغه شپږو قسمونو نه فقط مرکب منع الصرف سبب دے باقی دَپنځو نفی کول پکار وو چه کله ستاسو دَاسنادي او اضافي دواړو نفی کړی ده لیکن توصیفی،بنائی، صوتی دے درو مووله نفی اونه کړه؟

جواب: دَمرکب اضافی په نفی کښے توصیفی هم داخل دے .په دے وجه چه په دواړو کښے جزثانی دَاول قید دے.

اودَاسنادي په نفی کښے بنائی اوصوتی داخل دي.په دے چه داهم دَقبیلے دَبنیأتو نه دي.

مِثْلُ بَعْلَبَكَّ بَعْلَبَكَّ داغیر منصرف دے ځکه چه په دیکښے دوه سببونه دي (۱) ترکیب(۲) علمیت.

سوال: فاضل سمر قندي وائي چه بعلبک چه کله دَښهر علم دے نو په دیکښے دوه سببونه علمیت اوتانیث دي .لهذا دَترکیب جوړیدل ظنی دي قطعی نه دي؟

جواب: دَمولانا عبدالرحمٰن صاحب جواب دے چه تانیث غیر معتبردے.په دے وجه که چرے دَیوسړي علم کیښودے شي نوبیا هم غیر منصرف دے دَترکیب اوعلمیت په وجه .

جواب: اسماؤ دَښارونو قاعده داده. چه بتاویل بلدة ارض غیر منصرف وی او بتاویل مکان منصرف که دَتانیث اعتبار دے نو ځکه چه دا دمکان په تاویل کښے دے نومنصرف کیدل پکار وو حالانکه دا هر صورت کښے غیر منصرف دے ددینه معلومه شوه چه تانیث غیرمعتبر دے اودَترکیب دَښاره دامثال قطعی دے اویقنی دے.

الثم سبب الف نون زائدتان

اَلْفُ وَالنُّوْنُ دغیرمنصرف اتم سبب الف نون زائدتان دے.

جواب: الف نون کښے دوه اعتباره وی په اعتبار دذات دوه څیزونه اوپه اعتبار دبیت یوڅیز دے .کانتا کښے ذات لحاظ کولو سره مصنف اولاً دتشیه ضمیر راوړو اوو ے ونیل سبب واحد جوړیږی مګرتاثیر کښے یو وجود مولانا جامی رحمه الله دیته نکته حسنه ونیلی دی. اومولانا عبدالنبی صاحب ددے نکته ردکړے دے. دانکته هله درسته جوړیږی. چه کله وجود الالف والنون من حیث الذات مراد وی. ولیس الامر کذالک بلکه من حیث البیت مراد دے.

جواب: علامه ابن حاجب په امالی کښے جواب ورکړو چه ضمیر مفرد راجع الی الاسم دے چه مشتمل په الف ونون دے لیکن بعضو داردکړی ده چه توجه غیر ظاهراو بعید د فهم دمتعلمینو نه دے. په دے وجه کلام خوشرائط اسباب کښے چلیږی. نه په شرائط اسم کښے .

اَوْصِفَةٍ فَبِانْتِفَاءِ فَعْلَانَةٍ وَقِيْلَ وَجُوْدُ فَعْلٰى دالف نون زائد تان دوئم صورت که چرے د صفت په آخر کښے وی نوددے سبب منع الصرف اوریدو په شرط کښے اختلاف عند البعض ددے شرط دادے چه ددے مونث دفعلانة په وزن باندے نه وی اوبعضو په نیزد ددے مؤنث دفعلی په وزن باندے وی مقصد ددواړو مذهبونو یودے. چه ددے په آخر کښے تاء تانیث رانشي. چه دالف نون مشابهت دالف تانیث سره برقرار پاتے شي. علامه ابن حاجب دوئم مذهب په قیل سره ذکر کولو سره ضعف طرفته اشاره اوکړه ځکه چه دغضبان مؤنث غضبی دے مګر غضبان منصرف دے.

سوال: دصفت تقابل داسم سره غلط دے ځکه چه صفت هم خواسم دے؟

جواب: اسم درے څیزونو په مقابله کښے راځی. (۱) دفعل حرف(۲) کنیت،لقب ،تخلص (۳) دصفت په مقابله کښے دلته هغه اسم مراد دے چه دصفت په مقابله کښے دے په بل عنوان سره اسم په دوه قسمه دے (۱) هغه اسم چه محض په ذات باندے دلالت اوکړی چه په هغے کښے څه وصف ملحوظ نه وی لکه اسم جامد رجلٌ ،فرس (۲) هغه اسم چه په ذات باندے اوکړی اوپه هغے کښے څه وصف ملحوظ نه وی لکه اسود ،ابیض ضارب دلته قسم اول مراد دے چه ددے تقابل صفت سره درست دے.

سوال: انتفاء فعلانة نه فعلانة بفتح الفاء مراد دے یا فعلانة بضم الفاء که چرے بفتح الفاء مراد دے نوعریان غیرمنصرف کیدل پکار دی ځکه چه ددے مؤنث عریانة لضم الفاء او که لضم الفاء مراد وی نوبیا ندمان غیر منصرف کیدل پکار دے ځکه چه ددے مؤنث ندمانة بفتح الفاء دے حالانکه دواړه منصرف دی؟

جواب: انتفاء فعلانة نه بفتح الفاء مراد دے نه بضم الفاء بلکه مراد دادے چه تاء تأنیث داخل.

سوال:الف نون داسباب منع صرف نه شمارول غلط دی په دے وجه چه اسباب دقبیلے داوصافو نه دی اوالف نون دقبیلے دذواتو نه دی.

جواب: ددغه الف نون دوه نومونه دی (۱) زائدتان ځکه دا زائد دی(۲) مضارعتان ځکه چه ددے مضارعت اومشابهت دے .الف تانیث سره امتناع دخول تاء تانیث کښے یعني دواړو باندے دتاء تانیث دخول ممتنع دے .لهذا الف نون کښے وصف زیات هم دے .اووصف مضارعت هم اوس په دیکښے اختلاف دے الف نون ديو وصف په اعتبار سره دغیر منصرف سبب دے چه په دیکښے دوه مذهبونه دی.(۱) دکوفینو په نیزد وصف زیادة په اعتبارسره سبب دے (۲) بصرینو په نیزد دمضارعت په اعتبارسره مولانا جامي دوئم مذهب راجح کړے دے. وجه د ترجیح دادة که چرے دوصف زیادة اعتبار اوکړے نو ندمانة شرط غیرمناسب به شي. اومذهب ثاني کښے مشابهت بالف تانیث په وجه بالف نون سبب دے . دغه ندمانة خارج اوانتفاء فعلانة شرط مناسب به شي.

الحاصل : دواړو مذهبونو مطابق انتفاء فعلانة نه مراد امتناع دخول تاء تانیث دے چه هم د وصف مضارعت په اعتبارسره کیدے شي بهرحال الف نون دوصف په اعتبار سره دغیر منصرف سبب دے نه دذات په اعتبارسره لهذا دادمن قبیل الاوصاف شو.

إِنْ كَانَتَا فِيْ اِسْمٍ فَشَرْطُهُ الْعَلَمِيَّةُ كَعِمْرَانَ دالف نون دوه صورتونه دی پرومبے صورت الف نون زائدتان دیواسم په اخر کښے وی کهغے دپاره شرط دادے چه هغه اسم علم وی اودا الف نون زائدتان په اسم کښے دفاء کلمه د درے واړو دحرکاتو سره مستعمل دے لکه عمران (بکسر الفاء) عثمان (بضم الفاء) سلمان (بفتح الفاء) مگر صفت کښے بکسرالفاء مستعمل نه دے.

سوال: دَعلمیت شرط نے ولے اولګولو؟

جواب: چه دَتغییر اوتبدل نه محفوظ شي کمامر.

فائده: پـادساتئ عند البعض علمیت شرط وسبب دے اوعند البعض علمیت شرط محقق للمشابهت دے سب نه دے ځکه چه الف ونون مثل تانیث دے.

سوال :الالف والـنـون پـه طرف دوه ضمیرونه راجع دي اول دَضمیر تثنیه چه کانتا کښے دوئم ضمیر دَمفردچه فشرطه ددے څه وجه ده؟

کیدل ممتنع وی کما مر لهذا عریان ،ندمان دواړه منصرف دی ځکه چه تاء تانیث داخل دے.

وَمِنْ ثَـمَّ اُخْتُلِفَ فِيْ رَحْمٰن دُوْنَ سَكْرَانَ وَنَدْمَانٍ دَمـاقبـل پـه تفریع بیان چه کله شرط کښے اختلاف دے نـودَ لـفـظ رحـمٰـن انـصـراف اوعـدم انـصـراف کښے اختلاف دے دَقول اول مطابق غیرمنصرف دے په دے وجه چه مؤنث رحمانة نه راځي. ځکه چه ددے مؤنث هډو شته نه او دَقول ثاني مطابق منصرف دے په دے وجه چه ددے مؤنث هډو شته نه نودَ فعلی په وزن څنګه راغے.

سوال: لـفـظ رحـمٰـن بـالاتـفـاق غیر منصرف کیدل پکار دی په دے وجه د دواړو نه مقصود انتفاء فعلانة دے.

جواب: مقصود خوهمدغه دے لیکن څه لږ شان فرق دے. دَقول اول مطابق انتفاء فعلانة مطلقا شرط دے. خـواه دلیل لفظي موجود وی یانه وی اوقول ثاني کښے انتفاء فعلانة شرط چه په هغے بـانـدے دلیـل لـفـظـي وجود فعلي اولفظ رحمٰن کښے انتفاء فعلانة نو مګر دلیل لفظي وجود فعلي نه دے په دے وجـه پـه دیکښے اختلاف دے. اوسکران بالاتفاق غیرمنصرف دے. ځکه چه علی الـمذهبین شرط موجود دے. چه ددے مؤنث سکریٰ راځي. اوندمان بالاتفاق منصرف دے .ځکه چه علی المذهبین شرط منتفي دے .په دے وجه ددے مؤنث ندمانة راځي.

فائده: دَنـدمـان دوه مـعـانـے دی.(۱) ندمان په معنی دَندیم دوست ، ملګرے .په دے معنی بـالاتـفـاق مـنـصرف دے .ځکه چه ددے مؤنث ندمانة (۲) ندمان په معنی نادم پښیمانه په دے معنی بالاتفاق غیر منصرف دے ځکه چه ددے مؤنث ندمی راځي.

نهم سبب وزن فعل:

وَزْنُ الْفِعْلِ اسباب منع صرف کښې نهم سبب او اخری سبب وزن فعل دے.

سوال: وزن فعل دَاسباب منع صرف نه شمارول غلطي. په دے وجه چه وزن فعل خوډ فعل صفت دے .او اسباب خو د اسم صفت دے.

جواب: دَوزن فعل معنی کون الاسم علی وزن یُعَدُّ من اوزان الفعل دَ وزن فعل نه مراد داسم په خپل وزن بأندے کيدل چه دَفعل دَ اوزانونه شماريږي او وزشن فعل په دے معنی دَاسم صفت دے نه دَ فعل صفت دے.

شَرْطُهٗ اَنْ يَّخْتَصَّ بِهٖ دَوزن فعل دَغير منصرف دَسبب دپاره احدالامرين شرط دے.(۱) امر اول اختصاص الوزن بالفعل هغه دَ وزن فعل سره مختص وي.

سوال: دَاختصاص الوزن بالفعل نه څه مراد دے؟ چه په دیکښے دوه شقونه دي. چه هغه وزن په اسم کښے به بیا موندے شي یانه که چرے هغه وزن په اسم کښے بیاموندے شي نو اختصاص الوزن بالفعل پاتے نه شو اوکه چرے بیا نه موندے شي نو هغه به دَغیر منصرف سبب څه رنګ جوړشي؟ کلاهما باطلٌ .

جواب: مولانا جامی رحمة الله جواب ورکړو چه شق اول مراد دے پاتے شو دااشکال چه بیا به اختصاص بالفعل نه شي ددے جواب دادے چه دا اختصاص الوزن بالفعل دَوضع په اعتبار سره به شي اوددے دَوزن په اسم کښے بیاموندل دَنقل په اعتبارسره به شي.

سوال: وزن الفعل کښے دَوزن اضافت چه دَ فعل په طرف دے دا اضافت لامیه دے او اضافت لامیه دَاختصاص فائده ورکوي اوس به معنی داشي چه داسے وزن چه دَفعل سره مختص وي لهذا اختصاص الوزن بالفعل خو دَوزن الفعل نه په ذهن کښے راځي. نوروستو دَصاحب کافیه شرطه ان اختص ذکر کول لغو اومستدرک دي.

جواب: اضافت لامیه کله دَ اختصاص فائده ورکوي او کله دَنسبت لکه زید ابو عمرو په دیکښے د اب اضافت عمرو طرفته محض نسبتي دے دلته هم اضافت نسبت دپاره دے. یعنی هغه وزن منصوب الی الفعل دے اودا ظاهره دے چه دومره خبره دَغیرمنصرف سبب جوړیدو دپاره ناکافي دے په

دے وجه نے اوونیل شرطه الخ .

سوال: وزن فعل نے دَغیر منصرف سبب ولے جوړ کړو؟

جواب: دَاسم دَ فعل په وزن باندے راتللو سره ثقل پیداکیږی چه دَهغے په وجه سبب جوړشو غیر منصرف لوستلے شي.

تَشَمَّرَ وَضُرِبَ شَمَّرَ ماضي معلومه صیغه ده وَ تشمیر نه ماخوذ دے. په معنی دَلمن راغونډولو دا وزن مختص بالفعل وو. بیا نقل شو اسم ته راغے دَحجاج بن یوسف دَ اس علم جوړ شو مناسبت سرعت سیر دے ضُرِب دَماضي مجهول صیغه ده دا هم مختص بالفعل دے اوس دَیو سړی علم کیښودے شی نو منقول الی الاسم کیدو سره غیرمنصرف به لوستلے شي.

سوال: ستاسو اوونیل چه دَفعل وزن دَفعل سره خاص دے یعنی ابتداءً خوبه فعل کښے موندلے شی په اسم کښے نه بیانقل شو اسم کښے موندلے شي موږ درته ښایو چه دا وزن ابتداء دَاسم کښے موندلے شي لکه بَقَّمَ (مشهور سوررنګ) شَلَّمَ (بیت المقدس) نوم دے.

جواب: زموږ مراد دَاختصاص نه دادے چه هغه وزن لغت عربي کښے دَفعل سره خاص وی اوستاسو چه کوم مثالونه ورکړی ده هغه دَعجمي ژبان الفاظ دي.

أَوْيَكُوْنُ فِيْ اَوَّلِهٖ زِيَادَتِهٖ غَيْرُ قَابِلٍ لِلتَّاءِ دَوزن فعل غیر منصرف سبب جوړیدو دَپاره شرط احدالامرین نه دَامر ثاني بیان امر ثاني دادے که چرے اختصاص الوزن بالفعل نه وی نو بیا شرط دادے چه دَوزن فعل په شروع کښے دَحروف اتین نه یوحرف وی اوپه آخرکښے تاء تانیث نه وی .

سوال: دَعدم دخول تاء شرط نے ولے لګولے دے؟

جواب: تاء متحرکه دَاسم خاصه چه په هغے سره جهت اسمیت به قوی شی چه دَهغے په وجه ثقل به کم شی نودَغیر منصرف سبب به جوړ نه شی په دے وجه شرط نے اولګولو چه ثقل باقی پاتے شي.

سوال: اَرْبَعٌ چه کله دَچاعلم کیښودے شي نوغیر منصرف به شي دَعلمیت اووزن فعل په وجه حالانکه دَوزن فعل شرط نه شي موندلے ځکه چه اربع تاء قبلوی ونیلے شي اَرْبَعَةٌ رجال په دیوجه مصنف ته پکار وو چه غیر قابل للتاء نه پس دَ قیاسا قید نے لګولے ځکه چه دَاربعة تاء خلاف قیاس ده.

سوال: لفظ دَاَسۡوَد وصف اودَوزن فعل و په وجه غیرمنصرف حالانکه شرط عدمی متحقق نه دے ځکه چه قابل للتاء دے لکه چه وئیلے حَیَّةٌ اسودَةٌ ددے غرضونو نه دَ بچکیدو دَپاره دونم قیدونه لګولے چه په دے اعتبار سره تاء قیاسي قبول نه کړی په کوم اعتبارسره هغه دَغیر منصرف سبب دے. حکه چه په کوم حیثت سره دَغیرمنصرف سبب دے هغه ددے وصف اصلی او وزن فعل په دے حیثیت سره غیرقابل التاء ددے مؤنث سوداء اوچه په کوم حیثیث سره دَتاء قابل هغه دَ غلبه اسمیت په وجے سره په دے حیثیث سره دَغیر منصرف سبب نه دے.

جواب: مولانا جامیؒ جواب ورکړو چه دواړو قیدونه مراد دی مصنف دَشهرت په وجه ذکر نه کړل.

وَمِنۡ ثَمَّ اِمۡتَنَعَ اَحۡمَرُ وَانۡصَرَفَ یَعۡمَلٌ ماقبل باندے دَتفریع بیان احمر چونکه قابل للتاء نه دے په دے وجه غیر منصرف دے اویعمل قابل للتاء کیدو په وجه منصرف دے.

سوال: وجود شرط مستلزم دَوجود مشروط نه دے لکه چه طهارت شرط دے صلوٰة دَپاره مګر دا لازم نه دے چه لکه هم طهارت وی نو صلوٰة به هم وی لهذا اَحۡمَرُ کښے دَشرط موجود کیدو سره دالازم نه راځی چه غیرمنصرف وی بلکه ممکنه ده چه منصرف وی لهذا امتنع اَحۡمَرُ وئیل غلط شول.

جواب: دلته دشرط نه مراد سبب اوعلت دے کماهو دآب النحاة.

سوال: یعمل کښے زیادتی دَحرف اتین غیرمسلم ده په دے وجه کیدے شی چه داد فَعۡلَلٌ په وزن باندے وی لکه جَعۡفَرٌ.

جواب: داتسلیم الزیادة علی سبیل التنزل دے یعنی که چرے شروع کښے زیادتی تسلیم هم کړے شی نوبیاهم منصرف دے ځکه چه قابل للتاء دے په دے وجه وئیلے شی. ناقة یعملة.

وَمَا فِیۡهِ عَلَمِیَّةٌ مُؤَثِّرَةٌ اِذَا نُکِّرَ صُرِفَ لِمَا تَبَیَّنَ مِنۡ اَنَّهَا لَا تُجَامِعُ مُؤَثِّرَةً اِلَّا مَاهِیَ شَرۡطٌ فِیۡهِ اِلَّا الۡعَدۡلَ وَوَزۡنَ الۡفِعۡلِ داسباب منع صرف نه فراغت نه پس یوځو ضوابط اومسائل بیانولے شی په دے عبارت کښے یومسئلے اوضابطے بیان دے. ذینه مخکښے یوه فائده زده کړئ. دَعلمیت باقی اسباب سره یوځو قسمونو تعلق دے اول دَتضاد دایوسبب دَوصف سره خاص دے. ثانی مجامعه غیر مؤثره داتعلق دوه سببونوسره دے. (۱) تانیث بالف مقصوره وممدوده (۲) جمع منتهی

الجموع ثالث مجامعه مؤثره بطور سببیت دا دوه سببونو سره(۱) عدل (۲) وزن فعل. رابع مجامعه مؤثره بطور دَسببیت اوشرطیت یعني علمیت خپله سبب هم جوړشي. او دوئم سبب دپاره شرط هم وی دا تعلق څلور و اسبابو سره دے. (۱) تانیث لفظي ومعنوي(۲) عجمه (۳) ترکیب(۴) الف نون زائدتان في الاسم اوس دَ ضابطے حاصل دادے. چه هر هغه اسم غیرمنصرف چه په هغے کښے علمیت مؤثر وی عام ددینه چه په طور سببیت اوشرط سره وی یا فقط بطور سببیت وی نوکله چه داسے اسم نکره جوړه کړے شي نومنصرف به شي. دلیل په دے وجه چه په هغے کښے په اعتبار سببیت اوشرطیت سره شریک وی چه کله ددینه علمیت پورته کړے شي نوهیڅ سبب به باقي پاتے نه شي .څکه چه یوسبب خوعلم وو هغه ختم شو او دوئم سبب دَپاره علمیت شرط وو اوقاعده ده. اذا فات الشرط فات المشروط چه کله شرط ختم شوے وی نومشروط چه دوئم سبب وو هغه هم ختم شو . لهذا هیڅ سبب باقي نه دے لکه طلحة عمران ،ابراهیم بعلبک اوچه په کوم کښے علمیت باعتبار سبب جمع وی چه کله دَهغے نه علمیت زائل شي نویوعلت به باقي پاتے شي اودَغیر منصرف لوستلو دَپاره دوه سببونه ضروري دی په دے وجه دابه هم منصرف شي لکه عمرٗ، احمر .

دضابطے حاصل: کُلُّ فِیْهِ عَلَمِیَّةٌ مُؤَثِّرَةٌ اِذَا نُكِّرَ صَرِقَ.

دقیاس صغریٰ: کُلُّ مَافِیْهِ عَلَمِیَّةٌ مؤثرۃٍ اذا نُکِّرَبقي بلاسبب اوعلیٰ سببٍ واحدٍ.

کبریٰ: کُلُّ مَاهٰذا شانُه فهو مُنصرفٌ.

نیتجه : فکل مافیه علمیةٍ مؤثره اذانکرصرف.

چونکه کبریٰ محتاج الی الدلیل نو وه اوصغریٰ محتاج الی الدلیل وه په دے وجه دَ صغریٰ دلیل ئے بیان کړو دَکبریٰ نه.

سوال: مافیه علمیة دا قضیه مُهمله ده اودَ منطقیانو ضابط ده چه قضیه مهمله دجزئیه په حکم کښے وی نو اوس ددے نه خلاف مقصود لازم راځي.

جواب: مهمله په دوه قسمه ده (۱) مهمله المحاورات(۲) مهمله العلوم دے کمناطقه ضابطه مهمله المحاورات په بارهٔ کښے دے اوحالانکه داسهمله العلوم دے چه دَکلیه په حکم کښے وی څکه

چه قواعد علوم من قبیل الکلیات وی.

سوال: ستاسو اووئیل چه کوم کښې علمیت باعتبار شرطیت شریک وی هغې نکره جوړولو سره هیڅ یو سبب باقی نه پاتې کیږی حالانکه نوح کښې علمیت بطور شرط شریک دے مگر ددے نکره جوړولو سره عجمه باقی پاتې کیږی ؟

جواب: مونږ دَ سببیت نفی کړی ده نه دَذات اونوح کښې پس دَ تنکیر نه بے شکه عجمه موجوده ده مگر سبب نه جوړیږی.

سوال: په دے عبارت کښې مستثنیٰ منه واحد ده او مشتثنیٰ دوه دی. پرومبیٔ استثناء الاماهی شرط دوئم الاالعدل وزن الفعل او قاعده ده چه کله دَ یومستثنیٰ منه نه متعدد استثناء وی نودَهغوی ترمینځ حرف عطف ذکرکول ضروری وی که چرے حرف عطف ذکر نه وی نو استثناء ثانی دَبدل الغلط په حکم کښې به وی یعنی پرومبیٔ استثناء په غلطیٔ سره ذکر کړے شوی ده او مقصوردوئمه ده اوس مطلب دَ عبارت به داشی . چه علمیت مؤثره کیدو سره نه شی موندلے مگر عدم اووزن فعل کښې دامعنی خلاف مقصود کیدو سره سره خلاف واقع هم ده.

جواب: معترض صاحب ستاسو قاعده مسلمه ده مگر ستاسو ته مغالطه لګیدلی ده په دے مقام کښې خو مستثنیٰ منه واحد نه ده بلکه دوه دی دَ پرومبیٔ استثنا مستثنیٰ منه مطلق سبب چه اسباب ثمانیه ؤ ته شامل دے تقدیر دَعبارت اَلْعَلَمِیَّةُلَا تُجَامِعُ مُؤَثِّرَةً بِسَبَبٍ مِنْ اَلْاَ سْبَابَ الثَّمَانِیَّةِ اِلَّا مَاهِیَ شَرْطٌ فِیْهِ نودغه پرومبیٔ استثنا په ذریعه دَځلورو اسبابو استثناء اوشوه وصف ،جمع ، عدل وزن فعل ،باقی ځلور پاتے شول .ددغه پرومبیٔ استثناء نه یوه موجبه کلیه وی راواوځی . هغه دادہ چه چه هر هغه سبب چه په هغې کښې علمیت شرط دے په هغې کښې مؤثر هم وی بیا دینه سالبه کلیه مفهوم کیږی چه هر هغه سب چه په هغې کښې علمیت شرط نه دے په هغې کښې مؤثر هم نه دے .دا سالبه کلیه مستثنیٰ منه ثانی د الاالعدل ووزن الفعل ددینه استثناء ثانی ده مطلب دادے چه په کوم کښې علمیت شرط نه دے په هغې کښې موثر هم نه دے .مگر عدل اووزن فعل کښې چه په دیکښې باوجود ددے چه علمیت شرط نه دے لیکن مؤثر دے. ددغه بقیه ځلورو

اسبابو نه د دوه بیا استثناء اوشوه (عدل وزن الفعل) .

فائده: دَعلم نکره جوړولو دوه طریقے دي: **ړومبۍ طریقه** چه دَ علم نه معین سړے مراد وانه خستے شي بلکه دا فرض کړے شي مثلًا زید دَیو جماعت نوم دے ددینه لاعلی التعیین یوفرد مراد واخستے شي مثلًا هذا زیدٌ، ورأیت زیدا آخر ړومبے زید معرفه ده اودونم نکره ده .

دونمه طریقه: دَعلم نه یو معین سړے مراد وانه خستے شي .بلکه علم ونیلو سره دَ صاحب علم وصف مراد واخستے شي .لکه لکل فرعون موسیٰ نه مراد :لِکُلِّ مُبْطِلٍ مُحِقٌ دے .

وَهُمَا مُتَضَادَّانِ فَلَا یَكُوْنُ مَعَهَاإِلَّا اَحَدُ هُمَا په دے عبارت سره دَسوال مقدر جواب دے.

سوال: ممکنه ده چه په یواسم کښے درے سببونه جمع وی (۱) علمیت (۲) عدل (۳) وزن فعل چه کله علمیت زائل شي. نو دایه غیر منصرف شي .په دے سره به ستا قاعده مذکوره ماته شي.

جواب: دامکنه نه ده ځکه چه عدل اووزن فعل دَیوبل ضد دي اوزان عدل سماعی دي اواوزان فعل قیاسی لهذا جمع نه شي کیدے.

سوال:اِصْبِتُ دَیو جنگل نوم دے. دامعدول دَ اُصَمَتْ نه دے ځکه چه دا باب نصر ینصر نه دے نو په دیکښے عدل هم اووزن فعل هم لهذا ستاسو دا وینا هماَمتضادان داغلط دي.

جواب: ددے باب نصر نه کیدل یقیني نه شي کیدے چه دادَباب نصر نه وی لهذا اِسْبِتُ موافق قیاس شو.

جواب: دَعدل موندلو دَپاره دومره خبره کافی نه ده چه دَهغے اصل معدول عنه بائدے دلیل موجود بلکه ددے سره سره داهم ضروری ده چه دَاسم عدم انصراف هم دَعدل تقاضا اوکړی دَعدل معدول منه نه اخراج معتبروی اودَاِصْبِتُ عدم انصراف دعدل تقاضا نه کوی په دے وجه په دیکښے مستقل دوه سببونه موندلے شي علمیت ،تانیث معنوی .

سوال:اِلا اَحَدُهُمَا مستثنیٰ مفرغ چه دَهغے مستثنیٰ منه همیشه محذوف وی.دغه مستثنیٰ منه مقدره کښے دوه احتمالونه دي. (۱) مستثنیٰ منه شَيٌ مِنَ الْاَسْبَابِ وی تقدیر دَعبارت به دا شي. فَلا یَكُوْنُ مَعَهَا شَيْءٌ مِنْ اَلاسْبَابِ اِلَّا اَحَدُ هُمَا چه ددے معنی به داشي چه اسباب منع صرف نه

يوسبب داسې نشته چه دَعلميت سره بيا مونده شي سوا دَ عدل او وزن فعل نه د ادروغ دى واقع
دَنفس الامر خلاف دے(٢) مستثنىٰ منه (احدهما) اوس تقدير عبارت به داشي فَلَايَكُوْنُ مَعَهَا اَحَدُ
هُمَا اِلَّا اَحَدُهُمَا معنى به داشي نه شي مونده لے دَعلميت سره عدل وزن فعل نه يوسوا دَ عدل اووزن فعل
نه يو دا استثناء الشئ عن نفسه ده چه باطل ده ځكه چه كومه مستثنىٰ منه ده هغه متثنىٰ ده اوچه كومه
مستثنىٰ ده هم هغه مستثنىٰ منه ده اودا بالكل هم داسې ده لااله الاالله كښې مستثنىٰ منه مطلق
معبود وى خواه معبود برحق وى يا معبود باطل په دے صورت كښې كذب لازميږى اوكه چرے
مستثنىٰ منه معبود برحق وى نو معبود برحق خوالله تعالىٰ په دے صورت كښې استثناء الشئ عن
نفسه لازم به راشي.

جواب: مونږ دلته درنم شق مراد اخلو مستثنىٰ منه نه خو مطلق سبب دے اونه احدهما بلكه دلته
مستثنىٰ منه هغه سبب دے چه دواړو صورتونو ته شامل وى سببين مذكورينو نه فقط احدهمايا
دَاحدهما دوه صورتونه دى(١) فقط عدل (٢) فقط وزن فعل نودد ے سبب دَتحقق ټول درے
صورتونه دى مگر ابتداءً دوه صورتونه دى.الاحرف استثناء په ذريعه دغه ابتدائى دوه صورتونو نه دَ
يوصورت استثناء كرے شوى ده .چه استثناء الخاص من العام دے. ځكه چه مستثنىٰ منه امرعام
دے .چه سببين مذكورينو مجموعه ته هم شامل دے او احدهما ته هم بيادد ے نه احدهماً استثناء
كړى ده دغه امرعام امر دائر اومفهوم مرڈدسره تعبير كيدے شي چه مستثنىٰ منه امر دائر اومفهوم
مرڈد دے.

وَخَالَفَ سِيْبَوَيْهِ اَلْاَ خْفَشَ فِيْ مِثْلِ اَحْمَرَ عَلَمًا اِذَانُكِرَ اِعْتِبَاراً لَلصِفَةِ اَلْاَ صْلِيَّةِ بَعْدَ التَّنْكِيْرِ

داعبارت دمذهب جمهور نه بطور استثناء دَپاره مذهب جمهور دا وو چه هر هغه اسم چه په هغې
كښې علميت مؤثره وى بعدالتنكير مُنصرف به شي. ليكن مثل احمر علمًا كښې اختلاف دے چه
دَپرغې حاصل دادے چه هرهغه اسم چه دَهغې وضع دَوصف دَپاره وى روستو علم جوړ شوے وى. بيا
علميت هم زائل شي نودد ے وصف اصلي اعتبار كولوسره غيرمنصرف به لوستلے شي .ياعدم اعتبار
كولوسره منصرف به لوستلے شي .په دېكښې اختلاف دے امام سيبويه دَوصف اصلي اعتبار كولو
سره غير منصرف اواخفش اعتبار نه كوى منصرف لولى لكه احمر دد ے وضع وصف دَپاره ده .كه

چرے دَچا علم كيښودلے شي. بيابعد التنكير عند سيبويه غير منصرف دے .اوعندالاخفش منصرف دے . دَسيبويه دليل وصفيت دَپاره مانع علميت وو چه كله علميت زائل شي نودَوصف اعتبار كولو سره هيڅ مانع پاتے نه شو. لهذا دَوصفيت اعتبار كولوسره غير منصرف به لوستلے شي .په دے بانـدے سوال كيږي چه دَيو څيز معتبر كيدو دَپاره محض دَمانع مفقود كيدل نه كافي كيږي بلكه دَمقتضىٰ موندل هم ضروري دي اومثل احمر حالت علميت كښے مونږ منو چه بعد التنكير مانع پاتے نه شو دَ وصف اصلي اعتبار كولودَپاره هم خوهيڅوک مقتضي موجود نه دے نودَوصف اصلي اعتبار كول غلط شو.

جواب:بعضو دَسيبويه دَطرف نه جواب وركړو چه مقتضي موجود دے چه مثل احمر علماً قياس كول اسود ارقم باندے چه لكه څه رنګ اسود وارقم كښے غلبه دَ اسميت علي الوصفيت نه پس وصف اصلي زائل شو .ليكن.بيا هم دَ وصف اصلي اعتبار كوي بالكل هم داسے مثل احمر علماًكښے پس دَتنكير دَوصف اصلي اعتبار به كولے شي.

جواب الجواب: داقياس مع الفارق دے .په دے وجه چه مقيس عليه اسود ارقم كښے وصفيت بالكليه زائل نه شو كماهو الظاهراومقيس مثل احمر كښے وصفيت كلية زائل شوے دے دَ اخفش .دليل دَعلميت په وجه وصفيت معدوم شوے دے او قاعده والمعدوم لايعود په دے وجه دَعلميت دَ زائل كيدو نه پس وصفيت اصليه به واپس رانشي.

سوال: اخفش په نوم درے سړي دي .(۱) اخفش كبير چه استاذ دَسيبويه دے چه دهغه كنيت ابو الخطاب دے(۲) اخفش صغير چه شاګرددَسيبويه دے چه دَهغه كنيت ابوالحسن دے . (۳) اخفش اوسط چه دَسيبويه معاصر دے چه دَهغه نوم علي بن سليمان دے دلته كوم يومراد دے؟

جواب: دلته اخفش مشهورمراد دے چه دَ سيبويه شاګرد دے نو مصنفؒ ته پكار وو چه دَ مخالفت نسبت اخفش په طرف نے كولے نه دَسيبويه په طرف چه استاد دے؟

جواب: چونكه قول دَشاګرد احق وو څكه چه دَقاعده كليه مذكوره بالكل مطابق دے .نومصنف كوماهوالحق اظهار كولوسره دَمخالفت نسبت استاذ طرفته اوكړو ياد ساتئ داسے قسم نسبت نه دَاستاد توهين دے اونه دَسعادت دارينن نه دَمحرومتياسبب جوړيږي.

وَلَا يَلْزَمُهُ بَابُ حَاتِمٍ لِمَا يَلْزَمُ مِنْ اِعْتِبَارِ الْمُتَضَادَيْنِ فِيْ حُكْمٍ وَاحِدٍ په عبارت کښے سیبویه باندے دَاخفش دَطرف نه وارد شوی الزام او اعتراض جواب ورکوی؟

سوال: چه کله مثل احمر علمًا کښے سیبونه بعد التنکیر دَوصف اصلی اعتبار کوی او هغه زائل شوے دے. نو دد ے علمیت کیدو سره سره هم دَوصف اصلی اعتبار کول پکار وو لکه حاتم دیته غیر منصرف ونیل پکار وو ځکه چه دوه سببونه موجود دی (۱) علمیت (۲) وضفیت

جواب: صاحب کافیه جواب اوکړو چه مثل احمر علماً کښے دَوصف اصلی اعتبار کولوسره دالازم نه راځی چه باب حاتم کښے هم دَوصف اصلی اعتبار اوکړے شی. ځکه چه دلته مانع موجود دے. هغه داد ے چه اعتبار المتضادین فی تحصیل حکم واحد یعنی دَ یوحکم دَحاصلو دپاره د دوه متضاد ځیزونو اعتبار کول او باب حاتم کښے حکم واحد هغه عدم انصراف دے چه دد ے دَ تحصیل دَپاره د دوه سببونو ضرورت دے. یو وصفیت او دونم علمیت او په دے دواړو کښے تضاد دے ځکه چه وصفیت عموم باندے دال دے. او علمیت خصوص باندے په خلاف دَاحمر علماً هلته څه مانع بالکل هډو شته نه.

سوال: باب حاتم کښے دَوصفیت اعتبار کولوسره مونږ قطعًا داخبره نه منو چه اجتماع المتضادین فی کلمة واحد لازم به راشی. ځکه چه دَعلمیت سره تضاد خوذَ وصفیت محققه دے او دلته وصفیت زائله دے. چه دَعلمیت سره ئے هیڅ تضاد نشته.

جواب: معترض صاحب احدالضدین دد ے دَزائل کیدو نه پس دَ ضد اخر سره اعتبار کول اگر چه حقیقة اجتماع المتضادین نه دے لیکن صورة ومشابهة خو فی شته. چه غیر مستحسن دے. اودَ فصحاء وبلغاء په نیزد غیر مستحسن نه بچ کیدل هم ضروری وی.

وَجَمِيْعُ الْبَابِ بِاللَّامِ اَوْ بِالْاِضَافَةِ يَنْجَرُّ بِالْكَسْرِ دا دَ غیر منصرف دَمباحثو اخری مسئله ده دغیر منصرف تمام بابونو باندے که چرے الف لام داخل شی. یا مضاف شی نوبالاتفاق مجرور بالکسره کیدے شی. لکه والتم عاکفون فی المساجد لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم.

سوال: ستاسو او ونیل چه دَالف لام دخول سره ټول بابونه غیر منصرف منصرف کیږی حالانکه الرجل

باندے الف لام داخل دے دے سرہ خوهیڅ غیر منصرف منصرف جوړنه شو.

جواب: دَالف لام دَ دخول نه مراد دخول علی الاسم دے بلکه دخول علی غیر المنصرف دے. اوالرجل خومنصرف دے.

سوال: ستاسواوونیل په اضافت سرہ غیر منصرف مجرور بالکسرہ کیږی حالانکه غلام احمد کښے احمدغیر منصرف دے دیطرفته اضافت موجود دے .لیکن دا مجرور بالکسرہ نه دے .

جواب: اضافت نه مراد مضاف دے نه مضاف الیه ستاسو په مثال کښے احمر علمًا مضاف الیه دے.

سوال: مصنفؒ ینجر بالکسرہ اوونیل جرخو دحرکات اعرابیه نه چه دهغے نه معلومیږی غیر منصرف معرب وی اوکسرہ حرکات بنائیه نه دے چه دَهغے نه معلومیږی چه هغه غیر منصرف مبنی بالکسرہ به شی حالانکه د دوئ ترمینځ منافات دے لهذا داعبارت غلط دے.

جواب: بالکسرنه مراد صورۃ کسردے حقیقی کسرہ مراد نه دہ چه دحرکات بنائیه دَ القابونه دے .بیا په دیکښے هم تعمیم دے خواہ مجرور لفظًا وی لکه بالاحمر یا تقدیرا بموسیٰ .

سوال: صاحب کافیه دَینجربالکسرہ په ځائے حرف ینجر کیښودلے وے نو بهترہ وہ ځکه چه عبارت کښے به ایجاز اواختصار شوے وے چه مطمع نظر دے؟

جواب: که چرے فقط ینجر نے وئیلے وے نو مقصد به نه وے پورہ شوے ځکه جر بالفتح هم رائجی په دے وجه بالکسر نے اوونیل تصریح نے اوکړہ چه دلته هم مجرور بالکسر مراد دے .

سوال :بیاینکسر نے وئیلے وے نوهم په دے سرہ اختصار پیدا کیږی . داسے نے ولے اونه کړل؟

جواب: که چرے ینکسر نے وئیلے وے نو داشبهه کیدے شوہ چه الف لام او اضافت غیر منصرف مبنی په کسرے سرہ کیږی ځکه چه کسر دَحرکات مبنیه ؤ نه دے حالانکه غیر منصرف معرب وی بهر حال صاحب کافیه ددغه دواړو شبهو دَ ازالے دَپارہ ینجر بالکسر اووے.

تحقیق مقام: دَالف لام دَدخول اواضافت سرہ غیرمنصرف به منصرف شی یانه چه په دیکښے درے مذاهب دی.(۱) رجاج اودهغه دَ متبعینو(۲) سیبویه اودَهغه دَ متعبینو (۳) فراء اودَهغه دَ

متبعینو.

مذهب زجاج : دزجاج اودهغه دمتبعینو مذهب دادے چه په غیر منصرف باندے الف لام داخلشی یا مضاف شی نو مطلقا منصرف شی خواه علل تسعه ؤنه علتین باقی پاتے شی یانه .

دلیل داسم عدم انصراف دفعل سره دمشابهت په وجه وو چه کله الف لام داخل شی یا به هغه غیر منصرف مضاف شی دا مشابهت بالفعل ضعیف به شی چه دهغے په وجه منصرف به شی خواه علتین باقی پاتے شی یانه .

سوال: چه کله دا منصرف وے نوتنوین ولے نه داخلیږی .

جواب: دتنوین ممنوع کیدل دغیر منصرف کیدو په وجه نه دے بلکه دَ الف لام داخلیدو اودَاضافت په وجه دے . ځکه چه کوم اسم باندے الف لام داخل وی یا هغه مضاف وی نو په هغے باندے دتنوین داخلیدل ممتنع دی.

مذهب سیبویه : بعد دخول اللام والاضافت هم غیر منصرف به پاتے شی خواه دوه سیبونه پاتے شی یانه .

سوال: چه کله هرحال کښے دااسم غیر منصرف پاتے کیږی نودتنوین په شان کسره هم راوړل نه ږی پکار حالانکه کسره راځی.

جواب: اصل کښے په غیر منصرف باندے حقیقة واصلاً تنوین ممنوع دے ځکه چه تنوین تمکن اودَ انصراف علامت دے باقی پاتے شوه کسره هغه خوفقط دتنوین دتبعیت په وجه ممنوع دے . اودالف لام دَدخول او اضافت سره دغیر منصرف مشابهت بالفعل ضعیف شوے به وے .نودا مشابهت ضعیفه دتنوین ممنوع کیدو کښے مؤثر به نه شی بهرحال چونکه بعد دخول اللام والاضافت کښے هم مشابهت موجود دے خواه ضعیف ولے نه وی په دے وجه هغه اسم به غیر منصرف پاتے شی.

مذهب فراء: اوددهٔ متبعین بعد دخول اللام والاضافت که چرے علتین باقی وی نوغیر منصرف که باقی نه وی نومنصرف به شی چه دهغے تفصیل دادے .چه ددے درے صورتونه جوړیږی .

(۱) الف لام او دَاضافت په وجه هیڅ سبب باقی پاتے نه شی (۲) یوسبب باقی پاتے شی.(۳) دواړو سببونه باقی پاتے شی.پړومبی دواړو صورتونو کښے هغه به منصرف شی .دریم صورت کښے غیر

منصرف به پاتي شي. دوهمې صورت به هغه وخت بيامونده شي چه کله په يواسم کښې علميت په اعتبار دَ شرط شريک وي نوعلميت پورته کيدو سره هيڅ سبب به باقي پاتې نه شي . ځکه چه علميت شرط وو فاذا فات الشرط فات المشروط لکه الابر اهيم اودونم صورت به هغه وخت بيامونده شي چه کله علميت په اعتبار دَسببيت شريک وي نودَعلميت پورته کيدو سره يوسبب به باقي پاتې شي. کمامر درنم صورت هغه وخت چه کله په يوه کلمه کښې علميت نه علاوه دوه سببونه بيامونده شي.

فائده: الف لام او اضافت سره علميت ولې پورته کيږي دَالف لام په وجه علميت په دې وجه پورته کيږي چه علميت کښې دَاعلىٰ درجې تعريف دې په نسبت دَالف لام که چرې لام تعريف داخل شي نو لازم به راشي طلب ادنى بأحصول اعلىٰ اودَاضافت نه دَعلميت زائل کيدو وجه داده چه که چرې اضافت الى المعرفه وي نودَ تحيصل حاصل خرابي به لازم راشي اوکه اضافت الى النکره وي نو طلب ادنى مع حصول اعلىٰ خرابي به لازم راشي والله اعلم وعلمة اتم واحکم . .

المرفوعات :

المرفوعات التحقيقات الستة فى المرفوعات: دلته يوڅو تحقيقاتو باندې ځان پوهه کړی.
(۱)تحقيق ربطى (۲) تحقيق تقديمى (۳) تحقيق ترکيبى(۴) تحقيق صيغوى (۵) تحقيق الف لام (۷) تحقيق معنوى .تحقيق ربطى. دَالمرفات نه مخکښې په دوه طريقو سره ربط دې (۱) تراوسه پورې دَ مقدمه بيان وو. اوس دَمقدمه ثلاثه بيان شروع کيږي. (۲) ماقبل کښې دَاسم معرب تقسيم په اعتبار دَانصراف اوعدم انصراف سره وو اوس دلته نه دَاسم معرب تقسيم په اعتبار دَاعراب سره کوي چه اسم معرب به مرفوع وي يا منصوب يا مجرور .

تحقيق تقديمى: يعنى دَمرفوعاتو په منصوباتو مجروراتو باندې دَمقدم کولو څه وجه ده مرفوعات اته دي. چه ددينه پنځه مسنداليه وي فاعل، نائب فاعل مبتداء دکان اسم ، دَما والا مشبهتين بليس اسم. دَمرفوعاتو نه درې مسند وي. چونکه مسند اليه په کلام کښې عمده وي. او وللاکة کحم الکل د لاندې مرفوعات عمده شول په دې وجه مرفوعات نې مقدم کړل .

تحقيق ترکيبى:لفظ کافيه په ترکيب باندې قياس کړی البته دَمرفوع کيدو په صورت کښې يوترکيب به داشي. المرفوعات مبتدا مابعد هو مااشتمل الخ خبر دې.

تحقیق الف لام: المرفوعات باندے الف لام حرفی دے .موصولی نه دے په دکے وجه چه موصول ډَپاره دوه شرطونه دی (۱) کون الصفة بمعنی الحال او لاستقبال والا فصار امرالازما للاسنا، (۲) عدم غلبة الاسمیة علی الوصفیة وقد غلبت . بهر حال الف لام موصولی نه دے فرضی دے یا حرفی کیدو سره عهد خارجي به شي. چه ددے اشاره به شي انواعه رفع سره چه مرفوع مفهوم دے ددے په طرف بعضوجنس جوړ کړے دے حالانکه جنسي جوړول غلط دی . لعدم مصاعدة الجنسیه مع الصیغة فی ابطالها الجمعیة لیفید الجنس فهذا فات المقصود لصیغة الجمع وهو الا شعار علی کثرة الانواع

تحقیق صیغوی :مرفوعات جمع ده دَ مرفوع

سوال: مرفوع خوواحد مذکر دے ددے جمع مرفوعات څه رنګ کیدے شي څکه چه دَواحد مؤنثه جمع دَالف تاء سره راځي؟

جواب: قاعده ده چه دَ مذکر لایعقل دَصفت جمع مطر دًا عقلًا ونقلًا دَالف تاء سره راځي.

رومبې دلیل عقلي: إن غیر العاقل جار مجری المؤنث باعتبار قصور العقل الا ان بینهما فرق وهو ان العقل فی غیر العاقل معدوم وفی المؤنث مقصور کما قال الرسول فانها ناقصات عقل ودین .

دوئم عقلي دلیل: جمع مؤنث سالم په دوه قسمه ده (۱) قیاسی لکه مُسلمات ،ضاربات (۲) غیر قیاسی جمع مؤنث سالم غیر قیاسی دَپاره لازم نه دے چه ددے هم مفرد مؤنث وی. لکه جمع مذکر سالم مسلمون ارضون، قلون سنون فتدبر.

سوال: که مرفوعات دَمرفوعة جمع اومنلے شي نوڅه نقصان به اوشي حالانکه په دے سره ددغه تکلفاتو ارتکاب به اونه کړے شي.

جواب: نقصان به دااوشي چه موصوف صفت کښے په اعتبار دَتذکیروتانیث سره مطابقت به رانشي دغه رنګ چه المرفوعات صفت دے .دَالاسماء تقدیر عبارت الاسماء المرفوعات به شي اوقاعده ده چه اتصاف الجمع بالجمع یستلزم اتصاف المفرد بالمفرد لهذا دالمرفوعات مفرد به صفت جوړشي. والاسماء مفرد الاسم تقدیر عبارت به داشي الاسم المرفوعة چه غلط دے په دیوجه المرفوعات جمع دَمرفوع جوړیږی نه دَمرفوعة.

وجه دَحصر: مرفوعات ثمانيه اسم مرفوع به دوه حالونه خالي نه وي عامل لفظي به وي يا معنوي كه چرے عامل معنوي وي نومعمول به مسنداليه وي . يا مسند اول مبتدا ثاني خبر كه عامل لفظي وي نودوه حالونه به خالي نه وي چه عامل به فعل شبه فعل وي يا حرف .كه فعل شبه فعل وي نوقائم بالمعمول به وي يا واقع على المعمول اول فاعل ثاني نائب فاعل كه عامل حرف وي نو معمول به مسند اليه وي يامسند كه مسند اليه وي نوبيا به دوه حالونه خالي نه وي. كلام موجب كښے به وي يا كلام غير موجب كښے اول دَافعال ناقصه اسم دے اوثاني دَماو لا المشبهتين اسم دے. اوكه مسند وي نوكلام موجب به وي ياكلام غيرموجب اول دَحروف مشبه بالفعل خبر اوثاني دَلانفي جنس خبر دے.

فائده: صاحب كافيه دَمرفوعاتو اووه قسمونه ذكر كړي دي.اوباقي نحاتو اته اقسام ذكر كړي دي علامه ابن حاجبؒ دَافعال ناقصه اسم نه دے ذكر كړے ځكه چه دا فاعل مقرر كوي .باقي پاتے شوه داخبره چه دافعال ناقصه ؤ خبرئے جدا ولے ذكر كړو دا به ئے هم مفعول مقرركړے وے ددے جواب دادے چه خبر مفعول نه جوړيږي بلكه ملحق بالمفعول دے په دے وجه دائے جدا ذكر كړو ليكن حق دادے چه دَاسم كان ملحق بالفاعل دے ځكه كه چرے فاعل وے نوكلام به په دۀ بانده پوره كيدے اودَ عدم ذكروجه دَفاعل چه احكاماتو كښے شريك كيدل وو په دے وجه ئے ذكر نه كړو والله اعلم وعلمه اتم واحكم.

هُوَمَا اشْتَمَلَ عَلىٰ عَلَمِ الْفَاعِلِيَّةِ شپږم تحقيق معنوي دے دا تحقيق مصنف خپله بيانوي چونكه دا دَ مرفوع تعريف دے په دے وجه حسب سابق په يوځو درجاتو كښے به بيان كړے شي.

ړومبۍ درجه: مختصر مفهوم مرفوع هغه اسم دے چه دَفاعل كيدو په علامت باندے مشتمل وي يعني مرفوع هغه دے چه په هغے كښے دَفاعل دَعلاماتو نه يوعلامت بيامونده شي. دَفاعل علامت درے دي(۱) ضمه لكه قام زيد(۲) الف لكه قام رجلان(۳) واو لكه قام مسلمون خواه لفظا وي يا تقديرًا يامحلًا .

دوئمه درجه: فوائد قيود ماجنس دے چه تمامو اسماء مرفوعاتو ،منصوباتو اومجروراتو ته شامل دے. اشتمل علىٰ علم الفاعل په قيد سره منصوبات مجرورات خارج شول.

درئمه درجه سوالات واجوابات : دَهوضمير مرجع اوښايۍ څه دۀ چه په هغے كښے دوه

احتمالات دی کلاهما باطل .که المرفوعات جوړ کړے نو دوه خرابیانے لازم راځی. (۱) راجع مرجع کښے به مطابقت نه وی (۲) المرفوعات جمع ده چه په دے سره مراد افراد مرفوع دی نو داتعریف به دَ افرادو شی. حالانکه قاعده ده چه التعریف للماهیة لا للا فراد که المرجع مرفوع جوړ کړے شی نو دَضمار قبل الذکر خرابی به لازم راشی .

جواب: دَهوضمیر مرجع المرفوع دے اودَمرجع درے قسمونه دی .(۱)حقیقی (۲) معنوی(۳) حکمی .دلته مرجع معنوی ده چه دَالمرفوعات نه فهم کیدے شی کمافی قوله تعالیٰ اعدلوا هوا قرب للتقویٰ .

سوال :داتعریف مانع نه دے په فعل مضارع باندے صادق راځی. لکه یضرب داپه علامت فاعلیت باندے مشتمل دے.

جواب: دمانه مراد اسم دے لهٰذا داتعریف مانع شو.

سوال: دَاشتمال یوڅوقسمونه دی(۱) اشتمال الکل علی الجزء (۲) اشتمال الکلی علی الجزئی (۳) اشتمال الظروف علی المظروف (۴) اشتمال الموصوف علی الصفة(۵) اشتمال ذی الحال علی الحال دلته کوم یومراد دے .

جواب:اشتمال الموصوف علی الصفة مراد دے چه اسم مرفوع په منزله دَموصوف دے او علامت فاعل په منزله دَصفت دے .

سوال: اوس دا تعریف په اعراب بالحرف باندے به صادق رانشی ځکه چه په دیکښے اشتمال الکل علی الجزء وی.

جواب: اعراب بالحرکت اصل دے اواعراب بالحرف فرع دے اوقاعده ده چه والفرع یحمل علی الاصل یعنی دَ اصل تابع ئے کړو.

سوال: که مصنف علی علم الرفع ونیلے وے نو اختصار به شوے وے؟

جواب: دَ دورخرابی لازم راځی ځکه چه معرف هم مرفوع دے.

جواب: دَمصنفؒ مقصود داهم ونیل وو چه مرفوعاتو کښے اصل فاعل دے.

فَمِنْهُ الْفَاعِلُ دَمرفوعاتو ړومبے قسم فاعل دے.

سوال: فاعل ئے باقي مرفوعاتو بانـدے ولـے مقدم کړو؟

جواب: دمـصـنف اوجـمهورو نـحاتـو پـه نيـزد فاعل اصل دے اودسيبويه په نيزد مبتداء اصل دَ جمهورونحاتو يوڅو دلائل.

دليل اول: جـمـلـه فـعـليـه دتـمامو جملونه افضله او اصل دے په دے وجه چه مقصود افاده ده اوجـمـلـه فـعليه کښـے دَجزمع الزمان کيدو په وجه افاده تامه کيږي په دے وجه اصل دے اوفاعل چونکه دَجمله فعليه جزء وي اوقاعده ده چه داصل جزء هم اصل وي په دے وجه فاعل اصل شو.

دليل ثاني: دَفاعل عامل لفظي وي اودَ مبتدا عامل معنوي اوعامل لفظي قوي دے په نسبت چه دَعامل معنوي او دا خبره ظاهره ده چه دَمؤثر قوي اثر هم قوي وي لهذا فاعل قوي شو. کمبتدا نه.

دليل ثالث: دفـاعـل فـاعـليت اواعـراب يـونـاسخ سره نه منسوخ کيږي په خلاف دَمبتدا ددے ابتدائيت اواعراب منسوخ کيږي په دے وجه فاعل اصل شو.

دليل رابع: که فاعل حذف دي نو نائب فاعل پريږدي په خلاف کمبتدا.

دليل خامس: عـلـي رضي الله عنه فرمائي چه الفاعل مرفوع دوئ دَمرفوعا نه فقط فاعل ذکر کړو داهم داصل کيدو دليل دے.

دسيبويه دلائل: دليـل اول: اصـل پـه مسـنـداليه کښـے تقديم دے چه په دے بانـدے فقط مبتدا قائم ده. په دے وجه مُبتداء اصل د؟

جواب: داخبـره درست ده چه اصل په مسند اليه کښـے تقديم دے په دے شرط چه مانع نه وي اوپه فاعل کښـے مانع شته چه دَمبتدا سره التباس پيداکوي.

دليل ثاني: اصـل پـه مسـنـد کښـے دادے چه په دے بانـدے دَ مسشتق اوجامد حکم اولګولے شي اوپـه دے اصـالـة بـانـدے هم فقط مبتدا قائم ده په خلاف دَفاعل په دۀ بانـدے فقط دَمشتق حکم لګولے شي. لهذا مبتدا اصل شوه.

جواب: اصـل دا دے چـه حـکـم بالمشتق وي حکم بالجامد قليل دے اودَقليل هيڅ اعتبار نه وي اوفاعل بانـدے هم دَجامد حکم لګي لکه افعال مدح وذم لهذا هم فاعل اصل شو.

وَهُوَمَاأُسْنِدَ الْفِعْلُ اَوْ شِبْهُهُ وَقُدِّمَ عَلَيْهِ عَلٰى جِهَةِ قِيَامِهٖ بِهٖ دَ فاعل تعريف کول غواړي.

رومبۍ درجه: مختصر مفهوم فاعل هغه اسم دے چه هغه طرفته دَفعل یاشبه فعل اسناد کړے شوے وی اوفعل یاشبه فعل په دے باندے مقدم وی او اسناد هم علیٰ طریق القیام وی نه په طریقه دَوقوع ددے تعریف نه معلوم شو چه دَفاعل متحقق کیدو دَپاره څلور شرائط دی.(۱) اسم وی خواه حقیقتاً وی یاتأویلا (۲) اسناد الی الفاعل وی (۳) دَفعل په فاعل باندے تقدیم وجوبی وی (۴) دَفعل قیام بالفاعل وی .

دوئمه درجه: فوائد قیود ماجنس دے په دیکښے تمام اسماء داخل وی اسند الیه الفعل او شبهه دافصل اول چه ددے نه زید ابوک اووتو. علی جهته قیامه دونم قید دے چه ددے نه نائب فاعل خارج شو درئم قید دے ددے نه نائب فاعل خارج شو.

درئمه درجه دَسوال وجواب:

سوال: دَفاعل دا تعریف جامع نه دے په دے وجه چه اعجبنی ان ضربت زیدا باندے صادق نه راځی په داسے طریقه چه ان ضربت فعل دے چه فاعل واقع دے . داعجبنی حالانکه دَفاعل دَپاره اسم کیدل ضروری وی.

جواب: په اسم کښے تعمیم دے خواه اسم حقیقی وی یاتأویلی اوضربت (اَنْ) په وجه اسم تأویلی جوړشوے دے لهذا تعریف جامع شو.

سوال: داتعریف دَدخول غیر نه مانع نه دے ځکه چه دَفاعل په توابعو باندے صادق راځی قام زید وعمرو؟

جواب: داسناد نه مراد اسناد بالاصالة بلاواسطه دے. اوتوابعو کښے باواسط او بالتبع دے.

سوال: شبهٔ مصدر مبنی للفاعل په معنی مشابه دے اودَمشابهت بالفعل درے صورتونه دی. (۱)مشابهت بالفعل باعتبار دلالت علی الحدیث (۲) مشابهت بالفعل باعتبار الحرکات والسکنات وعدد الحروف(۳) مشابهت باعتبار الاشتقاق که اول مراد وی نوفی الدار زید به خارج شی فی الدار جارمجرور دے دال علی الحدث نه دے دونم مراد وی نوهیهات زیدٌ خارج به شی درئم مراد دی نواعجبنی ضرب زید خارج به شی ځکه چه ضرب مصدر دے مشتق نه دے مشابهت باعتبار الاشتقاق څه رنګ کیدے شی په بل عنوان سره چه دَغیر منصرف مشابهت بالفعل دے نوددے

اسناد هم الی الفاعل کیدل پکار دی.

جواب: مشابهت بالفعل فی العمل مراد دے.

سوال: داتعریف دخول غیرنه مانع نه دے کریمٌ من یکرمک بانديے صادق راځی.

جواب: دتقدیم نه مراد تقدیم وجوبی دے اوحالانکه دا جوازی دے.

سوال: بیاهم دا تعریف مانع نه دے فی الدار رجلٌ بانديے صادق راځی ځکه چه تقدیم وجوبی دے.

جواب: دتقدیم وجوبی نه مراد وجوبی نوعی دے نه فردی اودلته بانديے وجوبی فردی شخصی دے.

سوال: دفاعل دا تعریف جامع نه دے ځکه چه دقیام الفعل بالفاعل نه مراد صدور الفعل عن الفاعل دے اومات زید طال عمرو کښے دفعل صدور دفاعل نه نه دے.

جواب: قیام الفعل بالفاعل نه مراد دا دے چه صیغه دَ معلوم وی دَمجهول نه وی.

سوال: علی جهة قیامه په قید سره مفعول مالم یسمَّ فاعله اخراج درست نه دے ځکه چه هغه هم فاعل دے لهذا ددے قید پریخودل ضروری وولکه ځنګه چه صاحب مفصل اوشیخ عبدالقاهرجرجانی پریخودلو .

جواب: مفعول مالم یسمه فاعله کښے اختلاف دے کبعضے نحویانو په نیزد چه په هغوئ کښے علامه ابن حاجب هم دے چه دافاعل حقیقی نه دے په دے وجه ددے دَخارج دَپاره قیدلګول ضروری وو. اواکثر مُتَقدمین علامه زمخشری ،شیخ عبدالقاهر په نیزد دافاعل حقیقی په دے وجه ددے په تعریف دَفاعل کښے داخلولو دَپاره داقید ئے پریخودولو.

وَالْاَصْلُ اَنْ يَّلِيَ الْفِعْلَ فَلِذٰلِكَ ضَرَبَ غُلَامَهٗ زَيْدٌ وَامْتَنَعَ ضَرَبَ غُلَامُهٗ زَيْدًا دَفاعل دَتعریف نه پس دهغه احکام بیانول غواړی .په دے عبارت کښے دَحکم اول بیان دے چه فاعل کښے اصل دادے چه هغه دَفعلسره متصل وی باقی تمام معمولا تونه مخکښے وی .

دلیل : فاعل جزء دے دَفعل لفظا هم اومعنیً هم . لفظا خوداسے چه ضَرَبْنَ ،ضَرَبْتُ یوه کلمه منلو سره ساکن کړے شوی دہ لکه ځه رنګ چه دَصرف دننه ستاسو لوستلی دی. چه فاعل لفظا جز فعل

دے .معنا جزء كیدل دارنګ دی چه فعل بغیر دفاعل نه نه تامیږی. چه کله فاعل لفظًا اومعنًا دفعل جـزء شو اوجزء دَ شي دَشي سره متصل وی لهذا په فاعل کښے اصل اومناسب هم دے چه هغه دفعل سره متصل وی ددے کلمے نتیجه دا ده چه مثال ضرب غلامه زید جائز دے اوضرب غلامه زیدا ناجائز دے په دے وجه چه مثال اول کښے اضمار قبل الذکر لفظاً خوشته لیکن رتبة نشته اومثال ثاني کښے اضمار قبل الذکر لفظاً هم دے اورتبة هم چه ناجائز دے.

سوال: مصنف ضرب علامه زید جائز قرار کولو سره دَ خپل هغه قانون تردید اوکړو هغه دارنګ چه دَاصل معنی قاعده ده چه کله قاعده اوقانون دادے چه فاعل دَفعل سره متصل وی او دامثال خو دَقاعدے خلاف دے څه رنګ جائز کیدے شي .لهذا یا خوقاعده غلط ده یا مثال غلطه دے.

جواب: معترض صاحب دلته اصل په معنی دَقاعده اوقانون نه دے بلکه اصل په معنی دَلائق اومناسب دے.

سوال: مونږ ستاسو ته مثال ښایو چه په هغے کښے فاعل مقدم کول اولی خویوطرفته کره بلکه مؤخر کول ضروری دی. لکه ما ضرب عمر واالازید؟

جواب: زمونږ مراد دادے چه کله یومانع عن التقدیم نه وی اوستاسو په مثال کښے مانع موجود دے.

سوال: مونږ درته بل مثال ښایو چه په هغے کښے بغیر دَمانع فاعل مؤخر دے لکه جاء الرجل کښے دَالف لام فاصله ده؟

جواب: زمونږ مراد دَفعل دَمعمولاتو نه مقدم کیدل دی اوالف لام دَ معمولاتو نه نه دے.

فائده : دَمثال ثاني عدم جواز په مذهب دَجمهورو دے اودَ اخفش په نیزد جائز دے ځکه چه ددهٔ په نیزد ضمیر دَمفعول فاعل مقدم سره متصل کیدل جائز دی ددهٔ دلیل داشعر دے .

جَزٰی رَبُّهٗ عَنِّیْ عَدِیَّ ابْنَ حَاتِمٍ

جَزَاءَ الْكِلَابِ الْعَادِيَاتِ وَقَدْ فَعَلْ

دجمهورو دَطرف نه جواب دادے چه دا دَ ضرورت شعری په وجه سره دے.

فائده: پنځو مقاماتو باندے اضمار قبل الذکر جائز دے. (۱) ربه رجلا (۲) نعم رجلا (۳) ضمير شان ضمير قصه (۴) تنازع فعلين ځنګه ضربني واکرمت زيدا (۵) بدل دَضمير نه لکه ضربته زيداً.

وَاِذَا انْتَفَى الْاِعْرَابُ فِيْهِمَا لَفْظًا وَالْقَرِيْنَةُ دَحکم ثاني بيان فاعل څه رنګ تقديم وجوبي دے ددے ځائے نه.

ضابطه بيانول غواړي چه څلورو مقاماتو باندے فاعل مقدم کول واجب دي.

مقام اول: چه کله فاعل اومفعول باندے اعراب منتفي شي اوکدے په تعين باندے قرينه هم منتفي وي نوفاعل مقدم کول واجب دي لکه ضرب موسىٰ عيسىٰ.

دليل فاعل مقدم کول په دے وجه ضروري دي. چه فاعل مفعول سره التباس لازم رانشي.

سوال: چه کله التباس مخل بالفهم وي نوبيادَ موسىٰ عيسىٰ ترکيب هم ناجائز کيدل پکار دي. ځکه چه دَجمله اسميه دَفعليه سره التباس دے. دغه رنګ ماقائم زيد کښے هم التباس دے.

جواب: جهات في الالتباس د دَدو انواعونه خالي دے (۱) دواړو خلاف اصل وي (۲) دواړه موافق دَاصل وي. دا محض عقلي احتمال دے لاتحقيق چه دَجهة موافق اصل او دوئم خلاف اصل په قسم اول کښے التباس جائز دے. ځکه چه دَجهة اصليه دَعدم په وجه ذهن هلته نه ځي. لکه موسىٰ عيسىٰ او اقائم زيد بلکه ما التباس نه دے ابهام دے. اوقسم ثالث ناجائز دے ځکه چه دَمخاطب ذهن جهة اصليه طرفته ځي. اګر چه مراد متکلم خلاف اصل دے. لکه ضرب موسىٰ عيسىٰ.

سوال: قرينه اعراب ته شامل ده نودَ اعراب ذکر کول لغومستدرک ده لهذا انتفي القرينه ونيل کافي وو.

جواب: قرينه او اعراب کښے فرق دے. چه په قرينه کښے وضع شرط نه ده. اوپه اعراب کښے وضع شرط ده. يعني دا بشرط يشئ په درجه کښے دے. اولفظ مهمل بشرط لاشي په درجه کښے دے دادَ بشرط شئ په درجه کښے دے. بيا قرينه په دوه قسمه ده. (۱) قرينه لفظي وي لکه ضرب موسىٰ عيسىٰ (۲) قرينه معنوي وي لکه اکل الکمثري يحيىٰ.

سوال: مجازات په څه کښے داخل وي که په اول کښے داخل وي نو په ديکښے اولفظ موضوع کښے فرق به نه وي اوکه په ثاني کښے داخل وي نوبيا دَمجاز اطلاق په قرينه باندے نه کيږي نه

عرفاً او نه لغةً او که په مهمل کښې داخل وي نو بیا معنی مجازي څه رنګ کیدے شي.

جواب: په قسم اول کښې داخل وي ځکه چه اګر چه په دیکښې وضع شخص نشته لیکن وضع نوعي موجود ده.

مقام ثاني: أَوْكَانَ مُضْمِرًا مُتَّصِلًا چه کوم وخت دَفاعل ضمیر دَ فعل سره متصل وي نودغه وخت هم دَفاعل مقدم کول واجب دي لکه ضربت زیدا.

دلیل: که چرے دغه فاعل مؤخر کړے شي. نوضمیرَ متصل به پاتے نه شي بلکه منفصل به شي چه ناجائز دے.

مقام ثالث: أَوْوَقَعَ مَفْعُوْلُهُ بَعْدَ اِلَّا چه کوم وخت دَفعل مفعول دَالانه پس وي نودغه وخت دَفاعل مقدم کول ضروري دي. ماضرب زیدٌ الاعمروًا.

دلیل: دینه مخکښے ضابطه پیجندل ضروري دي. چه کله مفعول دَالا نه پس وي نو دَ متکلم مقصود به داشي چه دَفاعل فاعلیت منحصر دے په دے مفعول کښے اودَ مفعولیت حصرپه دے فاعل کښے نشته لکه ماضرب زید الاعمروا دَمتکلم مقصود دادے چه دَ زید ضاربیت بند دے دے دَعمرو په مضروبیت کښے یعني زید داسے شریف سړے دے چه دهٔ ترنن پورے دَعمرو نه علاوه هیڅوک نه دے وهلے باقي پاتے شو عمرو کیدے شي چه دے بل چا هم وهلے وي که فاعل مؤخر کړے شي نوبرعکس به شي چه خلاف مقصود متکلم دے.

سوال: مَاضَرَبَ اِلَّا عَمْرٌ وا وزَیْدٌ کښے مفعول دَالانه پس واقع دے. لیکن تقدیم دَ فاعل واجب نه دے.

جواب: مثال مذکور کښے دَحصر مطلوب انقلاب لازم نه راځي. ځکه چه ضابطه ده چه حصر همیشه په داسے اسم کښے وي چه دَالاسره متصل وي اودلته دَالامتصل مفعول دے لهذا حصر مطلوب موجود دے. په دے وجه مولانا جامي ددے مثال خارج کولوډپاره دَالامتوسطه ېینها شرط لګولے دے. مګر یادساتئ دامثال مذکور غیر مستحسن دے ځکه چه دَصفت دَتمامیت نه مخکښے قصر لازم راځي په دے وجه دَجمهورو په نیزد داسے قسم مثال هېو جائز نه دے.

مقام رابع: أَوَمَعْنَاهَا چه كله مفعول دَالاهم معنى نه پس واقع وى نودغه وخت هم فاعل مقدم كول واجب دى. لكه إِنَّمَا ضرب زيدٌ عمْرًا دليل هم هغه دے چه مقام ثالث كښے تير شوے دے.

وَإِذَا اتَّصَلَ بِهِ ضَمِيْرُ مَفْعُوْلٍ ددے عبارت نه دَحكم ثالث بيان دے دَفاعل مؤخر كولو څلور مقامات دى.

مقام اول: چه كوم وخت دَفاعل سره دَمفعول مقدم نه كړے شي نودَ اضمار قبل الذكر خرابى به لازم راشي.

مقام ثاني اومقام ثالث: أَوْوَقَعَ بَعْدَ إِلَّا أَوْمَعْنَاهَا چه كوم وخت فاعل دَالانه پس اوددغه دَهم معنى نه پس وى نودغه وخت هم فاعل مؤخر كول واجب دى. چه كله څه رنګ مَا ضَرَبَ زَيْدًا إِلَّا بَكْرٌ إِنَّمَا ضَرَبَ زَيْدًا بَكْرٌ.

دليل دغه دواړو مقاماتو كښے مقصود متكلم مفعوليت حصر بيانول وى كه فاعل مؤخر نه كړے شي نودحصر مطلوب انقلاب به لازم راشي.

مقام رابع : أَوِ اتَّصَلَ بِهِ مَفْعُوْلُهُ وَهُوَ غَيْرُ مُتَّصِلٍ چه كوم وخت دَفعل سره مفعول متصل وى اوفاعل غير متصل وى نودغه وخت هم فاعل مؤخر كول ضرورى دى لكه ضربک زيد .

دليل كه فاعل مقدم كړے شي نودضمير مُتَّصِل منفصل كيدل به لازم راشي.

سوال: وجب تاخيره په ځائے وجب تقدم المفعول على الفاعل ولے اونه اونيل .

جواب: چه دَخروج عن المبحث خرابى لازم رانشي .ځكه چه بحث خو دَ احوال فاعل دے.

وَقَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا دَحكم رابع بيان كه قرينه موجود وى نودَ فاعل فعل كله حذف كولے شي بيا دَحذف دوه قسمونه دى. (١) حذف جوازى (٢) حذف وجوبى

(١) حذف جوازى بائدے دوه قرينے به وى يو نفس حذف بائدے دونم تعيين محذوف بائدے او

(٢) حذف وجوبى كښے درے قرينے به وى دوه به هم دغه وى اودرنمه كسد مسد بيا دَحذف جوازى دوه صورتونه دى يا خوبه سوال محقق په جواب كښے وى يادَسوال مقدر په جواب كښے .داول مثال يوسړے اوائى من قام چه ددے په جواب كښے زيد اونيلے شي نودا زيد فاعل دے چه ددهٔ فعل

قام حذف دے نفس حذف بانديے قرينه سواليه كلام دے .چه كله سواليه كلام جمله ده نو جوابيه كلام هم جمله كيدل ضروري وي. حالانكه زيد مفرد دے . معلومه شوه چه دلته څه نه څه محذوف دي. تعيين محذوف بانديے قرينه داده چه سوال چونكه دقيام په باره كښے وو نوجواب به هم دقيام په باره كښے شي ددينه معلوم شوه چه دلته قام محذوف دے.

سوال: شايد دلته دزيد نه پس قام محذوف وي چه خبر وي زيد مبتدا دپاره .

جواب: كه چرے قام دزيد نه پس بطور حذف اومنلے شي نودجملے حذف لازم راځي. كه چرے د.زيد نه مخكښے حذف اومنلے شي. نودجزء جمله حذف لازم راځي كه دزيد نه مخكښے حذف اومنلے شي دجزء جمله حذف لازم راځي او قاعده ده چه حذف القلة اولىٰ من حذف الكثرة دسوال مقدر مثال داشعر دے.

لیبك یزید ضارع لخصومة

ومختبط مما تطیح الطوائح

فائده: ددے شعر تشريح پنځو درجو كښے به كيږي (۱) شان ورود (۲) تركيب (۳) تشريح الفاظ اومختصر مطلب(۴) دشعر ماقبل سره ربط(۵) محل استشهاد.

رومبئ درجه: ضرارابن نهشل دخپل رور يزيدبن نهشل په وفات بانديے داشعر اوونيلو.

دوئمه درجه: تركيب ليبک فعل امر غائب مجهول يزيد نائب فاعل دے . لخصومة جارمجرور ضارع سره متعلق دے ضارع دخپل متعلق سره ملاؤ شو معطوف عليه مختبط صيغه دصفت مما من حرف جار ماموصوله تطيح فعل مضارع معلوم الطوائح فاعل د تطيح جمله جوړه شوه صله شوه بيا موصوله صله ملاؤ شول مجرور شودجار بياجار مجرور ملاؤ شو متعلق شو مختبط پورے مختبط خپل متعلق سره ملاؤ شو معطوف شو معطوف عليه دخپل معطوف سره ملاؤ كړے فاعل دے دفعل محذوف چه يبكي دے.

دريمه درجه دالفاظو تشريح : اومطلب دضارع معنى داسے عاجز سړے چه دهغه هيڅوک مددګار نه وي اود مختبط معنى ده داسے سائل چه دهغه هيڅوک سفارشي نه وي يعني سائل

بلاواسطه تطیح په معنی دهلاکولو. طوائح جمع ده د مطیحة خلاف قیاس دے .ځکه چه قیاس خوداجمع جوړیږی دطائحة په معنی دهلاکت اودلته مهلکات مراد دی .

مطلب دشعر: پکار ده چه اوجړولے شي یزید سوال مقدر شومن یبکیه چه څوک اوجړوی دۀ لره جواب نے ورکړے دے چه اوجړوی دۀ لره دجګړے نه عاجز راتلو والا اوبے وسیله سوال کولو والا په وجه دهلاکولو دحوادثاتو دزمانے .

څلورمه درجه: دشعرماقبل سره تعلق څه دے ځکه چه دادَ اشعارو کتاب خودے نه ددے تعلق دا دے چه رومبے مثال دسوال محقق وو اودا دونم مثال دسوال مقدر دے .

پنځه درجه: محل استشهاد ضارع دے چه فاعل دے دفعل محذوف چه یبکی دے.

قاعده: فاعل اونائب فاعل دفعل نه اوخبرد مبتدا نه او جزاد شرط نه نه مستفاد کیدے چه جدید فائده حاصله شي .ورنه خو تاکید به شي. چه باطل دے. اوس سوال اوشي چه د تطیح اسناد الطوائح په معنی مطیحات په طرف څه رنګ صحیح کیږی.

جواب:الطوائح بانډے دالف لام موصول اوس داسناد په وخت تغایر به اوشي.

جواب: دمهلکات نه مراد هغه امور عظیمه چه په هغے کښے جمعیت ملحوظ دے ولا یستفاد هذان القیدان من نفس الفعل .

دحذف وجوبی مثال: وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ دلته احد فعل دے چه دهغے فعل استجارک محذوف دے نفس حذف بانډے قرینه داِن دروستوا استجارک ده اود سد مسد قرینه هسغه روستو والا فعل دے چه مفسر دے.

سوال: دلته دفعل حذف وجوبی ولے دے؟

جواب: قاعده ده چه مفسراو مفسر جمع کیدے نه شي .ځکه چه تفسیر درفع ابهام دپاره وی چه کله مفسَّرمذکور شي نوابهام به هډو نه وی بیا دتفسیر څه ضرورت دے؟

سوال: جاء نی رجل ای زید کښے مفَسراو مفِسر د دواړو اجتماع ده . لهذا ستاسو دا مذکوره قاعده غلطه شوه؟

جواب: دمفسرنه مقصود دابهام رفع کیدل دی اودابهام دوه قسمونه دی.(۱) ابهام چه دهغه منشاء

حذف وی(۲) هغه ابهام چه دَهغه منشاحذف نه وی بلکه مادة حروف وی. چه کله دَابهام دَقسم اول رفع مقصود وی نودَمفسر اومفسر اجتماع جائز نه دة اوپه قسم ثانی کښې جائز دے. زمونږ مثال دَقسم اول نه دے اوستاسو مثال دَقسم ثانی نه دے.

سوال: شاید وان احد الخ کښې ان مخففه وی یا نافیه وی یا زائدة وی.

جواب: دادرے وارة نه شی جوړیدے ځکه چه جزاء باندے فاموجود دة .فاجرة لعدم اللام ینتفی الاول وعدم الاستثناء ینتفی الثانی وعدم التبادر الی الزیادة ینتفی الثالث.

فائدة :دَاخفش په نیزد دَحرف شرط په دخول اسم باندے چه دَهغے خبر فعل وی جائز دے لهذا ددة په مذهب باندے دَحذف وجوبی مثال نه جوړیږی.

سوال: دَفعل حذف دَاحوال فعل نه دے نه دَاحوال فاعل نه لهذا دَاحوال فاعل ذکر خروج عن المبحث دے.

جواب: دَفعل رافع للفاعل کیدو په حیثیت سرة دَمتعلقات فاعل نه دے اوقاعدة دة چه دَ شئ دَ متعلقاتو بحث هم دَشئ بحث کیږی .لهذا خروج عن البحث نه شو البته دومرة فرق دے چه ماقبل کښې دَفاعل احوال دَبلا واسطه بحث وودلته دَبالواسطه بحث دے.

سوال: جوازاً داصفت دے دَحذفًا اودصفت په موصوف باندے حمل کیږی دلته حمل درست نه دے په دے وجه چه حمل نوم دے اتحا دالمتغایرین ذهنا فی الخارج یعنی دَذهن په اعتبار سرة دَ دوة متغائر څیزونو په خارج کښې متحد کیدل .اودا دوارة حذف او جواز خارج کښې هم متغائر دی ځکه چه دَحذف معنی عدم الذکر فی الخارج دے. اودَ جوازا معنی سلب الضرورة عن جانب الوجود والعدم لهذا دا دواړو متغائر مباین شو اودَمبائر په مبائر باندے حمل صحیح کیږی نه نوبیا دَ جوازًا په حذفًا باندے حمل څه رنګ درست کیدے شی.

جواب: دواړو کښې تباین هله کیدے شی چه کله جوازًا خپله معنی مصدری باندے باقی پاتے شی. حالانکه دلته جائز دَاسم فاعل په معنی کښې دے په دیکښې هیڅ تباین نشته لکه څه رنګ ولیلے شی هذا الحذف جائز . وَقَدْ یُحْذَفَانِ معًا فی مثل نَعَمْ لِمَنْ قال قام زید دَ پنځم حکم بیان دے. دحذف درے صورتونه دی اول حذف فعل فقط چه هغه ماقبل کښې موبیان کړو .دونم

حذف فاعل فقط چه دَهغے نه نے سکوت اختیار کړے دے چه په عدم جواز باندے دلیل دے په دے وجه مقام بیان کښے سکوت عدم دلیل وی .جامع الغموض فعل فاعل دَدواړو یوځائے حذف کول جائز دی. لکه دَاقام زید په جواب کښے نعم یعنی هر هغه جواب چه صرف دَایجاب سره وی .یعنی نعم قام زید اوداحذف جوازی دے ځکه چه کوم سوال محقق یا دَمقدر په جواب کښے وی هغه حذف جوازی وی اود حذف وجوب دَپاره شرط دے چه قائم مقام وی دلته نشته..

سوال: نعم قائم مقام دے دَقام زید لهذا دا حذف وجوبی کیدل پکار دی؟

جواب: موجود خودے مگر قام زید په معنی باندے نسبت تام باندے دلالت دے چه کله ددے نشته بلکه دَ حرف دلالت نسبت تام باندے کیږی هغو نه ددے دلالت نسبت ناقصه قیام زید باندے به شی لهذاحذف وجوبی به نه شی.

سوال: یازید کښے دَیاء حرف نداء دلالت نسبت تام باندے دے دَ ادعوا په شان لهذا دا وئیل چه دَ حرف نسبت تام باندے دلالت نه کیږی داغلط دے؟

جواب: دے سماعًا دے په دے باندے بل یوحرف نه شی قیاس کیدے.

سوال: په دے باندے څه دلیل دے چه دَنعم نه پس قام زید جمله فعلیه محذوف دے زید قام جمله اسمیه ولے حذف کیدے نه شی.

جواب: سوالیه کلام دلیل دے چه کله سوالیه کلام جمله فعلیه ده نوجوابیه کلام هم جمله فعلیه کیدل پکار دی ځکه چه ترڅو پورے مانع نه وی. نو مطابقت اولی وی.

سوال: حذف وجوبی دپاره دَ قائم مقام شرط لګول غلط دی ځکه دلولا جواب دخبر په ځائے دے حالانکه دَقائم مقام جوړیدو صلاحیت نشته اودَنعم نه پس یوه جمله په یو مقام کښے مسموع نه وی نوداهم دَوجوب علامت دے.

والجواب عن الاول: جملہ فعلیه اوخبر کښے فرق دے جمله فعلیه په امور ثلاثه باندے مشتمل ده .چه ددے دَقائم مقام جوړیدو دَپاره ضروری دے په دیکښے دَاداء معنی صلاحیت وی په خلاف دَخبر نپه دے وجه دَ یوځیز ددے په ځائے اودریدل کافی دی.

والجواب عن الثانی: حذف اوذکر دَ دلیل مقتضی دے والسماع بمعزل عن الدلیل.

وَإِذَا تَنَازَعَ الْفِعْلَانِ ظَاهِرًا بَعْدَ هُمَا ددے ځائے نه مصنف دفاعل شپږم حکم بیانول غواړی مخکښے احوال خمسه دفاعل غیر متنازع فیه وو داحال شپږم دمتنازع فیه دے .اگرچه په دیکښے دغیر فاعل احوال هم بیانیږی مگر استطراداً وتبعاً دتنازع الفعلین په مسائلو کښے ددرجات خمسه ذکر به اوشی.

درجه اول : په تعریف تنازع واذا تنازع الفعلان ظاهرًا بعدهما.

فائده: باب تفاعل کښے دا مشهوره قاعده ده چه کوم وخت باب مفاعله متعدی په یو مفعول وی نودے باب تفاعل ته راوړو لوسره لازمی کیږی لکه څه رنګ ضارب زید بکر دغه باب تفاعل سره تضارب زیدوبکر لازمی شی اوباب مفاعله متعدیٰ په دوه مفعول وی نو په باب تفاعل ته ئے راوړولو سره متعدی په یو مفعول به شی. لکه فیما نحن فیه کښے که چرے باب مفاعله نه راوړے نوعبارت به داوے اذا نازع الفعلان ظاهراً باب تفاعل ته ئے راوړولو سره عبارت به داشی اذا تنازع الفعلان ظاهرًا .

تعریف دتناع: چه کله تنازع اوکړی دوه فعلونه په داسے اسم ظاهر کښے چه ددوئ نه پس واقع دی ددے شرط جزاء محذوف ده فیجوز اعمال کل واحد منهما.

سوال: دتنازع معنی جګړه کول دی. دا خود ذی روح څیز صفت دے چه کله فعل غیر ذی روح دے د دوی تنازع څه رنګ اوشوه.

جواب: دتنازع اصطلاحی معنی مراد ده نه لغوی یعنی دوه فعلونو نه پس واقع کیدونکی اسم ظاهر کښے دواړو کپاره علی السبیل البدلیة دمعمول جوړیدو صلاحیت وی .

سوال: تنازع په دے معنی خوپه شبه فعل کښے موجود ده بیاد فعل تخصیص ئے ولے اوکړو لکه زید ضارب ومکرم بکرًا.

جواب: دفعل نه مراد عامل دے.

سوال: العاملان ئے ولے اونه وئیل.

جواب: په دے وجه چه فعل په عمل کښے اصل دے.

سوال: تنازع دوه فعلونونه زیاتو کښې هم کیږی لکه حدیث کښې دی تُسَبِّحُوْنَ وَتُحَمِّدُوْنَ وَتُکَبِّرُوْنَ دُبُرَکُلِّ صَلٰوۃٍ ثَلَاثًا وَّ ثَلَاثِیْنَ (الحدیث) بیاد دوه تخصیص ئے ولے اوکړو.

جواب: د دوه ذکر حصر کپاره نه دے بلکه دَ اقل درجے بیان دے چه دوه نه کم کښې نه وی.

سوال: داسم ظاهر تخصیص کولوسره اسم ضمیر ئے ولے خارج کړو.

جواب: ضمیر متصل شي یا منفصل ضمیر متصل کښې تنازع ممکن نه دہ ځکه چه کوم سره مغه ضمیر متصل شی هم مغه به دَمغه عامل وی اوضمیر منفصل کښې تنازع ممکن خودہ مگر چه کله دَالا سره وی علی مذهب البصریین والکوفیین قطع تنازع ممکن نه دہ لکه ماضرب وما اکرم الاانا دَبصرینو په نیزد دَفعل ثانی اعمال داول دَ پاره اضمار او دَکوفینو په نیزد برعکس دے. بهر تقدیر دلته دواړه طریقے نه شی جاری کیدے .ځکه چه اضمار (الاان) دَضمیر سره دَحرف الا به شی یا بغیر دَحرف الانه په اول صورت کښے دَجرف په فعل کښے استتار لازمیږی چه ناجائز دے. اوپه ثانی کښے دَمعنی خلاف مقصود لازمیږی .ځکه چه مقصود دمتکلم اثبات وو اوس به نفی اوشی .په دے وجه چه دَظاهرًا قید ئے اولگولو اوتخصیص ئے اوکړو.

سوال: دَبعد مماقید ئے ولے اولگولو.

جواب: په دے وجه که چرے مغه اسم ظاهر فعل معمول شو.

دوئمه درجه: تصویر تنازع فقد یکون فی الفاعلیة مثل ضربنی واکرمنی زید دَ تنازع څلور صورتونه دی.

رومبے صورت: دواړه فعلونه دَفاعلیت تقاضا اوکړی.

دوئم صورت: دواړه دَمفعولیت تقاضا اوکړی .

درئم صورت: اول فعل دفاعلیت تقاضا اوکړی اودونم فعل دَمفعولیت .

څلورم صورت: اول فعل دَ مفعولیت اوفعل دَ فاعلیت

درئمه درجه : په اختلاف دَجواز اوعدم جواز.

جاَزَ خِلَافًا لِلْفَرَّآءِ جمهورنحاتو په نیزد علی سبیل البدلیت دواړو فعلونو ته عمل ورکول جائز دی .لیکن

دیونحوي فراء په نیزد په یوصورت کے دونم فعل ته عمل ور کول جائز نه دی.

شلورمه درجه: اختلاف په اختیار اوعدم اختیار کښے دبصرینو په نیزد فعل ثاني ته عمل ور کول مختار دی. اودکوفینو په نیزد فعل اول ته.

دبصرینو دلائل: دلیل عقلی (۱) کـه فعل اول ته عمل ور کړے شي نوعامل اومعمول کښے داجنبي فاصله په لازم راشي. (۲) فعل اول باندے به عطف لازم راشي قبل تمامه بالفاعل (۳) الحق للقریب والجوارح دلیل کتبي. رسم الخطي هم دبصرینو دمذهب مطابق کیږي لکه ضربانی واکرمن الزیدان ،دلیل نقلي: قرآن مجید کښے دی هاوم اقرء واکتابیه ، اتوني افرغ علیه قطرًا .

دلائل کوفیین : عقلي دلیل :الاول فالاول چه کوم مخکښے راشي هغه به مخکښے بیاموهي .

دلیل عقلي که دونم فعل ته عمل ورکړے شي. نو اضمار قبل الذکر به لازم راشي دلیل نقلي : دامرء القیس شعر چه دهغے مخکښے را روان دے .

پنځمه درجه :په قطع تنازع

فَإِنْ اَعْمَلْتَ الثَّانِيْ اَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِي الْاَوَّلِ عَلٰى وَفْقِ الظَّاهِرِ دُوْنَ الْحَذْفِ خِلَافًا لِلْكِسَائِيْ

دبصریو منهب باندے د قطع تنازع تفصیل دادے. که دواړه فعلونه دَ فاعلیت تقاضا اوکړی یا فقط فعل اول نو عمل به فعل ثاني ته ورکولے شي .اوفعل اول دپاره دانتظام عقلي به طور باندے درے صورتونه دي.(۱)حذف (۲) ذکر (۳) اضمار حذف خوکولے نه شو ځکه چه دفاعل حذف بغير دقائم مقام نه ناجائز دے. اوذکرهم نه شو کولے ځکه چه تکرار به لازم راشي چه قبیح دے .پس هم اضمار متعین شو. چه مخکښے دپاره ضمیر به ورکړو داسم ظاهر مطابق باقي پاتے شو اضمار قبل الذکر نوهغه په عمده کښے جائز دے .لیکن یونحوي کسائ حذف مني اوفراء نحوي فعل ثاني ته عمل ورکول جائز ګنړي په دے وجه که دفعل اول دپاره اضمار اوکړی لکه څه رنګ دجمهور منهب دے. نو اضمار قبل الذکر به لازم راشي. اوکه حذف اومنلے شي لکه چه دَ امام کسائ منهب دے نو دحذف فاعل به لازم راشي .اودواړو ممنوع دي. دجمهورو دطرف جواب مخکښے ذکر کوو. اوفعل اول دمفعولیت تقاضا اوکړی اوهغه دافعال قلوب نه نه وی نودفعل اول مفعول به محذوف فهم کړو. ځکه چه دقطع تنازع هم دغه درے طریقے دی چه ذکر کړے نوتکرار لازم رشي اوکه اضمار

اوکړے نوډ اضمار قبل الذکر فضله لازم به راشي چه ناجائز دے لهذا هم حذف متعين شو ځکه چه دمفعول به ظاهر کړو ځکه که حذف اوکړو نوداافعال قلوبو دمفعول حذف به لازم راشي چه ناجائز دے اوکه ذکر اوکړو نو تکرار به شي لهذا هم اظهار متعين شو. وَاِنْ اَعْمَلْتَ الْاَوَّلَ اَضْمَرْتَ الْفَاعِلَ فِي الثَّانِيْ وَالْمَفْعُوْلَ عَلَى الْمُخْتَارِ اِلَّا اَنْ يَّمْنَعَ مَانِعٌ دکوفينو په مذهب باندے د قطع تنازع تفصيل دادے. که چرے دواړه فعلونه دفاعليت تقاضا اوکړي نوبهر حال عمل به فعل اول ته ورکولے شي اود فعل ثاني دپاره ضمير په اوکړو دااضمار قبل الذکر فقط لفظا به وي نه چه رتبة حذف اوذکر دواړه طريقے نه چليږي اوکه دواړه دمفعوليت يافقط فعل ثاني دمفعوليت تقاضا اوکړي اوهغه دافعال قلوبو نه نه وي نوعمل به فعل اول ته ورکولے شي. اودفعل ثاني دپاره حذف او اضمار دواړه جائز دي مګر اضمار کول مختار دي. چه ملفوظ دمراد مطابق اوکه فعل ثاني دافعال قلوب نه وي نو فعل ثاني دپاره به مفعول ظاهر کړو ځکه چه باقي دوه طريقے ناجائز دي حذف په دے وجه نه شو کولے چه د افعال قلوبو دواړو مفعولونو نه يوحذف کول ناجائز دي. او اضمار هم نه شي کولے که ضمير اوکړو نودَدوه حالونه به خالي نه وي ضمير دمفرد به کړي يادَ تثنيه که دمفرد ضمير رااوباسي نوپه راجع مرجع کښے به مطابقت رانشي باقي پاتے شوه يوه طريقه داظهار لکه حسبني وحسبتهما منطلقين الزيدان منطلقًا.

كَفَانِيْ وَلَمْ اَطْلُبْ قَلِيْلٌ مِّنَ الْمَالِ. دکوفينو مستدل دامرُالقيس شعر ئے نقل کړو مصنف جواب ورکوي . په دے شعر کښے دکفاني اولم اطلب تنازع ده . قليل کښے دفعل اول مقتضي فاعليت اوفعل ثاني مفعوليت دے دومره لوئے فصيح بليغ شاعر فعل اول ته عمل ورکړے دے. چه ددينه معلومه شوه فعل اول ته عمل ورکول مختار دي. مصنف دبصرينو دطرف نه جواب ورکړے دے چه داد تنازع الفعلين نه کسرة هيو دے نه لم اطلب (قليل) ته دخپل مفعول جوړولو تقاضا نشته ځکه که چرے هغه دتنازع الفعلين نه جوړه کړے شي نومعني بالکل فاسديږي چه دهغے تفصيل دادے چه ددے شعر پرومبئ مصرعه لوانما اسعى لادنى معيشة اود لو دپاره قاعده ده که چرے دا په مثبت باندے داخل وي نوهغه معني منفي کوي. اوکه په منفي باندے داخل وي

نومثبت دده شعر معنی داده که چرے ما کوشش کولے دَ ادنی گزران دَپاره نوکافی شوے به وے زما دَپاره لږ مال یعنی ماذَ ادنی گزران کوشش اونه کړو په دے وجه چه ماته لږ مال کافی نه شو. که چرے قلیل دَلم اطلب مفعول جوړکړے شی نومعنی به شی چه زه لږ مال طلب کوم دغسے معنی فاسده شوه ځکه چه عدم سعی عدم طلب مال دَپاره مستلزم ده اودغه رنګ عدم کفایت مال مستلزم دے عدم طلب مال ته لهذا لم اطلب دده هیڅ تقاضا انه کوی چه قلیل دده مفعول وی بلکه دده مفعول محذوف دے چه المجدالموثل دے. چه دے باندے قرینه بل شعر دے.لکنما اسعی لمجد مؤثل وقد یدرک المجدالموثل امثالی.

فائده: اضمار قبل الذکر په دوه قسمه دے (۱) اضمار قبل الذکر فی العمدة(۲) اضمار قبل الذکر فی الفضله بیاذَ هر یودرے درے صورتونه دی.(۱)بتفسیر محض(۲) بتفسیرما(۳) بلاتفسیر اضمار قبل الذکر فی العمدة للتفسیر محض جائز دے لکه نعم رجلا او ضمیر شان اوبتفسیر ماهم جائزدے .لکه تنازع الفعلین کښے درئم صورت بلاتفسیر ناجائز دے.غیر متحقق دے او اضمار قبل الذکر فی الفضله جائزدے. شرط تفسیر محض لکه فقضٰهنّ سبع سمٰوات وربه رجلا باقی دواړه ناجائز دی ثانی لکه تنازع الفعلین کښے اوثالث غیر متحقق دے.

وَمَفْعُوْلُ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهٗ مصنف دمرفوعاتو دونم قسم مفعول مالم یسم فاعله بیانوی.

سوال: لم یسم فعل مجهول دَتسمیه نه ماخوذ دے چه متعدی په دوه مفعولونو وی لیکن دلته مفعول ثانی ولے مذکور نه دے.

جواب: دلته (لم یسم) په معنی لم یذکر دے داذکر ملزوم او اراده دَ لازم دَقبیلے نه دے.

سوال: دانائب فاعل دَمرفوعاتو مستقل قسم وو نودَفاعل اومبتدا وغیره دَطرفه منه یامنها نه ولے شروع نه ده کړے شوی.

جواب: په دے وجه چه دده دَفاعل سره شدید اتصال وو قائم مقام هم جوړیدو او احکام فاعل کښے شریک هم وو تر دے پورے چه علامه زمخشری دا فاعل مقرر کړو.

سوال: فاعله ستاسو دَ فاعل نسبت مفعول طرفته اوکړو حالانکه فاعل دَفعل وی په دے وجه فعل طرفته نسبت کول پکار وو.

جواب: چه ډادني تعلق اوربط په وجه کړے شوے دے هغه تعلق او ربط دادے چه فاعل د داسے فعل وي چه ډمفعول متعلق وي.

كُلُّ مَفْعُوْلٍ حُذِفَ فَاعِلُهٗ وَاُقِيْمَ هُوَ مَقَامَهٗ ډتعريف بيان هرهغه مفعول چه ډهغه فاعل حذف کړے شوے وي اودغه مفعول ددغه فاعل په ځانے په اودرولے شوے وي.

سوال: ستاسو دا تعريف ددخول غير نه مانع نه دے انبت الربيع البقل کښے الربيع په فاعل باندے صادق راځي. په دے وجه په اصل کښے انبت الله البقل في الربيع وو بيا لفظ الله چه فاعل وو هغه نے حذف اقامت نه مخکښے معنی ډاقامت نه پس هم باقي پاتے شي چه ستاسو پيش کړے شوي مثال کښے نشته لهذا دا تعريف د دخول غير نه مانع شو.

سوال: لفظ کل په تعريف کښے ذکر کول درست نه وي ځکه چه تعريف ډماهيّت وي نه ډافرادو اوحالانکه لفظ کل کميته افراد بيانولو ډپاره راوړلے شي.

جواب: دلته اودغه رنګ نورو تعريفاتو کښے لفظ کل ډتعريف جامع مانع جوړولو ډ پاره راوړلے شي نه ډکميت افراد ډبيانولو ډپاره.

سوال: مصنف ډاقيم نه پس هوضمير ولے راوړو داسے نے ولے اونه ونيل واقيم مقامه.

جواب: ډيووهم نه ډبچاؤ ډپاره هو ضمير ئے راوړے دے چه څوک دافهم نه کړي چه هومقامه داقيم نائب فاعل دے بلکه نائب فاعل هغه ضمير دے چه په اقيم کښے دے ياد ساتئ دلته مقام بضم الميم لوستلے شي.

وَشَرْطُهٗ اَنْ تُغَيَّرَ صِيْغَةُ الْفِعْلِ اِلٰى فُعِلَ اَوْ يُفْعَلُ ډتعريف نه پس شرط ذکر کوي ډمفعول مالم يسم فاعله دپاره شرط دادے چه صيغه ډفُعِلَ په طرف او يَفْعَلُ يُفْعَلُ په طرف منتقل کړے شي.

چه غرابت لفظ غرابت معنی باندے دلالت اوکړي چه دا وزن هم نسبةً غريب يعنی قليل الاستعمال وے اونائب هم نسبةً غريب دے.

سوال: ددے شرط نه ډ ثلاثي مزيد اورباعي مجردو مزيد مفعول مالم يسم فاعله اوځي.

جواب: دلته ذکر خودعلم دے مګر مراد وصف عام دے يعني هر هغه کلمه چه ماضي مجهول وي،

یا مضارع مجهول لکه چه څه رنګ وئیلے شي لکل فرعون موسیٰ .

سوال: بیاهم ددغه اسم مفعول نائب فاعل خارجیږي څکه چه نه هغه ماضي مجهول دے اونه مضارع مجهول .

جواب: دلته دصیغه صفت حکم متروک دے چه بالمقاسیه به معلومیږي .

سوال: ددے شرط نه بغیرهم مفعول مالم یسم فاعله واقع نفس الامر کښے موجود دے؟

جواب: داشرط دنائب فاعل واقع نفس کښے موجودکیدو دپاره نه دے بلکه دفاعل خذف اونائب فاعل دهغه په ځائے اودرولو دپاره دے .

وَلَايَقَعُ الْمَفْعُوْلُ الثَّانِيْ مِنْ عَلِمْتُ وَالثَّالِثُ مِنْ بَابِ اَعْلَمْتُ وَالْمَفْعُوْلُ لَهٗ وَالْمَفْعُوْلُ مَعَهٗ كَذٰلِكَ

اوس مصنفؒ دهغه مفاعیلو بیان کوي چه دفاعل قائم مقام نشي کیدے هغه څلور مفاعیل دي.

دباب علمت دوئم مفعول دفاعل قائم مقام نه شي.جوړیدے .

دلیل په دے وجه چه دامفعول ثاني مسند باسناد تام وي اوکه چرے داقائم مقام فاعل جوړکړے شي. نومسند الیه په اسناد تام به شي چه دهغے نه به لازم راشي دشئ واحد ترکیب هم واحد مسند اومسند الیه باسنادین تامین چه ناجائز دے.

سوال: اعجبني ضرب زید عمروا کښے ضرب مسندالیه هم دے اومسندهم؟

جواب: دضرب مسندالیه کیدل خوپه اسناد تام دے څکه چه دفعل اسناد تام وي لیکن دضرب مسند کیدل باسناد ناقص وي څکه چه دمصدر اسناد ناقص وي لهذا یواسناد تام شو اودوئم ناقص دا جائز دے.

عندالبعض (۱) دباب علمت مفعول ثاني قائم مقام دفاعل جوړیږي باقي پاتے شوه دشئ واحد مسنداو مسندالیه کیدل باسنادین تامین لازم راځي. ددے جواب دادے چه داهغه وخت جائز نه دے. چه کله جهت واحدة وي دلته دوه جهتونه دي. لکه د واحد مضاف اومضاف الیه کیدل د جهتینو په وجه ترکیب واحد کښے واقع دے.(۲) دباب اعلمت مفعول ثالث هم دفاعل قائم مقام نه شي کیدے ددے دلیل هم هغه سابق دے(۳) مفعول له هم نائب فاعل نه شي جوړیدے.

دلیل ددے اقامت مع الواؤ به شي یا بدون الواؤ که مع الواؤ وي نوواو عاطفه به شي حالانکه مسند

اومسندالیه ترمینځ واو عاطفه نه راځي که اقامت بدون الواؤ وی نومفعول به باقي رانشي چه دخلاف مفروض کیدو په وجه باطل دے .

سوال: دمفعول معه اومفعول له عطف بصورة عطف الجمله علی الجمله ولے کړے شوے دے. حالانکه اختصار عطف المفرد علی المفرد وو.

جواب: په دے خبرة باندے تنبیه کولو دپارة دباب علمت مفعول ثاني اودعلمت مفعول ثالث عدم اقامة اتم اواقوی دے ددینه اوعطف الاسمیة علی الفعلیة نے راوړو په دے خبرة نے هم تنبیه اوکړة چه اخیرین کښے علت متغائر دے .که عطف المفرد علی المفرد دے نوداوهم کیدے شو چه دتمام علت متحد دے.

وَإِذَاُوْجِدَ الْمَفْعُوْلُ بِهٖ تَعَيَّنَ لَهٗ چه کوم وخت مفعول به موجود وی نوصرف هم هغه به نائب فاعل جوړولے شي بل څه به نه شي جوړولے.

سوال: دمفعول به په موجودګۍ کښے هغه ولے متعین دے اوحالانکه نفي د مفعولیت کښے تمام شریک دی؟

جواب: دفاعل سرة جور تعلق دے د مفعول به چه لکه څه رنګ دفعل فهم موقوف دے په فاعل باندے نودغه رنګ په فعل متعدی کښے دفعل تعقل موقوف باندے په مفعول به باندے په بل عنوان سرة :فعل متعدی ته وجود خارجي تمامو معمولاتو په طرف حاجت دے اووجود ذهني کښے فاعل اومفعول به په طرف حاجت او وجود ترکیبي کښے فقط فاعل په طرف حاجت دے لهذا دفاعل نه پس تمامو معمولاتو نه فعل متعدی ته زیاته احتیاجي دمفعول به ده (ځکه چه په وجود کښے ددۀ محتاج دے)

فائده: دمفعول به دنائب فاعل دپارة تعین عندالبصریین بطریق وجوب دے اوعندالکوفیین بطریق اولیت دے د بصرینو یودلیل اول خوداوے چه اوس ذکرکړے شوے دے.

دلیل ثاني: دفعل مجهول وضع اسناد الی المفعول به دپارة دے .داحقیقة عقلیه دے اوغیر طرفته مجاز عقلي دے چه ترڅوپورے حقیقت باندے عمل کول ممکن وی مجازباندے عمل کول غلط وی.

دلائل کوفیین: قرآن مجید کښې دي لولا نُزِلَ علیه القران ظرف نائب فاعل دے یجزی قوما بما کانوا یکسبون په دیکښې هم ظرف دے.

فَإِنْ لَّمْ يَكُنْ فَالْجَمِيْعُ سَوَاءٌ که مفعول به په عبارت کښې موجود نه وی نوباقی تمام برابر دی.

سوال: چه کله مصنف په اختصار پسے وو نودوئ ته پکار وو چه عبارت ئے داسے راوړے وے فالبواقی سواء په دیکښې اختصار به شوے وے؟

جواب: دلته دنحاتو ډیرزیات اختلاف وو چه تحریر کړے شوے دے. اودمفعول به غیر موجودګئ په صورت کښې عندالبعض مفعول مطلق اوعند البعض مفعول بالواسطه اوعندالبعض مفعول فیه مګر زماني مقدم مکاني باندے په دے وجه دا عبارت ئے راوړو دبعضے نحویانو تردید کولوسره داکثروتائید کړے دے.

وَمِنْهَا الْمُبْتَدَاءُ وَالْخَبَرُ مصنفؒ دمفعول مالم یسم فاعله د فراغت نه پس د مرفوعاتو دریم قسم (مُبتداء) اوڅلورم قسم(خبر) بیانوی. ددے عطف فمنه الفاعل باندے کولے شی څکه چه دواړو جملو په مسند الیه اومسند کښې مطابقت دے. که مفعول مالم یسم فاعله باندے اوکړے شی نو په مسند الیه کښې خو مطابقت وی لیکن په مسند کښې نه وی.

سوال: دفاعل دبحث به شروع کښې خو منه ئے راوړی ده اود مبتدا خبر په بحث کښې منها په باقی مرفوعاتو کښې ولے نه ده راوړی حالانکه هریو جداحکم لری ددے څه حکمت دے؟

جواب: لکه څه رنګ چه مخکښې مونږ تاسو ته ونیلے وو چه دفاعل اومبتدا په باره کښې اختلاف دے داکثرنحویانو په نیزد مرفوعاتو کښې اصل فاعل دے. اود بعضو په نیزد مبتدا اصل ده باقی تابع دی. په دے وجه مصنفؒ د دوه مذهبونو رعایت کولوسره ددے داصالت په طرف اشاره کولوسره ددے سره منه اومنها راوړل لیکن مصنفؒ دفاعل بحث مقدم کړو مخکښې مذهب ته ئے ترجیح ورکړی ده.

سوال: دفاعل نه مخکښې منه اود مبتدانه مخکښې منها ئے راوړی دی ددے څه وجه ده؟

جواب: فاعل چونکه قریب وو ددے وجے نه ئے منه راوړو ددے مرجع ئے معنوی جوړه کړه

چه مبتدا بعیده بلکه ابعد وه په دے وجه ضرورت وو چه مرجع لفظی جوړه کړے شي نودلته نے منها اووے اوتفنن فی العبارت فی العبادت دے.

سوال: مبتدا اوخبرنے په یو عنوان کښے ولے جمع کړل اوباقي کښے ئے داسے اونه کړل ددے څه حکمت دے؟

جواب: مبتدا اوخبر ترمینځ تعلق خاص دے. (۱) چه دواړو کښے ذاصل په لحاظ سره تلازم دے. مبتدا بغیر ذخبر نه اوخبر بغیر ذمبتدا نه نشته(۲) د دواړو عامل معنوی کښے هم اشتراک دے.

فَالْمُبْتَدَاءُ هُوَالْإِسْمُ الْمُجَرَّدُ عَنِ الْعَوَمِلِ اللَّفْظِيَّةِ مُسْنَدًا اِلَيْهِ

مُبتداء کې تعریف: مبتدا داسے اسم حقیقی یاحکمی ته وئیلے شي چه دعامل لفظی نه خالی شي اوپه کوم کښے مسند الیه جوړیږي.

سوال: داتعریف حشوه بائندے مشتمل دے ځکه چه دوه آلے ذحصر جمع دی.(۱) مسند الیه معرف بلام الجنس دے چه مفید ذحصر وی اوهوصیغه فعل هم مفید حصر دے .لهذا یوه آله بے کاره بے فائدے ده.

جواب: معترض جی نه چه الف لام مسند کښے ذمسند الیه دحصر فائده ورکړی ده.لکه ان الله هوالرزاق په دے سره ذتعریف جامعیت اوضمیر فعل په مسند الیه کښے ذمسند ذ حصر فائده ورکړی ده .لکه الامیرزید والشجاع عمرو په دے سره ذتعریف ومانعیت په طرف اشاره اوشوه. لهذا چه کله دواړه بافائده شول نوتعریف په یوحشو زائد بائندے مشتمل نه شو بلکه تأسیس حاصل شو.

سوال:علامه تفتازانی اوفرمائیل چه ضمیرفعل دواړه ذقصر فائده ورکوی . بیادلام څه فائده به شي ؟

جواب: ذمبتدا قصر په خبرکښے دوه ځل به شي.(۱) لام سره اویوځل فصل سره پس دوئم به ذاول تاکید شي. په دے سره په هغه حضراتو بائندے مبالغة رد مقصود دے چه وائي چه مبتدا په درے قسمه ده دوه همدا اودوئم قسم اسم الفعل جوړوی چه په معنی ذماضي وی ځکه چه اسم الفعل اومابعدوالاعلم په ذعامل لفظی نه خالی شي همدا وجه ده چه مصنف ذفاعل په تعریف کښے صیغه ذفعل رانه اوړه.

سوال: داجامع تعریف نه دے ځکه چه ان تصوموا خیر لکم کښے ان تصوموا مبتدا دہ مگراسم نه دے؟

جواب: په اسم کښے تعمیم دے خواه اسم حقیقه وی یا حکمًا او دااسم حکمی دے .

سوال: دلته به داجواب اوچلیږی لیکن (اتسمع بالمعیدی خیر من ان تراه) کښے چه تسمع مبتدا ده په دیکښے نه چلیږی؟

جواب: ددے تحقیق ذاحقر تصنیف تنویر شرح نحومیر کښے اوګورئ.

سوال: تجرید ونیلے شی اعدام بعد الوجود ته چه ددے مطلب به داشی .چه ذمبتدا ړومبے عامل لفظی وی روستو ددے نه خالی کولے شی. حالانکه ذمبتدا عامل د.سره هیڅ عامل لفظی کیږی. نه لهذا ذالجر دلفظ راوړل درست نه دی؟

جواب: دلته مجاز اعدم مراد دے. یعنی ذکر الخاص وارادة العام اوذکر المزوم وارادة الازم ذقبیلے نه دے اوس مطلب به داشی چه مبتدا هغه ده چه ذهغے عامل لفظی نه وی بعنوان دیگر کله کله امکان الوجود بمنزلة العموم وی لکه قران مجید کښے امتنااثنتین کښے عدم اصلی نے امانت مقرر کړو لکه سبحان من صغر جسم البعوضه اوکبیر جسم الفیل ،ضیق فم البیر.

سوال: ذعامل لفظی نه کیدل دا یوعدمی ځیز دے اوعدمی ځیز مؤثر او عامل څه رنګ جوړیږی ؟

جواب: ذمجرونه حقیقی معنی مراد نه ده بلکه دلته مراد دا دے چه ابتداء ذکلام آغاز کلام ذمبتدا عامل دے چه یووجودی ځیز دے اووجودی ځیز عامل جوړیږی.

سوال: بیا داتعریف جامع نه دے ځکه چه بحسبک مبتدا ده چه عامل لفظی (باء) وربانده موجود ده؟

جواب: باء خونکره ده چه مؤثر فی لفظ خودے لیکن مؤثر فی المعنی نه دے اومونږ هم چه نفی کړی ده هغه ذمؤثر معنوی کړی ده لهذا تعریف جامع شو.

سوال: العوامل جمع نے راوړه ددے مطلب به دارااوځی که دوه یا یوعامل لفظی مبتدا باندے داخلیدے شی. نوبیا ان زیدا اوکان زید کښے ته مبتدا اوایه حالانکه داغلط دے .

جواب: ټیک ده چه دعبارت نه په ظاهره کښے سلب العموم عموم السلب سلب کلی مراد دے چه

ددے دوه وجے دي. وجه اول الف لام سره جمعيت باطل وجه ثاني سلب العموم اعم دے دَسموم السلب نه ځکه چه کله دَسلب کلي په ضمن کښے او کله دَسلب جزي په ضمن کښے متحقق وي يعني دَسلب العموم دوه فردونه شول اودلته دَسلب عموم نه هم سلب کلي مراد چه په دے باندے قرينه اصطلاح نحات دے چه د دوئ په نيزد مبتدا هغه ده چه دَ هغے دپاره عامل لفظي اصلا نه وي.

سوال: دَسلب العموم نه مراد عموم السلب سلب کلي اخستو سره هغه قاعده به مأته شي چه نفي مقيد بالقيد باندے داخل وي نونفي دَقيد به شي. او اصل حکم ثابت او باقي په پاتے شي.

جواب: داقاعده کلي نه ده کله دَقيد اومقيد دواړه نفي کيږي لکه چه په قران مجيد کښے دي والله لايحب کل مختال مخور، والله لايحب کل کفار اثيم ومالله بظلام اللعبيد ،ان تدعوهم لايسمعوا دعاء کم

أَوِ الصِّفَةُ الْوَاقِعَةُ بَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ أَوْ أَلِفِ الِاسْتِفْهَامِ رَافِعَةً لِظَاهِرٍ مِثْلُ زَيْدٌ قَائِمٌ وَمَا قَائِمٌ نِ الزَّيْدَانِ وَأَقَائِمٌ نِ الزَّيْدَانِ دَمبتدا قسم ثاني بيانوي چه ددے تعريف داد ے چه صيغه دَصفت چه دَحرف نفي يا الف استفهام نه پس واقع وي په دے شرطه اسم ظاهر رفع ورکونکے وي دَ مبتدا دَقسم اول مثال زيد قائمٌ اودَقسم ثاني مثال :ماقائم نِ الزيدان .قَائِمٌ صيغه دَصفت ده اسم ظاهر ته رفع ورکوي مسند دے او الزيدان مسند اليه.

سوال: شايد ماقائم خبر مقدم اوالزيدان مبتدا ء مؤخر.

جواب: چې نه ځکه که چرے قائمٌ خبر جوړ کړے شي. نودَقائمٌ ضمير مفرد راجع به شي الزيدان (تثنيه) په طرف نوراجع مرجع کښے به مطابقت رانشي په دے وجه صيغه دَصفت مبتدا کيدل متعين ده.

سوال: راغب انت کښے راغب مبتدا ده بأوجود ددے چه رافع الضمير دے الظاهر نه دے؟

جواب: په اسم ظاهر کښے تعميم دے خواه ظاهر حقيقي وي ياظاهر حکمي اوضمير متصل اسم ظاهر حکمي دے چه په کوم تعميم باندے دَلفظ ظاهر نکره کيدل دي اونکره په عموم باندے دلالت کوي.

سوال: اسم ظاهر کښې تعمیم مسلک دمصنف خلاف دے . ځکه چه ذکوفینو موافقت کولو سره ضمیر منفصل مبتدا جوړوی . داترجیح القول بما لایرضیٰ به القائل دے (کمافی حاشیه مولانانورمحمد نقلا عن المنهل)

جواب: داجواب ورکولے شو.مصنف په دے کتاب کښې مسائل علی مذهب البصریین جمع کوی. والله اعلم وعلمه اتم واحکم.

سوال: داتعریف جامع نه دے قریشی انت ،هندی انت کښې قریشی مبتداخوده لیکن صیغه دصفت نه ده.

جواب: په صفت کښې هم تعمیم دے خواه مشتق وی یا دمشتق په حکم کښې وی او دااسم منصوب دمشتق په حکم کښې دے نوتعریف جامع شو.

سوال: داتعریف جامع نه متی ذاهب اخوک هل جالس ابوک کیف مصبح ذالک این لاحل ابناک دمبتدا قسم ثانی دے لیکن روستو دالف استفهام نه دے؟

جواب: دلته معطوف مع حرف عطف (ونحوه) مقدر دے اودالف استفهام ذکر په وجه داصالت دے (محرم آفندی) .

سوال: بیا هم داتعریف جامع نه شو انما قائم الزیدان بانده نه صادقیږی ځکه چه دا صیغه دصفت نه دحرف نفی نه پس نه دحرف استفهام نه پس دحالانکه مبتدا قسم ثانی ده؟

جواب: حرف نفی کښې تعمیم دے خواه ددینه نفی صراحة مفهوم وی یاضمنا دلته ضمنا دے .

سوال: دمبتدا په قسم ثانی کښې معتبر دے .مگر مصنفؒ د تجرید ذکر ولے اونه کړو.

جواب: په وجه داختصار دتجرید ذکرنشته مگر مفهوم وی هغه دارنګ چه بعد حرف النفی او الف الاستفهام نه بعدیت بلافصل مراد دے چه بغیر دتجرید نه متحقق به نه شي . (حاشیه مولانا محمد مدقق علیٰ حاشیه عبدالغفور) .

سوال: رضی په مصنف رحمة الله علیه باندے سوال کړے دے فالمبتداء مشترک لفظی دے دواړو قسمونو دپاره اوددے نه دواړه معانے مراد دی چه ناجائز دے؟

جواب: دامشترک معنوی دے چه په دے باندے هر دواړو قسمونو دپاره ابتداء عامل

مقرر کول دلیل ظاهر دے.

سوال: مصنفؒ ایضاح شرح مفصل کښے داسماء افعال مبتداء کیدل ایضاح شرح مفصل کښے داسماء افعال مبتداء کیدل اختیار کړل (کمافي الفوائد الشافیه) دلته په تعریف کښے نے ولے داخل نه کړل ؟

جواب: مشهور دا دۀ چه اسم الفعل بمعنی الماضي والمضارع مرفوع محلا مبتدا وي. او قول محقق داد ے چه دد ے دپاره هیڅ محل اعراب نشته نومبتدا څه رنګ (حاشیه) الصبان غایة التحقیق ، حاشیه مولانا عبدالغفور) نومنصفؒ په ایضاح کښے قول مشهور ذکر کړو اودلته ئے قول حق.

فائده: دامام سیبویه او اخفش مذهب داد ے چه دصیغه صفت نه بغیر حرف النفي اودااستفهام نه پس واقع نه وي نو بیاهم دمبتداء قسم ثاني جوړیږي. یعني حرف نفي ، اوداستفهام نه پس واقع کیدل ضروري نه دي. البته سیبویه اوداخفش ترمینځ فرق داد ے چه دسیبویه په نیزد جواز مع القبح اوداخفش په نیزد جواز بلاقبح دۀ عدم قبح باند ے دلیل دشعر دامصرعه.

فخیر نحن عند الناس منکم

خیر دصیغه دصفت دمبتداء قسم ثاني دۀ اونحن دد ے فاعل قائم مقام خبر د ے حالانکه حرف نفي او استفهام نه پس واقع نه د ے که جواز نه د ے یاجواز مع القبح و ے. نو فصیح اوبلیغ شاعر به دانه و ے اختیار کړ ے؟

جواب: بعضو دد ے جواب کړ ے د ے چه خیر مبتداء اونحن خبرد ے لیکن جواب مخدوش د ے ځکه چه په د ے ترکیب کښے داخرابي لازم راځي. خیراسم تفضیل عامل ضعیف د ے اودد ے معمول منکم فصل بالاجنبي لازم راځي چه صحیح نه د ے.

جواب: درست دا د ے چه (۱) دا دصورت شعري په وجه سرۀ د ے (۲) داسم تفضیل په اسم ظاهر کښے منحصر د ے مسئله د کحل کښے (۳) منکم بدل د ے دمنکم محذوف (۴) نحن تاکید د ے دضمیر چه په خیر کښے مشترک د ے.

فَإِنْ طَابَقَتْ مُفْرَدًا جَازَ الْاَمْرَانِ دیو فائد ے بیان د ے .صیغه دصفت دوۀ حالونه به خالي نه وي. داسم ظاهر مطابق به وي یانه که مطابق نه وي لکه اقائم زیدیا تثنیه وجمع کښے به مطابقت وي لکه

اقائمان الزيدان ،ماقائمون الزيدون ټول درے صورتونه شول. ړومبی صورت كښے دَصيغه صفت دَمبتداء قسم ثانی كيدل متعين دی اودوئم صورت كښے دواړه امرونه جائز دی. يعنی صيغه دَصفت مبتداء جوړه كړے شی يااسم ظاهر مبتداء صيغه صفت خبرجوړ كړے شی. دمبتدا جوړولوپه صورت كښے رفع نظاهر لحاظ په كولے شی اوخبر جوړولو كښے نه اودرنم صورت كښے صيغه صفت خبركيدل متعين دی.څكه چه رافع لاسم الظاهر مفقود دے.

سوال:(قائم زيد كښے اووه وجے جائز دی. ليكن قم زيد كښے دوه وجے جائز نه دی.ددے څه وجه ده؟

جواب: اقائم زيد كښے وجه دَجواز ده چه هر دوه وجے مودی كښے متحدنه دی مختلف دی. زيدفاعل جوړكړے شی نو جمله فعليه اوكه مبتدا جوړه كړے شی نوجمله اسميه فأعل اومبتدا كښے التباس لازم راځی (حاشيه مولانا عبدالحكيم .

سوال: دَمطابقت دَضمير مرجع څه ده.چه په ديكښے دوه احتماله دی چه دواړه باطل دی(١) مطلق صفت وی(٢) صفت مذكوره مع شرائط مذكوره كه ړومبے احتمال مراد وی. نوقائم زيد كښے جواز الامرين لازم دَصفت به راشی .چه باطل دے. حالانكه په ديكښے دَصفت خبر كيدل متعين دی.اوكه دوئم احتمال مراد وی نودَصفت دَاسم ظاهر دَرافع كيدو حالت جواز الامرين لازم به راشی.چه ناجائز دے. څكه چه په ديكښے دَصفت مبتدا كيدل متعين دی؟

جواب: ددے مرجع صيغه دَصفت مع بعض شرائط يعنی رافع كيدو والا شرط معتبرنه دے ليكن حرف نفی يا استفهام نه پس واقع كيدو والا شرط معتبر دے.

وَالْخَبَرُ هُوَالْمُجَرَّدُ الْمُسْنَدُ بِهِ الْمُغَايِرُ لِلصِّفَةِ الْمَذْكُوْرَةِدَ خبرتعريف كول غواړی خبر دَيوداسے اسم حقيقی ياحكمی نوم دے. چه دَعامل لفظی نه خالی شی. اومسند به وی اودَصفت مذكوره مغاير وی لكه زيد قائم كښے (قائم) خبردے.سوال داتعريف دَدخول غير نه مانع نه دے يقوم زيد كښے (يقوم) باندے صادق راځی؟

جواب: المجرد صفت دے چه ددے موصوف الاسم محذوف لهذا اسم مجرد مراد دے نويقوم زيد خارج شو.

سوال: داتعريف جامع نه دے زيد (يقوم) خبر خو دے مگر اسم نه دے؟

جواب: داتعريف دخبر مفرد دے چه په دے قرينه روستو عبارت دے والخبر قديكون جملة ددينه معلومه شوه چه معرف خبر غيرجمله ده ورنه دا عبارت بے فائدے به شي.

سوال: المسند به كښے دَ (به) متعلق څه دے المسند خو دَمتعلق جوړيدو صلاحيت نه لري چه كله يولفظ دَمعنى لغوي نه معنى اصطلاحي په طرف نقل كړے شي. نوهغه دَاسم جامد په حكم كښے وي اواسم جامد متعلق جوړيدو صلاحيت نه لري فماذا متعلق ؟

جواب: دَجار مجرور متعلق يوقع فعل دے په دے وجه چه تمام افعال او دَمشتقاتوپه وقوع باندے دلالت كيږي. اوس دَتعريف حاصل به داشي. په دے باندے سوال كيږي چه څه رنګ دَاسناد سبب خبر دے. داسے مبتدا هم خو ده لهٰذا ونيل چه دَاسناد سبب خبروي دا صحيح نه ده.

جواب: مقصود اصلي اومحط فائده هم خبر جوړيږي نه مبتداء نوګويا چه دَاسناد سبب هم دا خبر دے.

جواب: مونږ تسليموؤ مگر مبتداء سبب بعيد اوخبر سبب قريب دے اوبادَسَبِيَّت ده چه په كوم سره سبب فهم ته راځي هغه سبب قريب دے نه چه سبب بعيد.

وَاَصْلُ لْمُبْتَدَاءِ التَّقْدِيْمُ دمبتداء اوخبردَتعريف نه پس ددے احكامات ذكركوي په دے عبارت كښے دَمبتدا دَړومبي حكم بيان دے. چه دَمبتدا اصل اوراجح يعني مقتضائے طبعي دادے چه په خبر باندے مقدم وي (رتبة ولفظا) دليل مبتدا ذات اومحكوم عليه وي اوددے حال كيږي اوذات مقدم وي په خپل حال باندے البته يادلرئ په انشاء كښے مبتداء بالفعل محكوم عليه نه وي لكه هل زيد موجود ځكه چه انشاء كښے استفادة وي نه افادة نوانشاء خبرباندے محمول كولے شي.

سوال: الصلوٰة خيرمن النوم كښے(الصلوٰة) مبتدا دے مگر ذات نه دے ځكه چه صلوٰة دَ اقوالو او افعال مخصوصه نوم دے چه حال جوړيږي اوهذا زيد كښے (زيد) خبر ذات دے حال نه دے؟

جواب: دَلفظ ذات اطلاق په درو معانوباندے كيږي(۱)حقيقت يعني ماهيت (۲) قائم بذاته (۳) مستقل بالمفهومية دلته اوله معنى مراد ده اوالصلوٰة يقينا يوماهيت دے. اوخبريت ددے حال وے اوهذا زيدٌ كښے(زيد) په تاويل مسمى په زيد دے. په دے وجه چه جزئ حقيقي

محمول کیږي نه؟

سوال: دادلیل تقدیم بعینه فعل فاعل کښے جاري کیږي چه فاعل ذات وي اوفعل ددے حال نو په فاعل کښے هم اصل تقدیم پکار دے حالانکه تقدیم دَفاعل جائز نه دے؟

جواب: دذات دَتقدیم دَپاره شرط دادے چه هیڅ مانع نه وي اودلته مانع موجود دے چه فعل عامل اوفاعل معمول دے اوعامل مقدم وي.

سوال: دَعامل قبلیت اودَمعمول بعدیت امرلفظي دے اوحالانکه دَفاعل ذات اودفعل حال کیدل امرمعنوي دے دلته دَ امر لفظي اعتبار کړے شوے دے دَامر معنوي ولے نه؟

جواب: امر لفظي طاري بمنزله ناسخ دے اوامر معنوي (مطروعلیه) بمنزله منسوخ دے اواعتبار دَطاري اوناسخ وي نه مطروعلیه اودَمنسوخ .

وَمِنْ ثَمَّ جَازَفِيْ دَارِهٖ زَيْدٌ وَامْتَنَعَ صَاحِبُهَافِيْ الدَّارِ په دغه حکم مذکور باندے دَ تفریع بیان چه دَاصل تقدیم په وجه في دادہ زید جائز دے .ځکه چه په دیکښے اضمار قبل الذکر لفظاً خودے مګر رتبة نه اوصاحبها في الدار جائز دے .ځکه چه اضمار قبل الذکر لفظا هم دے اورتبة چه ناجائز دے.

سوال: ثَمَّ دَاسم اشاره وضع دَمکان حسي دپاره دے نواصل مذکور مشارالیه مقرر کول څه رنګ به درست شي؟

جواب: دلته استعاره ده اصل دمکان سره مخرج کیدو باندے تشبیه ورکړے. شوی ده دااصل مذکور هم دَ جواز او مذکور دَپاره مخرج دے. بیاچه دَلفظ مشبه دَپاره موضوع و؛ هغه نے مشبه دَپاره استعمال کړو دیته استعاره وئیلے شي.

وَقَدْيَكُوْنُ الْمُبْتَدَأُ نَكِرَةً إِذَا تُخُصِّصَتْ بِوَجْهٍ مَّا دَمبتدا دوئم حکم دَمبتدا اصل معرفه کیدل دی نکره کیدل خلاف اصل دے اصل نے دَاول برعکس بیان کړو چه حکم اول اصالت تقدیم صراحة اودم اصالت (تاخیر) ضمناً دلته اصالة تعریف ضمناً اوعدم اصالت تنکیر صراحة بیان کړو ددے طریقه بیان دَاختیارولو وجه دادہ چه اصل یعني تعریف کښے تفصیل نشته اوعدم اصالة یعني تنکیر کښے

تفصیل دے چه دَهغے بیانول مقصود وو.

دلیل: ددے حکم دلیل دادے .چه مبتدأ چونکه محکوم علیه وی اوچه په کوم څیز باندے اولګولے شی نودهغے دَامور معینه ؤ نه کیدل مناسب دے په دے وجه داحکم لګولے شی چه دَمبتدأ اصل معرفه کیدل دی.

سوال: دغه رنګ خوفاعل هم محکوم علیه وی په دے باندے هم داحکم لګول پکار وو؟

جواب: قاعده هم ده .چه دَهر محکوم علیه دَپاره تعریف ضروری دے .تنکیر جائز نه دے مګر نکره مخصصه وی نوجائز دے . اوفاعل همیشه معرفه وی یانکره مخصصه څنګه چه دَفعل په اسناد سره تخصیص کیږی چه کوم وخت متکلم دَفعل تکلم کوی. نودَمخاطب په ذهن کښے داراځی .ددے نه پس رورا تلو والااسم کښے دَفاعل صلاحیت موجوددے بهرحال نکره نه په دیکښے که چرے تخصیص پیاموندے شی نونکره مبتدا جوړیږی.

وَلَعَبْدٌ مُؤْ مِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُّشْرِكٍ وجوهات: تخصیص نه دَرومبیٔ وجے مثال (عبد) نکره مبتدا ده چه په دیکښے تخصیص بالصفة دے بیاتخصیص بالصفته کښے صفت عام دے خواه مذکور لکه مثال مذکور کښے یامقدر لکه السمن منوان بدر هم کښے دَمنوان صفت (منه) مقدر دے یامعنی لکه رُجَيْلٌ قَائِمٌ په معنی دَرجل صغیر دے . موصوف بالصفته مقدر اوموصوف بالصفته معنی کښے فرق دادے چه استفاده اول صفت کښے مقدر سره وی اوپه دونم کښے خپله په نکره سره بذریعه دَقرینه لکه (رجیل) کښے (بالتصغیر) سره.

اَرَجُلٌ فِيْ الدَّارِ اَمْ اِمْرَءَةٌ: په دے مثال کښے علم ثبوت خبر دَپاره مبتدا سره تخصیص پیاموندے شی څکه چه همزه اوام سره سوال هغه وخت کیدے شی چه کله بلاتعیین دَیودَپاره دَ خبر(فی الدار) دَثبوت علم وی اومخاطب نه صرف تعیین مقصود وی .

مَاأَحَدٌ خَيْرٌ مِنْكَ: (احد) نکره مبتدا ده چه په دیکښے تخصیص بالعموم دے څکه چه نکره تحت النفی چه دَعموم فائده ورکوی دامثال علی مذهب بنی تمیم دے.

سوال: دنکره مخصصه بالعموم باطل دے څکه چه خصوص وعموم کښے منافات دی. چه عموم په

معنى داشتراك او خصوص په معنى تقليل اشتراك دے كه مبتدا نكره مخصصه بالعموم وى نو لازم به راشى اسم واحد كښے په وخت اجتماع دضدينو كيدل والازم باطل فالملزوم مثله؟

جواب: دلته دتخصيص نه مراد رفع احتمالات دے چه دعموم منافى نه دے بلكه داخصوص عموم نه حاصليږى.

فائده: داوجه دتخصيص نكره تحت النفى سره مختص بلكه هر هغه نكره چه په هغے سره عموم عموم مقصود وى خواه مقام نفى كښے وى يا مقام اثبات كښے هغه مبتدا جوړيږى .لكه دامثالونه تمرة خير من جرادة من عندك ماعندك ،مااحسن زيداكښے اوهل زيد فى الدار هم ددغه قبيلے نه كمافى مغنى اللبيب.

وَشَرٌّ اَهَرَ ذَانَابٍ (شر) دنكره فاعل معنوى كيدو په لحاظ سره دهغه امرسره مختص شوه دهغے سره په فاعل كښے تخصيص كيږى. داسناد اوفعل په وجه اوفاعل معنوى دارنګ ده چه اصل عبارت وو اهر شر ذاناب د(اهر) فاعل غير دے چه مبدل منه دے شربدل او .

قاعده ده چه دفاعل نه بدل معنًا فاعل وى بيا مقصدحصر(شر) نے مقدم كړو چه په هغے باندے قرينه مورد استعمال ده چه عرب د مااهرذا ناب الاشر په مقام كښے استعمالوى.

فائده: دلته (شر) فاعل معنوى (بدل) نے اومنلو اومقدم نے كړو چه تقديم دفاعل لازم رانشى. اوانسلاخ البدل اسهل دے دانسلاح الفاعل نه ځكه چه بقاء دفعل بدون الفاعل جائز دے . اوچه كله د مبدل منه بقاء بدون البدل جائز دے. په دے تركيب كښے اختصاص دتقديم اوتأخير اعتبار كولوسره داتركيب على مذهب السكاكى دے. اوشيخ عبدالقاهر په نيزد دتقديم اوتأخير داعتبار كولو ضرورت نشته ځكه چه ددوئ په نيزد دمسنداليه تقديم مسند فعلى مفيد اختصاص دے دمولانا جامى عبارت دواړو مذهبونو په طرف مشعر دے دفاعل په ذكر سره علامه سكاى په طرف اشاره ده. اواذ يستعمل الخ سره دمذهب شيخ په طرف دشارح عبارت بلاغت سره مشحون دے.

سوال: شركنايه ده دشخص ضعيف نه اوذاناب كنايه ده دشخص قوى نه

قاعده ده چه كنايه عن المعرفه معرفه وى نومثال دنكره مخصصه به څه رنګ جوړشى.

جواب:په شرکښې دکنایه اعتبار کولو نه مخکښې دنکره لحاظ کولوسره تخصیص پیداکړے شوے دے.

وَسَلَامٌ عَلَيْكَ په دے مثال کښې سلام نکره دد چه په دیکښې نسبت بفاعل فعل مقدرسره سره تخصیص دے. چه په اصل کښې سلمت سلاماعلیک وو سلاماً مفعول مطلق تاکید دے دهغه مقصدر (سلاماً) چه کوم ته سلمت متضمن دے اوړومبی (سلاماً) مصدر مؤکد کښې ضمیر متکلم په طرف داسناد په وجه تخصیص پیداشو چه کله مؤکد کښې تخصیص کیږي نومؤکدیت کښې به هم کیږي بیاسلمت نے حذف کړوجمله اسمیه .

وَالْخَبَرُ قَدْ يَكُوْنُ جُمْلَةً مِثْلُ زَيْدٌ اَبُوْهُ قَائِمٌ وَزَيْدٌ قَامَ اَبُوْهُ: مصنفؒ دخبر حکم بیانوی چه کله خبرجمله هم وی ددینه داضمناً معلومه شوه چه دخبر دپاره هم مناسب همدادے چه مفرد شی چه دواړه رکنونه کښې موافقت راشی اودخبر جمله کیدل په دے وجه درست دے چه لکه څه رنګ مفرد مسند وی نودغه جمله هم .

سوال: دجملے مسند کیدل درست نه دی چه مسند مستقل بالمفهومیت وی اوجمله مسند الیه اومسند اودنسبت تام درے واړو دمجموعه نوم دے چه نسبت باندے مشتمل کیدو په وجه غیرمستقل دے.

جواب: ستاسو خبره درست ده مګر جملے ته خبر ونیل مجاز دے داد ذکر الکل وارادة الجزء دقبیلے نه دے.(حاشیه الصبان) قال الدمامینی بعض المحققین علی انه لا اسناد للجملة من حیث وهی جملة الی زید بل القیام فی نفسه الی الاب ومع تقییده مسند الیٰ زید واقا المجموع المرکب من الاب والنسبة الحکمیة بینهما فلم یسند الی زید ولذلک یؤلون زیدقام ابوه بانه قائم الاب.

فائده :عبارت دخپل بیان کړے شوی حکم خپله مثال هم دے څکه(الخبر) مبتداء (قدیکون جملة) داجمله فعلیه خبر دے.

فَلَابُدَّ مِنْ عَائِدٍ چه کله جمله خبر وی نوپه هغے کښې دعائد کیدل ضروری وی .دهغے وجه داده چه جمله بذات خودپه افاده کښې مستقل ده څکه چه محل فائده (مسندالیه) اومحط فائده

(مسند)بانديے مشتمل دے په دے وجه ددے دَمبتداء سره تعلق جوړولو دَپاره دَرابط کیدل ضروري دي .ورنه مبتدا ذکر به عبث اولغوه شي. دَعائد پوخوقسمونه دي(۱)ضمیر لکه مثال مذکور کښے (۲) الف لام لکه نعم الرجل ابوبکررضی الله عنه (۳) وضع المظهر موضع المضمر لکه الحاقة (۴) خبرمفسر وی لکه قل هوالله احد(۵) اسم اشاره لکه ولباس التقوی ذالک خیر (۶) دَخبر عین مبتداء کیدل لکه حدیث نبویٌ **أَفْضَلُ مَاقُلْتُهُ أَنَ وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ قَبْلِيْ** لااله الاالله.

وَقَدْ يُحْذَفُ دادَسوال مقدر جواب دے سوال چه قاعده مذکوره منقوض ده ځکه چه البرالکر بستین درهما، والسمن منوان بدرهم داجمله خبرواقع دے مگر عائدمذکوره دے؟

جواب: کله کله داعائد حذف کولے هم شي چه کله یوه قرینه موجود وي اودلته (منه) محذوف دے.

وَمَاوَقَعَ ظَرْفًا فَالْاَكْثَرُ عَلٰى اَنَّهُ مُقَدَّرٌ بِجُمْلَةٍ. چه کله خبر ظرف وي خواه ظرف مکان لکه زید امامک یاظرف زمان لکه القیام لیلة القدر یاجارمجرور لکه زید فی الدار نواکثرنحاة یعنی بصریین جمله فعلیه مقرره مني اوبعضے نحاة یعني سیبویه اوابن مالک سبه فعل محذوف مني دَ**قول اول** دلیل ظرف معمول وي چه ددے دَپاره دَعامل ضرورت دے اوپه عمل کښے اصل فعل دے .لهذا چه کله عامل مقدر منل وي نواصل عامل یعني شبه فعل مقدر منل پکار دي. **قول دوم** دلیل داظرف خبردے اوپه خبرکښے اصل مفرد وي لهذا شبه فعل مقدر منل پکار دي صاحب کافیه قول اول ته ترجیح ورکړې ده. **وجه دترجیح** دا ده چه دَقول اول دلیل په اعتبار معمولیت دَظرف دے اودوئم په اعتبار دَخبریت دظرف دَپاره لیکن معمولیت اصل دے چه به هیڅ حالت کښے نه جدا کیږي اوخبریت عارض دے چه جداکیږي لکه قام زیدٌ خلفک لهذا اول دلیل راجح شو .

فائده: دَدوئم قول نسبت کوفینو طرفته کولے شي چه غلط دے. (مغني اللبیب) اوهمنع الهوامع شعر جمع الجوامع کښے چه ظرف چه کله خبر کښے واقع وي دَکوفینو او ابن ظاهر په نیزد ددے هیڅ متعلق هم نه وي.اودا مسلک دَسیبویه او ابن مالک دے کمافي الاشموني اوعندالبعض دواړه مساوي دي اودَ ابن سراج په نیزد نه تقدیر فعل نه تقدیر مفرد بلکه ظرف قسم مستقل دے

.(کمافی حاشية مولانا عبدالحيکم نقلا عن شرح التسهيل .

فائده: ظرف مکان خوخبر جوړيږي ځکه چه افاده کيږي لکه زيد امامک مگر ظرف زمان نه دے ځکه چه افاده نشته لکه زيديوم الجمعة مگر داچه مبتدا حدث وي مصدر وي لکه الصلح يوم الجمعة ،القيام ليلة القدر.

فائده: فعل دَخپل فاعل سره ملاؤ شي جمله جوړيږي مشتقات، ځکه چه نشته وجه دَفرق دادة چه اووه څيزونه فاعل طرفته محتاج دي ياځلورمشتقات اومصادر اوفعل اواسم الفعل بياددے اووه درے قسمونه دي. اول چه مسند اليه اونسبت دواړه دَمسند په مفهوم کښے داخل وي دامشتقات دي دوئم دواړه خارج وي دامصادر دي.درئم مسند اليه خارج اونسبت داخل دافعل اواسم الفعل دے. قسم اول مع الفاعل مفرد دے جمله نه ده ځکه چه ما تضمن کلمتين بالاسناد متحقق نه دے اوقسم ثاني مرکب ناقص باقي پاتے شو قسم ثالث فعل او اسم الفعل جمله اوکلام دے ځکه چه ماتضمن کلمتين الخ متحقق دے.

وَإِذَا كَانَ الْمُبْتَدَاءُ مُشْتَمِلًا عَلٰى مَالَهُ صَدْرُ الْكَلَامِ مِثْلُ مَنْ أَبُوْكَ ماقبل کښے مصنفؒ ونيلي وو چه مبتدا کښے اصل تقديم دے .اوس دَ تقديم وجوبي مقامات بيانول غواړي چه ځلورو ځايونو باندے مبتدا مقدم کول واجب دي .مقام اول : چه کله مبتدا داسے معنی باندے مشتمل ده چه دَصدارت کلام تقاضا کوي نوهلته دمبتدا خبر باندے مقدم کول واجب دي. هغه معنی دادة(۱) استفهام من ابوک شرط لکه من يکرمني اکرمه دخول لام لکه لزيد قائم تعجب قسم ،نفي بعضو دا په نظم ونيلي دي شعر دادے.

شش چیز بود مُقتضی صدر کلام
در طبع فصیحاں شدہ ایں نظم تمام
شرط و قسم و تعجّب و استفہام
نفی آمد ابتداء گشت تمام

سوال:ددے معانو دَپاره صدر کلام ولے واجب دے.

جواب: چه مخاطب ته ابتداء پته اولګی چه دا کلام دَ کومے نوعے دے. ځکه چه دامعانے دَکلام په معنی کښے تغیر پیداکوی چه په مخے سرهٔ کلام دَ یو نوع نه دونمے نوعے طرفته بدلیږی استفهام ،تعجب ،قسم کښے کلام خبریت نه انشاء په طرف بدلیږی.

اَوْکَانَا مَعْرِفَتَیْنِ **دوئم مقام** چه کله مبتدا اوخبر دواړهٔ معرفه وی اوتعیین بانـدے قرینه موجود نه وی نـومبتدا مقدم کول واجب چه مخاطب بانـدے اشتباه پاتـے نه شی که قرینه موجود وی نوخبر مقـدم کول هم جائز دی لکه ابوحنیفه ابویوسفؒ دلته قرینه مخه قاعدهٔ دد چه تشبیه بلیغ کښے مشبه به همیشه مسند اوخبر اومشبه مسند الیه اومبتدا مقرر کولے شی .اودلته اول مشبه به اوثانی مشبه دے لهـذا ثـانـی مبتدا اول خبر معنی داچه امام ابو یوسفؒ په علم وعمل کښے دامام ابوحنیفهؒ مشابه دے.

اَوْ مُتَسَاوِیَیْنِ **دوئم مقام** چـه کله مبتدا خبر دواړهٔ نکرهٔ مخصصه وی بیا هم مقدم کول واجب دی .په دے شـرط چـه قـریـنـه نه وی عام ددینه دواړهٔ مقدار په تخصیص کښے برابر وی پانه وی لکه افضل منک افضل منی.

اَوْکَانَ الْخَبَرُ فِعْلًا لَهٗ مِثْلُ زَیْدٌ قَامَ وَجَبَ تَقْدِیْمُهٗ څلورم مقام چه کله خبر فعل وی نودغه وخت هم مبتـدا مقدم کول واجب دی. چه څه رنګ زید قام په دے وجه مؤخر کـړے شی دَمبتدا دَفاعل سرهٔ التبـاس لازم راشی. اوچه کله تثنیه اوجمع وی نوکیدل سرهٔ به التباس لازم راشی. لکه قام الزیدان قاموا الزیدون پادسانئ نور مقامات هم شته.

وَاِنْ تَـضَمَّنَ الْخَبَرُ الْمُفْرَدُمَالَهٗ صَدْرُ الْکَلَامِ مِثْلُ اَیْنَ زَیْدٌ دمُبتـداء تقدیم وجوبی دمسئله بیانولو نه پس دَخبر تقدیم وجوبی مسئله بیانوی. خبرهم په څلورو مقاماتو بانـدے مقدم کول واجب دی.

ووميم مقام: چـه کـلـه خبر مـفـرد داسـے معنی ته متضمن وی چه دَهغے دَپاره صدارت کلام واجبیږی نودَخبر مبتداء بانـدے مقدم کول واجب دی. چه صدارت فوت نه شی لکه این زید.

سوال: دامثـال دَمـثل له مطابق نه دے ځکه چه په دیکښے (این) خبر ظرف دے مخه مفرد نه دے په دے وجه چه ظرف په تاویل دَجمله وی.

جواب:دمفرد نه مراد صورتاً مفرد وی او (اين) هم صورتاً مفرد دے.

سوال: خبر ئے دَمفرد سره مقيد ولے کړو؟

جواب: خبر جمله که صدارت کلام ته متضمن وی نودد ے تقديم واجب نه دے ځکه چه تاخيرسره صدارت کلام نه فوت کيږی څه رنګ چه زيدمن ابوه.

اَوْكَانَ مُصَحِّحًا لَهٗ دوئم مقام چه کله خبر دَخپل تقديم په اعتبار سره دَمبتداء دپاره مصحح يعنی مخصص وی نودغه خبر هم مبتداء باندے مقدم کول واجب دی. چه دَنکره مبتدا کيدل لازم رانشی څه رنګ چه فی الدار رجلٌ.

اَوْلِمُتَعَلِّقِهٖ ضَمِيْرٌ فِي الْمُبْتَدَاءِ مِثْلُ عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زَبَدًا دريم مقام چه کوم وخت په مبتداء کښے فرق داسے څيز ضمير وی چه دَهغه مرجع دَخبر يومتعلق وی نودغه وخت هم دخبر مقدم کول ضروری وی ځکه چه مؤخر کولوپه صورت کښے اضمار قبل الذکر لفظاء رتبة لازم راځی. چه ناجائز دے لکه علی التمرة مثلها زبدًا.

اَوْكَانَ خَبْرًا عَنْ اَنَّ مَثْلُ عِنْدِيْ اَنَّكَ قَائِمٌ څلورم مقام: چه کوم وخت ان دَخپل اسم وخبر سره ملاؤ شی مبتدا واقع وی نودغه وخت هم دَخبر مقدم کول واجب دی .چه اَنَّ (مفتوحه) د اِنَّ (مکسورة سره التباس لازم رانشی. چه څه رنګ عندی انک قائم تقديم خبرکښے هم يوڅو مقامات دی..

وَقَدْيَتَعَدَّدُ اَلْخَبَرُ مِثْلُ زَيْدٌ عَالِمٌ عَاقِلٌ دَخبر يوحکم بيانول غواړی ديو مبتدا دپاره ډير خبرونه واقع کيدے شی. چه لکه څه رنګ زيد عالم عاقل ، تعدد نه مراد عام دے .خواه تعدد حرف باعتبار دَالفاظو ياباعتبار الفاظ اومعانو سره هم وی. که تعدد حرف په اعتبار دَالفاظو وی نودغه وخت حرف عطف راوړل ناجائز دی. چه لکه څه رنګ هذا حلوحامض اوکه چرے باعتبار الفاظ اومعانی وی نوتعدد به جائز شی ياواجب که تعدد جائز وی نوعطف به هم جائز شی . اوڅه رنګ زيد عالم که تعداد واجب وی نوعطف هم واجب دے. لکه هما عالم وعاقل .دغسے که تعدد واجب وی نو دمعطوف اومعطوف عليه دواړو حمل به شی مبتدا باندے دَپاره نه شی کيدے.

سوال: دَقد استعمال دلته درست نه دے ځکه چه قد مضارع باندے تقليل دَپاره راځی. اوحالانکه تعدد دَخبر کثير دی؟

جواب: کله تحقيق دَپاره هم راځی. لکه قد يعلم الله المعوقين ليکن دلته تحقيق مع التقليل مراد دے ځکه چه ددے نه مراد تعدد خبر بدون العطف مراد دے چه په دے باندے قرينه دَمصنفؒ تمثيل دے.

سوال: لفظ (الخبر) دَذکر ضرورت نه وو قد يتعدد به ئے ونيلے وے؟

جواب: بيا دَضمير مرجع به خبر مفرد جوړ شوے وے اود خبر به په جملے سره سکوت شوے وے اومقام بيان باندے سکوت مفيد دَحصروی کمافی حاشيه مولانا عبدالغفور) حالانکه داحکم خبر مفرد اوخبر جمله دواړه دَپاره دهٔ په دے وجه لفظ (الخبر) ئے ذکر کړو چه دواړو ته شامل شی.

وَقَدْ يَتَضَمَّنُ الْمُبْتَدَاء مَعْنَى الشَّرْطِ فَيَصِحُّ دُخُوْلُ الْفَاءِ فِيْ الْخَبَرِ تردواسه پورے دَهغه احکامو بيان وو چه دَمبتدا اوخبر نه دَ هريوسره مخصوص وو اوس ددے ځائے نه مصنفؒ داسے حکم بيانوی چه دواړو سره متعلق وی. چه کوم وخت مبتدا معنی دَ شرط ته متضمن وی چه دَهغے نه مراد سَبَبِيَّت اول دَپاره دَثانی دے نوددے په خبر باندے دَفا راوړل درست دی. ځکه چه مبتدا دسبب کيدو په لحاظ سره دَشرط مشابه کيږی اوخبر مسبب کيدو په لحاظ سره دَجزاء سره مشابه کيږی. (ځکه چه شرط دَجزاء سبب وی)په جزاء باندے دَفا داخلول درست وی داسے خبر باندے به هم درست شی البته شرط په طرف په دے مبتدا کښے سبب اصل نه دے په دے وجه دَفا داخلول به واجب نه شی.

سوال: شرط ملزوم اوسبب او جزء لازم او مسبب وی اوقاعده دهٔ چه دَسببِيَّت اومببيت لازميت وملزوميت لحاظ اوکړے شی. نودَفاداخلول واجبيږی اواعتبار اونه کړے شی نوناجائز کيږی دا دوه صورتونه دی درنم صورت درست اوجواز ستاسو دَکوم ځائے راويستے دے.

جواب: ستاسو قاعده مسلمه دهٔ مګر مونږ مبتداء کښے دَمعنی شرط دَتضمن لحاظ کوو چه دَهغے په وجه دَفاء داخلول نه واجب دی اونه ناجائز بلکه درست اوجائز دے. فيصح دا قضيه ممکنه خاصه چه په ديکښے سلب ضرورة عن جانبين وی.

جواب: درے درجے دی. (۱) بشرط شی (۲) بشرط لاشئ (۳) لابشرط شئ اول یعنی بشرط شئ کښے حکم لګولے شی . اوثانی بشرط لاشئ کښے په یو څیز باندے دَحکم لګولو نفی کیدے شی ثالث لابشرط شئ کښے نه په څیز باندے داثبات حکم لګولے شی اونه دَ نفی دَجواب حاصل داشو چه (یصح) چه دادَ لابشرط شئ په درجه کښے دے یعنی دَفاء دخول نه واجب قرار کوی اونه ناجائز بلکه درست اوجائز مقرر کوی.

سوال: مابکم من نعمة فمن الله فمن الله خبر دے چه په دے باندے فاء داخله ده حالانکه مبتداء معنی دَشرط ته متضمن نه ده ځکه چه مبتدا سبب نه دے دَخبر دَپاره بلکه برعکس دے خبر سبب دے مبتدا دَپاره په دے وجه چه مضمون مبتداء دے حصول نعمت دے اومضمون خبر دے صدور نعمت من الله دے اوداخبره ظاهره ده چه صدور خوحصول دَپاره سبب جوړیږی لیکن دَحصول صدور دَپاره نه ؟

جواب: سَبَبِیَّت اول دَپاره دثانی نه مراد ملزومیت اول دَپاره دثانی عام ددینه چه حقیقة وی یاادعاء کما سیأتی فی بحث کلم المجازات دلته یقینا مضون مبتدا ملزوم اومضوم خبر لازم دے .ځکه چه دَحصول نعمت تحقق بغیر دَصدور من الله هډو ممکن نه دے.

تنبیه: داحکم دخول الفاء فی الخبر هغه وخت په درست شی .چه کله خبر مؤخر وی ورنه ترک فاء واجب ده ځکه چه دخول فاء په وجه دَ مشابهت جزاء وه چه کله جزء مقدم شی نو په دے باندے دَ فاء دخول درست نه دے نو په باندے په څه رنګ درست وی (حاشیه الصبان)

وَذٰلِكَ الْاِسْمُ الْمَوْصُوْلُ بِفِعْلٍ اَوْ بِظَرْفٍ اَوِ النَّكِرَةُ الْمَوْصُوْفَةُ بِهِمَا مِثْلُ الَّذِیْ يَاْتِيْنِیْ اَوْ فِی الدَّارِ فَلَهٗ دِرْهَمٌ اَوْكُلُّ رَجُلٍ يَاْ تِيْنِیْ اَوْفِی الدَّارِفَلَهٗ دِرْهَمٌ

اوس مصنفؒ هغه مقام بیانوی چه په هغے کښے خبر باندے دَ فاء داخلول درست دی . چه ددے دوه مقامات دی.

مقام اول: چه کله مبتدا موصول وی چه دَهغے صله جمله فعلیه یا ظرف مؤول بالفعل وی.

ضابطه: ظرف صله واقع وی نو بالاتفاق په تأویل دَفعل وی ځکه چه صله همیشه جمله وی مفرد نه

وی.)مزید ضوابط دَ احقر تصنیف قدۃ العامل شرح مأته عامل کښے اوګورئ) نوپه خبر باندے دفاء دخول په درست شي. لکه الذی یاتینی فله درهم الذی فی الدارفله درهم.

فائده: صله او صفت دپاره دفعل اومؤول بالفعل شرط ئے په دے وجه اولګولو .چه دَمبتدا دَشرط سره مشابهت قوی شي .ځکه چه شرط همیشه جمله فعلیه وی.

سوال: قـل ان الموت الذی تفرون منه فانه ملاقیکم په آیت کریمه کښے په خبر باندے فاء داخله ده حالانکه مبتدا دهغه مذکور شلورو صورتونو نه دے؟

جواب: چه کله مبتدا موصوف شوه صفت اسم موصول مذکوروی نوهغه دا موصول مذکور په حکم کښے وی. اوپه آیت کریمه کښے هم داسے ده دَ جواب حاصل دا دے .چه ټول اته صورتونه جوړیږی . (فتفکر)

سوال: نکره موصوفه په کتاب کښے ذکر کړے شوی مثال (کل رجل تأتینی) دَمثل ده چه نکره خوده موصوفه نه ده؟

جواب: قاعده ده چه لفظ (کل) داڅهل مضاف الیه نه عبارت وی اوچه کوم صفت دَمضاف الیه وی هغه معنی ددے صفت دے لهذا دامضاف په طرف دنکره موصوف مثال دے .اودنکره موصوف مثال هم جوړیږی .

سوال: دبهما مرجع بفعل اوبظرف دے او(قاعده) ده چه دوه معطوفو کښے چه کوم وخت (او) دَحرف عطف په ذریعه عطف واچولے شي. نوهغه شئ واحد شمارلے شي. په دے وجه ضمیر مفرد راوړل واجب دی.(به) ونیل پکار وونه چه (بهما)؟

جواب: دلته مضاف محذوف ای باحدهما لیکن داجواب درست نه دے ځکه چه سوال بدستور قائم دے چه باحدهما کښے دهی مرجع هغه جوړه شي.

لَيْتَ وَلَعَلَّ مَانِعَانِ بِالْإِتِّفَاقِ مصنف دَدخول فاء مواضع بیانولو نه پس ددے ځائے نه ددخول فاء موانع بیانوی چه په هغے کښے بعضے متفق علیه دی اوبعضے مختلف فیه که چرے داسے مبتدا باندے (لیت)او(لعل) داخل شي نوخبر باندے دَفاء داخلول ناجائز دی.

وجه مانعیت: اوعلت دادیچه مبتدا خبر جمله خبریه وی اوشرط و جزاء هم جمله انشائیه جوړیږی

اومشابهت ختم شي چه کله لیت اولعل داخل شي نوجمله انشائیه جوړیږي اومشابهت ختم شي چه کله مشابهت باقي نه پاتے کیږي نوکفاء دخول څه رنګ درست په دے وجه لیت اولعل مانع جوړیږي.

سوال: که چرے افعال قلوب اوافعال ناقصه نه یوفعل په داسے مبتدا باندے داخل شي نومغه بالاتفاق مانع دے. نوبیادلیت اولعل دتخصیص څه وجه ده؟

جواب: دافعال قلوبو اودافعال ناقصه ټول بابونه بالاتفاق مانع وو په دے وجه ددے ذکرانولو ضرورت نه وو او چه کله حروف مشبه بالفعل کښے اختلاف وو چه بعضے مانع وو اوبعضے نه وو په دے وجه ددے ذکرانولو ضرورت وونوبیان ئے کړو.

وَالْحَقَّ بَعْضُهُمْ اِنَّ بِهِمَا بعضو اِنَّ (مکسورة) دلیت اولعل سره پیوست کړی ده چه اِنَّ هم مانع دے دبعضو نه مراد سیبویه دے **دلیل عقلي** اِنَّ دتحقیق دپاره راځي اوحالانکه شرط وجزاء دامور مشکوکه نه دے اوچونکه تحقیق اوشک کښے مخالفت دے په دے وجه اِنَّ هم مانع عن دخول الفاء دے. **دلیل نقلي** ان الذی امنوا وعملو الصالحات لهم جنت آیت کریم کښے فاء داخله نه ده که چرے یومقام باندے فاء ده نومغه به زائد وي یا تعلیلیه لیکن درست مسلک داده چه اِنَّ (مسکورة) مانع نه ده . **دلیل عقلي** اِنَّ (مکسورة) دلیت اولعل سره ملحق کول خلاف عقلي دے .په دے وجه چه لیت اولعل سره مشابهت به ختم شي. لیکن اِنَّ مکسورة سره مشابهت ختمیږي .نه باقي پاتے کیږي اوبقاء علت تقاضا کوي دبقاء حکم لهذا اِنَّ مانع عن دخول الفاء في الخبر نه دے.دلیل نقلي قل ان الموت الذی تفرون منه فانه ملاقیکم نور هم ډیر مثالونه شته. لیکن مونږ چونکه د دخول فاء کوجوب قائل نه یو لهذاکه چرے بعضے مقاماتو کښے فاء داخله نه وي نوزمونږ دعویٰ دپاره مضرنه دے.

سوال: چه څه رنګ په اِنَّ (مکسورة) کښے اختلاف وو مغه ئے بیان کړو نودغه رنګ اَنَّ لِکنَّ مانع کیدو کښے اختلاف وو دائے ولے بیان نه کړو؟

جواب: اِنَّ (مکسورة) دالحاق قائل سیبویه وو په دے وجه صاحب کافیه بیان کړو چه کله اَنَّ (مفتوحه) اولکن په الحاق کښے د عامونحاتو قول وو په دے وجه دالے بیان نه کړو.

سوال: مصنفؒ دامقوله نه ده اوریدلی لاتنظر الیٰ من قال وانظرالی ما قال؟

جواب الصحيح: دادغه نحويانو قول دقران مجيد او دفصحاء بلغاء دكلام خلاف وو په دے وجه بيان نه كړو قران مجيد واعلموا انما غنمتم من شئ فان لله خمسه اوديو شاعر شعر.

فوالله ما فارقت قاليا لكم

لكنما يقضي فسوف يكون

وَقَدْ يُحْذَفُ الْمُبْتَدَاءُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازُ اَنْقَوْلِ الْمُسْتَهِلِّ اَلْهِلَالُ وَاللّٰهِ تردے پورے ذمبتدا اوخبر دغه احكامات بيان وو چه ددے دمذكور كيدو متعلق وو اوس ددے ځائے نه مصنفؒ دحذف متعلق حكم بيانوي اوچونكه مبتدا اشرف وه په دے وجه پرومبے ددے ذكر كوي .چه كه چرے قرينه موجود وي نومبتدا حذف كول جائز دي .خواه قرينه لفظي وي روستو دفاء په جواب كښے من عمل صالحا فلنفسه بقرينه شرط بعد قول قالوا اساطير الاولين (هو) بقرينه مقوله چه اكثر جمله وي اوحذف دداسے څيز نه پس چه خبر معني ددے صفت دے لكه بقرينة المؤ منين آيت سابقه چه دغے دامعني صفت دے په دے څلور مقاماتو كښے حذف جوازي كثير دے كمافي مغني اللبيب ياقرينه عقلي لكه الهلال والله چه ددے دپاره هذا متبداء محذوف دے چه په دے باندے قرينه حال مستهل دے چه يوڅيز په اشاره سره متعين كول غواړي.

سوال: مثال خوالهلال دے نو(والله) قسم اضافه ولے كړے شوے ده.

جواب: دعربو داعادت دے چه مغوي دقسم ذكركوي په دے وجه قسم نے هم ذكر كړو او ددے دمخاطب وهم نے ختم كړو چه دحكم يقيني مثال جوړشي. سوال: بياهم دحكم مذكور مثال يقيني نه جوړيږي ځكه چه دااحتمال موجود دے چه دامبتدا دوي خبر ددے هذا حذف وي؟

جواب: دا احتمال دمقصود متكلم خلاف دے ځكه چه دمتكلم مقصود داشاره په ذريعه يوڅيزمتعين كول اوپه هغے باندے دهلاليت سره حكم لګول دي نه چه په هلاليت باندے حكم لګول

سوال: دمبتداء حذف وجوبي مقامات ئے ولے بيان نه كړل اوحالانكه دخبر نے بيان كړي دي؟

جواب: دمبتدا حذف وجوبي چونكه قليل وو په دے وجه دالے بيان نه كړو .(غاية التحقيق) جواب درست دے چه كافيه محذوف ده دمفصل نه اومفصل كښے چونكه ددے بيان نه وو

نوصاحب كافيه هم اتباع ماخذ كښے بيان نه كړو.

وَالْخَبَرُ جَوَازًا مِثْلُ خَرَجْتُ فَاِذَاالسَّبُعُ دَخبـر دحذف دپاره حكم بيانوي كه قرينه موجود وي نودخبر حـذف كول جائز دي لكه خرجت فاذاالسبع السبع مبتدا ده ددے خبر موجود محذوف دے په دے بانـدے قرينه اذا مفاجآتيه ده ځكه چه دا په جمله بانـدے داخليږي اوعندالبعض دا اذا ظرفيه مكانيه دے اوخبر دے دَ مبتدا په دے تركيب بانـدے دَحكم مذكور مثال نه جوړيږي.

وَوُجُوْبًا فِيْمَا اُلْتُزِمَ فِيْ مَوْضِعِهٖ غَيْرُهٗ كله خبر وجوبي طور بانـدے حذف كولے شي .داحذف وجوبي بـه هـغـه وخت وي چـه كـلـه يـوشيـز دَخبر په ځائے قائم كړے شـوے وي .چه دَهغے وجه اوعلت دادے كـه خبـر هـم ذكـر كـړے شي نـولازم بـه راشي دَاصل اوقائم مقام اجتماع دَعوض او معوض اجتماع چه باطل ده په دے وجه داسے تركيب كښے دَخبر حذف كول واجب دي په دے وجه څلور مقامات نـے بيان كړي دي.

مِثْلُ لَوْلَا زَيْدٌ لَكَانَ كَذَا **رومبے مقام** هرهغه تركيب چه په هغے كښے مبتداء دَلولانه پس واقع وي اوددے خبـر افعال عامه نه وي نوخبر حذف كول واجب دي لكه لولازيدلكان كذا زيد مبتداء ده. اوددے خبر موجود محذوف دے درے قرينے دي. نفس حذف بانـدے قرينه لولادے ځكه چه لـولا جمله بانـدے داخليږي دَتعيين محذوف قرينه داده چه دَلولالومتع ددے دَپاره ده چه وجود اول سبب دے دَانتـفاء ثاني دَپاره په دے وجه خبر موجود محذوف به شي اودَسدمسد قرينه هغه لكان كذا دے اعتراض.

لولا الشِعرُ بالعلماءِ يُزْرِيْ

لَكُنْتُ اليومُ اَشْعَرَ مِنْ لَبِيْد

لَوْلَا خَشْيَةُ الرَّحْمٰنِ عِنْدِيْ

جَعلتُ الناسَ كُلَّهُمْ عبيدي

شعرا ول كښے مبتدا، خبريزري ده اوپه دونم كښے عندي دے. دااشعار هم دامام الفصحاء والبلغاء امام شافعيؒ دي ددينه معلومه شوه چه دَلولا نه پس واقع كيدونكي مبتدا، خبرحذف كول واجب نه دي

بلکه ذکر کول هم واجب دی ؟

جواب:داضابطه هغه وخت ده چه کله خبردافعال عام نه نه دے.

وَضَرْبِیْ زَیْدًا قَائِمًا: دخبر د حذف وجوبی دوئم مقام ضابطه هرهغه مبتداء چه مصدر حقیقی یاتأویلی فاعل یا مفعول یادواړو طرفته منسوب وی بیادفاعل یامفعول نه پس حال واقع وی دفاعل نه یامفعول نه یا دواړو نه دغه رنګ هرهغه مبتداء چه اسم تفضیل وی چه مضاف وی مصدر حقیقی یاتأویلی په طرف بیامصدر حقیقی یاتأویلی الی اخره ددے ضابطه دولس صورتونه نه جوړیږی اول مبتدا مصدر حقیقی مضاف وی فاعل په طرف اودد ے نه پس حال واقع کیدل دفاعل نه لکه ذِهَابِیْ رَاجِلًا. ثانی مبتداء مصدر حقیقی مضاف وی فاعل په طرف اوددینه پس حال واقع کیدل دمفعول نه ضَرَبَ زَیْدٌ قَائِمًا ثالث مبتداء مصدر حقیقی مضاف وی فاعل په طرف اوددینه پس فاعل اومفعول لودواړو نه ضَرْبِی زیدًا قائمین رابع مبتداء مصدر تأویلی مضاف وی فاعل په طرف اوددے نه پس حال واقع وی دفاعل نه آن ذهبت لاحلا خامس مبتدا مصدر تاویلی وی مفعول په طرف ددے نه پس حال واقع وی دمفعول نه ان ضرب زید قائمًا سادس مبتدا مصدر تاویلی مضاف وی فاعل اومفعول اوددے نه پس حال واقع وی دواړو نه ان ضرب زید عمرو قائمین باقی شپږ صورتونه خپله رااوباسی اوس په کتاب کښے ذکر کړے شوی مثال کښے دخبرتقدیر اوکیفیت تقدیر کښے دنحاتو اختلاف دے. مذهب اول بصرینو په نیزد تقدیر دادے ضربی زیدًا حاصل اذاکان قائمًا ترکیب ضَربُ مصدر مضاف دے د فاعل په طرف زید مفعول به حاصل خبر دے .اذا ظرف دحصل متعلق دے کان تام دے ناقصه نه دے ددے ضمیر زید طرف راجع دے. قائما دکان دضمیر نه حال واقع دے .خبر ئے حذف کړو اذا کان ئے دهغے قائم مقام کړو ځکه چه دظروفو متعلقات به حذف کولے اوظروف به اودرولے شی. بیااذا کان ئے حذف کړو قائما ئے قائم مقام کړو ځکه چه طرف اوحال قریب قریب دی.لکه جاء نی زید راکبا په ځائے (وقت الرکوب) وئیل درست دے باقی پاتے شو. ضربی زیداقائما. شارح رضی په بصرینو باندے اعتراض کړے دے په دے تقدیر کښے تکلفات دی.(۱) داذامع جمله مضاف الیه حذف کلام عرب کښے ثابت نه دے(۲) (کان) تام جوړول خلاف اصل دے چه دقرینه محتاج دے(۳) مجموعه ظرف وجمله دمضاف الیه په مقام

کښې دَحال قیام داهم ثابت نه دے. تقدیر اولیٰ داد ے چه ضربي زید یلابسهٔ قائما چه نَه حال دَمفعول نه وي ضربي زید یلابس قائما چه کله دفاعل نه وي اولا ضمیر مفعول به نے حذف کړو ځکه چه فضله دے ددے حذف جائز دے کقوله تعالیٰ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ. په دے باندے قرینه اوله د یلابس فعل متعدی کیدل دي. دونم داد ے چه دَقائما ذو الحال یلابس نه پس کیدل چه ذوالحال اودَحال عامل یوځوړشي ثانیا یلابس نے حذف کړو چه په دے باندے قرینه حال قائما دے ځکه چه دا معمول دے چه مقتضي دَعامل دے اوداحال قائم مقام دے په دے چه دَمعمول قائم مقام کیږي. (سوال یاسوالي) عامل حذف کول اومعمول قائم مقام جوړول هم قیاسي دي.لکه(فَضَرْبَ الرقاب) دَعامل اوذوالحال حذف اودَحال قائم مقام کیدل هم قیاسي دي لکه راشدامهدیاًلهذا داتقدیر اولي دے تکلفات نه دي.ځکه چه په دیکښې محذوفات قیاسیه دي. اګرچه په تقدیر دَبصریینو کښې غیرقیاسي دي. لیکن یادساتئ تقدیر دَشارح رضي نه دے کمافي حاشیه العلامه الستوي علی محرم آفندي) **مذهب کوفین تقدیر** : ضربي زید قائما حاصل بیاحاصل ئے حذف کړو. ضربي زیداقائما باقي پاتے شو.په دے تقدیر کښې دوه خرابیانے لازم راځي.لفظي اومعنوي لفظي خرابي داده چه قائما حال دَمبتدا معمول کیدو په وجه دَمبتدا دَمتساٰلو نه وي چه دَخبرقائم مقام نه شي کیدے لهذا لازم په راشي دَخبر بغیر دَقائم مقام وجوبي طورباندے کول چه ناجائز دے .معنوي دوئمه خرابي داده چه داخلاف مقصود متکلم دے . په دوجه چه په دے مثال کښې بالاتفاق بصرین اوکوفین دَمتکلم مقصود حصر اوعموم دے. یعني درئم هر ضرب چه په زید باندے واقع شو. بحالت قیام وو. لیکن په دے تقدیر باندے حصر عموم باقي نه دے .ځکه چه اوس معني به شي چه په حالت قیام زید باندے واقع شوے زما هر ضرب ثابت دے داپه حالت قعود واقع شوي ضرب منافي نه دے. **مذهب اخفش** : داخبر محذوف غومصدر مقرر کوي تقدیر دَعبارت ضربي زیداضربي قائما چه کله حال دَفاعل نه اوضربي زیدا ضربه قائما چه کله حال دَمفعول نه وي دامذهب هم په دوه وجو ضعیف دے اولا په دے وجه چه حذف مصدر مع بقاء معمول په کلام عرب کښې موجود نه دے بلکه ممتنع دے ثانیا په دے وجه چه حال په دے مصدر باندے دلالت نه کوي نوحذف غبر بغیر دقرینه نه به لازم راشي چه ناجائز دے. **مذهب**

دابن درستویه چه دامبتدا دهٔ چه ددے هیڅ خبر نشته ځکه چه دا په معنی دَ فعل دے. لکه اقائم الزیدان بمعنی یقوم الزیدان دے دغه رنګ ددے معنی دهٔ ماضربت زیداالاقائماً لهذا په کله دامصدر په معنی دَفعل شو نوځه رنګ چه فعل محتاج خبر نه دے نودغه رنګ دامهم محتاج خبر نه دے دامسلک هم ضعیف دے ځکه چرے داسے وے نوبغیر دَذکر کولو دَحال مبتدا نه کلام تمامیږی اومبتدا په فائدهٔ تامه ورکولے حالانکه داسے نه دهٔ چه ترڅو پورے حال ذکر نه کړے شی نومعنی پوره نیږی نه - والله اعلم وعلمه اتم احکم.

وَكُلُّ رَجُلٍ وَضَيْعَتُهٗ دخلورو مقاماتو نه **درئم مقام** مرمغه مبتدا چه دَهغے نه پس داسے اسم مرفوع چه دهغے عطف وی (واو) بمعنی (مع) په ذریعه کیدے چه دَدواړو مقارنت دَخبر ورکول درست شی. لکه کل رجل وضیعته .**دبصر ینو مذهب**: تقدیر دَعبارت دادے کل رجل وضیعته مقرونان ضیعته عطف (کل) مبتدا باندے دے. اومقرونان دَدواړو خبر دے.

سوال: ضیعته باعتبار دَعطف مبتداء ثانی دهٔ. اومبتدا دَخپل خبرقائم مقام نه جوړیږی حالانکه په دے ترکیب کښے جوړیږی.

جواب: (مقرونان) په خبر کښے تثنیه کیدو په اعتبار سرهٔ دوهٔ حیثیتونه دی اول دادے چه دَ(کل) خبر دے په دے حیثیت سرهٔ په معطوف باندے مقدم دے.دونم دادے چه دَضیعته خبر دے ضیعة دحیثت اول په اعتبار سرهٔ قائم مقام دَخبر دے .نه جهت دَدونم په اعتبار سرهٔ اوقائم مقام کیدو دَپارهٔ یوجهت کافی دے.

سوال: دَضیعته دَضمیر مرجع (کل رجل) دے یافقط (رجل) رومبی صورت کښے به معنی داشی چه هر سړے دَهر سړی دَپیښے سرهٔ مقرون وی دامعنی غلطه دهٔ ځکه چه هر سړے خپلے پیښے سرهٔ مقرون وی نه چه ددولم سړی دَپیښے سرهٔ دونم صورت کښے به معنی داشی چه هر سړے دَیو سړی دَپیښے سرهٔ مقرون وی دامعنی هم فاسد دهٔ.

جواب: مرجع (کل رجل) دے اودا کلام دَمقابله الجمع بالجمع دَقبیلے نه دے چه دَهغه غرے حقیقی وی چه انقسام احادبراحاد وی (کل رجل) کښے اجمال دے چه دغه ظاهرهٔ غیر محصورهٔ قائم مقام لکه زید، عمر،بکر اودَضیعته په ضمیر کښے هم اجمال دے چه دَضمائر غیر محصورهٔ قائم مقام

دے چه ضمائر دَ غير محصوره قائم مقام دي چه په ديکښے يو ضمير يو اسم ظاهره طرفته راجع دے اودوئم دوئم طرفته اودرئم درئم طرفته معني به داشي .زيد وضيعته مقرونان ،عمرووضيعته مقرونان هلم جرا كمافي حاشية الصبان حاشيه المرقق ددغه اعتراضاتو نه دَبچاؤ دَپاره محققينو ددے جدا ترکيب کړے دے. دَمحققينو په نيزد تقدير داد ے کل رجل مقرون هووضيعته دَضيعته عطف دے دَمقرون ضمير مرفوع مستتر باندے په دے وجه دے تاکيد ضمير منفصل راوړلے شوے دے. (فوائد شافيه) ددے حذف کول په دے وجه واجب دے چه قرينه اوقائم مقام دواړه موجود کښے قرينه (واو) په معني (مع) دے چه اقتران باندے دلالت کوي اوقائم مقام (ضعيته) معطوف دے چه ددے معني هر سړے دَخپلے پیشے سره مقترن دے که دَضيعته معني حرفت پيشه نه وي آرزو وي نوبيامعني داشوه هر سړے دَخپلے تمناسره مقرون وي (جامع الغموض)

دَمحقّقين په تقدير يوځواعتراضات

ړومبے اعتراض تاکيد په کلام عرب کښے کله هم حذف کيږي نه ځکه چه دَتقويت دَپاره راوړلے شي اوستاسو په ترکيب کښے حذف کيږي.

جواب: چه کوم وخت مؤکد حذف شي نوتاکيد هم حذف کيږي .دوئم اعتراض : چه کوم وخت دَاسم ظاهره ضمير متصل باندے واچولے شي نودوه اعراب جائز کيږي يعني رفع اونصب ليکن ضيعته باندے نصب جائز نه دے.

جواب: داقاعده هغه وخت ده چه کله فعل ياشبه فعل لفظي وي اوهغه خپله اقتران باندے دلالت اونه کړي بلکه واو په اقتران باندے دلالت اوکړي ليکن دلته فعل خپله اقتران باندے دلالت کوي.

درئم اعتراض : ددے ترکيب نه خروج عن البحث لازم راځي . ځکه چه بحث خوددے خبرے دے چه مبتداء باندے دَيواسم عطف واچولے شي اوستاپه ترکيب کښے مبتداء باندے نشته بلکه خبر باندے عطف اچولے شي .

جواب: مبتدا ، باندے دَعطف نه مراد عام دے چه خواه حقيقتاً وي يا حکمًا دلته حکما په مبتدا

باندے عطف دہ چه داخبرہ په ضمیر باندے عطف اچولے شي چه راجع الی المبتداء دے .

دکوفینو مذهب داکلام تام دے ددے دپارہ دجز دمقدر منلو ضرورت نشته (وضیعته) خبر دے ځکه چه (واو) په معنی (مع) دے چه لکه څه رنګ واو په ځائے مع وی لکه کل رجل مع ضیعته لو(مع ضیعته) خبر به وی دغه رنګ وضیعته هم خبردے لیکن دا مسلک ضعیف دے ځکه چه کواو په معنی دمع کیدل قطعا ددے خبرے مستلزم نه دے چه بمنزله د(مع) شي تردے پورے چه خبر کیدل هم درست وی په دے وجه چه(مع) خو ظرف دے په دے کښے دخبر جوړیدو صلاحیت دے او واو حرف دے چه په دیکښے دخبر جوړیدو صلاحیت دے او واو حرف دے چه په دیکښے دخبر جوړیدو صلاحت نشته .فتدبر.

وَلَعَمْرُكَ لَاَفْعَلَنَّ كَذَا **خلورم مقام** هر هغه مقام چه په هغے کښے مبتدا مقسم به وی په دے شرط چه قسم هم غالب الاستعمال وی نوددے دخبر حذف کول هم واجب دی. ځکه چه قرینه اوقائم مقام جواب قسم دے لکه لعمرک لافعلن کذالعمرک خبرقسمی محذوف دے اودعهدی استعمال قسم قسم کښے غالب نه دے په دے وجه ددے دخبر حذف وجوبی نه شو بلکه جوازی شو لکه عهدالله لافعلن کذا ددے دخبر ذکر هم جائز دے عَلَيَّ عهدالله لافعلن کذا.

فائده: دخبر حذف وجوبی کښے دقائم مقام ضرورت وی لیکن دمبتداء په حذف وجوبی کښے نشته وجه دفرق دادہ چه خبر محط فائدہ دے نوهغه مهتم بالشان شو .(حاشیته الصبان) **فائده** کله لعمرک په سوال کښے مستعملیږی قسم سوال دیته وئیلے شي. چه دهغے جواب امر یانهی یا استفهام وی لکه لعمرک لانصرن اخاک ظالما او مظلوما.

خَبَرُ اِنَّ وَاَخَوَاتِهَا هُوَا لْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا: مصنف دمبتداء اوخبر دبحث نه فارغیدو نه پس دمرفوعاتو پنځم قسم دحروف مشبه بالفعل خبر بیانوی **فائده** دکوفینو مذهب دادے چه حرف مشبه رافع خبر نه دے بلکه د(خبر) مرفوع کیدل بالابتداء دے دلیل دا دے چه داحروف بذات خود عامل نه دے بلکه په وجه دمشابهت عمل دے لهذا عامل ضعیف شو نوفعل طرفته دوه عملونه (نصب رفع) نه شي کولے فقط د یوواسم دپارہ به ناصب شي . **لیکن** اصح مذهب دادے چه داناصب اسم اورافع دخبر دی. **دلیل** ددے عامل کیدل دمتعدی سرہ دمشابهت په وجه سرہ دے

لهذا دَمشبه به په شان دوه عملونه (نصب رفع) به کوي په دے دلیل کښے دَ کوفینو جواب هم اوشو.

دلیل ثاني ددے حروفو معاني تاکید، تشبیه ، تمن ،ترجي استدراک نسبت مابعد سره متعلق کیږي اودَنسبت تعلق طرفینو یعني اسم وخبر سره برابر وي لهذا ددے حروفو تقاضادَه چه دوه اسمونه په خبر کښے عمل کوي .

سوال: فاعل اومبتداء خبر منه اودَمنها نه شروع کړل او دلته منه یامنها نے ولے راونه ړل.

جواب: یوجواب خوهم هغه دے .

جواب: دَإِنَّ اسم اوخبر هم اصل کښے مبتدا اوخبر وي په دے وجه الی آخره

جواب: چونکه خبرإِنَّ کښے اختلاف دے .لکه اوس اووئیلے شو په دے وجه مصنف دَدواړو مذهبونو رعایت کولوسره منه اومنهائے رانه وړل لیکن دَ خبر اضافت دَإِنَّ په طرف دا اضافت الاثرالی المؤثر دَقبیلے نه دے په دے سره دبصرینو مذهب ته ئے ترجیح ورکړې ده.

سوال: اخوات جمع ده دَاخت چه ددے اطلاق په دي روح څیز باندے کیږي اوحالانکه دا حروف غیر ذي روح دي؟

جواب: دلته اخوات په معنی دامثال دے (مجازاً) لکه آیت کریمه دے كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا دادَذکر ملزوم وارادهٔ لازم دَقبیلے نه دے.

سوال: که وجه دَاطلاق داوي نواخوهٔ سره ئے ولے تعبیر اونه کړو؟

جواب: داتعبیر تباویل کلمات مقرر کولو باندے مبني دے نه دَحروفو دَمؤنث مستعمل کیدو باندے ځکه چه حروف مباني دحروف هیجا دَتانیث استعمال کښے وجوباً دے نه دَ حرُوف معاینو ددے تزکیه وتانیث دواړه جائز دي.

سوال: حروف مشبه بالفعل خبرئے دَلانفی خبر دَماولا په اسم باندے ولے مقدم کړو حالانکه تول په تول دَفاعل سره ملحق دي.

جواب:لائے نفي إِنَّ سره معنی تحقیق کښے دَمشابهت په وجه عمل کوي البته إِنَّ تحقیق اثبات کپاره لهذا إِنَّ اصل شو او دا فرع لکه څه رنګ چه اصل ته په فرع باندے شرافت حاصل وي دغه رنګ معمول اصل ته په معمول فرع باندے په دے وجه مقدم ئے کړو . دَماولا مشابهت کلیس

سره اولیس فعل جامد دے اودد ے حروفو مشابهت دفعل مشتق سره دے اوفعل مشتق ته په فعل جامد باندے شرافت دے ځکه چه فعل مشتق نه مختلف معانے مقصود دلکه اثبات ونفی و استقبال وماضی لهذا مشابهت باصل هم اشرف به وی مشابهت په فرع باندے په دے وجه مقدم کړو.

تعریف: دَاِنَّ خبر مسند وی پس د داخلیدو ددغه حروفو .

سوال: دا تعریف جامع نه دے په ان زیدا قائمٌ باندے صادق نه راځی ځکه چه داتمام حروف داخل نه وی؟

جواب: دَهذه الحروف نه مخکښے (احد) مضاف محذوف دے بعد دخول احد هذه الحروف .

سوال: دا تعریف دخول غیر نه مانع نه دے ان زیدا یقوم ابوه کښے یقوم باندے صادق راځی چه یقوم چه دَان دَدخول نه پس مسند دے حالانکه یقوم خبر نه دے بلکه خبر پوره جمله ده.

مولانا فاضل هندی جواب ورکړو چه دَالمسند صله (الی اسماء هذه الحروف) مقدر دے اوس تعریف به داشی د دَاِنَّ خبر هغه څیزوی چه دَاِنَّ اسونو طرفته مسند اومنصوب وی اوحالانکه دَیقوم نسبت زیدا طرفته نه دے بلکه ابوه طرفته دے لیکن د جواب ضعیف دے ځکه چه په دے جواب سره خوتمام خبرونه دَالمسند په قید سره خارج شو چه په دے سره بعد دخول الیٰ آخره والا عبارت لغو اومستدرک شی دَصاحب غاية التحقيق جواب دالمسند نه مراد اسم مسند دے داجواب هم درست نه دے په دے وجه چه ددے جواب په بناء چه چرته هم دَباب اَنَّ خبر جمله شی هغه به د.اسم په تاویل کښے دَکولو احتیاجی شی حالانکه ددے حروفو خبرجمله من حیث الجمله هم جمله بغیر مؤله بالاسم کیدو واقع کیږی .بهتر جواب دَ مولانا جامیؒ جواب دا دے چه مونږ قطعاً نه تسلیموو چه دا تعریف فقط یقوم باندے صادق راځی ځکه چه دَ ان دداخلیدو مطلب داد ے چه دَاِنَّ اثر لفظی رفع محلّی اواثر معنوی (تاکید) وی نوداخبره ظاهره ده چه دااثر لفظی ومعنوی فقط یقوم کښے ظاهر نه دے بلکه پوره جمله یقوم ابوه کښے ظاهر دے لهذا خبر به پوره جمله وی نه چه فقط یقوم .

وَاَمْرُهٗ كَاَمْرِ خَبَرِ الْمُبْتَدَاءِ دَیومسئلے بیان دے دَحروف مشبه بالفعل دَخبراحکام واقسام وشرائط بعینه خبر مبتدا والادی .

فائده: مع الهوامع کښې دی چه ددغه حروفو خبر متعددنه شی کيدے او قياس هم دغه دے چه ددے عمل بمشابهت فعل وی اوفعل د دوه مرفوع تقاضانه کوی اودغسے کلام عرب نه مسموع هم نه دے.

سوال: ددے خبرته مطلقاً دَخبرمبتداء حکم ورکول غلط دی ځکه چه خبرمبتداء خو متضمن معنی استفهام هم وی لکه این زيد اوحالانکه ددے خبرنه دے.

جواب: دامسئله اوحکم شرائط اوانتفاء موانع سره مشروط دے اوپه دیکښې مانع موجود دے هغه دَصدارت بطلان دے.

اِلَّا فِیْ تَقْدِيْمِهٖ دااستثناء مفرع کلام موجب کښې ده.لکه قرأت الايوم کذامعنی دادة چه دَحروف مشبه بالفعل خبرحکم تمام اوصافو کښې خبر مبتداء دے سوا دَتقديم نه چه خبر دَمبتدا مقدم وی اوحالانکه ددے خبر ددے په اسم بأندے نه مقدم کيږی ددے وجه اوعلت دادے چه ددے حروفو عمل فرعی دے که چرے ددے خبر مقدم شی نودَ فرع په دَاصل سره مساوات لازم راشی حالانکه عمل کښې ددے دَفعل سره انحطاط باقی پاتے کيدل ضروری وی.

اِلَّا اِذَا کَانَ ظَرْفًا دااستثناء مفرغ ده دَکلام منفی نه چه دماقبل نه ذهن ته راځی هغه لايتقدم دے.اوس معنی داشی چه دَاِنَّ خبر په خپل اسم بأندے په هيڅ وخت کښے نه مقدم کيږی مګر چه کله ظرف وی نوخبر دَمبتداء په طرف جوازًا مقدم کيږی چه کوم وخت اسم معرفه وی لکه اِنَّ الينا ايابهم او وجوبًا چه کله اسم نکره وی لکه اِنَّ من الشعر لحکمة باقی پاتے سوه داخبره چه ظرف وی نو مقدم کيږی ولے ددے جواب دادے فائده: يوڅو مستثنيات پاتے شوی دی(۱) خبرءَ اِنَّ ماله صدر الکلام ته متضمن کيږی نه په خلاف دخبر دمبتداء او اِنَّ زيداً لفی الدار وغيره کښے لام ابتداء خبر اِنَّ کښے صدارت ته مقتضی نه وی (۲) دَاِنَّ خبر معرفه اواسم نکره وی لکه اِنَّ اَوَّلَ بيت وضع للناس للذی ببکة ليکن مبتداء خبر کښے داسے نه ده.(۳) خبر اِنَّ بأندے دَلام ابتداء دخول جائز دے په خلاف دخبر مبتداء وغيره.

خَبَرُ لَاالَّتِیْ لِنَفْیِ الْجِنْسِ دخبر دَلانے نفی جنس بيان .

سوال: خبر لائے نفی جنس کما ولا په اسم باندے ولے مقدم کړو.

جواب: دَلائے نفی جنس په داسی واسطه دَ(اِنَّ) مشابهت دے دفعل مشتق سره اودَ مشابهت دے دفعل جامد سره اوداول په ثاني باندے شرافت حاصل دے.

جواب: چه معمول مشابهت ذکر کښے معمول مشابه په سره متصل شي.

هُوَالْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا تعریف خبرلائے نفی جنس هغه اسم دے چه دد دے دَ داخلیدو نه پس مسند وي.

سوال: دا تعریف دخول وغیره نه مانع نه دے چه لَارَجُلَ حسنافی الدار کښے حسنا باندے صادق راځي. رجل په طرف حالانکه حسنا خبرنه دے؟

جواب: مسند مراد خاص دے چه اسناد علیٰ طریق الاسناد وي اوحالانکه دلته اسناد علی طریق التبعية دے.

مِثْلُ لَا غُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِيْهَا **سوال** مصنفؒ مثال مشهور(لارجل فی الدار) نه عدول نے ولے اوکړو ؟

جواب: چه مثال کممثل کپاره نص وي دَخبر احتمال پاتے نه شي چه کله مثال مشهور نص نه دے په دے وجه په دیکښے یو احتمال بل هم دے چه (فی الدار) صفت وي دَ (رجل) عام ددينه مرفوع وي حملا علیٰ محل بعید یامنصوب وي حملا علی محل قریب اوعلی لفظ اوخبر محذوف وي اودَ مؤنث پیش کړے شوے مثال نص دے اودَ صفت احتمال نشته ظریف اوفی الدار دواړه خبرونه دي (حاشیه المدقق).

سوال: دَخبر دوه مثالونه ولے بیان کړے شوي دي؟

جواب: چه دَخبر د دواړو قسمونو بیان اوشي چه خبر کله ظرف اوکله غیرظرف وي.

جواب: کله (فيها) خبر ثاني نے نه ذکر کولے نودَجنس غلام دَدنائیت اوعقل مندئ نفی به شوي وه چه غلط دے .په دے وجه فيها نے ذکر کړه چه ددغه کور غلام پوهه اوهوښيار نه دے.

فائده: حاشية الصبان جلد دوم کښے دے چه دَلائے نفی جنس دَرافع خبر کیدل علی مذهب

البصریین دے اودَ کوفینو په نیزد رافع خبرنه دے نوداپه په طریقه اولیٰ رافع خبر نه وی او همع الهوامع صفحه ۱۴۶ کښے دی چه لائے نفی جنس بالاجماع رافع دے. والله اعلم وعلمه اتم واحکم.

وَيُحْذَفُ كَثِيرًا ددے خبر اکثر محذوف وی لکه لااله موجود الاالله فائده په دیکښے دوه مذهبونه دی(۱) دَجمهورو په نیزد خبر(موجود) محذوف دے او(لفظ الله) بدل دے ددے دَضمیر نه اودَصاحب کشاف په نیزد داجمله تامه چه محتاج خبر نه دے ځکه چه اصل ترکیب (الله اله) دے بیا (لا)او(الا)داخل کړے شوی دی او مسند مقدم کړے شوے دے چه مسند (الوهیة) منحصر وی مسند الیه (الله)کښے لااله الاالله داقصرالصفة علی الموصوف دے.

وَبَنُوْتَمِيْمٍ لَا يُثْبِتُوْنَهُ ددے عبارت دوه مطلبونه. **رومبے مطلب** دَلائے نفی جنس خبر څووی مگر وجوبی طور باندے حذف کیږی چه لکه څه رنګ خبردَمبتداء بعضے مقاماتو کښے وجوبا حذف کیږ کما مر اوس معنی به داشی چه بنوتمیم ددے خبرپه خپل کلام کښے لفظا اثبات نه کوی مگردَ تقدیرًا نه مراد وی یعنی ملفوظ نه وی مقدر وی. **دوئم مطلب** چه بنوتمیم ددے خبر بالکل هیڅو منی نه . نه ملفوظ اونه مقدر ځکه چه (لا) اسم الفعل دے چه دے ته دَ خبر حاجت نشته **لیکن** رومبے احتمال اصح دے ځکه چه لغت دا فصیح مؤفق. دے دغسے دَاسم الفعل راوړل په دے صیغه باندے نه شو کمافی حاشیة محمد بن موسیٰ البستوی علی محرم آفندی) .

سوال: لارجل قائم ددے په شان ترکیب بنو تمیم څه جواب ورکوی.

جواب: علی الاحتمال الاول داجواب ورکوی چه چرته هم اسم روارِی دنفی جنس نه پس دے هغه خبر نه دے بلکه هغه دَلائے نفی جنس دَاسم صفت به شی چه محل باندے به محمول شی ځکه چه دمبنی تابع دَمحل تابع وی اوخبر بهرحال وجوبا به محذوف وی اوعلی الاحتمال الثانی هغه جواب دے مگر خبر بالکل نه دے نه ملفوظ دے اونه مقدر.

فائده: (۱) داخبرهمیشه نکره وی (۲) دَخبر د دواړو نه مؤخر کول واجب دی(۳) دَمعمول تاخرهم دواړو سره واجب دے مگر دَمعمول خپله خبر باندے تقدم جائز دے(۴) دخبر حذف هغه وخت جائز دے چه کله اسم مذکور نه وی ورنه نه لکه لاعلیک (همع الهوامع) محرم آفندی دَشرائطو دَپاره دَاحقر تصنیف تنویر شرح نحومیر اوګورئ.

اِسْمُ مَاوَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَدُخُوْلِهَا دَلانے نفي جنس نه مصنف فارغ شو اوس اسم دَماولا مشبهتين بليس هغه اسم چه ددغه دواړو دَداخليدو په وخت مسند اليه وي لكه مازيدقائما ولارجل افضل منک .

سوال: بعد دخولها چه دواړه داخل وي نوبيا به تعريف صادق راشي حالانكه دابالكل غلط دے؟

جواب: د دخول نه پس مضاف (احد) محذوف دے بعد دخول احدهما.

سوال: داتعريف اوس هم صادق نه راځي ځكه چه ډيو ددخول نه پس چه كوم اسم مسند اليه شي هغه خوبه فقط ددغه اسم شي نه دَدواړو حالانكه معرف خودَ دواړو اسم دے .

جواب: معرف كے هم مضاف (باب) مقدر دے (اسم باب ماولا المشبهتين بليس)

وَهُوَفِيْ لَاشَاذٌ (في لا) دادَشاذ دَپاره ظرف مقدم دے چه ددے نه مقصود حصر دے چه ددے معنى به داشي چه عمل بمشابهت ليس صرف (لا) كښے قليل دے نه په(ما)كښے .

سوال: دامعنى درست نه ده په دے وجه چه شاذ داشذوذبمعنى انفراد نه مشتق دے اوس به معنى داشي چه عمل بمشابهت ليس يوازے (لا) كښے وى نه په (ما) كښے اودَجار مجرور دَتقديم نه دَانفراد تاكيد به اوشي ؟

جواب: دلته شاذ بمعنى قليل دے مجازا او منفردملزوم اوقليل لازم دے نوداذكر الملزوم وارادة اللازم دَقبيلے نه دے .

سوال: ددے دواړو دَليس سره په كومه خبره كښے مشابهت دے؟

جواب: افادة نفي اومبتداء اوخبر باندے دخول كښے .

سوال: دَ (ما) په مثال كښے معرفه او(لا) په مثال كښے نكره ددے څه وجه ده؟

جواب: (ما) معرفه اونكره دواړه كښے عمل كوي او(لا) فقط نكره كښے مصنف ددے فرق وئيلو دَپاره دغه رنګ مثال وركړے دے.

سوال: دافرق ولے دے؟

جواب: دَ(ما) مشابهت دَليس سره قوي دے ځنګه چه دواړه نفي دَحال دَپاره راځي او(لا) مشابهت

ضعيف دے ځکه چه دا د مطلق نفی دپاره راځی دَ(ما) اولیس خبر باندے باء زائده راځی. لیکن دَ(لا) په خبر باندے نه هم دا وجه ده چه دَ (لا) اثر په کلام منشور کښے مسموع نه دے فقط کلام منظوم کښے ثابت دے لکه چه په تعزیب کښے یوشاعر نه ونیلو دی.

تَعَزَّ فَلَا شَيْءٌ عَلَىٰ الْاَرْضِ بَاقِيًا

وَ لَا وَزَرٌ مِمَّا قَضَى اللّٰهُ وَاقِيًا

قوله، وقد يتعدد الخبر...الخ

تقسیم اوّل

تعدد الخبر
- مع تعدد المخبر عنه (دریے صورت عطف واجب شد)
  - لفظاً: مثل زَيْدٌ وَعَمْرٌو عَالِمٌ وَجَاهِلٌ
  - معنیً: مثل هُمَا عَالِمٌ وَجَاهِلٌ
- بدون تعدد المخبر عنه
  - واجب وتفکیک نباشد
    - ترکِ اولیٰ: اَلْخَلُّ حُلْوٌ حَامِضٌ
    - عطفِ جائز: اَلْخَلُّ حُلْوٌ وَّحَامِضٌ
  - جائز وتفکیک معنی بدون تعدد تمام شد
    - ترکِ جائز: زَيْدٌ عَالِمٌ شَاعِرٌ
    - عطفِ اولیٰ: زَيْدٌ عَالِمٌ وَشَاعِرٌ

تقسیم دوم

تعدد خبر
- مختلف الجنس: فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى
- متفق الجنس
  - در اسم
    - دریک مرتبه
      - مع عطف: زَيْدٌ عَالِمٌ وَشَاعِرٌ
      - بدون عطف: زَيْدٌ عَالِمٌ شَاعِرٌ
    - در بسیار مرتبه
      - مع عطف: اِعْلَمُوْا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ وَالْاَوْلَادِ. (پنځه خبر)
      - بدون عطف: وَهُوَ الْغَفُوْرُ الْوَدُوْدُ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيْدُ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيْدُ. (پنځه خبر)
  - در فعل
    - دریک مرتبه
      - مع عطف: زَيْدٌ اَكَلَ وَشَرِبَ
      - بدون عطف: زَيْدٌ اَكَلَ شَرِبَ
    - در بسیار مرتبه
      - مع عطف: زَيْدٌ اَكَلَ وَشَرِبَ وَكَتَبَ
      - بدون عطف: زَيْدٌ اَكَلَ شَرِبَ كَتَبَ

نام کتاب

اصل نام: اَلْفَوَائِدُ الضِّيَائِيَّةُ

مشہور نام: شَرْحُ جَامِي

تحقیقات شرح جامی

تحقیق لفظی

شرح مصدر ہے از باب مَنَعَ يَمْنَعُ جیسا رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي۔ جَامِيٌّ اسم منسوب ہے۔ جَام بمعنی پیالہ یا قصبہ شارح اس کے آخر میں یائے مشدد برائے نسبت ہے۔ جیسے مَكِّيٌّ مَدَنِيٌّ پس صحیح تلفظ اس طرح ہوگا شَرْحُ جَامِيٍّ

تحقیق معنوی

شرح لغۃً کھولنا اور اصطلاحاً وہ عبارت ہے جو پورے متن کو واضح کرے یعنی پوری کتاب کو حل کرے جیسے جامی برائے کافیۃ۔ متن لغۃً بمعنی پشت اور اصطلاحاً مَا يَكُونُ صَعْبًا مُحْتَاجًا اِلَى الشَّرْحِ۔ حاشیۃ لغۃً بمعنی کنارہ۔ اصطلاحاً وہ عبارت جو بعض اقوال کو حل کرے اور مصنف یا شارح خود لکھے یا کوئی دوسرا شخص لکھے۔

تعلیق لغۃً بمعنی لٹکانا اور اصطلاحاً حاشیۃ کے مترادف ہے۔ منہیہ لغۃً بمعنی اس سے ہونے والا۔ اصطلاحاً وہ عبارت جو مصنف یا شارح خود لکھے۔

تحقیق اضافی


اضافت شرح بطرف جامی از قبیل اضافت مصدر بسوئے فاعل ہے اور اضافت معلول بسوئے علت ہے اور اضافت معنویہ لامیہ ہے۔

تحقیق ترکیبی

- مبنی بر سکون: شَرْحُ جَامِيٍّ
- معرب:
  - مرفوع:
    - مبتدا و محذوف الخبر: اى شَرْحُ جَامِيٍّ هٰذَا
    - خبر محذوف المبتدا: اى هٰذَا شَرْحُ جَامِيٍّ
  - منصوب: اى اقرءْ شَرْحَ جَامِيٍّ
  - مجرور: اى خُذْ بِشَرْحِ جَامِيٍّ

تحقیق علمی

اَلْعَلَمُ مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ مُعَيَّنٍ بِحَيْثُ لَا يَتَنَاوَلُ بِذٰلِكَ الْوَضْعِ غَيْرَهُ۔ مَوْضُوعٌ لَهٗ اگر معین در خارج ہو تو علم شخصی ہوگا، جیسے زید اور اگر معین در ذہن ہو تو علم جنسی ہوگا، جیسے اُسَامَةُ اور اگر ماہیت کلیۃ ہو تو اسم جنس ہوگا جیسے اَسَدٌ۔ اَعْلَامُ کُتُبٍ۔ جیسے کافیۃ جامی۔ نحومیر وغیرہ از قبیل اعلام جنسیۃ ہیں


منصوبات
عامل
حرف
فعل یا شبہ فعل
معمول
مسند الیہ
مسند
لائے نفی جنس کا اسم
حروف مشبہ بالفعل کا اسم
ما و لا المشبہتین بلیس کی خبر
افعالِ ناقصہ کی خبر
ملحقات بالمفاعیل
مفاعیل
مستثنیٰ
تمیز
حال
فعل کے معمول کا مصاحب ہو۔
مفعول معہ
اس کے لیے فعل واقع ہو۔
مفعول لہ
فعل اس میں واقع ہو
مفعول فیہ
فعل اس پر واقع ہو
مفعول بہ
فعل کا جزء ہو
مفعول مطلق

الــمــنــصــوبــات

قوله المنصوبات: په دیکښے هم دَالمرفوعات غوندې شپږ تحقیقات به وی.

(۱) تحقیق ربطی (۲) تحقیق تقدیمی (۳) تحقیق ترکیبی (۴) تحقیق صیغوی (۵) تحقیق معنوی (۶) تحقیق الف لام پنځه تحقیقات ستاسو په مرفوعاتو باندے قیاس کړی البته تحقیق تقدیمی به مونږ بیان کړو .

تحقیق تقدیمی:

سوال: ستاسو منصوبات په مجروراتو باندے ولے مقدم کړل ؟

جواب: منصوبات ډیروو اومجرورات قلیل اولږ ووځکه چه منصوبات دولس وو اومشهوره

قاعده: دہ العزة لتکاثر په دے وجه مونږ منصوبات په مجروراتو باندے مقدم کړل .

سوال: ماقبل کښے ستاسو داعراب تقدیری په تقدیم کښے ستاسوقلت علت جوړ کړے وو او اوس دلته کثرت علت جوړوی ددے څه وجه ده؟

جواب: دلته مخص کثرت ئے علت نه دے جوړکړے بلکه کثرت مع الخفه ئے علت جوړکړے دے چه دَهغے تفصیل دادے دَهغے تفصیل دادے چه دَقلت اوکثرت دوه صورتونه دی. (۱) که قلیل داسے څیز وی چه دهغے دَبیان سره کثیر بیان شی. (۲) قلیل داسے څیزوی چه دَهغے په بیان سره کثیربیان نه شی . نوړومبی صورت کښے قلیل په کثرت باندے مقدم کولے شی لطلب الاختصار لکه اعراب تقدیری ئے مقدم کړے وو نوپه دوئم صورت کښے کثیر په قلیل باندے مقدم کولے شی لکه دلته .

دمنصوبات داقسامو دپاره وجه دحصر: منصوبات دَ درو حالونه خالی نه دی ددے عامل به فعل وی یاشبه فعل یاحرف که عامل فعل یاشبه فعل وی نوبیا دوه حالونه نه خالی نه وی ددے معمول به دَ مفاعیل خمسه ؤ نه وی یا نه که دَمفاعیل خمسه ؤ نه وی نوبیابه دوه حالونه خالی نه وی دَفعل جزء به وی یانه که دَ فعل جزء وی نوړومبے قسم مفعول مطلق به شی اوکه دَفعل جزء نه وی نوبیافعل دڅلورو حالونه به خالی نه وی یابه فعل په دے واقع وی یابه په دیکښے واقع وی یاددے دپاره به واقع وی یادَ فعل دَمعمول دپاره به مصاحب شی که چرے هغه فعل په دے باندے واقع

وی نودوئم قسم مفعول به شی او که فعل په هغې کښې واقع وی نودرنم قسم مفعول فیه به شی . اوکه فعل ذهغې دپاره واقع وی نوڅلورم قسم مفعول له به شی اوکه ذفعل یومعمول ددے صاحب وی نوداپنځم قسم مفعول معه به شی .اوکه ذ مفاعیل خمسه ؤ نه نۀ وی نوبیا به د دوه حالونه خالی نه وی مبین به وی یانه که مبین نه وی نوبیادا شپږم قسم مستثنیٰ به شی او که مبین وی نوبیابه د دوه حالونه خالی نه وی مبین ذات به وی یا مبین وصف که مبین ذات وی نودا اووم قسم تمیز اوکه مبین وصف وی نو اتم قسم حال به شی اوکه هغه اسم منصوب ذحرف معمول وی نوبیا به د دوه حالونه خالی نه وی مسند به وی یا مسندالیه که مسند الیه وی نوکلام موجب کښې به وی یاغیر موجب کښې که کلام موجب کښې وی نولسم قسم ذلانفی جنس اسم به وی اوکه مسند وی نوبیا به د دوه حالونه خالی نه وی کلام موجب کښې به وی یا غیرموجب کښې که کلام موجب کښې وی نویولسم قسم ذافعال ناقصه ؤ خبر سوا ذلیس نه که کلام غیرموجب کښې وی نودولسم قسم ماولا مشبهتین بلیس خبر به شی.

فائده: مفاعیل خمسه نه علاوه باقی تمامو ته ملحقات بالمفعول ونیلے شی اوددے ذالحاق وجه به انشاء الله روستو راشی .

قوله "هُوَ مَا اشْتَمَلَ عَلٰی عَلَمِ الْمَفْعُوْلِيَّةِ" ددے ځائے نه اوس ذمنصوب تعریف په دے تعریف کښې حسب سابق پنځه درجات به وی . **رومبئ درجه مختصر مفهوم** مخه بیان شو. **دوئمه درجه فوائد قیود** ما په منزله ذجنس دے مرفوعات ،منصوبات، مجرورات ټولو ته شامل دے ما اشتمل علی علم المفعولیة داقید اوفصل دے ددے نه مرفوعات ،مجرورات خارج شول .درئمه درجه دمشکل الفاظو معانے نو په دیکښې اشتمل علم المفعول ددے تشریح شوی ده . **څلورمه درجه ترکیب** خوبالکل واضح دے **پنځه درجه سوالات واجوابات**.

سوال: داتعریف نه جامع دے نه مانع دے جامع په دے وجه نه دے چه رأیت مسلمان مفعول به دے اوذ مفعولیت په علامت باندے مشتمل نه دے .ځکه چه ذمفعولیت علامت نصب دے اومانع هم نه دے ځکه چه مررت بمسلمین ومررت بِمُسْلِمِیْنَ داعلامت په مفعولیت باندے مشتمل دے یعنی یا ماقبل مفتوح تثنیه کښې اویا ماقبل مکسور جمع کښې ؟

جواب:علامت مفعولیت څلور دی. (۱) فتحه په مفرداتو کښے لکه رایت زیدا(۲) کسره په جمع مؤنث سالم کښے لکه رایت مسلمات (۳) الف اسمائے سته مکبره کښے لکه رأیت اخاک (۴) یاماقبل مفتوح تثنیه کښے اویا ماقبل مکسور جمع مذکو سالم کښے چه کله دَعامل ناصبه نه پس وی اوچه کله دَجارنه پس وی نوعلامت به اضافت وی لکه مثال تیر شوے دے.

سوال: ستاسو اونیل دَمفعول نه علاوه باقی تمام ددے ملحقات دی .داخبره درسته نه ده یعنی حال او مستثنیٰ په ملحقاتو کښے شمارول اومفعول له اومفعول معه په اصولو کښے شمارول درست نه دی بلکه برعکس کول پکار دی . په دے وجه دَهر فعل دَپاره دَحال کیدل ضروری دی ځکه چه هر فعل یونه یو حالت کښے به صادریږی. نوپه دے وجه داپه اصولو کښے شمارول پکار دی . اومفعول له اومفعول معه په ملحقاتو کښے شمارول پکار دی.ځکه چه دَهر فعل دَپاره علت وغیره نه شی بیانیدے.

جواب(۱): مفعول معه اومفعول له په اصولو کښے په دے وجه شمارکړی دی .چه د دوئ تعلق دَفعل سره بلاواسطه دے. په خلاف دَحال وغیره چه ددۀ تعلق بالواسطه وی .ځکه چه دَحال تعلق اولاً دَمفعول یافاعل سره وی بیاددے په واسطے سره به دَفعل سره وی.

جواب(۲): دهرممکن دَپاره دَعلت کیدل ضروری دی .نو فعل هم یو امر ممکن دے ددے دَپاره هم دَعلت کیدل یعنی مفعول لهٗ کیدل ضروری دی .

قولهٗ "فَمِنْهُ الْمَفْعُوْلُ الْمُطْلَقُ"" دمنصوباتو رومبے قسم مفعول مطلق دے.

سوال: مفعول مطلق په باقی منصوباتو باندے ولے مقدم کړو؟

جواب(۱): مفعول مطلق دامطلق دے څه قید وغیره ورسره نشتبه اوحالانکه باقی تمام مفاعیل مقیددی یونه یو قید سره .

جواب(۲): مفعول کښے اصل نصب دے اونصب باندے باقی پاتے کیدل اوهمیشه پاتے کیدل دا مفعول مطلق کښے بیا موندے شی. په خلاف دَباقی مفعولاتو د دوئ نصب مقید وی دَیونه یو حرف سره .مثلاً مفعول به کله مجرور وی لکه ذهب اللّٰه بنورهم اومفعوله چه ددے نصب مقید دے تقدیر لام سره اودَ مفعول فیه نصب مقید دے تقدیر فی سره اودَمفعول معه نصب مقید

دے واو (په معنی مع) سره په د ے وجه مفعول مطلق نے باقی مفعولاتو باند ے مقدم کړو باقی پاتے شو دَمفعول مطلق تقدیم حال ومستثنیٰ وغیره باندے نو ددے وجه ظاهره ده چه باقی منصوبات فروعات دی اودا قاعده مسلمه ده چه اصولو ته په فروعو باند ے شرافت حاصل وی.

سوال:دالحاق څه وجه ده چه دَفاعیل خمسه ؤنه علاوه باقی منصوباتو ته ملحقات ولے ونیلے شی ؟

جواب: د دوئ نصب دَمفعول سره دَمشابهت په وجه سره دے.

سوال:وجه دَمشابهت څه ده؟

جواب: هغه دا چه دَمرفوع نه پس واقع کیدل دی چه لکه څه رنګ مفاعیل وغیره دَ مرفوع نه پس واقع کیږی نودغه رنګ مفاعیل وغیره د مرفوع نه پس واقع کیږی نودغه رنګ حال مستثنیٰ وغیره هم دَمرفوع نه پس واقع کیږی.

جواب: مفعول په دوه قسمه دے .(۱) لغوی (چه ددے معنی ده کړے شوے) (۲) اصطلاحی (اصطلاحی هغه دے چه دَهغے تعلق بالفعل وی) اودَفعل نسبت مفعول په طرف نه وی نوباقی مفاعیلو کښے صرف اصطلاحی معنی پیا موندے شی او په مفعول مطلق کښے دواړه معانے یعنی لغوی اواصطلاحی موندلے شی. نوپه دے وجه دا ئے په باقی مفاعیلو مقدم کړو.

جواب: دَمفعول مطلق شان دَ فاعل سره ملاویږی چه لکه څه رنګ فاعل دَ فعل جزء جوړیږی نوهم دغه رنګ مفعول مطلق هم دَفعل جزء جوړیږی ځکه چه دامصدر وی . نوکله چه فاعل ئے مقدم کړے وو نودائے هم مقدم کړے دے.

فائده:مِنْهُ ضمیر مرجع دوه جوړیږی .(۱) اَلْمَنْصُوْبُ،(۲) مَااشْتَمَلَ لیکن هر مرجع جوړولو کښے دوه خوبیانے دی او دوه خرابیانے دی که دَ منه ضمیر مرجع المنصوب جوړه کړے شی. نو دوه خوبیانے دادی.

(۱) تعریف به هم دَ منصوب کولے شی اوتقسیم هم (۲) نورو راتلونکو ضمیرونو سره به اتصال اوموافقت کیدے شی. اودوه خرابیانے دادی. (۱) چه مااشتمل مرجع قریب دے او المنصوب مرجع بعید دے نو مرجع قریب پرېښودل اومرجع بعید مرجع جوړول قبیح دی.(۲) مااشتمل مرجع صریح ده او المنصوب مرجع ضمنی ده. نوصریح پرېښودل اوضمنی مرجع جوړول داهم قبیح دے

اوكه ما اشتمل مرجع جوړه كړے شي نو بياهم دوه خوبيانے او دوه خرابيانے دي. البته معامله به برعكس شي يعني ماقبل مرجع منصوب ډپاره دوه خرابيانے دے هغه به دلته خوبيانے شي. اوچه كومے هلته خوبيانے وے هغه به دلته خرابيانے شي.

قوله وَهُوَا اِسْمٌ مَّا فَعَلَهُ فِعْلُ فَاعِلٍ مَّذْكُورٍ مصنفؒ صاحب دمنصوباتو دړومبئ نوع يعني د مفعول مطلق تعريف بيانوي چه مفعول مطلق دهغه څيز نوم دے چه هغه ددغه فعل مذكور فاعل كړے وي چه دهغے هم معني وي . يعني مفعول مطلق هغه اسم دے چه دفعل مذكور سره معني مصدري كښے شريک وي اودا دواړو فاعل يو وي.

سوال: دا تعريف جامع نه دے څكه چه مفعول مطلق كله هم اسم حدث نه وي څكه چه حدث معني مصدري ته وئيلے شي .حالانكه هغه اسم عين وي لكه چه اهل عرب دَ بد دعاء په وخت وائي تربا وجندلاً دا دواړه مفعول مطلق دي. تربا په معني دَ خاورے جندلا په معني كاڼړي اوګټه نودا دواړه اسم عين دي حدث نه دي .څكه چه دواړه قائم بالذات دي قائم بالغير نه دي.

جواب: حدث عام دے حقيقته وي لكه ضربت ضربًا كښے يا حكمًا وي لكه دلته دواړه په معني هلاكاً دي بقرينه دعا ء چه ددے دپاره هلكت فعل محذوف دے اودا اطلاق السبب ارادة المسبب دقبيلے نه دے تقديري عبارت به داسے شي .هَلَكْتَ هَلاكًا بِالتُّرَابِ وَالْجُنْدَلِ

سوال: دا تعريف جامع نه دے څكه چه ستاسو وئيلے دي چه مفعول مطلق دهغه څيز نوم دے چه هغه دفعل مذكور فعل كړے وي. يعني فاعل موجد اومؤثر وي حالانكه مَاتَ موتًاجِسْمُ جسَامَةً، شَرُفَ شَرْفًا دغه امثله ؤ كښے مصادر مذكوره فاعل نه وي كړي بلكه ددے فاعل هم الله تعالىٰ دے.

جواب: دفعل دفاعل كولو مطلب دادے چه هغه مصدر فاعل سره قائم وي اوهغه فاعل مصدر سره متصف وي مخكښے تعميم دے چه كوونكے هغه فاعل وي يا بل څوک وي لهذا دلته مات موتًا كښے دموتا موجد خوفاعل مذكوره نه دے .ليكن دموتا مصدري معني قائم دے خو هم دفاعل سره دے.

سوال: ستاسو اوونيل چه كوم دَفعل فاعل اوكړى چه كله فعل دَ هم مخكښے نه د درے څيزونو نه مركب دے حدث ،زماني ،نسبت الى الفاعل نوفاعل ددے دونم څه رنګ به شي.

جواب: هميشه په داسے كلام كښے دَفعل لغوى معنى مراد وى يعنى معنى مصدرى .

سوال: ضُرِبَ زيد ضربًا كښے ضربًا مفعول مطلق دے حالانكه په دے بانـدے دا تعريف صادق نه راځى ځكه چه ضربًا مصدر مبنى للمفعول دے په معنى دَ مضروبيت دے نودادَفاعل سره هيڅكله قائم نه دے .

جواب: فاعل كښے تعميم دے (۱) فاعل حقيقى وى لكه ضرب زيدٌ ضربًا كښے يا فاعل حكمى دى لكه په دے مثال كښے ضُرِبَ زيدٌ ضربًا په ديكښے زيد مفعول مالم يسم فاعله دے چه حكمًا فاعل وى.

سوال: بيا هم دا تعريف جامع نه دے په دے وجه ددينه خودَتمام افعال منفيو مفعول مطلق ددينه خارجيږى لكه ماضَرَب زيدٌ ضربًا كښے مصدر سره قائم نه دے يعنى فاعل ددے سره متصف نه دے بلكه نفى دے.

جواب: قيام اسناد نه مراد عام دے ايجابى وى ياسلبى وى.

سوال: بياهم دا تعريف جامع نه دے ځكه چه ددينه شبه دَفعل مفعول مطلق اوزى لكه زيدٌ ضارب ضربًا.

جواب: په فعل كښے تعميم دے حقيقة وى لكه ضَرَبْتُ زَيْدًا ضَرْبًا كښے ياحكمًا وى لكه په دے مثال مذكور كښے.

سوال: بيـاهـم داتـعريف جامع نه شو ځكه چه په قرآن پاک كښے راځى فضرب الرقاب په ديكښے ضرب الرقاب مفعول مطلق دے حالانكه ددے دَپاره فعل مذكور هيو نشته.

جواب: فـعـل مـذكـور كښـے تـعـميم دے حقيقى وى يا حكمى وى دلته حكما مذكور دے اصل عبارت داسے دے فاضربوا ضرب الرقاب.

سوال: ستـاسـو اوونيـل چه فعل مذكور اومفعول مطلق په يوه معنى كښے وى دارنګ كيدے شي ځكه چه فعل درے څيزونو نه مركب وى اوپه مفعول كښے صرف مصدرى معنى موندلے شي.

جواب: دلته بمعناه مقصد داد ے چه دغه فعل په معنی مصدری بانـد ے مشتمل وی کاشمال الکل علی الاجزاء فعل دکل په درجه کښے به وی اومصدر دجزء په درجه کښے به وی.

فائده: دفعل مذکور نه مراد فعل متصرف د ے اوفعل غیرناقص اوفعل غیر ملغیٰ عن العمل د ے نـوګړومبی قید نه افعال تعجب به اوزی ځکه چه د دوئ دپاره مفعول مطلق نه وی. اودفعل حکمی نه مراد اسم فاعل اسم مفعول ،صفت مشبه د ے .لیکن مصدر اواسم تفصیل په دیکښے داخل نه دی او دغـسے مصدر مؤول مفعول مطلق نه وی.

فائده: مـصـدر مـؤول مـفـعـول مطلق نه وی لکه ضربت زیدان ضرب ونیل درست نه دی کما فی حاشیة الصبان.

سوال: داتـعریف ددخول غیر نه مانع نه د ے ځکه چه کرهتُ کراهتی کښے کراهتی بانـد ے صادق راځی حالانکه دامفعول به د ے؟

جواب :کراهتی کښے دوه اعتباره دی (۱) کراهتی دفعل مذکور دفاعل سره قائم د ے .(۲) فعل وربـانـد ے واقـع وی ړومبی اعتبـار سـره مـفعول مطلق د ے دونم اعتبار سره مفعول به د ے نو دمـفـعـول مـطـلـق کیدو په اعتبار سره داتعریف په د ے بانـد ے صادق راتلل پکار وو اوراځی هم اودمـفعول به کیدو په اعتبار سره تعریف په د ے بانـد ے صادق نه راځی نو لهذا تعریف دخول غیر نه مانع شو.

قـولـهٗ وَقَـدْ یَـکُوْنُ لِلتَّاکِیْدِ وَالنَّوْعِ وَالْعَدَدِ نَحْوُ جَلَسْتُ جُلُوْسًا وَجِلْسَةً وَجَلْسَةً مـصنف صاحب مـفـعـول مطلق دتعریف نه پس ړومبے تقسیم بیانول غواړی چه دمفعول مطلق در ے قسمونه دی (۱) مفعول مطلق تاکیدی(۲) مفعول مطلق نوعی(۳) مفعول مطلق عددی.

وجـه دحصر: مفعول مطلق ددوه حالونه خالی نه د ے دفعل نه یو زائده معنی بانـد ے به دلالت کوی یـانـه .که زائد معنی بانـد ے دلالت اونه کړی نودا مفعول مطلق تاکیدی د ے .لکه جلست جلوسًا که زائـد مـعنی بانـد ے دلالت اوکړی په اعتبار دنوع نو مفعول مطلق نوعی د ے. لکه جلست جلسة په اعتبـار نوع زائد معنی بانـد ے دلالت کوی .اوکه زائد معنی بانـد ے دلالت په اعتبار دعدد اوکړی نو دا مفعول مطلق عددی د ے لکه جلست جلسة .

سوال: قد یکون للتاکید کښې دَقد استعمال درست نه دے .ځکه چه کله چرے قد دَپاره دَتقلیل وی نو مفعول مطلق دَعدد اونوع دَپاره درست دے په دے وجه ددے استعمال په مفعول مطلق کښې بالقلت دے .لیکن تاکید دَپاره درست نه دے ځکه چه دَتاکید دَپاره بالکثرت راځی. که چرے داقد دَپاره دَتکثیر وی نوبیا درست نه دے ځکه چه تاکید دَ پاره خودرست دے لیکن عدد اونوع دَپاره درست نه دے؟

جواب: دا قد نه دَ تقلیل دَپاره دے اونه دَتکثیر دَپاره بلکه دَپاره دَتحقیق دے .چه دَ درے واړو دَپاره ددے استعمال کول صحیح شی یادساتئ بعض نسخو کښې دَقد لفظ نشته .

فائده: مفعول مطلق په اعتبار دَحقیقت سره داتاکید لفظي دے چه ددے نه مقصود سهو اودَ مجاز احتمال رفع کول وی ځکه چه جلست وئیلوسره دَ سامع په ذهن کښې احتمال پیداکیږی چه دَمتکلم نه دالفظ سهوا صادر شوے دے. لیکن ددینه پس جلوسًا وئیلوسره دَسامع دَ زړه نه دااحتمال ختمیږی.

ضابطه اَلْفَعْلَةُ لِلْمَرَّةِ یعنی دَ فعلة په وزن باندے چه کوم مصدر راشی هغه مفعول مطلق عددی به وی . وَالْفِعْلَةُ لِلْهَيْئَةِ یعنی دَفعلة په وزن باندے چه کوم مصدر راشی هغه به مفعول مطلق نوعي شی.

قولهٔ فَالَا وَلُ لَايُثَنّٰى وَلَا يُجْمَعُ په دے عبارت کښې صاحب کافیه دَمفعول مطلق اقسام ثلاثه کښې فرق بحسب الاستعمال بیانول غواړی .چه مفعول مطلق تاکیدی دانه تثنیه وی نه جمع .

دلیل په فعل کښې تثنیه اوجمع نه وی نوپه دے وجه داهم دَهغه فعل مذکور دَتاکید تابع وی په یوزائد معنی باندے دلالت نه کوی نوپه دے وجه هغه هم ددغه فعل تابع وی البته باقی مفعول مطلق عددی ،نوعی تثنیه جمع راوړلے شی.

سوال: ستاسو دعویٰ کړی ده چه مصنف اختصار پسے وو. نودَ لایثنی نه پس کلایجمع راوړولو ضرورت نشته .ځکه چه دکوم دَپاره چه تثنیه نه راځی. نودَهغه دَپاره جمع څه رنګ راځی.

جواب: ستاسو دادعویٰ غلطه ده چه دَکوم څیز تثنیه نه وی دَهغے جمع نه وی ځکه چه لفظ اجمع

ددے تشنیه نه ده. ، لیکن جمع اجمعون راځی اودغه رنګ داهم غلط دے چه دکوم اسم جمع نه وی دهغے تشنیه هم نه وی لکه کلاکلتا ددے جمع نشته اودا تشنیه ده نوپه دے وجه لایجمع دمصنف ونیل درست شو.

قوله وَقَدْ يَكُوْنُ بِغَيْرِ لَفْظِهٖ نَحْوُ قَعَدْتُ جُلُوْسًا صاحب کافیه ددے ځائے نه دمفعول مطلق دونم تقسیم بیانول غواړی په بل عنوان سره غرض دمصنف داهم کیدے شی چه یووهم لرے کول غواړی هغه وهم داوو چه مفعول مطلق لتاکید دپاره کیدل دا تقاضا کوی چه دفعل مذکور په لفظ سره مغائر نه وی ځکه چه تاکید معنوی هم دالفاظ مخصوصه ؤ سره کیدے شی صاحب کافیه جواب ورکړو چه مفعول مطلق تاکیدی دخپل فعل مذکور د لفظ نه مغائر هم کیدے شی په درنم عنوان سره دصاحب کافیه غرض ددے خبرے هم ونیل دی چه په دے مسئله کښے دامام کسائی اومبرد متبع یم دامام سیبویه نه یم لیکن لفظ قد ئے راوړو دے خبرے طرفته ئے هم اشاره اوکړه چه مفعول مطلق بلفظ الفعل کثیر الا ستعمال دے اوبغیر لفظ الفعل قلیل الاستعمال دے ددے څلور صورتونه جوړیږی. (۱) مفعول مطلق اوددۀ دفعل باب اومادة یوه وی لکه جلست جلوسا (۲) باب یووی لیکن مادة یوه نه وی لکه قعدت جلوسا(۳) مادة یوه وی لیکن باب یو نه وی لکه تمتّل الیه تبتیلا (۴) مادة هم یوه نه وی اوباب هم یونه وی لکه فارجس فی نفسه خیفةً.

سوال: چه کله مصنف اختصار پسے لګیدلے وو نو بیا ددے عبارت دذکر کولو ضرورت نه وو ځکه چه دمفعول مطلق په تعریف کښے داتحاد لفظ نه دے لګولے شوے نوپه دے کښے ضمنا داهم معلومیږی چه کله کله مفعول مطلق دغیر لفظونو وی؟

جواب: داخبره نه معلومیده چه د مفعول مطلق استعمال من غیر لفظه قلت نه دے یاکثرت نه دے نومصنف قلت بیانولو دپاره داعبارت راوړلے دے.

جواب: مفعول مطلق من غیر لفظه ئے راوړو یو اختلاف طرفته ئے اشاره اوکړه دامام سیبویه په نیزد مفعول مطلق من غیر لفظه نه راځی. اودامام مبرد اوکسائی په نزد راځی. نوپه دے وجه مصنف خپل مذهب ښودولو دپاره چه زه په دے مسئله کښے دمبرد اوکسائی تابع یم.

سوال: دلفظ غیرمعنی دون راځی یا په معنیٰ د لاراځی لکه : جِئْتُكَ بِغَيْرِ مَالٍ ای دون مال ای جئتك

بغیر ماږ اے ہلاماږ معنی به داشي چه مفعول مطلق دَفعل دَلفظونو نه بغیر راځي چه دَدغے مطلب داشو چه دَ مفعول مطلق فعل نه راځي. حالانکه دادَ تعریف بالکل مناقض او مخالف دے.

جواب: ملاجامی جواب ورکړے دے چه دلته غیر په معنی دَمغایر دے یعنی مفعول کله دَخپل فعل مغایر راځي.

قوله وَقَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا كَقَوْلِكَ لِمَنْ قَدِمَ خَيْرَ مَقْدَمٍ دَمفعول مطلق فعل به حذف (۱) دَمفعول او عامل دواړو حذف جوازي کولو شپږ احتمالات جوړیږي. (۱) دَمفعول او عامل دواړو حذف جوازي وي (۲) دَ دواړو حذف وجوبي وي (۳) فقط دَفعل حذف جوازي وي (۴) فقط دَفعل حذف وجوبي وي (۵) فقط دَ مفعول مطلق حذف جوازي وي (۶) فقط دَمفعول مطلق حذف وجوبي وي ددوئ نه دوه احتمالات معدوم غیر معدوم وي. (۱) دَ دواړو حذف وجوبي وي (۲) دَمفعول مطلق حذف وجوبي وي باقي څلور واړه احتمالات موجود دي. البته د دوئ نه دوه احتمالات په دے کتاب کافیه کښے موجود دي. دوه نشته او دوه موجود نه دي ددے مثال دادے. (۱) فعل او مفعول مطلق د دواړو حذف حذف جوازي وي لکه یوسړے اوائي اضرب زید عمروا جواب ورکړي نعم دلته دَفعل او مفعول دواړو حذف جوازي دے (۲) فقط دَمفعول حذف جوازي وي لکه ضرب زیدٌ ددے په آخر کښے ضربًا مفعول مطلق محذوف جوازي دے باقي دواړه احتمالات کتاب کښے موجود دي. ددے عبارت مطلب دادے چه مصنف بیانوي چه کله کله دَفعل حذف هم کیدے شي. چه کله قرینه موجود وي. او حذف په دوه قسمه دے. (۱) جوازي (۲) وجوبي.

دجوازي مثال: لکه چه یوسړے دَ سفر نه واپس راځي نو هغه ته اونیلے شي خیرمقدم نو ددینه مخکښے قدمت قدوما محذوف دے. په دے باندے قرینه حالیه ده دَ راتلونکي په حال باندے او قرینه مقالیه چه کله یوسړے اووائي کم اضرب زیدا نو ددهٔ په جواب کښے وئیلے شي ثلاث ضربات نو ددے فعل نو ددے فعل اِضْرِبْ بقرینه مذکور في السوال جوازا به محذوف وي.

ضابطه: دَمفعول مطلق تاکیدي دَفعل حذف کول جائز نه دي. ځکه چه تاکید دَموکد جانب مزید توجه ته مقتضي دے. او حذف ددے منافي دے مګر رُوستو مذکوره مصادر ددے حکم نه مستثنیٰ دي.

ضابطه: دَمفعول مطلق تاکیدیی تقدیم په فعل باندے جائز نه دے په خلاف دَنوعی اوعددی چه د دوئ جائز دے. (کمافی حاشیة الصبان جلد ۲ صفحه ۸٦)

سوال: بحث خو دمنصوباتو مفعول مطلق چلیدو دلته دَفعل راوړ خروج عن البحث دے.

جواب: الفعل باندے الف لام دعهد خارجی دے مطلق فعل مسئله نه دۀ بلکه هغه فعل چه دَمفعول ناصب دے.

سوال: دلته دَمفعول مطلق دَفعل دَحذف خبره دۀ حالانکه شبه فعل هم حذف کیږی دد ے بحث ئے ولے اونه کړو؟

جواب: دصاحب کافیه دا انداز دے چه هغه اصل بیانوی اوفرع مقایسة پریږدی.

سوال: ستاسو خیرمقدم مفعول مطلق قرار کړے دے حالانکه خیر خواسم تفصیل دے اوحالانکه دَمفعول مطلق دَپاره دَمصدر کیدل ضروری دی.

جواب: خیر مقدم داصفت دے دَمصدر محذوف اصل عبارت داسے دے قدومًا خیر مقدم دَموصوف اومضاف الیه حکم یووی نوپه دے وجه خیر ئے مفعول مطلق مقرر کړے دے حاصل دادے چه دَخیر موصوف طرفته نسبت اوکړے شی. بیا هم حکم درست دے که مضاف الیه طرفته نسبت اوکړے شی بیا هم حکم درست دے دواړو اعتبارو سرۀ دَخیر مفعول مطلق کیدل درست دی.

سوال: خیراسم تفصیل قرار کول غلط دی ځکه چه اسم تفصیل چه مذکر وی نوهغه دَافعل په وزن باندے وی اوچه کوم مؤنث وی نوهغه دَفعلیٰ په وزن باندے راځی . اوخیر دغه دواړو نه په هیڅ وزن باندے نه دے.

جواب: خیرپه اصل کښے اخیر وو نو خلاف القیاس دَپارۀ دَ تخفیف مونږ دیا حرکت فتحه ماقبل ته ورکړو اوهمزه موحذف کړه نو خیر شو.

قولُهُ وَوُجُوْبًا سِمَاعِيًا مِثْلُ سَقْيًا وَرَعْيًا وَخَيْبَةً وَجَدْعًا وَحَمْدًا وَ شُكْرًا وَعَجَبًا. دَحذف دونم قسم وجوبی دے. بیا دَحذف وجوبی دوۀ قسمونه دی .(۱) وجوبی سماعی (۲) وجوبی قیاسی، سماعی هغه دے چه دَهغے تعلق صرف دَسماع سرۀ وی چه دَهغے دَحذف دَپارۀ زمونږ سرۀ هیڅ ضابطه نه وي

نکه سَقْيًا ددے اصل وو سَقَاكَ اللّٰهُ سَقْيًا. وَرَعْيًا ددے اصل رَعَاكَ اللّٰهُ رَعْيًا. وَخَيْبَةً چه ددے اصل خَابَ خَيْبَةً دے او وَجَدْعًا ددے اصل جَدَعَ جَدْعًا وَحَمْدًا ددے اصل حَمِدْتُ احْمَدُ شُكْرًا دے وَعَجَبًا ددے اصل عَجِبْتُ عَجَبًا دے.

سوال: ستاسو اووئيل چه په دے مثالونو كښے دَمفعول مطلق عامل ناصب وجوبی طور باندے حذف كړے شوے دے حالانكه داخبره غلطه ده څكه چه مونږ اورو دامثالونه چه دی ددے فعل ذكر هم كړے شوے دے. لكه چه وئيلے شي . سَقَاكَ اللّٰهُ سَقْيًا،وَرَعَاكَ اللّٰهُ رَعْيًا.

جواب: داد متولدينو كلام دے چه خالصه عربي نه ده. د دوئ دَكلام هيڅ اعتبار نشته كه مثال موجود دے نودَفصحاؤ بلغاؤ كلام پيش كړئ.

جواب: په دے مثالونو كښے هله فعل حذف كيږی چه كله ددے نه پس لام موجود وی ستاسو چه كوم كلام پيش كړو ددينه پس هيڅ لام نشته.

سوال: ستاسو په مثالونو كښے هم لام موجود نه دے؟

جواب: زمونږ مثالونو كښے لام موجود دے. ليكن دَاختصار په وجه لام حذف كړے شوے دے.

فائده صاحب كافيه ددے حذف سماعی ښودلے دے. ليكن شيخ رضی ددے حذف قياسي ښودلے دے . اوهغه **قاعده** پيش كوی. وَالَّذِیْ اَرٰی اَنَّ هٰذِهِ الْمَصَادِرَ اے اَلْمَذْكُوْرَةَ فِي الْكَافِيَةِ وَاَمْثَالَهَا اِذَا بُيِّنَ بَعْدَ هَا فَاعِلُهَا اَوْ مَفْعُوْلُهَا بِالْاِ ضَافَةِ اَوْ بِحَرْفِ الْجَرِّ وَلَمْ يُقْصَدْ بِهِ الْكَافِيَةِ وَاَمْثَالَهَا اِذَا بُيِّنَ بَعْدَهَا فَا عِلُهَا اَوْ مَفْعُوْلُهَا بِالْاِ ضَافَةِ اَوْ بِحَرْفِ الْجَرِّ وَلَمْ يُقْصَدْ بِهِ بَيَانُ النَّوْعِ وَجَبَ حَذْفُ نَوَا صِبِهَا قِيَا سًا وَاِذَا لَمْ يُبَيَّنْ لَمْ يَجِبْ ذٰلِكَ يعنی مصدر ددے نه پس ددے فاعل يامفعول بالاضافة بيان وی ياپه واسطه دَحرف جر موجود وی .ليكن مقصود دَنوع بيان نه وی نودَعامل حذف وجوبًا قياسا وی. مثالونه (۱) دَفاعل بالاضافة(۱) صِبْغَةَ اللّٰهِ (۲) صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِیْ اَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ (۳) وَعْدَ اللّٰهِ(۴) كِتَابَ اللّٰهِ(۵) سُبْحَانَ اللّٰهِ (۲) دَمفعول بالاضافة مثالونه (۱)ضرب الرقاب (۲) سبحان اللّٰه چه كله اسم مصدر په معنی تنزيه وی په اول صورت كښے مصدر مجرد

په معنی ذهرانة (۳) معاذالله اوبحرف الجر دفاعل مثالونه (۱) سحقاله بعداله دمفعول بحرف الجر مثال (۱) شکرالک (۲) عجبالک اذالم یبین لم یحب ذالک لکه سقاک الله سقیا ورعاک الله رعیا، شکرت الله شکرًا، حمدت الله حمدًا. لم یقصد به بیان النوع ددے قید نه احتراز به اوشی اذا زلزلت الارض زلزالها(۲) وسعی لها سعیًا یعنی خاص قسم کوشش (۳) وقد مکروا مکر هم یعنی خاص قسم مکر مراد دے.

قَولُهٗ وَقِیَاسًا فِيْ مَوَاضِعَ مِنْهَا مَاوَقَعَ مُثْبَةٌ بَعْدَ نَفْيٍ اَوْ مَعْنٰی نَفْيٍ دَاخِلٍ عَلٰی اِسْمٍ په دے عبارت کښے مصنف دحذف وجوبی درنم قسم حذف قیاسی بیانوی .په دے وجه یوڅو ضوابط اومقامات دی ددے منها په ذیل کښے دوه مقامات اوضابطے بیانول غواړی.

رومبے مقام اوضابط:. هرهغه مقام چه هلته د مفعول مطلق عامل حذف کول واجب دی په دے وجه څلور شرطونه دی(۱) مفعول مطلق مقام اثبات کښے وی ورنه دعامل حذف به واجب نه شی لکه څه رنګ ماسرت سیرًا په دیکښے مقام اثبات نشته نو حذف هم واجب نه دے (۲) دنفی نه پس واقع وی ورنه دعدل حذف به واجب نه وی لکه څه رنګ سرت سیرًا دلته مقام اثبات دے لیکن دنفی نه پس نشته په دے وجه عامل هم حذف نه دے(۳) نفی په اسم باندے داخله وی په دے باندے مفعول خبر واقع نه شی ورنه دعامل حذف واجب به نه شی څه رنګ ماسیری الاسیرًا په دیکښے سیرًا کلامثبت کښے هم دے اونفی هم داخل ده اونفی په دے باندے داخل ده لیکن دمفعول مطلق په دغه اسم باندے حمل کیدے شی . په دے وجه دعامل حذف واجب نه دے مثال اتفاقی ماانت الاسیرًا په دیکښے سیرا مفعول مطلق دے څکه چه کلام مثبت کښے دے نفی نه پس دے اواسم باندے داخل دے اودمفعول مطلق دے څکه چه کلام مثبت کښے دے نفی نه پس دے اواسم باندے داخل دے اودمفعول مطلق په دے باندے حمل هم صحیح نه دے لهذا ددے دعامل حذف وجوبی قیاسی دے تقدیر دعبارت به داسے شی. ما انت الا تسیر سیرًا داذنکره مثال وو اودمعرفه مثال ما انت الا سیرًا البرید انما انت سیرًا دا معنی دنفی مثال دے دلته دفعل په حذف باندے قرینه داده چه ماانت اوانما انت کښے انت مبتدا ده اوالا سیرًا اوسیرا ددے خبر نه جوړیږی نودا په دے خبره باندے قرینه ده چه ددے خبر فعل محذوف دے چه

تسیر دے اوالّا او اِنّما دَفعل محذوف قائم مقام دی.

قولُهٗ وَزَيْدٌ سَيْرًا سَيْرًا په دے عبارت کښے مقصود دونمه ضابطه اودونم مقام دے .

دوئـم مقام اودوئمه ضابطه: هرمغه مقام چه هلته مفعول مطلق مکرر وی ددینه مخکښے یوداسے اسم وی چه په هغے سره مفعول مطلق خبر نه شی واقع کیدے په دے مقام باندے هم دَمفعول مطلق عامل حذف کول په واجب شی چه څه رنګ زیدٌ سیرًا سیرًا په دیکښے مفعول مطلق سیرا مکرر راوړولے شوے دے. ددینه پس والا اسم حمل نه شی کیدے نودلته هم دَفعل حذف کول واجب دی تقدیر دَعبارت په داسے شی زیدٌ تسیرو سیرًا قرینه دلته هم دَماقبل په شان ده.

سوال: ستاسو دا دواړه مقامات یوځائے ولے بیان کړل؟ حالانکه دا دواړه مستقل مقامات دی؟

جواب: دا دواړو په دے خبره کښے شریک وو چه ددے نه مخکښے یواسم وی اوددغه مفعول مطلق په دے باندے حمل اونه شی ددغه مشارکت په بنا باندے مونږ دواړه یوځائے بیان کړل.

سوال: داخل دنفی اومعنی نفی د دواړه صفت مقرر کول غلط دی ځکه چه داقاعده ده چه کله کله دَ اَوْ په ذریعه عطف کړے شی او معطوف علیه او معطوف نه مراد یو وی نه دضمیر مفرد راوړل واجبیږی .لکه زیدٌ اوعمروٌ وقائم نودلته قائمًا ونیل غلط دی .که دواړه مراد وی نوددے عبارت په دے مقام کښے مطابقت ضمیر واجبیږی چه دواړه مرجع جوړشی. کما فی حاشیه مولانا عبدالحکیم وحاشیة عبدالغفور رحمهما الله تعالیٰ نقل عن صاحب الرضی) لهذا دلته داخلین راوړل پکار وو نه داخل.

جواب: داخبره ستاسو درست ده لیکن داسے هم کیدے شی چه دَداخل مرجع نفی اومعنی نفی په تاویل دَکل واحد مقرر کړے شی(کما اختاره العارف الجامی)

سوال: اِذَا دُكَّتِ الْاَرْضُ دَكًّا دَكًّا دلته خو معفول مطلق مکرر دے لیکن فعل خو محذوف نه دے لهذا دا قاعده غلطه شوه .

جواب: ددے قاعدے اوضابطے دَپاره قید بقرینه سابق محذوف دے هغه داچه بعد الاسم

لايکون الاسم خبرًا عنه يعني مفعول مطلق مکرر واقع دي دَ داسے اسم نه پس چه دَخبر طالب وي مفعول مطلق ددے خبر جوړنه شي مثال مذکوره کښے دګاطالب خبر اسم نه پس نه دے ځکه چه ماقبل کښے مذکوره اسم الارض نائب فاعل دے چه خبر هيڅو غواړي نه.

سوال: دواړو قاعده کښے دَفعل وجوبي کديو څه وجه ده؟

جواب: اوله وجه داده چه ضابطه اولیٰ کښے دَحصر نه اوضابطه ثاني کښے تکرار نه ثبوت فعل علی سبيل الدوام مقصد وي .ځکه چه هغه ادعائي دے . دَپاره دَمبالغه ګوياً چه دغه شے دَبل فعل سره اصلًا متصف نه دے . اودَ تکرار سره په دے وجه چه هغه پرله پسے په ثبوت باندے دلالت کوي پرله پسے ثبوت اودوام وي اوذکر فعل په دے وجه منافي دے چه هغه وضعًا په حدوث باندے دلالت کوي دوام اوحدوث منافي نه دي. لهذا حذف واجب شو.

دوئمه وجه: قرينه اوقائم مقام دواړه موجود دي چه د دوئ په موجودګئ کښے حذف واجبيږي دواړو ضابطو کښے قرينه دَمفعول مطلق نصب دے چه دَناصب مقتضي دے اوهغه په عبارت کښے موجود نه دے نوخامخا محذوف دے اودَ محذوف حتی الامکان مذکور کيدل اولیٰ وي نومعلومه شوه چه هغه دَمفعول مطلق فعل دے اوقائم مقام خپله مفعول مطلق دے .لهذا دَفعل ذکر کول جائز نه دي ورنه دَ عوض اومعوض عنه اجتماع به لازم راشي.

سوال: منها ماوقع نه څه مراد دے ؟مفعول مطلق مراد اخلے يا موضع مقام اومراد اخلے دواړه غلط دي اول په دے وجه صحيح نه دے چه معنی په داشي چه دغه مواضعو اومقاماتو نه هغه مفعول مطلق دے دامعنی بالکل غلطه ده ثاني په دے وجه غلطه دے چه معنی به داشي چه دغه مواضعو نه هغه موضع دے چه مثبت واقع وي حالانکه موضع مثبت نه واقع کيږي ؟

جواب: دلته لفظ اسم محذوف دے معنی به داشي چه بعضے دغه مواضعو نه هغه اسم دے لهذا فاندفع الاشکال

قولهٗ وَمِنْهَا وَقَعَ تَفْصِيْلًا لِاَ ثَرِ مَضْمُوْنِ جُمْلَةٍ مُقَدِّمَةٍ مِثْلُ فَشُدُّ الْوَثَاقَ فَاِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً. په دے عبارت سره مصنف د درنمے ضابطے اودرنم مقام ذکر کول غواړي.

درېم مقام اودرېمه ضابطه : هرداسے مقام چه هلته مفعول مطلق دَجمله سابقه دَمضمون غرض تفصیل بیانولو دَپاره راوړلے شي. نوهلته عامل حذف کول واجب دی قیاسًا لکه :فَشُدُّ الْوَ ثَاقَ فَاِ مَّا مَنًّا بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً. مَنًّا اوفداءً مفعول مطلق دی. چه ددے نه مخکښے داسے قسم جمله موجود ده چه ددے دَنتیجے غرض بیانولو دَپاره راوړلے شي. یعنی تاسو اوتړئ د دوئ ستونه څکه چه یابه مونږ احسان اوکړو یا فدیا واخلو اوپرے یږدئ په دیکښے مفعول مطلق دَماقبل نتیجه واقع کیږی په دے وجه دلته ددے عامل وجوبي طور باندے حذف کړے شوے دے. نوتقدیر عبارت به داسے شي . فَاِ مَّا تَمُنُّوْنَ مَنًّا بَعْدُ وَاِمَّا تَفْدُوْنَ فِدَآءً یادساتئ چه دلته یوڅو شرطونه دی **رومبی شرط** دادے چه مفعول مطلق دَمضمون جمله تفسیر اوکړی لهذا په دے سره زیدٌ یسافر سفرا خارج به شي **دوئم شرط** دادے چه تفسیرهم دَمضمون جمله کوی نوددینه به دا مثال خارج شي. زَیْدٌ یُسَافِرُ سَفْرَا الْقَرِیْبِ . وِیُسَافِرُ سَفْرَا الْبَعِیْدِنفس حذف باندے قرینه دَمَنًّا او فِداءً منصوب کیدلدی اودَنفس محذوف قرینه هم دغه ده چه دادَخپل فعل په حذفیت باندے دلالت کوی اوسد مسد همدغه مفعول مطلق هم جوړیدے شي اوړومبئ جمله فشدو الوثاق والا هم جوړیږی ړومبئ جمله روستو جملے باندے اجمالی طور باندے مشتمل ده دلیل چه کله ړومبئ جمله د روستو جملے دَمضمون اجمالا تفصیل کوی او مخکښے دونم تفصیل مفعول مطلق هم کوی که دوباره فعل ذکر کړے شي نوصورتًا تکرار لازمیږی اوشیخ رضی ددے تشریح داکړی ده چه کله دَیو امر دَصیغے په ذریعه دَیو امر مطالبه اوکړے شي. نوددغه فعل په غرض چه کوم مطلق سره بیان کړے شي نوهغه وخت دَفعل حذف کول به وجوبي شي.مثال : روټئ خوړل ددے غرض خبرے کول یااودهٔ کیدل دی نومونږ ونیلے شو چه کُلِ الطَّعَامِ اِمَّا نَوْمًا وَاِمَّا کَسْبًا کیدے شي.

قوله وَمِنْهَا مَا وَقَعَ لِلتَّشْبِیْهِ عِلَاجًا بَعْدَ جُمْلَةٍ مُّشْتَمِلَةٍ عَلیٰ اِسِمٍ بِمَعْنَاهُ ددے خائے نه دَمصنف غرض څلورمه ضابطه اوڅلورم مقام مفعول مطلق تشبیه دَپاره وی ورنه ددهٔ داعامل فعل حزف کول به واجب نه شي .مثلًا مررتُ به فاذا له صوتٌ صوتَ حسنٍ دلته تشبیه دَپاره مفعول مطلق نه دے(۲) افعال جوارح نه وی ورنه دَ عامل حذف به واجب نه شي لکه مررت بزید فاذاله علمٌ دلته

مفعول مطلق تشبيه دپاره خودے ليکن افعال جوارح نه نه دے (۳) ددے ماقبل يو جمله وی چه په داسے اسم باندے مشتمل وی چه دمفعول مطلق هم معنی وی که هم معنی نه وی نو دغه وخت دمفعول مطلق عامل ناصب به نه شی حذف کيدے لکه مررت به فاذاله صوت صوت حمار دلته مفعول مطلق تشبيه دپاره دے او افعال جوارح نه دے اوددينه ماقبل يوه جمله هم ده چه په اسم باندے مشتمل ده ليکن ددے هم معنی نه دے. (۴) په دغه جمله کښے يو داسے ضمير وی چه يوداسے ذات په طرف راجع وی چه دهغے نه مفعول مطلق پيدا کيږی که دغه ذات په طرف راجع نه وی نوبيا د مفعول مطلق عامل حذف کول به واجب شی لکه مررت بيلدٍ فاذا نه صوت صوت حمار دلته تمام شرائط موجود دی ليکن په ديکښے ضمير هغه ذات په طرف راجع نه دے چه دهغے نه مفعول مطلق پيدا وی لهذا دلته دعامل حذف کول واجب نه وی اتفاقی مثال لکه مررت به فاذاله صوت صوت حمارنو دلته تمام شرائط موجود دی داد نکره مثال دے .

ترجمه: تيرشوم زه دزيد په خوا کښے نواچانک ددهٔ اواز دخر د اواز په شان وو دمعرفه مثال: مررت به فاذا لهٔ صُراخ صرخ الثکلیٰ ترجمه تير شوم زه دزيد سره نو اچانک دزيد دپاره اوازوو د ښځے داواز په شان ثکلیٰ هغه ښځه چو ورک شوی بچی پسے جړا کوی دنفس حذف قرينه مفعول مطلق دصراخ اوصوت منصوب کيدل دی اوتعين محذوف قرينه صراخ اوصوت دلالت کوی چه ددے په شان محذوف دے چه يصرخ اويصوت دے اود سد مسد قرينه ړومبئ جمله ده.

سوال: چه کله داشرائط بيامونده شی نوستاسو دغه فعل ولے حذف کوئ ددے څه دليل دے؟

جواب: چه کله فعل محذوف والا واړه څيزونه ړومبئ جمله کښے بيامونده شی نو بيادفعل ذکر کولوسره تکرار لازم راځی. نودتکرار نه ځان بچ کولو دپاره مونږ فعل حذف کوؤ ځکه چه تکرار شنيع دے.

سوال: ستاسو دوه مثالونه ولے پيش کړل حالانکه يو مثال د وضاحت دپاره کافی وی؟

جواب: دوه نکتو دحصول دپاره دو مثالونه ذکر کړی دی.

ړومبئ نکته: مصنف اشاره اوکړه چه مفعول مطلق کله مضاف الی النکره وی او کله مضاف الی المعرفه لکه چه دمثالونو نه واضحه ده ړومبئ نکره دونمه کښے معرفه په طرف مضاف ده .

دوئمه نکته: مصنفؒ اشاره اوکړه چه مفعول مطلق مضاف کله ذوی العقولو په طرف وی اوکله غیر ذوی العقولو په طرف .

سوال: لفظ صوت څه رنګ مفعول مطلق جوړیږی ؟حالانکه داصفت دے دَموصوف صوتٌ مثل صوت حمارٍ نومفعول مطلق څه رنګ شو؟

جواب: صفت دَموصوف په حکم کښے وی دلته چه کله مثل موصوف دے اوهغه مفعول مطلق دے ګویا چه ددے صفت مجازًا مفعول مطلق مقرر کړیشو .

سوال: مفعول مطلق خو مصدر وی اوصوت خومصدر نه دے ځکه چه دمصدر معنی اواز کول حالانکه دَصوت معنی دلته خواواز دے ؟

جواب: دلته صوت په معنی دَ تصویت شو مفعول مطلق دے ځکه چه دلته دَ سوال درنمه نکته د دوه مثالونو دَذکر کولو دادہ چه مفعول مطلق لکه مصدر حقیقی وی لکه صراخ الثکلیٰ والامثال کښے اوکله تاویلی وی لکه پرومبیٔ مثال کښے .

قولُهٗ وَمِنْهَا مَاوَقَعَ مَضْمُوْنَ جُمْلَةٍ لَا مُحْتَمِلٌ لَهَا غَيْرُهٗ نَحْوُلَهٗ عَلَيَّ اَلْفُ دِرْهَمٍ اِعْتِرَافًا.

دپنځمې ضابطې بیان : پنځم مقام چه چرته دَمفعول مطلق عامل حذف کول واجب دی.

ضابطه:هر هغه مقام چه چرته مفعول مطلق دَ معنی نه سوا دَ دونمے احتمال نه وی لکه لهٗ عَلَيَّ الف درهم اعترافًا کښے اعترافًا مفعول مطلق دے .چه لهٗ عَلَيَّ الف درهمٍ خلاصه ماحصل دہ اوهغه داسے جمله دہ چه په هغے کښے دَمفعول مطلق نه سوابل دونم احتمال نشته. ځکه چه مقصود دَمتکلم ددغه جملے نه دَ یو زر دراهمو اقرار کول دی. لهذا په دے جمله کښے په دے حیثیت سره دَ اعتراف نه علاوه بل احتمال نشته دومره دہ چه دَجمله خبریه کیدو په اعتبار سره دَصدق اوکذب احتمال لری لهذا فقهی مسئله دا شوہ چه دَقاضی په مخکښے که چرے یو سړے دا اوانی چه لزیں عَلَيَّ الف درهم اعترافه نو په دۀ بانډے به یوزر درهم قرض لازم راشی.

سوال: په دے مقام کښے فعل حذف کول ولے واجب دی؟

جواب: دَحذف دلیل دادے چه کرومبی اقرار اجمالی طوربانډے ذکر شوے دے په جمله کښے که چرے فعل ذکر کړے شی. نوتکرار به لازم راشی نودغه تکرار نه بچاؤ دَ پاره فعل نے

حذف کړو.

قولهٗ وَیُسَمّٰی تَاْکِیْدًا لِنَفْسِهٖ

سوال:تاکید خوذخپل نفس کیږی لهذا ددے تسمیه څه فائده شوه؟

جواب: دلته دمؤکد اومؤکد ترمینځ شدت اتحاد وو ترد ے پورے چه تغایر اعتباری هم نه وو نوپه دے وجه تاکید لنفسه نے اوونیلو یادساتی دامفهوم مدلول دے اومفعول مطلق دال دے نوپه دے وجه مفعول مطلق په تاکید لنفسه سره موسوم کول دادقبیلے دتسمیة الدال باسم المدلول دے (کذا یستفادمن محرم آفندی)

سوال:یسمی په صیغه فعل مضارع راوړے دے حالانکه په صیغه دماضی راوړل دے حالانکه په صیغه دماضی راوړل پکار وو ځکه چه دا تسمیه زمانه دتکلم نه مخکښے شوی ده نو دارنګ علامه زمخشری داتسمیة په مفصل کښے بیان کړی ده او حالانکه ددهٔ وفات دمصنف دولادت نه ۳۲ کاله مخکښے وو ددهٔ وفات ۵۳۸ هجری کښے اودمصنف دلالت ۵۷۰ هجری کښے دے.

جواب: اما سیبویه دغه مفعول مطلق تاکید خاص اور اتلونکے تاکید عام سره موسوم کړے دے مصنف په دے باندے تنبیه کولو دپاره دمضارع صیغه اختیار کړه داتسمیه په نظر اول سره په زمانه استقبال کښے شوی ده .

فائده :دا دواړه مفعول مطلق دپاره دتاکید دی. اومفعول مطلق دتاکید دحکم مذکور نه مستثنیٰ دے.

فائده: مفعول مطلق چه تاکیدی دے هغه دمفرد دتاکید دپاره راځی اوداد جملے دتاکید دپار د راځی.

قولهٗ وَمِنْهَا مَاوَقَعَ مَضْمُوْنَ جُمْلَةٍ لَهَا مُحْتَمِلٌ غَیْرُهٗ نَحْوُ زَیْدٌ قَائِمٌ حَقًّا. په دے عبارت کښے ضابطه سادسه دشپږم مقام بیان دے.

شپږم مقام اوشپږمه ضابطه:. هرهغه مقام چه چرته مفعول مطلق دداسے جملے مضمون یعنی خلاصه اولب لباب واقع وی چه په دے جمله کښے دمفعول مطلق نه علاوه دغیرهم احتمال

بیانوونـدے شي .نوپه داسے مقام کښے دَمفعول مطلق عامل ناصب قیاسًا حذف کول واجب وی لکه زیدٌ قائمٌ په دیکښے دَجمله خبریه کیدو په وجه دَرشتیاؤ احتمال وو اودَ دروغو هم نو حقًا دَ رشتیاء والو دَاحتمال تاکید اوکړو.

قـولُهٗ وَیُسَمّٰی تَاکِیْدًا لِغَیْرِهٖ دیته تـاکیـد لغیره وائی ځکه چه مؤکد اوتاکید کښے مغایرت اعتباری مـوجـود دے اواخری مقام کښے مغایرت اعتباری هم نه وو یادا سے اوایه چه په دیکښے دَغیر نفی اودَخپل اثبات تـاکیـدکـول دی. اودَغیـر احتمال دفع کولو دَپاره وی په دے وجه دیته تاکید لغیره ونیلے شي.

وجه تسمیه: دابیـان کړے شي. چه حقاً مفهوم دوه ځل ذکرشو اولاً جمله سابق ثانیًا دلفظ حقاسره نوثاني مفهوم اول دَپاره تاکید دے دواړه مفهوم یودی مګر اعتباری تغایر دے ځکه چه اول محتمل دے اوثاني منصوص دے داتسمیه تسمیة الدال باسم المدلول دَقبیلے نه دے.

فائده: دَمـفـعول مطلق د دواړه قسمونه نکره هم راځي اومعرفه هم بیا معرفه عام ده خواه باللام وی یـا بـلاضـافـة وی دَ دواړو قسمونو مثال دَنکره مثال په متن کښے تیر شو اودَمعرفه مثال اللّٰه واحدٌ الحق اواللّٰه واحدٌ حق الیقین د دونم مثال زید قائم الحق اوزیدٌ قائمٌ حق الیقین او دواړو قسمونو کښے بعضے الفاظ التزاماً معرف باللام استعمالیږی لکه چه ونیلے کیږی انت طالق البتة یاوئیلے شی لاافعالهٔ البتة نو ددے عامل فعل مقدر دے وجوبًا اَبِتُّ دَالبتة په همزه کښے دَاهل عرب نه قطع مسموع ده نه چه وصل . اوبعضے نحاتو دَالبته الف لام حذف هم جائز ونیلے دے. (کمافی همع الهوامع وحاشیه الصبان)

فائده: دَمـضـمون جمله دوه معانے راځي.(۱) لغوی عرفی (۲) اصطلاحي لغوی عرفی معنی خلاصه ،اولب لباب اوماحصل دے اصطلاحي معنی دَجملے نه چه کوم مصدر فهم کیدے شي ددے مضاف کیدل فاعل په طرف یامفعول په طرف دغه دواړو ضابطو کښے دَمضمون جمله لغوی عرفی معنی مراد ده اومخکښے ضابطه کښے تیر شوی دی په دیکښے اصطلاحي معنی مراد ده.

قولُهٗ وَمِنْهَا مَاوَقَعَ مَثْنٰی مِثْلُ لَبَّیْكَ وَسَعْدَیْكَ په دے عبارت کښے مصنف ضابطه سابعه یعنی

اووم مقام بيانول غواړي.

اووم مقام او اوومه ضابطه: هرهغه مقام چه هلته مفعول مطلق دتثنيه په صورت باندے تكرار اوكثرت ونيلودپاره واقع وي اوفاعل يا مفعول په طرف مضاف هم وي داسے مقام كښے دمفعول مطلق عامل قياسا حذف كول واجب وي لكه لبيك وسعديك .

سوال: دادمجرد مصدر دے يادمزيد كه دمجرد مصدر دے نوتپيك دد ليكن په ديكښے تكثير اوتكرير باندے دلالت يه نه كيږي حالانكه مقصود دلته تكثيراو تكرير دے اوكه چرے ددے نه مراد داد مزيد مصدر دے نوبالكل غلط دے كما هوالظاهر .

جواب: دلته مراد دمزيد مصدر دے لبيك په اصل كښے الب لك البابين وو الب فعل نے حذف كړو مفعول مطلق نے دهغه په ځائے كيښودو نوعبارت داجوړ شو البابين لك بيا مزيد مصدر نے مجرد په طرف واپس كړو نو لبين لك جوړ شو بيا لام نے حذف كړو اولبين اضافت نے اوكړو نونون هم پريوتو لبيك جوړشو اومفعول مطلق نے دهغه په ځائے كيښودو بيامزيد نے مجرد په طرف واپس كړو كاف په طرف اضافت اوكړو نونون تثنيه هم داضافت په وجه پريوتونو سعديك شو .

سوال: په دے مقام كښے حذف وجوبي سره شمارول غلط وي ځكه چه ضربت، ضربين مفعول مطلق تثنيه دے ليكن حذف واجب نه دے؟

جواب: دمثنى نه مراد صورت مثنىٰ دے حقيقة مثنى مراد نه دد اوپه دے مثال كښے حقيقة مثنىٰ دد .

سوال: قرآن مجيد كښے دي فارجع البصر كرتين په ديكښے صورت مثنىٰ دے اومعنى تثنيه مراد نه دد ځكه چه ددينه مراد تكثير دے ليكن بياهم فعل مذكور دے محذوف نه دے؟

جواب: صورة مثنىٰ سره په دے قاعده كښے يو قيد محذوف دے چه معتبر دے چه هغه مضاف وي فاعل په طرف يامفعول ياطرف اوپه ديكښے كرّ تين اضافت نشته.

سوال: په دے ضابطه كښے چه كله اضافت الى الفاعل اوالمفعول قيد معتبر دے نومصنف ته پكار وو چه قاعده مذكوره كښے دا قيدنے ذكر كړے وے نولهذا داقاعده ناقصه شوه.

جواب: ددے اعتراض فاضل هندي جواب وركړو چه قاعده مذكوره ناقصه نه دد دمثال په ضمن

کښے دَاضافت دَموجود کیدو په وجه په مثال بانده اکتفا کولوسره: اضافت والا قید نے صراحة بیان نه کړو لیکن مولانا جامي دَفاضل هندي داجواب رد کړو په دے وجه چه دَ مثال دَقاعدے تتمه مقررکول سراسر تکلف وی ځکه چه مثال دَتوضیح ممثل دَپاره وی نه چه تتمه وی .

فائده: مولانا جامیؒ بانده البته دا اعتراض په وارد شی چه مثال دَقاعدے تتمه مقررکول تکلف دے نودَاسماء سته مکبره دَاعراب په بیان کښے خپله مولانا جامي دا تکلیف ولے اختیار کړے دے؟

جواب: بعضو جواب ورکړے دے چه دَاسماء سته مکبره دَبحث ټول مثالونه شپږدی. چه دَهغے نه درے مثالونه دَتوصیح دَپاره کافی دی اودرے مثالونه دقاعدے تتمه مقررکولے شي په خلاف دمغه مقام چه دلته فقط دوه مثالونه دی چه توضیح قاعده دَپاره دی تتمه نه جوړیږی.

جواب: دوئم جواب داهم ورکیدے شي چه اسماء سته مکبره په بحث کښے امثله توضیح قاعدے دَپاره نه دے بلکه دَقاعدے دَتعیین دَپاره وی داسے مثالونه چه په هغے سره مقصود تعین محل قاعده وی دغه دَقاعدے تتمه جوړولے شي په خلاف دَهغه مثالونو چه دَتعین محل قاعدے دَپاره نه وی بلکه توضیح قاعده دَ پاره وی دا دَقاعدے تتمه نه شي جوړولے اوپه دے مقام کښے مثالونه د دویم دقبیلے نه دی.

جواب: امثله په دوه قسمه دی(۱) چه لفظ مثل اولفظ نحو سره مصدر وی (۲) چه لفظ مثل اولفظ نحوسره مصدّر نه وی قسم ثاني دَقاعدے تتمه مقررکول صحیح دی او اسمائے سته مکبره کښے اومثله دَقسم ثانی نه دی اودَرومبی قسم امثله دَ قاعدے تتمه مقررکول صحیح نه وی او دلته مثالونه دَقسم اول دَقبیلے نه دی.

(خُذْ هٰذَا وَاشكر وَافْهَمْ وَاسْتَقِمْ فَاِنَّ بَيَانَ هٰذِهِ الْمَبَاحِثِ لِغُمُوْ ضِهٖ يَحْتَاجُ اِلٰى تَأمُلٍ دَقِيْقٍ وَلَا يَنْحَل اِلَّا بِفِكْرٍ عَمِيْقٍ)

سوال: ستاسو مخکښے ونیلی دی چه مفعول مطلق دَپاره دَتاکید تثنیه نه شي راوړلے اودلته دَمفعول مطلق دَ تثنیه اثبات کوی ستاسو په کلام کښے خوتضاد دے؟

جواب: دلته دتثنيه نه مراد تثنيه حقيقي نه ده بلکه دلته شکل تثنيه مراد دے چه صورت دَتثنيه والا وی اوپه معنی کښے تکرار مونلے شی.

قـولُهُ اَلْمَفْعُوْلُ بِهٖ هُوَ مَا وَقَعَ عَلَيْهِ الْفَاعِلِ نَحْوُ ضَرَبْتُ زَيْدًا دَمـفعول مطلق دَبحث دَ فراغت نه پس مـصـنف مـفـعول به بيانول غواړی. ړومبئ درجه دَمفعول مطلق تعريف: مفعول مطلق دَهغه څيز نوم دے چـه پـه هغے بانـدے دفاعل فعل واقع وی يعنی دَفاعل دَفعل تعلق بغير حرف جر دَواسطے نه وی خـواه تـعـلـق ايجابي وی ياسلبی عام ددے نه وقوع حسی وی ياحکمی عام ددينه فاعل حقيقي وی يـاحـکـمـی دونـمـه درجـه فـوائد قيود: ماجنس دے او وقع عليه دا قيد دے ددے نه مفعول فيه ،مفعول لهٔ مـفـعـول مـعه خارج شول ځکه چه د دوئ دَپاسه فعل نه واقع کيږی اوفعل الفاعل په دے قيـد سـره مـفـعـول مـطـلـق هم خارجيږی ځکه کله مونږ دَمفعول به تعريف اوکړو چه مفعول به دېته ونيلـے شی چـه پـه هـغـے بانـدے دَفعل فاعل واقع وی نوددے مطلب به داشی چه فعل جدا څيز دے اومـفعول جداڅيز دے اومفعول مطلق هم دَفاعل بعينه فعل وی په دے وجه هغه به دَمفعول به دَتعريف نه اوزی .

درئمه درجه سوالات اوجوابات :

سوال: مـفعول به خولفظ دے اوپه کوم څيز باندے دَفاعل فعل واقع شی هغه ذات وی لفظ نه وی نوحمل به څه رنګ درست شی حالانکه دَتعريف په معرف باندے حمل ضروری دے؟.

جواب: مـولانـا جـامـی ددے جـواب ورکـړو چه لفظ اسم دلته مقدر دے اومخکښے هم هدا به مقدر وی چه مصنف ماسبق باندے اکتفا کولوسره ذکرنے نه کړو.

سوال: دَمـفعول به تعريف مذکور جامع نه دے ځکه چه (خَلَقَ اللّٰهُ الْعَالَمَ) کښے(اَلْعَالَمَ) باندے صـادق نه راځی ځکه چه وقوع دَ فعل دَاثبات تقاضا کوی چه مفعول دَمخکښے نه موجود وی اوحالانکه دَعالم وجود دَخلق نه مخکښے نه دے؟

جواب: دوقـوع فـعـل نـه مراد يعنی وقوع فعل باندے دَمفعول نه مراد عام دے چه حقيقی وی يـاحـکـمـی اوخـلـق الله العالم کښے وقوع فعل اګر جامع نه دے ځکه چه ما ضَرَبْتُ زيدًا کښے زيدًا باندے صادق نه راځی.

جواب: دَ وقوع نه مراد تعلق دے عام ددینه مخه تعلق ایجابي وی یاسلبي وی.

سوال: داتعریف دَدخول غیر نه مانع نه دے صورت بزید کښے بزید بانــدے صادق راځی ځکه چه دَفعل مرور دَ زید سره تعلق دے.

جواب: دَتعلق نه مراد عام نه دے بلکه دَتعلق نه مراد دے چه دَحرف جر دَواسطے نه بغیر وی اوبزید کښے دَباحرف جرپه واسطے سره تعلق دے لهذا زمونږ تعریف دَدخول غیر نه مانع شو.

سوال: دَمفعول به تعریف د دخول غیر نه مانع نه دے ځکه چه ضربت ضربًا بانــدے صادق راځی ځکه چه ددے سره تعلق دَفعل نه بغیر دَحرف جر په واسطے دے؟

جواب: دَمفعول به اودَفاعل دَفعل ترمینځ اتحاد وی.

سوال: داتعریف دَدخول غیرنه مانع نه دے ځکه چه ضُرِب زیدٌ کښے زیدٌ بانــدے صادق راځی ځکه چه دَزیدٌ سره دَفاعل دَفعل تعلق بغیر دَواسطے دَحرف جر دے حالانکه زیدٌ مفعول به نه دے بلکه مفعول مالم یسم فاعله دے.

جواب: دَفعل فاعل نه مراد داسے فعل دے چه عبارت اولفظونو کښے دَفاعل په طرف مسند وی اوداخبره ظاهره ده چه فیمانحن کښے داسے نه دے ځکه چه ضرب فعل مجهول دے چه عبارت او لفظونو کښے فاعل په طرف مسند نه دے.

سوال: اُعْطِيَ زیدٌ درهمًا په ترکیب کښے درهمًا بانــدے داتعریف صادق نه راځی .ځکه اُعطِيَ صیغه دَفعل ماضی مجهول ده چه ددے اسناد لفظونو کښے فاعل په طرف نه دے حالانکه درهمًا یقینا مفعول به دے.

جواب: مولانا جامی جواب ورکړو چه دَفعل په فاعل کښے تعمیم دے خواه فاعل حقیقي وی یا فاعل حکمی اوپه دے مثال کښے زیدٌ فاعل حقیقي نه دے بلکه فاعل حُکمي دے .لهذا تعریف زمونږ به جامع جوړ شي.

سوال: دَمفعول به په تعریف کښے دومره وئیل کافي وو هوما وَقع علیه الفعل په دیکښے چه کوم اختصار مطلوب وو هغه به هم حاصل شوے دے چه په هغے سره فاعل خودبخود په فهم کښے راځی په دے وجه هیڅ یو فعل بغیر دَفاعل نه ممکن نه دے؟

جواب: په دے عبارت کښے اختصار به ضرور شوے دے لیکن فاعل کښے چه کوم مقصود تعمیم بیانول وو چه فاعل حقیقي یاحکمي داتعمیم په فهم کښے نه راځي او تعمیم نه شوکیدے.

سوال: مررت بزید کښے ستاسو اووئیل زید مفعول به نه دے ځکه چه دزید سره دفعل تعلق په واسطه دحرف جردے حالانکه ذهبت بزید کښے زید ته تـه مفعول به وائے اوحالانکه دلته هم په واسطه دحرف جر سره تعلق دے.

جواب: ذهبت بزید کښے باحرف جر تغیر معنی دپاره دے په دے وجه چه ذهبت بزید کښے ددے معنی ده اذهبت زیدًا اوداخبره ظاهره ده چه اذهبت زیدًا کښے دزیدٌ سره د ذهاب تعلق بغیر دحرف جر دواسطے دے لهذا ذهبت بزید کښے دزید مفعول به کیدل درست دي اودمررت بزید په ترکیب کښے باحرف جار تغیر معنی دپاره نه دے.

قوله وَقَدْ يَتَقَدَّمُ عَلَى الْفِعْلِ نَحْوُزَيْدًا ضَرَبْتُ کله کله مفعول به په فعل باندے هم مقدم کولے شي.

ضابطه: د فاعل تقدیم دفعل نه مطلق ناجائز دے ځکه چه دفاعل مقدم کولو سره التباس بالمبتداء لازم راځي. اودمفعول مقدم کولو سره داسے التباس لازم نه راځي په دے وجه دمفعول تقدیم جائز دے دتقدیم درے قسمونه وي(۱) بعض وختونو کښے به واجب وي(۲) بعضے وختونو کښے به جائز وي (۳) بعضے وختونو کښے به ناجائز وي واجب به هغه وخت وي چه کله څه باعث وي مثلًا مفعول به معنی استفهام یامعنی شرط ته متضمن وي لکه مَن رَأيتَ اودشرط مثال من یکرمني اکرمک جائز به هغه وخت وي چه کله مانع وي لکه مِنَ البَرِ اَنْ تکف لسانك اوناجائز به هغه وخت وي چه کله نه څه باعث وي اونه څه مانع وي لکه زَيْدًا ضَرَبْتُ

سوال: داحکم دمفعول به سره خاص نه دے ماسوا دمفعول معه نه نور مفاعیل هم مقدم کیږي بیاداحکم ئے په خصوصیت سره دلته ولے ذکر کړو دنورو مفاعیلو په بحث کښے هم ذکر ولے نه دے؟

جواب: دلته ددے حکم تخصیص دیووهم ددفع کولو دپاره دے هغه داد چه دفعل متعدي تعقل چه لکه څه رنګ بغیر دمفعول به نه وي نودغه رنګ دفاعل نه بغیرهم نه کیږي او دفاعل تقدم جائز

نه دے نو دَمفعول به تقدم به هم جائز نه شي. داوهم نے لرے کړو چه تعلق دَفعل بے شکه په دواړو پأندے موقوف دے. لیکن په تقدم کښے د دواړو حکم یوشان نه دے.

سوال: دَمفعول معه تقدم ولے جائز نه دے؟

جواب: بنابر رعایت اصل ځکه چه واو اصل عطف دَپاره دے چه دَمغے مقام درمیان کلام دے که مقدم کړے شي نو دَمعطوف په معطوف علیه بأندے مقدم کیدل به لازم شي.

قوله وَقَدْ يُحْذَفُ الْفِعْلُ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا. په دے عبارت کښے مصنف دونم حکم بیانول غواړي. چه کله دَمفعول به فعل جوازي طور بأندے حذف کیدے شي چه کله قرینه موجود وي قرینه مقالیه وي لکه چه یوسړي سوال اوکړو مَن اضرب نوجواب نے ورکړو زیدا دلته بقرینه سوال اِضرِبْ محذوف دے یاقرینه حالیه وي لکه چه یوسړي مکے په طرف سازو سامان سره متوجه کیدونکے وي نوهغه ته اونیلے شي اَمَکةَ نومکة مفعول به ددے فعل محذوف دے اَتُرِیدُ مکةَ.

فائده: دَمفعول به اودَفعل حذف کیدو کښے عقلي طور بأندے شپږ احتمالات دي(۱) د دواړو حذف جوازي (۲) دَ دواړو حذف وجوبي (۳) صرف دَمفعول حذف جوازي (۴) فقط دَمفعول حذف وجوبي. (۵) صرف دَفعل حذف جوازي (۶) فقط دَفعل حذف وجوبي ددے نه یو صورت کلام عرب کښے موجود نه دے یعني د دواړو حذف وجوبي باقي پنځو کښے دَفعل دَحذف دوه صورتونه مذکور في الکتاب دي باقي درے صورتونه په کتاب کښے مذکور نه دي چه په کتاب کوم مذکور دي هغه دادي چه د دواړو حذف جوازي وي لکه چه څوک سوال اوکړي اَضَرَبْتَ زيدًا جواب ئے ورکړو نَعَمْ جوازي لکه ضرب زیدٌ ددے په اخر کښے عمروا محذوف دے(۳) فقط دَمفعول کله ړومبے عامل دَ مفعول تقاضا اوکړي اودَافعال قلوبو نه نه وي نو هلته دَمفعول حذف وجوبي وي اومذکور في الکتب فقط دَفعل حذف کول به جائز شي.

قوله وَوُجُوْبًا فِيْ اَرْبَعَةِ مَوَاضِعَ دَحذف دوه صورتونه دي(۱) حذف وجوبي (۲) حذف جوازي دَحذف جوازي مثال خوتیر شو اودَحذف وجوبي دَپاره ټول څلور مقامات دي.

قوله اَلْاَوَّلُ سِمَاعِيٌّ نَحْوُا اِمْرَاً وَنَفْسَهٗ وَانْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ وَاَهْلًا وَسَهْلًا ړومبے مقام وجوبي کښے

سماعي دے چه لکه څه رنګ امرءً نفسه چه دامفعول به دے چه ددے دپاره فعل محذوف دے تقدير دعبارت به داسے شي اترک امرءً ونفسه دونم مثال انتهوا خيرالکم په اصل کښے انتهوا عن التثليث واقصدوا خيرالکم وو.

سوال: ستاسو دقران پاک مثال دټولو نه مخکښے ولے بيان نه کړو؟

جواب: ځکه چه په دے مثال کښے دېوبل ترکيب هم احتمال وو دهغے تقدير به داشي انتهوا انتهاءً لکان خيرالکم چه کوم ترکيب کښے بل احتمال نه وو هغه نے مقدم کړو.

جواب: دلته دقرآن مجيد دعظمت بحث نشته بلکه بحث دقرآن نه علاوه دے په دے وجه دقران مجيد مثال مؤخر کړے شي نوهيڅ حرج نشته. اهلا وسهلا په اصل کښے وو اَتَيْتَ اَهْلًا وَ طَيْتَ سَهْلًا دا دميلمه دراتګ په وخت وطيت سهلًا دادميلمه دراتګ په وخت کښے وئيلے شي .اتيت اهلًا اهل په معنی دآباد کورېا په معنی دغير اجنبي وَطَيْتَ سَهْلًا پائيمال کړې ده ستاسو نرمه زمکه .

قولُهٗ وَالثَّانِيْ اَلْمُنَادٰى دونم مقام دمقام اربعه ؤ نه چه هلته دمفعول به عامل ناصب حذف کيدے شي وجوبی طور باندے هغه منادي ده .

ضابطه: چه کوم منادي وي هغه به هميشه دحقيقت په لحاظ سره منصوب کيدوسره مفعول به وي اوددے فعل به هميشه دپاره محذوف وي اوهغه فعل په هم هميشه اَدْعُوْ وي اودَاَدْعُوْا قائم مقام به هميشه حرف ندا وي دفعل په هيڅ ځائے کښے ظاهرول جائز نه دي بلکه ددے په ځائے حرف به اودرولے شي په هرمقام باندے.

دمنادئ تعريف: منادي داسے اسم ته وئيلے شي چه دهغے دمسمی توجه د داسے حرف په ذريعه طلب کړے شي چه دادعوا قائم مقام وي خواه توجه بالوجه طلب کړے شي .يائوجه بالقلب بهر تقدير توجه حقيقي طلب کړے شي يا توجه حکمی عام ددينه چه طلب لفظي وي ياتقديري وي.

سوال: داقبال لفظ په دے تعريف کښے راغلے دے داقبال نقيض ادبار دے لهذا مقبل بالوجه يعني متوجه بالوجه تعريف به شامل نه وي نداء ته هم دا تعريف شامل نه دے چه مثلًا د ديوال نه روستو وي ځکه چه ددے توجه بالوجه ممکن نه ده لهذا دمنادي تعريف جامع نه دے؟

جواب: داقبال نه مراد توجه ده خواه توجه بالوجه وي ياتوجه بالقلب وي لهذا د مقبل بالوجه په نداء

كښې ذاقبال نه توجه بالقلب مطلوب شي چه ممكنې حاصل نه وو او توجه بالوجه اګر چه ممكنې حاصله وه ليكن مطلوب نه ده.

سوال: ذمنادي تعريف جامع نه دے پاسماء ياجبال يا ارض وغيره نداء ته شامل نه دے ځكه چه په دے اشياؤ كښې نه خو توجه بالقلب كيدے شي اونه توجه بالوجه.؟

جواب: ذتوجه نه مراد عام دے خواه حقيقي وي ياحكمي. دغه اشياء مذكوره كښې اګر چه توجه حقيقي متحقق نه ده ليكن توجه حكمي يقينا موجود ده په داسې طريقه چه اولاً دغه اشياء مذكوره د داسې ځمز په مرتبه كښې كوز كړے شي اوعرض اوكړے شي چه په كوم كښې ذنداء اواقبال صلاحيت موجود دي روستو ذهغې نداء به كولې شي اوحرف ندا به داخلولې شي.

سوال: دمنادي داتعريف جامع نه دے په دے وجه باري تعالىٰ ذپاره قلب هم نشته نوتوجه بالوجه ياتوجه بالقلب به څه رنګ مطلوب كيدے شي؟اودغه رنګ منادي حكمي ذلاندے مندرج اومنلے شي نوبے ادبي ده لكه څه رنګ چه پټه نه ده؟

جواب: ذباري تعالىٰ مطلوب الاقبال كيدل په معنى ذمطلوب الاجابه دے فاندفع الاشكال.

سوال: ذمنادي تعريف دخول غيرنه مانع نه دے داپه مندوب باندے صادق راځي ځكه چه مندوب دداسې اسم نوم دے چه ذهغې توجه حكمي مطلوب وي حالانكه علامه ابن حاجبؒ په نيزد مندوب منادىٰ جدا جدا دي يوشې نه دے .

جواب: په مندوب باندے داتعريف صادق نه راځي ځكه چه ذمندوب ذپاره مندوب باندے ذ حرف نداء داخلول تفجع اوذغم ذاظهار ذپاره وي هلته مطلوب اقبال نه وي لهذا تعريف دخول غيرنه مانع شو.

سوال: ستاتعريف جامع نه شو پاريد لاَتَقْبَلْ دامنادىٰ ده ليكن دلته توجه مطلوب نه ده بلكه عدم توجه مطلوب ده حالانكه منادي ده؟

جواب: ستاسو پيش كړے شوي مثالونو كښې دوه حيثيتونه دي يوخوداده چه ديته ذنهي كلام واورولې شي نوپه دے حيثيت سره منادي ده نوتعريف هم صادق راځي په دويم حيثيت سره هغه منع كولې شي نو په دے حيثيت سره دامنادي نه ده بلكه په دے حيثيت سره خومقصود بالنداء

دة.

سوال: ستاسو دمفعول به دوجوبًا حذف کیدو مقامات څلور بیان کړی دی حالانکه ددے نه علاوه نور مقامات هم شته مثلًا(۱)باب اغرا.(۲) باب ترحم(۳) باب ذم(۴) باب مدح. باب اغراء کښے هم دمفعول به عامل وجوبی طور بانديے حذف کيږی لکه اخاک اخاک په ديکښے اِلزَم فعل محذوف دے دباب ترحم مثال ارحم بزيد المسکين اے اَعنِی المِسکِينَ په ديکښے اعنی فعل محذوف دے دباب ذم مثال مررت بزيدن الفاسق اے اغنی الفاسق. دباب مدح مثال الحمد لله الحميد.

جواب: مصنف چه کوم مشهور مقامات دی هغه ئے بيان کړل باقی ئے پريخودل .

جواب: دامقام هم ضمنًا بيان شوی دی چه لکه څه رنګ نحويانو باب اغراء په تحذير کښے شامل کړے دے اوباقی تمام په منادی کښے نوهغه منادی کښے ضمنا بيان شول .

جواب: ددغه مقامات اربعه ؤ تخصيص دحصر دپاره نه دے بلکه دکثرت مباحث په وجه دے يعنی مباحث کثيرة ددے متعلق وو په دے وجه دغه څلور مقامات ئے بيان کړل.

سوال: منادی کښے فعل ولے حذف کولے شی ؟

جواب: منادی کثير الاستعمال اوقاعده ده چه الکثرة يقضی الخفة کثرت دخفت تقاضاکوی په ديوجه فعل حذف کولے شی لفظًا اوتقديرًا ددے تعلق حرف نداء اومنادی دواړو سره کيدے شی يعنی حرف نداء کله به لفظونو کښے دی يازيد يا مقدر به وی لکه يوسف اعرض عن هذا البته په دے سوال کيږی.

سوال:ستاسو سره څه قرينه ده چه يوسف بانديے حرف ندا حذف ده؟بلکه دا ترکيب کيدے شی چه يوسف مبتدا جوړه کړے شی اواعرض عن هذا خبر جوړکړے شی.

جواب: داترکيب نه شی کيدے ځکه چه اعرض جمله انشائيه ده چه دمبتدا دپاره خبر نه شی جوړيدے نولهذا همدا قرينه ده چه دلته حرف ندا محذوف ده په اصل کښے يايوسف ىع وو اوددے تعلق دمنادی سره وی نويابه مطلب داشی چه منادی موجود وی په لفظونو کښے لکه يازيد يا محذوف وی لکه الايسجد په اصل کښے وو الايا قوم اسجدوا نو ترکيبونه بوه شول پرومبی ترکيب

كښې دَحرف نه حال جوړ كړے شي لفظاً تقديراً اودونم تركيب لفظاً اوتقديراً دا دواړه دا منادئ نه حال جوړ كړے شي.

سوال: ستاسو دا وينا چه حرف نداء هم حذف كيدے شي داصحيح نه دۀ ځكه چه په ديكښے خو دَقائم مقام حذف كول به لازم راشي حالانكه قائم مقام نه حذف كيږي.

جواب: كله كله قائم مقام هم حذف كولے شي لكه ضربي زيداً قائماً دلته په اصل كے ضربي زيداً حاصل اذا كان قائماً وو.

سوال: حرف نداء قائم مقام دَادعوا جوړول درست نه دي ورنه لازم به شي داجمله نداشيه جمله خبريه كيدل ځكه چه ادعُوا خو جمله خبر يه دۀ حالانكه داخبره مسلم دۀ چه جمله نداشيه انشائيه وي.

جواب: ادعوا هم جمله انشائيه دۀ چه دداسے فعل خبر اوانشاء كيدل قصد متكلم پاندے موقوف كيږي او دلته دَمتكلم مقصد انشاء دۀ لكه باب قسم كښے أقسم انشاء دۀ اخبار نه دے.

فائده: دمضاف دَعامل په باره كښے اختلاف دے په ديكښے درے مذاهب دي (۱) دَسيبويه مذهب(۲) دَابو العباس مبرد مذهب (۳) دَابوعلي مذهب دَسيبويه مذهب دادے چه په منادئ كښے عامل ادعوا فعل دے او ادعوا حذف كړے شوے دے دَكثرت استعمال په وجه ابو العباس مبرد وائي چه داحرف نداء دَفعل قائم مقام دۀ ليكن عامل ناصب هم حرف ندا دے درنم مذهب دابوعلي دے ددۀ په نيزد دا حروف نداء اسماء افعال دي لكه څه رنګ اسماء افعال دامر حاضر په معني پاندے كيدو سره روستو اسم ته بنابر مفعوليت نصب وركوي دغه رنګ دا حروف نداء هم منادئ ته بنابر مفعوليت نصب وركوي. يادساتئ چه ددے دواړو مذهبونو مطابق د افي مانحن فيه نه به اوزي نو دا هم يادساتئ چه په دوئ كښے راجح مذهب دَسيبويه دے.

فائده: دَمنادئ منصوب كيدو كښے دَمنادئ عامل كښے دوه اختلافونه دي.هرڅه دي مګر دا خبره هم اتفاق دے چه منادئ دَجملے جزء نه دے ځكه چه دانه مسند وي اونه مسند اليه دَجمله كيدو په توجيه كښے اختلاف دے سيبويه وائي چه دَجملے دواړه خبرونه فعل اوفاعل مقدر دي ادعوا اودد ے دننه ضمير متكلم اوداحرف نداء نه دَجملے خبر دے اونه هم منادئ جزء دے دَمبردپه نيزد حرف نداء دَ جملے دوه اجزاؤ نه يوجزء دے اوفاعل ددے مقدر وي داخبره بالكل

غلطه ده ځکه چه ددینه یوازے دفاعل حذف لازم راځي دابوعلي په نیزد یوجزء یوداحرف نداء ذعل دے دوئم جزء په دیکښے دمتترد دے بهرحال منادي دهیچا په نیزد دامام سیبویه دے په دے وجه منادیٔ ئے په دے باب کښے ذکر کړه چه کوم ځائے دمفعول به عامل په وجوبی طور بانده حذف کولے شي.

قولُهٗ وَيُبْنٰى عَلٰى مَايُرْ فَعُ بِهٖ اِنْ كَانَ مُفْرَدًا مَعْرِفَةً نَحْوُ يَازَيْدُ وَيَارَجُلُ وَيَازَيْدَانِ وَ يَازَيْدُوْنَ

په دے عبارت کښے مصنف کمنادي اقسام بیانول غواړی چه دمنادي ټول څلور قسمونه دي یا داسے اوایه چه دمنادي اعراب بیانول غواړي .دمنادي څلور قسمونه دي. (۱) منادي مبني برعلامت رفع چه کله منادي مفردمعرفه وی(۲) منادي معرب مجرور چه کله مستغاث بالام وی. (۳) مبني علی الفتح چه کله مستغات بالام وی(۴) منادي معرب منصوب چه کله دغه مذکور نه وی منادي مفرد معرفه وی نومبني به وی علامت رفع بانديعلامت رفع عام ده خواه ضمه سره وی لکه یازید ،یارجل یاالف سره وی لکه یازیدان ،یارجلان یاواو سره وی لکه یازیدون اوکمعرفه نه مراد هم عام دے چه خواه قبل کنداء معرفه وی یاپس کندا نه معرفه وی اودغسے داهم یادساتئ چه مفرد دیو څوځیزونو په مقابله کښے راځي دلته مفرد مقابل د دمضاف اوشبه مضاف لهذا تثنیه اوجمع هغه ددغه مفرد دلانده داخل دي.

سوال: منادي علامت رفع اومنادي معرب مجرور منادي معرب منصوب بانده ولے مقدم کړو ؟حالانکه دمنصوباتو په بحث کښے مقصود بالذات منادي معرب همدغه منصوب دے؟

جواب: منادي غیر منصوب قلیل دے اومنادي منصوب معرب کثیر دے اوقاعده ده چه قلیل به کثیر بانده مقدم کولے شي داختصار پیش نظر داسے اوکړے شول چه غیر منصوب وه اوباقی غیر مقصود وو په دیکښے دا وهم وو چه دسامع د ذهن نه چرته اوله ځي. په دیوجه غیر مقصودئے مقدم کړو اومقصود ئے مؤخر کړو ځکه چه دمقصود دذهن نه دوتلو احتمال هم محال دے.

سوال: ستاسو اوونیل یُبْنیٰ علی یرفع به مبني لوستلے شي علامت رفع بانده رفع لوستل اومبني لوستل دا خواجتماع ضدین نقیضین دي.

جواب: فاضل هندي جواب ورکړو چه دَ يُبْنٰى ضمير مبنى په طرف واپس كيږي اودَيرفع ضمير مطلق اسم په طرف واپس كيږي مطلب به داشي چه مبني اولوستلے شي اوعلامت رفع باندے چه مطلق اسم باندے لوستلے شي.

جواب: مولانا جاميؒ جواب ورکړے دے چه دلته تناقض نشته ځکه چه دَتناقض دَپاره وحدت زمان شرط دے اوحالانکه دلته زمانے مختلف دي ځکه چه يُبْنٰى پس دنداء نه اويرفع مخکښے دَنداء ده.

سوال: منادي مفرد معرفه دَكاف اسمي په ځائے واقع كيږي اوكاف اسمي ،كاف حرفي سره مشابهت لري. لفظاً هم اومعني هم اوچونكه كاف حرفي مبني الاصل دے.

اوقاعده ده چه دَيواسم په داسے ځائے كښے واقع كيدل چه دمبني الاصل مشابه وي نودا مناسبت معتبره مؤثره فى البناوي ددے تفصيل دا دے چه يازيد بمنزله دَادعُوا دے لهذا كلمه يا قائم مقام فعل دَ ادعوا واقع دے. اوزيد چه منادي دے دَكاف خطاب اسمي په ځائے واقع شوے دے اوكاف خطاب اسمي دَكاف خطاب حرفي مشابه دے لفظونو كښے هم اودَمعني په اعتبار سره هم دَلفظونو په اعتبار سره مشابهت ظاهر دے .شكل اوصورت د دواړو يوشان دے اودَمعني په اعتبار سره مشابهت په دے طريقه دے لكه څه رنګ كاف خطاب حرفي مفرد معرفه دَ خطاب دَپاره وي دغه رنګ كاف خطاب اسمي هم مفرد معرفه خطاب دَپاره وي .

سوال: كاف خطاب حرفي ته معرفه وئيل صحيح نه دي په دے وجه چه معرفه خودَاسم قسم دے؟

جواب: دَكاف خطاب حرفي ته معرفه وئيل مابغير التعيين په اعتبار سره دے اوددغه معني په اعتبار سره معرفه كيدل اسم ته مستلزم نه دے.

فائده: كاف خطاب اسمي لكه دَ ادعوک كاف كاف خطاب حرفي لكه دَ ذالک كاف،كاف خطاب اسمي هغه وي چه دَهغے په ځائے دَاسم واقع كيدل صحيح وي اوكاف خطاب حرفي هغه وي چه دهغے په ځائے دَاسم واقع كيدل صحيح نه وي.

سوال: دَذالک كاف اسمي ولے نه كيږي؟

جواب: دکاف خطاب اسمی محل اعراب کیدل ضروری وی اود ذالک دکاف محل اعراب نه شی کیدے ددے نه معلومه شوه چه د ذالک کاف کاف خطاب حرفی دے.

سوال: دمنادی دمبنی کیدو وجه خو معلومه شوه لیکن منادی مبنی علی الحرکت ولے وی؟او حالانکه په بناء کښے اصل مبنی علی السکون کیدل دی. ؟

جواب:مبنی برسکون کیدل دمبنی الاصل داحکامو نه دے اودمنادی مفرد معرفه بناء عارضی دے په دے وجه بناء عارضی اوبناء اصلی کښے فرق کولو دپاره دامبنی عله الحرکت کړے شوی ده.

سوال: چلو دا معلومه شوی ده چه منادی مفرد معرفه مبی علیٰ الحرکت ده لیکن دا اوښایئ چه حرکات ثلاثو نه مبنی علی الضم ولے کړے شوی ده؟مبنی علی مایرفع ولے کړے شوی ده؟

جواب: منادی مفرد معرفه که چرے مبنی علی الفتح کړے وے نومنادی منصوب سره به التباس لازم راغلے وے اوکه چرے مبنی علی الکسرکړے وے نو ددے التباس دهغه منادی سره لازم راغلے وے چه یائے متکلم طرفته مضاف وی اویائے متکلم حذف کړه کسره باندے اکتفا اوکړے شو لکه یاغلام کښے یاغلام په دے وجه منادی مفرد معرفه دحرکات ثلاثونه حرکت ضمه یا علی مایرفع ضمه الف اویا باندے مبنی کړے شوی ده.

سوال: چه کوم وخت دعلم تثنیه راوړے شی نوپه دے باندے الف لام داخلوی څکه چه دتثنیه په وجه تعدد پیدا کیږی چه دهغے په وجه په دیکښے نکارت راځی نو ستاسو الف لام دلته داخل ولے نه کړو؟

جواب: دزیدان نکارت دحرف نداپه وجه ختم شوے دے که چرے الف لام هم داخل کړے وے نو دوه معرفے به جمعے شوے وے حالانکے ددے جمع کیدل جائز دی.

سوال: یازید کښے زید د مخکښے نه معرفه ده په دیکښے هیڅ نکارت نشته بیاحرف نداداخله کړے شوه نودوه معرفے جمع شوے حالانکه ستاسو اوونیل چه دمعرفتین اجتماع ناجائز ده؟

یو اله دتعریف اود معرفه جمع کیدے شی مونږ چه څه اوونیل دهغے مقصد دادے چه دوه آلے دتعریف نه شی جمع کیدے او یازیدان کښے دالف لام په وجه الف لام اویا حرف ندا دوه آلے

دَتعريف جمع كيږي .

قولهٗ وَيُخْفَضُ بِلَامِ اَلِاسْتِغَاثَةِ نَحْوُيَالَزَيْدٍ په دے عبارت كښے دَمنادي دونم قسم يا دَمنادي دَاعراب دونم قسم بيانوي چه هغه مكسور دے منادي مكسور هغه وخت به لوستلے شي چه كله په هغے بانده لام استغاثه داخل وي اولام استغاثه هغه وي چه منادي مستغاث بانده داخل وي اومنادي مستغاث هغه وي چه مستغيث مستغاث دَمستغاث له دَمدد دَپاره چغه اوهي.

سوال: دادَ منادي قسم مستغاث باللام مبني ولے نه وي حالانكه علت بنا يعني كاف ضمير خطابي اسم په ځائے واقع كيدل موجود دي؟

جواب: دا لام استغاثه لام جاره دے دَاسم عظيم خواصونه دے چه دَهغے په وجه دَمنادي مشابهت ضعيف شوے دے .چه دَموثر في البنا كيدوهم صلاحيت نه لري. په دے وجه منادي هم منادي معرب به پاتے شي ځكه چه اصل په اسماؤ كښے معرب كيدل دي.

سوال: كه دَلام جاره دَ دخول په وجه مناسبت دَمبني الاصل سره ضعيف شي نوبيا دَ حرف جارغيرمنصرف بانده داخليدو سره هغه اسم منصرف كيدل پكار وو. حالانكه غيرمنصرف بدستور باقي پاتے كيږي .

جواب: دَغير منصرف چه كوم مناسبت دے هغه مناسبت قوله دے چه دَ لام جاره په غير منصرف بانده داخليدو باوجود باقي پاتے كيږي اوحالانكه منادي مفرد معرفه په مناسبت مبني الاصل سره بالواسطه كيدو په بنا بانده ضعيف وو چه لام جاره دَاسم خاصه كيدو په وجه مزيد ضعيف شوے دے لهذا دا موثرفي البنا نه شي كيدے.

سوال : ستاسو اوونيل يالَزَيْدٍ داكمنادي مستغات باللام لام جاره دے . حالانكه لام جاره مكسور وي.نودلته مفتوح ولے دے.

جواب: چونكه منادي دَكاف ضمير خطاب په ځائے واقع دے .اوكاف ضمير خطاب بانده لام جاره داخله شي نوهغه مفتوح كيږي .په دے وجه چه كوم كاف ضمير خطاب په ځائے واقع شي په هغے چه كوم لام جاره داخل شي هغه به هم مفتوح وي.

سوال: ددے څه وجه ده چه ضميرونو بانده لام جاره مفتوح وي؟

جواب: ستاسو داسوال مه کوئ چه لام جاره مفتوح ولے وی ؟بلکه داسوال کوئ چه لام جاره مکسورولے وی ځکه چه دَلام جاره مکسور کیدل عارضی دی او مفتوح کیدل اصل دی مکسور په دے وجه اولوستلے شو چه دَلام تاکید سره التباس لازم رانشی ځکه چه لام تاکید مفتوح وی که چرے داهم مفتوح اولوستے شی. نو التباس به لازم راشی اوچونکه لام تاکید په ضمیرونو باندے نه داخلیږی په دے وجه په ضمیرونو باندے چه کوم لام جاره راشی هغه په خپل اصل باندے یعنی مفتوح کیدو باندے باقی پاتی شی.

سوال: ستاسو اووئیل ضمیرونو باندے لام تاکید نه داخلیږی مونږ درته ښایو چه لام تاکید په ضمیر باندے داخل دے. لکه اِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ دلته لام تاکید هوضمیر باندے داخل شوے دے.

جواب: دَضمیر نه مراد ضمیر متصل دے نه ضمیر منفصل .اوضمیر متصل باندے لام تاکید نه داخلیږی اوستاسو چه کوم مثال پیش کړے دے په هغے کښے ضمیر منفصل باندے لام تاکید داخل دے .

سوال: لام استغاثه لام جاره دے دَلام جاره چه کومے معنی ذکر کړے شوی دی دَهغے په کومه معنی کښے دے؟

جواب: دالام تعلیل دے (کمافی حاشیه العصام) نودَ یالَزید نه مراد دا وی اُغِثْنِیْ لِنَفْعِكَ یالَاَجْلِكَ اودَیالَلّٰه نه مراد داوی اُغِثْنِیْ لِکَرَمِكَ او بعضو لام اختصاص په معنی دَکثر ونیلے دے.

سوال: منادی بلام تعجب هم مجرور وی یالَلماء او بلام تهدیدهم.لکه یالَزَیْدٍ لاقتلنك نومصنف دغه دواړه ذکرولے نه کړل ؟اودغسے ددغه دواړو نه ذکر کولوسره آئنده راتلو والا قول وینصب ماسواهماصادق نه راځی چه ماسوا کښے منادی متعجب اومنادی مهدد داخل ده حالانکه دامنصوب نه وی.

جواب: دا دواړه لامونه لام استغاثه کښے داخل دی .اول په دے وجه چه ګویا متعجب په صیغه دَاسم فاعل متعجب منه نه استغاثه کوی. چه هغه خپل حال کثرت بدل کړی چه ددهٔ تعجب زائل شی. اودوئم په دے وجه چه مُهَدِّد په صیغه دَاسم فاعل متعجب منه نه استغاثه کوی.چه هغه خپل حال

کثرت بدل کړی چه ددهٔ تعجب زائل شي. اودوئم په دے وجه چه مُبِّد په صیغه داسم فاعل مذد نه دا استغاثه کوی په هغه خپل حال کښے تبدیلي اوکړی اوموجب قتل خصلت دِ پریږدی. چه هغه اِثم قتل کښے گرفتار نه شي. کمافی حاشیه العصام)

جواب: دلته مضاف محذوف دے تقدیر عبارت به داسے شي ويُخْفَضُ بِنَحْوِ لَامِ للاستغاثة

سوال: ددغه لام متعلق څوک دے؟

جواب: دَبعضو په نیزد زائده دے په دے وجه دَمتعلق هیڅ ضرورت نشته اوددهٔ مدخول منصوب محلًا دے اودَعلامه مبرد په نیزد دَحرف نداء سره متعلق دے ځکه چه هغه قائم مقام دے دَفعل نو لهذا داظرف لغو شو اوامام سیبویه اودَعلامه ابن منصور په نیزد دَفعل مقدر سره متعلق دے نولهذا دا ظرف لغو به شي. ادعوا متعدی بنفسه دے لهذا لام تعدیة څه رنګ راوړلے شوے دے؟

جواب: بے شکه لیکن په وجه تقدیری ضعف پیداشو نولام دَپاره دَتعدیة دے په دوئم قول سره اوپه قول اول سره قائم مقام دے یاخپله ضعیف دے نواوس به هم لام دَپاره دَ تعدیه شي (کما في حاشیه المولوی عبدالحکیم)

قولهٔ وَيُفْتَحُ لِإِ لْحَاقِ أَلِفِهَا وَلَا لَا مَ فِيْهِ نَحْوُيَازَيْدَاهْ. په دے عبارت کښے دَمنادیٰ دَ قسم ثالث بیان یادحکم درنم بیان یاداسے اوایه چه دَ منادیٰ دَدرنم اعراب بیان دے چه منادی دَالف استغاثه دَالحاق په وخت منادی علی الفتحه به شي.

سوال: دامبنی په فتحه سره به ولے شي ؟

جواب: مبنی خوبه دهغه علت په بناء باندے چه ماقبل کښے بیان کړے شوے دے چه دامنادی مستغاث بالالف کاف ضمیر خطاب اسمي په ځائے باندے واقع دے. اوباقی پاتے شوه مبنی علی الفتحه ځکه چه ددے علت دادے چه ددے په آخر کښے الف دَ استغاثه دے چه کماقبل دَفتحے مقتضی دے په دے وجه مبنی په فتحه سره نے کړو.

سوال: ولا لام فیه ستاسو اوونیل دغه منادی مستغاث بالالف باندے لام استغاثه به نه داخلیږی ددے څه وجه ده؟

جواب: دلام مقتضی جر دے او دَالف مقتضی فتحه ده او ظاهرده چه جر او فتح دواړو کښے منافات دے لهذا دَلام دَالف سره اجتماع نه کیږی .

سوال: مررت بِاَحْمَدَ کښے جر خو دَفتحے تابع دے دغه رنګ رایت مسلمات نصب دَجر تابع دے چه ددینه پته لږی چه جر او فتحه کښے هیڅ منافات نشته؟

جواب: دَجر او فتحه ترمینځ منافات هله وی چه کله فتحه دَجر په حکم کښے نه وی او جر دَفتحه په حکم کښے نه وی او که چرے جر دَفتحه په حکم کښے وی او فتحه دَجرپه حکم کښے وی نو دپه دے صورت کښے منافات نه وی.

فائده: بهتره داده چه دَعدم اجتماع لام مع الالف علت داسے بیان کړے شی چه لام استغاثه دَمنادی دَمعرب کیدو مقتضی دے او الف استغاثه دَمنادی دَمبنی کیدو مقتضی دے او دا خبره ظاهره ده چه معرب او مبنی کښے یقیناً منافات دے په دے وجه دَالف استغاثه سره دَ لام استغاثه اجتماع نه کیږی منادی مستغاث بالالف مثال: یَازَیْدَاهُ! دامستغاث مبنی په فتحه دے الف دَپاره دَاستغاثه دے ۀ دَپاره دَوقف دے.

قولُهٗ وَيُنْصَبُ مَاسِوَاهُمَا نَحْوُيَاعَبْدَ اللّٰهِ وَيَاطَالِعًا جَبَلًا وَيَارَجُلًا لِغَيْرِ مُعَيَّنٍ.

په دے عبارت کښے دَمنادی دَڅلورم حکم بیان او دَ اعراب دَڅلورم قسم بیان دے چه منادی مفرد معرفه او منادی مستغاث دَمذکور نه ماسوا منادی منصوب وی لفظا یاتقدیرا په دے شرط چه ماسوا دمخکښے ذکدا نه معرب وی.

سوال: په کافیه کښے خو تصرف دَنصب ذکر دے او ستاسو دَلفظا او تقدیرًا قید ولے زیات کړے دے؟

جواب: په دے وجه چه منصوب خوهره منادی وی خواه لفظا وی یا تقدیرًا یامحلًا څکه چه مفعول به دے بیا دَماسواڅه رنګ تخصیص کیدے شی؟ په دے وجه داقید معتبر دے .

سوال: دَقبل ازندا معرب کیدو قید نے ولے لګولے دے اوحالانکه په کافیه کښے نشته؟

جواب: په دے وجه چه ماسوا که چرے مخکښے ذندا نه مبنی دے نو منصوب محلًا به وی لفظا او تقدیرًا به نه وی په دے وجه دا دواړه قیدونه معتبر دی قرینه هم تخصیص دے چه ماسوا

سره ددے حكم تخصيص بغير دقيدونو مذكوره درست نه دے.

سوال: منادى مفرد معرفه په شان ماسوا هم كاف خطاب هم دضمير په ځائے واقع كيږى نو بيا مبنى ولے نه دے؟

جواب: مبنى په دے وجه نه دے چه ماسوا كښے كبناء سبب وو ددے يوجز مفقود دے اوهغه افراد اوتعريف كښے مماثلت دے ځكه چه دماسوا څلور قسمونه جوړيږى. (۱) مضاف معين وى لكه ياعبدالله (۲) شبه مضاف معين وى لكه ياطالعا جبلًا په دے دواړو كښے افراد مفقود دے نه چه تعريف په اول كښے په دے وجه چه معرفه دے. دونم په دے وجه چه معين مراد دے. (۳) نكره مفرده غيرمعينه لكه يا رجلًا په ديكښے تعريف مفقود دے نه چه افراد (۴)مضاف ياشبه مضاف غير معين وى لكه ياغلام رجلٍ ضعيفا يا حُسْنًا وجهه ظريفًا په ديكښے افراد اوتعريف دواړه مفقود دى افراد خوپه دے وجه چه اول مضاف دے دونم په دے وجه چه شبه مضاف دے اوتعريف په دے وجه چه غيرمعين مراد دے.

سوال: مصنفؒ متعدد مثالونه ولے وركړى دى حالانكه توضيح دپاره خويو مثال كافى وو.

جواب: دمنادى مفرد معرفه نه ماسوا دمنادى څلور قسمونه جوړيږى ځكه چه دقيدونو دمجموعه انتفاء په دوه طريقو سره وى. (۱) دهرقيد على سبيل البدليت انتفاء وى(۲) دقيدونو نه هر قيد منتفى وى عام دا وائى چه فقط دمفرد دقيد په انتفاء سره دوه قسمونه راوځى. (۲) منادى مضاف وى(۲) مشابه بالمضاف وى اودمعرفه دقيد په انتفاء سره يوقسم راوځى. يعنى منادى مفرد وى اونكره وى اودواړه قيدونه دمفرد معرفه دمجموعه په انتفاء سره يوقسم بل راوځى يعنى چه كوم مفرد هم نه وى اومعرفه هم نه وى. ټول څلور قسمونه شول په دے وجه مصنف مختلف مثالونه وركړى دى.

سوال: مصنفؒ بيا دڅلورم قسم مثال ولے ورنكړه.

جواب: په دے وجه ددونم مثال ياطالعا جبلًا د دواړو جوړيږى. كه د طالعاً نه معين مراد وى نو دونم قسم او كه د طالعًا نه غير معين مراد وى نو دڅلورم قسم مثال به جوړشى ځكه چه دنكره تعين اوعدم تعين دارومدار خودمتكلم په قصد باندے دے.

سوال: یا طالعاًجبلًا دا مثال بالکل غلط دے ځکه چه په دیکښے دَ فاعل دَعمل دَپاره شرط اعتماد دے چه دلته مفقود دے دغه رنګ حسنٌ صفت مشبه دے ددهٔ دَعمل دَپاره هم اعتماد شرط دے.

جواب: په مذهب دَ علامه اخفش نور نحاة کوفیه دی ځکه چه د دوئ په نیزد اعتماد شرط نه دے .

جواب: علامه ابن مالک یعنی دَصاحب الفیه په مذهب باندے دے ځکه چه د دوئ په نیزد اعتماد په دغه اشیاء سته باندے منحصر نه دے بلکه یاحرف ندا باندے هم اعتماد کیدے شی.

جواب: په مذهب دَمصنف چه دلته اعتماد په موصوف مقدر دے په اصل کښے وویا رجلا طالعًا جبلًا نو دلته طالعًا رجلًا موصوف مقدر باندے اعتماد دے لهذا د. دواړو مثالونه شول.

سوال: صاحب کافیه دَمنادی مفرد معرفه نه دَماسوا مثالونه پیش کړی دی. لیکن دمنادی مستغاث نه دَ ماسوا مثالونه نے ولے پیش نه کړل؟

جواب: مولانا جامیؒ جواب ورکړو چه وروره همدغه مثالونه چه کله څه رنګ دَمنادی مفرد نه دَماسوا مثالونه دی بالکل هم دغسے هم دامثالونه دَمنادی مستغاث نه دَماسوا هم دی .لهذا دَ منادی مستغاث ماسوا مثالونه تلاش کول حماقت نه دے نو نور څه وی.

قولهٗ وَتَوَابِعُ الْمُنَادَىٰ الْمَبْنِيُّ الْمُفْرَدَةُ مِنَ التَّأكِيْدِ وَالصِّفَةِ وَعَطْفِ الْبَيَانِ وَالْمَعْطُوْفِ بِحَرْفِ الْمُمْتَنِعِ دُخُوْلُ يَاعَلَيْهِ تُرْفَعُ عَلىٰ لَفظِهٖ وَتُنْصَبُ عَلىٰ مَحَلِّهٖ مِثْلُ يَازَيْدُ نِ الْعَاقِلُ الْعَاقِلَ

ددے عبارت نه مصنف دَمنادی توابع بیانوی چه لکه څه رنګ دَمنادیٰ اووه احتمالات وو نودغه رنګ دمنادی دَتوابعو هم اووه احتمالات دی دَمنادی اووه صورتونه دادی (۱) مفردمعرفه(۲) مستغاث بالام (۳) مستغاث بلالف(۴) منادی مضاف (۵) منادی شبه مضاف (۶) منادی نکره غیر معین (۷) منادی مفرد وی نه مضاف وی نه شبه مضاف نه معرفه وی دَ منادی اووه توابع دی(۱) تابع تاکید معنوی (۲) تابع تاکید لفظی (۳)تابع صفت(۴) تابع عطف بیان (۵) تابع بدل (۶) داسے معطوف بالحرف چه په هغے باندے دَ حرف ندا داخلول ممتنع وی. (۷) تابع داسے معطوف بالحرف چه په هغے دَحرف ندا داخلول ممتنع نه وی جائز وی همدغه اووه توابع دَمنادی اووه صورتونه نه بیادَ

یوسره ملاؤ شي اوو ه ته په اوو ه کښې ضرب ورکړے شي نو اونجاس (۴۹) توابع جوړيږي دمنادي ووه قسمونونه پرومبے قسم منادي مفرد معرفه مبني على الرفع د توابعو نه څلور يعني تاکيد، صفت ،عطف بيان اومعطوف معرف باللام حکم بيانوي په دے عبارت کښې چه دغه توابع مذکوره کښې دوه وجې جائز دي.

(۱) رفع (۲) نصب، نصب خود منادي په لفظ بانديے محمول کولوسره په لوستلے شي. اورفع په دے وجه لوستل جائز دي چه په محل بانديے حمل کړے شي يادساتئ په ديکښې درے قيدونه دي اويوتعميم دے پرومبے قيد د منادي سره دمبني کيدو دے دونم قيد دمبني سره دعلى مايرفع به قيد دے درنم قيد دتوابع سره دمفرد کيدو سے او يو تعميم دے چه مفرده توابع مفرده کښې حقيقتاً ياحکمًا اوداهم يادساتئ چه ددغه قيودات ثلاثه ونه دقيد ثاني اضافه مولانا جامي کړي ده داهم يادساتئ دعطف بيان نه مراد عام دے چه معرف باللام وي يانه وي دغه رنګ دصفت نه هم مراد عام دے صفت بحاله دي ياصفت بحال متعلقه وي البته دتاکيد نه مراد تاکيد معنوي. دے نه چه تاکيد لفظي څکه چه تاکيد لفظي هم دالفاظو تابع وي.

سوال: دتوابع باب خو مستقل راروان وو ددے څه وجه ده چه دمنادي توابع نے ددے نه جداکړل اودلته نے ولے ذکر کړل؟

جواب: دمنادي دتوابع احکام دعام توابعو په شان نه وو مخصوص وو په دے وجه مصنف دمنادي توابع دمنادي سره نے ذکر کړل.

سوال: دمنادي سره ئے دمبني قيد ولے لګولے دے؟

جواب: داحکم آتي جواز الوجهين چونکه منادي دمعرب په توابعو کښې نه جاري کيده په دے وجه صاحب کافيه منادي دمبني په قيد سره مقيد کړله . په دے وجه چه منادي معرب خواه مجرور وي يامنصوب توابع صرف دلفظ تابع به شي په دے وجه چه لفظ محل نه اقوی دے څکه چه لفظ ظاهر دے اومخفي دے او داخبره ظاهره ده چه خفي د ظاهر معارض نه وي البته ياد ساتئ چه دمعرب غيرمنادي تابع کله دمحل تابع وي لکه چه دانّ داسم د معطوف حکم دے.

والمضافة تنصب

- تاكيد: يَا تَيْمُ كُلُّهُمْ
- صفة: يَا زَيْدُ ذَا الْمَالِ
- عطف بيان: يَا رَجُلُ أَبَا عَبْدِ اللهِ

والبدل

- مفرد: يَا زَيْدُ عَمْرُو
- مضاف: يَا زَيْدُ أَخَا عَمْرٍو
- شبه مضاف: يَا زَيْدُ طَالِعًا جَبَلًا
- نكره غير معين: يَا زَيْدُ رَجُلًا صَالِحًا

والمعطوف غير ما ذكر حكمه حكم المستقل مطلقًا

- مفرد: يَا زَيْدُ وَعَمْرُو
- مضاف: يَا زَيْدُ وَأَخَا عَمْرٍو
- شبه مضاف: يَا زَيْدُ وَطَالِعًا جَبَلًا
- نكره غير معين: يَا زَيْدُ وَرَجُلًا صَالِحًا

مقدورات

	مقادير	حقيقي معنى	مثال	مجازي معنى	مثال	
قوله المراد بالمقادير ... الخ جامي ص۱۴۶	عِشْرُوْنَ	ذات عدد جو ۱۹ سے زائد اور ۲۱ سے کم ہے	عِشْرُوْنَ ضِعْفُ عَشَرَةٍ	معدود	عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا	ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًو
	رِطْلٌ	وزن	رِطْلٌ نِصْفُ مَنٍّ	موزون	عِنْدِيْ رِطْلٌ زَيْتًا	
	قَفِيْزَانِ	مکیال	قفيزان ضِعْفُ قَفِيْزٍ	مكيل	عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا	رِطْلٌ زَيْتًا
	زِرَاعٌ	آلہ	زِرَاعِيْ جَيِّدٌ مِنْ زِرَاعِكَ	مزروع	عِنْدِيْ زرع ثَوْبًا	
	مقياس	آلہ قیاس کردن	مقياسي أَحْسَنُ مِنْ مقياسك	مقيس	عَلَى التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا	

سوال: دَعلی مایرفع قید ستاسو دَمنادی مبنی سرہ ولے لګولے دے؟

جواب: په دے وجه چه دا حکم اتی جواز الوجهین مستغاث بلالف په توابع کښے نه جاری کیدو په دے وجه مولانا جامی دَمنادی مبنی سرہ علی ما یرفع قید اولګولو.

سوال: داحکم مذکور صحیح نه دے ځکه چه منادی مبهم مبنی په ضمه وی لیکن ددے تابع همیشه هم دَلفظ تابع وی نه دَمحل لکه یاایها الرجل.

جواب: دَمنادی مبهم تابع ددے حکم نه مستثنیٰ دے په دیمانډے قرینه دادہ چه دهغے حکم مخے ته راروان دے.

سوال: دَتوابع سرہ دَمفردہ قید ئے ولے اولګولو؟

جواب: په دے وجه چه حکم آتی جواز الوجهین مضاف نه جاری کیدو بلکه مضاف همیشه منصوب وی په دے وجهه دا قید ئے اولګولو .

سوال: مضاف باضافت په باضافت لفظی کښے دواړہ وجهے جائز دی لکه یازید الحسن الوجه اویازید الحسنِ الوجه بیا دَمفردہ تقسید څه رنګ درست دے.

جواب: المفردہ دَالمضافة په مقابله کښے مقرر کړے دے مصنف اوالمضافة نه مراد مضاف باضافت معنوی دے اوستاسوچه دامثال پیش کړے دے دامضاف باضافت لفظی دے اومضاف باضافت لفظی اوشبه مضاف دواړہ المفردہ کښے داخل دی. ځکه چه په دیکښے اضافت معنوی نشته.

سوال: توابع خو مشهور وو بیامن التاکید والصفة ددے تفصیل څه ضرورت وو حالانکه ستاسو دَ اختصار مدعی یئ.

جواب: ددے تفصیل کولو ضرورت په دے وجه پیه شو چه بعض توابع ددے حکم نه مستثنیٰ دی. لهذا چه کله داحکم دَبعضے توابعو شو نوددے دَتصریح کولوضرورت وو چه دادَ چا حکم دے اوڅوک چانه دے؟

سوال: دَحکم مذکور نه چه لکه څه رنګ بعضے توابع مستثنیٰ دی دغه رنګ بعضے مذکورہ توابعوکښے هم مستثنیٰ دی. لکه څه رنګ دَ توابعو نه دَتاکید ذکرئے اوکړو دلته مصنف تاکید لفظی اومعنوی دواړو ته شامل کړے دے حالانکه داحکم تاکید لفظی نه دے دَتاکید معنوی دے.

جواب: مصنف په شرح مفصل کښے ددے تصریح کړی ده چه ذ تاکید نه مراد تاکید معنوی دے البته دائے پریښودلے دے ځکه چه داخبره ذهن ته خود بخود راځی چه تاکید لفظی لفظًا اومعنًا عین اول وی په دے وجه حکم هم ذاول والا به شي. (کذافی حاشیه عبدالحکم) اوبعضو دا جواب ورکړے دے چه مصنف دامام سیبویه مذهب قبول کړے دے اوکسیبویه په نیزد داحکم ذتاکید لفظي اومعنوي دواړو دے.

سوال: ستاسو دعویٰ ذ اختصار ده نودا عبارت ستاسو له داسے وئیل پکار وو چه معرف باللام ؟

جواب: که چرے معرف باللام ئے وئیلے دے نوبیا خوبه شرط بیانیدے لیکن په شرط کښے ذمسئلے بیان نه کیدو اوزمونږ دغه عبارت نه اَلْمُتَنِعُ دُخُوْلُ (یاء) عَلَيْهِ په دیکښے شرط هم بیان و او مسئله هم بیان شوه چه معرف باللام باندے حرف ندانه داخلیږي.

امثله: منادی مفرد مبنی ذ علی مایرفع تابع تاکید معنوی وی ددے مثال یاتمیم اجمعون اویاتمیم اجمعین دواړه صورتونه جائز دی. دوئم مثال چه ددے تابع صفت وی لکه یازیدن العاقل والعاقل درئم مثال چه ذمنادیٰ مفرد تابع عطف بیان وی لکه یا غلام بِشْرٌ او بشرًا څلورم مثال چه ذمنادی مفرد معرفه تابع معطوف بالحرف وی داسے چه په هغے باندے ذحرف ندا داخلول ممتنع وی لکه یازید والحارث یازید والحارث.

سوال: مصنف څلورو مثالونو نه ذیو مثال ولے بیان نه کړو؟

جواب: ذاختصار پیش نظر هم یومثال ئے بیان کړے دے.

سوال: صاحب کافیه صرف ذ صفت په مثال باندے اکتفاکړی ده ذصفت ذمثال انتخاب ئے ولے اوکړو؟

جواب: امام اصمعی باندے ردمقصود دے چه دده په نیزد ذمنادی مبنی توابع مفرده نه صفت نه جوړیږي شی کیدے نومصنف تابع ذمتنازع فیه مثال بیان کړو امام اصمعی باندے اهتمام سره ئے رد اوکړو.

سوال: منادی ذمبنی تابع وی نو همیشه ذمحل تابع وی ذلفظ خو هیڅ تابع کیدے نه شي. نوستاسو دا وینا درسته څه رنګ کیدے شی چه تُرْفع علی لفظه وتُنْصَبُ علی مَحَلِّه ؟

جواب: داحکم د بناء اصلي دے یعني مبني په بنا اصل تابع همیشه هم دمحل تابع وي اودلته دمبني په بنا عارضي حکم بنودل مقصود دے چه منادی مبني په بناعارضي چه داځه رنګ دمحل تابع وي هم دغسے دلفظ تابع هم وي لکه څه رنګ مخکښے نسے اوونیل .

فائده : دبعضو په نیزد منادی چه دڅا صفت واقع کیږی اونه ددے صفت راوړلے شي. ددے مذهب والو دلیل دادے چه منادی دکاف ضمیر په ځائے واقع کیږی قاعدة دة چه الضمیرلایوصف ولایوصف به او نه دضمیر صفت روا‌ړلے شي اونه ضمیر خپله صفت واقع کیږی داقاعدة مسلمه دة لهذا منادی هم دضمیر په ځائے واقع کیدو په وجه نه ددے صفت راوړلے شي اونه دا خپله صفت واقع کیږی.

جواب: منادی ضمیر په ځائے بانددے واقع کیږی لیکن ددے قائم مقام نه کیږی که چرے قائم مقام کیدے نودضمیر تمام احکام به په دے جاری کیدے ځکه چه دضمیر قائم مقام نه دے بلکه ددۀ په ځائے واقع دے .په دے وجه تمام احکام په ضمیر باندے نه جاری کیږی .

جواب: منادی اګرچه دضمیر په ځائے واقع کیږی لیکن بیاهم اسم ظاهر دے اودااسم ظاهر کیدو په وجه ددے صفت راوړلے شي.

قوله وَالْخَلِيْلُ فِي الْمَعْطُوْفِ يَخْتَارُ الرَّفْعَ وَاَبُوْ عَمْرٍو النَّصْبَ وَاَبُوالْعَبَّاسِ اِنْ كَانَ كَالْحَسَنِ فَكَالْخَلِيْلِ وَاِلَّا فَكَاَبِيْ عَمْرٍو په دے عبارت سرة مصنفؒ دامام خلیل اوقاری ابوعمروسوسی ترمینځ یواختلاف بیانوی اوبیادسائے چه دااختلاف دجواز اوعدم جواز په باره کښے نه دے بلکه داختیار اوعدم اختیار په باره کښے دے. چه دهغے حاصل دادے چه معطوف مذکور یعنی معرف باللام کښے اختلاف دے چه رفع لوستل بهتر دی یانصب . دامام خلیل مذهب دے چه رفع لوستل اولیٰ دی **رومبے دلیل**: یازید والحارث اګرچه منادی مستقل عونشته لیکن دمستقل منادی په حکم کښے دے اوچه کله دمنادی مستقل په حکم کښے شو نوپکار دا دة چه په دے باندے دمنادی والااحکام جاری شي اودمنادی مفرد معرفه حکم دا وو چه هغه مبني علی الضم وی په دے وجه دامبني علی الضم لوستل پکار ووځکه چه معرف باللام کیدو په وجه مستقل منادی نه جوړیږی په دے وجه

منبي علی الضم نه به شي لوستلے البته مرفوع لوستل بهتر دي دَابو عمرو مذهب دادے چه نصب لوستل اولیٰ دی. دونم دلیل دادے چه معرف باللام کیدو په وجه منادی مستقل هم نه جوړیږی چه کله دَ منادی مستقل کیدو حیثیت ختم شوے دے نولامحاله دَتابع کیدو حیثیت باقی دی اودَمنادی مبنی تابع دَ محل تابع وی اومحل چونکه دَمفعول کیدو په وجه منصوب وی په دے وجه په دے بانـدے نصب لوستل اولیٰ دی ابو العباس مبرد ددے دواړو ترمینځ محاکمه کړی ده که چرے معطوف معرف باللام الحسن په شان دے یعني ددینه الف لام جدا کیږی نوبیادَ خلیل مذهب مختار دے یعني رفع لوستل بهتر دي په دے وجه چه کله ددے الف لام حذف کولے شي نومونږ په ذهن کښے داخیال اوکړو چه روره گویا چه الف لام په دے باندے داخل نه دے او دادَمنادی مستقل حکم لری په دے وجه دا به مرفوع لوستلے شي اوکه چرے دامعطوف معرف باللام الحسن په شان نه وی یعني دد ے الف لام حذف کولے نه شي نوبیا دَابوعمرو مذهب مختار دے ځکه چه الف لام هم حذف کیدے نه شي نوددے دننه منادی مستقل کیدو حیثیث بالکل مفقود شوے دے لهذا دا دَ منادی تابع کیدو حیثیث سره په دے باندے نصب لوستل مختار به شي .

فائده: دَامام خلیل وجه اولیت بنظر معنی دے اودَابوعمرو بنظر لفظ دے لهذا رفع اونصب نه دَهریواولیٰ اوغیر اولیٰ دواړه کیدل په یوجهت سره لازم رانغے.

فائده: علم باندے دخول لام اودَ نزع لام په باره کښے ضوابط.

ضابطه: که چرے علم دَ الف لام سره وضع کړے شوے نه وی نوپه دے دَالف لام دخول صحیح دے اونزدع هم صحیح ده په دے شرط چه دغه علم په اصل وضع کښے صفت وی لکه حسنٌ یامصدر وی لکه فَضْلٌ داالحسنُ الفضل هم لوستلے شي ځکه چه په داسے علم باندے دَالف لام دخول په قصد دَتعریف نه وی ځکه چه هغه خو وضع علمی په وجه دَمخکښے نه حاصل شوے دے .لیکن یادساتئ داقاعده کلی نه ده لکه چه دَمحمد ﷺ داعلم چه هغه الحمدلله لوستل همدغسے دَعلی رضی الله عنه علم چه هغه العلی لوستل باوجود ددے چه دا دَاصل وضع په اعتبار سره صفت دے لیکن دَ الف دخول په دے باندے جائز نه دے .

ضابطه: هغه علم چه په اعتبار دَاصل وضع معنی کلی دَپاره موضوع وی چه په هغے سره مدح یاذم

په دے بنا بانـدے مقصود وی چه هغه معنی کلی ذ يو صفت مدح ياصفت ذم سره مشهور دے لکه آسَدٌ او کَلْبٌ په دے دواړو باندے ذالف لام دخول اوترع صحيح ده.

ضابطه :که ذعلم وضع الف لام سره ده نوپه دے سره ذالف لام نزع هیڅکله صحیح نه ده ځکه چه الف لام ذعلم جزء جوړ شوے دے.

سوال: ذابو عمرو عطف دے په خليل باندے اوذالخليل عامل معنوی رافع دے اوذالنصف عطف الرفع بانـدے دے چه په هغے کنبے عامل معنوی رافع دے اوذالنصب عطف الرفع باندے دے چه په هغے کنبے عامل يختار دے نوعاملين مختلفين دوه معمولو باندے د دوه اسونو عطف لازم راځی. حالانکه ددے قسم عطف ذپاره ذمعمول مجرورمقدم کیدل ضروری دی. چه دلته بالکل منتفی دے فکيف يصح العطف .

جواب: ابو عمرو مبتدا دے چه ذهغے خبر يختار محذوف دے لهذا داذ عطف الجمله على الجمله ذقبيلے نه ، نه ذعطف المفرد على المفرد ذقبيلے نه دے.

قـولُـهٗ وَالْمُضَافَةُ تُنْصَبُ، وَالْمُضَافَةُ عـطف دے پـه الـمفردة بانـدے نودمنادی مفرد معرفه ددغه څلورو تـوابع بيان دے چه کله ددے توابع مضاف وی مخکښے ذمفرد بيان وو اوس ذهغه څلورو تـوابعـو بيـان دے چه کله مضاف وی ددے حکم دادے چه په دے باندے نصب لوستل واجب دی .

دليل : کـه چـرے دا تـوابع خپله مضاف وے نو نصب لوستل دربانـدے واجب وو لهذا چه که دا تـوابع کيـدو سـره مضاف دی نوپه دے باندے نصب لوستل په طريقه اولیٰ به واجب شي .په دے وجـه چـه منادی مستقل کيدو په صورت کښے خوعلت ذبنا موجود وواګر چه هم ضعيف ولے نه وو او تابع کيدو په صورت کښے هغه ضيعف هم باقی پاتے نه شو لهذا ددے نصب په طريقه اولیٰ به واجب شي. مثالونه (۱) ذ منادی مفرد معرفه تابع تاکيد معنوی مضاف وی لکه يَاتَيْمُ كُلُّهُمْ (۲) تابع صفت مضاف وی لکه يَازَيْدُ ذالمال(۳) تابع عطف بيان مضاف وی لکه يارجل اباعبدالله يادساتئ څلورم قسم تابع معرف باللام مضاف مثالونه نه ملاويږی ځکه چه معرف باللام نه واقع کيږی.

سوال: ذ مـنادی مفرد معرفه توابع مضاف باضافت لفظیّه ددے حکم فقط نصب نه دے بلکه حکم

سابق جواز الوجهين دے؟ ددے حکم فقط نصب نه دے بلکه حکم سابق جواز الوجهين دے؟

جواب: مولانا جامي جواب ورکړے دے چه ددے دلته مضاف نه مراد مضاف باضافة حقيقيه دے اوپه دے باندے قرينه داده چه ماقبل کښے دمضاف باضافة لفظيه حکم بيان شوے دے ځکه چه ماقبل کښے لفظ المفردة کښے تعميم مراد وو. خواه مفردة حقيقتاً وي ياحکماً يعنی مضاف باضافة لفظيه وي.

سوال: مجروراتو کښے دالف لام تعريف ذکر بـه راشي چه ددے دخول مضاف باضافة معنويه باندے ممتنع دے. اومعطوف باندے الف لام زائده هم راځي لکه په الحسن کښے دا دَپاره دَتعريف نـه دے (کمامر) پـه دے وجه المعطوف بحرف کښے معرف باللام اونه وئيل بلکه هغه معطوف چه په هغے باندے الف لام داخل وي چه دواړو ته شامل وي.

سوال: پس کـه چرے پـه معطوف باندے الف لام زائد وي نو ددے مضاف باضافة معنويه نه کيدو څه وجه ده؟

جواب: چونکـه الف لام زائد صورة الف لام دَتعريف مشابه دے په دے وجه ديته هم حِکم امتناع ورکړے شوے دے.

قـولُهُ وَالْبَدَلُ وَالْمَعْطُوْفُ غَيْرَ مَاذُكِرَ حُكْمُهُ حُكْمُ الْمُسْتَقِلِّ مُطْلَقًا په دے عبارت کښے مصنف دَمنادي مفرد معرفه تابع بدل اومعطوف معرف باللام حکم بيانول غواړي ددے تفصيل داد ے چه کله دَ منادي مفرد معرفه تابع بدل واقع وي عام دے چه بدل الکل يابدل البعض وي يا بدل الاشتمال وي يابدل الغَلطْ وي اودغه رنګ چه کوم وخت منادي مفرد تابع داسے معطوف بالحرف وي چه په هغے باندے دَحرف ندا داخلول جائز وي نوددغه دواړه توابعو يعني بدل اومعطوف بالحرف حکم منادي مستقل په شان دے. دمطلقاً نه مراد داد ے چه څه رنګ منادي مفرد معرفه مبني علی الضم لوستلے شي. دغه رنګ که بدل اومعطوف بالحرف مفرد معرفه وي نو دابه هم مبني علی الضم لوستلے شي . اوچه لکه څه رنګ منادي مضاف ياشبه مضاف يامنادي نکرة غير معين دادرے واړه منصوب لوستلے شي . دغه رنګ که بدل يامعطوف مضاف وي ياشبه مضاف وي يا نکرة غير معين وي نودابه هم منصوب لوستلے شي.

دليل:دَبدل اومعطوف بالحرف داعرابو حكم دَمنادي مستقل دَحكم په شان ولے دے ځكه چه څه رنګ منادي مستقل مقصود بالندا وي دغه رنګ بدل هم مقصود وي. اومبدل منه بطورتمهيد ذكر كولے شي. دغه رنګ معطوف اومعطوف عليه دَحكم دننه دواړه مستقل اومقصود وي. لهذا چه كله بدل اومعطوف دواړه مستقل شول نوپه دے وجه ددے حكم دَمنادي مستقل په شان دے .

سوال: صاحب كافيه مطلقا بدل دَ منادي مستقل په حكم كښے مقرر كړے دے خواه الف لام پرے داخل وي يا نه حالانكه په صورت دَدخول الف لام ددے بحكم منادي مستقل كيدل درست نه دي لكه دَمعطوف بيادد ے تقييد دَعدم دخول الف لام سره ولے اونه فرمائيلو؟

جواب: په دے وجه چه دَ منادي نه ذي لام بدل نه راځي. لكه نكره مقصوده او اسم اشاره دَ منادي نه بدل نه واقع كيږي دَذي لام په بدل نه راتلو عالباًوجه دا ده چه بدل بحكم تكرير عامل وي اوعامل دلته حرف ندا اوهغه په ذي لام باندے نه داخليږي .

سوال: دَمعطوف مذكور بناواجب ده چه كله مفرد معرفه وي په خلاف دَلانفي جنس دَ اسم معطوف مفرد چه ددے مبني كيدل جائز نه دي نووجه دَفرق څه ده؟

جواب: دَمنادي دَمعطوف مذكور بناء مبني كيدل په دے وجه واجب دے چه هغه دَمنادي مستقل په حكم كښے دے(كمامر) اودَاسم لانفي جنس معطوف مذكور كښے شروط بناء مفقود دي په دے وجه حذف بناء جائز نه ده.(كما سيأتي في بحثه ان شَاء اللّٰه تعالىٰ).

قولُهٗ وَالْعَلَمُ الْمَوْصُوْفُ بِابْنٍ اَوِابْنَةٍ مضافًا اِلىٰ عَلَمٍ اٰخر يُخْتَارُ فَتْحُهٗ. ددے عبارت نه څو مسائل دَماسبق نه په طور دَاستثناء بيانولے شي ياداسے اوايه چه دَسوال مقدر جواب واقع كيږي.

سوال: ستاسو داقاعده بيان كړه چه كله منادي مفردمعرفه وي نوهغه به مبني على الضم لوستلے كيږي مونږ ستاسو ته مثال ښايوچه په هغے باندے ضمه هم لوستلے شي اوفتحه هم اوفتحه لوستل مختار دي .لكه يازيد بن عمرو داياً زيدبن عمرو لوستل هم جائز دي .نوستاسو قاعده درست نه شوه؟

جواب:دادَهغه قاعدے نه مستثنىٰ ده چكه كله منادي مفرد معرفه موصوف وي چه دَهغے صفت لفظ ابنٌ وابنةٌ وي اوهغه مضاف وي لفظ ابنٌ وابنة دونم علم طرفته نوداسے منادي مفرد معرفه باندے رفع لوستل هم جائز دي داددغه قاعدے په بنا باندے اوفتحه لوستل اولىٰ اومختار دي

يعنى دَتابع لحاظ كولوسره. دليل: داسے منادى چه دغه مذكوره سره مقصود ده هغه كثيرالاستعمال ده او كثرة استعمال مقتضى ده دَخفت او خفت فتحه ده ځكه چه فتحه اخف الحركات دے په دے وجه په دے باندے فتحه لوستل مختار دى. ياساتى ددے دَپاره په درے شرطونه شى.(١) منادى مفرد معرفه علم كيدو سره موصوف وى(٢) چه دَهغے صفت ابن وابنة وى(٣) هغه لفظ ابن وابنه دوئم علم طرفته مضاف وى.

قوله وَاِذَا نُوْدِيَ الْمُعَرَّفُ بِاللَّامِ قِيْلَ يَاآَيُّهَا الرَّ جُلُ وَيَا هٰذَا الرَّجُلُ وَيَاآَيُّهٰذَا الرَّجُلُ دامسئله په طور دَ استثناء واقع ده دَسوال مقدر جواب نے اوګنړئ.

سوال: ستاسو ضابطه اوښودله چه ماقبل كښے معرف باللام باندے دَحرف نداء داخليدل جائز نه دى حالانكه قران مجيد كښے دى ياايها الناس ،ياايها الذين امنوا دغه كلام عرب كښے ياايها الرجل، ياهذاالرجل په ديكښے حرف ندا داخل ده ؟

جواب: قاعده دا ده چه معرف باللام باندے حرف دَنداء داخليدل منع دى. ليكن چه كله يوځائے كښے ضرورت وى نو په مينځ كښے دَيو مبهم فاصله اوكړے شى. نوهله معرف باللام باندے دَ حرف ندا داخلول جائز دى. اودَفاصلے دَپاره داسماء مبهاتو نه درے الفاظ منتخب كړے شوى دى.(١) اَيُّ (٢) بمع هاتنبيه اوهٰذا (٣) دواړه ملاؤ كړے اَيُّهَذَا .

سوال: ستاسو اوونيل اذا نُودِيَ چه كله نداء كړے شوى وى چه كله مخكښے نداء كړے شوے وى نومعرف باللام روستو اَيُّهٰذا راوړولو ضرورت ولے راپيښ شو؟

جواب: اذا نُودِيَ نه مجاذ بالمشارفت دَلاندے معنىٰ په مراد اخلو اذا اُرِيْدَ بالنداء چه كله دَنداء اراده اوكړے شى.

سوال: اذاحرف شرط دے نودى داشرط دے او قِيْلَ ياايها الرجل جزا ده قانون دادے چه جزا په شرط باندے منطبق كيږى چه كله شرط وى نو جزاء به ضرور وى حالانكه دلته جزا په شرط باندے منطبق نه ده ځكه چه ضرورى نه ده چه كوم ځائے منادى معرف باللام باندے دخول حرف نداء وى نو هغه ځائے ياايها الرجل والا مثال هم راځى. داعبارت جزا جوړول غلط دى.

جواب: په دے عبارت كښے دقيل نه پس ياايها الرجل نه مخكښے لفظ محذوف دے مثلث

مثلًا نودا مثال بطور تمثیل ورکړے شوے دے نه دا مثال دوامی دے.

سوال: معرفه باللام دَنداء دَپاره ددے فاصلے اووسیلے څه ضرورت راپیښ شو.

جواب: چه دوه آلو دَتعریف اجتماع بغیر دَفاصلے راشی چه جائزنه ده .باقی پاتے شوه وجه دَعدم جوازڅه ده ددے اصل دادے چه حرف نداء آله دَ تعریف ده او الف لام هم چه کله یودَتعریف فائده ورکړه نوددونم هیڅ ضرورت پاتے نه شو.

سوال: چه کومه منادی بانده الف لام زائد وی لکه الحسن چه ددے دَنداء دَپاره دَفاصلے ضرورت نشته حالانکه ددے دَپاره هم فاصله راوړل ضروری مقرر کړی ده.

جواب: ځکه چه الف لام زائده دَالف لام تعریف دَ صورت مشابه ده ددے وجے نه هغے ته هم هم غه الف لام تعریف حکم ورکړے شوے دے.

سوال: معرفه مخکښے دَنداء بانده هم دَحرف نداء داخله بغیر دَفاصلے نه درست کېدل نه دی پکار حالانکه داخلیږی لکه یاعُمَرُ؟

جواب: د دوه تعریفونو اجتماع باطله نه ده د دوه آلو دَتعریف اجتماع باطل ده .

قوله وَالْتَزَمُوْارَفَعَ الرَّجُلِ لِاَنَّهُ الْمَقْصُوْدُ بِالنِّدَاءِ په دے عبارت کښے هم دَماسبق نه په طورِ دَ استثناء اودَ سوال مقدر جواب دے.

سوال: ماقبل کښے ستاسو داضابطه خودلی ده چه دَ منادی مفرد معرفه تابع صفت مفرد وی نوددے حکم تُرْفَعُ عَلیٰ لفظه وتُنْصَبُ علیٰ مَحَلِّه لیکن یاایها الرجل کښے الرجل تابع صفت مفرد دے . په دے بانده رفع لوستل واجب دی نصب دَسرهیڅ جائز نه دے؟

جواب: یاایها الرجل کښے الرجل په اعتبار دَحقیقت منادی ده ځکه چه هم دا مقصود بالنداء ده.او أيّها دا خو دَ فاصلے دَپاره راوړلے شوے دے. البته چونکه دامنادی مستقل نه ده په دے وجه مرفوع کېدو سره معرب دے مبنی برضم نه دے.

سوال: چه کله دا معرب باللام مقصود بالنداء شو لو دا دَصفت په ځائے بدل مقرر کول مبنی مبنی برضم ونیل پکار دی. ځکه چه اوس په دے بانده کېدل تعریف صادق راځی هغه هم مقصود

بانند . وی اومبدل منه وسلیه اوتمهید وی ؟

جواب: معرف باللام په دوه وجو نشي بدلیدے اولاً په دے وجه دواړه په اعتبار حقیقت مقصود بـنداء کیدو کښے اگرچه متساوی الاقدام دی مگر په اعتبار ذکر لفظی دواړو کښے تغایر دے چه په ذکر کښے بدل مقصود وی نه معرف باللام چه دا دَاسم مبهم مذکور دَ ابهام دَتوضیح دَپاره رواړی نودا هغه صفت دے چه معنی فی المتبوع باندے دلالت کوی اوهغه مقام نداء کښے باعتبار ذکر طبعا مذکور وی نه قصدًا مقصود بالنداء په ذکر کښے ددے موصوف وی ثانیًا په دے وجه چه بدل مقرر کولوسره دوه آلو دَتعریف اجتماع په لازم راشي ځکه چه بدل دَ تکریر عامل په حکم کښے وی کمامر.

قوله وَتَوَابِعِهٖ لِاَنَّهَا تَوَابِعُ مُعْرَبٍ. په دے عبارت کښے هم بطور استثناء دَماسبق سره دَیومسئلے بیان دے.

سوال: ستاسو په یاایهاالرجل العالم کښے وئیلی دی چه الرجل منادی ده لهذا ددے چه العالم کوم صفت دے په هغے باندے دَمخکښے ضابطے په بنا دوه اعراب جائز کیدل پکار دی . تُرْفَعُ عَلٰی لَفْظِهٖ وَتُنْصَبُ عَلٰی مَحَلِّهٖ حالانکه یاایها الرجل العالم ترکیب کښے هم رفع متعین ده؟

جواب: ټیک ده چه العالم دَالرجل تابع دے لیکن الرجل دامنادی معرب ده اوهغه چه مونږ ئے حکم بیان کړے وو تُرْفَعُ علٰی لفظه وتُنْصَبُ عَلٰی محله هغه وَمنادی منبی دَ تابع دَپاره بیان کړے وو.

قوله وَقَالُوْا يَااللّٰهُ خَاصَّةً په دے عبارت کښے هم دَیومسئله دَماسبق نه بطور استثناء بیان کړے شوی ده اوکسوال مقدر جواب دے.

سوال: ستاسو قاعده ښودلی ده ماقبل کښے چه معرف باللام باندے دحرف نداء داخلیدل جائز نه دی مونږ ستاسو ته په مثال ښایو چه په هغے کښے معرف باللام باندے دَحرف نداء بلاواسطه براه راست داخله ده لکه یاالله؟

جواب: دادَهغه قاعدے نه مستثنیٰ ده اودا په یوبله قاعدے باندے مبنی دے قاعده داده چه

هر هغه مقام چه کوم ځائے الف لام عوضي هم وي او کلمے ته لازم هم وي نو دغه کلمے باندے دَ حرف نداء بلاوسطه داخلول جائز دي. لکه یاالله دلته الف لام عوضي هم دے اولازمي هم دے.

سوال: چه کله یاالله په قاعدے باندے مبني دے نوقاعده کليه وي لهذا دغه رنګ نورو مثالونو باندے هم دَحرف نداء داخليدل پکار دي؟

جواب: داقاعده صرف فرد واحد يعني دغه لفظ الله باندے صادق راتله اوهم په دغه کښے منحصر وه په دے وجه خوصاحب کافيه دَخاصة په لفظ سره اشاره اوکړه.

سوال: که یاالله باندے هم دَاي اوهذا فاصله راوړلے دے نوپه ديکښے څه نقصان وو؟

جواب: شريعت داسے قسم الفاظ مثلاً هذا ،اي هذا دَ داخلولو اجازت نه دے ورکړے.

سوال: ولے ئے اجازت نه دے ورکړے ددے څه وجه ده؟

جواب: ایٌ دَتعدد دَپاره راځي .اوهذا اسم اشاره داد اشاره حسيه دَپاره راځي. اوها دَ تنبيه دَپاره راځي. اوپا دسائيٌ لفظ الله باندے ایٌ نه داخليږي .ځکه چه الله ذات دَتعدد نه پاک دے دغه رنګ هذا هم نه داخليږي ځکه چه الله تعالیٰ دَاشاره حسيه نه هم پاک دے اوها تنبيه هم نه داخليږي ځکه چه الله رب العزت ته تنبيه هم نه شي کيدے ځکه چه تنبيه خوغافل ته کيدے شي.

سوال: ستاسو اووئيل چه الله پاک دَاشاره حسيه نه پاک دے مونږ ستاسو ته ښايو چه قران مجيد کښے الله تعالیٰ طرفته اشاره کړے شوي ده لکه ذالکم الله ربکم.

جواب: الله دَخپل آثارقدرت په وجه واضح دے نوددغه شدت وضوع اوفرط ظهور په وجه هغه محسوس اومبصر فرض کولو سره اشاره کړے شوي ده.

سوال: لکه څه رنګ ستاسو داتاويل ذالکم الله ربکم کښے کړے دے هم دغه تاويل هذا دلته داخلولو سره په ډکړے وے؟.

جواب: مونږ په لفظ الله باندے يوه قاعده ماته کړي ده چه معرف باللام باندے براه راست حرف نه داخليږي دَيوڅو وجو په بناباندے مونږ دونمه قاعده هم يعني الله په طرف اشاره نه شي کيدے دغه دونمه قاعده موماتول نه غوښتل .

تحقيقي مقام: لفظ الله سره صرف دغه خصوصيت متعلق نه دے لکه څه رنګ مصنف بيان

اوکړو بلکه څه رنګ ذات ذوالجلال والاکرام خالق الکونین والا نام مسخر الشمس والقمر مبداء الجن والبشر، مدبر الامور مالک یوم النشور جمیع صفات کمالیه اوخصوصیات باهره ته مستجمع دے .نودغه رنګ لفظ الله چه ذات رب القدوس حاکم علی کل روس باندے دال دے داهم خصوصیات عظمی اومستثنیات علیا باندے مشتمل دے .مونږ خپل ذهن نارسا اوخپل پرخطا اوبساط حقیر اودَسعیکیڅر موافق یوڅو خصوصیات عرض کوؤ .(۱) باوجود ددے چه لفظ الله معرف باللام دے لیکن باندے براه راست حرف نداء داخلیږی همدا مصنف وقالو یاالله خاصة سره بیان کړے دے تحقیقی خصوصیات داخصوصیت وجه چه لفظ یاهر داسے معرف باللام باندے داخلیږی چه په هغے باندے داخلیدونکے الف لام عوضی او لازمی وی که لازمی نه وی بیا هم یا حرف نداء براه راست په داخله نه شي لکه الناس دے یاالناس نه شي ونیلے که عوضی نه وی نوبیا هم براه راست حرف نه داخلیږی لکه النجم والحق یاالساق ایاالنجم نه شي ونیلے څکه چه لفظ الله هم یوداسے کلمه دهٔ چه دَهغے الف لام عوضی اولازمی دے .په دے وجه صرف هم په دے به حرف نداء داخلیږی نودغه شرط تحقیق په وجه لفظ الله باندے یا داخلیدل دَلفظ الله خصوصیات شو.

سوال: دحرف نداء براه راست لفظ الله باندے داخلیدل داخصوصیت زمونږ په ذهن کښے نه راځی .څکه چه ددے خلاف دوهٔ شعرونه دی .

فیا الغلامان اللذان فالراء
ایاکما ان تکسبا شرا
من اجلك یا التی تیمت قلبی
و انت بخیلة بالوصل عنی

جواب: دحرف نداء دَ داخلیدو شرط قطعی دے چه بیان شوے دے .پیش کړے شوے شعر خلاف قاعدهٔ وقیاس دے .

خصوصیت اول: پرومبی شعرکښے لفظ الغلامان باندے دَالف لام داخلیدل شاذ دی . څکه چه دا الف لام کلمے ته لازم دے مګر عوضی نه دے دَونم شعر کښے لفظ التی باندے الف لام اشد

اشنوډ ذقيملے نه دے.

خصوصيت دوئم: په لفظ الله باندے حرف نداء نه فقط يأداخليږي.

خصوصيت دريم: باوجود ددے چه ذلفظ الله همزه وصلي ده چه ددے ددرج كلام كښے حذف كيدل ضروري ليكن باب نداء كښے داهمزه قطعي ده اوحذف كيږي نه ددے خلاصه د اده چه په مقام نداء كښے همزه قطعي ده اوحذف كولے به نه شي.

خصوصيت څلورم: په ديكښے داهم جائز دي چه ياحرف نداء حذف كړے شي اوذ هغے په عوض كښے ميم مشدد په آخر كښے يوځائے كړے شي لكه اللهم لوستلے شي.

قوله وَلَكَ فِيْ مِثْلِ يَاتَيْمُ تَيْمَ عَدِيٍّ الضَّمُ وَالنَّصْبُ داهم بطور استثنا ذماقبل نه ذيو مسئلے بيان اوذ سوال مقدر جواب دے.

سوال: ستاسو قاعده بيان كړي ده چه ماقبل كښے منادي مفرد معرفه مبني على الضم وي مونږ درته ښايو. چه منادي مفرد معرفه ده ليكن په دے باندے ضمه هم لوستلے شي اونصب هم لكه ياتيم تيم عديّ.

جواب: دامثال ددغه قاعدے نه مستثنیٰ دے اوددے دپاره جدا قانون دے هغه قاعده دادچه كله منادي مفرد معرفه ذتكرار سره واقع وي اوددغه منادي نه پس يو اسم ذمضاف اليه كيدو په بنا باندے مجرور وي نوداسے منادي مفرد معرفه باندے ضمه هم لوستلے شي. دليل دادے چه چه ددے منادي دوه حيثيتونه دي يو حيثيث كښے دامفر دمعرفه اود د دوئم حيثيث په اعتبار سره نصب لوستلے شي چه ذ هغے مزيد تفصيل دادے چه مرفوع لوستل خو ددے ذپاره چه مفرد معرفه ده اومنصوب لوستل ذسيبويه په نيزد په دے وجه دے چه چونكه حقيقت كښے ياتيم تيم عَدِيّ كښے رومبے تيم مضاف دے ذعدي په طرف .

سوال: ذمضاف اومضاف ترمينځ فاصله راځي ذتيم ثاني چه ناجائز ده؟

جواب: دافاصله بالا جنبي نه ده چه جائز ده اوذ مبرد په نيزد منصوب په دے وجه لوستلے كيږي چه رومبے تيم ذعدي محذوف په طرف مضاف ده ذهغے په وجه منصوب دے دوئم تيم عدي مذكور په طرف مضاف دے نودا دوه اعراب ياد ساتئ رومبي تيم كښے دي دوئم تيم ذتمامو

منهونو په نيزد بالاتفاق منصوب دے.

قولهٗ وَالْمُضَافُ اِلٰی يَاءِ الْمُتَكَلِّمِ يَجُوْزُ فِيْهِ يَا غُلَامِیْ وَيَاغُلَامِیَ وَيَاغُلَامِ وَيَاغُلَامَا په دے عبارت كښے يوه قاعده بيان شوی ده چه كله منادی مضاف وی يائے متكلم په طرف نو داسے منادی په څلورو طريقو سره لوستل جائز دی.

رومبئ طريقه: ياء مضاف اليه ساكن اولوستے شی لكه يَاغُلَامِیْ .

دوئمه طريقه : ياء مفتوح اولوستے شی لكه يا غُلَامِیَ

درئمه طريقه: ياء محذوف كړے شی دَهغے قائم مقام كسره باقی پريخودے شی. لكه يَاغُلَامِ

څلورم طريقه: ياء په الف سره بدله كړے شی اواوليكلے شی اواولوستے شی لكه يا غُلَامَ.

سوال: ستاسو داقاعده ښودلی ده مونږ درته ددے قاعدے په خلاف مثال درښايو لكه يا عَدُوِّی په دے كښے منادی مضاف دے ياء ضمير متكلم په طرف ليكن ددے په وجوه اربعه وُسره لوستل جائز نه دی بلكه صرف په دوهٔ وجو سره لوستل جائز دی.

جواب: دَعربو په غلامان زيات وو دوئ ته به په كثرت آواز كيدے شو اوكثرت دَخفت تقاضاكوی اوخفت په ديكښے دے چه كله منادی مضاف وی ياء متكلم په طرف نو هغه په وجوه اربعه وُسره لوستل جائز دی. اودَغلام په نسبت دشمن ته آواز كيدے شی په دے وجه دلته صرف دوه وجے لوستل جائز دی يادساتئ چه وجوه اربعه وُ نه وجهين اولين دَقاعدے په بنا باندے دے دَقاعدے دَلالدے دی. اودوجهين آخرين دَكثرت ماتحت دی. وبالهاء وَقفا دغلامی دننه كوصل څلور صورتونه چه ذكر كړے شوی دی اوكوقف په صورت كښے پنځمه وجه جائز ده هغه وجه داده چه دَمذكوره څلورو صورتونو په آخر كښے وقف كولو سره هَا ملاؤ كړے شی لكه : يَا غُلَامِيْهْ ،يَاغُلَامِيَهْ،يَاغُلَامِهْ،يَاغُلَامَاهْ.

قولهٗ وَقَالُوْا يَااَبِیْ وَيَااُمِّی وَيَااَبَتِ وَيَا اُمَّتِ فَتْحًا وَكَسْرًا وَبِالْاَلِفِ دُوْنَ الْيَاءِ. په ديكښے هم يوه قاعده بيان شوی ده كه لفظ آب يالفظ اُم دَمنادی په صورت كښے مضاف شی ياء ضمير په طرف نودا دَغلامی په شان څلورو طريقو سره لوستل جائز دی .يَااَبِیْ يااُمِّیْ ،يا اَبِیَ يَااُمِّیَ ،يَااَبِ ،يَااُمِّ، يَااَبَا

وَيَا أَمَّا اودغه څلوروطريقو نه علاوه نورے څلور طريقے هم جائز دي دغه څلورو طريقو كښے مضاف اليه واقع كيدونكى ياء متكلم حذف كړے اوتاء اولګولے شي دغه تاء باندے هم فتحه لوستل جائز دي.لكه يا اَبَتِ ،يَاأُمَّتَ فتحه په دے وجه لوستل جائز دي چه دغه فتحه دلالت اوكړي په دے خبره باندے چه په هغے كښے منادى مضاف واقع دے .شپږمه طريقه دا ده چه كسرة اولوستے شي لكه يا اَبَتِ ياأُمَّتِ .بياكسره لوستل جائز دي چه كسره دلالت اوكړي په يامحذوف باندے البته ذكسره په صورت كښے ياء لوستل جائز نه وي داسے نه شي ونيلے يا ابت ياامت بيا دياء سره ياء لوستل په دے وجه ناجائز وي.ځكه چه ياء اصل ده تاء دهغے قائم مقام كه دتاء سره ياء اولوستے شي نوبياااصل اوقائم مقام دواړه يوځائے شي اودا خبره صحيح نه ده دَآب اوأم اوومه طريقه داده چه دتاء سره الف اولوستے شي لكه يا اَبَتَا يا اُمَّتَا اتمه طريقه داده چه الف حذف كړے شي اوتاء باندے فتحه باقي اوساتلے شي چه دلالت اوكړي په الف محذوفه باندے يا اَبَتَ وياأُمَّةَ دغه اته طريقو سره حالت وقف كښے ها ملاول هم جائز دي.ړومبئ طريقه:يَاابِيَهْ وَيَاأُمِيَهْ. دونمه طريقه:يَاأَبِيْ وياأُمِيَ. دريمه طريقه يَاأَبِهْ وَيَاأُمِهْ. څلورمه طريقه:يَاأَبَاهْ ويَا أُمَاهْ .پنځمه طريقه يَاأَبَتَهْ وَيَا أُمَّتَهْ. شپږمه طريقه:يَاأَبَتِهْ وَيَا أُمَّتِهْ.اوومه طريقه:يَا اَبَتَاهْ وَيَاأُمَّتَاهْ. اتمه طريقه يَاأَبَتَهْ وَيَاأُمَّتَهْ.

فائده: چه كله لفظ اَبْ يا اُمْ دمنادئ په صورت كښے ياء متكلم په طرف مضاف كيږي نوبيادغه لفظ اَبْ او اُمْ په شپاړس طريقوسره لوستلے كيږي. لكه چه مندرجه بالامثالونو كښے تفصيل سره تير شوي دي. اته طريقے دوصل په صورت كښے اواته طريقے دوقف په صورة كښے.

تنبيه:حالت وصل كښے پنځم اواتم صورت دغه رنګ حالت وقف كښے پنځم اواتم صورت د وصل په اعتبار سره لوستلے كيږي ظاهري طورباندے دا پنځم اواتم صورة دواړه يوشان دي دغه دواړه صورتونه يوشان نه دي ګنړل پكار.

سوال: لفظ غلام چه كله دمنادي په صورة كښے ياء متكلم په طرف مضاف وي نوپه څلورو طريقو سره ددے لوستل جائز دي . اولفظ اَبْ او اُمْ په اتو طريقو سره لوستل جائز دي په ديكښے وجه دفرق څه ده؟

جواب: مورپلار دهرسړي وي ددے آواز په كثرت سره وي اوغلام دبعضو وي اودبعضو نه وي

.نوډ هغې استعمال ددې په نسبت سره كم وي. نوډكثرت استعمال په وجه ډآب اوم أم دننه اته طريقې اوډغلام دننه څلور طريقې جائز دي.

قوله وَقَالُوْا يَاابْنَ أُمِّ وَيَا ابْنَ عَمِّ. دلته هم ډ يوقاعده بيان دے قاعده داده چه كله لفظ ډمنادي په صورة كښې مضاف وي نوډ عم اوام په طرف بيا هغه لفظ عم او ام ډ ماقبل ډپاره مضاف اليه اومابعد يـاء متكلم په طرف مضاف وي نوداسې په پنځو طريقوسره لوستل جائز دي. په خاص طور باندے څلور طريقې ياغلامي په شان دي (۱)يَا بن أُمِّي وَيَاابن عَمِّي. (۲) يَاابن أُمِّيَ ويَاابن عَمِّيَ (۳) يَاابن أُمِّ وَيَاابن عَمِّ (۴) يَـاابـن أُمَّـا وَيَا ابن عَمَّا (۵) الف حـذف كـړے شي اوډهغې قـائـم مقام فتحه باقي كيښودے شي. كه يا ابن أُمَّ ويا ابن عَمَّ او دا پـنـځـمه طريقه ياغلامي والا مثال كښې هرگز جائز نه وه.

فائده: كه لفظ ابن او لفظ بنت ډمنادي په صورت كښې مضاف كيږي نو لفظ أُمِّ يالفظ عَمِّ په طرف . لفظ أُمِّ يالفظ عَمِّ مـضـاف اليه وي. بيايـاء متكلم په طرف مضاف دي نوداسې مثال په پنځو طريقو سـره لـوستـل جـائـز دي .لكه څه رنګ چه مثالونه ذكر شوي دي. اوكه لفظ ابن اولفظ بنت ډ منادي په صورت مضاف شي ډلفظ امِ او لفظ عَمِّ نـه عـلاوه بل يو لفظ په طرف يعني حال يااخ ډلفظ ابن اولفظ بـنت مضاف واقع كيږي او مـابعد يا متكلم پـه طـرف مـضاف كيږي نوداسې قسم مثالونه ډياغلام په شان څلورو طريقو سره لوستل جائز دي.(۱)يَاابْنَ أَخِيْ وَيَا ابْنَ خَالِيْ(۲) يَاابْنَ أَخِيَ وَيَا ابْنَ خَالِيَ الخ.

سوال: ډيـا غُلَامِ والا مثـال پـه څـلورو طريقو سره لوستل جائز دي. اويا ابي اويا امي والا مثال په اتو طريقو سره لوستل جائز دي .اويا ابن اماو يا ابن عم والا مثال په پنځو طريقوسره لوستل جائز دي.؟

جواب: ددشمن په نسبت غلامان زيات وي په دے وجه ډياغلامي والامثال په څلورو طريقو سره لوستل جائز دي اوډغلامانو په نسبت مورپلار زيات وي .يعني ډهر يو ډپاره وي . په دے وجه ډيا آبْ اويا ام والا مثال په اتو طريقوسره لوستل جائز وي. په دے وجه ډ يا آبْ اويا ام والا مثال په اتو طريقو سره لوستل جائز دي. او روراو ډخوئے ډځاوي اوډځا نه وي په دے وجه يا ابن اخيء او ايا ابن خالي والا مثال په څلورو طريقو سره لوستل جائز دي.

قوله وَتَرْخِيْمُ الْمُنَادىٰ جَائِزٌ وَفِيْ غَيْرِهٖ ضَرُوْرَةٌ په دے عبارت کښے مصنف دمنادی یوخصوصیت بیانوی چه منادی کښے ترخیم جائز دے اوغیر منادی کښے هم ترخیم جائز لیکن دضرورت په بنا دلته په اصل کښے یوځو درجات به بیان شی .په دے عبارت کښے رومبئ درجه یعنی حکم بیانولے شی .چه په منادی کښے ترخیم جائز دے .مخکښے دوئمه درجه کښے تعریف ترخیم درئمه درجه کښے شرائط ترخیم څلورم درجه کښے مقدار ترخیم پنځمه درجه کښے د منادی مرخم حکم نوکټولو نه مخکښے دلته مصنف رومبئ درجه بیان کړی ده یعنی حکم .

سوال: ستاسو اووئیل چه ترخیم دا دمنادی دخصوصیاتو نه دے حالانکه هم ستاسو په عبارت کښے داخبره ده چه دمنادی په غیر کښے هم ترخیم جائز دے نودا دخصوصیاتو نه څه رنګ شو.

جواب: دمنادی خصوصیات په دے طریقه دے چه ضرورت اوبلاضرورت منادی کښے ترخیم جائز دے. په خلاف دغیر منادی چه هلته دضرورت په بنا بانده ترخیم جائز دے.

سوال: دهمیشه نه همدا دستور راروان دے دمصنف او قاعده هم دا ده چه اولًا دشی تعریف بیانولے شی اوثانیًا ددے حکم بیانولے شی لیکن مصنف دلته خپل اسلوب ولے بدل کړے دے چه رومبے ئے حکم بیان کړو روستو دترخیم تعریف کوی.

جواب: دلته چونکه مقصود بالذات روستو راځی اوحکم مخکښے موجودیږی .لکه په قرآن مجید کښے راغلی دی .اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ داتعریف روستو وهوحذف فی آخره تخفیف په دے درجه ثانیه کښے تعریف دترخیم بیان دے .یادساتئ په دے تعریف کښے سارحینو دوه نظریے دی. بعضے وائی چه داتعریف دمطلق ترخیم دے .دغه وخت ددے داخر ضمیر مرجع منادی مطلق اسم به جوړ کړو چه ترخیم یعنی حذف کول ددے په اخر کښے محض د تخفیف دپاره دے اوبعضے حضرات وائی چه دا تعریف دمنادی دترخیم دے . دغه وخت آخره دضمیر مرجع منادی به جوړو. بهر کیف په دیکښے دواړه احتمالات موجود دی دمنادی ترخیم یامطلق داسم ترخیم .که دمنادی ترخیم دے نومطلب به داشی چه دغه ترخیم دمنادی په اخر کښے دتخفیف دپاره حذف کولے شی. نودغه وخت تخفیف به په خپل حال وی. اودمطلق اسم تعریف به په هغے قیاس کړے شی. اودا تخفیفا مفعول لهٗ دے.

سوال: تحفیفاً دجائز نه مفعول لهٔ جوړول درست نه دی. په دے وجه چه قاعده ده .چه دفعل معلل اومفعول لهٔ فاعل یووی لیکن دلته دجائز فاعل ترخیم منادی ده. اودتحفیفاً فاعل متکلم دے؟

جواب: تحفیفاً دادَ ترخیم منادی مفعول لهٔ دے اودا خبره ظاهره ده چه دَ ترخیم فاعل هم متکلم اودَ تخفیف فاعل هم متکلم دے لهذا ددے مفعول لهٔ جوړول درست دی.

سوال: ستاسو دعویٰ ده چه مصنف اختصار پسے دے نودَ هُوَ حَذْفُ فی آخره ونیلو څه ضرورت وو؟ بلکه داسے به ئے ونیلے وے . هُوَ حَذْفُ اٰخِرِهٖ؟

جواب: که حذف اٰخرهٖ ئے ونیلے وے نوهغه منادی مرخم به وتلے وے چه دَکومے ترخیم په دوه حرفونو باندے وی. یعنی دوه حرفونه به حذف کیږی. لکه یا مَنْصُوْرُ یامَنْصُ په دے وجه ئے داعبارت اختیار فرمائیلے دے. چه وَهُوَ حَذْفٌ فِیْ اٰخِرِهٖ .

فائده: تحفیف سره یوتقسیم په طرف به اشاره کیږی چه دَاسم په آخر کښے چه کوم حرف حذف کیږی بعضے اوقات حذف برعلت تحفیف وی. اوبعضے اوقات حذف برعلت سماع وی .لکه یَدٌ اودَمٌ کښے .او بعضے اوقات حذف برعلت تصریف وی . لکه چه دَاعٍ اورَامٍ

قَولُهٗ وَشَرْطُهٗ اَنْ لَّا یَکُوْنَ مُضَافًا وَلَا مُسْتَغَاثًا وَلَا جُمْلَةً وَیَکُوْنَ اِمَّا عَلَمًا زَائِدًا عَلٰی ثَلٰثَةِ اَحْرُفٍ وَاِمَّا بِتَاءِ التَّاْنِیْثِ په دے عبارت کښے دَ درنمے درجے بیان دے. **درئمه درجه شرائط ترخیم:** ترخیم دپاره شپږ شرطونه دی. چه دَهغے نه پنځه عدمی دی اویو وجودی دے .(۱) منادی مضاف نه وی احترازی مثال یا اَمِیْنَ اللّٰهِ (۲) منادی مستغاث نه وی اومنادی دمستغاث نه اعم دے . چه مستغاث بالالف یامستغاث باللام وی احترازی مثال یا زیدًا یالزیدٍ (۳) منادی جمله نه وی لکه یا تَاَبَّطَ شرًا ،یاشَابَ قَرْنَاها (۴) منادی شبه مضاف نه وی احترازی مثال یا طَالِعًا جَبَلًا(۵) مندوب نه وی احترازی مثال یَا وَیْلَتَا.

سوال: مصنف څلور شرطونه بیان کړی دی. دعدمی ددے شرطونه بیانکړی دی. دوه شرطونه ئے نه دی بیان کړی .(۱) شبه مضاف ئے نه دے بیان کړے (۲) مندوب ئے نه دے بیان کړے.

جواب: مضاف کښې تعمیم دے .دا مضاف حقیقي اوحکمي اوشبه مضاف دواړو ته شامل دے . اومندوب په دے وجه مصنف بیان نه کړو چه مندوب په منادی کښې هم داخل نه دے .اوس دَشرائطو دَپاره تفصیل :

رومبے شرط:. دادے چه منادی مضاف نه وي په دے وجه چه منادی مضاف وي نودَ ترخیم دوه صورتونه دي.(۱) یا دَ مضاف په اخر کښې ترخیم اوکړے شي .(۲) یا دَمضاف الیه په اخر کښې او دواړه صورتونه غلط دي. که دَمضاف په آخرکښې ترخیم اوکړے شي .نودَ مضاف آخرخو په مینځ دَکلمه کښې راغلے دے . حالانکه ترخیم په اخر کښې کیږي. اوکه دَمضاف الیه په اخرکښې ترخیم اوکړے شي. نودا هم ناجائز دے .ځکه چه مقصور بالنداء خوهم دغه مضاف وي لهٰذا چه کله مقصود بالنداء مضاف الیه نه وي نودذے په اخر کښې ترخیم څه رنګ کیدے شي؟په دے وجه شرط ئے اولګولو چه منادی مضاف نه وي.

دوئم شرط:. منادی مستغاث نه وي داشرط ئے په دے وجه اولګولو چه دِ مستغاث دوه صورتونه دي . (۱) مستغاث بالالف(۲) مستغاث باللام مستغاث بالالف دانه وي نوپه دیکښې ترخیم نه شي کیدے .ځکه چه که ترخیم اوکړے شي نوالف به حذف کولے شي. نوبیا به نه معلومیږي چه دامنادي مفرد معرفه ده یامنادی مستغاث بالالف اودغسے کمقصود ه خلاف دے . اومنادی مستغاث باللام په دیکښې هم ترخیم نه شي کیدے .داهم شرط ئے اولګولو که چرے اخري حرف حذف کړے شي یعني ترحیم اوکړے شي نولام استغاثه ته چه کوم اثردے دجروالا هغه به ختم شي. اوس به دا پته نه لګي چه چه دا لام دَمستغاث دے یادمستغاث لهٔ دے .

دریم شرط:. منادی جمله نه وي په دے وجه چه دَجملے په خاصه واقعه باندے دلالت کیږي چه کله په دیکښې ترخیم اوکړے شي. نوواقع خاصه باندے به ددے دلالت اومقصد فوت شي.ځکه په دیکښې ترخیم جائز نه دے.

څلورم شرط:. شبه مضاف نه وي په دے وجه دلیل به هم هغه شي چه دَمضاف نه کیدو وو.

پنځم شرط:. مندوب نه وي په دے وجه چه ترخیم په مندوب کښې ناممکن دے. اوځکه ناممکن دے که چرے الف ندبه ختم کړے شي. نومقصد به فوت شي.

شپږم شرط: (وجودي) هغه داده چه علم وي ځكه چه علم وي نو د تصرف نه به محفوظ پاتے وي بيا كه چرے علم وي نو د هغے دوه صورتونه دي. (١) زائد على الثلاث وي د هغے په اخر كښے تائے تانيث وي. د زائد على الثلاث شرط ئے په دے وجه اولګولو چه كله زائد على الثلاث شي نو ترخيم نه پس به هم درے حرفونه باقي پاتے شي .په دے سره به دا خبره لازمه رانشي چه د اسم معرب په بنا درے حرفونه په كم باندے ده ځكه چه حتى الامكان كوشش پكار دے. چه د اسم معرب بنا په درے حرفونو باندے وي چه دمبني سره مشابهت لازم رانشي چه څه رنګ يامنصور كښے يامنص لوستل جائز دي. تائے تانيث شرط ئے په دے وجه اولګولو چه تائے تانيث ټيک ده په سكوت كښے وي .د ترخيم په وجه ډيره اسانئ سره به حذف شي.

سوال: كه چرے يوه داسے كلمه وي چه په هغے سره تائے تانيث حذف كولونه پس دوه حرفونه باقي پاتے شي .نوپه دے سره به داخبره لازم راشي چه د اسم معرب بناپه دوه حرفونو باندے ده د دے دپاره هم د زائد على الثلاث شرط لګوي.

جواب: كه چرے ديواسم نه تائے تانيث حذف كولو سره داخبره لازمه راشي چه د اسم معرب په بناء درو حرفونو په كم باندے ده نوداخبره په ترخيم سره به لازم رانشي بلكه دغه اسم معرب بنا په هم دغه درے حرفونو باندے وي.

قوله فَاِنْ كَانَ فِيْ اٰخِرِهٖ زِيَادَتَانِ فِيْ حُكْمِ الْوَاحِدَةِ كَاَسْمَاءَ وَمَرْوَانَ اَوْحَرْفٌ صَحِيْحٌ قَبْلَهٗ مَدَّةٌ وَهُوَاَكْثَرُ مِنْ اَرْبَعَةِ اَحْرُفٍ حُذِفَتَا. مصنف په دے عبارت سره څلورمه درجه مقدار ترخيم بيانول غواړي چه د دے ټول درے قسمونه دي د رومبي قسم دوه صورتونه دي (١) چه ديو اسم په آخر كښے داسے دوه زيادتونه وي چه ديو حرف زائد په حكم كښے وي د دے مطلب داده چه دغه دوه زائده حرفونه يوځائے راوړلے شوي وي څه رنګ چه اسماء اومروان دي . په اسماء كښے الف اوهمزه چه كله دافعلاء په وزن باندے وي د دے اصل وِسْمَاء جوړ كړے شي بناپه مذهب سيبويه اوكه هغه دافعال په وزن باندے جوړ كړے شي (١) جمع جوړه كړے شي. د اسم نوپيا دا دفي مانحن فيه نه شو اوكمروان په آخر كښے الف اونون دا دوه حرفونه زائد يوځائے روا ړلے شوي دي.

(۲) دونم صورت چه دیواسم په اخر کښې حرف صحیح وی اودغې ماقبل مده زائده وی په دے شرط چه هغه اسم زائد علی الاربعه وی ددے دواړو صورتونو حکم دادے چه دوه حرفونه به حذف کولے شی. رومبی صورت کښې دوه حرفونه په دے وجه حذف کولے شی چه دواړه یوځائے راوړے شی .چه کله هغه حذف کول وی نو دواړه به یوځائے حذف کولے شی. نو یااسماء یا آسْمَ اویا مروان یامَرْوَ او دونم صورت کښې دوه حرفونه ولے حذف کولے شی .؟په دے وجه چه کله یواخری حرف صحیح حذف کړے شی نوماقبل چه مده زائده ده هغه مونږ څه رنګ باقی ساتلے شو. داخوبه داسے اوشی چه سُنْتُ عَلَى الآسَبِوَ بَلَتْ عَلٰى نَقْبِ. په زمری باندے خوحمله اوکړه. اوبیزے بچی ته په کتلوسره متیازے م اوکړے یَامَنْصُوْرَ یَا مَنْصُ لوستلے شی.

سوال: مونږ ستاسو ته یومثال ښائو چه دغې په آخرکښې حرف صحیح دے اوماقبل مده زائده ده بیاهم هغه په څلورو حرفونو نه په زائد باندے مشتمل .لیکن مقدار ترخیم یوحرف دے یعنی یوحرف حذف به حذف کولے شی. لکه څه رنګ چه یا شغلاتٌ دے دابه یا شُغْلَا لوستلے شی. دالف په حذف سره یاشُغْلَ نه شی لوستلے.

جواب: دصحیح نه مراد دادے چه اصلی وی اوستا په مثال کښې تأزائده ده،اصلی نه ده.

سوال: مونږ تا ته یومثال ښایوچه دغې آخری حرف حرف صحیح نه دے بلکه حرف علت دے البته په ماقبل کښې مده زائده ده. ستاسو د ترخیم په وخت دوه حرفونه حذف کوئ لکه څه رنګ مَدْعُوٌّ اومَرْمِيٌّ یامَدْعُ اویامَرْمِ لولئ.

جواب: دصحیح نه مراد عام دے خواه حقیقتًا وی یاحکمًا اودامدعو اومرمی اګرچه حقیقتًا صحیح نه دے لیکن حکما صحیح دی. څکه چه څه رنګ صحیح نصر فسلا محفوظ وی نودغه رنګ دا هم تصرفسلا محفوظ دے.

سوال: ستاسو دوه صورتونه دلته ولے جوړوئ حالانکه د دواړو صورتونو مطلب اومقصد یودے. څکه چه مثلًا اسماء اومروان هغه ستاسو په رومبی صورت کښې داخل کړل حالانکه دونم صورت هم په دے باندے صادق راځی.څکه چه داسماء په آخر کښې همزه دنحاتو په نیزد ده. ماقبل مده زائده ده .دغه رنګ دمروان دننه هم .

جواب: په دے دواړو صورتونو کښے نسبت دعموم خصوص من وجه دے اوکوم ځائے چه دانسبت کیږی هلته درے مادے وی. یوه مادة اجتماعی او دوه مادے افتراقی دَمادة اجتماعی مثال یا اسماء اویامروان دے اودَمادة افتراقی مثال چه څه رنګ منصور ،بصری اومصری دے.

قوله وَإِنْ كَانَ مُرَكَّبًا حُذِفَ الْإِسْمُ الْاٰخِيْرُ په دے عبارت کښے د دونم قسم بیان دے . دونم قسم چه منادی مرکب وی دَمرکب نه مراد مرکب بنائی دے. اومرکب مزجی دے.لکه څه رنګ اَحَدَ عَشَرَ او بَعْلَبَكَّ په دیکښے دَترخیم په وخت یوآخری اسم به حذف کولے شی. نودغه رنګ یااحد عشریااحد یا بعلیک یا بعل لوستل صحیح نه دی. ځکه چه ددے دَرومبے جز آخری حرف په مینځ کښے راغلے دے اوترخیم خودَمنادی په آخر کښے وی؟

جواب: مرکب بنائی اومرکب مزجی کښے دواړه جزونه دَیو کلمے په شان کیږی چه کلمه یوه کلمه شوه نو دونم جز به دَترخیم په وخت حذف کولے شی هم دا وجه ده چه ددے دواړو جزونو ترمینځ اعراب نه جاری کیږی.

قوله وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَالِكَ فَحَرْفٌ وَاحِدٌ **دریم قسم** : که چرے ددے نه علاوه وی یعنی ددے په اخر کښے دوه زیادتونه نه وی په آخر کښے حرف صحیح ماقبل مدة زائدة هم نه وی اومرکب بنائی اومرکب مزجی هم نه وی نو بیا به یوحرف حذف کولے شی. لکه یاثَمُوْدُ یاثمو اویا حَارِثُ یاحَارُ لوستلے شی. فائده: چه کوم لفظ دَ ترخیم په وجه حذف کړے شی نودغه لفظ ته عربی کښے مااُلقِیَ ونیلے شی اوچه دَکوم اسم نه هغه لفظ غورزولے شوے وی نودغه اسم باقی مانده الفاظو ته مابقی ونیلے شی.

قوله وَهُوَ فِيْ حُكْمِ الثَّابِتِ عَلَى الْاَكْثَرِ فَيُقَالُ يَاحَارِيَاثَمُوْوَيَاكَرَا.

پنځمه درجه : کمنادی مرخم حکم بیانوی چه منادی مرخم کښے دَ مااُبْقِیَ اعتبار کولے شی .په کثرت استعمال سره چه کوم لفظ پریوتلے دے هغه موجود منی . بیاپه دغه اعراب پاندے هغه لوستلے شی. لکه یا حَارِثُ ثائے حذف کړه اوس حَارِ ددغه را کسره حرکت پاندے باقی لوستلے شی . ځکه چه په دیکښے ثاچه تیره شوی ده. دغے نه دَ مااُلقِیَ اعتبار کیدلے شی چه هغه اوس هم

موجود دے.

قـولـهٔ وَقَدْيُجْعَلُ اِسْمًا بِرَاْسِهٖ فَيُقَالُ يَا حَارُ وَيَا ثَمِيْ وَيَاكَرَا قـلـب استعمال کېږي منادي مرخم په منـزلـه دَاسـم مستـقـل کوي يعني دَما اُلْقِيَ اعتبار نه کوي دَمابقي اعتبار چه باقي دے ګوياچه همدا منـادي چـه کـلـه هـمدا منادي مـستقل دهٔ نوهغه به منادي مفرد معرفه کېدو په وجه مبني على الضم لوستلـے شي. نويا حارث ،ثا حذف شي نوڅه به لوستلے شي .اويا ثمود دال حذف شو ياثمولکه ياثمي ځـکـه چـه دا اسـمـاء متـمـکنه ؤ نه يو اسم دے چه دَهغے په آخر کښې واو ماقبل دَ هغے ضمه دهٔ په قاعده دَقانون صرفي واو به په يا سره بدل کړے شي اوضمه په کسـرے سره ياکَرَوْ ياکرا ونيلے شي په دے وجـه چـه يـا متـحـرک ماقبل مفتوح دے لهذا قال والا قانون سره واو چه الف سره به بدل کړے شي.

قولُهٔ وَقَدْ اِسْتَعْمَلُوْا صِيْغَةَ النِّدَاءِ فِيْ الْمَنْدُوْبِ منصفؒ دَمنادي احکام وغيره بيانولو نه پس ددے ځـائـے نـه مندوب بيانول غواړي نو وے فرمائيل وقد استعملوا يعني عربي حضرات صيغه دَنداء په مـنـدوب کښـے استـعـمـالوي. اوصيغه نداء نه صرف ياء حرف ندا دهٔ. ځکه چه همدغه حروف نداء نه اعرف اواشهر همدغه ياده.

سوال: صيغه دَنداء خومطلق دهٔ ستاسو سره څه قرينه دهٔ چه دلته صيغه نداء نه فقط يا مراد دهٔ؟

جواب: قـاعـده مشهوره دهٔ المطلق اذا اطلق يراد به الفرد الکامل اوداخبره ظاهره دهٔ چه فرد کامل حروف نداء نه فرد کامل هم دغه ياده.

سوال: کـه چـرے هـمـدغـه يـاء مـراد وے نـومـصـنف به داسے فرمائيلے وے قداستعملوا ياء المندوب اوصيغة دَنداء ذکر کولو څه ضرورت وو؟

جواب: افـاده متـعـلـم دَپاره داعبارت دے اوداعبارت کدعوي الشئ ببينته وبرهانه په شان دے. هـغه دغـے چه زمونږ دعویٰ دهٔ چه صيغة النداء نه مراد يا دهٔ دليل هم دغه صيغه نداء دهٔ ځکه هم ياء فرد کامل دے په دے وجه دا کدعوي الشئ ببينته وبرهانه په شان دے.

قولُهٔ وهوالمتفجع عليه **تعريف مندوب**: .مندوب دَندبه نه ماخوذ دے دَندبه معنی دهٔ فريادکول

مندوب هغه مړی ته وئیلے شي چه په هغه باندے ندبه اوفریاد وخفګان اوکړے شي دهغه محاسن اومحامد ذکر کړے شي. په هغه باندے ژړا والا په ژړا کښے معذور اوګڼړلے شي. اونورو لرد داټیک ده په ژړا والو کښے شریک کړے شي اوددۀ مرګ امرعظیم اوګڼړلے شي.

اصطلاحي تعریف: هوالمتفجع علیه بیا او واو یعني چه په هغه باندے اظهار افسوس اوکړے شي یاپه بل واو سره .

سوال: المتفجع لازمي باب دے. ددے صله لام واقع کیږي نه چه علی ستاسو صله دعلی ولے راوړي ده؟

جواب: تفجع دبکاء معنی ته متضمن ده اودَ بکاء صله علیٰ وي نه چه لام اوبعضے وختونو کښے ذیوځمز په موندولو باندے تفجع کیږي. اوبعضے وختونوکښے په معدوم کیدو باندے تفجع کیږي. دموجود کیدو مثال چه څه رنګ واحسرتاه یادساتئ واو اویاء باندے با الصاقی ده بادَ استغانت اویاء سببیه نه ده مطلب به داشي چه مندوب هغه دے چه په هغے باندے اظهار افسوس اوکړے شي. چه ملصق بالباء یا ملصق بالواو وي.

قولهٗ واختص بواو واختص بواو خاص کړے شوے دے واو دَ مندوب سره.

سوال: مندوب دَواو سره مختص نه دے ځکه چه په دے باندے واو هم راځي اویاء هم راځي. په دے وجه واختص بواو وئیل غلط دي.

جواب: دَواختص ضمیر ددے فاعل بلکه باء زائده ده او واو دَاختص فاعل دے مطلب داشو چه واو خاص دے مندوب سره.

جواب: یووی مختص اوبل وي مختص به په دیکښے اصل قاعده خودادہ چه مختص به باندے باداخله وي لیکن بعضے وختونو کښے مختص باندے هم باداخلیږي چه څه رنګ وئیلے شي خَصَّصْتُ فلاناً بالذکر دلته ذکر مختص اوفلاناً مختص به دے. اومختص باندے باء داخله ده مطلب دا دے. چه ما فلانے په یادسره مختص کړو یعني زۀ هغه یادوم نور هیڅ نشته. لیکن صحیح مطلب دادے چه ماذکر دَفلاني سره خاص کړو یعني که چرے زۀ یادوم نو هم فلانے یادوم بل څوک نه. دغه رنګ ایاك نعبد وایاك نستعین مفسرین ددے ترجمه داسے کوي. اَخَصُّكَ بِالْعِبَادَةِ وَالْاِ سْتِعَانَةِ

دلته الله تعالیٰ مختص به دے او عبادت واستعانت مختص دے. چه وړاندے باداخله ده نو دد ے مثالونو نه داخبره معلومه شوه چه بعضے وختونو کښے باء مختص باندے هم داخلیږی دغه رنګ اختص بواو کښے مختص خوهم واو دے او مندوب مختص به دے لیکن مختص باندے باء داخله ده یعنی واو مندوب دپاره خاص دے.

قوله وَحُكْمُهُ فِي الْإِعْرَابِ حُكْمُ الْمُنَادٰی په دے عبارت سره مصنفؒ دمندوب حکم بیانول غواړی چه دمندوب حکم معرب کیدو کښے دمنادی په شان دے. چه څه رنګ دباء په داخلیدو کښے مندوب دمنادی تابع دے چه هغے باندے هم یاداخله ده چه دراصل منادی باندے داخلیږی په دے وجه مندوب باندے احکام به هم هغه جاری کیږی چه په منادی باندے جاری کیږی.

سوال: مونږ دانه تسلیموؤ چه دمنادی حکم دمندوب په شان دے دمنادی احکامونه یوحکم دادے چه منادی نکره واقع کیږی حالانکه مندوب همیشه معرفه وی نکره نه واقع کیږی.

جواب: مولانا جامیؒ جواب ورکړو چه دد ے مقصد دادے چه مندوب دمنادی اقسامو نه چه کوم قسم باندے هم وی نوهغے ته اعراب اوبناء کښے هم هغه حکم ملاویږی دد ے دامطلب نه دے چه څومره اقسام دمنادی راغلی هم دومره اقسام دمندوب به هم راځی.

قوله وَلَكَ زِيَادَةُ الْاَلِفِ فِيْ اٰخِرِهٖ اودمندوب په آخرکښے الف زیاتی کول هم جائز دی ځکه چه مندوب کښے اواز اوږدول مقصود وی.

قوله فَاِنْ خِفْتَ اللَّبْسَ قُلْتَ وَاغُلَامِكِيْهِ وَاغُلَامِكُوْهُ دد ے ځائے نه دیومسئلے بیان دے کچرے دمندوب په آخر کښے دالف زیاتولو سره دالتباس یره وی مذکر دمؤنث سره التباس وی. دتثنیه دجمع سره التباس دی نو په داسے صورت کښے الف دَ ماقبل دحرکت موافق دحرف علت سره بدلول جائز دی .لکه مذکر مخاطب په غلام باندے ندبه اوکړے شی .نوداسے به ونیلے شی. واغلامکاه او دمؤنث مخاطب په غلام باندے ندبه کول وی نو واغلامکه اوس دد ے په اخرکښے الف رواړلے شی نودکاف کسره په فتحه سره بدلولے به شی. ځکه چه الف غواړی چه زماً ماقبل دِمفتوح وی دا به هم جوړشی واغلامکاه اوس به پته نه لږی چه دمؤنث په غلام باندے یا دمذکر په

غلام بانــدے نـدبـه کـولـے شي نـوپه داسے صورت کښے الف په یاء سره بدلولے شي. واغلامکیه اودغسے دتثنیه دجمع سره دالتباس یـره وی لکه دَ تثنیه مذکر مخاطبین په غلام بانــدے ندبه اوکړے شي واغلامکما اوس دَ جمع مذکر مخاطبین په غلام بانـدے ندبه اوکړے شي واغلامکم اوس ددے په اخرکښے الف راوړلے شي نـو میم پـه مخ سره بدل کړے شي. نو واغلامکما به جوړشي .اوس به پته نه لږی چه داتثنیه دا جمع په چا بانـدے ندبه کیدے شي. نوپه داسے صورت کښے په جمع کښے الف په واو سره بدلولے به شي واغلامکموه .

قولُهٗ وَلَكَ الْهَاءُ فِي الْوَقْفِ. او دَ وقف پـه صورت کښے ها لاحق کول هم جائز دی لکه :وَاغُلا مَکَاهُ او وَاغُلا مِکِیْهِ ،وَاغُلا مَکُمَا، وَاغُلامَکُوْهُ.

قـولُـهٗ وَلَا یُنْدَبُ اِلَّا الْمَعْرُوْفُ فَلَا یُقَالُ وَارَجُلَاهُ. پـه دیـکښـے دیـوقاعدے بیان دے چه ندبه معـروف اومشهور بانـدے کولے شي .ځکه چه کله معروف مشهور نه وی نو ژړا والا به په ژړا کښے معذور نه شي ګڼړلے اودغه رنګ ځکه چه معروف نه دے. اوژړا کښے به نور شریکولے نه شي. ځکه چه معـروف نـه دے.او ددهٔ مـرګ به امر عظیم هم نه شي ګڼړلے ځکه چه هغه معروف نه دے په دے وجـه ضـروری ده چـه هـغـه مندوب معروف وی دَمعزوف نه مراد عام دے چه خواهٔ هغه خپله معروف وی لکه وازیداه یا ددهٔ وصف معروف وی لکه.یَامَنْ حَفَرَ بِئْرًا زَمْزَمَاهُ.

سوال: ستـاسـو نـدبـه دَپارہ دا شـرط اولـګـولـو چه په کوم بانــدے ند به وی هغه به نکره نه وی لکه واحسرتاه، وامصیبتاه دانکرے دی؟

جواب: دا شـرط مـطـلـق نـدبـه دَپاره نه دے. بلکه دَمندوب دوه قسمونونه یوقسم چه پۀ هغے کښے مفجع علیه عدمی وی ددے دَپاره شرط دے .

قـولُـهٗ وَامْتَنَعَ وَازَیْدُ الطَّوِیْلَاهُ خِلَافًا لِیُوْنُسَ: پـه دے عبـارت کښـے یواختلاف بیانوی چه یونس نـحوی په نیزد دَموصوف په ځائے صفت بانـدے ند به کیدے شي . دَالف ندبه دَصفت په آخر کښے راوړلے شي. لیکن دَجمهورو په نیزد دَموصوف په ځائے صفت بانـدے ندبه نه شي کیدے البته دَمضاف په ځائے مضاف الیه بانـدے ندبه کیدے شي.

دجمهورو اول دلیل: مضاف او مضاف الیه کښې تعلق قوی وی په نسبت دموصوف صفت ددې دلیل دادې چه د مضاف مضاف الیه ترمینځ فاصله نه شي راوړلې. په خلاف دموصوف صفت. لکه څه رنګ اِنَّهٗ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُوۡنَ عَظِيۡمٌ. قَسَمٌ موصوف او عظیم صفت دې. په مینځ کښې فاصله ده. دادلیل دې ددې خبرې چه دمضاف او مضاف الیه ترمینځ تعلق قوی دې.

دوئم دلیل: دمضاف نه داضافت په وجه تنوین او قائم مقام تنوین یعنی نون تثنیه وجمع حذف کیږی. چه خلاف دموصوف صفت داهم ددې خبرې دلیل دې چه دمضاف مضاف الیه تعلق قوی دې. په نسبت دموصوف صفت.

درئم دلیل: مضاف بانددې کلام پوره کیږی نه بلکه دمضاف ذکرکول ضروری وی په خلاف دموصوف صفت نه چه موصوف باندې کلام پوره کیږی. اودصفت ذکر د تخصیص اوتوضیح دپاره وی په دې وجه دمضاف الیه په آخرکښې ندبه کولې شي. الف د ندبه راوړلې شي. لیکن دصفت په آخرکښې نه یونس نحوی دوه دلیلونه پیش کوی دلیل عقلی اودلیل نقلی.

دلیل عقلی: دادې چه پورې چه یودې امتزاج لفظی اویودې امتزاج معنوی. ستاسو دا دلیلونه دامتزاج لفظی سره متعلق دی. اودموصوف صفت ترمینځ امتزاج معنوی دې هغه دارنګ چه دموصوف په ځائے صفت رواړلې شي. لیکن مضاف دمضاف الیه په ځائے نه شي راوړلې لکه جاء نی زیدُ نِ العالم په ځائے جاء نی زیدٌ وئیل هم صحیح دی. اوداخبره تاسوهم تسلیموئ. چه امتزاج معنوی دامتزاج لفظی نه قوی وی په دې وجه زمایو دلیل ستاسو ټولو دلائلو نه قوی دې.

جواب: ستاسو داوئیل صحیح نه دی . چه امتزاج معنوی دامتزاج لفظی نه قوی دې دامونږ تسلیموؤ لیکن مونږ ستاسونه دا تپوس کوؤ چه مونږ دالفاظو نه بحث کوؤ یا دمعاینونه داخبره ظاهره ده چه الف د ندبه او الف داستغاثه دمنادی دالفاظو سره لاحق کیږی نه دمعاینو سره لهذا دلته به هم دامتزاج لفظی اعتبار کولې شي.

دلیل نقلی: دادې چه مونږ ستاسو ته یومثال ښایو. چه په هغې د موصوف په ځائے په صفت باندې ندبه کېدې شي لکه د یوسړی قول دې . وااُمۡجُمۡتَیۡ الشامیّتیناه په دیکښې په ځائے د موصوف په صفت باندې ندبه کړې شوی ده .ددې دلیل جواب دادې چه یوعام سړې یودعام

انسان په قول بانده اعتبار دَ لویولویو نحاتو په مقابله کښے هیڅ حیثیت نه لري.

قوله وَيَجُوْزُ حَذْفُ حَرْفِ النِّدَاءِ اِلَّا مَعَ اِسْمِ الْجِنْسِ وَالْاِشَارَةِ وَالْمُسْتَغَاثِ . اَلْمَنْدُوْبِ نَحْوُيُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا .وَاَيُّهَا الرَّجُلُ. مصنف دَ منادي اومندوب احکامو بیانولو نه پس دد ے ځائے نه یوعمومي حکم بیانول غواړي. هغه داد ے دَحرف نداء حذف کول هم جائز دي. چه کله څه قرینه موجود وي. البته څلورداسے مقامات دي چه په هغے کښے دَحرف نداء حذف کول جائز نه دي.(۱) اسم جنس (۲) اسم اشاره(۳) مستغاث(۴) مندوب دهریوتفصیل : **اسم جنس** دد ے نه مراد نکره ده بیا په نکره کښے تعمیم د ے چه هغه مخکښے دَنداء نه نکره وي اوبے شکه پس دَنداء نه معرفه شي لکه څه رنګ دَیو بیناسړي وینا یارجل مخکښے دَنداء نه هم نکره وي اوپس دَ نداء نه هم نکره وي .لکه څه رنګ دنابینا قول یارجل باقي پاتے شوه داخبره چه دَاسم جنس نه حرف نداء ولے نه حذف کیږي په د ے وجه در ے دلیلونه دي. **اول دلیل:** دَاسم جنس نه که حرف نداء حذف کړ ے شي نودد ے دغیر منادي سره به التباس لازم راشي. دابه نه معلومیږي چه دامنادي ده یانه ځکه چه قرینه موجود نه ده په د ے وجه ضروري ده چه دَاسم جنس نه حرف نداء حذف نه کړ ے شي. **دوئم دلیل:** که دَاسم جنس نه حرف نداء حذف کړ ے شي. نودد ے دَنکره سره التباس لازم راځي ځکه چه دا په اصل کښے هم نکره ده. اودَمنادي په وجه حرف نداء به حذف کولے نه شي **درئم دلیل:** که دَاسم جنس نه حرف نداء حذف کړ ے شي. نودد ے نه به لازم راشي دَنائب اومنیب د دواړو حذف کول حالانکه داناجائز د ے.ځکه چه حرف نداء اَدْعُ او اَطْلُبُ دَمحذوف قائم مقام وو او نائب وو. بیا هغه هم حذف کړ ے شي نودَنائب او منیب دواړو یوځائے حذف کیدل به لازم شي چه ناجائز د ے .په د ے وجه دَاسم جنس نه حرف نداء حذف کول جائز نه دي.

سوال: ستاسو اووئیل چه دَنائب اومنیب داوړو حذف کول لازم راځي. اوداناجائز د ے نودد ے نه بیا حرف نداء بالکل هیڅ حذف کول نه دي پکار .

جواب: په اسم جنس کښے خو حرف نداء حذف کیږي لیکن باقي منادي کښے نه حذف کیږي بلکه مقدر وي .یعني صرف په لفظونو کښے موجود نه وي په مراد کښے باقي وي.

فائده: په حذف او مقدر کښې یو فرق دے. ددے نه مخکښې یو تمهید اوپیژنئ. (۱) ملفوظ محض (۲) ملفوظ زائد (۳) محذوف (۴) مقدر که چرے یو اسم لفظاً ملفوظ وی. او معنیً منوی وی. او معنیً منوی نه وی نو ته ملفوظ زائد ونیلے شې. او که یو اسم لفظاً ملفوظ نه وی او معنی منوی هم نه وی نو هغے ته محذوف ونیلے شی. او که یو اسم لفظاً ملفوظ نه وی لیکن معنی منوی وی نو هغے ته مقدر ونیلے شی. (۱) منادی کښې حرف نداء نه حذف کیږی بلکه مقدر وی ځکه چه په نیت کښے باقی وی. لیکن په اسم جنس کښے حرف نداء محذوف وی مقدر نه وی (۲) اسم اشاره: په دیکښے هم حرف نداء نه حذف کیدے په دے وجه چه اسم اشاره دَاسم جنس په شان مبهم وی. (۳) منادی مستغاث (۴) مندوب. ددینه هم حرف نداء حذف کیدے نه شی ځکه چه منادی مستغاث بألف الاستغاثه کښے الف استغاثه او په مندوب کښے الف ندبه دَمِنِصورت دَپاره راوړلے شی. چه په اصل کښے په دیکښے نه داخلیږی. بلکه زائده وی لیکن یاء حرف نداء اصل وی. نو مونږ زائده باقی اوساتو او اصلی حذف کړو نو دا ناجائز ده. په دے وجه مستغاث او مندوب نه حرف نداء حذف کول ناجائز وی خو دومره ده چه چرته څه قرینه موجود وی نو حرف نداء حذف کولے شی. بیا به یا خو حذف بالبدل وی یا بغیر البدل به وی چه حذف بالبدل وی نو دَهغے مثال بلکه یاالله دَهغے په آخر کښے دَیاپه عوض میم مشدد راوړلے شی لکه اَللّٰهُمَّ. دَحذف دوئم قسم حذف بغیر البدل ددے مثال لکه یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا ددے حرف نداء محذوف دے. چه په هغے قرینه داده چه که حرف نداء محذوف اونه منلے شی. نو بیا یوسف به مبتدا جوړولے شی. چه دَهغے دَپاره خبر ضروری دے او دَهغے خبر به تلاش کولے شی. او دا خبره ظاهره ده چه اعرض به خبر نه شی جوړیدے ځکه چه دا جمله انشائیه ده. او قاعده چه جمله انشائیه خبرنه واقع کیږی په دے وجه دا قرینه ده په دے خبره بانده چه دلته یُوْسُفُ نه مخکښے یاحرف نداء محذوف دے. **دلیل دریم**: چه کله منادی معرف باللام وی او ایها فاصلے دَپاره روا ړلے شوے وی. نو دغه وخت هم دَحرف نداء حذف کول جائز وی. او قرینه ایها دے ځکه چه ایها همیشه فاصلے دَ پاره راوړلے شی دا په دے خبره بانده دلیل دے چه دلته حرف نداء محذوف دے. **څلورم دلیل**: بعضے نحویان وائی چه دَ ضمیرونو نه هم حرف نداء حذف کول جائز دی. چه څه رنګ یا انت کښے صرف

انت وئیل هم جائز دی.

قَـوْلُـهٗ و.شَذَّا اَصْبِحْ لَيْلُ وَافْتَدِ مَخْنُوْقُ وَاَطْرِقْ كَرَا. پـه دے عبـارت سره مصنفؒ دَ سوال مقدر جواب ورکول غواړی.

سوال: ستاسو اووئیل چه دَاسم جنس نه حرف نداء نه حذف کیږی مونږ تاسو ته داسے مثال ښایو چه پـه هغے کښے حرف نداء اسم جنس نه حذف کړے شوی دہ لکه اَصْبِحْ لَيْلُ اَفْتَدِ مَخْتَنُوْقُ اَطْرِقْ كَرَا. په دیکښے حرف نداء حذف دہ؟

جواب: ستاسو چه څومره مثالونه ورکړی دی. داټول شاذ دی اَصْبِحْ لَيْلُ واقعه داسے پیش راغله چه یوشاعر امرء القیس نوم ئے وو چه عجمی وو په عربئ کښے ئے ډیر زیات مهارت حاصل کړے وو. هـغـه دعـویٰ کړی دہ چه زه ډیر لوئے فصیح اوبلیغ یم . نوخپل فصیح اوبلیغ کلام ئے پیش کولو خلقو یـقین کولو چه دے عربی دے .یعنی دۂ دَعربی کیدو دعویٰ کوله اوکلام به ئے هم ډیر فصیح اوبلیغ پیش کـولـو اوخـلقو به وربانـدے اعتماد کولو یوځل دے عربو ته لاړو اولاړو دَعربی کیدو دعویٰ ئے اوکـړه اوخپـل فـصاحت اوبلاغت نه ډک کلام ئے پیش کړو. یوعربی شاعر ددۂ متعلق واوریدل نوهغه امـرء الـقیس تـه دعـوت ورکـړو نـوامـرء القیس هغه ته لاړو اوخپل فصیح اوبلیغ کلام ئے پیش کړو اوریـدو سره هغه ډیرزیات خوشحال شو .اودۂ ته ئے خپله لور ورکړه اونکاح ئے ورسره اوکړو اودغه جینـئ ډیره فصیحه اوبلیغه وه یوه ورځ امرء القیس او ددۂ بی بی اودۂ وو امرء القیس خپلے بی بی ته اووئیل اُقْتُلِی السـراج چونکه جینئ ډیره فصیحه اوبلیغه وه په دے وجه دَامرء القیس خبرے اوریدو سـره ئـے اووئـیـل ستـاد فـصاحت اوبلاعت داحال دے چه تا ته دَ ډیوے دَمړولو عربی هم نه درزی نـوهـغـه اراده اوکـړه چـه صبا به زۂ تاته طلاق درکوم یعنی ستانه به خپل ځان خلاصوم په دے وجه دَصبا کیـدو خـواهش ئے شروع کړو اووے وئیل اصبح لیل داجمله عمومًا دَمصیبت په وخت وئیلے کیږی. دوئـمـه جمله وافتد مخنوق معنی دہ مرئ خفه کړے شوی .نویو لوئے ظالم سړے وو چه دَ خـلـقـو کـورونـو تـه بـه اوریدو اووئیل به ئے چه فدیه راکړه. ورنه مرئ به درله خفه کړم اودَ مخنوق اطـلاق پـه اعتبـار دَمایول الیه دے اصل عبارت به داسے جوړشی اِفْتَـدِ يَا مَخْنُوْقُ فدیه ورکړئ ای مَخْنُوْقُ اَطْرِقْ كَرَا پـه اصـل کښـے گـرَ وان وو. دَیـو مـارغه نوم دے عربی خلق دا په اعتبار تعویذ

استعمالولو. دَ منثر په طورنے استعمالول. ددینه لونے مارغه نعامه وے چه دَګَروان نه قوی دے نوکروان ته ئیے ونیل اطرق کرا اطرق کرا ان النعامه فی القریٰ کروان ته هم راکوز شه. ځکه چه ستانه زبردست مارغه نعامه هم راکوز شوے دے نودے اوریدو سره کرا زمکے ته به راکوز یدو یادساتئ په دیکښے درے شذوذ دی. **شاذاول** :. دَاسم جنس نه حرف ندا حذف کړے شوی دہ. **شاذ ثاني**:. ترخیم کپاره علمیت شرط دے. لیکن کروان کښے علمیت نه موندو په وجه ترخیم کول دا دونم شاذ دے. **شاذثالث** :. دَیواسم نه ترخیم کول دَهغے په آخرکښے یواعراب جاری نه کړے شی دا اصل دے. خلاف اصل اواعراب جاری کول اعراب هم اصل دے دلته اعراب جاری کړے شوے دے ځکه چه واو په الف سره تبدیل شي نولوستلے شي.

قوله وَقَدْ يُحْذَفُ الْمُنَادَىٰ لِقِيَامِ قَرِيْنَةٍ جَوَازًا مِثْلُ اَلَا يَااسْجُدُوْا ددے عبارت نه مصنف یوه قاعده بیانوی. چه کله کله منادی حذف کولے شي. چه کله یوه قرینه موجود وی. لیکن دا حذف جوازًا وی. وجوبًا کله هم نه وی. مثال ددے ځه رنګ اَلَا یااسجدوا اصل کښے وو الایا قوم اسجدو قرینه ځه وه. دلته قرینه داده چه یاحرف نداپه اسم بانده داخلیږی په فعل باندے نه داخلیږی اودلته په فعل باندے داخل ده یودا په دے همزه باندے دلیل دے چه دلته منادی محذوف ده. لیکن په دے صورت کښے چه کله الامشدد اونه لوستے شي. که مشدد اولوستے شي. نوددے به بل ترکیب شي. اَلَّا، ان نافیه لا نافیه یادسین سره ملاؤ کړے او اولوستے شي. اونون اعرابی دَان مصدریه په وجه غورزولے به شي.

قوله وَالثَّالِثُ مَااُضْمِرَ عَامِلُهُ عَلیٰ شَرِيْطَةِ التَّفْسِيْرِ. مصنفؒ د دونم مقام بیانولو نه پس اوس ددغه مقاماتِ اربعهٔ نه دریم مقام بیانوی. چه کوم ځائے دَ مفعول به عامل ناصب حذف کول واجب دی. قیاسی طوریاندے ما اضمر عامله علیٰ شریطة التفسیر یعنی هغه اسم چه دَهغے عامل پټ وی دَ تفسیر په شرط باندے.

سوال: دَعلیٰ متعلق ځه دے داخبره ظاهره ده چه دَ ما اضمر نه سواهو هیڅ یومتعلق نه جوړیږی. اوباقی پاتے شو اضمر هغه هم نه جوړیږی ځکه چه دَاضمیر صله علیٰ نه راځی.؟

جواب: داعلیٰ بنائیه ده علیٰ بنایه دیته ونیلے شی. چه ذهغے متعلق لفظ بناء مقدر وی. او دلته بناءً ذمبنیًا په معنی کیدو سره ذمفعول مطلق مقدر صفت دے تقدیر عبارت به داسے شی ماأضمر عامله اضمارًا مبنیًا علیٰ شریطة التفسیر.

سوال: شریطة التفسیر دا مضاف مضاف الیه دے اوقاعده ده چه په مضاف مضاف الیه کښے په اعتبار ذمصداق مغایرت وی حالانکه شریطة التفسیر کښے مغایرت نشته؟

جواب: داقاعده هغه وخت ده چه کله اضافت بیانیه نه وی دلته اضافت بیانیه دے مطلب به دا وی. چه ذمفعول به عامل تقدیر په یوشرط بانْدے مبنی دے اوهغه شرط تفسیر دے.

سوال: ستاسو لفظ شرط وایئ مصنف لفظ شریطة ونیلے دے آیا د دوارو معنی یوه ده؟

جواب: او د دوارو معنی یوه ده.

سوال: بیا لفظ شرط مصنف ونیلے دے ځکه چه په دیکښے اختصار دے اوچه ذمصنف مطلوب دے؟

جواب: ذلفظ شریطة په راوړولو کښے دوه وجے او دوه مصلحتونه دی. (۱) چه ذ شریطه تاپه دیکښے یواحتمال دا دے چه په دیکښے تا تانیث دے چه داتاذتانیث وی اوس ذشریطة ذ راوړولو وجه به داشی چه دا ذ موصوف محذوف صفت دے چه مؤنث دے ذعبارت تقدیر به داسے شی. علی علة شریطة التفسیر (۲) شریطة بانْدے د تانقل کړی ده یعنی وصف مخکښے ذ هر موقوف موقوف علیه ته شرط ونیلے کیدو لیکن اوس خاص کر وَما اضمر عاملهٔ ذتفسیر نوم جوړشوے دے او دانقل من الوصفیة الی العلمیة دے.

سوال: دلته ذمفعول به عامل حذف کول ولے واجب دی؟

جواب: حذف کول ځکه واجب دی چه په دیکښے مفسر موجود دے که مفسر ذکرکړے شی نولازم به راشی مفسر اومفسر جمع کیدل.

سوال: مونږ درته ښایو چه مفسِر مفسَّر جمع دی قرآن مجید کښے دی. رَاَیتُ اَحَدَ عَشَرَ كَوْ كَبًا والشمس والقمر رأیتهم لی ساجدین په دیکښے رایت ذمخکښے ذپاره مُفَسِّر دے او دواړه مُفَسِّرْ او مُفَسَّرْ موجود دی.

جواب: په دے مفسر اومفسر بانديے د قياس كول داقياس مع الفارق دے اودَ مُفَسَّرْ په باره كښے كلام كوی چه دَهغے مُفَسِّرْ اومُفَسَّرْ دَكلام نه پس وی او ستاسو چه كوم مثال وركړے دے په هغے كښے دَمفسِر اومفسَر دَ كلام په مينځ كښے راغلے دے. ځكه چه ساجدين دَ رومبئ رأيت مفعول ثانی دے.

جواب: رومبے جواب هغه وخت چليږی چه كله ساجدين دَمخكښے رأيت مفعول ثانی جوړ كړے ورنه دے به دوئم جواب داشی چه دا رأيتهم روستو جمله مستأنفه دَسوال مقدر جواب دے گويا چه داسوال كيدو كيف مارأيتهم تا په كوم حال كښے دا اوليدو نوجواب نے وركړو يوسف عليه السلام رأيتهم لی ساجدين .

سوال: جاء رجل ای زيدٌ په تركيب كښے مفَسِّرْ اوكمفسَر اجتماع ده؟

جواب: ابهام په دوه قسمه دے (۱) چه دَهغے منشاء حذف وی (۲) ابهام چه دَهغے منشاء مادة حروف وی اوهغه مفسر چه دَابهام دَقسم اول دَپاره رافع وی ددے دَمفسر سره اجتماع نه شی كيدے په خلاف دَقسم ثانی اوجاء رجلٌ وی زيدٌ كښے قسم ثانی دے.

قولُهٗ وَهُوَ كُلُّ اِسْمٍ بَعْدَ فِعْلٌ اَوْ شِبْهُهٗ مُشْتَغَلٌ عَنْهُ بِضَمِيْرِهٖ اَوْ مُتَعَلِّقِهٖ لَوْ سُلِّطَ عَلَيْهِ هُوَ اَوْ مُنَاسِبُهٗ لَنَصَبَهٗ مِثْلُ زَيْدًا ضَرَبْتُهٗ وَزَيْدًا مَرَرْتُ بِهٖ وَزَيْدًا ضَرَبْتُ غُلَا مَهٗ وَزَيْدًا حُبِسْتُ عَلَيْهِ يُنْصَبُ بِفِعْلٍ مُضْمَرٍ يُفَسِّرُهٗ مَابَعْدَهٗ اَىْ ضَرَبْتُ وَجَاوَزْتُ وَاَهَنْتُ وَلَا بَسْتُ. په دے عبارت كښے مصنف ما اضمر عاملة علیٰ شريطة التفسير تعريف كوی چه هر هغه اسم چه دَهغے نه پس فعل ياشبه فعل ددے په ضمير يا متعلق كښے دمشغول كيدو په وجه په ديكښے ما اضمر ددغه اسم نه اعراض كوی په داسے طريقه چه دغه فعل ياشبه فعل دَما اضمير عامله والا بانديے مسلط كړے شی يادغه فعل ياشبه فعل مناسب مرادف يادغه فعل يا شبه فعل مناسب لازم مسلط كړے شی نودغه فعل ياشبه فعل دغه اسم ته نصب وركړی پوځوخبرے فوائد چه ددغه تعريف سره متعلق دی. ددينه مراد عام دے خواه فعل ماضی وی يا فعل مضارع وی .معروف وی يا مجهول دَشبه فعل نه مراد اسم فاعل اسم مفعول وغيره اومشغلًا دَاشغال نه مُشتَق دے اشتغل يشتغل باب نه روستو كه

فِيْ راشي نو بيا دَ اشتغال معنى به شي محبت كول . او كه دَاشتغال نه پس عَنْ ،علىٰ راشي . نو دد ے معنى به شي اعراض كول دلته هم دَاشتغال معنى اعراض كول دي. او دَضمير د مطلب دا هم د ے چه ما أُضْمِرُ عـامـلـه والاسم نه پس چه كوم فعل د ے ددغه فعل مفعول داسے ضمير وي چه دَ ما اضمير عـامـلـه والا اسم په طرف عائد وي او دَ او بمتعلقه مطلب داد ے چه دَيواسم دَپل اسم سره دَڅه قسم تـعـلـق وي دلتـه دَمتـعلق نه مراد جارمجرور نه د ے بلكه عام تعلق مراد د ے. خواه دَ رشته دارئ تعلق وي يا دَ روررولئ تعلق وي يا دَغلام كيدو تعلق وي.

فائده: پـه د ے تعريف كښـے ټول پنځه شرطونه شول (۱) ددغه اسم نه پس فعل يا به فعل وي كه فـعل يأشبه فعل نه وي نوپه ديكښـے داخل نه د ے زيدٌ ابوك (۲) فعل يأشبه به دغه اسم كښـے عمل كولـو نـه اعراض كولو والا وي احترازي مثال زيدًا ضَرَبْتُ (۳) فعل يا شبه فعل په دغه اسم كه چرے مسـلـط نه كړے شي نوپه ديكښـے داخل نه د ے چه څه رنګ اَزَيْدٌ هَلْ ضربْتَهُ (۴) دغه فعل يأشبه فعل يادد ۀ مناسب مسلط كړے شي نونصب هم وركړي .كه نصب ورنكړي نوهم په ديكښـے داخل نه د ے لكه څه رنګ اَزَيْدٌ ذُهِبَ بِهٖ (۵) تسـليـط سره معنى هم فاسده نه وي اوكمقصود نه خلاف هم نه وي كـه چـر ے معنى فاسده شوه ياكمقصود نه خلاف شوه نو دا به هم مااضمر عامله كښـے داخلو ے نـه شي.لـكـه څـه رنګ كُـلُّ شيءٍ فَعَلُوهُ فِي الزبر مصنف څلور مثالونه وركړي دي. حالانكه عقلي طور بـانـد ے شپږ مثالونه جوړيږي. هغه شپږ صورتونه په د ے طريقه جوړيږي . (۱) فعل يأشبه فعل ما اضـمـر والا اسم نـه اعراض اوكړي ددۀ په ضمير كښـے عمل كوي اوخپله دا مسلط كړے شي نونصب وركـړي.(۲) فـعـل يـأشبه فعل ددغه ما اضمر والا اسم نه اعراض اوكړه دَهغے په متعلق كښـے عمل كـوي اوخپله دامسلط كړے شي نونصب وركوي.(۳) فعل يا سبه فعل ددغه اسم نه اعراض كولوسره دده پـه ضـمـيـر كـښـے عمل كوي كه چر ے ددۀ دغه فعل يا دَشبه فعل مناسب مترادف مسلط كړے شـي نـونـصـب وركړي. (۴) فعل يأشبه فعل ددغه اسم نه اعراض كولوسره په متعلق كښـے عمل كوي ددۀ مـنـاسـب مترادف مسلط كړ ے شي نو نصب وركړي. (۵) فعل يأشبه فعل دَما اضمر والا اسم په ضـمـيـر كـښـے عمل كوي اودَهغے څه مناسب لازم مسلط كړ ے شي نونصب وركړي .(۶) فعل يأشبه فـعـل دَاسـم پـه څـه متـعـلـق كښـے عمل كوي. ددغه فعل يأشبه فعل مناسب لازم مسلط كړے شي

نونصب ورکړی دغه شپږو صورتونو نه چونکه معتبر څلور وو په دے وجه مصنف څلور مثالونه ورکړل د دونم صورة مثال نه جوړیږی. ځکه چه مقصد فوت کیږی. اوڅلورم صورة مثال هم ممتنع دے ځکه چه مقصد فوت کیږی. باقی تمام مثالونه مذکور دی ډرومبی صورة مثال زیدا ضربته او دغه ضربت بعینه مسلط کړے شی نونصب ورکوی اومقصد هم نه فوت کیږی په دے وجه ضربت زیدًا وئیلے شی. د درنم صورة مثال زیدا مررت به په دیکښے هم تمام شرطونه موندلے شی. لیکن خپله مررت مسلط کړے شی. نونصب نه ورکوی .ځکه چه ډباب مرور بغیر ډباء نه استعمال نه کیږی اوچه ډبا سره استعمال اوکړے نو جر به ورکوی. البته ددے مناسب مترادف جَاوَزْتُ مسلط کړے شی.نونصب ورکوی. نولهذا جاوزتُ زیدا وئیل درست دی ډپنځم صورة مثال: حُبِسْتُ علیه دلته هم ټول شرطونه موجود دی البته فعل بعینه تسلیط ناصب نه دے .لیکن ددے مناسب لازم مسلط کړے شی نونصب ورکوی. یعنی لَابَسْتُ زَیْدًا وئیلے شی. ډشپږم صورة مثال زیداً ضربته غلامه دلته زیدًا اسم دے لیکن ددے نه پس ضربتُ فعل موجود دے. زید عمل کولوسره اعراض اوکړی په متعلق کښے عمل کوی که بعینه دغه ضربت مسلط کړے شی نونصب ورکوی. لیکن خلاف مقصود دے. ځکه چه وهل په زیدٌ باندے واقع نه شوبلکه ددهٔ نه په غلام باندے واقع شوے دے .لیکن ددے لازمی معنیٰ مسلط کړے شی نونصب ورکوی چه اَهَنْتُ زیدًا وئیلے شی .ځکه چه ډزید غلام وهلوسره ډزید توهین لازمی دے. په دے وجه اَهَنْتُ زیدًا مناسب دے.

قوله وَيَخْتَارُ الرَّفْعُ بِالْاِبْتِدَاءِ عِنْدَ عَدَمِ قَرِيْنَةِ خَلَافِهِ اَوْ عِنْدَ وُجُوْدِ اَقْوىٰ مِنْهَا كَامَّا مَعَ غَيْرُ الطَّلَبِ وَاِذَا لِلْمُفَاجَاةِ تردے پورے مصنفؒ مااضمر عامله علیٰ شریطة التفسیر بیان کړو اوس ددے ځائے نه هغه اسم چه په هغے کښے دااحتمال وو چه هغه پوره په پوره مااضمروالوکښے داخل وی نومصنف دابیانوی چه دهغے نه کوم کوم مااضمر والوکښے داخل دی اوکوم کوم داخل نه دی. دیته مضان مااضمر عامله علی شریطة التفسیر وئیلے شی. ددے ټول پنځه مقامات دی ړومبی کښے رفع مختار ده دونم مقام کښے نصب مختار دے درنم کښے دواړه برابر دی. څلورم کښے نصب واجب دے پنځم کښے رفع واجب ده. مصنفؒ ډرفع مختار مقام په ټولو مقدم کړے دے.

سوال: په دے بحث کښے نصب بیانول مقصود دے لیکن دے څه وجه ده چه ستاسو رفع چه غیر مقصود وه مقدم کړه په دغه مقام بانده ؟

جواب: نصب مقصود وو رفع غیر مقصود وه نو په رفع کښے غیرمقصود کېدو په وجه دا احتمال وو چه ددے ذهول اونه شي په دے وجه دانے مقدم کړو. رومبے مقام ویختار الرفع سره بیانولے شي. ددے درے صورتونه دي ډرومبي دوه صورتونه دي اود دونم صورة هم بیادود صورتونه دي. رومبے داچه وقت مصحح للرفع قرینه موجود وي او مصحح للنصب هم موجود وي او مرجح للرفع قرینه موجود وي. لیکن مرجح للنصب قرینه موجود نه وي نودغه وخت به رفع لوستل مختار وي دونم صورة چه مصحح للرفع قرینه موجود وي اومصحح للنصب هم قرینه موجود وي لیکن مرجح للرفع قرینه مرجح للنصب نه اقوئ وي نودغه وخت به هم رفع مختار وي. رومبے صورة مصنف په یختار سره بیان کړو یعنی رفع مختار ده . وجه ئ مبتداء کېدو ځوخت نه کېدو قرینه په خلاف رفع.

سوال: ستاسو ذ بیان ته توجیه القول بما لایرضیٰ به القائل لازم راځي په دے وجه چه ستاسو بیان ذمصنف ذعبارت خلاف دے .ځکه چه ذمصنف عبارت خوداده یختار الرفع بالا بتداء عند عدم قرینة خلافه یعنی کوم وخت ذرفع ذخلاف ذپاره قرینه هم موجود نه وي یعنی په نصب بانده څه قرینه نه وي نودغه وخت به رفع مختار وي لیکن تاسو وائي چه مصحح للرفع قرینه موجود وي اومصحح للنصب قرینه هم موجود وي حالانکه ذمصنف عبارت داده چه هیڅ قرینه هم په نصب بانده نه وي.

جواب: دقرینه مضاف الیه اود خلافه مضاف مقدر دے تقدیر ذعبارت به داشي عند عدم قرینه اختیار خلافه یعنی ذ رفع خلاف ذ غوره والي څه قرینه موجود نه وي ذمضاف مقدر کېدو بانده قرینه یختار الرفع یعنی غوره ده رفع چه غوره ده نوفرمائي عند عدم قرینه اختیار خلافه چه کوم وخت ذرفع په خلاف ذ غوره والي څه قرینه موجود نه وي په دے وجه که چرے قرینه موجود نه وي. نودغه وخت خورفع واجب‌يږي نه چه مختار یختار رفع ددے دلیل دے چه دلته اختیار مضاف مقدر دے . مثال څه رنګ زیدًا ضَرَبْتُهُ زید مرفوع لوستلے شي منصوب هم. ځکه چه مصحح للرفع قرینه موجود ده .چه رفع لوستلو کښے څه خرابي لازم رانغله . مصحح للنصب قرینه موجود ده چه

نصب لوستلو سره هم څه خرابي لازم نه راځي. ليكن مرجح للنصب قرينه موجود نه دۀ او حالانكه مرجح للرفع قرينه موجود دۀ هغه دادۀ چه كه مرفوع اولوستلے شي. نو هيڅ كلام مقدر نه شي منلے ليكن منصوب لوستلو كښے كلام مقدر هم منلے شي. نو مرجح للرفع قرينه كيدو په وجه رفع لوستل مختار دي وعند وجود الاقوىٰ منها. دوئم صورة دادے چه مصحح للرفع قرينه موجود دۀ اومصحح للنصب هم وي. مرجح للرفع قرينه مرجح للنصب نه اقوىٰ وي نودغه وخت به هم رفع مختار وي ددے دوه صورتونه دي بيا ددوئم صورة بيا دوه صورتونه دي. (۱) داچه يو امّا طلب نه پس واقع وي نومرفوع لوستل بهتر دي. امّا طلب مطلب دادے چه دَ اِمّا نه پس يوداسے فعل نه وي چه په هغے كښے دطلب معنى بيامونده شي. يعنى استفهام، تمني، ترجي وغيرا نه وي. نوكوم وخت اِمّا دَطلب كپاره نه شو يعنى ددينه پس دغه مذكور څيزونه اونه شول نودغه وخت رفع لوستل مختار دي او نصب لوستل هم صحيح دي. چه څه خرابي لازم نه راځي رفع لوستل هم صحيح دي. څه خرابي لازم نه راځي لهذا مصحح للرفع اومصحح للنصب موجود دے مرجح للرفع قرينه موجود دۀ. اومرجح للنصب هم چه اِمّا هميشه په اسم بانددے داخليږي ددے مثال : قام زيدٌ امّا ضربت ۀ دلته عمرو مرفوع هم لوستلے شي او منصوب هم اومرجح قرينه هم موجود دۀ اِمّا هميشه په اسم بانددے داخليږي په دے وجه دلته په اسم باندے داكل دے نودا به مبتدا جوړولے شي. اوهيڅ څيز به محذوف نه شي منلے. اومرجح للنصب قرينه هم موجود دۀ چه دَجمله فعليه په جمله فعليه بانددے به عطف كولے شي. مناسب دادۀ چه دَجمله فعليه په جمله فعليه باندے عطف وي نودمرجح للنصب قرينه اقوىٰ دۀ. هغه داسے چه ټيک دۀ چه دَجمله اسميه عطف جمله فعليه باندے عطف كول مناسب نه دي. ليكن دَجمله اسميه عطف جمله فعليه باندے عطف اكثر كيږي. په خلاف دَاِمّا چه امّا هم په اسم باندے داخليږي اوپه فعل باندے داخليدل ډير شاذ اونادر دي په دے وجه چه كوم اسم دَ اِمّا طلبيه نه پس واقع وي هغه مرفوع لوستل بهتردي.

فائده: دَطلب نه مراد خاص دے چه دَ اِمّانه پس امر نهي اودعا واقع نه وي ځكه چه كه دَاِمّا نه پس امر نهي يادعا واقع وي نودَهغے منصوب لوستل واجبيږي. كه دَاِمّا نه پس استفهام، تمني، ترجي وغيرة واقع وي نودغه وخت نصب لوستل مختار وي امرونهي وغيرة كښے منصوب لوستل واجب ځكه

دي چه که چرے مرفوع اولوستے شي نو امر ونهي وغيره کښے نصب په دے وجه مختار دے چه استفهام دَ صدارت تقاضا کوي نودد ے ميځ خبر مقدم کيږي نه وچه کوم مقدم وي هغه دَ استفهام وغيره معمول نه جوړيږي. اودَ اذامفاجاتيه نه پس هم يواسم واقع وي نودَهغے مرفوع لوستل به بهتر وي . قرينه مذکوره موجوديږي. مرفوع لوستل بهتر په دے وجه دي چه اذا عمومًا اواکثر په اسم باندے داخليږي. څه رنګ چه خَرَجْتُ اِذًا زَيدٌ فَضَرَبْتُهُ

قولهٗ وَيُخْتَارُ النَّصْبُ بِالْعَطْفِ عَلٰى جُمْلَةٍ فِعْلِيَّةٍ لِلتَّنَاسُبِ ددے مقام نه مصنف هغه مقام بيانول غواړي چه هلته نصب مختار دے. دايه هغه وخت وي چه يواسم وي اودَهغے نه مخکښے جمله فعليه وي نوتناسب قائمولو دَپاره په هغے باندے نصب لوستل مختار وي مصحح للرفع قرينه هم موجود وي اومصحح للنصب قرينه هم موجود وي څکه چه دَ دواړو په لوستلو سره څه خرابي لازم نه راځي اومرجح للنصب قرينه موجود کيدو په وجه نصب لوستل مختاردي.

سوال: چه څه رنګ مرجح للنصب قرينه موجود دہ نودغه رنګ مرجح للرفع قرينه هم موجود دہ هغه سلامتي عن الحذف دہ په دے وجه رفع او نصب دواړه برابر کيدل پکار دي؟

جواب: زمونږ مراد دادے چه کوم وخت تناسب مقصود وي نوهغه وخت به نصب مختار وي څکه چه تناسب دَنصب په صورت کښے کيږي په دے وجه مونږ شرط اولګولو چه جمله فعليه دَ للتناسب علی جملة فعلية للتناسب که چرے تناسب مختار نه وي نو نصب به هم مختار نه وي مثلًا که چرے سلامت عن الحذف مقصود وي نوبيا به رفع مختار وي.

قولهٗ وَبَعْدَ حَرْفِ النَّفْيِ وَاَلِاسْتِفْهَامِ وَاِذَا الشَّرْطِيَّةِ وَحَيْثُ وَفِي الْاَمْرِ وَالنَّهْيِ اِذْهِيَ مَوَاقِعُ الْفِعْلِ حرف نفي نه مراد خاص دے يعني مَا ولَا اواِن مراد دے. باقي مراد نه دي .په دے وجه اګر هغه په فعل باندے داخل وي نوهلته به نصب لوستل مختار نه وي . بلکة واجبيږي . دَحرف استفهام نه پس هم نصب مختار وي. دَ اذا شرطيه اوحيث نه پس هم نصب مختار وي. په دے وجه چه شرط هميشه فعل وي. اوهميشه فعل څکه وي چه په شرط کښے تردد موندے شي اوتردد هم په فعل کښے موندے شي .او امرونهي کښے هم نصب مختار دے. څکه که چرے مرفوع اولوستے

شي وامر ونهي وغیره به خبر واقع شي . حالانکه دَجمله انشائیه په وجه خبرنه واقع کیږي په دے ټولو کښے نصب مختار په دے وجه دے چه دادَ فعل مواقع دي چه کله دا دَ فعل مواقع دي نونصب مختار دے.

قولُهٗ وَعِنْدَ خَوْفِ لُبسَ الْمُفَسِّرِ بِالصِّفَةِ مِثْلُ اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنَاہُ بِقَدَرٍ په دے عبارت کښے مصنف دَنصب مختار کیدو اخري مقام بیانوي هغه دادے چه کله یواسم وي اودهغے نه پس یوه کلمه واقع کیږي کـه چرے دغـه اسم مرفوع اولوستے شي نوددینه پس دَخبر دَصفت سره التباس لازم دے. یعني دغه خبر صفت جوړ کړے شي اوددے نه پس بل یواسم خبر واقع کیږي . نو په داسے مقام باندے نصب مختار دے لکه اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ خَلَقْنَاہُ بِقَدَرٍ دا منصوب اولوستے شي چه اصل ترکیب دے. مطلب یـه داشي چه مونږهرڅیز اندازے سره پیدا کړے دے اوکه کُلَّ شیءٍ مرفوع اولوستے شي نوبیا هم اصل اوصحیح ترکیب همدغه دے چه کُلَّ شَیْءٍ مبتدا خَلَقْنَاہُ خبر واقع دے .چه څه رنګ دَمنصوب یه صورت کښے وو لیکن څوک کم فهم والا انسان په دیکښے بل یوترکیب هم کولے شي هغه داچه خَلَقْنَاہُ چه په اصل کښے خبر دے صفت جوړ کړي. دَشَیْءٍ مطلب به داشي چه کوم څیز مونږ پیدا کړے دے هغه په اندازے سره دے نودغسے دَمُعتزله دَمذهب تـوثیق اوتـائید په اوشي . په دے وجه نحویانو داقاعده جوړه کړه چه که چرے یواسم وي اوددے نه پس یوه کلمه خبر واقع کیدو والا وي.اودغه اسم مرفوع لوستلو سره دَخبر دَصفت سره التباس لازم راځي نو په داسے صورت کښے منصوب لوستل به مختار وي.

قولُهٗ وَیَسْتَوِي الْاَمْرَانِ فِيْ مِثْلِ زَیْدٌقَامَ وَعَمْرٌوا اَکْرَمْتُهٗ په دے عبارت سره مصنف مضان مااضمر عـامـلـه درئـم مقام چه کوم ځائے رفع اونصب برابر دي هغه بیانوي . دابه هغه وخت وي چه کله یواسم وي اوددے نـه مخکښے جـمـلـه فعلیه هم وي اوجمله اسمیه هم .که چرے ددغه اسم جمله اسمیه بـانـدے عطف واچولے شي نودغه وخت منصوب لوستل جائز دي. نوجمله اسمیه باندے عطف اچولو سره دامرفوع هم لوستلے شي. اوجمله فعلیه باندے عطف اچولو سره منصوب هم لوستلے شي . چه څـه رنګ قـام زیـدٌ وعـمـرو اکرمته دلته دَ عمرو عطف زید باندے اچولوسره مرفوع هم لوستلے شي اوجمله فعلیه باندے اچولو سره یعني قام باندے عطف اچولوسره منصوب هم لوستلے شي.

سوال: ستاسو پیش کړے شوی مثال کښے رفع اونصب دواړه برابر نه دی بلکه رفع مختار کېدل پکار دی. ځکه چه مرجح للرفع قرینه هم موجود ده. هغه داچه مرفوع لوستلو کښے دَسلامت عن الحذف فائده حاصلیږی .

جواب: کـه چرے مرجح الرفع قرینه موجود ده نو مرجح لنصف قرینه هم خوموجود ده هغه داچه جمله فعلیه صغری ده او جمله اسمیه کبریٰ ده عطف مناسب داد ے چه په صغریٰ بانـدے واچولے شی نه په کبریٰ بانـدے په دے وجه رفع اونصب دواړه په دخول کښے برابر دی.

سوال: جملـه صغریٰ کـه چرے اسم دَ عمروا قریب دے نوجمله کبریٰ هم خوقریب ده ځکه چه صغریٰ هم خودَکبریٰ یوجز دے .په دے وجه هم رفع مختار کیدل پکار دی؟

جواب: جمله کبریٰ په اعتبار دَمبدأ بعید دے . اوپه اعتبار منتهی قریب دے لیکن جمله صغریٰ پـه اعتبـار مبـدأ قـریب دے اوپه اعتبار دَمنتهی هم په دے وجه قرب قرب کښے فرق د نوڅاېته شوه چه رفع اونصب دواړه برابر دی .

قـولـهٗ وَيَـجِـبُ النَّصْبُ بَعْدَ حَرْفِ الشَّرْطِ وَحَرْفِ التَّحْضِيْضِ مِثْلُ اِنْ زَيْدًا ضَرَبْتَهٗ ضَرَبَكَ وَاَلاَّ زَيْدًاضَرَبْتَهٗ. په دے عبارت کښے مصنف دَمضان څلورم مقام بیانوی چرته چه نصب واجب دے دانـصب دَحرف شرط نه پس به وی اودَحرف تحضیض نه پس به وی دَحرف شرط نه پس په دے وجه چه حرف شرط همیشه فعل وی دَ تحضیض نه پس په دے وجه چه کوم وخت حرف تحضیض په ماضی بـانـدے داخلیږی. نوتنـدیم دپاره مضارع بانـدے داخل شی نودَترغیب دَپاره وی اوتندیم دَترغیب په فعل کښے مونـدے شی په دے وجه چه حرف تحضیض نه پس هم نصب به واجب شی.

قـولُهٗ وَلَيْسَ اَزَيْدٌ ذُهِبَ بِهٖ مِنْهُ فَالرَّفْعُ پـه دے عبـارت سره مصنف دَمضان ما اضمر عامله پنځم مـقـام بیـانـوی چه کوم ځائے رفع واجب ده د لته مصنف طرز بدل کړو چه دَ یو سوال مقدر جواب هم اوشی اومقام هم بیان کړے شی. نوو ے فرمانیل اَزیدٌ ذُهِبَ بِهٖ مااضمر عامله دَ قبیلے نه نه دے دا په اصل کښے دَسوال مقدر جواب دے .

سوال: ستـاسو بیـان کـړے دے چـه کوم اسم دَهمزه استفهام نه پس واقع وی نودَهغے منصوب

لوستل مختار وی مونږ تاسو ته یومثال ښایو چه کوم ځائے رفع واجب دۀ حالانکه هغه اسم دهمزۀ استفهام نه پس واقع دے؟

جواب: اوداباتعدیه سرۀ متعدی کیږی نوکوم وخت ذُهِبَ په زیدٌ بانده مسلط کولے شی نو خامخا دباکیدل ضروری به وی ځکه چرے با راوړے شی نو بأجر ورکوی. په دے وجه منصوب نه شی لوستلے اوهم رفع لوستل واجبیږی ځکه چه داما اضمر عامله یوشرط مفقود شوے دے.

جواب: داباب لازمی دے لیکن مونږ ددینه قطع نظرکولو سرۀ باقی وجے نه متعدی کوؤ نه بلکه کمځکښے نه متعدی منو. بغیر دتأویل نه متعدی منو . بیاهم که چرے ذُهِبَ په زیدٌ بانده مسلط کړے شی نودماضی مجهول کیدو په وجه دا به رفع ورکړی ځکه چه دابه نائب فاعل جوړ شی اودا به ماأُضْمِرَ عامله سرۀ خارج شی . نوهرهغه مقام چه هلته یواسم دَ همزۀ استفهام نه پس واقع وی اودهغے نه پس فعل یاشبه فعل وی چه په هغے کښے عمل کولو نه اعراض اوکړی دهغے په یوضمیر یاپه یومتعلق کښے عمل کوی چرے فعل یاشبه فعل مسلط کیدو په وجه نصب ورنکړی نو هغه دَما اضمر عامله نه خارج کیږی اومرفوع لوستل واجبیږی.

قوله وَكَذَا لِكَ كُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِ په دے عبارت سرۀ مصنفؒ دونم مقام بیانوی .چه کوم ځائے رفع واجب دۀ داهم دَ یوسوال مقدر جواب دے اوكَذَالِكَ اشارۀ هم ماقبل طرفته دۀ دَ چه څه رنګ هغه عبارت دَسوال مقدر جواب دے دغه رنګ داعبارت هم دَسوال مقدر جواب دے.

سوال: د مَاأُضْمِرَ عَامِلُهٗ تمام شرطونه موندلے شی . ستاسو دا منصوب نه لولئ بلکه وایئ چه رفع واجب دۀ لکه كُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فی الزبر ددینه مخکښے یوتمهید اوپیژنئ . چه ددے موجود ترکیب څه دے. ددے تفصیل دادے چه کل شیءٍ مبتدأ دۀ دفعلوه شئ صفت دے اوفی الزبر دثابت متعلق شو خبر جوړ شومطلب به داشی چه ټول کارونه چه خلق کوی هغه په زبر اوکتابونو کښے موجود دی ؟

جواب: جواب دادے که چرے دامنصوب اولوستے شی نودَ فی الزبر دوه ترکیبونه دی. فی الزبر ظرف لغوبه شی اودَ فَعَلُوْهُ متعلق به شی.(۲) فی الزبر ظرف مستقر کیدو سرۀ كَائِنٌ یاثابتٌ متعلق

تېرشو سره کس شئ نه به حال جوړشي. که رومبے ترکیب اوکړے شي یعنی ظرف لغوه جوړ شي نوبیامعنی فاسدیږی . دونم ترکیب سره دَ مقصود مخالفت لازم راځي رومبی ترکیب کښے معنی داسے کیږی چه دغځ مطلب به شي چه ټول کارونه چه خلق کوی یعنی په کتابونو کښے کوی یعنی افعال عباد کتابونو کښے دی. حالانکه داخبره غلطه ده . د دونم ترکیب مطلب دا را اوځی چه ټول کارونه چه خلق کوی چه کارونه خو په کتابونوکښے کېدو والا دی . یعنی رومبے دغه کار کتابونو کښے موجودیږی روستو بندګان رانقل کړی کار کوی حالانکه دا مقصود نه دے بلکه رومبے خلق کارکوی بیا ملائک ددوئ افعال په کتابونو کښے درج کوی نوپه دے وجه داترکیب هم صحیح نه دے چه کله دا دواړه ترکیبونه صحیح نه وو په دے وجه مونږ اوونیل چه کل شی مرفوع لوستل واجب دی بلکه مونږ قاعده وجوړه کړه چه هر هغه مقام چه هلته دَمااضمر عامله تمام شرطونه موندے شي لیکن په اسم باندے دَفعل یاشبه فعل مسلط کولو سره معنی به فاسده شي لیکن په اسم باندے دَفعل یاشبه فعل مسلط کولوسره معنی به فاسده شي یادَ مقصود خلاف شي نوهلته به نصب جائز نه شي بلکه رفع به واجب شي.

قولُهُ وَنَحْوُ الزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ، اَلْفَاءُ بِمَعْنَى الشَّرْطِ عِنْدَ الْمُبَرِّدِ وَجُمْلَتَانِ عِنْدَ سِيْبَوَيْهِ وَاِلَّا فَالْمُخْتَارُ النَّصْبُ.

په دے عبارت سره مصنف دَرفع دَوجوب پنځم مقام بیانوی داهم دَ یوسوال مقدر جواب دے .

سوال: ستاسو مخکښے بیان اوکړو چه یوه صیغه دَامر وی او دَهغے نه مخکښے یواسم وی نودَهغے منصوب لوستل واجب دی لیکن ستاسو الزانیة والزانی فاجلدوا کښے دَوجوب نصب قائل نه یئ بلکه ستاسو وایئ چه رفع واجب ده حالانکه دلته دَما اضمر عامله تمام شرطونه موندلے شي صیغه دَامر هم موجود ده؟

جواب: دقراء سبعه و په دے خبره باندے اتفاق دے . چه الزانیة والزانی کښے رفع واجب ده. صرف یوقاری عیسیٰ بن عمر دَ نصب دَ وجوب قائل دے . نو اوس دَنحویانو دَقاعدے مطابق خودا منصوب لوستل واجب دی. حالانکه قراء سبعه دَرفع قائل دی. نوددینه به لازم راشي دَ قراء سبعه

ؤ اتـفـاق يـوغـيـر مـختـار روايت بانـدے غير مختار قراء ت بانـدے نودَقرآن مجيد متعلق داسے قسـم خبـره كول نونـے دَبهادرئ اوجراء ت كار دے .په دے وجه نحويانو ته ضرورت پيښ شو. چه داسے حـال رااوبـاسي چـه الـزانيـه والـزاني دَخپلے قاعدے نه خارج كړي اومستثنىٰ نـے كړي نو نـحويـانـو ددے محمل رااويستو چه په ديكښے دوه مذهبونه دي.(١) دابو العباس مبرد(٢) دونم مـذهـب دَسيبـويـه دَدواړو مـقـصـود دادے چه برنـے ايت دَما اصمر عامله دَ قبيلے نه اويستے شي .ليكن لار اوطريقه دَ دواړو مختلف ده. ابوالعباس مبرد وائي. چه فاجلدوا بانـدے فاشرطيه ده اودا يـو سـبـب اوجـزاء بانـدے داخل دے. الزانيه والزاني بانـدے الف لام موصول دے. اودا قاعده ده چـه كـلـه الف لام مـوصـول اسم فاعل اومفعول بانـدے داخل وي. نومعنى دَشرط ته متضمن كيږي په دے وجـه الـزانية والزاني هم دَ شرط معنى ته متضمن شو. په دے وجه اوس فاجلدوا جزا په جوړه شي. اوداهـم قـاعـده اوقـانون دے چه جزا په خپل ماقبل كښے عمل نه كوي په دے وجه عمل نه كوي چه دَشرط اوجزاء التباس لازم راځي هغه داسے چه هغه څيز مقدم كيدو په لحاظ سره خود شرط معـمـول بـه جـوړ شي ليكن دَجزا كله دَيو جز معمول كيدو په وجه دَجزا دَقبيلے نه به شي. ددے التباس نه بچاؤ دَپاره شرط ئـے اولګولو جزاپه ماقبل كښے عمل نه كوي دا قاعده نـے جوړه كړه البته كـه چـرے دَفاماقبل اومابعد كښے دَشرطيت اوجزائيت تعلق نه وي نودَفا بعد كښے ماقبل كښے عـمل كوي لكه رَبَّكَ فَكَبِّرْ وَ ثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (الايـة) اوكـه چـرے دَ شرطيت اوجزائيت تعلق وي نو ديو غـرض پـه وجـه دَجزاء په ماقبل كښے عمل كوي نودمبرد په نيزد دايوه جمله ده سيبويه وائي چه دوه جـملے دي الزانية والزاني جدا ده اوفاجلدوا دا جمله جدا ده الزانيه والزاني دامضاف مضاف اليه ملاؤ كـړے مبتدا شوه چه ددے خبر سَيُتْلىٰ عَلَيْكُمْ مـحذوف دے. سيبويه هم داخبره مني چه فاجلدوا بـانـدے فـاء شـرطيـه ده اوشـرط او جـزاء بانـدے داخل دے. البته دَ الزانية جزا الزاني الى آخره جـزائـه ده بله ددے شرط محذوف دے .ان ثبت زناهما باربعة شهداء اوباقرا ثلاث مراة فاجلدوا چـه كـله دا دوه جدا جدا جملے شوے نواوس دَيو جملے جُز دَ بلے جملے خبر بانـدے عمل نه كوي پـه دے وجـه الزانية ماأضمر عامله نه خارج شو. اوددے مرفوع كيدل واجب شو وإلاَّ (الى آخره) كه چـرے داسے نه وي يعني چه په كوم بانـدے مبرد اوسيبويه محمول كړو محمول نه كړے شي نوبيا

نصب لوستل به مختار شي دمصنف دا کلام په قیاس استثنائي باندے مشتمل دے. چه دهغے تفصیل دادے چه د قیاس دوه قسمونه دي. (۱) قیاس اقتراني (۲) قیاس استثنائي. قیاس اقتراني دادے. صغرئ :ان لم تکن الفاء بمعنی الشرط او الایت جملتین فهی داخلة تحت ضابطة کبریٰ :کلما کانت داخله تحت الضابطة فالمختار حینئذ النصب. نتیجه: ان لم تکن الشرط بمعنی الفاء اوالایت جملتین فالمختار حینئذ النصب. **قیاس استثنائ صغری:** دقیاس استثنائي نه حاصل شوے نتیجه جوړه کړے شي اود نقیض تعلیق استثناء اوکړے شي اوداسے اونیلے شي .ان الم تکن الفاء بمعنی الشرط ولم تکن الایت جملتین فالمختار حینئذ النصب ولکن اختیار النصب باطل نتیجه الفاء بمعنی الشرط اوالایت جملتین ځکه چه دعین تعلیق استثناء دنقیض مقدم دپاره نتیجه وي.

قوله الرَّابِعُ التَّحْذِیْرُ وهُوَ مَعْمُوْلٌ بِتَقْدِیْرِ تَحْذِیْرًا مِمَّا بَعْدَهُ اَوْ ذُکِرَ الْمُحَذَّرُ مِنْهُ مُکَرَّرًا. ددرنم مقام دقراعت نه پس مصنف ځلورم مقام بیانول غواړي چه په هغے کښے دمفعول به عامل ناصب قیاسي طور باندے حذف کولے شي ځلورم مقام تحذیر دے .

سوال:تحذیر کښے دمفعول به عامل وجوبي طورباندے ولے حذف کولے شي؟

جواب: ځکه چه دتنګی مقام وي فرصت کم وي مصیبت مخکښے وي که متکلم دفعل په تکلم کښے مشغول شي نوخطره ده یامحذر په مصیبت کښے واقع شي په دے وجه فعل حذف کړے دے د تحذیر لغوي یرول دي چه کوم یرونکے وي هغه ته محذِر ونیلے شي اوڅوک چه یرولے شي هغه ته محذَر ونیلے شي. اودکوم څه نه چه یرولے شي هغه ته محذّرمنه ونیلے شي. داخولغوي معنی ده لیکن په اصطلاح کښے تحذیر قسم اول اوقسم ثاني ته ونیلے شي.

دتحذیر تعریف:. التحذر وهو معمول بتقدیر اتق مُحَذِّر او مُحَذَّرمِنْهُ دتحذیر دوه قسمونه محذِر اومحذر منه دواړه عبارتونه موجود وي اوتحذیر هغه معمول دے چه منصوب وي مفعول به کیدو په بنا باندے ددے دپاره فعل اِتَّقِ یا ددے په شان محذوف کیږي . دتحذیر دوه قسمونه دي (۱) قسم اول محزر اومحذّر منه دواړه په کلام کښے موجود وي (۲)قسم ثاني:. په کلام کښے فقط محذّر منه موجود وي اوهغه به تکرار سره راوړے شي.

سوال: دقسم اول اوقسم ثاني ټول مثالونو کښے اتق فعل مقدر کولے نه شي؟

جواب: دلته ذاتي ذکر دتمثیل په طور دے.

سوال: تمثیل ګهاره خو یومثال کافي وي مصنف پنځه مثالونه ولے ورکړل ؟

جواب: ټول احتمالات عقلیه اته وو هغه داسے چه محذرمنه به دوه حالونه خالي نه وي اسم صریح به وي یا اسم تاویلي یاتقدیر بانسدے یو دوه حالو نه به خالي نه وي مستعمل بلفظ واو به وي یا بلفظ من به وي داټول څلور احتمالات شول. (۱) محذرمنه اسم صریح مستعمل بلفظ واو به وي (۲) محذر منه اسم صریحي مستعمل بلفظ مِن وي (۳) محذورمنه اسم تاویلي مستعمل بلفظ واو به وي (۴) محذرمنه اسم تاویلي مستعمل بمن وي دغه احتمالات اربعه ؤ نه په هریو کښے بیا دوه احتمالات دي چه واو ملفوظ سره وي یا واو مقدر سره به وي دغه رنګ مِنْ ملفوظ سره وي یا مِنْ مقدر سره وي نوټول اته احتمالات شو چه ددینه حسب ذیل احتمال خمسه صحیح دي. (۱) محذرمنه اسم صریحي مستعمل بواو ملفوظ وي لکه ایاك والاسد (۲) محذرمنه اسم صریحي مستعمل بمِنْ ملفوظوي. لکه ایاک والا سد (۳) محذرمنه اسم تاویلي مستعمل بواو ملفوظ وي لکه ایاك وَاَنْ تَحْذِفَ الارنب (۴) محذومنه اسم تاویلي مستعمل بمن مقدر وي. لکه ایاک ان تحذف الارنب باقي احتمالات ثلثه حسب ذیل نه مستعمالیږي. (۱) محذرمنه اسم صریحي مستعمل بواو مقدر وي (۲) محذرمنه اسم صریحي مستعمل بمن مقدر وي. (۳) محذرمنه اسم تاویلي مستعمل بواو مقدر وي. چونکه احتمالاتخمسه معتبر وو مستعمل ووپه دے وجه ئپنځو مثال ئے ورکړے دے. کرومبی صورة مثال ایاك والاسد په اصل کښے وو اتقك من الاسد والاسد منك اوقاعده ده چه دوه داسے ضمیر ونه متصل وي چه په یوذات سره تعبیروي ددے جمع کیدل سوا ذافعال قلوبو نه جائز نه دي په دے وجه کاف ضمیر خطاب نه مخکښے لفظ نفس راوړے بیاداشو اتق نفسك من الاسد والاسد من نفسك بیا ذضیق مقام اوضیق وخت په وجه فعل ئے حذف کړو نوباقي پاتے شو نفسك من الاسد والاسد من نفسك بیا لفظ نفس ئے هم حذف کړو ځکه چه ددے ذ راوړولو چه کوم ضرورت وو هغه ختم شو. اوکاف ضمیر داضمیر متصل دے دالے ضمیر منفصل سره بدل کړو ځکه چه کاف ضمیر متصل جدا نه استعمالیدو نوپه ایاک سره بدل کړو اوکاف ضمیر خطاب ضمیر منفصل سره بدل کړو نو ایاك من الاسد والاسد من نفسك بیاذفعل متعلقات لے هم حذف کړل نوجوړ شو ایاک والاسد او ذ محذورمنه

مکرر مثال: اَلطَّرِيْقَ الطَّرِيْقَ اصل کښې وو اِتَّقِ الطَّرِيْقَ ،اِتَّقِ الطَّرِيْقَ ېاډ تنګئ په وجه اِتَّقِ فعل نې حذف کړو نو اَلطَّرِيْقَ ،الطَّرِيْقَ شو ړومبې الطّريق قائم مقام المحذر اودوئم اَلطَّرِيْقَ دا محذرمنه دے اودا دواړه مثالونه ذاسم صريح وو. اوذاسم تأويلي مثال اياک وان تحذف الارنب اصل عبارت وو اتق نفسک من ان تحذف الارنب وان تحذف الارنب من نفسک يا باعد نفسک لوېيا ذماقبل په شان باقي عبارت پاتې شو. اياک وان تحذف الارنب چه ځان ساته ذسوئې کوهلو نه اوذسوئې ذغېل ځان نه.

فائده:دتحذيرًا درې ترکيبونه دي.

ړومبې ترکيب: دامفعول مطلق دے چه ددے فعل محذوف دے تقدير عبارت به داشي .هُوَ مَعْمُوْلٌ بِتَقْدِيْرِاِتَّقِ وَحُذِّرَ تَحْذِيْرًا.

دوئم ترکيب:تحذيراً تقدير سره مفعول له دے مطلب به داشي تحذير معمول وي ذ اتق تقدير سره ذتقدير سبب يعني مابعد نه يرولو ذپاره.

سوال: تحذيرا تقدير اتق سره مفعول له نه شي جوړولے . ځکه چه ددے مطلب به داشي چه تقدير ذ تحذير په وجه کيږي حالانکه ذتقدير سبب تحذير نه دے بلکه تنګي ذمقام دے؟

جواب: تحذيرًا هم ذتقدير نه مفعول له واقع دے.ليکن په واسطه اتق يعني ذ تقدير سبب خو تحذير نه دے ليکن ذاتق ذتقدير سبب تحذير دے.

درئم ترکيب:تحذير مفعول فيه دے تقدير اتق سره چه کوم وخت دا مفعول فيه جوړه کړے شي نودد ے مضاف به مقدر منلے شي لفظ حين ياوقت مطلب به داشي چه مُحَذَّر به معمول وي اتق ذ تقدير سره چه کوم وخت مابعد سره يرول مقصود وي.

وَذُكِرَ الخ ددے دوه ترکيبونه دي.ځکه چه ددے په صيغه کښې دوه احتمالونه دي. ذکر ذمصدر صيغه شي ياذماضي مجهول صيغه شي که چرے دا مصدر جوړکړے شي نوددے عطف به شي معمول بانډے ددے مطلب به داشي چه محذر ذتقدير اتق سره معمول وي. ياذ محذرمنه په تکرار سره ذکر کول وي. اوذماضي مجهول صيغه جوړه کړے شي. نوددے عطف به کيږي معمول بانډے مطلب به داشي چه محذرمنه په تکرار سره ذکرکړے شي.

سوال: دا دواړه احتمالونه او دواړه روایتونه غلط دي. ځکه چې په دې وجه غلط دې چه دَمعنې مطلب دادے چه دَمحذرمنه په تکرار سره ذکرکول حالانکه دَمحذرمنه ذکر خومعمول هم نه وي او مفعول به هم نه وي بلکه محذر منه خپله معمول وي اومفعول به وي درنم روایت بانددے سوال.

سوال: داقاعده ده که چرے دَیو اسم په دونم اسم باندے دَ او حرف عطف په ذریعه عطف واچولے شي او هغه په اعتبار دَاسمیت اوفعلیت دَکمي او زتوالي په اعتبار سره مختلف وي نو هلته او حرف بل اضرابیه په معنی کښے وي لکه انا مقیمٌ او اَمْشِيْ اوس دلته دَ اسمیت اوفعلیت اختلاف دے نودلته او په معنی دبل اضرابیه دے. معنی به داشي چه ولاړیم نه بلکه زهٔ خو روان یم دَ کموالي او زیادت په اعتبار سره دَ اختلاف مثال قرآن مجید کښے دے ولا تطع منهم اثمًا او کفورًا دلته دَ او په ذریعه اثـمًا باندے دَ کفورًا عطف دے. اوکبل اضرابیه معنی ده اودلته کمے اوزیادت هم شته چه اثـمًا کښے معصیت کم دے .اوپه آخرکښے معصیت په اعلیٰ درجه کښے دے نودلته هم ئبل اضرابیه په معنی کښے دے چه ته دَهیڅ ګناه ګار اطاعت مه کوه نه نه بلکه ګناه ګار خوپریږده بلکه دَهیڅ کافر اطاعت مه کوه لهذا دَ ذکر په معمول باندے عطف غورزولے شي. دَاو حرف عطف په ذریعه چه په اعتبار دَاسمیت او فعلیت مختلف دے نودلته هم دد ے قاعدے په بنا باندے او ئبل اضرابیه په معنی کښے به شي. مطلب به داشي چه هغه محذر دَ اتق دَ تقدیر سره مَعمول وي. نه نه داپریږده محذر هغه دے چه دَ محذر په تکرار سره ذکر کړے شي داخودَ مقصود بالکل خلاف دے.

جواب: روایت اول: که چرے دا مصدر دوئ ته اولوستے شي نودَ ستاسو دَ اعتراض جواب دادے چه دا مرفوع لوستل جائز دي . اومنصوب لوستل هم جائز دي. که چرے مرفوع اولوستے شي نودَ هغے جواب دادے چه دا جَرْدٌ قَطِيْفَةٌ وَثِيَابُ اَخْلَاقٍ یعنی دَ صفت اضافت موصوف طرفته دے . قَطِيْفَةٌ موصوف دے اوجَرْدٌ صفت دے دغه رنګ ثِيَابٌ اَخلاقٍ ثِيَابٌ موصوف اخلاق صفت وو لیکن بیادَ صفت موصوف په طرف اضافت اوکړے شو دغه رنګ دلته لفظ ذکر مصدر مبني للمفعول په معنی مذکور داصفت دے ذَالمحذرمنه تقدیر عبارت داسے دے . المحذرمنه المذکور بیادَصفت مذکور محذرمنه په طرف اضافت اوکړے شو لهذا مرفوع لوستل صحیح دي.(۲) منصوب

لوستل هم جائز دي دغه وخت دده عطف تحذير باندے شي . اوپه دے ترکیب کښے تحذيرًا به مفعول فيه جوړ کړے شي دا ترکیب هغه وخت کیدے شي چه کله دتحذيرٌ ترکیب دمفعول فيه والا اوکړے شي.

سوال: په صورة مرفوع چه لفظ اواحد المذکورين دپاره وي احدالامرين دپاره وي چه دَ هغے ماقبل او مابعد سره تقابل وي اوس ستاسو اوښايئ چه دده تقابل دَ ذِکرُ محذرمنه دپاسره دے اوداخبره ظاهره ده چه دده تقابل تحذير اِتَّقِ سره به شي. اوس به مطلب داشي چه رومبي صورت کښے اتق مقدر وي. اودوئم صورت کښ اِتَّقِ مقدر نه وي .او داخبره بالکل غلطه ده ځکه چه په دوئم صورت کښے کـه چرے دَاِتَّـقِ تقدير اونه منلے شي. نودادغه مقام رابع يعني تحذير نه به خارج شي.

سوال: په صورت منصوب : منصوب لوستل هم غلط دي . ځکه چه دده عطف تحذيرًا باندے به شي.اودده نه مخکښے مضاف لفظ حين يالفظ وقت به مقدر منلے شي. اوپه ديکښے به مجاز لازم راشي .حالانکه په تعريف کښے مجازذکر کول غلط وي.

جواب: سوال: نه مونږ په دوئم صورت کښے دَ اتق تقدير منو ليکن تقابل کښل يوقيد سره دے هغه دادے چه رومبي صورت کښے دَمابعد نه يرول وي. په دوئم صورت کښے داسے نه وي لهذا مرفوع لوستل صحيح دي. د دوئم سوال جواب دَ مجاز دوه قسمونه دي .(۱) مجاز بالحذف (۲) مجاز معنوي . په تعريف کښے دَمجاز معنوي استعمالول مکروه وي ليکن مجاز بالحذف جائز وي. لهذا دلته مجاز بالحذف دے چه جائز دے.

جواب: روايت ثـاني:. دَذُکِرَ عطف فعل محذوف باندے دے چه ذُکِرَ دے يعني ذُکِرَ معمولٌ بتقدير اتق.

سوال :که چرے دَ ذوالحال حال جمله وي دغه رنګ دَموصوف صفت جمله وي اوکموصول صله جمله وي کمبتدا خبر جمله وي. نودَعائد کيدل ضروري دي. په رومبي صورة کښے خوعائد موجود دے. په دَمابعدهٔ ضمير مبتدا طرفته راجع دے ليکن په دوئم صورة کښے عائد نه دے .

جواب:. پـه دوئـم صورت کښے وضع المظهر موضع المضمر دَقبيلے نه دے يعني په اصل کښے

خوځ ذُکِرَ ضمیر معمول طرفته واپس کیدو لیکن مونږ دا ظاهره کړه اودائے په دے وجه اوکړل که چرے ضمیر هم معمول طرفته راجع کړې نو دواړو صورتونو التباس لازم نه راتلو لیکن ځ مقصود خلاف وژ ځکه چه مقصد خو دادے چه محذر منه په تکرار سره راوړلے شي. حالانکه داځ مقصد خلاف دے په دے وجه مونږ ضمیر په اسم ظاهر سره تبدیل کړو.

سوال: مونږ تاسوته یومثال ښایو چه نه دَ تحذیر ډرومبیٔ قسم نه دے اونه ځ دونم قسم نه دے لیکن مفرینو دلته اتق فعل مقدر منلے دے لکه په قرآن مجید کښے ناقة الله وسقیهانو دلته اتق فعل مقدر دے.

جواب: نحوي یوه جدا ډله ده اودَ مفسرینو جدا ډله ده که چرے دلته مفسرین اتق فعل مقدر مني نومني دِکنه.

جواب: مصنف تحذیر دغه دوه قسمونو کښے منحصرنه کړو بلکه ددینه یو درئم قسم هم راوتلے شي.

قولهٗ اَلْمَفْعُوْلُ فِیْهِ هُوَ مَافُعِلَ فِیْهِ فِعْلٌ مَذْكُوْرٌ. مصنف دَمفعول به کبحث نه دَفارغیدو نه پس اوس دَمنصوباتو درئم قسم دَمفعول فیه بحث ذکرکول غواړي په دے عبارت کښے دَمفعول فیه تعریف ئے کړے دے. چه په هغے کښے درے درجے دي. **ړومبیٔ درجه مختصر مفهوم** :چه مفعول فیه هغه قسم دے چه په هغے کښے فعل مذکور واقع وي. **دوئمه درجه فوائد قیود:** ما اسم جنس دے چه تمام اسماء اوظروف زمان اومکان ته شامل دے. فعلٌ داظروف زمان اومکان نه علاوه دَتمامو اسماؤ دَپاره فصل دے. ددے دَپاره مخرج دے اوظروف زمان اومکان دَپاره جنس بعید دے. اومذکور داجنس قریب دے ددینه هغه ظروف زمان ومکان به اوځي چه دَهغے نه مخکښے فعلٌ موجود نه وي. یَوْمُ الْجُمُعَةِ یَوْمٌ طَیِّبٌ. ځکه چه ددے نه مخکښے فعل نه دے.

درئمه درجه سوالاتو وجواباتو.

سوال: معرف دَپاره شرط دے چه هغه دَ مُعَرَّف نه اعرف او اَشْهَرْ وي. او دلته تعریف بالمثل لازم راځي ځکه چه څوک مفعول نه پیژني هغه فعل هم نه پیژني داتعریف بالمثل دے چه په هغے کښے

معرِف اومعرَف معرفت اوجهالت دننه برابر وي؟

جواب: دتعريف دوه قسمونه دي. تعريف لفظي اوتعريف معنوي. تعريف معنوي کښې خو داشرط دے. چه معرف اعرف او اشهر وي. ليکن تعريف لفظي کښې داشرط نشته چه معرف په اعتبار معرفت اوجهالت برابر نه وي. بلکه په ديکښې معرف دپاره معمولي غوندے اوضح کيدل کافي کيږي اودلته هم تعريف لفظي مراد دے. اووَفُعِلَ فِيْهِ معرّف مفعول فيه دمعرَّف نه معمولي غوندے اوضح دے. ځکه چه فعل داسم نه اوضح وي.

سوال: دَمانه څه مراد دے اسم مراد دے يا مسمیٰ مراددے کلا هما باطل اول په دے وجه چه معنی به داشي. چه په اسم کښې فعل کيدے شي حالانکه په اسم کښې هيڅ فعل نه شي کيدے اودوئم په دے وجه باطل دے . چه مفعول فيه اسم وي مسمی نه وي لهذا داتعريف غلط دے؟

جواب: په قرينه سابقه لفظ اسم مقدر دے .اوددينه مراد اسم منصوب دے ځکه چه بحث دَ اسمائے منصوبه دے.

سوال: فُعِلَ فيه فعلٌ په ديکښې دَفِعْلٌ نه فعل لغوي مراد دے يافعل اصطلاحي؟

جواب: فعل لغوي مراد دے ځکه چه کله داسے اونيلے شي ضربت امس نو ضربتُ دَفعل اصطلاحي تکلم امس کښې اونه کړو هغه خونن شوے دے. اوپه امس کښې خو ضرب واقع شوے دے چه فعل لغوي دے.

سوال: داتعريف جامع نه دے ځکه چه ستاسو دَفعل سره دَمذکور قيد لګولے دے. ددے تعريف نه دَامس دَمفعول فيه نه وتيل به لازم راوځي. ځکه چه فعل لغوي چه په دے کښې شوے دے هغه مذکور نه دے.

جواب: مذکور عام دے . چه خواه مذکور مطابقة وي لکه ضربي يوم الجمعه کان شديدًا کښې خواه مذکور ضمناً وي. لکه ضربت امس کښې ضرب چه دَضربت په ضمن کښې مذکور دے. په دے وجه چه فعل لغوي دَفعل اصطلاحي جز وي اوقاعده چه کله کل مذکور وي. نو جز ضمنا مذکور وي . بيايادساتئ مذکور ضمنا کښې هم تعميم دے خواه فعل اصطلاحي په ضمن کښې مذکور وي (کمامر) خواه شبه فعل په ضمن کښې وي . لکه اناضارب زيدًا امس کښې ځکه چه فعل لغوي دَفعل

اصطلاحي دَشبه فعل جزء وي ځکه چه کله ئې ضاربٌ مذکور دے نو دد ے جز فعل لغوي هم ضمنًا مذکور شو.

سوال: اوس هم تعریف جامع نه شو ځکه چه یوم الجمعة صمت فیه کښے لفظ یوم مفعول فیه کېدو سره اوځي ځکه چه فعل لغوي چه په دیکښے ونیلے شوے دے نه هغه مطابقةً مذکور دے نه ضمناً دَ مطابقة مثال خو واضح دے .ضمناً په دے وجه چه فعل اصطلاحي اوفعل شبه فعل دواړه دلته هیڅ موجود نه دے ترد ے پورے چه ددے په ضمن کښے مذکور قرار کړے شي حالانکه دا مفعول فیه دے؟

جواب: فعل اصطلاحي اوفعل شبه فعل نه مراد عام دے خواه مذکور وي یا مقدر وي اومثال مذکور کښے فعل اصطلاحي وجوباً مقدر دے ځکه چه دا مثال: **ما اُضْمِرَ عاملهٗ علی شریطة التفسیر** دَقبیلے نه دے (کماسیأتي)

سوال: اوس ددے تفصیل اوبیان نه دَ تعریف جامعیت خوحاصل شي .مګر دخول غیر نه مانع نه دے ځکه چه شهدتُ یوم الجمعة کښے یوم مفعول به دے .ځکه چه فعل مذکورپه دے واقع دے. حالانکه دَمفعول فیه تعریف مذکور هم په دے باندے صادق راځي .

جواب: تعریفاتو کښے دَحیثیت قید ملحوظ او معتبر وي . اودلته دَ حیثیت قید من حیث انه فعل فیه په دے حیثیت سره چه هم دَ مفعول فیه دَپاره فعل ذکر کړے شوے وي . یعني فعل ذکر کړے شوے په دے وجه وي چه هغه مفعول فیه کښے واقع دے. اودلته شهدت یوم الجمعة کښے داسے نه دے بلکه دَ متکلم مقصود دلته دانه دے بلکه دا ښودل وي چه زما حضور په جهه باندے واقع شوے دے.

سوال: ددے حیثیت په قید سره بے شکه دَ شهدت یوم الجمعة ترکیب خارجیږي . لیکن ددے سره په دے سره همدغے یوم الجمعة یوم طیبٌ هم دَ مفعول فیه دَتعریف نه خارجیږي لهذا دَمذکور قید یعني دَفعل سره دَمذکور په قید سره یومٌ طیبٌ خارج کول دا اخراج المخرج دے دا قید لغو اومستدرک جوړیږي.

جواب: دَهر تعریف ټولو قیوداتو احترازي کیدل څه ضروري نه وي بلکه بعضے قیود محض توضیح اوکشف دَپاره وي .همدغسے دلته دَ مذکور قید دَ توضیح دَپاره دے .په دے عنوان سره جواب داسے ورکیدے شي ددے حیثیت قید لګولو سره دَمذکور قید مستدرک کیدل لازم راځي. لیکن دَمذکور قید حذف کولوسره بطلان لازم راځي ځکه چه مذکور شرط دے. اودَ شرط حذف کولو سره بطلان لازم راځي. او بطلان دا زیات قبیح دے او استدراک دا دَ. کمے درجے قبیح دے اودا قاعده ده اذا بُتْلِيَ بِبَلِيَّتَيْنِ فَلْيَخْتَرْ اَهْوَنَهُمَا اوچونکه استدراک اَهْوَن وو نومصنف ددے ارتکاب کړے دے.

قولهٗ مِنْ زَمَانٍ اَوْ مَكَانٍ مِنْ بیانیه ده اوداَ مابیان دے ددے عبارت دوه تعلقه دي. یودَماقبل سره او یودَ مابعد سره ماقبل سره دَ تقسیم تعلق دے اومابعد سره دَ احکامو تعلق دے رومبے تعلق چه ماقبل سره دے دَتقسیم هغه دادے چه ظروف په دوه قسمه دي.(۱) زمان (۲) مکان دَزمان نه مراد عام دے حقیقته وي یا حکمًایعني تقدیرًا اودغه رنګ دَمکان نه مراد هم عام دے چه حقیقي وي یا تقدیري دي دَظرف زمان حقیقي مثال: صمت یوم الجمعة دَ تقدیري مثال قمتُ قدومًا زیدٍ دلته قدومًا مفعول فیه خو نشته لیکن تقدیرًا جوړیږي چه دلته لفظ حین یاوقت مضاف مقدر اومنلے شي . دَظرف مکان حقیقي مثال: چه لکه څه رنګ جلستُ خلفک اودَمکان تقدیري مثال جلست شمس دَ شمس معني ګرمي وي اوحین یاوقت مقدر وي نودا ظرف مکان جوړیږي.

قولهٗ و.شَرْطُ نَصْبِهٖ تَقْدِيْرُ فِيْ: دمفعول فیه منصوب کیدو دَپاره شرط دادے چه فِي مقدر وي په دے عبارت کښے مصنف دَ جمهور نحاتو دَاصطلاح مخالفت کړے دے . چه مصنف دَمفعول فیه دوه قسمونه جوړکړي دي. (۱) مفعول فیه چه لفظ فیه پکښے ملفوظ وي (۲) مفعول فیه چه لفظ في مقدر وي حالانکه دَجمهور نحاتو په اصطلاح کښے دَ مفعول فیه صرف همدغه یوقسم دے . چه مفعول فیه چه په هغے کښے لفظ في مقدر وي که چرے لفظ في ملفوظ وي نوهغے ته مفعول فیه وي که چرے لفظ في ملفوظ وي نوهغے ته مفعول فیه نه شي ونیلے په دے باندے دلیل

دادے چه دَصاحب کافیه دا تقدیر فی دَ مفعول فیه په لفظونو کښے دَمنصوب کیدو شرط مقرر کړے دے نه چه دَنفس مفعول فیه کیدو ددے نه واضحه شوه که چرے داشرط لغی لفظ فی مقدر نه وی بلکه ملفوظ وی نو هم به مفعول فیه شی لیکن لفظونو کښے به منصوب نه دی بلکه مجرور به وی ورنه اګر دَ نحاتو مخالفت په نه کیدے نوعبارت به دا وے وشرطه تقدیر فی .

سوال: مصنف تقدیر فی اوونیل حذف فی ئے ولے اونه ونیلو؟

جواب: حذف اوتقدیر کښے فرق دے دَحذف معنی دادہ چه لفظ نه په عبارت کښے مذکور وی اونه په نیت کښے ملحوظ وی. اودَ تقدیر مطلب داوی چه لفظ عبارت کښے مذکور نه وی لیکن په نیت کښے ملحوظ وی. اوچونکه دلته هسغه مراد دے .په دے وجه اګر نیت کښے هم فِیْ باقی پاتے نه شی نو ظرفیت باندے په دلالت پاتے نه شی او دَاسم ظرف کیدل مفهوم به نه شی. په دے وجه دَفِیْ تقدیر اختیار کړے شوے دے.

سوال: تقدیر دَپاره فی ولے اختیار کړے شوی دہ حالانکه با هم دَظرفیت دَپاره راځی.

جواب: فِیْ په ظرفیت کښے کثیر الاستعمال دے.

قولهٗ وَظُرُوْفُ الزَّمَانِ كُلُّهَا تَقْبَلُ ذَالِكَ وَظُرُوْفُ الْمَكَانِ اِنْ كَانَ مُبْهَمًا قُبِلَ ذَانَ وَاِلَّا فَلَا. په دے عبارت کښے مصنف احکام بیانوی چه تقدیر فِیْ چرته جائز دے اوچرته جائز نه دے ظرف زمان په دوه قسمه دے.(۱) محدود (۲) مبهم .محدود دیته وئیلے شی. چه دَهغے هیڅ حد نه وی .اومبهم دیته وئیلے شی چه دَهغے څه حد وی دَظرف زمان محدود مثال شَهْرٌ ، سنةٌ ،اسبوعٌ ، غَدًا وغیره دَظرف زمان مبهم مثال لکه حینٌ ،دَهْرٌ وغیره دَظروف مکان هم دو قسمونه دی. (۱) مکان مبهم (۲) مکان محدود . دَظرف مکان مبهم مثال چه لکه څه رنګ مَسْجِدٌ ،دارٌ ، شَهْرٌ وغیره ددے حکم دادے چه ظروف زمان مطلق خواه مبهم دی یا محدود تقدیر فی قبلوی او ظرف مکان که مبهم وی نو تقدیر فی قبلوی لیکن که چرے مکان محدود وی نودَفی تقدیر نه قبلوی.

سوال: ددے څه وجه ظروف زمان خومطلق تقدیر دَفی قبلوی. اوظروف مکان داسے نه کوی .لیکن ظروف مکان مطلق فی نه قبلوی بلکه مبهم وی نو تقدیر دَفی قبلوی محدود وی نونه قبلوی ؟

جواب: دظرف زمان مبهم دَفعل سره قوی تعلق دے ځکه چه دَفعل جز وی دَفعل درے جزونه

دی (۱)اشتقاق من المصدر(۲) نسبت الی الفاعل(۳) زمانه حدثی. اوچونکه زمانه حدث په ظرف زمان کښې مونړلې شی په دې وجه جز جوړیږی ددې وجه نه دوئ ترمینځ ډېر فاصله نه راځی . چه کله ظرف زمان مبهم تقدیر دَ فی قبلوله نوظرف زمان محدودپه هغې باندې مجمول کولو. ځکه چه په زمان کښې خو دواړه شریک دی اوباقی پاتې شو ظرف مکان ددۀ نه چه کوم ظرف زمان مبهم دې هغه ئې په ظرف زمان مبهم باندې قیاس کړو اوپه دې ئې مجمول کړو چه په وصف ابهام کښې دواړه شریک دی باقی پاتې شوظرف مکان محدود دا ظرف زمان مبهم سره نه خوپه ذات زمان کښې شریک وو اونه په وصف ابهام کښې په دې وجه دا ئې په دې باندې محمول نه کړو اوقاعدۀ ئې جوړه کړه چه دا ظرف مکان محدود تقدیر دَفی نه قبلوی .

سوال: ددې څه وجه دۀ چه ظروف زمان خو مطلق تقدیر دَفی قبلوی او ظروف مکان داسې نه کوی ؟ لیکن ظروف مکان مطلق فی نه قبلوی .بلکه مبهم وی نو تقدیر دَفی قبلوی چه محدود وی نونه قبلوی؟

سوال: ظرف زمان ئې په ظرف مکان باندې ولې مقدم کړې دې ؟

جواب:چونکه ظرف زمان مبهم وی یامحدود تقدیردَفی قبلوی .لیکن مبهم وی نوبیا تقدیر دَفی قبلوی که مکان محدود وی نو تقدیر دَفی نه قبلوی نو مصنف مرتبې طرفته اشارۀ کولوسرۀ زمان مقدم کړو.

سوال: ان کان مبهما کښې کان دَضمیرمرجع څه دۀ. په دیکښې دوۀ احتماله دی.(۱)ظروف (۲) مکان .اول په دې وجه چه مرجع نه جوړیږی ځکه چه راجع مرجع کښې مطابقت نه شته اومکان په دې وجه نه جوړیږی چه مطابقت خو بې شکه شته لیکن عائد الی المبتدا باقی نه پاتې کیږی؟

جواب: دواړۀ مرجع جوړیدې شی. ظروف هم اومکان هم ظروف مرجع جوړۀ کړې شی نودا به په تاویل دَ اِسْمٌ سرۀ مرجع جوړۀ شی.اوس دَراجع اومرجع مطابقت به راشی اوکه مکان جوړکړې نو بیاجواب دادې چه ظروف المکان کښې اضافت بیانیه دې. نوظروف مبین اومکان مبین به جوړ شی. نوبیا مبین په طرف دَضمیر واپس کیدل بعینه همدغسې دۀ. چه څه رنګ مبین په طرف عائد وی. لهذا عائد به موجود وی. قوله وفسر المبهم بالجمات الست په دې عبارت کښې مصنف

دَمکان مبهم تفسیر په قول دَ داکثر متقد مینو بیانوی چه هغه دَشپږو جهاتو نه عبادت دے . یعنی اَمَام ،خلف،یمین، شمال ،فوق، تحت اوکوم چه ددے هم معنی وی هغه هم مکان مبهم دے .لکه قدام ،قبل ،قبل دَامام په معنی کښې دے .دُبَر دَ خَلف په معنی کښې دے . اویسار دَشمال په معنی کښې اوعلو دَفوق په معنی کښې اوسفل دَتحت په معنی کښې دے .اوپه دے عبارت سره دَبعضے نحویانو تردید هم کیږی چه وائی چه دَمکان مبهم اوذمحدود مدار نکره اومعرفه باندے دے. که نکره وی نوظرف مکان مبهم که معرفه وی نومکان محدود وی. مصنف دا رد کړو چه دا خبره غلطه ده په دے وجه چه خلف تقدیر دَ فی قبول کړی هغه مکان مبهم وی. اوس نتیجه دا راوځی چه خَلفَک مکان مبهم دے. حالانکه دانکره نه ده که چرے ستاسو خبره اومنلے شی نو ددغه دواړو اصولو مخالفت راځی.لهذا دا تعریف وتنکیر مدار جوړول مبهم اومحدود دَپاره درست نه دی.

قولهٔ وَحمِلَ عَلَيْهِ عِنْدَ وَلَدٰی وَشِبْهُهُمَا لِاِبْهَامِهِمَا. په دے عبارت کښې مصنف دَسوال مقدر جواب ورکړو.

سوال: عند، لدی دون ، سوای داجهت سته نه نه دی . حالانکه ظروف مکان مبهم دی چه په کوم کښې فِیْ مقدر دے ؟

جواب: عند،لدی ددے مشابه هم په مکان مبهم باندے محمول کولے شی په دے وجه چه دا وصف په ابهام کښې شریک دے .چه کله څه رنګ خلف وغیره مبهم دے نودغه رنګ عند لدی وغیره هم مبهم دے.

قولهٔ وَلَفْظُ مِكَانَ لِكَثْرَتِهٖ. داهم دَ سوال مقدر جواب دے.

سوال: ستاسو قاعده درست نه ده ځکه چه ظروف مکان محدود دی باوجود ددے چه په دیکښې فِیْ مقدر دے اودا منصوب لوستلے شی.

جواب: لفظ مکان هم ظرف مکان مبهم باندے نے محمول کړو په دے وجه چه لفظ مکان کثرت استعمال کښې دَ جهت سته په شان دے.

قولهٔ وَمَا بَعْدُ دَخَلْتُ عَلَى اَلْاَ صَحِّ. دا هم دَ سوال مقدر جواب دے.

سوال:ستاسو قاعده دخلت نه پس ماتیږی ځکه دخلت الدار مکان محدود ، مکان مبهم دے لیکن ددے باوجود في مقدر دے اودا منصوب دے؟

جواب: دَخَلْتُ نه پس به هم په دے بانديے محمول کولے شي .ځکه چه داهم کثرت استعمال کبنے دَجهت سته په شان دے علی الاصح دلته اختلاف دے بعضے وائي. چه بَعْدَ دخلت به مکان مبهم محمول کولے نه شي لیکن اصح داده چه دا مکان مبهم بانديے محمول کرے شي. په دے وجه مصنف دَعلی الاصح قید اولګولو.

سوال: دَمفعول فیه دا خاصه ده چه ددے وقوع دَ فعل دَ مفعول به دَتمامیت نه پس به وی .اودَ دخول معنی تمام داره سره وی .ددے نه پته نړی .چه دامفعول به دے مفعول فیه نه دے .

جواب: دخول فعل لازمی دے اوفعل لازمی مفعول به کبنے نصب نه ور کوی مفعول به کبنے عمل نه کوی نوددے نه معلومه شوه چه دا مفعول فیه دے.

قـولُهُ وَيُنْصَبُ بِعَامِلٍ مُضْمَرٍ وَعَلَى شَرِيْطَةُ التَّفْسِيْرِ دلته مصنف دَمفعول فیه دوه حکمونه بیانوی. رومبے حکم داده چه کله دَمفعول فیه عامل بغیر دَ شرط تفسیر مقدر وی .جوازًا اومفعول فیه منصوب وی.لکه یوم الجمعة صمت فیه په دیکبنے یوم الجمعه مفعول فیه دے چه دَدغے عامل صمت په قرینه تفسیر مقدر دے اوددے مقدر کیدل واجب دی.چه دَمفسَّر اوَمفسِّر اجتماع لازم رانشي.

قولُہُ اَلْمَفْعُوْلُ لَهُ هُوَ فُعِلَ لِاَ جَلِهِ فِعْلٌ مَّذْكُوْرٌ دَمفعول فیه دَبیان نه پس اوس څلورم قسم مفعول له بیانول غواړی. په دے عبارت کبنے دَمفعول له تعریف دے .

رومبی درجه مختصر مفهوم :مفعول له هغه اسم دے چه دَدغے دَپاره فعل مذکور وی.

دوئمه درجه فوائد قیود: ماجنس دے تمام قسم اسماؤ ته شامل دے فعل لاجله فعل دا فصل اول دے ددینه تمام مفاعیل سواء دَمفعول له اووتیل دَمذکور په قید سره اعجبنی التأدیب ددے په شان مثالونه اووتیل ځکه چه په دیکبنے تأدیب سبب دَتعجب خودے لیکن تأدیب تعجب دَپاره ذکر نه کړے شو.

فائده: لِاَ جْلِهٖ لام دَپاره دَسببیت دے چه ددے مدخول دَیو څیز دَپاره سبب اوعلت وی کله علت

ذهنی چه کوم معلول په اعتبار دَتصور مقدم وی. اوپه اعتبار دَ وجود سره مؤخر وی اوپه دے اعتبار سره په فعل باندے مرتب کیږی دیته علت غائیه وئیلے شی. لکه ضربته تأدیبًا کښے تادیب چه په اعتبار دَ وجود مقدم دیته علت باعثه وئیلے شی. لکه قعدت عن الحرب جبنًا په دیکښے جبنًا په اعتبار وجودی قعود باندے مقدم دے.

سوال: تادیب په ضرب باندے مترتب وئیل غلط وی. ځکه چه ضرب اوتأدیب دواړه متحد بالذات دی. وجود یودے ځکه چه دَمتکلم نه هم ډیو فعل ضرب صدور شوے دے. بیا یوځمز ته مترتب اومترتب علیه څه رنګ وایئ؟

جواب: فعل یودے لیکن په دیکښے حیثیتو نه دوه دی. یومبے حیثیت دادے چه معلم دے دیته ضرب وئیلے شی اوپه دے حیثیت سره چه مؤخر تأدیب دے دیته تادیب وئیلے شی نودَ اول په اعتبار سره مترتب علیه اودَثانی په اعتبار سره مترتب دے.

سوال: په تعریف کښے دَفعل نه چه کوم فعل واقع دے دَهغے نه لغوی معنی مراد ده یااصطلاحی معنی.

جواب: مونږ په ماقبل کښے وئیلی دی چه دَفعل لغوی معنی مراد ده ځکه چه مفعول لهٗ دَفعل لغوی علت وی دَ مفعول له مثال لکه څه رنګ ضربته تادیبًا اوقعدت عن الحرب جبنًا.

سوال: مصنف دوه مثالونه ولے ورکړل. حالانکه توضیح مثل دَپاره یومثال کافی وی.

جواب: مصنف له تقسیم په طرف اشاره کولوسره دوه مثالونه ورکړل. (۱) مفعول له دَقصد حصول دَپاره وی (۲) مفعول له قصد نه وی بلکه وقوع دَپاره وی. لکه ضربته تادیبًا کښے ضربته تادیبًا کرومبی قسم مثال دے چه په دیکښے ادب حاصلولو دَپاره مفعول له واقع شوے دے. اوقعدت عن الحرب جبنًا د دونم قسم مثال دے. چه په دیکښے قعود دَبزدلئ په وجه دے.

جواب: شیخ رضی مصنف دوه مثالونه ورکړل تقسیم په طرف نے اشاره کړی ده لیکن هغه تقسیم بل دے دَمفعول له دوه قسمونه دی (۱) مفعول له په اعتبار وجود دَفعل نه مؤخر وی. (۲) مفعول لهٗ په اعتبار وجود مقدم وی یومبے مثال دَمؤخر کیدو دے دونم مثال دَمقدم کیدو دے ځکه چه مخکښے بزدلی واقع شوه بیا دَ قعود تحقق اوشو.

سوال: دَمصنف دادونسم مثال قعدت عن الحرب جبنًا دا ورکول نه وو پکار بلکه بل مثال مشهور دے هغه ورکول پکار وو. حاربته شجاعة چه زه ددهٔ سره دَ بهادرئ په وجه اوجنګیدم. او دامثال احسن هم دے انسب هم دے .احسن څکه دے چه شریف خلق معزز خلق خپل طرفته د داسے څیز نسبت کوی چه دَ هغے عزت وی نه ذلت. اوانسب څکه دے چه ددے مقام مناسب دے څکه چه دَمصنف دَزجاج نحوی سره مقابله وو. نو حاربته شجاعة مثال به ئے ورکړے دے چه زجاج نحوی باندے هم چوټ لګیدے دے چه زه دزجاج سره اوجنګیدم څکه چه زه بهادر اووم ؟

جواب: دامثال قعدت عن الحرب جبنًا دااحسن هم دے او انسب هم دے اولی هم دے اولیٰ داسے چه کله چرے دا اوونیلے شی چه زه دَ فلانئ سره په بهادرئ سره اوجنګیدم. ددینه دَمتکلم بهادری خومعلومیږی. لیکن په دیکښے دا احتمال هم وی چه شاید مدمقابل اومخالف هم بهادر وی. لیکن دَ قعدت نسبت زجاج په طرف اوکړے شی. چه څه رنګ کړے شوے دے .نوپه دیکښے دَمقابل اومخالف بزدلی ثابتیږی. اوداخبره ظاهره ده چه کله مقابل کمزورے وی نودَمقابل مقابل به قوی وی او بهادر به وی نو په دے طریقه په زجاج باندے چوټ هم لګی. اوزجاج دَبزدلئ په وجه کیناستو اوددے په مقابل کښے مصنف بهادر موجود وو په دے وجه دَ مصنف پیش کړے شوے مثال عمده دے.

قولُهٗ خِلَافًا لِلزَّجَاجِ فَاِنَّهٗ عِنْدَهٗ مَصْدَرٌ زجاج نحوی دَمفعول له وجود دَسره هډو منی نه هغه وائی چه په کلام عرب کښے چه کوم مفعول له استعمالیږی هغه په اصل کښے مفعول مطلق دے چه په هغے باندے هغه دلیلو نه پیش کوی. **دلیل اول** :مفعول له دَ تأویل په ذریعه چه کله مفعول مطلق جوړولے شی نومونږ ته دنوی قسم جوړولو ضرورت نشته چه څه رنګ ضربته تأديبًا داهم معنی دی. دَضربته ضرب التأديب .**دليل ثانى**. مفعول له اعلیٰ وی چه ددے نه مخکښے دفعل مذکور مصدر ذی اعلیٰ وی کله ذی اعلیٰ حذف کړے او اعلیٰ دَهغے په ځائے قائمولے هم شی. لیکن اعتبار اصل لره وی. لهذا ضربته تأديبًا کښے هم تاديب اعلیٰ دے اوضرب دَمصدر ذی اعلیٰ قائم مقام دے او اعتبار به دَ ضرب مصدری وی اوضرب مفعول مطلق دے په دے وجه مفعول له په اصل کښے مفعول مطلق وی.

جواب: على سبيل الترقي چه مونږ تأويل هيڅ نه منو نو په دے وجه ئې چه د يو اسم تأويل اوکړے هغه دخپل نوعيت او ماهيت نه او نه وتلے شي. په دے وجه ضربته تأديبًا ضربته للتاديب هم معنى دے او هيڅ يو نحوى هم للتاديب ته مفعول مطلق نه وائي او لهٰذا دا دے هم معنى دے هغه هم مفعول مطلق نه شي مقرر کيدے.

جواب :على وجه التسليم على وجه التنزل ټيک ده مونږ اومنله چه مفعول له د تأويل په ذريعه مفعول مطلق کښے داخولے شي. ليکن که چرے يو اسم دبل يو اسم هم معنى وى نو د هم معنى کيدو په وجه هغه دخپل نوعيت نه اويستے شي نو دا بنه نه ده صحيح نه ده چه لکه څه رنګ حال هم د مفعول فيه هم معنى کښے کيږى. لکه څه رنګ يو سړے اوائى جاء نى زيدٌ راكبًا په معنى جاء نى زيدٌ وقت الركوب نو اوس حال د مفعول فيه هم معنى کيدو په وجه دخپل نوعيت او ماهيت نه ويستل دا صحيح نه دى لهٰذا چه کوم حال په مفعول فيه کښے داخلول صحيح نه دى نو دغسے مفعول له په مفعول مطلق کښے داخلول صحيح نه دى. **جواب د دليل ثاني**: ذى اعلىٰ حذف کول او اعلىٰ قائم مقام کول صحيح خو دے ليکن دا په امر عظيم کښے کيږى نه په مفعول له کښے ځکه چه دا امر عظيم نه دے.

قوله وَشَرْطُ نَصْبِهٖ تَقْدِيْرُ اللَّامِ دمفعول له منصوب کيدو دپاره شرط دا دے چه لام مقدر وى صاحب کافيه په دے مقام کښے هم د جمهور نحاتو مخالفت کړے دے چه ددهٔ په نيز د مفعول له په دوه قسمه دے. (١) مفعول له چه په هغے کښے لام ملفوظ وى. (٢) مفعول له چه په هغے کښے لام مقدر وى او حالانکه د جمهور په نيزد صرف يو قسم دے چه په هغے کښے لام مقدر وى که چرے لام ملفوظ وى نو مفعول به شي بالواسطه په دے وجه مصنف داسے ونيلي دى. هلته مفعول له بالواسطه دے په خلاف دصاحب کافيه چه دصاحب کافيه په نيزد هغه دواړه قسمونه دمفعول له دى. ځکه چه د مفعول له تعريف دواړو قسمونو هر يو قسم باندے صادق راځي. په دے وجه چه لکه څه رنګ دمنصوب بتقدير لام في المذکور علت دے نو په دے وجه مجرور باللام هم دفعل مذکور علت دے دواړو کښے هيڅ فرق نشته.

قوله وَاِنَّ مَا يَجُوْزُ حَذْفُهَا اِذَا كَانَ فِعْلًا لِفَاعِلِ الْفِعْلِ الْمُعَلَّلِ بِهٖ وَمَقَارِنًا لَهٗ فِي الْوُجُوْدِ دد ے عبارت نه مخکښې يوسوال :

سوال: ستاسو صرف تقدير دلام خاص کړو حالانکه من ، في اوباء هم مفعول له باندے داخليږي. دمن مثال : لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَرَاَيْتَهٗ خَاشِعًا مُتَصَدِّعًا مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ خاشعا مفعول له دے من ورباندے داخل دے. دباء مثال : فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ظلم مفعول له دے باء ورباندے داخله ده. دفي مثال: اِنَّ امْرَاَةً كَانَتْ دَخَلَتِ النَّارَ فِيْ هِرَّةٍ اَيْ فِيْ قَتْلِ هِرَّةٍ دلته مفعول له باندے في داخله ده.

جواب: دتعليلاتو په باب کښې چونکه لام اغلب وو په دے وجه مصنف داذکر کړو.

قوله وَاِنَّ يَجُوْزُ حَذْفُهَا اِذَا كَانَ فِعْلًا لِفَاعِلِ الْفِعْلِ الْمُعَلَّلِ بِهٖ وَمَقَارِنًا لَهٗ فِي الْوُجُوْدِ مصنف دا بيانوي چه کوم وخت لاندے ذکر کړے شوي شرطونه په مفعول له کښې بيامونده شي نودغه وخت دمفعول له لام حذف کول په جائز شي. دد ے دپاره دلام دحذف کولو دپاره درے شرطونه دي.

رومبے شرط: دغه فعل وي يعني ذات نه وي احترازي مثال :جِئْتُكَ لِلسَّمْنِ. **دوئم شرط**: مفعول له اودفعل معلل په فاعل يووي احترازي مثال جِئْتُكَ لِمَحَبَّتِكَ **درئم شرط**:مفعول له دفعل سره مقترن وي په اعتبار دوجود بياد مقارنت نه مراد عام دے خواد مقارنت په اعتبار دکل اجزاء مثال قعدت عن الحرب جبنًا اودبعضے اجزاؤ نه دے.

سوال: ستاسوچه کوم مثال ورکړے دے دهغے وجود ضروري نه دے ځکه چه شايد صلح نه وي په کله دصلح کيدل ضروري نه وي ايقاظ مفعول له نه واقع کيږي.

جواب: دوجود نه مراد عام دے خواد هغه موجود وي په اعتبار دخارج ياقصد متکلم کښې او په دے مثال کښې اگر چه د صلح وجود بيانه مونده شي نو اونه دِ مونده شي مگر مقصد په متکلم کښې موجود دے .

فائده: دمتاخرينو نحويانو په نيزد دمفعول له نه حذف لام دپاره دشرائطو مذکوره کيدل لازمي اوضروري دي .ليکن د متقدمينو په نيزد ضروري نه دي .لکه وَيُرِيْكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا کښې د

شرائط دَمفقود کیدو باوجود لام حذف کړے شوے دے.؟

جواب: دلته اتحاد في الفاعل تقدیري دے معنی دَ آیت کریمه داده یریکم یجعل کم لیکن داجواب دَ تأویل په درجه کښے دے اګرچه استدلال دَ مجوزینو قوي دے.

قوله المَفْعُوْلُ مَعَهُ هُوَ مَذْكُوْرٌ بَعْدَ الْوَاوِ لِمُصَاحِبَةِ مَعْمُوْلِ فِعْلٍ لَفْظًا اَوْ مَعْنًى .

دَمنصوباتو نه پنځم قسم دَمفعول معه بیان دے. پرومبئ درجه دَمفعول معه تعریف: .مفعول معه هغه مفعول دے چه دَ واو نه پس مذکور وي اودَفعل دَیو معمول مصاحب دي لفظا یامعنیٌ . دوئمه درجه فوائد وقیود: .ماجنس دے چه تمام اسماؤ ته شامل دے. اوبعد الواودافصل دے چه ددینه تمام مفاصیل سوا دَ مفعول معه نه خارجیږي. درئمه درجه ترکیب: . دَالمفعول معه دوه ترکیبونه دي(١) دامبتدا ده هومذکور بعد الواؤ داخبر دے (٢) المفعول معه مبتدا الواؤ داجمله استیافیه به شي چه دَسوال مقدر جواب به شي.

سوال: داکیدو ما المفعول معه نوجواب ئے ورکړو المفعول هومذکور الیٰ اخره دَمعه ترکیب معه دا دَ مفعول نائب فاعل دے.

سوال: معه نائب فاعل جوړول غلط دي که مرفوع لوستلے شوے دے نو اعراب به ظاهر شوے وے لکه المفعول معه؟

جواب: دلته اعراب حکایٔ دے. اعراب حکائي هغه وي چه په عرب عام کښے یولفظ چه څه رنګ مستعمل وي بعینه هغه په عبارت کښے نقل کړے شي اوپه هغے څه اعراب جاري نه کړے شي. ددے مثال په قرآن کښے موجود دے لقد تقطع بینکم دلته بینکم دَ تقطع فاعل دے نوبینکم کلام عرب غونډے معروف او مشهور استعمالیدو په قرآن مجید کښے هم بعینه همدغسے نقل کړے شو اودلته هم معه هم دغسے نقل کړے شوے دے. .

سوال: چه کله واؤ په معنی دَ مع وي نودا تعریف دَدحول غیر نه مانع نه دے په دے وجه چه دا په داسے اسم باندے صادق راځي. چه دَ واو عاطفه نه پس داخل وي څکه چه دَ واو عاطفه نه پس داخلیدو وَالااسم دَ ماقبل سره مصاحبت او شریک وي. حالانکه دیته معطوف خوونیلے شي مفعول معه نه شي وئیلے .

جواب: دمفعول معه په تعريف کښې دمصاحبت نه مراد مطلق اشتراک نه دے بلکه خاص اشتراک مراد دے یعني دمفعول معه د فعل مفعول فاعل یا مفعول سره صدور فعل یاوقوع فعل کښې په داسې طريقه بانده شريکيدل چه د دواړو په زمان اومکان کښې اتحاد وی . یا فقط په زمان کښې اتحاد وی اوددغه خاص قسم مصاحبت د واو عاطفه نه ذبعد د ماقبل سره نه شي موندلے .

سوال: چه کله واو په معنی د مع دے نو د واو په ځائے لفظ معه ئے ولے رانه وړو؟

جواب:واو کښې په نسبت د معه زیات اختصار دے ځکه چه واو یوحرفي دے اومع دو حرفي .

جواب: څه رنګ چه واو کښې اختصار دے دغه رنګ بعضې نورو حروفو کښې مثلاً فاء کښې اختصار دے نوباقي حروف پريخودل اوصرف د واو انتخاب ولے کړے شوے دے .

جواب:محض اختصار مطلوب نه دے بلکه داختصارسره سره د دواړوترمينځ دمناسبت معنوی کيدل هم ضروري دي. اوهغه واو په معنی دمع کښې پيامونده شي مناسبت معنوی واو اودمع لفظ مناسبت ضروري دے اودمعنی واو مناسبت معنی لفظ مع سره زيات دے په نسبت دنوروحرفونو.

فائده: لمصاحبة معمول فعل کښې لام دپاره دتعليل دے چه په کوم مدخول کښې مصاحبت علتِ غائيه وي. اومصدر مضاف دے سوا د مفعول اولفظاً په معنی دملفوظ حال دے دفعل نه او معناً دغه لفظ بانده معطوف دے اوس دتعريف حاصل به داشي . چه مفعول معه داسې داسې منصوب دے چه هغه واو په معنی دمع نه پس ذکر کړے شي. چه معلوم شي چه دغه اسم منصوب ته د يو فعل د معمول فاعل لکه جئت وزيدا يا دهغه معمول به وی لکه کفاک وزيد درهم يافعل معنوی وی. اودهغه معمول فاعل لکه مالک وزيدا فعل معنوی هغې فعل ته وئيلے شي چه نه لفظا وی اونه تقديرا بلکه انداز کلام نه مستنبط وی لکه مثال هذا کښې مالک وزيدا کښې تصنع مستنبط کيدلے شي. وجه د استنباط دادہ .چه جارمجرور چه کله داستفهام سره وی نوهغه په فعل بانده دلالت کوی په دے وجه حرف جار فعل داسې مدخول پورے رسولو دپاره وضع کړے شوی دی. په دے وجه ديته دفعل احتياجی دہ او استفهام هم دفعل متقضي دے چه مستفهم مستفهم منه حقيقة مضمون دفعل وی په دے وجه اکثر او بيش ترکلمه استفهام دخول په فعل بانده کيږی په

دے بنا، بانــدے بلحاظ مقام دلته تصنع مستنبط کړے شوے دے . اهل عرب داجمله مغه وخت استعمالوی. چه کله ډیوکار په کولو کښے ډیوسړی سره مخاطب باندے انکار مقصودوی چه په هغے کښے فعل مستنبط دَ استفهام سره ماتصنع اوزیدًا مفعول معه چه هغے ته دَفعل منذکور معمول ضمیر مخاطب مستتر مصاحبت حاصل دے اودَ مصاحبت نه مراد دَمفعول معه ددغه معمول سره صدور فعل یا وقوع فعل کښے اشتراک وی خواه ددغه اشتراک زمان اومکان دواړه متحد وی . لکه جلست وزیدًا فی المسجد بالجماعَةِ یاد اشتراک زمانه متحد وی فقط لکه زیدًا آذنَ وَخالداً فِيْ مِنْذَ نَتَيهِمَا . یاد اشتراک مکان متحد وی لکه زیدٌ دخل وعمرو فی المسجد اګر چه دخول په طور دَتعاقب وی دغه رنګ دَشبه فعل مثالونه په هم جوړ شي.

قـولُهُ فَاِنْ كَانَ الْفِعْلُ وَجَازَ الْعَطْفُ فَالْوَ جْهَانِ مِثْلُ جِئْتُ اَنَا وَزَيْدٌ وَزَيْدًا . مصنفؒ دَمفعول معه دَتعریف نه دَفارغیدو نه پس اوس دَهغه صورتونو تفصیل بیانوی چه په هغے کښے واو په معنی مع جائز وی او اسم الواو مفعول کیدل جائز وی.یاواجب چه دَهغے څلور صورتونه دلته موجود دی.

ړومبے صورت: کـه چـرے فعل لفظی وی اوعطف جائز وی نوواو په دوه طریقو سره لوستل جائز دی .ددغه اسم منذکور بعد الواو هم دوه طریقو سره لوستل جائز دی. لکه جئتُ انا وزیدٌ وزیدًا دلته فعل لفظی دے اوعطف جائز دے.ځکه چه دَاسم ظاهر ضمیر مرفوع متصل باندے عطف دَپاره شرط دا وو چه دَ ضمیر مرفوع متصل دَپاره تاکید دَضمیر منفصل سره اوکړے شی. دلته انا تاکید موجود دے لهذا دَعطف په بنا باندے ددے مرفوع لوستل جائز دی. اوپه دیکښے واو دَپاره عطف به شي او واو په معنی د.مع سره جوړ کړے دغه اسم باندے نصب لوستل جائز دی. ځکه چه په دیکښے دَ تقصیر فائده ده. اوړومبی صورت کښے عامل براصل دے .فعل لفظی دیته وئیلے شي چه دَمنطوق کلام نه معلوم وی.

سوال: ستاسو اووئیل که چرے فعل لفظی وی عطف هم جائز وی نوهغه مرفوع هم لوستلے شي اومنصوب هم دَ مفعول معه په بنا باندے لیکن ضربت زیدا وبکرًا کښے فعل لفظی دے او عطف هم جائز دے. لیکن دا صرف منصوب لوستل واجب دی اومرفوع لوستل جائز نه دی. اوددے منصوب کیدل دَمفعول معه په بناباندے نه دے.

جواب: مفعول معه هغه وي چه دَ واو نه پس واقع وي اوهغه واو دَ مصاحبت په معنى کښے وي اوچه کله دغه واو هم په اصل کښے واو عاطفه وي اودَ عطف نه عدول کولوسره دَمصاحبت معنى اخستے شي. په دے وجه دغه وخت محض اشتراک مقصود نه وي بلکه مصاحبت مقصود وي . ځکه چه دَمصاحبت دَپاره دَيو قرينے کيدل ضروري دي اوقرينه داوي چه هغه مرفوع لوستل هم جائز وي اومنصوب هم اوستاسو چه کوم مثال پيش کړے دے په هغے کښے منصوب لوستل واجب دي عطف نه شي اچولے په دے وجه چه مفعول معه نه دے.

قوله وَإِلَّا تَعَيَّنَ النَّصْبُ مِثْلُ جِئْتُ وَزَيْدًا. په دے عبارت کښے د دوئم صورت بيان دے.

دوئم صورت :. کـه چرے فعل لفظي وي اوعطف کول جائز نه وي نودد ے حکم دادے چه ددے منصوب لوستل واجب دي ليکن دا دَ مصنف مذهب دے باقي دَنحويانو په نيزد نصب اوعطف هم جائز دے. البته نصب راجح اوعطف مرجوح دے.لکه جئت وزيدًا په دے کښے فعل لفظي دے ليکن عطف کول جائز دي. په دے وجه نصب متعين دے .

قوله وَإِنْ كَانَ مَعْنًى وَجَازَ الْعَطْفُ تَعَيَّنَ الْعَطْفُ نَحْوُمَالِزَيْدٍ وَعَمْرٍو. په دے عبارت کښے د دريم صورت بيان دے .

دريم صورت :. کـه چرے فعل معنوي وي اوعطف جائز وي نودَهغے حکم دادے چه عطف به متعين وي او واو به معنى دَمع کيدل به ممتنع شي.لکه مالزيدٍ وعمرو په ديکښے واو عطف دَپاره دے. اودَعمرو عطف دے زيدٌ باندے او دليل دَعطف متعين کيدو دادے. که چرے عطف اوکړے شي نودَعمرو عامل به لفظي شي .اوکه چرے واو په معنى دَمع جوړکړے شي. نودهغے عامل به معنوي شي. اوداخبره واضح ده چه عامل لفظي قوي وي دَعامل معنوي نه او

قاعده ده چه دَقوي شته والي سره ضعيف اختيارول جائز نه وي په دے وجه په صورت کښے هم دغه عطف به متعين وي ياد ساتئ دا مذهب هم دَ مصنف دے دَباقي نحويانو په نيزد په دے صورت کښے هم عطف هم جائز دے . اونصب هم البته عطف راجح دے اونصب مرجوح دے (کمافي الرضي)

قولُهٗ وَاِلَّا تَعَيَّنَ النَّصْبُ مِثْلَ مَالَكَ وَزَيْدًا وَمَا شَأْنُكَ وَعَمْرًا لِاَنَّ الْمَعْنٰى مَا تَصْنَعُ . پدے عبارت کښے دڅلورم صورت بیان دے.

څلورم صورت: كه چرے فعل معنوي وي اوعطف جائزنه وي نودغے حكم دادے چه نصب به متعين وي . لكه څه رنګ مالك و زيدا وماشانك وعمرًا په دیکښے فعل معنوي دے اوعطف اچول ناجائز دي ځکه چه دا

قاعده دة كه چرے ضمير مجرور باندے عطف واچولے شي عام دے چه مجرور بالمضاف وي يامجرور بحرف الجار وي نو په معطوف کښے مضاف یادحرف جار اعاده كول ضروري وي .اومذكوره مثال کښے حرف جار اوڈ مضاف اعادہ نه دہ كړے شوی په دے وجه په دیکښے هم نصب به متعين وي. ليكن دا هم دمصنف مذهب دے. دباقي نحويانو په نيزد عطف هم جائز دے. البته نصب راجح دے اوعطف مرجوح په دے تولو کښے فعل تصنعُ موجود دے چه دکوم نه مفهوم كيږي .ځکه چه دَ لِاَنَّ المعنى ماتصنع تعلق دَ ماشَأنُ سره دے ددے عبارت نه مصنف په اصل کښے دیوسوال مقدر جواب ورکوی .

سوال: دَفعل معنوي چه ستاسو ددے مثالونه ورکړي دي فعل په درے واړو کښے مقدر دے ددے څه وجه ده چه ستاسو تصنع صرف دَماشأنَ سره مختص کړو.

جواب: درے واړه مثالونو کښے فعل معنوي خومقدر دے لیکن رومبی دونم مثال کښے داسے قرینے موجود دي چه په فعل باندے دلالت کوي .ليكن په درئم صورت کښے هیڅ قرينه موجود نه ده په دے وجه چه رومبی دوړاو مثالونو کښے ظرف دے. دَظرف دپاره دَمتعلق کیدل ضروري دي. نوظرف قرينه ده په دے خبره باندے چه دلته فعل مقدر دے.په خلاف دَدرئ مثال په دیکښے ظرف وغيره موجود نه دے بلکه مضاف دے اودَمضاف نه مخکښے دَیو فعل یادَشغے متعلق کیدل څه ضروري نه دي. دونمه قرينه دادہ چه مااستفهاميه په استفهام به فعل باندے داخليږي دا هم رومبي مثالونو کښے ددے خبرے دليل دے چه فعل مقدر دے ليكن درئم مثال کښے دا دواړه قرينے موجود نه دي لهذا دلته فعل نه شو فهم كيدے په دے وجه مصنف تصريح اوكړه چه درئم مثال کښے فعل مقدر دے باقي پاتے شوه داخبره چه ددے

دمقدر کیدو دپاره قرینه څه ده، دلته دوه قرینې دي. یوه داده چه شان فعل او د حال هم معنی دے لکه ونیلے شی . مَاشَأْنُكَ یعنی مَاحَالُكَ او مَافِعَلُكَ او فعل اوحال مصدرونه دي. اودمصدر په فعل باندے دلالت کیږي. نوشان هم په فعل باندے دلالت کوی دونمه قرینه داده چه مااستفهامیه ده استفهام په ذات باندے داخل دے حالانکه استفهام په ذات باندے نه داخلیږی بلکه افعالو باندے داخلیږی. داهم دفعل مقدر کیدو دپاره دلیل اوقرینه ده.

قوله اَلْحَالُ مَايُبَيِّنُ هَيْئَةَ الْفَاعِلِ او الْمَفْعُوْلِ بِهٖ مصنف دمفعانیلو دبحث نه فراغت نه پس اوس دمنصوباتو شپږم قسم حال بیانول غواړی.

رومبی ترکیب: اَلْحَالُ مُبتدا ده مَايُبَيِّنُ هَيْئَةَ الْفَاعِلِ او الْمَفْعُوْلِ بِهٖ داخبر دے.

دوئم ترکیب: اَلْحَالُ مُبتدا مؤخر ده چه دمغے دپاره خبر مقدم محذوف منه دے که چرے داترکیب اوکړے شي نو بیا مايبين الخ دا جمله مستانفه دسوال مقدر جواب دے .

سوال: داکیدو مالحال؟

جواب: حال هغه دے چه دفاعل یامفعول هینت بیان کړی لفظًا یامعنًا .

سوال: حال په باقی منصوباتوباندے نے ولے مقدم کړو؟

جواب: حال دفاعل نه کیږی یادمفعول نه ځکه چه فاعل مرفوعاتو نه اصل دے اومفعول منصوباتونه اصل دے اوحال چه کله چه دغه دوه اصلونو باندے مشتمل وو په دے وجه مصنف حال په باقی منصوباتو باندے مقدم کړو . فوائد قیود: .ماجنس دے تمام منصوباتو ته شامل دے هینة قیداول دے چه دمغے فائده داده چه ددینه تمیز خارج شی ځکه چه جنس ذات وی وصف نه وی. درنم قید هینة اضافت فاعل او مفعول په طرف دے. ددینه دمبتدا صفات خارج شول .لکه زید العالم اخوک په دیکښے العالم د مبتداء هینت بیانوی لیکن دفاعل اومفعول نه .

سوال: دا تعریف دخول غیر نه مانع نه دے ځکه چه په دے تعریف کښے تراوسه پورے د فاعل اومفعول صفات داخل دي؟

حال

- مفرد
  - بدون ضمير: هذا بسرًا اطيب منه رطبا
  - مع ضمير: جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا
- جمله
  - خبريه
    - اسمية
      - حال مؤكده: بوجه اتصال محتاج واو نه هوګا مثل هُوَالْحَقُّ لَا شَكَّ فِيْهِ ـ (ذوالحال، حال)
      - حال منتقلة ربط
        - بواو و ضمير: جِئْتُ وَاَنَا رَاكِبٌ
        - بواو فقط: كُنْتُ نَبِيًّا وَّادَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ
        - بضمير فقط: كَلَّمْتُهُ فُوْهُ اِلٰى فِيَّ
    - فعلية
      - مضارع
        - مثبت بضمير فقط: جَاءَنِي زَيْدٌ يَسْرَعُ
        - منفی
          - هردو: جاءَنِي زَيْدٌ وَمَا يَتَكَلَّمُ غُلَامُهُ
          - واو، ضمير فقط: وَمَا يَتَكَلَّمُ ... الخ، وما يتكلم عمرو
      - ماضی
        - مثبت
          - هردو: جاءَنِي زَيْدٌ وَقَدْ خَرَجَ غُلَامُهُ
          - واو: وَقَدْ خَرَجَ عَمْرٌو
          - ضمير: وَقَدْ خَرَجَ غُلَامُهُ
        - منفی
          - هردو: جاءني زيد وما خرج غلامه
          - تنها واو: وَمَا خَرَجَ عَمْرٌو
          - تنها ضمير: مَاخَرَجَ غُلَامُهُ
  - انشائية: بدوں تاویل حال واقع نہیں ہوتا اور بتاویل مَقُوْلًا فِي حَقِّه حال واقع ہوتا ہے جیسے جَاءَنِي زَيْدٌ اِضْرِبْهُ اى مقولا فى حَقِّهِ اِضْرِبْهُ ـ



جواب: په تعریفاتو کښے دَحیثیت قید معتبر اوملحوظ وی دلته دَحیثیت قید دے چه دَفاعل اومفعول هیئت بیانکړی دَ فاعل اومفعول کیدو په حیثیت سره . لهذا دَفاعل اومفعول صفات دا هیئت خوبیانوی لیکن دَفاعل اومفعول کیدو په حیثیت سره نه . دَمثال په طوربانددے جاء نی زیدٌن العالم رأیت زیدًا العالم دلته العالم دَزید هیئت بیانوی لیکن فاعل اومفعول کیدو په حیثیت سره نه چه دَزید دَعلم سره متصف دے خواه فاعل دَجاء نی رأیت مفعول به وی یانه.

سوال: داتعریف جامع نه دے په دیکښے دَلفظ دَاستعمال نه معلومیږی چه حال هغه دے چه دَفاعل یامفعول دَهیئت دَپاره مبین وی ددینه هغه حال خارجیږی چه دَفاعل اومفعول دواړو هیئت دَپاره مبین نه وی. لکه لقیت راکبین په دیکښے راکبین دواړو دَهیئت دَپاره مبین دے.

جواب: داعبارت قضیه منفصله مانعة الخلو باندے مشتمل دے چه دَاجتماع منافی نه ده داستا سوال به هله واردیږی چه کله دغه قضیه مانعة الجمع وے.

سوال: داتعریف بیاهم جامع نه دے په دے وجه چه ددینه هغه حال خارجیږی چه دَمفعول دَهیئت دَپاره مبین وی یامفعول مطلق دَپاره مبین وی؟

جواب: فاعل او مفعول به کښے تعمیم دے خواه فاعل حقیقة وی یا حکمًا .دغه رنګ خواه مفعول حقیقة وی یاحکمًا او مونږهم دا وایو. چه دغه حال او دَ هیئت دَپاره مبین وی هغه فاعل حکمی یامفعول حکمی وی هغه فاعل حکمی یا مفعول حکمی نه حال واقع کیږی. ځکه چه اګرمفعول معه دَ فاعل سره دَفعل په صدور کښے شریک وی نو مفعول معه حکمًا فاعل وی. اوکه چرے مفعول معه دَمفعول به سره په وقوع فعل کښے شریک وی نوداسے مفعول معه حکمًا مفعول به وی اودغه رنګ مفعول مطلق نه واقع کیدونکے حال په حقیقت کښے مفعول به حکمی نه حال واقع کیږی. ځکه چه مفعول مطلق دَمفعول به په حکم کښے وی .

سوال: بیاهم دا تعریف جامع نه شو ځکه چه ددینه هغه حال خارجیږی چه دَ مضاف الیه نه واقع کیږی لکه فاتبع ملة ابراهیم حنیفا ،حنیفا دَابراهیم نه حال واقع شوے دے .اوابراهیم مضاف الیه دے . اودوئم مثال اَنّ دابر هٰؤلاءِ مقطوع مصبحین مصبحین دَ هٰؤلاء نه حال دے اوهٰؤلاء مضاف الیه دے؟

جواب: مضاف دوه حالونه یے حتی نه وی یا خومضاف داسے فاعل یا مفعول وی چه دَهغے په حذف

کولو سره مضاف اليه دَهغے قائم مقام کول به صحيح وی لکه بل نتبع ملة ابراهيم لهذا چه کله مضاف اليه قائم مقام دَمفعول شو نودَ مضاف اليه نه حال واقع کيدونکے حال په حقيقت دَمفعول به نه حال واقع شو. نه دَمضاف اليه نه لهذا دامضاف اليه کيدو په حيثيت سره حال واقع نه دے بلکه مفعول به حکمی کيدو په وجه حال واقع دے . اوکه مضاف اليه داسے فاعل يا مفعول نه وی چه دَهغے په حذف کولو مضاف اليه دَهغے قائم مقام کول صحيح وی نو په داسے صورت کښے لامحاله يقينی طور بانـدے مضاف دَمضاف اليه جز به شی اومضاف اليه به کل شی لکه آتی دابر هؤلاء مقطوع مصبحين کښے دابر دَ هؤلاء جـزء دے ځکه چه دابراشی اصل دَشی ته ونيلے شی. باقی پاتے شو داسوال چه دابر نه فاعل ددے اونه مفعول دے نودد ے جواب دادے چه مقطوع کښے چه کوم ضمير نائب فاعل دے دَهغے مرجع دابر دے ځکه چه راجع اومرجع کښے اتحاد وی چه کله راجع نائب فاعل دے نومرجع به هم نائب فاعل شی اونائب فاعل هم فاعل حکمی کيږی.

فائده: تبين کښے دوه نسخے نورے هم شته(۱) باب تفعل نه دَ ماضی معلوم صيغه جوړه کړے شی تبين .(۲) باب تفعيل نه دَ ماضی معلوم صيغه جوړه کړے شی بَيَّنَ دغه دواړو نسخو په اعتبار سره به کښے دَ جارمجرور متعلق بَيَّنَ فعل به شی اوحالانکه پرومبی صورت کښے دَبه متعلق المفعول وو اومعنی به دَپرومبئ نسخے مطابق داشی چه حال دداسے څيز نوم دے چه په هغے سره دَفاعل يادَ مفعول هيئت ظاهرشی .اودونمے نسخے مطابق حاصل معنی به داشی چه حال دَيوداسے څيز نوم دے چه دَهغے په ذريعه دَفاعل يا دَمفعول هيئت بيان کړے شی. اوس ددے دوه نسخو مطابق به دَ المفعول صله به شی .اودَ تبين سره به متعلق شی .لهذا مفعول کښے به تعميم اوشی خواه مفعول مطلق يامفعول معه وی يامفعول به وی ددينه دافائده به حاصله شی.په مفعول معه يادَمفعول مطلق سره واقع کيدونکے حال داخلولو دَپاره فاعل اومفعول کښے دَ تعميم کولو ضرورت به نه وی البته مضاف اليه نه واقع کيدونکے حال داخلولو دَپاره فاعل اومفعول کښے دَحقيقی اوحکمی تعميم کولو ضرورت به باقی پاتے نه شی.

سوال: اوس هم داتعريف جامع نه شو چه جاء نی زيدٌ قاعدًا ابوه کښے قاعدًا حال دے چه نه دَفاعل هيئت بيانوی اونه دَ مفعول .

جواب: ځکه څه رنګ چه په صفت کښې تعميم دے صفة بحال الموصوف ، صفه بحال متعلق الموصوف نودغه رنګ په حال کښې هم تعميم دے.(۱) دفاعل يا مفعول هيئت بيان کړئ يادغه دمتعلق (۲) داحال دمتعلق فاعل هيئت بيانوي لهذا متن کښې قيد نه معتبر دے. (او متعلق احدهما) مقدر دے .

فائده: حال اوتميز کښې د امور خمسه په اعتبار سره اشتراک دے يعني مابه الاشتراک امور خمسه دي.(۱) اسمان (۲) نکرتان(۳) فضلتان(۴) منصوبتان (۵) رافعتان للابهام .اود امورسبعه ؤ په اعتبار سره امتياز اوفرق دے . يعني مابه لامتياز امور سبعه دي.(۱) حال جمله اوظرف اومفرد درے واړه طريقو سره واقع کيږي په خلاف دتميز هغه فقط هم اسم وي .(۲) حال هيئات دپاره مبين وي. اوحال ذوات دپاره مبين وي.(۳) حال کله يوذوالحال نه متعدد واقع کيږي په خلاف دتميز چه هغه متعددنه وي. (۴) حال خپل عامل متصرف باندے مقدم کيږي په خلاف دتميز اعلیٰ المذهب الرصح) چه تميز خپل عامل باندے مطلق مقدم نه وي(۵) حال کښے اصل مشتق کيدل دي په دتميز چه په ديکښے اصل جامد کيدل دي. ليکن کله کله برعکس هم کيږي(۶) حال د خپل عامل د مضمون دپاره مؤکد وي. په خلاف دتميز (کمافی الاشمونی)

قوله لَفْظًا اَوْمَعْنًا ددے عبارت نه مصنف دابيان کول غواړي چه دفاعل اومفعول نه مراد عام دے. لفظي وي يا معنوي يادساتئ په دے خبره کښے دتماونحاتو اتفاق دے. فاعل او مفعول لفظي وي ليکن فاعل مفعول لفظي کوم يودي په ديکښے اختلاف دے. مولانا جامي اود بعضے نحويانو خيال دے مولانا جامي فرمائي چه فاعل مفعول لفظي نه مراد دا چه د فاعل فاعليت اودمفعول مفعوليت منطوق کلام نه معلوم وي اود فاعل اومفعول معنوي نه مراد دا دے چه دفاعل دفاعليت اودمفعول مفعوليت دمنطوق کلام نه معلوم نه وي بلکه دفحوی کلام نه معلوم وي اودبعضے نحويانو خيال داسے دے. چه فاعل مفعول لفظي هغه دے .چه دفاعل اومفعول فعل د منطوق کلام نه معلوم دي اوفاعل اومفعول معنوي هغه دے چه دهغے فعل دمنطوق کلام نه معلوم نه وي بلکه د فحوی کلام نه معلوم وي.

خلاصه اختلاف: مولانا جامي د فاعل اومفعول دذات اعتبار کړے دے لفظي اومعنوي

کیدو کښې .اوبعضې نحویانو ذات فاعل اوذات مفعول اعتبار نه دے کړے بلکه دَفعل اعتبار نے کړے دے. دلته درے مثالونه دي دوه اتفاقي اویو اختلافي لکه ضربت زیدا قائمًا وزیدٌ في الدار قائمًا وهذا زیدٌ قائمًا نوپه رومبي مثال کښې مفعول اوفاعل دواړه لفظي دي. یعني دامثال اتفاقي دے . دَمولانا جامي او بعضې نحویانو ترمینځ چه فاعل اومفعول دواړه لفظي دي. دَمولانا جامي او بعضې نحویانو ترمینځ چه فاعل اومفعول دواړه لفظي دي. دَمولانا جامي په نیزد په دے وجه چه دَتاء فاعلیت اودَ زید مفعولیت دَمنطوق کلام نه ذهن ته راځي. اودَبعضې نحویانو په نیزد په دے وجه چه دَفاعل اومفعول فعل منطوق کلام نه ذهن ته راځي .دونم مثال زیدٌ في الدار قائمًا اختلافي دے. دَمولانا جامي په نیزد دَفاعل اومفعول لفظي مثال دے . البته لفظي کیدو سره حکمي دے. په دے وجه چه فاعل اومفعول دواړه دَ منطوق کلام نه فهم کیدے شي . اوحکمي په دے وجه چه دا صورةً فاعل نه دے بلکه دد ے مفعول محذوف دے چه استقر دے اودد ے ضمیر زید طرفته واپس کیږي اودد ے ضمیر هم ظاهر نه دے .په دے وجه مونږ اوونیل چه فاعل مفعول لفظي خودے لیکن حکمًا دے اواګر چه دَبعضې نحویانو په نیزد دامثال دَفاعل اومفعول معنوي دے په دے وجه چه دد ے فعل په لفظونو کښې نه دے هذا زیدٌ قائمٌ دامثال هم اتفاقي دے . دَ دواړو په نیزد دَفاعل اومفعول معنوي مثال دے. دَمولانا جامي په نیزد په دے وجه چه فعل اوفاعل دواړه فحوی دَکلام نه فهمیږي .لهذا مرکب دے ها تنبیه اوذا اسم اشاره نه که دَهاتنبیه لحاظ اوکړے شي نوانبّهُ فعل به فهم کولے شي. اوکه چرے دَ ذااسم اشاره لحاظ اوکړے شي . نو اشیر وفعل به فهم کولے شي . نودلته زیدٌ مفعول معنوي دے اودَ بعضې نحویانو په نیزد په دے وجه دَ مفعول معنوي مثال دے چه دد ے فعل منطوق کلام نه نه شي فهم کیدے بلکه فحوي دَکلام نه فهمیږي نوځکه دا معنوي دے.

قولُهُ وَعَامِلُهَا الْفِعْلُ اَوْشِبْهُهُ اَوْ مَعْنَاهُ مصنف دحال تعریف بیانولو نه پس دد ے عامل بیانوي چه دَحال عامل کله فعل وي .خواه مذکور وي لکه ضربت زیدٌ قائمًا خواه مقدر وي لکه زیدٌ في الدار قائمًا نودَ قائمًا عامل استقر یافعل مقدر دے اودَحال عامل کله شبه فعل وي. شبه فعل دیته وئیلے شي. چه دَ فعل غوندے عمل اوکړي اوچه په کوم ترکیب کښې واقع وي په هغې کښې

مقصود وی او هغه شپږ دی. (۱) اسم فاعل (۲) اسم مفعول (۳) اسم تفضیل (۴) صفت مشبه (۵) مصدر (۶) اسم فعل داټول په حال کښې عمل کوی مذکور وی بیاهم مقدر وی بیاهم په دې شرط چه قرینه موجود وی.

قوله وَشَرْطُهَا اَنْ تَكُوْنَ نَكِرَةً وَصَاحِبُهَا مَعْرِفَةً. ددې ځائې نه مصنف شرط بیانوی چه دَحال دَپاره نکره کیدل شرط دی اودَذوالحال دَپاره معرفه کیدل کثیر الاستعمال دې. یعنی دَ ذوالحال معرفه کیدل شرط دی غالبًا.

سوال: دحال نکره کیدل ولې شرط دی؟

جواب: نکره اصل ده په دې معنی چه کله دَمتکلم غرض دَنکره نه حاصل نه شی نودغه وخت دَمعرفه ضرورت راځی. چه کله نکره دَحال نه غرض حاصل شی نوکیږی چه حدث فاعل یا دَمفعول په طرف منسوب وی دا په حال سره مقید کړې شی اودا غرض چه کله نکره نه حاصل شی نومعرفه راوړل بې ضرورته ده مخکښې په نکره کښې تعمیم دې چه نکره محضه وی یانکره مخصصه وی.

سوال: دَ ذوالحال معرفه کیدل کثیر الاستعمال کیدل دا شرط ئې ولې اولګولو؟

جواب: ذوالحال په اعتبار دَمعنی محکوم علیه وی اومحکوم علیه کلام عرب کښې معرفه کیدل کثیر دی په دې وجه دَ ذوالحال معرفه کیدل ئې شرط کړل.

سوال: په دې عبارت کښې تناقض دې ځکه چه دَ صاحبها ان تکون باندې عطف دې معنی به داشی .چه په حال کښې شرط دادې چه نکره وی اوذوالحال کښې شرط دادې چه معرفه وی بیائې اوونیل غالبًا معرفه وی نو هغه اوقات چه په هغې حال نکره شی. نودَمعرفه کیدو والا شرط مات به شی ځکه چه:

قاعده: (اِذَا فَاتَ الشَّرْطُ فَاتَ الْمَشْرُوْطُ) نولازم به شی یواسم چه کله نکره وی ذوالحال هم نه واقع کیږی اوداهم صحیح نه دې.

جواب: دَصاحبها اَنْ تَكُوْنَ باندې هیٌوعطف نشته جدا جمله ده په دې وجه درې دَشرط سره هیڅ تعلق نشته.

جواب: دَصاحبها په ان تکون باندې عطف دې لیکن دَ غالبًا تعلق دَمعرفه سره نه دې بلکه

دَغالبا تعلق دَشرط سره دے تقدير دَ عبارت به داسے شي. شَرْطُهَا اَنْ تَكُوْنَ غَائِبَةً وَصَاحِبُهَا مَعْرِفَةً يعني غالبًا شرط دادے چه ذوالحال معرفه وي او داخبره بالكل صحيح ده.

فائده: تحقيقي مقام: دادے چه لکه څه رنګ دَ حال شپږ قسمونه جوړيږي نودغه رنګ دَذوالحال هم شپږ قسمونه جوړيږي (١) ذوالحال نكره موصوفه وي په ديكښے تخصيص په اعتبار دَصفت دے لكه جَاءَنِيْ رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ فَارِسًا په ديكښے فَارِسًا رَجُلٌ نه حال وے چه نكره ده اوددے بني تميم صفت راوړلے شوے دے. چه دَدغے په وجه هغه نكره مخصصه جوړه شوه(٢) ذوالحال نكره وي چه په ديكښے تخصيص په اعتبار دَ استغراق وي. لكه څه رنګ فِيْهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيْمٍ اَمْرًا مِّنْ عِنْدِنَا. چه په ديكښے كل امرحكيم ذوالحال دے په ديكښے دَ استغراق په وجه تخصيص موندلے شي .(٣) ذوالحال نكره وي او په ديكښے تخصيص دَما او الا په وجه سره دے .لكهمَاجَاءَنِيْ رَجُلٌ اِلَّا رَاكِبًا (٤) ذوالحال نكره وي اوپه ديكښے تخصيص دَحرف استفهام په وجه سره وي. لكه: هَلْ اَتَاكَ رَجُلٌ رَاكِبًا (٥) ذالحال نكره وي اوپه ديكښے دَحال دَ تقديم په وجه تخصيص وي لكه :مَاجَاءَنِيْ رَاكِبًا رَجُلٌ (٦) ذوالحال معرفه وي لكه :جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا.

قوله وَاَرْسَلَهَا الْعِرَاكَ وَمَرَرْتُ بِهٖ وَحْدَهٗ وَنَحْوُهٗ مُتَاَوَّلٌ. په دے عبار كښے مصنف دَسوال مقدرجواب وركوي.

سوال: ستاسو اووئيل چه حال هميشه نكره وي .معرفه حال نه واقع كيږي دايوڅو مثالونه دي چه حال پكښے معرفه دے .(١) اَرْسَلَهُ الْعِرَاكَ كښے العراک، هَا ضمير نه حال دے .ليكن معرفه ده (٢) مررت به وحدهٗ كښے وحدهٗ به ضمير نه حال دے .ليكن معرفه ده.

جواب: داسے قسم مثالونوكښے به دَتاديل كولے شي .

تاويل اول: مذكوره مثالونه حال نه دے بلكه مفعول مطلق دے چه ددے افعال مقدر دي. دَالعراک فعل مقدر تعترک دے دَ وحدهٗ ينفرد دے اوجمله فعليه كيدو سره حال واقع كيږي اوداخبره ظاهره ده چه په جمله كښے حيث الجمله دَنكره په حكم كښے وي خلاصه دَجواب داده چه كوم حال دے هغه معرفه نه ده نكره ده اوچه كوم معرفه ده هغه حال نه دے مفعول مطلق دے.

داتاويل دَامام ابوعلي نه منقول دے.

تاويل دوم: دا امثله مذكوره مادةً صورةً معرفے دی ليكن حقيقةً نكره دی ځكه چه دَنكره په مقام كښے استعماليږي نودغه رنگ العراك ،معتركة په مقام كښے اووحدهٔ دَمنفرداً په مقام كښے استعماليږي داتاويل امام سيبويه نه منقول دے .

قوله فَإِنْ كَانَ صَاحِبُهَا نَكِرَةً وَجَبَ تَقْدِيْمُهَا مصنف احكامات بيانول ددے ځائے نه دونم حكم بيانول غواړي چه ذوالحال نكره وي نوپه داسے صورة كښے دَحال مقدم كول واجبيږي.

سوال: ددے وجوبي تقديم څه وجه ده؟

جواب: ددے دوه عتونه اودوه دی.

اوله وجه: ذوالحال قائم مقام دَمبتداء وي اوحال قائم مقام دَخبروي چه كوم وخت مبتدا نكره وي نو دَخبر په مبتدا باندے مقدم كول واجبيږي ځكه چه ذوالحال هم قائم مقام دَمبتدا دے. په دے وجه دَ ذوالحال نه دَحال مقدم كول به ضروري شي.

دوئمه وجه: كه چرے ذوالحال نكره وي اوحال مقدم نه كړے شي. نوبعضے صورتونو كښے دَحال دَصفت سره التباس لازم راځي نودَرفع التباس دَپاره دَحال تقديم نے واجب مقرر كړو . چه دَصفت سره التباس لازم رانشي نودَ تقديم په صورت كښے حال كيدل به متعين شي. په دے وجه چه صفت په خپل موصوف باندے مقدم كيږي نه.

سوال: دَعلت ثانيه مطابق خوصرف په بعضے صورتونو كښے دَ حال تقديم په ذوالحال باندے واجبيږي اوستاسو ټولو موادو كښے ولے دَحال تقديم لازم مقرر كړو؟

جواب: چه حكم يوشي.

قوله بِخِلَافِ الظَّرْفِ.

سوال: ظرف دوه حالونه خالي نه دے عامل معنوي كښے داخل دے يانه كه چرے هغه داخل دے نوصاحب كافيه خو په طريقه استثناء علت ظرف ونيل غوښتل ځكه چه طريقه استثناء دادہ كه چرے داخل نه وي نو اخراج المخرج لازم راځي چه جائز نه دے؟

جواب: مونږ بل شق اختياروؤ چه ظرف عامل معنوي كښے داخل نه دے ليكن چونكه په ديكښے اختلاف وو نوپه دے وجه صاحب كافيه بيان كړو په ديكښے اختلاف دے دَسيبويه او اخفش حال

خپل عامل ظرف بانـدے مقدم كيږي يانه دَسيبويه مذهب دادے چه حال خپل عامل طرف باندے مقدم كيږي نه په دے وجه چه ظرف عامل ضعيف دے اودَ عامل ضعيف معمول په دے باندے مقدم كيږي نه اودَ اخفش په نيزد چه حال خپل عامل ظرف باندے مقدم كيږي حال خپل عامل باندے مقدم وي مثال دَمقدم كيدو لكه زيدٌ قائمًا في الدار اوكه چرے داشرط اونه موندے شي. نودَهغے دوه صورتونه جوړيږي. (١) دَمبتدا نه حال مؤخروي لكه قائما زيدٌ (٢) مبتدا دَحال نه مؤخر كيدو سره سره دَظرف نه هم مؤخروي لكه قائمًا في الدار زيدٌ دغه دواړو صورتونو كښے په اتفاق دَسيبويه اواخفش دَحال خپل عامل ظرف باندے تقديم جائز نه دے اودَ مبتدا په حال باندے مقدم كيدو په صورت كښے اخفش دَ جواز تقديم قائل دے اوسيبويه دَعدم جواز قائل دے . په خلاف دَ ظرف دَيو وهم ازاله دَه چه صاحب كافيه چه كله دامسئله بيان كړه چه حال خپل عامل معنوي باندے مقدم كيږي نه نودَ هغے نه دا وهم پيدا شو چه ظرف هم خودحال مشابه دے لهذا شايد ظرف هم خپل عامل معنوي باندے مقدم نه شي.صاحب كافيه جواب وركړو اگر چه ظرف اوحال دَيوبل سره مشابه دي ليكن ددے باوجود دَحال خوپه خپل عامل معنوي باندے تقديم جائز نه دے ليكن دَظرف په خپل عامل معنوي باندے تقديم جائز دے .ځكه چه په ظرف كښے توسع دَه دا دوه مطلبه هغه وخت دي چه كله ظرف عامل معنوي كښے داخل نه وي كه ظرف په عامل معنوي كښے داخل اومنلے شي نوبيايه هسدغه دوئم مطلب متعين شي.

قوله وَلَا عَلَى الْمَجْرُوْرَ عَلَى الْاَ صَحِّ اومجرور باندے به هم حال نه شي مقدم كيدے دَمجرور نه مراد عام دے. مجرور بالاضافة وي يا مجرور بحرف الجار وي په داسے صورت باندے هم حال مقدم كولے نه شي. يادساتئ مجرور بالمضاف كښے خودَ تمامونحاتو اتفاق دے چه حال به نه شي مقدم كيدے دليل اوعلت دادے چه حال تابع وي اوذالحال متبوع وي اوقاعده دَه چه مضاف اليه مضاف باندے نه شي مقدم كيدے نودَ مضاف اليه چه كوم تابع حال دے هغه څه رنګ مقدم كيدے شي په دے وجه مضاف اليه ذوالحال وي نوپه حال باندے نه شي مقدم كيدے.

سوال: ستاسو اوونيل چه متبوع مقدم نه شي نوتابع مقدم كيدے نه شي داستاسو قاعده درست نه دَه لكه څه رنګ جاء ني زيدٌ راكبًا كښے زيدٌ راكبًا باندے نه شي مقدم كيدے ليكن ددے معمول

راکبًا ددے نه مقدم کیدے شي داسے ونیل صحیح دي جاء نی راکبًا زیدٌ.

جواب: په فاعل کښے اصل هم دغه تقدیم دے داموٴخر ددے وجے نه کیدے شي چه ددے دمبتدا سره التباس لازم راځي. ددے التباس کولو دپاره مبتدا موٴخرکولے شي نوپه متبوع کښے اصل تقدیم دے نومعمول اوتابع چه په تابع کښے هم وي نود داسے متبوع تابع مقدم کولے شي چه کله په مبتوع کښے اصل تقدیم دے نو دداسے متبوع د تابع مقدم کیدے شي.

سوال: مضاف الیه په مضاف باندے ولے نه شي مقدم کیدے ددے قاعدے څه وجه اوعلت دے؟

جواب: مضاف په منزله دجار اومضاف الیه په منزله د مجرور چونکه مجرور په جار باندے مقدم کیدے نه شي په دے وجه مضاف الیه مضاف باندے نه شي مقدم کیدے.

سوال: مجرور په جار باندے ولے نه شي مقدم کیدے ؟

جواب: جار عامل ضعیف دے په دے وجه مجرور په دے باندے مقدم کیدے نه شي یادساتئ مجرور بحرف الجار کښے دنحاتو اختلاف دے دسیبویه په نیزد اود مصنف او اکثر نحاتو په نیزد حال مجرور بحرف الجار باندے مقدم کیدے نه شي په علت سابقه اود بعضو په نیزد حال مجرور بحرف الجار باندے مقدم کیدے نه شي په علت سابقه اودبعضو په نیزد حال مجرور بحرف الجار باندے مقدم کیدے شي دوه دلیلونه ئے پیش کړي دي. (۱) دلیل نقلي (۲) دلیل عقلي.

دلیل نقلي:. وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ دلته كَافَّةً لِّلنَّاسِ مجرور بحرف الجارنه حال دے اومقدم کړے دے .نو دادلیل دے ددے خبرے چه حال مجرور بالحرف الجارباندے مقدم کړے شي. ددے درے جوابونه دي.

(۱) وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ ددے آیت کریمه په اعراب کښے دعلماؤ اختلاف دے.

مذهب اول :. ابوعلي فارسي ابن برهان کسان ابن مالک داټول علماء دے طرفته تللي دي چه کافةً حال دے او للناس ذوالحال دے دے ضراتو ددے آیت نه په دے خبره باندے دلیل قائم کړے دے چه مجرور بالحرف الجار ذوالحال باندے دحال تقدیم جائز دے.

سوال: په آیت مذکوره کښے کافةً حال د للناس نه حال مقرر کولو باندے فساد لازم راځي.(۱)

دفعل ارسل متعدی باللام کیدل لازم راځی حالانکه اکثر متعدی بحرف الی دی .کمافی قوله تعالیٰ:
وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰی قَوْمِهٖ.

جواب: مونږ دا خبره قطعا نه تسلیموو چه دَارسل صله صرف الی ده بلکه څه رنګ متعدی بالی وی دغه رنګ متعدی باللام هم دی ږودغسے وَاَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلاً متعدی باللام دے.

دوئم مذهب: علامه جارالله زمخشریؒ فرمائی چه کافةً مفعول مطلق کیدو په بناء باندے منصوب دے چه دَهغے عامل ارسل دے. اوپه اصل کښے مصدر محذوف دے دَمفعول مطلق صفت دے. وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رِسَالَةً اَیْ مَانِعَةً وَزَاجِرَةً.

دریم مذهب: دَبعضے علماؤ په نیزد کافة حال دے . دَارسلنک کاف ضمیر خطاب نه حاصل معنی به داشی . وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا مَانِعًا وَزَاجِرًا لِلنَّاسِ . اَنْ یَّرْتَكِبَ الْاٰثَامَ دونم اودرنم مذهب کښے فرق دادے چه دونم مذهب باندے کافة کښے تاء تانیث په خپل اصل باندے تاء تانیث دَپاره نه دے بلکه مبالغے دَپاره دے .لیکن مذهب دوئم مذهب درنم باندے قوی اعتراض واردیږی مذهب دونم باندے دااعتراض واردیږی چه موصوف حذف کول اوصفت دَهغے په ځائے قائمول هله جائز کیږی چه دَموصوف اقتران دَصفت مذکوره سره دومره شائع او ذائع وی چه دَحذف موصوف نه پس فقط دَصفت ذکرکولو سره دَ موصوف په طرف ذهن منتقل شي اوداخبره واضحه ده چه دلته صرف صفت ذکرکولو سره موصوف رسالة په طرف ذهن نه چلیږی لهذا علامه جار الله زمخشری په نیزد رسالة موصوف دے کافة دَموصوف محذوف صفت مقررول غلط دی.مذهب سوم باندے دااعتراض واردیږی چه تاء دَمبالغے دَپاره کیدل په سماع باندے موقوف دے دغسے تمام هغه کلمات چه په هغے کښے تاء مبالغے دَپاره وی هغه سوائے ندرة او شذوذ ټول دَمبالغے صیغے وی لهذا مذهب اول راجح دے .لهذا په دے وجه ملا جامی دَبقایا مذاهبو متعلق تکلیف ونیلو سره انتهائی بلیغ انداز کښے ردکړے دے. دَمذهب اول راجح کیدو باندے دلیل وجاء وعلی قمیصه بدمٍ کَذِبٍ کښے علی قمیصه جارمجرور محذوف سره متعلق دے اوهغه محذوف دم مجرور بالباء نه حال واقع کیږی او تقدیر کلام دادے چه وجاء وا بدمٍ کذبٍ فِی حَالٍ کونه علیٰ قمیصه نودا آیت کریمه ذوالحال مجرور بالحرف الجار باندے مقدم شوے دے. (هکذا قال ابو البقاء) لیکن علامه زمخشری دَقرار

دپاره حیله سازي اختیار کولوسره دا اونیل چه علی قمیصه جار مجرور د جاء وسره متعلق دے.

قوله وَكُلّ مَادَلّ عَلىٰ هَيْئَةٍ صَحّ اَنْ يَّقَعَ حَالاً مِثْلُ هٰذَا بُسْرًا اَطْيَبُ مِنْهُ رُطَبًا. په دے عبارت کښے مصنف دجمهورو نحاتو تردید کیدل غواړي. دجمهورو نحاتو مسلک دا ووچه دحال دپاره مشتق کیدل ضروري دي او اسم جامد بغیر تاویل مشتق حال نه واقع کیږي مصنف ددے تردید اوکړو چه هر هغه اسم چه حالت باندے دلالت اوکړي خواه هغه مشتق وي یا جامد وي حال جوړیږي . هغه دمشتق په تاویل کښے د کولو ضرورت نشته لکه هذا بُسْرًا اَطْيَبُ مِنْهُ رُطَبًا په دیکښے بُسْرًا او رُطَبًا داسم جامد کید وباوجود حال واقع دے . بسرًا نیم پوختے کجورے ته ونیلے شي چه په هغے کښے څه قدرے ترشوالے باقي وي. نوددے دلالت په نیم پوختي باندے اوشو اورطبا پخے کجورے ته ونیلے شي چه په هغے کښے خالص خوږوالے وي نوددے دلالت په پوخوالي باندے. اوشو اونیم پوخوالے اوپوخوالے حالت دے چه کله داپه حالت باندے دلالت کوي نوددے حال واقع کیدل درست دي.

سوال: دامثال صحیح نه دے ځکه چه په دے مثال کښے اسم تفضیل عامل دے اوددے معمول ددے نه مقدم دے حالانکه اسم تفصیل عامل ضعیف دے اود عامل ضعیف معمول نه مقدم کیږي؟

جواب: قاعده ده چه کله د یوذات نه دوه حاله واقع وي په اعتبارینو مختلفینو نودهر حال د خپل متعلق سره متصل اوسیدل ضروري دي. دلته بسرًا اورطبًا دواړه یوذات یعني خوشه نه حال واقع کیږي په دے وجه ددے قاعدے په بناباندے داذخپل خپل متعلق سره دامتصل کینودلے شوے دے ددے غرض په بنا باندے بسرًا خپل عامل یعني اطلب اسم تفصیل باندے مقدم کړے شوے دے په بل عنوان سره قاعده ده چه کله یوعامل مشتمل وي دوه حدیثونو باندے یعني دوه طرفونو باندے اوددے نتیجے دوه حاله وي نود هر یوحال دخپل خپل حدث سره متصل کیدل ضروري دي . نو په دے مثال کښے اطیب عامل دے چه په دوه حدثونو باندے کیدل مشتمل دي او ددے نتیجے دوه حاله دي د بسرًا او رطبًا نو په دیکښے دهریوحال دخپل حدث سره متصل اوسیدل ضروري دي دبسرًا حدث هذا په دے وجه بسرًا خپل حدث هذا مفضل سره

مُتَّصِل اوسیدل ضروری دی. په دے غرض باندے بسرۀ په اطیب باندے مقدم کړے شوے دے.

قولهٗ وَقَدْ تَكُوْنُ جُمْلَةٍ خَبْرِيَّةً فالا سمية بِالْوَاوِ رَالضَّمِيْرِ اَوْبِالْوَاوِ اَوْ بِالضَّمِيْرِ عَلٰى ضُعْفٍ. مصنف حال مفرد بیانولو نه پس دَجملے حال کیدل بیانول غواړی چه کله کله حال جمله خبریه هم وی.

سوال: جمله حال ولے واقع کیږی؟

جواب: مونږ وئیلی دی چه کوم څیز هیئت او حالت باندے دلالت اوکړی هغه حال واقع کیږی اوجمله خبریه هم چونکه جمله هیئت اوحالت باندے دلالت کوی په دے وجه داحال واقع کیږی.

سوال: دَجملے سره دَخبریه قید ولے اولګولوشو ایاجمله انشائیه حال نه واقع کیږی؟

جواب: جمله انشائیه حال نه واقع کیږی په دے وجه چه ذوالحال په منزله دَمبتدا دے. اوحال په منزله دَخبر دے. اوستاسو لوستلی دہ داقاعدہ چه جمله انشائیه خبرنه واقع کیږی چه کله خبرنه واقع کیږی نو حال هم نه واقع کیږی باقی پاتے شوہ داخبرہ چه خبرولے نه واقع کیږی په دے وجه چه خبر محکوم به وی .اوجمله انشائیه: وَالْجُمْلَةُ الْاِنْشَائِيَّةُ لَا تَصْلِحُ اِنْ يُّحْكَمَ بِهَا عَلٰى شَيْءٍ. جمله انشائیه کښے دَمحکوم به صلاحیت هډو صلاحیت نه وی جمله خبریه چه حال واقع کیږی ددے دوہ قسمونه دی ابتداءً (۱) جمله اسمیه (۲) جمله فعلیه .بیادَ جمله فعلیه څلور قسمونه دی(۱) جمله فعلیه مضارع منفی.

فائده: جمله خبریه چه کله حال واقع وی نوددے دَماقبل سره ارتباط دَپارہ دَرابط کیدل ضروری دی رابط دوہ دی (۱) واو(۲) ضمیر

فائده: یادساتئ دَجمله اسمیه دَروابطو درے قسمونه دی دَجمله اسمیه روابط واو اوضمیر دواړہ وی واو خو په دے وجه چه جملے مستقل بنفه وی.نو واوئے راوړو ددے دَ ماقبل سره ارتباط دَپارہ دَرابط کیدل ضروری دی رابط دوہ دی (۱) واو(۲) ضمیر

قاعده: یادساتئ دَجمله اسمیه دَ روابطو درے قسمونه دی. (۱) دَجمله اسمیه روابط واو اوضمیر دواړہ وی واو خوپه دے وجه چه جمله مستقل بنفه وی نوواو ئے راوړو دَ هغے ئے دَ ماقبل سره

ارتباط قائمولے شي. اوضمیر په دے وجه چه جمله غایت استقلال کښے وی اود ربط انتهائی قوی کولو دپاره ضمیر راوړلے شي. (۲) رابط فقط واو وی .(۳) رابط فقط ضمیر وی یادساتئ رابط فقط واو بانـدے اکتفا کول بغیر دضعف نه جائز دے یعني ضعف نه نه وی که رابط ضمیر باندے اکتفا اوکړے شي نودا ضعیف دے.

سوال: ددے څه وجه ده که چرے صرفه په واو باندے اکتفا اوکړے شي نوپه هغے کښے ضعف نه وی اوکه فقط ضمیر باندے اکتفا اوکړے شي نوپه هغے کښے ضعف وی؟

جواب: پروميئ وجه دادة چه واو اوّلي طور باندے په ارتباط باندے دلالت کوی په خلاف دضمیر چه هغه اولی طور باندے په ربط باندے دلالت نه کوی په دے وجه په ضمیر باندے اکتفا کول دا دَ ضعف سره به وی دوئمه وجه واو ربط خاص باندے دلالت کوی چه حاليه کیدل دی اوضمير ربط عام باندے دلالت کوی په دے وجه ضمیر باندے سره دضعف نه اکتفا جائز ده.

سوال: وَهُوَالْحَقُّ لَا شَكَّ فِيْهِ په ترکیب کښے لاشک فیه جمله اسمیه حالیه ده لیکن ددے باوجود واو باندے اکتفا کول خویو طرفته کړه دلته دَ واو ذکر کول هبو جائز نه دے؟

جواب: جملـه اسميـه حاليه نه مراد هغه جمله اسميه جمله ده چه دَحال مُنتقله دقبیلے نه وی اودا مثال مذکوره ددینه نه دے بلکه دادَحال مؤکده دَقبيلے نه دے اوحال مؤکده کښے داحکم نه دے په دے وجه چه واو مؤکد اودَغير مؤکد ترمينځ نه داخلیږی دَشدت اتصال په وجه.

قولهٗ وَالْمُضَارِعُ الْمُثْبَتُ بِالضَّمِيْرِ وَحْدَهٗ جمله فعليه مضارع مثبت ددے دپاره رابط فقط يوضمير دے ددے دپاره دَ واو رابط راوړل جائز نه دی.

سوال: ددے څه وجه ده چه دَ مضارع مثبت دپاره رابط فقط ضمیر دے واونه دے ؟

جواب: دَفعل مضارع مشابهت دے دَ اسم فاعل سره اوچونکه اسم فاعل چه لکه حال واقع وی نوواو نـه داخليږی دغه رنګ فعل مضارع هم چه کله حال واقع شي نو واو رابط به نه شي راوړلے باقی پاتے شوه داخبره چه دَفعل مضارع مشابهت دَاسم فاعل سره څه رنګ دے په ، دوه قسمه مشابهت دے.

مشابهت لفظی: مشابهت لفظی په درو وجو سره دے (۱) حرکاتو وسکناتو کښے مضارع دَاسم فاعل مشابه وی لکه څه رنګ يَضْرِبُ او يَسْتَخْرِجُ مشابه ده دَضَارِبٌ او مُسْتَخْرِجٌ سره (۱) چه څه رنګ اسم

فاعل بانـدے لام تاکید داخلیږی. دغه رنګ مضارع باندے هم لام تاکید داخلیږی لکه: اِنَّ زَیْدًا یَقُوْمُ مشابه دے دَ اَنَّ زَیْدًا لَقَائِمٌ (۲) فعل مضارع دَاسم فاعل سره په تعداد حروف کښے مشابه وی. لکه یضرب دَضارِبٌ مشابه ده.

مشابهت معنوی: لکه څه رنګ اسم فاعل کښے خارجی طور دَحال او استقبال زمانه موندلے شی. دغه رنګ فعل مضارع کښے هم حال اودَ استقبال زمانه پیاموندے شی. لهذا ددے مشابهت په وجه چه لکه څه رنګ اسم فاعل حال واقع وی نوواو رابط نه شی راوړلے . دغه رنګ فعل مضارع حال واقع وی نودلته هم ضمیر نه شی راوړلے .

سوال: قرآن مجید کښے دی: وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَیْکُمْ په دے آیت کریم کښے جمله فعلیه مضارعه مثبته په شروع کښے واو رابط راوړلے شوے دے حالانکه داحالیه ده ؟

جواب: دغه فعلیه مضارع مثبته چه دَدغے په شروع کښے لفظ قد وی هغه جمله فعلیه ماضیه مثبته په حکم کښے وی مضارع هیڅ کیږی نه .

قوله وَمَاسِوَا هُمَا بِالْوَاوِ وَالضَّمِیْرِ اَوْبِاَحَدِهِمَا. ماقبل کښے دوه جملے جمله اسمیه اوجمله فعلیه دَمضارع مثبته نه علاوه حکم بیانول غواړی نوبقایا دغه پنځه جملو کښے درے پاتے شوے (۱) جمله فعلیه مضارعه منفیه (۲) جمله فعلیه ماضیه مثبته (۳) جمله فعلیه ماضیه منفیه هریوکښے درے روابط کیدے شی.(۱) دَواو اوضمیر دواړو مجموعه (۲) فقط واو (۳) فقط ضمیر .لیکن یاد ساتئ جمله اسمیه حالیه کښے یوازے دَضمیر رابط کیدل دَ وجه مذکوره په بنا باندے ضعیف وولیکن دغه درے جملو کښے دَضمیر رابط کیدل بغیر دَڅه ضعف نه دے که مضارع منفی ماضی منفی وی . نودغه وخت واو اوضمیر دواړه دے دَپاره راوړلے شی چه واو خودے دَپاره راوړلے شی اوضمیر بـه په دے وجه راوړے شی. چه حال جمله ده چه ددے تعلق او ربط باقی پاتے شی . که چرے دغه دواړه کښے دَیو اعتبار اوکړے شی نوهغه هم یو راوړلے شی.که چرے ماضی مثبت وی نوواو به په دے وجه راوړلے شی. چه دادَحال مخالف دے .او قَدْ نے راوړو دَحال سره قریب به کړے شی. او واو سره ربط جوړ به کړے شی. ضمیر په دے وجه راوړلے شی. چه حال جمله د

دوئ نه چرته ډیرو اعتبار کړے شی نویو به راوړلے شی.

قوله وَلَا يَدَّعِى الْمَاضِي الْمُثْبَتِ مِنْ قَدْ ظَاهِرَةٍ مُقَدَّرَةٍ جمله حاليه كه ماضيه مثبته وی نوذماضی په شروع کښے ذقد کیدل واجب اوضروری دی .اوذ کوفینو مسلک داد ے چه ذقدر راوړل ضروری نه دی ځکه چه قد خو ذمقاربت ذپاره راځی .

سوال: قد خو نه دی راوړل پکار ځکه چه قد خومقاربت ذپاره راځی . حالانكه دلته خومقارنت مقصود دے؟

جواب: قد واقعی ذمقاربت ذپاره وی . لیکن مقارنت ذمقاربت سره لازم دے مخکښے مصنف تعمیم بیان کړو . چه قد خواه ملفوظ وی یامقدر وی داذ جمهورونحاتو منهب دے حالانکه ذ سیبویه اوابوالعباس په نیزد قد مقررنه شی کیدے . یعنی چه کوم حضرات ذجمله حالیه مثبته ماضیه په شروع کښے ذلفظ قد کیدل واجب اوضروری ګنړی. ددوئ مینځ کښے اختلاف دے ذ جمهورونحاتو په نیزد لفظ قد مقدر هم کیدے شی څه ملفوط کیدل ضروری نه دی اوذسیبویه اومبرد منهب داد ے چه ذلفظ قد ملفوظ کیدل ضروری دی مقدر کیدل جائز نه وی. نوذ سیبویه او میردپه منهب باندے اعتراض داکیدے شی چه جاء وکم حضرت صدورهم په آیت کریمه کښے حِصَرت جمله فعلیه مثبته ماضیه حال واقع کیږی حلانکه لفظ قد په شروع کښے ملفوظ نه دے سیبویه اومبرد ددے جواب دا ورکوی. چه داجمله حالیه ذسره هیڅ دہ نه. سیبویه ددے داتأویل کوی چه حصرت صدورهم موصوف محذوف ذپاره داجمله صفت دے اومبرد دافرمائی چه داجمله حالیه نه دہ بلکه جمله دعائیه دہ بددعا مقصود دہ.

قوله وَيَجُوْزُ حَذْفُ الْعَامِلِ كَقَوْلِكَ لِلْمُسَافِرِ رَاشِدًا مَهْدِيًا په دے عبارت کښے مصنف ذحال یوبل حکم بیانول غواړی.چه ذحال ذعامل حذف کول هم جائز دی . چه کله څه قرینه موجود وی. خواه دغه قرینه یاخومقالیه وی یا حالیه ذ قرینه حالیه مثال لکه څه رنګ مسافر ته اوونیلے شی. راشدًا مهدیًا دلته سِرْفعل محذوف دے یعنی سِر رَاشِدًا مَّهْدِيًا چه ته نیغ څه یا هدایت یافته څه. راشدًا مهدیًا داحال مترادفه هم جوړیدے شی. اوحال متداخله هم جوړیدے شی. که چرے داذ سر

دَضمير نه حال وي و حالين مترادفين به جوړشي كه مهديا راشدا دَضمير نه وي نو حالين متداخلين به جوړشي. دَ قرينه مقاليه مثال كه چرے يوسړے بل يو سړي ته اواني. كيف جئت نوهغه به جواب كښے اواني راكبًا نودلته جئت فعل محذوف دے. چه په دے باندے قرينه سواليه كلام دے.اوددے قبيلے نه دے اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ اَنْ لَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ بَلٰى قٰدِرِيْنَ. قادرين دپاره عامل محذوف دے نَجْمَعُ اي بَلٰى نَجْمَعُهَا قٰدِرِيْنَ.

قَوْلُهٗ وَيَجِبُ فِي الْمُؤَكَّدَةِ مِثْلُ زَيْدٌ اَبُوْكَ عَطُوْفًا اي اُحِقُّهٗ. په دے عبارت كښے مصنف دا وئيل غواړي. چه په كوم مقام كښے دَحال عامل حذف واجب وي. نوځكه ئے اوفرئيل حال مؤكدة كښے دَحال عامل حذف كول واجبيږي. ليكن يادساتئ چه دَحال مؤكدة هغه مشهور تعريف مراد نه دے چه حال مؤكدة هغه وي چه دَماقبل جمعے ديوجز تاكيد اوكړي. بلكه دلته حال مؤكدة دَحال منتقله اودائمه ضد دے. ددے تعريف دادے چه كوم ذوالحال نه عمومًا زائل نه وي اوچه كوم منتقله وي هغه جدا وي .په ديكښے ضد اوشو. اودَ دائمه ضد دارنگ دے چه حال دائمه كښے روال بالكل نه وي اوحال مؤكدة كښے عمومًا زوال نه وي مثال څه رنګ زيدابوک عطوفًا دلته عطوفا حال دے ذوالحال چه دَهغے دَپاره حال محذوف دے اي احقه تقدير عبارت اي زيدٌ ابوک احقه عطوفًا دا حال مؤكدة په دے وجه دے چه دَپلار مهرباني اوشفقت دَځوئے نه عمومًا نه زائل كيږي اودلته دا ذوالحال هم حذف واجبيږي دَذوالحال حذف كول په د ے وجه واجب وي چه حال مؤكدة دَفعل په عوض كښے وي اوفعل حذف كوي اوس كه چرے فعل ذكركړے شي نو دَعوض اومعوض جمع كيدل لازم راځي په دے وجه دَ عامل دَحذف كول واجبيږي وقوله شرطهاان تكون مقررة لمضمون جملة اسمية په دے عبارکښے مصنف دَحال مؤكدة دَعامل حذف كولو دَپاره يوڅو شرطونه بيانوي. (١) هغه مضمون جمله ثابتوي ورنه كه چرے يوجزء ثابتوي نوهغه به ددينه خارج وي لكه هوالحق لاشک فيه (٢) جمله اسميه ثابتوي كه جمله فعليه ثابته كړي بياهم دَ عامل حذف كول به واجب شي.لكه څه رنګ شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ هُوَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ قَآئِمًا، بِالْقِسْطِ دلته لفظ قائمًا دَلفظ الله نه حال واقع دے ځكه چه داجمله ثابتوي په دے وجه عامل حذف نه كړے شو..(٣) هغه جمله اسميه داسے دوه جملونه مركب وي چه په هغے كښے

دَعامل جوړیدو صلاحیت نه وی. لهذا : اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ لِلنَّاسِ رَسُوْلًا. کښې رسولا حال مؤکدة دے لیکن دَجملے دَمضمون دَپارة مؤکدة نه دے ځکه چه دَجملے مضمون ارسال له دے او دارسولا دَ مضمون جملے بوجز ارسال دَپارة مؤکد دے نوپه دے وجه ددے عامل محذوف نه دے دامغه وخت چه کلمه دَرسول لغوی معنی مراد وی .که شرعی معنی مراد واخستے شی نوبیاحال مؤکدة مضمون جملے دَپارة به شی ځکه چه رسول په معنی شرعی بغیر ارسال الله هیڅ کیدے نه شی.

قَولُهٗ اَلتَّمِیْزُ مَایَرْفَعُ اْلِاِبْهَامَ الْمُسْتَقَرَّ عَنْ ذَاتٍ مَّذْکُوْرَۃٍ اَوْ مُقَدَّرَۃٍ مصنف دحال دَ بحث دَفراغت نه پس دَمنصوباتو اووم قسم تمیز بیانول غواړی دَتمیز پوځو نومونه نورهم دی. مثلًا تبیین ،مبین ، ممیز ،تفسیر ، دَتمیز لغوی معنی ده تفرقه اوجداکیدل لکه څه رنګ په قرآن کښے ارشاد دے وَامْتَازُ الْیَوْمَ اَیُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ اصطلاحی معنی دادہ چه تمیز هغه اسم دے چه داسے ابهام لرے کړی چه قائم وی دَذات مذکورة سرة یامقدرة سرة

فوائد قیود: ماجنس دے داتمام اسماؤ ته شامل دے. یرفع الابهام داقید اول دے ددینه تمام مفاعیل خارج شول. اودغسے بدل هم خارج شو بدل په دے وجه چه دَ بدل نه مقصود متکلم رفع ابهام نه وی . بلکه مبهم پریښودل اومعین ذکرکول مقصود وی .اګر چه څه نه څه ابهام هم رفع کیږی. لیکن دامقصود دَ متکلم نه وی. المستقر داقیدثانی دے فصل ثانی دے ددے فائدة دادة چه ددینه هغه الفاظ مشترکه به اوځی. چه په هغے کښے داشتراک په وجه ابهام دے.مثلًا رأیت عینا جاریة دَ جاریه لفظ اګر چه دَعینا نه ابهام لرے کوی. لیکن دا ابهام دموضوع له کیدو په حیثیت سرة نه دے یعنی ابهام وصفی نه دے بلکه دا ابهام اشتراکی ته رافع دے.اودونمه ددے قید فائدة دادة چه ددینه عطف بیان هم خارجیږی. ځکه چه عطف بیان معین داسے ابهام لرے کوی چه دَعدم اشتهار وشهرت په وجے سرة پیدا کیږی .یعنی دَابهام وضعی دَپارة رافع نه دے .اودے درنمه فائدة دادة چه دَالمستقر دَقید سرة دَ مبهماتو اوصاف تمیز کیدو نه به خارج شی مثلًا دَاسم اشارة په وضع کښے دوه مذهبونه دی.(۱) دَتفتازنی (۲) دَجمهورو دَعلامه صاحب مذهب دادے چه اسم اشارة مثلًا دَهذا وضع دَمفهوم کلی دَپارة وی .بشرط استعمال فی الجزئیات اودَ جمهورو مذهب دادے چه اسم اشارة مثلًا دَ هذا وضع دَمفهوم کلی دَ جزئیات نه دَهرهر جزی دَپارة وی. او داخبرة ظاهرة ده چه نه

خو په مفهوم کلي کښې څه ابهام شته او نه دجزئیاتو نه هرهر جزی کښې ابهام دے البته که چرے ابهام وے نو دعلامه صاحب دمذهب په بنا بانديے دَ معنی مستعمل فیه په اعتبار سره دے. او دَ جمهورو په مذهب باندےے دَ تعدد موضوع لهٔ په اعتبارسره دے لهذا هذا الرجل کښې الرجل د داسے ابهام دَپاره رافع دے چه معنی مستعمل فیه په اعتبارسره دے. یادمعنی موضوع له دَ تعدد په اعتبار سره په استعمال کښې پیدا شوے دے. حالانکه تمیز دَپاره ضروری ده چه هغه د داسے ابهام دَپاره رافع وی چه په معنی موضوع لهٔ کښې موضوع کیدو په حیثیت سره وی نه چه تعدد معنی مستعمل فیه یا دَ تعدد معنی موضوع له په اعتبار سره عن ذات دادرنم قید دے . ددے فائده داده چه ددے نه حال اوصفت خارجیږی څکه چه هغه خو مبین کیدے شي .لیکن مبین ذات نه وی.

قولهٔ عَنْ ذَاتٍ مَّذْكُورَةٍ اَو مُقَدَّرَةٍ ددے عبارت نه مصنف دَ تقسیم په طرف اشاره اوکړه چه دَتمیز دوه قسمونه دی .

(۱) دادَذات مذکوره نه په ابهام لرے کړی

(۲) دادَذات مقدره نه په ابهام لرے کړی.

قولهٔ فَالْاَوَّلُ عَنْ مُفْرَدٍ مِقْدَارٍ غَالِبًا مصنف دَتمیز دَتعریف نه چه کله فارغ شو اودَهغے په ضمن کښې تقسیم طرفته اشاره کولونه پس ددے ځائے نه د دواړو قسمونو تفصیل بیانوی.

قسم اول: چه دَذات مذکوره نه ابهام لرے کړی. اوهغه اکثر وبیشتر مفرد دَمقدار نه ابهام لرے کوی یادساتئ دمفراد نه مراد جمله اوشبه جمله مضاف من حیث انه مضاف په مقابله کښې یعنی نه نسبت تامه چه په جمله کښې وی اونه نسبت ناقصه چه اسم فاعل وغیره صفات مشتقه کښې وی نه نسبت اضافی چه مضاف اومضاف الیه کښې وی. اودَمقدار نه مراد مَا يُعْرَفُ بِهٖ قَدْرُ الشَّئِ یعنی چه دَهغے نه دَشی اندازه معلوم وی .اوچه کومو څیزونو اندازه معلومیږی هغه پنځه څیزونه دی

(۱) عدد (۲) وزن (۳) کیل(۴) مساحت(۵) مقیاس یو صاحب داپه شعر کښې بند کړی دی.

پنج اند جانِ من تو مقادیر را شناس
کیل است وزن وعدد وذراع است وهم مقیاس

التمييز ما يرفع الابهام[1] المستقر[2] عن ذات[3]

مقدرة عن نسبة في جملة — او — مذكورة

مثال: يُعْجِبُنِيْ طِيْبُهٗ نَفْسًا وَاَبًا وَاُبُوَّةً وَدَارًا وَعِلْمًا

مثال: زَيْدٌ طَيِّبٌ نَفْسًا وَاَبًا وَاُبُوَّةً وَدَارًا وَعِلْمًا

مثال: طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا وَاَبًا وَاُبُوَّةً وَدَارًا وَعِلْمًا

اَیْ طَابَ شَیْءٌ مَنْسُوْبٌ اِلٰی زَيْدٍ

نسبة

مقدار غير مقدار: عِنْدِیْ خَاتَمٌ حَدِيْدًا

مقدار:

مثال: مَا فِی السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا

مثال: عَلَی التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا

مثال: عِنْدِیْ قَفِيْزَانِ بُرًّا

مثال: عِنْدِیْ رِطْلٌ زَيْتًا وَمَنَوَانِ سَمْنًا

مثال: عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا

له ای ما يقابل الجملة وشبهها والمضاف ١٢   ك ذو مقدار يتقدر به الشيء ١٢

[1] فيه احتراز عن البدل مثل جاءني زيد اخوك. [2] فيه احتراز عن صفة رأيت عينا جارية

[3] فيه احتراز عن الحال نحو جاءني زيد راكبا.

عدد په دَمعنی شمار وزن په معنی دَتول .کیل په معنی دَپیمانه ،مساحت په معنی دَپیمانش مقیاس په معنی مایقدر به انشئ بالحرس یعنی دَیو څیز په ذریعه دَیوڅیز اندازه په اټکل سره اوکړے شی غالبًا په دے وجے اوفرمائیل چه کله مفرد دَ غیر مقدار نه ابهام لرے کوی لکه خاتمٌ حدیدًا په دیکښے خاتم ذات مذکوره په معنی دَمذکور مفرد دے.لیکن دَمقدار مذکوره بالا پنځو قسمونو نه هیڅ یوقسم نه دے.

قولُهٗ اِمَّا فِیْ عَدَدٍ نَحْوُ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا وَسَيَاتِیْ وَاِمَّا فِیْ غَيْرِهٖ نَحْوُرِطْلٌ زَيْتًا وَمَنْوَانِ سَمْنًا وَ قَفِيْزَانِ بُرًّا وَعَلَی التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زَبَدًا مصنف دَمقدار دَبعضے اقسامو مثالونه بیانول غواړی چه هغه مقدار لکه دَعدد په ضمن کښے متحقق وی. لکه عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا دَعدد دَتمیز بیان تفصیلًا دَعدد په بحث کښے به راشی. په دیکښے عشرون به په نون جمع سره تام دے کله مقدارغیر عدد په ضمن کښے متحقق وی. لکه رِطْلٌ زَيْتًا دادَ وزن مثال دے رطلٌ یوپیمانه ده دَ اتیا(۸۰) تولے دَسیر نه اووه (۷) څټاکئ اویوه توله په شپږ دیرش (۳۶) توله بانډے دَپاسه منوانِ سمنًا داهم دَ وزن مثال دے. دواړو کښے فرق دادے چه رطلٌ اسم تام په اعتبار دَ تنوین سره اومنوان په اعتبارنون تثنیه اودَمنٌ تثنیه ده چه دَمَنٌ هم معنی دے اوهغه څوارلس (۱۴) څټاکئ اودوه تولے دَپاسه (۲۷ تولے وی اویومدهم په دعه مقدار وی چه هغه دَمن هم معنی دے دَکیل اومساحت مثالونه په کتاب کښے موجود نه دی. هغه دادی دَکیل مثال قَفِيْزَانِ بُرًّا په ماقبل کښے تیر شوے دے دَمصاحت مثال: عِنْدِیْ ذِرَاعٌ ثَوْبًا، وَعَلَی التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زَبَدًا دا دَمقیاس مثال دے.

سوال: مثال دَ ممثل له مطابق نه دیځکه چه ممثل له مفرد دے اودد ے نه مراد غیرنسبت دے (کمامر اولفظ زبدًا دَنسبت اضافی دے ابهام لرے کوی؟

جواب: نه چی نسبت اضافی کښے دلته اصلًا ابهام نشته بلکه دا صرف دَلفظ مثل نه ابهام لرے کوی چه ابهام صرف په دیکښے دے .

سوال: اوس هم دا مثال درست نه دے باقی مانده لفظ مثل کښے ابهام نشته ځکه چه هغه په معنی دَممائل دے او ددے وضع دَمعنی معین دَ پاره ده دغه رنګ باقی مقادیر معین معانی په

واسطه موضوع دے بیاپه دیکښے ابهام کیدل څه رنګ ممکن دے؟

جواب: مونږ ماقبل کښے دَجواب په ضمن کښے اشاره کړی ده ددے په طرف چه دَمقادیر نه مراد مقدورات دی. یعنی دَ عددنه مراد معدود، دَ وزن نه مراد موزون اودکیل نه مراد مکیل اودَمساحت نه مراد ممسوح اودَمقیاس نه مراد مقیس اوپه دیکښے په اعتبار دَجنس سره ابهام دے چه معدود دَکوم جنس نه دے درهمًا دا ابهام لرے کړو موزون دَکوم جنس نه دے؟ زیتًا داابهام لرے کړو . مکیل دَکوم جنس نه دے؟ برًا داابهام لرے کړو مقیس دَکوم جنس نه دے؟ زبدًا دا ابهام لرے کړو.

سوال: مصنف دَ ټولو مقادیر ومثالو نه ولے بیان کړل؟ دَبعضو مثالونه نے پریښودلی دی. اودبعضو نے دوه دوه مثالونه ورکړی دی. لکه دَ وزن مثال رِطْلٌ زَیْتًا، او مَنَوَانِ سَمْنًا دوه مثالونه دَوزن شول.

جواب: دَمصنف پیش نظر په دے مقام باندے ددغه څیزونوبیان دے چه دَهغے نه دَمفرد مقدار تمامیت کیږی هغه څلور دی.(١) نون مشابه بنون جمع لکه عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا. (٢) نون تنوین خواه ملفوظ وی لکه رِطْلٌ زَیْتًا یامقدر وی لکه احدعشر(٣) نون تثنیه لکه مَنَوَانِ سَمْنًا.(٤) اضافت،لکه: عَلَی التَّمْرَةِ مِثْلُهَا زُبْدًا. اودَاسم دَتمام کیدو معنیٰ داده چه ددے په داسے حالت کښے کیدل چه دَهغے کیدوسره سره دَهغے اضافت درست نه وی ددغه څلورو نه چرته یَو په موجودګئ کے اسم مضاف نه شی کیدے. خواه تثنیه وی یانون تنوین وی. یانون مشابه دَنون جمع وی.په دے وجه چه دَدے اسم نه پس دَمنقطع کیدو دلیل دے. اومضاف دَمابعد نه منقطع کیږی نه .لهذا دَاضافت په موجودګئ کښے په دے وجه چه اسم بغیر دَعطف نه دوه طرفته نه مضاف کیږی. لکه غُلَامُ زَیْدٍ عَمْرٍو بلکه غُلَامُ زَیْدٍ وَّ عَمْرٍو په طریقه دَعطف کولے شی. که چرے یومحذوف اومنلے شی .نوخلاف مفروض به لازم راشی چه مونږ منلی وو دوه طرفته مضاف دے اوپاتے شو یوطرفته.

سوال:مصنفؒ متمات ولے بیان کړل ؟ یعنی ضرورت څه وؤ؟

جواب: دَتمیز دَمنصوب کیدو علت طرفته نے اشاره اوکړه چه دَتمیز مشابهت دے دَمفعول سره لکه څه رنګ چه فعل دَفاعل دسره تام شی روستو اسم ته دَمفعولیت په بنا باندے نصب ورکوی دغه

رنګ اسم هم دغه څلورو واړو څيزونو سره تام شي روستو اسم ته شبه مفعول کښے دتميز په بنا باندے نصب ورکوي.

سوال: لکه څه رنګ چه اسم دغه اشياء مذکوره اربعه ؤ په بنا باندے تام شو مستحيل الاضافت وي نوهغه اسم چه دکلام سره مستحيل الاضافت وي هغه هم ناصب للتميز کيدل پکار دي. حالانکه داسے اسم چه دکلام سره مستحيل الاضافت وي ناصب للتميز نه وي ددے څه وجه ده؟

جواب: اشياء مذکوره اربعه دفاعل قائم مقام په دے وجه وي چه دا داسم په اخر کښے وي .لهذا چه کله اسم دغه اشياؤ سره مستحيل الاضافت وي .نوددغو فعل مشابه کيږي چه دغخے تماميت دفاعل سره وي په خلاف دکلام چه لام چونکه داسم په شروع کښے وي چه دغخے په وجه د فاعل قائم مقام نه کيږي او اسم ددغه فعل مشابه هم نه شي کيدے چه دفاعل سره تام وي .

سوال: ستاد نون مشابه بالجمع مثال خو ورکړے دے ليکن د نون جمع حقيقي مثال نے ولے ورنکړو لکه :قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا.

جواب: په وجه د ظهور کيدو چه کله نون مشابه بنون جمع متمم دے نونون جمع حقيقي په درجه اولیٰ به متمم شي.

سوال: دصاحب کافيه قول فالاول من مفرد مقدار لغو او بے فائدے دے .په دے وجه مفرد مقدار هم ذات مذکوره دے نواوس به حاصل معنی داشي چه مايرفع الابهام يرفع عن ذات مذکورة وهوکما ترٰی فاسِدٌ.

جواب: مطلق رفع په دغه خاص رفع په ضمن کښے متحقق دے . يعنی مفرد مقدار هم اګرچه هم دغه ذات مذکوره دے ليکن خاص دے اوماقبل کښے ذات مذکوره نه عام مراد دے. چه مفرد مقدار ته شامل اوغير ته هم شامل دے.

سوال: دغه مقاديرو کښے څوميځ ابهام نشته په دے وجه چه داخومعلوم متعين دے نوتميز به دغه مقدوراتو نه ابهام څه رنګ لرے کړي چه کله هيڅو ابهام نه وي؟

جواب:ذات مقدرات څومعاني مجازي دي څکه چه دمقاديرو وضع ددے دپاره نه ده حالانکه تميز دپاره ضروري ده چه معنی موضوع له نه موضوع لۀ کيدو په حيثيت سره رافع ابهام وي اوس مقادير

مقدار معين دپاره په دغه طريقے سره موضوع دے .چه هغه مقدار ...
طرف منسوب وي اوچه کله اضافت دجنس مقادير په مفهوم کښے معتبروي نودَ مقادير وضع داسے
مقدار دپاره دي چه منسوب الی الجنس دے په داسے طريقه مقدار وضع په اعتبار سره جنس
بانـدے دال شو چه مبهم دے . لهذا مقدار سره واقع کيدونکی تميز دابهام وضعي دپاره رافع شو
تدبر ولاتکن من الغافلين.

قوله فَيُفْرَدُ اِنْ كَانَ جِنْسًا مصنف دابيانول غواړي چه دغير عددتميز کوم وخت مفرداوکوم وخت
تثنيه او جمع راوړلے شي. تميز که چرے اسم جنس وي نوهغه به مفرد راوړلے شي اگرچه اسم تام
مثنیٰ يامجموع ولے نه وي لکه عندي رطلٌ ذيتا ودطلان زيتا وارطالٌ زيتًا په ديکښے يامجموع ولے
نه وي. لکه عندي رطل زيتًا وارطالٌ زيتًا پديکښے زيتًا جنس دے .

سوال: دعدد په تميز کښے داحکم نه جاري کيږي دثلاثة نه واخله عشرةٍ پورے څکه چه ددے
تميز هميشه هم جمع راوړلے شي خواه جنس وي ياضمير جنس؟

جواب: ددے ځائے نه دغير عدد دتميز حکم بيانوي يُفْرَدُ کښے ضمير غير عدد طرف راجع
دے چه په هغے بانـدے قرينه دمصنف داجمله ده وَسَيَأْتِيْ.

سوال: که چرے تميز اسم جنس وي نوهغه مفرد ولے راوړلے شي تثنيه جمع ولے نه شي راوړلے؟

جواب: دجنس اطلاق په قليل اوکثير بانـدے کيږي چه لکه څه رنګ داجنس واحد ته شامليږي
دغه رنګ تثنيه اوجمع ته هم شامليږي نودتثنيه جمع راوړولو ضرورت نه وو .

فائده: دجنس تعريف : بحسب الحقيقه والماهية. چه جنس داسے څيز ته وئيلے شي .چه دهغے د
اجزاو نه دهرهر جز دکل سره په نوم کښے اشتراک وي لکه مَاءٌ اوپه دسمندر ابو ته هم ماءٌ وئيلے شي
اوپوقطره اوبوته هم ماءٌ وئيلے شي.اودجنس تعريف بحسب الحکم جنس هغه دے چه مجرد عن
التاوي.

فائده: دجنس اواسم جنس په مينځ کښے فرق:. دجنس اطلاق په قليل اوکثير بانـدے
کيږي اودااسم جنس اطلاق واحد بانـدے کيږي علی سبيل البدليت ددغه دواړو ترمينځ دعموم
خصوص مطلوم نسبت دے چه هراسم جنس جنس دے ولا عکس .

حونه اِلاّ ان يقصد الا نواع. دتمیز چه کله انواع مقصود وی نوبیا مطابقت واجب دے چه دمثنی دپاره مثنیٰ اودمجموع دپاره تمیز به جمع راوړلے شی لکه : عِنْدِیْ رِطْلَانِ زَیْتَیْنِ ، وَعِنْدِیْ اَرْطَالٌ زُیُوْتًا داول معنی زماسره دوه قسمه روغن او زیتون اورطل دے اودَد ونم معنی زماسره يوڅوقسمه روغن زيتون دی.

سوال: چه کله جنس نوعین مقصود وی نوهم تمیز د. مقصود مطابق استعمالوے شی لکه عندی رطلان زیتا حالانکه دمتن دعبارت نه قصد انواع هم دجمع په صورت کښے دمطابقت کیدل فهم کیدے شی ځکه چه انواع دجمعے لفظ نے وئیلے دے.

جواب:دمتن په عبارت کښے دانواع نه مراد مافرق الواحد دے نوعین ته شامل دے یاداسے اوايه چه دَ جمع نه مراد عام دے. چه جمع نحوی یا منطقی وی یاجمع نحوی مافوق الاثنین ته وئیلے شی . او جمع منطقی مافوق الواحد ته وئیلے شی فاند فع الاشکال.

سوال: چه لکه څه رنګ دَ انواعو دَ مقصود کیدو په صورت کښے تمیز دَ مقصود مطابق راوړلے شی همدغے دَ اعدادو دَ مقصود کیدو په صورت کښے هم دَ تمیز دَ مقصود کیدو سره مطابقت واجبږی لهذا صاحب کافیه ته داسے وئیل پکار وو اِلا اَنْ تُقْصِدَ اَلاَ نْوَاعُ اَوْلاَ عَدَادِ ځکه چه داستثناء صرف انواع سره تخصیص صحیح نه دے.

جواب: دانواع نه حصص جنس یعنی افراد مراد وی .خواه هغه افراد نوعیه وی یا افراد شخصیه وی لهذا استثناء دواړو ته شامله ده ځکه چه هم افراد شخصیه اعداد دی.

قوله وَيُجْمَعُ فِيْ غَيْرِهٖ که چرے تمیز جنس نه وی نوجمع به راوړلے شی . یاد ساتئ دلته هم دجمع نه مراد عام دے جمع نحوی وی یاجمع منطقی چه داسوال وارد نه شی چه دَ ممیز تثنیه کیدو په صورت کښے تمیز تثنیه نه شی راوړلے لکه عِنْدِیْ عَدْلٌ ثَوْبَیْنِ اَثْوَابًا.

قوله ثُمَّ اِنْ كَانَ بِتَنْوِیْنٍ اَوْبِنُوْنِ التَّثْنِیَةِ جَازَتِ الْاِضَافَةُ وَاِلاَّ فَلاَ. ددے عبارے نه مصنف دممیز حکم بیانول غواړی. چه کله به ددے اضافت تمیز طرفته جائز وی اوکله نه په دے وجه لفظ ثم نے اختیار کړو چه تراخی فی الزمان دپاره دلته نه ده بلکه دواړو حکمونو په تفاوت باندے دلالت کولو

تپاره راوړلے شوی ده. چه حکم سابق دَ تمیز متعلق وو اودا حکم لاحق دَممیز سره متعلق دے اومابعد ثُمَّ عطف دے. فَالْاَوَّلُ عَنْ مُفْرَدٍمِقْدَارٍ یانے دَ مفرد دَمقدار تمامیت که چرے تنوین یانون تثنیه نه وی نوددے اضافت تمیز طرفته جائز دے .په دے وجه چه لکه چه رنګ رَطْلُ زَیْتاً کښے رطلُ ریت ځکه چه تخفیف هم حاصلیږی اومقصود هم پوره کیږی دَنون تثنیه مثال مَنَوَانِ سَمْنًا قَفِیْزَانِ بُرًّا کښے مَنَوَا سَمْنٍ قَفِیْزَا بُرٍّ لوستل جائز دی .اوکه چرے دَمقدار مفرد تمامیت مشابه نون جمع یا اضافت سره وی نواضافت جائز نه دے مثال عشرون درهماً کښے عشرو درهم یاامثله رجلًا کښے مثل رجل لوستل جائز نه دی دَاول وجه داده چه نون مشابه په صورت اضافت که چرے حذف کړے شی. نو مشبه به یعنی نون جمع نه مخالفت به لازم راشی چه هغه خو بروقت اضافت حذف کیږی .حالانکه نحویانو کښے دامکروه غیر صحیح دے ددوئم وجه داده چه دَمضاف اضافت دوباره بغیر دَعطف نه جائز نه دے .ځکه چه مضاف الیه اول باقی اوساتی نودَمضاف اومضاف الیه ترمینځ فصل به لازم راشی چه جائز نه دے اوکه باقی اونه ساتی نو خلاف مفروض به لازم راشی.

سوال: ستاسو اووے هغه اسم چه دهغے مخکښے اضافت شوے دے .دَهغے اضافت جائز نه دے حالانکه کلُّ فرد فرد کښ دریمی فردپه طرف مضاف دے اود دوئم په طرف هم.

جواب: ستاسو پیش کړے شوی مثال کښے حرف عطف محذوف دے په اصل کښے کل فرد فرد وؤ.

سوال: ستاسو اووئیل چه دَنون مشابه حذف په کلام عرب کښے معهودنه دے.لکه: عشرودرهم او ستوک.

جواب:دادَ فصحاء بلغاء کلام نه دے که تسلیم هم کړے شی نودا شاذدے یادساتئ چه شاذ جواز کپاره علة نه جوړیږی.

سوال: دے نون ته مشابه به نون جمع وے وئیلے شی.؟

جواب: په دے وجه چه په نون جمع سره اسم تامیږی اودغه رنګ په دے سره هم.

قوله وَعَنْ غَیْرِ مِقْدَارٍ مِثْلُ خَاتَمٌ حَدِیْدًا وَالْخَفْضُ اَکْثَرُ عَنْ غَیْرِ مِقْدَارٍ ددے عطف دے عن مفرد مقدارنه ابهام لرے کوی اوکله غیر مقدارنه مفرد غیرمقدار نه هغه مفردچه وزن مساحت

اومقياس اوعدد نه وي لكه خاتمٌ حديدًا په ديكښے خاتمٌ مفرد غيرمقدر دے . چه دَهغے تماميت تنوين سره وي هغه دَ جنس په اعتبار سره په ديكښے ابهام وو چه معلومه نه ده چه دَچاندئ دے يا كسونے ياكبل څيز نوحديدا داابهام لرے كړو چه دَاسې دے ده اوياد ساتئ چه مفرد غير مقدار تميز اكثر مجرور وي دَاضافت په وجه يعني مفرد غير مقداري كښے اكثر طورباندے دَمميز دَتميز اضافت كولے شي. لكه خاتمٌ حديداكښے خاتم حديد لوستل جائز دي. ځكه چه مقصود پوره كيږي اوخفت هم پوره حاصليږي په غير مقداري كښے اكثر طورباندے اضافت په دے وجه وي چه مفرد مقداري كښے زيات ابهام وي په نسبت دَمفرد غيرمقداري نو مفرد مقداري دَرفع ابهام زيات مستحق دے .په دے وجه دَ تميز تصريح ضروري ده ليكن په غير مقداري كښے دَ تصريح زيات ضرورت نه وو په دے وجه دَ تميزاكثر تميز طرفته اضافت كيږي. ځكه چه مفرد مقدار كښے ابهام كامل وي .مثلًا عشرين چه ددينه مراد مخدود دے اومحدود بے شمار اجناسو نه وي په خلاف دَ مفرد غيرمقدار چه ددے دَاجناسو شمار نه كيږي مثلًا خاتم دَجنس په اعتبار سره وي هغۀ محدود اويوڅودي لهذا اول كښے ابهام كامل دوئم كښے ابهام ناقص په دے وجه ددغه كامل طلب په بناباندے مفرد مقدار نصب په طرف محتاج شو.

قولُهُ وَالثَّانِيْ عَنْ نِسبَةٍ فِيْ جُمْلَةٍ اَوْمَا ضَاهَاهَا مِثْلُ طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا وَزَيْدٌ طَيِّبٌ اَبًاوَاُبُوَّةً وَ دَارًا وَعِلْمًا. مصنف په دے عبارت كښے د. تميز قسم ثاني بيانول غواړي چه دَذات مقدره نه ابهام لرے كوي.

سوال: قسم دوئم الثاني عن نسبة سره تعبيركولو سره داتفصيل دَاجمال مخالف شو.ځكه چه په اجمال كښے ذات مقدر سره تعبير وو اوداغمره ظاهره ده چه ذات مقدر جداڅيز دے اونسبت جدا څيز دے دواړه په اعتبار دَمصداق يوڅيز نه دے؟

جواب: دا تسليم دے چه دواړه په اعتبار دَ مصداق يونه دے. ليكن ذات مقدره كښے ابهام كيدل په نسبت كښے ابهام كيدو ته مستلزم دے.ا ودغے په نسبت سره ابهام لرے كيدل دَذات مقدر نه ابهام لرے كيدو ته مستلزم دے. په دے وجه دلته ذات مقدره نه په نسبت سره نے

تعبیراوکړو.

سوال: الثاني عن ذات مقدرة نه عدول اوکړو په دے تعبیر کښے څه فائده ده؟

جواب: اوس په خبرباندے تنبیه کول مقصود دے چه دَ فالاول عن مفرد تقابل الثاني عن نسبة سره دے نه دَ ذات مقدرة سره ځکه چه مفرد هم کله ذات مقدره وی. لکه نِعْمَ رجلًا کښے رجلًا تمیز دے دَهوضمیر نه چه په نِعِمَ کښے مقدر دے اودا تمیز په دے قسم کښے داخل دے .(کمافی الرضی) دَعبارت مطلب دادے چه تمیز قسم ثاني نسبت نه ابهام لرے کوی خواه هغه نسبت جمله فعلیه کښے وی لکه طاب زیدابا یا په شبه جمله کښے مبنی اسم فاعل بالفاعل لکه الحوض مُمْتَلِئٌ ماءً یااسم مفعول بنائب فاعل کښے لکه الارض مفجرة عیونا یاصفت مشبه بفاعل لکه زید حسنٌ وجهًا اسم تفصیل بفاعل لکه زیدٌ افضل القوم ابایا مصدربفاعل لکه اعجنی طیبه ابًا یادَ مذکور الف په غیر کښے چه دَهغے نه معنی مستفاد وی لکه حسك رجلًا زیدٌ چه دَحسک نه معنی یکفیک مستفاد کیږی. چونکه دَتمیز هم عین وی خواه اضافی وی یا غیر اضافی اوکله عرض خواه یاغیراضافی دغه رنګ کله مشبه عنه سره مختص کیږی. اوکله ددے دَمتعلق سره اوکله دواړو دَپاره صالح وی . په دے وجه مصنف په مثالونو کښے ددغه اقسامو په طرف اشاره کوی طاب زیدٌ نفسًا دادهغه نسبت مثال دے چه په جمله کښے دی اوپه دیکښے نفسًا تمیز نسبت عینٌ دے اوقائم بنفسه ته ونیلے او غیر اضافی دے چه ددے په مفهوم کښے نسبت الی الغیر ماخوذ نه دے اومنتصب عنه یعنی زید سره مخصوص دے چه نفسًا په معنی ذات شی عین زید دے . منتصب عنه کښے عین دَپاره دَ تعلیل دے چه دَهغے مدخول دَیوځیز دَپاره سبب وی اوپه دے خبره کښے شک نشته.چه په شان مذکور کښے زید دَ انتصاب نفسًا دَپاره سبب دے .ځکه چه زید په طرف که چرے دَطاب اسناد نه وی نونفسًا منصوب کیږی نه .بلکه مرفوع وی چه اصل کښے فاعل دے په دے وجه چه معنی دا ده چه طاب نفسی زیدٌ اوزیدٌ طیب ابًا ددے نسبت مثال دے چه کوم شبه جمله کښے یعنی صفت مشبه کښے دے اودا تمیز اباعین دے ځکه چه قائم بنفسه دے اواضافی دے چه دَ اب مفهوم اضافت الی الغیر ماخوذ دے ځکه چه ددے معنی داده چه حیوان خلق من مائهٖ حیوان من نوعه اودا منتصب عنه عینی طیبًا کښے دَضمیر مستتر فاعل نه عبارت دے اوددے متعلق

دواړو ذېپاره صالح دے چه کله منتصب عنه سره تعلق شي نومعنی به داشي چه زید ښه پلار دے اوچه ددهٔ ذمتعلق سره تعلق شي نومعنی به داشي چه ذزید پلار ښه دے او ابوۃ یعنی زیدٌ طیبٌ ابوةً اوددے نسبت مثال دے چه کوم نسبت په جمله کښې وي. په دے کښې ابوةً ذمشبه جمله په نسبت سره تميز دے ليکن عرض قائم بالغير او اضافي دے .ځکه چه دد ے معنی دہ صفة تقوم بشخصٍ خلق من ماءِ شخصٍ اخرمن نوعه اومتعلق منتصب عنه سره مخصوص دے ځکه چه ددے اطلاق په منتصب عنه باندے درست نه دے اومعنی داکيږي چه زيد پلار کيدو کښې ښه دے او دارًا يعني زيد طيبٌ دارًا دا هم ددے نسبت مثال دے چه په شبه جمله کښې دے ليکن دا عين دے اوغيراضافي دے اوداهم ذ عنه ذ متعلق مخصوص دے چه ددے اطلاق نسبت عنه باندے درست نه دے يادساتئ چه ذنفسًا په نسبت ذجملے نه تميز واقع کيدل صحيح دي. دغه رنګ نسبت جمله نه هم صحيح دے اوابًا، ابوةً، دارًا علمًا چه څه رنګ نسبت ذشبه جمله نه تميز واقع کيدل صحيح دي. دغه رنګ نسبت جملے نه هم صحيح دے .ځکه چه ددے په تميز کښې هيڅ فرق نشته نسبت جمله اوشبه جمله ذهريو به پنځه پنځه مثالونه شي ليکن مصنف ابًا ذنسبت جمله ذ مثال سره بيان کړو اوباقي شبه جمله سره په دے وجه چه نسبت جمله تاميږي اوشبه جمله ناقص وي اوتام دمرتب اعلیٰ نه وي اوناقص دمرتبه ادنی نه وي اونفسا هم ذات شي هم ذباقي مانده نه اعلیٰ دے الاب باعتبار مفهوم او ابوة اوعلم اوصاف دي اودا رًا مملوک دے اوشک نشته چه موصوف اعلیٰ دے ذوصف نه چه ذ وصفت وجود تابع وي اومالک اعلیٰ وي ذمملوک نه اعلیٰ ئے ذ اعلیٰ سره ذکر کړو اوادنی ئے ذ اذنی سره.

سوال: صاحب کافيه ذجملے ذپاره څلور مثالونه ذکرکړي دي ددے څه وجه ده؟

جواب: ذدواړو تميز کښې هيڅ فرق نشته فَکُلُّ مثالٍ لشبه الجملة وکل مثال لشبه الجملة ليکن ابن حاجب طالب علم باندے اعتماد کولوسره تمثيلاتو کښې ذجملے باقي مثالونو په بناء باندے اختصار پرېښودو .

سوال: ذ تمثيل نه مقصود ذممثل وضاحت وي اووضاحت ذپاره يومثال کافي وي ذهريو پنځو مثالونو ذکرکولو څه حکمت او راز دے؟

جواب: او جمله نه دهر پنځه پنځه مثالونه نے ذکر کړل صاحب کافیه ابن حاجب اشاره او کړه چه هغه تمیز چه رافع ابهام دَ نسبت نه وی دده اقسام کلام عرب کښے مستعمله او محققه صرف پنځه دی. اګرچه احتمالات عقلیه دولس جوړیږی. هغه داسے چه تمیز دوه حالونه خالی نه دے عین به وی یا عرض بیا تقدیر به دوه حالونه خالی نه وی اضافی به وی یاغیر اضافی بیا حال احتمالات څلور شول(۱) عین اضافی (۲) عین غیر اضافی (۳) عرض اضافی(۴) عرض غیر اضافی دغه اقسام اربعه ؤ کښے په په هریو کښے درے درے احتمالات دی. (۱) خاص با لمنتصب عنه (۲) خاص بالمتعلق (۳) محتمل لهانو څلورو لره په وروکښے ضرب ورکولو نه ټول دولس قسمونه حاصل شو چه ددینه صرف پنځه قسمونه معتبر اومحقق دی باقی اووه صرف عقلی احتمالات دی هغه دا دی .(۱) عین اضافی خاص بالمنتصب لکه طاب زیدٌ نفسًا دامستعمل اومحقق دی (۲) عین غیر اضافی خاص بالمتعلق لکه طاب زیدٌ دارًا داهم متحقق دی (۳) عین اضافی خاص بالمنتصب عنه داغیر متحقق دی. (۴) عین اضافی خاص بالمتعلق داهم غیر متحقق دے (۵) عرض غیر اضافی خاص بالمنتصب عنه داهم غیر متحقق دے(۶) عرض غیر اضافی خاص بالمتعلق لکه طاب زیدٌ علمًا متحقق دے(۷) عرض اضافی خاص بالمنتصب عنه داهم غیر متحقق دے .(۸) عرض اضافی خاص بالمتعلق لکه طاب زیدٌ زبوۃً دامتحقق دے خلاصه داشو چه عین اضافی نه یوقسم یعنی محتمل لها ساقط شو. اودَعین اضافی نه دوه قسمونه ساقط شول. (۱)خاص بالمنتصب عنه(۲) محتمل له او خاص بالمتعلق اوعرض غیر اضافی نه هم دوه قسمونه ساقط شول (۱) خاص بالمنتصب عنه (۲) محتمل لها. اوعرض اضافی نه هم دوه قسمونه ساقط شول (۱) خاص بالمنتصب عنه (۲) محتمل لها نو کل احتمالات اووۀ ساقط شول باقی پاتے شو پنځه احتمالات چه مستعمل او معتبر دی چه دَهغے مثالونه علامه ابن حاجب بیان کړی دی.

قولُهٗ اَوْفِیْ اِضَافَةٍ مِثْلُ یُعْجِبُنِیْ طِیْبُهٗ اَبًا وَاُبُوَّةً وَدَارًا وَعِلْمًا. یاهغه نسبت اضافی وی . لکه یعجبنی طیبه الخ اودَنسبت اضافی په مثالونو کښے لِلّٰهِ دَرُّه فارسًا اضافه نے اوکړه پهٔ دیکښے دوه فائدے دی. (۱) دے طرفته نے اشاره اوکړه چه تمیز کله مشتق هم وی (۲) په دے باندے نے تنبیه ورکړه چه فارسًا نسبت اضافی نه تمیز کیدو دَپاره هم صالح دے لکه څه رنګ چه مفرد غیرمقدار نه

هم تمیز کیدے شی که دَ درة ضمیر مضاف الیه مبهم وی چه مرجع نے معلومه نه وی نودا ددغه ضمیر نه به تمیز شی. ددغه څیز پیش نظر صاحب مفصل دَمفرد غیر مقدار دَتمیز په مثال کښے پیش کړے دے. اوکه چرے دغه ضمیر مبهم نه وی چه دَهغے مرجع معلومه وی نودا به دَنسبت اضافی تمیز شی .چه په درة کښے دے دَ درة معنی ده پی مراد ددینه خیر کثیر دے لیکن مجازًا ددینه مرادخیر راوړلے شوے دے . دا اطلاق دَقبیلے دَارادة اللازم اطلاق المزوم دے فارسًا اسم فاعل فراست بالفتح نه ماخوذ دے. ددے معنی ده اسپ شناشی کښے کامل کیدل . چه کله داکمال په چاکښے وی نودَحیرت انګیزئ حدته رسیږی .نوپه وخت تجارت الله تعالیٰ ته نسمت کوی او ظاهروئ نے . چه هغه دَ عجائباتو خالق دے اومقصود صرف تعجب وی. او اوس معنی به داشی .چه هغه څه رنګ اسپ شناسی دے.اوکه په معنی دَ اسپ شدن وی نومعنی به داشی چه هغه څه رنګ شه سوار دے اودَفراست په معنی کښے ظاهر کتل باطن معلومول .یعنی پوهه حاصلول .لله درة فارسًا دَسوال اوجواب په انداز کښے بیانولے شی.

سوال: لِلّٰهِ دَرُّهٗ فَارِسًا مصنف ولے بیان کړے دے؟څکه چه نه نے هغه دَقسم اول په مثالونو کښے درج کړو اونه دَقسم ثانی په مثالونو کښے؟

جواب: ددینه دوه مقصودة دی. (۱) په جمهورو باندے ردکول دی چه هغوئ وائی چه تمیز جامه خوکیدل شی مشتق نه شی کیدے .(۲) هغه بعضے نحاتو باندے ردکول دی چه دَ چامسلک دادے چه تمیز که چرے دَ ضمیر نه واقع وی نوقسم اول په ذیل ذکر کړے دے. اودَمصنف په نیز په دیکښے تفصیل دے . که چرے مرجع دَضمیر معلومه وی نوداتمیز به دَذات مقدرة نه واقع شی. په دے وجه چه دغه وخت په حقیقت مرجع ضمیر دے.اودهغه داوخت مذکور نه دے که چرے دَضمیر مرجع معلوم نه وی نوددے تمیز دَذات مذکورة نه به شی. په دے وجه چه په دغه حالت کښے ضمیر مبهم دے اوهغه مذکور دے. اوددینه تمیز واقع دے اوپه اصل کښے مصدر دے.

فائده: تمیز ته نصب ورکولو والا عامل فعل یاشبه فعل وی لیکن ددغه فعل یاشبه فعل نصب دَتمیز په ذریعه راځی. اوپه عروئ کښے دغه ضمیر ته منتصب عنه وئیلے شی. عن تعلیلیه یعنی دَ څه وجے

چه نصب ورکړے شوے وی.

قـولـهٗ ثُـمَّ اِنْ کَانَ اِسْمًا یَصِحُّ جَعْلُهٗ لَمَّا انْتُصِبَ عَنْهُ جَازَاَنْ یَّکُوْنَ لَهٗ وَلِمُتَعَلِّقِهٖ وَاِلَّا فَهُوَ لِمُتَعَلِّقِهٖ ددے ځائے نه مصنف دا وئیل غواړی چه کوم یو تمیز منتصب عنه سره مخصوص وی اوکوم یو دَهغه دَمتعلق سره اوکوم یوپه اعتبار دَلفظ دَهریو دَپا ... ے شی .چه دَهغے حاصل دادے چه تمیز کله اسم وی اوکـلـه صفت وی. اوکه چرے اسم وی نوپه هغے کښے دوه احتماله دی. (۱) دَممیز احتمال دے یعنی ممیزاحتمال لرے کړی (۲) دَممیز دَ متعلق نه ابهام لرے کړی نوپه دے صورت کښے جائـز دی . چه خواه دَممیز نه تمیز جوړکړی یادَهغه دَمتعلق نه دواړو نه جوړیږی .لکه طاب زیـدٌ اَبًـا لـفـظ اَبًا کښے دوه احتماله دی. ځکه چه ددے اطلاق په زید باندے کیدے شی. داسے وئیلے شے. زیداب اوددے متعلق بکر هم چه ددهٔ والدوی وئیلے شی بکرٌ ابٌ که چرے دَ پلار دَ اولاد سره حسن سلوک کتلو سره اوئیلے شی. طاب زید ابًا نودا به دَمنتصب عنه تمیز شی اومعنی به داشی. زید ښه پلار دے اوکه چرے دَزید دپلار دَزید سره حسن سلوک کول اووینے نو حسن سلوک په دے قرینه شی چه ابًا منتصب عنه دَمتعلق نه تمیز دے .معنی به داشی چه دَزید پلار ښه دے اوکه چرے تمیز داسے اسم دے چه په هغے کښے دَممیز احتمال نشته نودغه تمیزئے دَمتعلق سره به مخصوص شی. لکه طاب زیدٌ عِلْمًا چه دَعلم اطلاق په زید باندے نه کیږی داسے نه شی وئیلے کیدے زیدٌ علمٌ معنی به داشی. چه دَزید علم ښه دے یادساتئ تمیز نسبت دوه کښے منحصر دے.(۱) منتصب عنه نه به واقع شی(۲) یامتعلق نه لهذا شرطیه سره لزومًا دامفهوم دے که چرے دَتمیز په نسبت کښے دَمتعلق احتمال نه وی نوهغه به منتصب عنه سره مخصوص شی.

نودغه رنګ تمیز دواړو شرطونو کښے تمیز ذی نسبت دَاسم دَدرے واړو قسمونو بیان به اوشی.

شرط اول کښے د درئم قسم . اودوئم کښے دَرومبئ قسم او ددوئم قسم دَرومبی لزومًا اودَ دوئم صراحةً فَلَا یَرِدُاَنَّ ذِکْرَ التَّمِیْزِ، اَلْمَخْصُوْصُ بِالْمَنْسُوْبِ عَنْهُ مَتْرُوْكٌ.

قـولـهٗ فَیُطَابِقُ فِیْهِمَا مَاقُصِدَ اِلَّا کَانَ جِنْسًا اِلَّااَنْ یُقْصَدَ الْاَنْوَاعُ مصنف په دے عبارت کښے دَتمیز دَ نسبت درے واړه قسمونو حکم بیانول غواړی (۱) چه دَ منتصب عنه سره مختص وی (۲) چه دَمتعلق سره مختص وی(۲) دواړو کښے دَهریو دَپاره کیدے شی نومقصود عبارت دادے ...

تميز نسبت دغه درے واړه قسمونو نه په هر يو قسم کښے دمقصود مطابق به شي. که چرے واحد مقصود دي نو واحد به راوړلے شي که چرے تثنيه جمع مقصود وي نو تثنيه جمع به راوړلے شي. عام ددينه چه واحد تثنيه جمع دَ منتصب عنه پيش نظر معنى دَ تميز پيش نظر وي متکلم په معانى تميز کښے دَ وحدت ياتثنيه اوجمع لحاظ کړے دے اودَ منتصب منه موافقت ددے دَپاره بالکل باعث نه د امثله :. دَتميز مخصوص به متنصب عنه مثالونه چه دَهغے وحدت تثنيه جمعيته دَمنتصب عنه باعث طاب زيد نفساً طاب زيدان نفسان طاب زيدون نفوسًا. داتميز دَمعنى دَموافقت پيش نظر صرف واحد وي تثنيه جمع نه وي ځکه چه نفس په معنى دَ ذات الشئ بانددے شے دَپاره يووى. (۲) تميز مخصوص بالمتعلق مثالونه :. طاب زيد دارًا ،طاب زيدين دارين ، طاب زيدون ديارًا(۳) هغه تميز چه منتصب عنه اودَ متعلق دواړو متحمل وى. اووحدة تثنيه معينه منتصب عنه دَ موافقت په وجه سره وى. کله طاب زيد ابًا طاب زيدان ابوين طاب زيدون اباءً که چرے دے منتصب عنه نه تميز جوړ کړے شي نومعنى به داشي .زيد ښه پلار دے دواړه زيدان ښه پلاران دي. ټول زيدان ښه پلاران دي. که چرے دَ متعلق نه تميز جوړ کړے شي نومعنى به داشي دَزيد پلار ښه دے کَزيد دواړه پلاران ښه دي دَزيد ټول پلاران ښه دي. داخو وحدت وغيره باعث منتصب عنه وے .اوکه چرے موافقت معنى خپله وي نومعنى به داشي دَزيد پلار ښه دے دَزيد دواړه پلاران يعنى پلار اونيکه ښه دي دَزيد ټول پلاران يعنى پلار ،نيکه ،نانا ښې دي په رومبى مثال کښے ابًا منتصب عنه تميز کيدے شي چه منتصب عنه باندے دَهغے اطلاق صحيح وي اودَ متعلق هم وي. ليکن باقي دواړو مثالونو کښے دَمتعلق دَتميز کيدودَپاره متعين دے دَمنتصب عنه نه شي کيدے ځکه چه په باندے ددے اطلاق صحيح نه دے. ددينه داخبره ظاهره شوه چه تميز زيربحث که چرے منتصب عنه نه قرار ورکړے نوپه موافقت معنى خپله صرف واحد تثنيه ياجمع نشي کيدے بلکه چه کله دَ منتصب عنه سره تميز نه مراد تثنيه جمع کښے مختلف وي نودا تميز دَ متعلق به شي نه دَ منتصب عنه په دے شرط چه تميز جنس نه وي اگر تميز جنس وي نودَ منتصب عنه به هم اوکړے شي. لکه طاب زيدان ابوة طاب زيدوه ابوة.

چرے واحد مقصود وی نو تمیز واحد اوکه تثنیه جمع مقصود وی نو تمیز تثنیه جمع په دے وجه چه دَ صیغه دَمفرد تثنیه جمع باندے اطلاق صحیح نه دے.

قوله إِلَّا أَنْ يَكُوْنَ جِنْسًا مصنف ددے ځانے نه ونیل غواړی که چرے تمیز جنس وی نو موافقت به واجب نه وی یعنی تثنیه جمع مقصود کیدو په صورت کښے یعنی تثنیه جمع لازم نه وی. بلکه مفرد راوړل کافی دی. ځکه چه دَجنس اطلاق واحد باندے هم کیدے شی. او تثنیه جمع باندے هم. لکه طاب زیدٌ علمًا ونیل صحیح دی. اگرچه علوم کثیر مراد وی. طاب زیدان علمًا ونیل هم صحیح دی. اگرچه علوم کثیر مرادوی. طاب زیدون علمًا ونیل هم صحیح دی. اگرچه علوم کثیرہ مراد وی ان یقصد الانواع که چرے هغه جنس انواع مقصود وی نو مطابقت لازم دے تثنیه دَپاره تثنیه جمع دَپاره جمع لکه طاب زیدان علمین چه کله مراد داوی چه متعلق دَ دواړو مختلف علمین دی. مثلًا یو علم تفسیر او دونم دَعلم حدیث طاب زیدون اگرچه مقصود دادے چه متعلق دَ علومو مختلف دی مثلًا دَچا دَ علم النحو دَچا دَ علم الصرف او دَچا علم حدیث وغیره.

قوله وَإِنْ كَانَ صِفَةً كَانَتْ لَهٗ وَطَبَقَهٗ وَاحْتَمَلَتِ الْحَالَ وَلَا يَتَقَدَّمُ التَّمِيْزُ عَلٰى عَامِلِهٖ وَالْأَصَحُّ أَنْ لَّا يَتَقَدَّمَ عَلَى الْفِعْلِ خِلَافًا لِلْمَا زَنِيِّ وَالْمُبَرَّدِ که چرے تمیز نسبت مشتق وی لکه لِلّٰهِ دَرُّهٗ فَارِسًا یا مؤول مشتق وی لکه کفی زیدٌ رجلًا په معنی دَنهی زیدٌ کاملًا فی الرجولیت نو تمیز به په دغه صورت کښے دَ منتصب عنه سره خاص وی. او هم ددغه مطابق به وی. او دَمنتصب عنه سره دَمخصوصیت علت او وجه دادہ چه صیغه دَ صفت موصوف تقاضا کوی او منتصب عنه چه کله مذکور وی نو دغه منصوب جوړیږی په خلاف دَمتعلق چه هغه هم مذکور نه دے نو موصوف څه رنګ جوړیدے شی. باقی پاتے شوه داخبره چه دامطابقت به ولے وی ددے جواب دادے چه دغه صیغه صفت کښے به ضمیر راجع شی دغه منتصب عنه موصوف په طرف او که چرے مطابق نه وی نو راجح مرجع کښے به مخالفت لازم راشی چه جائز نه دے که الله دره فارسًا لِلّٰهِ درهما فارسین یا دساتی دلته دَطبق لفظ په معنی دَمطابق او لکه جنس په معنی دَ مجانس او مثل په معنی دَ مماثلت وی. واحتملت الحال سره مصنف دا اوئیل چه په دے تمیز کښے حال کیدو هم احتمال دے ځکه چه دَحال والا معنی هم صحیح

جوړيږي. البته ددے تميز کيدل اولیٰ راجح دی. وجه دَترجيح دادے چه په صفت کله من بيانيه زياتی کوی لکه: قَاتَلَهُ اللّٰهُ مِنْ شَاعِرٍ چه په اصل کښے قاتله الله شاعرًا اوعزّ من قاتل په اصل کښے عزّ قائلًا وو او لِلّٰهِ دَرُّهُ مِن فَارِسٍ په اصل کښے لِلّٰه دَرُّهُ فَارِسًا وو. اودا قاعده ده چهٔ من بيانيه زيادت حال باندے نه شی کيدے نوپه دے وجه مصنف وَاَحْتَمَلَتِ الْحَالَ ونيلے دے دَاحتمال لفظ ئے وئيلے دے.

قولهٔ وَلَا يَتَقَدَّمُ عَلیٰ عَامِلِهِ مصنف دَتميز اقسام تميز مفرد، تميز نسبت اودَ هريو دَاحکامو بيانولو نه پس اوس دَ تميز مطلق بيان کوی خواه تميز مفرد وی يا تميز نسبت وی نوهغه خپل عامل باندے مقدم کيدے نه شی. خواه هغه عامل مفرد وی يافعل ياشبه فعل وی همدغه مسلک دَجمهورو دے دَعامل مفردکيدو په صورت کښے تقديم عامل نه کيدوکښے اتفاق دے وجه دادہ چه دَمفردعامل په سبب مشابهت بالفعل وو او مشابهت ضعيف وو نومفرد عامل هم ضعيف وو او

قاعده ده چه دَ ضعيف عامل معمول نه شی مقدم کيدے اودَعامل فعل اوشبه فعل کيدو په صورت کښے دَتميز تقدم مختلف فيه دے .اصل منهب خوهمدغه دے چه تيرشوے دے. ددے وجه دادہ چه تميز رفع ابهام کښے نعت دَپارہ دَ ايضاح سره مشابه دے لکه څه رنګ نعت مذکور رفع ابهام کوی دغه رنګ تميز هم او

داقاعده چه نعت خپل عامل باندے مقدم کيږی نه نو لهذا تميز هم مقدم کيږی نه ليکن امام مبرد اوامام مازنی فرمائی چه کله دَتميز عامل فعل يااسم فاعل يااسم مفعول وی نوتقدم جائز دے. ځکه چه ددے وارہ عامل قوی دی اودَ عامل اواسم مفعول ددے دَمشابهت په وجه داهم قوی عامل دے .ځکه چه ددے مشابهت دَفعل مشابهت دَناقص کيدو په بنا باندے داعامل قوی نه دے.

قولهٔ اَلْمُسْتَثْنیٰ مصنفؒ دَمنصوباتو دَاووم قسم دَتميز دَبحث نه چه کله فارغ شو .اوس دَاتم قسم دَمستثنیٰ بحث بيانوی.

سوال: مصنفؒ دَ مستثنیٰ تعريف اونه کړو دَ مستثنیٰ تقسيم ئے شروع کړو حالانکه قاعده دَ ده چه

جواب: تقسیم ذپاره داضروري ده چه مقسم معلوم وي . اودلته هم مقسم په دے طريقه معلوم دے چه المستثنیٰ باندے الف لام ذپاره ذعهد خارجي دے اوددينه مراد هغه اسم منصوب دے چه په هغے باندے اصطلاح نحاتوکښے ذلفظ مستثنیٰ اطلاق کيدے شي. نودامستثنیٰ په دوه قسمه ده. (۱) متصل (۲) منقطع پادساتئ دومره قدرے معلوميت تقسيم ذپاره کافي دے.

سوال: مصنفؒ ذمستثنیٰ تعريف خواونه کړو ددے ذاقسامو تعريف ولے بيان کړو؟

جواب: ذمستثنیٰ اقسام دوه قسمه احکام خاصه وؤ چه بغير ذتعريف ددے اجراء نه شوه کيدے په دے وجه مصنفؒ ددے دواړو قسمونو تعريف اوکړو.

قوله مُتَّصِلٌ وَمُنْقَطِعٌ فَالْمُتَّصِلُ هُوَالْمُخْرَجُ عَنْ مُتَعَدِّدٍ لَفْظًا اَوْتَقْدِيْرًا بِاِلَّا وَاَخَوَاتِهَا. ذمستثنیٰ دوه قسمونه دي (۱) مستثنیٰ متصل (۲) مستثنیٰ منقطع .اول به مصنف دواړو قسمونو تعريف اوکړي بيا ذهر يوذپاره حکم به بيان کړي .

ذمستثنیٰ متصل تعريف :. مستثنیٰ متصل هغه ده چه ذالايا ذهغے ذاخواتو په ذريعه متعدد څيزونو نه رااويستے شي خواه مستثنیٰ منه لفظونو کښے وي لکه ماجاء ني القوم الازيدًا يا مستثنیٰ منه مقدر وي لکه ماجاء ني الازيدٌ مستثنیٰ منه مذکور وي لکه ماجاء ني القوم الازيدًا اومستثنیٰ منه مقدر وي لکه ماجاء ني الازيدٌ يعني ماجاء ني احدٌ الازيدًا.

سوال: مستثنیٰ منه باطل ده ځکه چه داتناقض ته مستلزم دے وجه ذاستلزام داده چه جاء ني القوم الازيدًا ذمجيئت نسبت قوم طرفته دے .چه په هغے کښے زيدهم داخل دے. لهٰذا چه څه رنګ ذقوم ذنورو افرادو ذپاره مجيئت ثابت دے .هم‌هغسے زيد ذپاره هم ثابت دے .بيا اِلَّا زيدًا سره دمجيئت نفي خوذزيد ذپاره اثبات مجيئت هم شو اوذمجيئت نفي هم اوشوه نوداتناقض دے اوتناقض باطل دے او ضابطه وه چه مستلزم باطليږي نولهٰذا مستثنیٰ متصل باطله شوه ددے درے جوابونه ورکړے شوے دي.

جواب: ذالقوم نه مراد بعضے افراد دي يعني ماسواذ زيد اودا ذقبيلے ذاطلاق کل ارادة الجزء دے مجاز دے لهٰذا ذجاء اسناد ماسوائے زيد ذپاره نولهٰذا ماسوائے زيد په طرف ذجاء نسبت اوشو نولهٰذا ذزيدا نه ذمجيئت نفي خو اوشوه اواثبات اونه شو نوتناقض هم اونه شو لهٰذا دا دواړه

جوابونه درست نه دي ځکه چه ددينه به لازم راشي چه دَمستثنیٰ منه نه دَمستثنیٰ اخراج متحقق نه وي لهذا ددے په اخراج باندے اجماع منعقد دہ.

جواب: دجاء نسبت قوم طرفته دے مګر پس دَاخراج زيد نهذا زيد د پاره د اثبات مجيئته اونه شو نو تناقض هم اونه شو. اوهم داقول مختار دے.

قوله وَالْمُنْقَطِعُ الْمَذْكُوْرُ بَعْدَهَاغَيْرَ مُخْرَجٍ دَمستثنیٰ منقطع تعريف: مستثنیٰ منقطع هغه اسم منصوب دے چه الااو ددۀ دَ اخواتوپه ذريعه متعدد نه ويستلے شوے وي لکه جَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا وجه دَعدم اخراج دادہ چه اخراج بعد الدخول وي او مستثنیٰ منقطع مستثنیٰ منه کښے نه داخليږي ياخو په دے وجه چه هغه خلاف جنس وي .لکه مثال مذکور کښے يادمستثنیٰ منه دَجنس نه وي.ليکن ددے په مستثنیٰ منه کښے ددخول اعتبار نه کوي لکه جاء نی القوم الازيدا زيد هم جنس کيدو باوجود مستثنیٰ منقطع به شي. چه کوم وخت په القوم کښے داخل نه کړے شي يادساتئ دَمستثنیٰ منقطع دارومدار عدم دخول باندے دے .اسم جنس کيدو باندے نه دے .او داهم يادساتئ چه دلته دَالانه مراد هغه دے چه په معني دَغير نه وي .يعني استثنائيه وي الا صفتيه نه وي اوددے دَاخواتونه مراد کلمات استثناء چه دَهغے نه پس استثناء منصوب وي .لکه عداء، خلاء، حاشاپه استعمال اقل اوماخلا اوماعدا اوليس اولايکون دا هغه کلمات دي چه دَ هغے نه پس استثناء نه وي. هغه کلمات استثناء چه دَهغے نه پس مستثنیٰ مجرور وي لکه حاشاپه استعمال اکثرسرد اوسوئ اوسوا اوغير يادساتئ چه مستثنیٰ منقطع په کلام دَعربو کښے صرف الا اوغير اوسوا اوبعد نه پس واقع کيږي..

قوله وَهُوَ مَنْصُوْبٌ اِذَا كَانَ بَعْدَ اِلَّا غَيْرِ الصِّفَةِ فِيْ كَلَامٍ مُوْجَبٍ. مصنف چه دَمستثنیٰ متصل او مستثنیٰ منقطع دَتعريف نه فارغ شو نواوس مطلقا دَمستثنیٰ احکام بيانول غواړي لهذا دَهوضمير مرجع مطلقا مستثنیٰ به شي. **رومبے حکم**: مستثنیٰ وجوبًا منصوب وي چه ددے دَپاره پنځه مقامات دي.

رومبے مقام: مستثنیٰ متصل دَالا نه پس وي ددے دَپاره دوه شرطونه دي.(۱) الاصفتيه نه وي

ځکه چه که چرے مستثنی دالا صفتیه نه پس وی نو بیا به دَصفت والا اعراب لوستلے شی دَموصوف دَمطابقت په وجه (۳) مستثنی کلام موجب کښے واقع وی ځکه که چرے مستثنی کلام غیر موجب کښے واقع وی نو مستثنی ماقبل نه به بدل جوړ شی. دَړومبی مقام دپاره دَ نَویا چه دوه شرطونه شول. لکه جاء نی القوم الازیدا.

سوال: ددغه ړومبی مقام دَ منصوب کیدو څه دلیل او علت دے؟

جواب: دَاسم اعراب په درے قسمه دے رفع، نصب، جر، جرپه دے وجه نه شی لوستلے چه حرف جارنه دے او نه مضاف دے دلته رفع په دے وجه جائز نه دہ چه هغه دَ بدل بعض په بناء بأندے کیدے شو اودلته بدل جوړول ناجائز دی. په دے وجه چه بدل تکریر عامل په حکم کښے وی اوتکریر عامل سره دَکلام تقدیر عبارت داسے شی جاء نی القوم الاجاء نی زیدٌ اودا خبره ظاهره ده چه داخلاف مقصود دے. ځکه چه مقصود انتفاء مجیئت دے دَزید نه. اوپه دے صورت کښے خواثبات مجیئت لازمیږی لهذا چه کله جر اورفع دواړه باطل شو نوهم دغه نصب واجب شو.

قولهُ اَوْمُقَدَّمًا عَلَى الْمُسْتَثْنیٰ مِنْهُ

دوئم مقام: چه کوم ځائے نصب لوستل لوستل واجب دی په مستثنیٰ بأندے هغه داده چه مستثنیٰ په مستثنیٰ منه بأندے مقدم وی خواه په کلام موجب کښے واقع وی لکه جاء نی الازیدا القوم یاکلام غیر موجب کښے لکه ماجاء نی الازیدًا احدٌ.

سوال: دلته دَ وجوب دَ نصب څه علت اودلیل دے؟

جواب: دَجر نه کیدل خو واضح دی په دے وجه چه نه خودلته حرف جار دے. اوته ددهٔ نه مخکښے مضاف دے. دَ رفع دَ بطلان وجه داده چه رفع دَبدلیت په بنابأندے وه اودلته دَبدل هیو تصور نه شی کیدے. ځکه چه لازم به راشی دَبدل په مبدل منه بأندے مقدم کیدل چه بالکل باطل دے.

قولهُ اَوْمُنْقَطِعًا فِی الْاَکْثَرِ.

منفي بانـدے خـواه مستثنیٰ منقطع کلام موجب کښے وی لکه جاء نی القوم الاحمارًا یا کلام غیر موجب کښے وی لکه ماجاء نی القوم الاحمارًا.

سوال: ددے مقام کوجوب نصب څه دلیل اوعلت دے؟

جواب: دجر بطلان خو واضح دے اود رفع بطلان په دے وجه چه دلته نه دا بدل الکل جوړیږی اونه بدل البعض اونه بدل الاشتمال (کماهوالظاهر) البته دبدل الغلط احتمال وولیکن هغه په دے وجه غلط دے چه دَبدل الغلط مبدل منه ددے صدور په غفلت کښے کیدلدی .اوحالانکه دلته په مستثنیٰ منقطع کښے غفلت نه وی. لهذا بدل الغلط جوړول هم درست نه شول نوځ رفع بطلان هم اوشو اودجر بطلان هم اوشونوباقی پاتے شو نصب واجب شو .لیکن دَفی الاکثر قید نه اقل لغت بنی تمیم دے. ددے نه په احترازے اوشی .ځکه چه مستثنیٰ منقطع په قسمه دہ اول هغه چه دَهغے نه پیش تر داسے اسم وی چه هغه حذف کړے مستثنیٰ منقطع دَ هغے قائم مقام کړے خواہ هغه اسم متعددے وی لکه ماجاء نی القوم الاحمارًا یا غیر متعدد وی لکه ماجاء نی زید الا عمرًا په دے صورت کښے دَ بنو تمیم په نیزد بدل مقرر کول جائز دی .نودوئ په نیزد بنابربدل الغلط داسے اوئیلے شی. ماجاء نی الاحمارٌ واما جاء نی الاعمروا لیکن داپه دے وجه چه مونږ وئیلی دی. چه دَبدل الغلط مبدل منه صدور په غفلت کښے وی. اوحالانکه صدور په غفلت کښے نه وی .دوئم قسم دادے چه دَهغے نه مخکښے داسے اسم وی چه هغه حذف کړے شی مستثنیٰ منه دَهغے قائم مقام نه کړے شی. نوپه داسے صورت کښے دَبنوتمیم والو په نیزد هم نصب واجب دے .دَاهل حجاز په شان لکه په قرآن مجید کښے دی وَمَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ په دیکښے علم مستثنیٰ منه دے اتباع مستثنیٰ منقطع دے چه دَ جنس علم نه کیدو په بناپاندے ددے نه مخرج نه دے. اوعلم چه اسم مامشبه په دلیس دے ددے حذف کول درست نه دی ورنه دَ کلام دوارہ رکنونه به محذوف شی خبر خودَ مخکښے نه محذوف وو او اسم هم اوس محذوف شواوکه اسم حذف کړے نو مستثنیٰ دَهغے قائم مقام کړے داسے به اوائے وامالهم الا اتباع الظن نومستثنیٰ منقطع پاتے نه شوہ . چه اوس دا مستثنیٰ مفرع دہ اومستثنیٰ مفرغ مستثنیٰ متصل وی نه چه منقطع .کلام موجب هغے کلام ته وئیلے شی چه نفی یا نهی یااستفهام نه په یو پاندے مشتمل وی .

قوله اَوْکَانَ بَعْدَ خَلا وَعَدَ.

خلورم مقام: چه کوم ځائے مستثنیٰ بانـدے نصب واجب دے هغه داد ے چه کله مستثنی بانـدے نصب به واجب شي .لکه جاء نی القوم خلا زیدًا وعدا زیدًا.

سوال: ددے مقام دَپاره کوجوب نصب څه دلیل دے؟

جواب: خلااو عدا دواړو فعلونه وی. عدد فعل متعدی په معنی دَ جاوز دے. دَباب نصرینصر نه راځی. اوخلااگـر چه باب لازمی دے لیکن په معنی دَجاوز کیدو سره متعدی دے اومستثنیٰ دغه دواړو کښے دَمفعولیت په بنا بانـدے منصوب کیږی .

فائده: ددے پـه تـرکیب ځان پوهه کړئ. خلا او عدا فعلونه وی په دیکښے هوضمیر مستتر دے چه دَ جـاء مـصـادر پـه طرف یادَجاء نه فاعل مفهوم کیږی ددے په طرف راجع کیږی اوهمدغه ضمیر ددے فاعل دے اوزیدًا مفعول به دے اودافعل خپل فاعل اومفعول به سره ملاؤ شول جمله خبریه جوړه شوه اوحال دے دَ القوم نه.

سوال: دَجمله فعلیه ماضیه مثبته کیدو دَپاره دَقد کیدل شرط دے .لکه څه رنگ چه تیر شوی دی حالانکه دلته قد نشته نوداجمله حالیه څه رنگ جوړیږی؟

جواب: دقد کیدل ضروری دی. لیکن په دیکښے تعمیم دے خواه مذکور وی یامقدر.

سوال: کله کله دغه عداسره قد په لفظونو کښے هم راځی؟

جواب: هـر کرنه په دے وجه چه دَالا استثنا ئیه سره ددے مشابهت وی چه کله ددے سره ذکر نه کړے شي نودغه عدا به دَحرف جاره په شان شي نوددینه دَالاسره مزید مشابهت شي.

سوال: دَعـدا اوخـلا دَضـمـیـر دَپـاره دَفـعـل مـذکـور مصدر یا دَهغـے دَاسم فاعل مرجع جوړو لوڅه ضـرورت دے پـه دیـکښے خوتکلفات راځی. مثلًا تقدیری عبارت به داسے شي. جاء نی القوم عدا مـجـیـئـهـم زیـدًا دغـه رنگ جـاء نـی القوم عدالاجاءنی منهم زیدًا په دیکښے خوتکلفات دی چه مصدر دَضـمـیـر مضاف کړے شي.اوداسم فاعل سره منهم راولیستے شي.چه دجمله حالیه ماقبل سره رابطه اوشي .

سوال:القوم مرجع ولے مقرر نه کړه چه صراحة مذکور دے؟

جواب: بعضو جواب ورکړے دے چه قوم اسم جمع دے او دد ے ډپاره هم دجمعے حکم کبری او قاعده دا ده چه جمع طرفته ضمير يا خو د واحده مونث واپس کيږی يا د جمع. او دلته کښے ضمير دے واحد مذکر په دے وجه القوم نے مرجع جوړ نه کړو. ليکن دا جواب ضعيف دے په دے وجه چه اسم جمع بعض واجب التانيث ده دد ے حکم ظاهر دے. او په ضمير کښے دجمع تکسير والا کبری يعني اسم ظاهر خو په تذکير او تانيث دواړو کښے جائز دی. لکه قال الرجال وقالت الرجال او که ظاهر نه وی نو کله دضمير واحده مؤنثه او کله دضمير جمع مذکر عاقل لکه الرجال قال. قالت الرجال قالو او که دغير عاقل جمع وی نو دواحده مونث جمع دمونث غائب لکه النساء جاءت يا الايام مضت او النساء جئن او الايام مضينا او اسم جمع هغه ده چه دهغے تذکير او تانيث دواړه جائز وی لکه رکب او قوم لکه په قرآن مجيد کښے وما قوم لوط منکم ببعيد کښے ببعيد دننه ضمير واحد مذکر راجع دے قوم په طرف او کذبت قبلهم قوم نوح په ديکښے دصيغه مونث استعمال دے او قال انکم قوم تجهلون کښے قوم په طرف ضمير جمع مذکر راجع دے لهذا هغه جواب صحيح نه دے صحيح جواب دادے چه نحويانو مصدر يا اسم فاعل مرجع په دے وجه مقرر کړه ځکه چه داپه هر صورت کښے مرجع جوړيږی خواه مستثنیٰ منه قوم ځه رنګ لفظ وی چه هغے طرفته، دضمير راجع تانيث واجب نه وی. يا داسے لفظ وی چه دهغے په طرف دضمير راجع تانيث واجب وی او اکثر مذهب او فی الاکثير قيد نے او لګولو ے و نيل چه دادَ اکثر و نحويا نو مذهب دے او دَ بعضے نحويانو مذهب دادے چه دَخلا ،عدا نه پس مستثنیٰ مجرور وی. ددوی په نيز د خلا او عدا دادَ حروف جاره نه دی.

پنځم مقام: دادے چه کله مستثنیٰ ماخلا او ماعدا او ليس اولايکون نه پس واقع وی نو دغه وخت دے مستثنیٰ به وجوبًا منصوب لوستلے شي. لکه جاء نی القوم ماخلازيدا وما عدا زيدا وليس زيدًا لايکون زيدا.

سوال: په دے مقام کښے دوجوب نصب څه دليل دے؟

جواب: د ماخلا او ماعدا نه پس په دے وجه نصب واجب دے چه په ديکښے مامصدريه ده چه فعالو سره خاص دے لهذا دخلا او عدا فعل کيدل متعين شو نو حسب سابق دامستثنیٰ د مفعول په بنو په بنا باندے وجوبا به منصوبه شي.

سوال: لكه عدا زيدا جمله حاليه وه محل نصب كښي وه نو دلته دا ترتيب څنګه مرتب به وي؟

جواب: ما مصدريه ما بعد لره د مصدر په تاويل كښي كړو نو ما بعد مستتر مؤول شو د سبب مانه مخكښي تقدير لفظ وقت شايع دے. دا د مانه ظرف مضاف مقرر وي. او دا ونيلے شي. چه مضاف حذف كړے شو. مضاف اليه د دغے په ځائے اودروي شي. نو دقائم مقام كيدو په اعتبار سره دا مجازا بنا برظرفيت محل نصب كښي دے مجازا ځكه اووے دا خپله خوظرف نه دے ظرف خو دغه مضاف دے په دغے قائم مقام دا ګرځے شوے دے. چونكه ددے حكم ظرفيت نه ديته وركړو نو دا ظرف مجازا شو او بنا برظرفيت منصوب كښي بطور مجاز به وي چه كوم وخت مضاف كړے نو مضاف اليه كيدو په بنا باندے محل جر كښي به شي لكه جاء ني القوم وقت مجاوز تهم زيدا دا يادساتئ چه دا به هغه وخت وي چه عدا كښي د ضمير مستتر مرجع القوم قرار كړے شي. او جاء ني القوم وقت مجاوز تهم زيدا او چه كله مصدر مرجع مقرر كړے شي نو بيا جاء ني القوم وقت مجاوزة الجاءِ منهم او كه چرے اسم مصدر مؤول د اسم فاعل په تاويل كښي واخلے نو بنابر حاليت محل نصب كښي به شي لكه جاء ني القوم مجاوزا زيدا.

سوال: مصنف ته پكار وو چه دلته فعل اكثر نے ذكر كړے وے ځكه چه د اخفش نه منقول دے چه دوئ ما خلا او ما عدا كښي هم دا جائز كړے دے چه ما زائده وي او خلا او عدا حرف جار وي نو ما بعد به مجرور شي نه منصوب؟

جواب: د مصنف په نيزد دا نقل پايه ثبوت ته نه دے رسيدلے دلته دا تجويز ددهٔ په نيزد ساقط الاعتبار وو په دے وجه مصنف في الاكثر اونه ونيل لهذا ددے په نه ذكر كولو سره تمام احتمالاتو كښي نصب به واجب شي. د ليس او لايكون نه پس د مستثنى منصوب كيدل په دے وجه واجبيږي چه دا فعل ناقص دے او مستثنى ددے خبر جوړيږي. او خبر وجوبا منصوب دے لهذا دا مستثنى به هم وجوبا منصوب شي.

فائده: خلا، عدا، ما خلا، ما عدا او ليس او لايكون چه كله استثناء د پاره استعمال كړے شي نو ددے فاعل ضمير مستتر وي اسم ظاهر نه وي چه ددے د الاسره په كامل درجه كښے مشابهت حاصل شي چه په استثناء كښے الاصل دے چه مستثنى او د دغے ترمينځ فصل نه وي لكه ته ..رتګ .. ه الا.

اودغه په مستثنىٰ كښے فصل نه وي .اودا خبره ظاهره ده چه هم فاعل دَضمير مستتر كيدو په صورت كښے كيږي.

ضابطه :همدغه كاملے درجے دَمشابهت په خاطر داپه استثناء كښے هميشه غير متصرف وي نه علامت دَ تانيث ديته لگي اونه دا تثنيه كيږي اونه جمع بلكه څه رنگ چه وي هم هغسے وي چه څه رنگ الاوي .

ضابطه: ددے په استثناء كښے استعمالېدو دَپاره دوه شرطونه دي(١) مستثنىٰ متصل وي مستثنىٰ منقطع كښے دانه مستعمليږي په دے وجه چه ددے فاعل ضمير مستتر وي .چه دَهغے مرجع مستثنىٰ منه صريحي وي لكه القوم ياتاويلي وي.لكه الجائي منهم اوخلا، ماعدا وغيره كښے مستثنىٰ مفعول به وي. اوليس اولايكون كښے خبروي. اوداخبره ظاهره ده چه دَ خبراو مفعول به دَپاره ضروري ده چه دَمستثنىٰ منه دَجنس نه وي.(٢) مستثنىٰ منه مذكور وي خواه صراحةً لكه القوم ياضمنًا .لكه مجيئهم يا لزومًا لكه الجائ منهم په دے چه دا اضمار قبل الذكر خرابي لازم رانشي ددينه داخبره واضحه شوه چه دامستثنىٰ مفرغ كښے مستعمليږي نه

قوله وَيَجُوْزُ فِيْهِ النَّصْبِ وَيَخْتَارُ الْبَدَلُ فِيْ مَابَعْدَ اِلَّافِي كَلَامٍ غَيْرَ مُوْجَبٍ وَذُكِرَ الْمُسْتَثْنىٰ مِنْهُ مِثْلُ مَافَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ وِاِلَّا قَلِيْلًا. مصنف دَمستثنىٰ حكم ثاني بيانوي چه مستثنىٰ باندے دوه اعراب لوستل جائز دي . (١) نصب داستثناء په بنا باندے (٢) بدل البعض اوهمدغه بدل البعض مقررول مختار دي.ددے حكم دَپاره درے شرطونه دي.(١) مستثنىٰ دَالا نه پس واقع وي احترازي مثال جاء ني القوم خلا زيدًا(٢) مستثنىٰ كلام غير موجب كښے وي احترازي مثال:.جاء ني القوم الازيدا(٣) مستثنىٰ منه مذكور وي احترازي مثال:. ماجاء ني الازيدٌ **اتفاقي مثال**: مافعلوه الا قليلٌ نوداقليل په مستثنىٰ باندے دوه اعراب لوستل جائز دي (١) دَ استثناء په بناباندے منصوب لوستل . الاقليلًا. (٢) دَبدل په بنا باندے دا مرفوع لوستل الاقليلٌ دواړه جائز دي.

سوال:ددے حكم دپاره داشرائط ثلثه ناكافي دي. په دے وجه چه ددغه شرائطو تحقق خومستثنىٰ منقطع كښے هم او مستثنىٰ چه مستثنىٰ منه باندے مقدم كيږي په ديكښے هم كيږي

حالانکه دغه دواړو صورتونو کښې نصب واجب دے دوه اعراب لوستل جائز دي.

جواب: ددے دواړو حکم ماقبل کښې چونکه تیرشوے دے .په دے وجه ددغه قرینے په بناء پاندے ددے دخارج کولو دپاره شرط اونه لګولو .

جواب: چه یختار البدل نه اوځي ځکه چه په دیکښې دبدل هیڅ تصور نشته په منقطع کښې خو په دے وجه نشته چه هغه بدل الغلط وي چه په مستثنیٰ کښې بالکل باطل دے. اومستثنیٰ مقدم پاندے په دے وجه نشته چه دبدل تقدم مبدل منه پاندے نه جائز کیږي .

فائده: دبصریانو په نیزد چه کله مستثنیٰ دالانه پس وي اود استثناء په بناء پاندے منصوب وي نو په دیکښې فعل مقدم بواسطه اِلَّا عامل وي .لکه جاء نی القوم الازیدًا یامعنی دفعل بواسطه الالکه القوم اخوتک اِلَّا زیدًا په دیکښې اګر چه فعل نشته معنی دفعل عامل دے هغه دادہ چه کوم نسبت دخبر دمبتداء په طرف دے دهغے نه حاصلیږي یعنی نسبت القوم الی اخوتک الازیدًا (کما فی سوال کابلی)

ضابطه : دفعل اومعنی فعل په عمل کښې اِلَّا واسطه وي. په دے وجه چه مستثنیٰ فعل یامعنی د فعل سره هم دالا په ذریعه تعلق معنوی حاصلیږي. په دے طورپاندے چه مستثنیٰ ته نسبت دے د مستثنیٰ منه سره ددخول .لکه څه رنګ مستثنیٰ متصل کښې یادعدم دخول. لکه څه رنګ مستثنیٰ منقطع کښې ،او مستثنیٰ منه ته نسبت دے دفعل یامعنی د فعل سره نود مستثنیٰ فعل یا معنی دفعل سره تعلق معنوی حاصل شو. اوداهم یادساتئ چه لکه څه رنګ مفعول به دکلام دپوره کیدو نه پس واقع کیږي همدغے مستثنیٰ هم دکلام پوره کیدو نه پس واقع کیږي نوددغه مشابهت په وجه لکه څه رنګ چه مفعول به منصوب وي همدغے مستثنیٰ هم منصوب وي .اوس پوهه شي چه بدل لوستل ولے مختار دے. ددے وجه دادہ چه قلیلٌ مرفوع اولوستے نوبدل به شي.دفعلوه واوضمیر نه اوقیلًامنصوب اولوستے شي نودا به مستثنیٰ شي. اویاد ساتئ چه دبدل په صورت کښې بغیر واسطے دالا فعل مذکور عمل کوي ځکه چه دبدل عامل دمبدل منه عامل وي.اومنصوب مستثنیٰ کیدو په صورت کښې په واسطه د الاعمل کوي اودا خبره ظاهره ده چه اعراب دواسطے مختار وي په نسبت اعراب بالواسطه په دے وجه مصنف اوفرمائیل ویختار البدل بدل لوستل مختار دي.

سوال: ذبدل مختار کبدل خویو طرفته تړد دلته خوذ سره هیڅ درست نه دے په دے وجه چه بدل اومبدل منه کښے نفی او اثبات کښے اتفاق وی اوحالانکه دلته اختلاف دے ماجاء نی القوم الازیدٌ مبدل منه دجهت نفی ده اوحالانکه بدل کښے اثبات دے؟

جواب: داحکم داباب استثناء په غیر کښے دے اوباب استثناء کښے نَفْيًا وَاِثْبَاتًا مختلف وی ځکه چه داکَ اِلَّا په وجه اختلاف راځی. که چرے اختلاف نه وی نوبیاخو به الاغوی شی. ځکه دَالا اعتبار په معنی کښے وی په اعراب کښے نه وی.

قوله وَيُعْرَبُ عَلٰى حَسْبِ الْعَوَامِلِ إِذَا كَانَ الْمُسْتَثْنٰى مِنْهُ غَيْرَ مَذْكُوْرٍ وَهُوَ فِيْ غَيْرِ الْمُوْجَبِ لِيُفِيْدَ مِثْلُ مَاضَرَبَنِيْ اِلَّا زَيْدٌ. د حکم ثالث بیان دے اولفظ حسب په معنی مقتضی دے ددے مطلب دادے چه مستثنیٰ دعواملو دمقتضی سره معرب وی که د عامل مقتضی رفع ده نومرفوع به شی که چرے متقضی نصب وی نومنصوب به شی. که چرے مقتضی جروی نومجرور به شی. اودلته علی په معنیٰ کبادة ددے حکم دپاره دوه شرطونه دی. (۱) شرط اول چه مستثنیٰ منه مذکور نه وی په دے وجه که چرے مستثنیٰ مذکوروی نودوه حالو نه به خالی نه وی کلام موجب کښے به وی یا کلام غیرموجب کښے ددے دواړو صورتونو حکم مخکښے تیرشوے دے چه پرومبی صورت کښے نصب واجب اودونم صورت کښے نصب جائز اوبدل مختار.

سوال: دمستثنیٰ عامل حسب اعراب وی ددے عامل نه څه مراد دے دمستثنیٰ منه عامل دے یادمستثنیٰ که چرے عامل مستثنیٰ مراد وی نو داشرط باطل دے ځکه چه مستثنیٰ همیشه دخپل عامل دمقتضیٰ سره معرب کیږی خواه مستثنیٰ مذکور وی یا مذکور نه وی که چرے مراد عامل مستثنیٰ منه وی نوداهم باطل دے په دے وجه چه مامررت الابزیدٍ کښے زیدٍ مستثنیٰ ده ددے باوجود کمستثنیٰ منه د عامل کمتقضی سره مجرور نه وی ځکه چه داد خپل عامل یاسره مجروروی.

جواب: د عامل نه مراد کمستثنیٰ منه عامل دے اوزید باندے چه کومه باداخله ده داهغه باده چه مستثنیٰ منه باندے داخله وه اصل عبارت داوو مامررت باحدٍ الازیدٌ نومستثنی منه محذوف

كړے شوه اوبيا دَمستثنیٰ په طرف منتقل كړے شوه نو زيد عامل هم دَمستثنیٰ منه لفظًا مجرور دے .اومحلًا منصوب دے څكه چه دَباپه واسطے سره دامفعول به غير صريح دے. ليكن دَنصب عامل فعل دے اوداهم دَ مستثنیٰ منه عامل دے نودَمستثنیٰ دوه عامل دی. يو باحرف جر اودونم مررتُ دَ فعل اول عمل په واسطه دَالا جر لفظي او د دونم عمل په واسطه بانصب محلي دے .پادساتي دنه مستثنیٰ ته مستثنیٰ مفرغ ونيلے شي. دَمفرغ معنی خودادہ چه هغه دَ څه كار نه بند كړے شوے وی. اوفارغ كړے شوے اودلته مفرغ ورته په دے وجه وائي چه مستثنیٰ منه حذف كړے شوه دَهغے عامل په ديكښے عمل كولو نه بند كړے شوے دے .نوپه دے وجه ديته مستثنیٰ مفرغ نه ونيلے شي.ليكن لهٔ حذف كړے شو. اوس ديته مستثنیٰ مفرغ ونيلے شي. لكه دَ مشترک فيه دنه فيه حذف كړے شوه مشترک ورته ونيلے شي.مستثنیٰ كلام غيرموجب كښے واقع وی. چه ددے علت مصنف خپله بيان كړو ليفيد مثل ماضر بني الازيدٌ دا شرط نے په دے وجه اولګولو چه دَكلام معنی صحيح شي .لكه ماضربني الازيدٌ معنی درست ده چه متكلم ماسوادَ زيد نه هيڅا نه دے وهلے ليكن كه چرے داكلام موجب وی كله ضربني الازيدٌ ددے معنی بالكل غلطه جوريږی. څكه چه معنی به داشي چه ماسوا دَزيد نه ټولو انسانانو اووهلو اوداخبره ظاهره ده چه دانامكن اومحال دے درست .

قولهٔ اِلَّا اَنْ يَّسْتَقِيْمَ الْمَعْنٰى مِثْلُ قَرَاْتُ اِلَّايَوْمَ كَذَا ددے دونم شرط علت صحت معنی وو. په دے وجه مخكښے استثناء بيانوی كه چرے معنی صحيح وی نو په كلام موجب كښے هم واقع كيدے شي. دَصحت معنی دوه صورتونه دی.(١) حكم داسے وی چه بعضے افراد دَجنس كل افرادو دَپاره ثابت وی .لكه يُحَرِّكُ الْفَكَّ الْاَسْفَلَ عِنْدَ الْمَضْغِ اِلَّا تَمْسَاحَ الخ په ديكښے مستثنیٰ منه محذوف ده كُلُّ حيوان چه دَ هغے دَكل افرادو دَپاره داتحريک ثابت دے سوا دَتمساح نه چه ديته په اردو كښے ناكاونيلے شي. (٢) داسے قرينه وی چه په دے دلالت اوكړی چه مستثنیٰ منه بعضے معين دی چه په ديكښے مستثنیٰ يقينًا داخل ده. لكه قرأت الايوم كذادلته مستثنٰی منه محذوف معين ده څكه دَددنيا ټولے ورځے مراد كيدے نشي څكه چه ددنيا دَتمامو ورځو دَقائل وجود هيڅ موندے نه شي. نوبيا په ديكښے قرأت څه رنګ موندے شي. نولهذا بعضے ورځے مراد دی نوهمدغه

مستثنیٰ منه به مراد وی مثلًا اُسْبُوْعٌ دادَ سُبْعٌ جمع ده او سُبْعٌ اووم‌ے حصّے ته وئیلے شی .

سوال: لکه څه رنګ چه دَکلام موجب په صورت کښے بعضے ترکیبونه غلط دی لکه چه مثال تیر شوے دے. نوهمدغسے دَکلام غیر موجب په صورت کښے هم بعضے ترکیبونه غلط دی. دَمعنی کپاره مفید نه وی لکه مَامَاتَ اِلَّا زَیْدٌ لهٰذا دَصحت معنی شرط کلام موجب اوغیر موجب دواړو کښے پکار وو؟

جواب: اعتبار دَکثرت استعمال وی اودَکثرت استعمال نه کلام غیرموجب کښے معنی صحیح کیږی په دے وجه دافرق کینبودے شوے دے.

قوله وَمِنْ ثَمَّ لَمْ یَجُزْ مَازَالَ زَیْدٌ اِلَّا عَالِمًا. په دے عبارت کښے ماقبل باندے دَتفریع بیان دے چه مازال زیدٌ الاعالمًا والا مثال جائز نه دے ځکه چه دَمستثنیٰ مفرغ دپاره داقاعده وئیلے شوی ده. چه معنی درست پکار ده اوپه دے عبارت کښے معنی درست نه ده ځکه چه تقدیر عبارت به داسے شی. مازال زیدٌ مُتَصِفًا بِجَمِیْعِ صِفَاتٍ اِلَّا عَالِمًا معنی به داشی چه زید ما سوا دَعلم نه دَ تمامو صفاتو سره متصف شو. اوداخبره ظاهره ده چه دا معنی بالکل غلط ده اودامعنی په دے وجه کوی چه زال په دیکښے نفی والا معنی په ماپه باندے داخل شو .نونفی النفی اوشوه اوقاعده ده چه نفی النفی اثبات اوداً مازال خپل فاعل یعنی اسم دپاره دائمی او استمراری طورباندے خبر ثابتوی .

قوله وَاِذَا تَعَذَّرَ الْبَدَلُ عَلَى اللَّفْظِ فَعَلَى الْمَوْضِعِ مِثْلُ مَاجَاءَ نِیْ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا زَیْدٌ وَلَا اَحَدٌ فِیْهَا اِلَّا عَمْرٌو وَمَا زَیْدٌ شَیْئًا اِلَّا شَیْءٌ یُعْبَأُ بِهٖ لِاَنَ مِنْ تَزَادُ بَعْدَ الْاِثْبَاتِ وَمَا وَلَا لَاتُقَدَّرَانِ عَامِلَتَیْنِ بَعْدَهٗ لِاَ نَّهُمَا عَمَلَتَا لِلنَّفْیِ وَقَدِ انْتَقَضَ النَّفْیُ بِاِلَّا. مصنف تراوسه پورے دَمستثنیٰ باعتبار اعراب درے قسمونه بیان کړی دی. (۱) هغه مستثنیٰ چه دَهغے اعراب نصب وی (۲) هغه مستثنیٰ چه په هغے باندے نصب جائز دے اوبدل کیدل مختار دی. (۳) هغه مستثنیٰ چه دَهغے اعراب علی حسب العامل وی په دے عبارت کښے مصنف دَ دوئم قسم هغه ددے مقامات بیانوی. چه په هغے کښے دَمستثنی مستثنیٰ منه نه دَلفظ په اعتبار سره بدل جوړول مشکل دی بلکه دغه مواضعو کښے مستثنیٰ په اعتبار دَمحل مستثنیٰ بدل وی ددے حاصل دادے چه کله مستثنیٰ دَمستثنیٰ

منه دَلفظ نه بدل جوړول متعذر وی نودَمستثنیٰ منه دَلفظ نه بدل نه شي جوړېدے . بلکه دَمحل نه به جوړشي. دَلفظ نه په دے وجه نه شي جوړېدے چه که چرے زيد په لفظ احد باندے محمول کړے نومن به دَمغے په شروع کښے زائد منلے شي .ځکه چه بدل دَ تکرار عامل په حکم کښے وی . حالانکه دلته دَمن زيادتی دَزيد په شروع کښے نه شي کيدے ځکه چه .

قاعده: دَه چه نفی استغراقيه دَنفی نه پس زائد وی .دَاثبات نه پس زائد نه شي کيدے. اودلته دَنفی الاپه وجه ماتـه شوی دَه اوکلام مثبت جوړشوے دے. لهذا زيد دَلفظ احد نه نه شي جوړيدے. بلکه دَمحل نه به جوړيږی اودَاحد محل رفع دَه نو دلته به رفع لوستلے شي. وَلَا اَحَدٌ فِيْهَا اِلَّا عَمْرٌو وَمَا زَيْدٌ شَيْئًا اِلَّا شَيْءٌ لَا يُعْبَأُ بِهٖ دغه دواړو مثالونو کښے هم دَمستثنیٰ منه دَلفظ نه بدل نه شي جوړولے په دے وجه چه پرومبی مثال کښے لفظ لا دَعمرو نه مخکښے اودوئم مثال کښے ماد شیٌ نه مخکښے مقدر منلے شي. حالانکه دلته دَما اولامقدر منل درست نه دی ځکه چه فائده دَه چه مااولا دَعامل کيدوپه صورت کښے دَاثبات نه پس نه شي مقدر کيدے په دے وجه ددے دواړو عمل دَ نفی دَوجے نه وی .اودلته دَالا دَوجے نه دَنفی والامعنی ماته شوی دَه. لهذا چه کله دَمستثنیٰ منه دَلفظ نه بدل جوړول جائز نه دی نودَمحل نه به بدل جوړولے شي. اوهغه رفع دَه نودواړه به مرفوع لوستلے شي. په خلاف دَليس زيدٌ شيئًا.

سوال: دَ شيءٌ صفت لايُعبَأُ ولے راوړلے شوے دے؟

جواب: داصفت بعضے نسخو کښے دے اوپه دے وجه راوړلے شوے دے .چه مستثنیٰ منه اودَمستثنیٰ ترمينځ مغائرت اوشي. اودَ استثناء الشيء من نفسه توهم پيدا نه شي بيا سوال کيږی چه په کومونسخو کښے نشته نوهلته مغائرت به څه رنګ کيږی؟ددے جواب دادے چه شي مستثنیٰ باندے تنوين تنکير دَپاره دَتحقير دے. نوپه دے صورت کښے به مغائرت پيدا شي .چه اول عام دے اودوئم خاص دے بخلاف ليس زيدٌ شيئًا الاشيئًا لانها عملت للفعلية ولا اثر النقض معنی النفی لبقاء الامر العاملة هي لاجله چه مااولا هغه خودَنفی دختميدو په وجه ددے عمل ختميږی ليکن ليس زيدٌ شيئًا لاشيئًا دامثال درست دے ځکه چه دليس عمل دَ فعلية په وجه سره دے. دَنفی په وجه نه دے. لهذا دَ نفی والا معنی ختم هم شي بيا به هم عمل کيږی.

سوال: ليس زيدٌ شيئًا الاشيئًا دا درست دے چه شيئًا ثاني دَشيئًا اول دَمحل نه بدل مقرر كړے شي. اومرفوع به لوستلے شي ځكه چه دا په اعتبار دَاصل خبر دَمبتداء دے ؟

جواب: هرگزنه ددے تفصيل دادے چه كوم افعال وحروف مبتداء خبر باندے داخل شي هغه نحويان نواسخ گڼري . اوهغه افعال دادي . (۱) افعال مقار به (۲) افعال ناقصه (۳) افعال قلوب اوهغه حروف دادي. (۱) حروف مشبه بالفعل (۲) ماولا مشبه بليس (۳) لانفي جنس ديته نواسخ په دے وجه وائي چه داڅمبتدا خبرعامل معنوي منسوخ كوي ددے عمل باقي نه پاتے كيږي ځكه چه داعامل لفظي دے. اگرچه هغه عامل معنوي وو اوعامل لفظي قوي وي دَ عامل معنوي نه البته دغه افعالو اوحروفو كښے څه قدرے فرق دے. چه كوم افعال عامل دي دَهغے عمل قوي وي اودَ حروفو عمل ضعيف وي .ددے وجے نه دا افعال چه كله داخليږي. نودَعامل معنوي عمل بالكل ختميږي نه لفظا باقي پاتے كيږي نه محلًا په دے وجه دَليس خبر محل رفع كښے نه پاتے كيږي په خلاف دَحروفو چه ددے دَداخليدو باوجودَ عامل معنوي عمل لفظا خو نه پاتے كيږي ليكن ددے په عمل كښے دَضعيف په وجه معني ددے اعتبار باقي پاتے كيږي چه دَهغے تفصيل دادے چه په ديكښے چه كوم حروف جمله كښے نقيًا تغيرنه كوي په دے كښے دَعمل محلي اعتبار بلا ضرورت جائز دے. لكه اِنَّ زيدا قائمٌ وعمروٌ چه عمروٌ په زيدًا باندے په اعتبار دَمحل معطوف قرار كيدو سره مرفوع لوستلے كيږي اوچه كوم حروف نفسيًا په جمله كښے تغير پيدا كوي لكه ماولا ددے خبر ياپه ديكښے دَعمل محلي اعتبار بغير دَ ضرورت نه جائز نه دے لكه مازيدٌ شيئًا الاشئ كښے په ضرورت دَبدل دَماپه خبر كښے دعمل محلي اعتبار كړے شوے دے. چه دابدل په اعتبار دَلفظ متعذر دے اونصب بنا براستثناء دَقليل كيدو نه علاوه بدل من اللفظ دَپاره موهم دے. په دے وجه دَشيئًا نه باعتبا محل بدل قرار كړے شي مرفوع به لوستلے شي.

قولُهٗ وَمِنْ ثَمَّ جَازَ لَيسَ زَيْدٌ اِلَّا قَائِمًا. په دے وجه يعني دَليس عمل نفي كولو په وجه سره نه بلكه دَفعليت په وجه سره دے بلكه دَ ماولا عمل دَنفي په وجه سره وو نو لهذا هلته ما زيد الا قائما لوستل جائز نه دي. ليكن دلته ليس زيدٌ الا قائمًا لوستل جائز دي.

ضابطه مستثنیٰ مفرغ مفعول معه نه واقع كيږي. باقي دَفعل تمام مفعولات مستثنیٰ مفرغ واقع

كيږي (ان شئت فارجع الى الشروح والمطولات)

قَوْلُهُ ومَخْفُوْضٌ بَعْدَ غَيْرَ وَسِوٰى وَسِوَاء وَبَعْدَ حَاشَا فِي الْاَكْثَرِ. دحكم رابع بيان دے چه مستثنیٰ غیر، سُوىٰ، سواء نه پس مجرور وي. ځكه چه دا الفاظ مضاف وي اودَ مستثنیٰ مضاف اليه په وجه هم مجرور وي . يادساتئ سوىٰ كښے دوه لغتونه دي سِوىٰ بكسرالسين يا بضم السين سُوىٰ ليكن په دواړو صورتونو كښے دامع القصر دے اول مشهور اوثاني غير مشهور دے اوسواء كښے هم دوه دي. اول بفتح السين سَوَاءٌ اودوئم بكرالسين سِوَاءٌ دواړه مع المد دي. ليكن اول مشهور اوثاني غيرمشهور دے اودَامستثنیٰ دَحاشانه پس اكثر مجروروي. يادساتئ چه ددے مدخول لفظاً مجرور وي. اومحلا منصوب وي . دَمستثنیٰ په بناء باندے لكه څه رنګ په خلا اوعدا كښے چه كله حروف جاره وي اودا هم يادساتئ چه حاشا كله كله په معنى دَجانب فعل وي لكه دَرسول اكرم ﷺ ارشاد دے اسامة احب الناس اِلَيَّ حاشا فاطمة وَلَا غير ها. اوداكله كله اسم په معنى تنزيه هم راځي .لكه په قرآن مجيد كښے دي. حَاشَ لِلّٰهِ ماهذا بشرٌ(١٢ :١٣) داحاشا حرفيه سره لفظًا اومعنًا دَمشابهت په وجه مبني دے. لكه څه رنګ حرفيه دَخپل مدخول نه دَماقبل والا حكم نفي كوي داهم دَمدخول نه دَانقص نفي كوي. يادساتئ دَحاشا آخري الف كله تخفيفاً حذف كيږي .لكثرة الاستعمال لكه په قرآن مجيد كښے حاش بغير دَالف نه مكتوب دے.

قَولُهٗ وَاِعْرَابُ غَيْرَ فِيْهِ كَاِعْرَابِ الْمُسْتَثْنٰى بِاِلَّا عَلَى التَّفْصِيْلِ. ځكه چه غير سوىٰ سواء اسم متمكن دي. په دے وجه ددے اعراب بيانول غواړي چه لفظ غير دَخپل مابعد والا مستثنیٰ اعراب خپله قبلوي . چه كله څه رنګ دَمستثنیٰ بالا اعراب وو همدغه اعراب دَلفظ غير به وي چه دَهغے تفصيل دادے چه ددے شپږ صورتونه دي. (١) كلام موجب كښے وي لكه جاء ني القوم غير زيدٍ (٢) مستثنیٰ منه باندے مقدم وي لكه جاء ني غير زيدٍ احدٌ(٣) مستثنیٰ منقطع دَ غير نه پس وي .لكه جاء ني القوم غير حمارٍ يا ما جاء ني القوم حمارٍ په دے درے واړو صورتونو كښے به نصب واجب وي.(٤) جواز نصب اواختيار بربدل لكه ماجاء ني احدٌ غير زيدٍ بنا براستثناء اوغير زيدٍ برفع غير بنا بربدل (٥) اعراب على حذف العوامل په صورت كښے ماجاء ني غير زيدٍ وما مررت بغير زيدٍ وما

رأیت غیر زید (٦) تعذر بدل باعتبار لفظ لکه ماجاء نی من احد غیر زید برفع دَغیر دابه بدل شی دَلفظ احد دَمحل نه.

سوال: لفظ غیر په استثناء کښې دَ الا قائم مقام دے نولفظ غیر دَمستثنیٰ دَاعراب دپاره واسطه شوه لکه څه رنګ دَ الا په موجودګئ کښې اعراب په مستثنیٰ باندے راځی نو دَغیر په موجودګئ کښې هم اعراب په مستثنیٰ باندے راتلل پکار وو؟

جواب: دَ مستثنیٰ په طرف دَغیر دَاضافت په وجه مستثنیٰ مجرور شوے دے. اوس هغه اعراب لفظ غیر باندے ئے جاري کړو. لکه څه رنګ عبدالله حالت علمیت کښې دَجز اخیر اعراب جزاول باندے ئے جاري کړو. ځکه چه جزا خیر مضاف الیه کیدو په وجه مجرور شوے دے.

سوال: لفظ غیر چه کلهَ الا معنی ته متضمن شو. باب استثناء کښې مبنی ولے نه شوه؟

جواب: مبنی په دے وجه نه شوه چه لازم الاضافت دے او اضافت مبنی کیدو نه مانع دے. ځکه چه دَاسم متمکن دَ خواصو نه دے لهذا دامبنی نه شوه.

قوله وَغَيْرُ صِفَةٌ حُمِلَتْ عَلٰى اِلَّا فِي الْاِسْتِثْنَاءِ كَمَا حُمِلَتْ اِلَّا عَلَيْهَا فِي الصِّفَةِ اِذَاكَانَتْ تَابِعَةً لِجَمْعٍ مَنْكُوْرٍ غَيْرِ مَحْصُوْرٍ لِتَعَذُّرِ الْاِسْتِثْنَاءِ مِثْلُ لَوْكَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا.

مصنف دَلفظ غیر حقیقی اومجازی معنی بیانوی چه لفظ غیر په اعتبار دَوضع سره صفت دے په معنی دَمغائر اودا په دے خبره باندے دلالت کوی چه ددے مابعد دَماقبل موصوف مغائر وی. خواه په ذات کښې لکه مررت برجل غیر زید یا په وصف کښې لکه دخلت بوجه غیرالوجه الذی خرجت به لیکن کله مجازًا په معنی دَ الا استعمالیږی اودَ الاحقیقی معنی مغایرت مابعد لما قبل فی الحکم اوکله الا مجازًا په معنی دَغیر استعمالیږی. لیکن دا به هغه وخت وی چه کله دَمابعد مستثنیٰ متصل یامنقطع کیدل متعذروی. اویاد ساتئ دا تعذر اکثر وبیشتر هغه وخت وی چه کله الاجمع منکور غیر محصور نه پس واقع وی. خواه جمع لغوی وی یعنی هغه اسم چه مافرق الواحد باندے دلالت اوکړی خواه جمع اصطلاحی وی. لکه رجالٌ یااسم جمع لکه قومٌ یاتثنیه لکه رجلان چه دَ الاوصفیت حال دَ الا استثنائیه دَحال سره موافق پاتے شی. یعنی لکه څه رنګ الا استثنائیه دَتعدد نه پس واقع کیږی. نوداهم دَتعدد

نه پس به واقع وي. اودَ منكورٌ نه مراد نكره ده نودد ے نه تمام قسم معرفه به خارج شي. اودَجمع په قيد سره علم خارج شو اوغير محصور وي پادسائي لتعذر الاستثناء لام تعليليه نه ده بلكه دا لام دَ ظرفيت ده اوس معنى به داشي .چه الا په معنى غير استعمال كړے شوے دے .جمع منكور غير محصور نه پس په وقت تعذر استثناء كه چرے لام تعليليه مراد واخستے شي. نوپه دے به سوال كولے شي. چه جاء ني رجالٌ الارجلًا جمع منكور غير محصور دے بياهم استثناء متعذر نه ده ځكه چه مستثنىٰ منقطع ده په دے وجه چه رجالٌ كښے باليقين داخل نه دي ځكه چه رجالٌ عبارت دے دَجماعة نه اورجلٌ كښے جماعة نشته دَالاصفتيه مثال لوكان فيهما الهة الا الله لفسدتا په ديكښے الا په معنى دَغير دے . په دے وجه دلته الا استثنائيه نه شي جوړيدے .ځكه چه استثناء متعذر ده باقي پاتے شوه دا خبره چه مستثنىٰ متعذر ولے ده ددے وجه دادة چه په ديكښے دَعدم استغراق اوعدم عهد اسم جلالت دخول اودَعدم دخول په اله كښے يقيني نه دے. ترد ے پورے چه دا مستثنىٰ متصل يا منقطع جوړه كړے شي. ځكه چه دَ متصل ددخول يقين ضروري دے .اودَ منقطع دَپاره دَعدم دخول اويدل جوړيدل هم درست دي. ځكه چه هغه كلام غيرموجب كښے وي اوچه كله داكلام موجب دے اودَ لونه نفي معنوي چه مستفادكيږي هغه معتبر نه دے.

سوال: عدم دخول يقيني دے ځكه چه مستثنىٰ منه الهة جمع ده او اسم جلالت واحد دے او واحد دَجمع فرد نه وي لهذا دا مستثنىٰ منقطع شوه اودَالا په معنى دَغيركيدل غير صحيح ځكه چه په معنى دَ غير په هغه وخت وي چه كله مستثنىٰ متصل او منقطع دواړه متعذر وي.

جواب: داخبره درست ده چه په وجه دَمذكور مستثنىٰ منقطع متعذر كيدل ساقط شو اوعدم استغراق اوعدم عهد نه صرف و مستثنىٰ متصل تعذر ثابت شو. ليكن معنوي حيثيت سره دلته دواړه متعذر وي. وجه دَتعذر دادة چه آيت كريمه بالاجماع دَاثبات توحيد دَپاره بيان كړے شوے دے. اواستثناء مطلق په صورة كښے اثبات دَتوحيد نه كيږي ځكه چه دَ استثناء په صورت كښے صرف ددغه الهونه په نفي اوشي. چه دَهغے له به اسم جلالت مستثنىٰ شي. اوهغه الهه چه دَهغے نه اسم جلالت مستثنىٰ نه ده ددے احتمال به باقي پاتے شي. اودا احتمال دَتوحيد منافي دے اوچه كله الا په معنى دَ غير وي نو دواړه احتمالات منتفي كيږي اوتوحيد ثابتيږي لهذا الا په معنى دَغير كيدل متعين

شو.

فائده: الاحرف دے یااسم په دیکښے اختلاف نشته دجمهورو په نیزد داحرف دے ځکه چه دکلمے اسم فعل کیدل په اعتبار دَ معنی حقیقی وی. مجازی معنی په اعتبار سره نه وی. اودا الامجازًا دَغیر په معنی کښے دے. په دے وجه خپل حیثیت بانـدے داقانم اوباقی دے. په دے وجه ددے دَپاره محل اعراب نشته. ځکه چه دَحرف دَپاره محل اعراب نه وی اودَالله مجموعه صفت دے دَالهته نه چه صرف دَ الا حرف صفت اونه صرف داَسم جلالت صفت. ځکه چه حرف او علم نه واقع کیږی اعراب اسم جلالت بانـدے به وی لکه جاء نی رجلٌ لاعلمٌ کښے مجموعه لاعالمٌ صفت دے دَرجلٌ نه فقط لاصفت دے اونه فقط عالمٌ صفت دے چه دادَ مقصود خلاف دے ځکه چه مقصود دا وو چه ماته غیر عالم سړے راغے اوس معنی به داشی. چه ماته عالم سړے راغے البته اعراب عالمٌ بانـدے دے. اوبعضے نحویان دا وائی چه داکلمه په اعتبار دَمعنی مجازی اسم دے. دَبعضو په نیزد کلمه په اعتبار دَمعنی مجازی هم اسم فعل حرف وی په دے وجه دوئ وائی چه الا په معنی غیر اسم دے اومضاف دے لیکن صورةً په حرف کښے کیدو په وجه ددے اعراب یعنی رفع مابعد اسم جلالت په طرف منتقل شو. اوس اسم جلالت ددے اعراب سره مرفوع لفظًا دے اودَ مضاف الیه کیدو بناء بانـدے مجرور تقدیرًا دے. او استفهام په فعل بانـدے داخلیږی.

قولُهٗ وَضَعُفَ فِیْ غَیْرِهٖ

مصنف الا په معنی غیر شرائطو بیانولو نه پس اوس دا بیانوی چه که چرے شرائط مذکور بیا نه مونـدے شی. نودَاِلا په معنی دَغیر مستعمل کیدل ضعیف دی. وجه داده چه دَشرائط مذکوره په موجودگئ کښے غالب اوعدم موجودگئ کښے شاذ به وی او قاعدہ ده چه الشاذ کالمعدوم.

فائده: دَامام سیبویه مذهب دادے چه بغیر تعذر استثناء هم الا په معنی دَغیر کیدے شی. لکه هغه فرمائی ماجاء نی احدٌ الا زیدًا کښے الازیدًا دَ استثناء په بنا بانـدے صحیح دے اوالا زیدٌ دحمل په بنا بانـدے جائز دے. اواکثر متاخرینو هـذا غوره کړے دے اوپه دے مذهب بانـدے داشعر پیش کوی.

وَ كُلُّ اَخٍ وَفَارِقُوْهُ اَخُوْهُ
لَعَمْرُ اَبِيْكَ اِلَّا الْفَرْقَدَانِ

په دیکښے کُلُّ اخٍ په معنی مذکور جمع منکور دے مگر غیر محصور نه دے بلکه محصور دے نوپه دیکښے درنم شرط مفقود دے. نوبیا هم شاعرالّا په معنی دَ غیر استعمال کړے دے الا الفرقدین ونیلے الاالفرقدان مرفوع کیږ وپه صورت کښے به نے پیش کولے نه .

قوله وَاِعْرَبُ سِوَاىٰ وَسَوَاءَ النَّصْبُ عَلَى الظَّرْفِ عَلَى الْاَصَحِّ

دَلفظ غیر اعراب بیانولو نه پس مصنف دَلفظ سویٰ اولفظ سواءَ اعراب بیانوی. چه دابنا برظرفیت منصوب وی. لفظ سویٰ کښے نصب تقدیری اوسواء کښے نصب لفظی وی. په اصح مذهب باندے دااصح مذهب دَسیبویه دے چه نحاة بصریه ممتاز دے اودا دواړه د دویٰ په نیزد لازم الظرفية وی اگر چه دَ کوفینو په نیزد مقام استثناء کښے هغه دَ غیر په شان دے. په دے باندے رفع ،نصب جر درے واړه اعراب راځی. لکه غیر باندے راځی.

قوله خَبَرُ كَانَ وَاَخَوَاتِهَا هُوَ الْمُسْنَدُ بَعْدَ دُخُوْلِهَا مِثْلُ كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا.

مصنف دَمستثنیٰ دَفراغت نه پس دَمنصوباتو نهم القسم باب کان خبر بیانول غواړی.

تعریف :. خبردکان واخوانها داسے اسم منصوب چه کان اوددے دَاخواتو داخلیدو نه پس مسند وی لکه کان زيدٌ قائمًا.

سوال: په کتاب کښے خودَ القم ذکر نشته ستاسو ددے په تقدیر کښے دَکوم قرینے سهاره اخستی ده؟

جواب: قرینه دلته دادہ چه دلته بحث هداسم منصوب دے اوخبرکان وغیرہ ددے فرع ده اودَنوع په تعریف کښے جنس معتبر وی.

سوال: داتعریف غلط دے. په دے وجه چه دادَ معرف په یو فرد باندے صادق نه راځی ځکه چه قائمًا دَکان خبر خودے لیکن په دے باندے صرف کان داخل دے. ددے اخوات داخل نه دی حالانکه ستاسواونیل چه کان اوددے اخوات داخل وی؟

جواب: دلته ددخول نه پس دَضمیر ها نه مخکښے مضاف محذوف دے .بعد دخول احدها اوس معنی به داشی چه هغه داسے اسم منصوب دے چه کان اودَهغے دَاخواتو نه چرته یوداخلیدو نه پس مسند وی لهذا دا تعریف به صادق راشی اوجامع به شی.

سوال: دمضاف مقدر منلو باوجود بیاهم داتعریف درست نه دے .په دے وجه چه دَهوضمیر مرجع څه ده. یاخوکان اودَهغے دَاخواتو خبر دے . نودے صورت کښے مجموعه اخبار معرف شی. اوداخبره ظاهره ده چه مجموعه اخبار باندے داتعریف صادق نه راځی.ځکه چه مجموعه اخبار خوهغه دی چه دَټولو داخلیدو نه پس مسند وی. اوکه مرجع خبرکان اوخبر اخواتو نه هریوجوړه کړے شی. نوپه دے صورة کښے دَکان خبر باندے خوداتعریف صادق راشی چه هغه ددینه یویعنی دَکان دَدخول نه پس مسند وی لیکن دَ اخواتو په خبر باندے صادق نه راځی. چه هغه دَټولو اخواتو دَدخول نه پس مسند به شی. نه ددینه دَیودَ داخلیدو نه پس.

جواب: دلته دَهو ضمیر دواړه مرجع نشته بلکه دلته مضاف مقدر دے . خبر باب کان واخواتها لهذا دَهوضمیر مرجع هدغه خبربه شی. چه لفظ باب په طرف مضاف دے اوهدغه به معروف وی نواوس تعریف به بالکل صحیح شی په دے تعریف کښے چه ستاسو الاسم مقدر اومنلو داجنس دے. المسند داقید اول دے فصل اول دے ددینه تمام منصوبات چه مسندالیه وی مثلاً اسم دَانّ وغیره به خارج شی اودَبعد دخولها په قید سره هغه اسماء منصوبه چه مسند وی هغه به هم ددینه خارج شی.

سوال: مصنف دکان دَخبر ذکر خو کړے دے چه منصوباتو کښے لیکن افعال ناقصه اسم ئے په مرفوعاتو کښے ذکر نه کړو ددے څه وجه ده؟

جواب: په دے وجه چه خبر خود ملحقات بالمفعول نه دے اواسم ملحقات فاعل نه نه دے بلکه په فاعل کښے داخل دے .په دے وجه خبرئے ذکرکړو اواسم ئے ذکرکړو.

سوال: په فاعل کښے څه رنګ داخلیږی هغه اسم دَفعل فاعل سره ملاؤ کړے کلام پوره کیږی اودَکان وغیره اسم سره ملاؤکړے پوره کیږی نه نو دا څه رنګ داخلیږی؟

جواب: دَفعل دَفاعل ملاؤ یدو سره دَ کلام تام کیدل ضروری نه دی. په دیکښے چه کوم اسناد

مذکور شوے دے هغه په معنیٰ دَنسبت دے چه نسبت تام اونسبت ناقص دواړه ته شامل دے.

قـولـهٗ وَاَمْرُهٗ كَاَمْرِ خَبْرِ الْمُبْتَدَاءِ مصنف دَکـان دَخبـر حـکم بیانول غواړی چه دَکان دَخبر حکم په اقسامو احوالو او شرائطو کښے دَخبر په شان دے .چه لکه څه رنګ چه دَمبتدا دَ خبر دااقسام دی مفرد جـلـمـه ، مـعـرفه نکره دغه رنګ ددے هم هم‌دغه اقسام به شی. اولکه څه رنګ دَمبتدا دَخبر دااحوال دی واحـد کیـدل ،متعددکیدل، مذکورکیدل، محذوف کیدل دغه رنګ ددے هم دا احوال دی اولـکه څه رنګ دَمبتدا خبر دَ جملے دَپاره عائدکیدل ضروری دی. دغه رنګ ددے دَخبر هم چه کـلـه جـمله وی اوڅه رنګ دَمبتدا خبر مشتق دَپاره عائد کیدل ضروری دی. دغه رنګ ددے دَپاره هم چه کله مشتق وی چه لکه څه رنګ دَمبتدا دَخبر عائد بغیر دَقرینے نه حذف کول جائز نه دی دغه رنګ ددے دَ عائد حزف کول هم جائزنه دی.

قولهٗ وَيَتَقَدَّمُ مَعْرِفَةً دادَکـلام سابق نه په منزله دَاستثناء دے دادَکان خبروغیره دَحکم تمام احوالو کښے دَمبتـدا دَخبـرپـه شـان دے لیکن په یوحالت کښے نه هغه دادہ .چه داخبرہ معرفه کیدو په صورة کښے مقدم کیږی په خپل اسم باندۓ لیکن دَمبتدا خبر په مبتدا باندے نه مقدم کیږی.

سوال: دَمـعرفه دلته تخصیص راوړل بے سودده په دے وجه چه نکرہ مخصصه کیدو په صورت کښے هم ددے تقدم جائز دے لکه كَانَ اَفْضَلَ مِنْكَ زَيْدٌ؟

جواب: دَمعرفه نه مراد عام دے حقیقتًا وی یاحکمًا اودانکرہ مخصصه حکمًا معرفه وی .باقی پاتے شوہ داخبـرہ چـه دَجـواز تـقـدم عـلـت څـه دے . لـو ددے جواب دادے . چه دافعال ناقصه خبر اوددے پـه اعـرابـو کښـے اختـلاف کیږی لیـکن ددے خبر منصوب وی اواسم مرفوع لهذا مقدم کولوسرہ دَخبر التباس دَاسم سرہ لازم نه راځی. په خلاف دَمبتدا خبرچه ددے په اعرابو کښے اتحاد کیږی لهذا تقدم کولوسرہ التباس به لازم راشی.

قولهٗ وَقَدْ يُحْذَفُ عَامِلُهٗ فِيْ نَحْوِ النَّاسُ مُجْزِيُّوْنَ بِاَعْمَالِهِمْ اِنْ خَيْرًا فَخَيْرٌ وَاِنْ شَرًّا فَشَرٌّ.

مـصـنف دَکـان دَخبـر بـل یـوحکم بیان غواړی چه دَمبتدا دَخبر دَپاره نه وو .هغه دادے که چرے قـریـنه موجود وی نوکله کله دغه رنګ عامل حذف کولے شی .لکه الـنـاس مُجْزِيُّوْنَ باعما لهم ان خيرٌ

مخيرٌ وان شرًّا فشرٌ چه خلقو ته به ددوی ذاعمالو بدله ورکړے شی. که چرے د دوی اعمال ښه وی نودد ے بدله هم ښه ده . اوکه چرے ددغه خلقو اعمال بد وی نوبدله به ئے هم بده وی په دے مثال کښے ذان نه پس کان فعل ناقص محذوف دے . اصل کښے وو ان کان اعمالهم خيرا په دے باندے قرينه داده چه ان حرف شرط چه په فعل باندے داخليږی اودلته په اسم باندے داخل دے . چه ذدے نه معلومه شوه چه دلته فعل محذوف دے ياد ساتئ ددے په شان مثالونو کښے څلور صورتونه جائز دی. (۱) شرط اوجزا دواړو کښے به رفع لوستلے شی. لکه ان خيرًا مخيرٌ په دے صورت کښے ذشرط دننه کان فعل محذوف به وی. اوخيرًا به ددے خبر شی .او جزاء کښے هم کان فعل به محذوف شی. اوخيرًا به ددے مفعول شی .اوخيرًا به ددے خبر محذوف شی .(۲) شرط اوجزا دواړو کښے رفع اولوستے شی. لکه ان خيرٌ فخيرٌ په دے صورت کښے ذشرط دننه کان فعل محذوف به وی. اوخيرًا به ددے اسم جوړشی. اوفی اعمالهم خبر مقدم به شی. اوجزا کښے خيرٌ خبر به واقع شی. اومبتدا به محذوف شی جزاءُ هم(۳) په شرط کښے نصب اولوستے شی اوپه جزاء کښں رفع اولوستے شی .لکه ان خيرًا مخيرٌ په دے صورت کښے کان فعل به محذوف شی. اوخيرًا به ددے خبرشی. اوذجزا دننه جزاء هم مبتدا محذوف شی اوخيرٌ به ددے خبر شی. (۴) شرط کښے رفع او جزا کښے نصب اولوستے شی .لکه ان خيرٌ فخيرٌ په دے صورت کښے ذشرط دننه کان فعل محذوف به شی. اوخيرٌ ذکان اسم مؤخر به شی. اوفی اعمالهم خبر مقدم به واقع شی. اوذجزاء دننه کان محذوف به وی اوخيرًا به ددے خبر واقع شی. اودغه څلورو صورتونو نه همدغه صورة اولیٰ دے چه هغے الفاظ کم محذوف وی.

قولُهُ وَيَجِبُ الْحَذْفُ فِيْ مِثْلَ اَمَّا اَنْتَ مُنْطَلِقًا اِنْطَلَقْتُ اَیْ لِاَنْ کُنْتَ مُنْطَلِقًا.

کله خبر ذکان عامل وجوبی طور باندے حذف کيدے شی. لکه اَمَّا انت الخ ددے نه مراد هر هغه ترکيب دے چه ذهغے په اصل کښے اَمَّا بالفتح يا امَّا بالکسره وی اوهغے نه روستو ضمير مرفوع منفصل وی اودهغے نه پس اسم منصوب وی لکه په دے مثال کښے اَمَّا انت په اصل کښے وو لِاَن کنت لام ئے حذف کړو ځکه چه لام حرف جاره حذف ذهر مصدر نه مخکښے قياسی دے بيافعل ناقص کَانَ ذ اَن يااِن شرطيه په قرينه سره حذف کړو ددے سره چه کوم ضمير مرفوع متصل وو

مغه نے دَمنفصل سره بدل کړو .

اِنْ اَنْتَ مُنْطَلِقًا بیادَ اِذْ کان محذوف په عوض کښے ما زائده راوړ ے بیا دَ نون او میم وادغام نے اوکړو نو اَمَّـا اَنْتَ مُنْطَلِقًا جوړشو. ددے حذف کول په دے وجه واجب دی چه دَ عوض اومعوض اجتمـاع لازم رانشـی. اوس بـه معـنـی داشی چه ستا دَتګ په وجه زه لاړ اووم . اواِمَّا انت بالکسر اصل دادے ان کنت چه حسب سابق عمل کړے شوے دے . سوادَ حذف لام ، دَلام حذف په دیکښے نه شی منلے . اوس ترجمه به داشی چه لاړ اووم په دے وجه چه لاړو ے.

قوله اِسْمُ اِنَّ وَاخَوَاتِهَا هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دَخُوْلِهَا مِثْلُ اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ

مـصـنف دَمـنـصوباتو لسم قسم اِنَّ اودَهغے دَاخواتو دَاسم بیان کول غواړی چه دَهغے تعریف دادے چه هغه اسم منصوب دے چه اِنَّ اودَهغے دَاخواتو دَدخول نه پس مسندالیه وی لکه اِنَّ زَيْدًا قائمٌ.

قوله اَلْمَنْصُوْبُ بِلَا لَّتِيْ لِنَفْيِ الْجِنْسِ

اوس مصنف دَمنصوباتو یولسم قسم بیانول غواړی.

سوال: عـلامـه ابن حاجب په دے مقام باندے خپل اسلوب ولے بدل کړے دے چه المنصوب بلا التی ئے اوونیل. حالانکه په ماقبل کښے اسم اِنَّ اوددغے خبرکَانَ وغیره اوونیل؟

جواب: شیخ رضی ددے جـواب ورکـړے دی چـه دَ مـصـنف کـلام په منصوباتو کښے چلیږی اوچـونـکه دَلاتمام اسم منصوب نه وو . بلکه بعضے من استغراقیه معنی ته متضمن کیدو په وجه مبنی کیږی .لـه لارجـلٌ اوچـونـکـه مـقـصود په دے مقام باندے دَاسم منصوب بیانول وو.په دے وجه مـصنف خپل اسلوب بدل کړل . اودَاسم منصوب دَمبنی نه ممتاز کولودَپاره ئے درے شرطونه بیان کړی دی. (۱)نکره وی(۲) مضاف یاشبه مضاف وی(۳) دلام نه پس بلافاصله واقع وی .

جواب: مـولانـا جامی جواب ورکړو چه ددے مطلقا دمنصوباتو نه شمارول صحیح نه دی په دے وجـه چه دااکثر مهږو نه وی بلکه اکثر غیر منصوب وی ددے وجے نه علامه ابن حاجب خپل اسلوب بدل کړے دے.

فائده: پـه دے مقام باندے مولانا جامی په مصنف باندے دا اعتراض کړے دے چه مصنف

خپل اسلوب برقرار ساتلو سره داسے ونیل پکار وو اسمٔ لالنفي الجنس دَخپل اسلوب دَ بدلولو هیڅ ضرورت نه وو په دے وجه چه دلا اسم چه کوم وي هغه منصوب وي خواه هغه لفظاوي یامحلاوی .اوچه کوم مرفوع دي هغه خو دَلااسم هډو وي نه .

سوال: دَمصنف عبارت المنصوب بلا التي لنفي الجنس نه معلومیږي چه په دے سره دَجنس نفي کیږي اوپه مثالونو سره ظاهریږي چه دصفت نفي کیږي فماذا تطبیق؟

جواب مولانا جامي ددے جواب ورکړو چه دلته مضاف سره دمعطوف نه محذوف دے .أي النفي الجنس وحکمه یاداسے تعبیر اوکړے شي .دلته مضاف محذوف دے .اي لنفي حکم الجنس په معنی دَمحکوم دے اوددے نه پس عن الجنس مقدر دے اوس تقدیر عبارت به داسے اوشي. لنفي حکم الجنس عن الجنس ددے معنی داده چه په جنس سره دَمحکوم په نفي کوي. اویاد ساتئ دَجنس نه مراد جنس لغوی دے چه دَشي قسم ته ونیلے شي .لکه انسان داجنس دے دَحیوان (حاشیه الامیر علی معنی اللبیب جلد ا صفحه ۹) کښے دي اي لنفي بعض الاحکام عن افراد الجنس الغوي بلکه دجنس نه مراد ماهیت چه دَجنس لغوی نه عام دے . (کمافی الوافیه شرح الکافیه) اوهمع الهوامع کښیئے نکره اختیار کړو چه دَډولو نه عام دے اوس حاصل به داشي چه هغه لاچه دَنکره نه دَخبر نفي کوي.

قولُهٗ هُوَ الْمُسْنَدُ اِلَيْهِ بَعْدَ دُخُوْلِهَا يَلِيْهَا نَكِرَةٌ مَضَافًا اَوْ مُشَبَّهًا بِهٖ مِثْلُ لَا غُلَا مَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِيْهَا وَلَا عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا لَكَ.

دمنصوب بلاالتي لنفي الجنس تعریف: هغه اسم منصوب دے چه مسند الیه وي په داسے حال کښے چه لانه پس بلافصل واقع وي نکره وي .مضاف یاشبه مضاف وي .سوال دَلااسم مبني ته داونیل چه مشابه دَ مضاف نه وي داغلط دي په دے وجه چه په قرآن مجید کښے دي چه لَاتَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ او لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ اَمْرِ اللّٰهِ پرومبی مثال کښے تَثْرِيْبَ اودوئم مثال کښے عاصم مبني برفتحه دے او چونکه ددے سره ظرف لغوهم موجود دے نودا دواړه دخپل ظرف لغو نه بغیر نه تامیږي نودامشبه مضاف شو.

شبه مضاف: هغے اسم ته ونیلے شي چه دَهغے معنی بغیر دَ انضمام دَامراخر نه تمام نه وي.

جواب: داستاسو سوال هله درستیږی چه کله دلته داظرف لغو وی حالانکه ظرف مستقر دے فاند فع الاشکال.

سوال: چه کله دَ لانفی جنس دَاسم تعریف بعد دَخولها پوره ے پوره شوے وو نو یـلیها نکرةً مُضَافًا اَوْمُشَابِهًا بِهٖ به دَقیدونو لګولوضرورت نه وو مصنف دے طوالت ته والے اختیار ورکړو؟

جواب: دلته چونکه دـم دَاسم منصوب تعریف کول وو. او اسم منصوب ددغه شرائطو مذکورُونه بغیر نه شو کیدے نومصنف داشرائط ذکر کړل.

قولُهٗ فَاِنْ کَانَ مُفْرَدًا فَهُوَ مَبْنِیٌّ عَلٰی مَایُنْصَبُ بِهٖ.

مصنف په دے عبارت سره ددغه شرائط او قیودو دَ فوائدو تفصیل بیانول غواړی چه که چرے دَلانه پس بلا فصل واقع مسند الیه نکره مفرد وی. یعنی مضاف اوشبه مضاف نه وی نودغه علامت په نصب بانده ے به مبنی شی. خواه دغه علامت نصب فتحه سره وی لکه لارجلًا فی الدار یا په کسره سره لکه لامسلمات فی الدار یاماقبل مفتوح سره لکه لامُسْلِمَیْنِ فی الدار یاماقبل مکسورسره لکه لامسلمین فی الدار.

سوال: دَمصنف کلام فهو مبنیٌّ علی ماینصب به دننه تعارض دے .ځکه چه کله مبنیٌّ ئے اووے نومعلومه شوه چه معرب نه دے لیکن چه کله ئے اووے علیٰ ماینصب نومعلومه شوه چه معرب نه دے لیکن چه کله ئے اووے علیٰ ماینصب نومعلومه شوه چه معرب به شی په دے وجه چه نصب دَمعرب دَعلاماتو نه دے فهل هذا الا تناقضٌ.

جواب: مولانا جامیؒ جواب ورکړو چه علیٰ ماینصب دَ ماکان په اعتبارسره دے . اومبنیٌّ دَحال په اعبتار سره دے .

سوال: دَتثنیه جمع مثال ورکول صحیح نه دی ځکه چه مصنف اوفرمائیل ان کان مفردًا اوداخبره ښکاره ده چه مفرد تثنیه دَجمع په مقابل کښے وی؟

جواب: مفرد دلته دَتثنیه جمع په مقابل کښے نه دے بلکه دَ مضاف اوشبه مضاف په مقابله کښے دے.

سوال: په اسماؤ کښے اصل خو معرب کیدل دی نودامبنی څه رنګ شوه؟

جواب: مبنی الاصل دَمِنْ معنیٰ سره متضمن دے دا په دے وجه مبنی جوړ شو.

سوال: دامبنی علی السکون ولے نه دے مبنی علی النصب ولے جوړ کړے شوے دے؟

جواب: دا اسم دغه حرکت اوحرف بانده مبنی کړے شوے دے .چه دَهغے نکره دَ خپل اصل په اعتبار سره مستحق وو مخکښے دَبناء نه چه حرکت اعرابی اوحرف اعرابی موافقت راشی. حرکت بنائ اودَحرف بنائ حتی الامکان دَعمل اصلی رعایت اوکړے شی.

سوال: مضاف شبه مضاف هم دَ مِنْ معنی ته متضمن کیږی نودائم مبنی کیدل پکار وو دامعرب کیږی ولے ؟

جواب: په دیکښے چونکه اضافت دے اودَاضافت په وجه داسم معرب معنی راجح کیږی چه دَهغے په وجه هغه په خپل اصل اعراب بانده باقی پاتے شوے دے.

قولُهٗ وَاِنْ كَانَتْ مَعْرِفَةً اَوْ مَفْصُوْلًا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ لَا وَجَبَ الرَّفْعُ وَالتَّكْرِيْرُ.

مصنف دَقیداول اوقید ثانی فائده بیانوی . چه دَ دواړو نه موندونو نه په وخت دَهغے مابعد وجوبًا مرفوع لوستلے شی .اودَهغے اسم به مکرر راوړلے شی.

سوال: دَمصنف دَکلام نه دامعلومیږی چه کله دغه شرطونه چرته دَیو انتفاء وی نوداحکم به اوشی اوکه چرے دواړه شرطونه منتفی وی نو بیا به دغه حکم نه کیږی.

جواب: مولانا جامی جواب ورکړو چه دا قضیه دَمانعة الخلو دَقبیلے نه دے عام ددینه چه دواړو شرطونه اونه موندے شی. یاکوم یوشرط اونه موندے شی. بیا به هم دغه حکم وی باقی شرط ثالث کښے تعمیم دے عام ددینه چه دَ شرط ثالث انتفاء وی یا نه بهر تقدیر حکم به داکیږی نوددینه ټول شپږ صورتونه به شی.

وجه دحصر:۔ مسند الیه به ددوه حالونه خالی نه وی معرفه به وی یانکره که معرفه وی نوبیا به دَ دوه حالونه خالی نه وی.مفرد به وی یامضاف که مفرد وی نوبیابه دَدوه حالونه خالی نه وی مفصول به وی لکه لافی الدار زیدٌ وعمرو یاغیر مفصول به وی لکه لا زید فی الدار ولاعمرو . که چرے مضاف وی نوبیا به د دوه حالونه خالی نه وی مفصول به وی لافی الدار غلام زید وعمرو یا غیر مفصول به وی لکه لاغلام زید فی الدار والاعمرو اوکه چرے نکره وی نو بیا به دوه حالونه خالی نه وی مفرد مفصول به

وى يامضاف مفصول به وى. دَمفرد مفصول مثال لافى الدار رجلٌ ولا امرأة اودَ مضاف مفصول مضاف لافى الدار غلام رجل ولا امرأةٍ.

قولُهُ وَمِثْلُ قِضِيَّةٌ وَلَا اَبَا حَسَنٍ لَهَا مُتَاَوَّلٌ مصنف دَسوال مقدر جواب وركول غواړى.

سوال: ستاقاعده ده چه كله دَلا اسم معرفه وى په دے شرط چه دَلا او ددے ترمينځ فاصله وى نو وجب الرفع والتكرير والا قاعده جارى كيږى . حالانكه دا ستاسو قاعده لا اباحسن لها والا مثال كښے ماته شوى ده.؟

جواب: په دے قول كښے ابا حسن په تأويل نكره دے اودَتأويل دوه صورتونه دى. (١) لفظ مثلُ مضاف محذوف اومنلے شى. تقدير عبارت به داسے شى. لَا مِثْلَ اَبِىْ حسنٍ لها بيا مضاف حذف كړے شو. مضاف اليه دغه ځائے ايسار كړے شو اوديته هم غه اعراب وركړے شو .(٢) اباحسن دَعلم نه وصف مشهور مُراد واخستے شى يعنى فاصل بين الحق والباطل همدغه وصف مشهور دے دَ على رضى الله عنه.

قولُهُ وفِيْ مِثْلِ لَا حَوْلُ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ خَمْسَةِ اَوْجُهٍ مصنفؒ دَداسے تركيب حكم بيانوى چه دَهغے بعضے صورتونو كښے لا دَنفى جنس وى اوبعضے كښے زائده اوبعضے كښے مشبه بليس ولاحول والا قوة الا بالله داسے تركيب كښے پنځه وجے لوستل جائز دى. اودغے تركيب نه مراد دادے چه هر هغه تركيب چه په هغے كښے لامكرر وى او ددينه پس والا اسم مكرر بغير دَفاصلے واقع وى ددے حكم دادے چه ددے پنځه وجے لوستل جائز دى .بحسب اللفظ يعنى په دے تركيب كښے دَمسند اليه حركت ئے جوړ كړو اودَ اعرابى په اعتبار سره پنځه وجے لوستل جائز دى. (١) دواړه نكره مبنى برفتحه وى په ديكښے دواړه لا نفى دَجنس به وى .اوپه ديكښے دَ عطف دوه صورتونه دى .(١) عطف المفرد على المفرد په دے طور بانديے قوة په حول باندے وى اود دواړو خبر يو مَوْجُوْدَانِ محذوف وى .تقدير عبارت به داسے شى. لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَانِ

سوال: دواړو دَپاره يوخبر جوړول غلط دى . ځكه چه په دے سره خوبه لازم راشى .د دوه علت مستقله په يو معلول باندے ورود او اجتماع چه ناجائز دے. او عامل دا مستقل علت كيږى.

جواب: په وجه د مماثلت دواړه لا د يوعامل په حكم كښې به شي. لهذا دا محظور مشهور قطعًا لازم به رانشي. لكه څه رنګ إِنَّ زَيْدًا وَإِنَّ عَمْرًوا قَائِمَانِ(٢) كښې عطف الجمله على الجمله هم جائز دے. په دے طورچه دږومبي لاخبرمَوْجُوْدٌمحذوف اومنلے شي. اود دونم دپاره مَوْجُوْدَةٌتقدير عبارت به داسے شي. لَا حَوْلَ مَوْ جُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ . ياد ستائې چه بِاللّٰه ظرف مستقر خبر قرار كول غلط دي. ځكه چه دَالا په وجه نفي ماته شوه ده. نو لامستثنیٰ كښے عامل پاتے نه شو. نوهغه به خبر څه رنګ جوړشي.

فائده: دامام سيبويه په نيزد لانفي جنس عامل نه دے اسم اوخبر دواړو كښے عامل مبتدا دے ليكن اسم چونكه مبني دے لهذاهغه به مرفوع محلًا شي. اوخبر چونكه معرب دے په دے وجه هغه مرفوع لفظًا به وي. اودامام زجاج په نيزد اسم معرب منصوب لفظًا دے. اوهم دغه لاعامل دے سقوط تنوين په وجه دثقل چه داسم لا مركب دے اوخبر مرفوع دے.(٢) چه ړومبئ نكره مبني برفتحه وي اودوئمه منصوب لفظًا وي. لكه لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه نو ړومبے لا دنفي جنس به شي. او دوئم لازائده دپاره د تاكيد نفي دے. اوهغه معطوف دے په حول باندے په اعتبار دمحل قريب منصوب دے بلا نفي جنس داسم كيدو په وجه اوپه اعتبار دمحل بعيد مرفوع دے د مبتدا كيدو په وجه سره دے. دغه وجه ثاني كښے دماقبل په شان دواړه صورتونه جائز دي. چه خبر جدا جدا مقدر اومنلے شي ياخبرواحد مقدر اومنلے شي يعني عطف الجمله على الجمله ياعطف المفرد على المفرد.

ياعطف المفرد على المفرد (٣) اول نكره مبني برفتحه دوم مرفوع لفظالكه : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ اول لَا نفي دجنس به شي. اود وئم لا زائده دپاره د تاكيد شي .اودَ قوة عطف به شي دَ حول محل بعيد مرفوع باندے ليكن ياد ساتئ په دے صورة كښے به دوه خبرونه مقدر منلے شي .اوعطف الجمله على الجمله به وي خبر واحد به مقدر نه شي منلے . په دے وجه دَخبر واحد په صورة كښے عامل رافع به دوه شي .لااوعامل معنوي او داخبره واضحه ده چه دوه عامل يومعمول باندے عمل نه شي كولے. البته امام سيبويه په نيزد دَخبر واحد تقدير جائز دے دَهغے وجه داده چه ددهٔ په نيزد لا نفي جنس [illegible] دے نه نوحول او قوةٌ ددننه عامل معنوي دے ددے وجے نه مولانا جامي د

قوله وفي مثل لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.

معنى: لَا حَوْلَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ وَلَا قُوَّةَ عَلَى الطَّاعَةِ اِلَّا بِتَوْفِيْقِ اللهِ

خَمْسَةُ اَوْجُهٍ

ثم سوال: الكلام في ما بعد مثل كيف يكون؟ جواب: لانهما كالكلمة الواحدة فحكمهما واحد كما في ان زيدا وان عمرا قائمان.

فتحهما

- توجيه ۱، ہردو لا نفی جنس وعطف مفرد برمفرد: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ۔
- توجيه ۲، ہردو لا نفی جنس وعطف جملہ بر جملہ: لَا حَوْلَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ۔ (اسم، خبر، اسم، خبر)
- توجيه ۳، اوّل لا نفی جنس ودوم زائدہ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ۔ (اسم، زائدہ، معطوف براسم، خبر)

رفعهما

- توجيه ۱: ہردو لا نفی جنس ملغاة عن العمل وعطف مفرد برمفرد: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ + مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ ـ ازین قبیل است لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ (ملغاة عن العمل، مبتدا، معطوف، خبر)
- توجيه ۲، ہردو لا نفی جنس ملغاة عن العمل وعطف جملہ برجملہ: لَا حَوْلٌ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ۔ (مبتدا، خبر، مبتدا، خبر)
- توجيه ۳: ہردو لا بمعنی لیس وعطف مفرد برمفرد: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدَيْنِ اِلَّا بِاللهِ۔
- توجيه ۴: ہردو لا بمعنی لیس وعطف جملہ برجملہ: لَا حَوْلٌ مَوْجُوْدًا اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدًا اِلَّا بِاللهِ
- توجيه ۵: لا اوّل بمعنی لیس ودوم زائدہ وعطف مفرد برمفرد فقط: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدَيْنِ اِلَّا بِاللهِ (بمعنی لیس، زائدہ)
- توجيه ۶: لا اوّل نفی جنس ملغاة ولا دوم زائدہ وعطف مفرد برمفرد فقط: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ۔ (نفی جنس ملغاة، زائدہ)

فتح الاول ورفع الثاني

- توجيه ۱، لا اوّل نفی جنس ودوم زائدہ عطف دوم برمحل بعید اوّل وعطف مفرد برمفرد فقط: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ۔
- توجيه ۲، لا اوّل نفی جنس ودوم بمعنی لیس وعطف جملہ برجملہ فقط: لَا حَوْلَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدًا اِلَّا بِاللهِ۔ (نفی جنس، بمعنی لیس)
- توجيه ۳، لا اوّل نفی جنس غیر ملغاة ودوم نفی جنس ملغاة وعطف جملہ برجملہ فقط: لَا حَوْلَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ۔ (نفی جنس، اسم، خبر، نفی جنس ملغاة، مبتدا، خبر)

فتح الاول ونصب الثاني

- توجيه ۱، لا اوّل نفی جنس ودوم زائدہ وعطف مفرد برمفرد عطف برلفظ نہ محل: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةً مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ۔ (نفی جنس، زائدہ، عطف برلفظ حول)
- توجيه ۲، لا اوّل نفی جنس ودوم زائدہ وعطف جملہ برجملہ: لَا حَوْلَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةً مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ۔

باعتبار ظاہر معطوف برلفظ حول است فلہذا منصوب است مگر در باطن مبتدا میتواند شد باعتبار محل فلہذا خبر دیگر خواہد وعطف جملہ برجملہ میشود۔ کذا فی حواشی جامی

رفع الاول وفتح الثاني

- توجيه ۱، لا اوّل بمعنی لیس برضعف ودوم نفی جنس وعطف جملہ برجملہ فقط۔: لَا حَوْلٌ مَوْجُوْدًا اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ۔ (بمعنی لیس، اسم، خبر، نفی جنس، اسم، خبر)
- توجيه ۲، لا اوّل ملغاة ودوم نفی جنس وعطف مفرد برمفرد: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ۔ (نفی جنس ملغاة، مبتداء)
- توجيه ۳: اول لا ملغاة ودوم نفی جنس لیکن عطف جملہ برجملہ: لَا حَوْلٌ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ۔ (ملغاة، مبتدا، خبر، نفی جنس، اسم، خبر)

خبر واحد تقدير هم جائز قرار كړو ليكن په مذهب جمهور دوه خبرونه مقدر منلے شي نه خبر واحد

(۴) رفعهما دواړه نكرے مرفوع اولوستے شي نوپه دے صورة كښے دواړه لانفي جنس ملغي عن العمل به شي او دوئم لا زائده دپاره دتاكيد به شي. اودد ے مرفوع كيدل په دے وجه چه داد سوال په جواب كښے دے.

سوال: أبِغَيْرِ اللّٰهِ حَوْلٌ وَّلَا قُوَّةٌ نوجواب ئے وركړو لَا حَوْلٌ وَّلَا قُوَّةٌ بِاللّٰهِ نو په سوال كښے چه كله مرفوع وو نوپه جواب كښے هم مرفوع اوپه دے صورة كښے هم عطف المفرد على المفرد هم جائزدے اوعطف الجمله على الجمله هم جائز دے .

فائده: په دے وجه رابع كښے هم دااجائز دي .چه الا الله ظرف مستقر مرفوع محلًا مقرر كړے شي د دواړو خبر مقرر كړے شي نوپه تركيب كښے داجمله واحده به شي ياد حولٌ دپاره الا بالله ته يا قوة دپاره الا باللّٰه خبر جوړ كړے شي اوهدغه قرينه جوړه كړے شي .دوئم دپاره الا بالله خبر محذوف اومنلے شي .داهم جائز دے.

قوله وَرَفْعُ الْاَوَّلِ عَلٰى ضُعْفٍ وَفَتْحُ الثَّانِي

(۵) رومبے نكره مرفوع اولوستے شي. ليكن دا ضعيف دے اودوئم مبني برفتحه اولوستے شي داول مرفوع په دے وجه چه لا مشبه بليس وي اود دوئم مبني برفتحه كيدل په دے وجه چه لانفي دجنس وي . د رومبي ضعف په دے وجه دے چه د لامشبه بليس عمل قليل وي.

قوله وَاِذَا دَخَلَتِ الْهَمْزَةُ لَمْ يَتَغَيَّرِ الْعَمَلُ وَمَعْنَاهَا اَلِاسْتِفْهَامُ وَالْعَرْضُ وَالتَّمَنِّيْ.

مصنف وجه رابع نه چه كوم توهم پيدا كيدو دغه وهم دفع كول غواړي هغه توهم داوو چه لكه څه رنګ لاپانديے حرف جار داخليدو سره ملغي عن العمل كيږي .لكه جئت بلا زَيْدٍ جئتُ بِلَا مَالٍ دغه رنګ د همزه استفهام داخليدو سره هم ملغي عن العمل جوړيږي. نو مصنف دغه توهم لرے كړو. چه كله دغه لا پاندے همزه استفهام داخل شي نوعمل نه متغير كيږي ځكه چه همزه استفهام دهو عامل دعمل كپاره مغير نه دے. كله چه حرف جارمغير دے دلاعمل باطلوي چه دهغے علت دادے چه د لاعمل داِنَّ مشابهت په وجه سره وو چه لكه څه رنګ اِنَّ صدارت دكلام غواړي دغه رنګ لاهم اودحرف جار

داخلیدو سره صدارت کلام به مات شي په خلاف ذهمزه داخلیدو سره په دے سره صدارت ختم نه شو.

سوال: همزه استفهام چه داخله شي نو واضحه خبره ده چه لا دکلام په شروع کښے نه پاتے کیږی بلکه صدارت کلام خو همزه استفهام ته حاصلیږی.؟

جواب: دصدارت کلام نه مراد دادے چه لا د داسے مرکب تام په شروع کښے راشي چه په هغے باندے سکوت صحیح وی. اوخبره ظاهره ده چه دهمزه ددخول نه پس هم لاصدارت کلام یعني مرکب تام په شروع کښے راځي. لکه اَلَا رَجُلَ فِيْ الدَّار.

فائده: دَ کوفینو په نیزد بلامالِ اوبقي بلاسبب په دیکښے لام اسم دے په معنی دَغیر اوذما بعد په طرف مضاف دے چه په هغے باندے دلیل داپیش کیدے شي چه په دے باندے حرف جار داخل دے اوقاعده ده چه حرف جار په اسم باندے خو داخلیږی په حرف باندے هر ګز نه اوبعضے وائی چه دا حرف اعتراض دے. چه دَ دوهٔ شیزونو ترمینځ معترض دے اودا په زائده سره هم موسوم کوی. لیکن دا زائده په دے معنی نه ده چه دَکلام نه ساقط کړے شي نو اصل معنی به باقی پاتے شي. بلکه په معنی معترض بین الشیین اوبعضے شارحینو داکلام دَیووهم دفعیه جوړه کړی ده چه بعضو دا وهم کړے وو. چه دَهمزه استفهام په دخول سره دَلا عمل په لاسره اعراب په طرف بدلیږی. نومصنف په دے عبارت کښے دا ردکړی ده چه دَهمزه استفهام په دخول سره عمل بالکل متغیر نه وی لکه څه رنګ چه دخول همزه نه مخکښے چه کوم اسم مبنی برفتحه وو نوهغه پس دَ دخول نه هم مبنی برفتحه پاتے شي. لکه الارجل في الدار که چرے منصوب وو نوروستو به هم منصوب پاتے شي.

سوال: بناء برفتحه ته دَلاعمل ونیل درست نه دی .چه دَلفظ عمل استعمال اصطلاح اعراب دننه وی بناء کښے نه.؟

جواب: دلته عبارت کښے لفظ عمل په معنی لُغوی یعنی تاثیر اوپه دے خبره کښے شک نشته چه لابناء برفتحه کښے مؤثر دے.

خلاصه: همزه کله خو په معنی دَاستفهام ددخول سره دَلا عمل خو بدلیږی نه البته همزه کله خو په

معنی استفهام پاتے کیږی لکه الا رجلٌ فی الدار اوکله په معنی دَعرض وی لکه الانزول عندی اے کاش زما سره ستاکوزیدل وے. اوکله په معنی دَتمناوی لکه الا ماء اشربُه کاش زما سره اوبه وے اوهغه ماڅکلے وے . دا په هغه مقام باندے ونیلے شی . چه په هغے باندے دَاوبو ملاویدو امید نه وی ځکه چه دَ تمنی استعمال محال کښے وی یاداسے ممکن کښے چه دَهغے په حصول کښے توقع منقطع وی .

سوال: لانفی جنس باندے چه کله همزه داخله وی نومصنف ددے درے معنی ذکر کړی دی. (۱) استفهام (۲) تمنی (۳) عرض دغه درے معنو باندے اکتفا کولو سره حصر معلومیږی چه بالکل غلط دے. ځکه چه دَکله دَپاره هم راځي اوکله دَ توبیخ دَپاره هم راځی. اوکله دَانکار دَپاره هم بیادغه درے معانو باندے دَاکتفا وجه څه ده.؟

جواب: دغه درے واړو معنو کښے اختلاف وو. په دے وجه ددے ذکر نے اوکړو اودا وجه دَتخصیص ده ځکه چه دَامام سیرافی . په نیزد همزه دَاستفهام چه کله په نفی باندے داخله شی. نومحض دَاستفهام دَپاره نه وی. اودَامام اندلسی په نیزد چه کله همزه دَپاره دَعرض وی نودَ لاسره چه ملاؤ شی حرف تحضیض کیږی (ددے بحث ددینه پس واقع ددے نصب واجب دے). ځکه چه هغه دغه وخت دَهغے حروفونه دے .چه دَفعل سره مخصوص دے .اودَامام سیبویه په نیزد چه کله همزه تمنٰی دَپاره وی نودَلاعمل په دے معنی متغیر کیږی چه ددے دَپاره دخبر احتیاجی نه پاتے کیږی . اوددینه پس واقع اسم دَ اتمنی فعل مقدر مفعول به وی. نوحالانکه دَ اَلَامَاءَ معنی ده اتمنا ماءَ لیکن مفعول به کیدو باوجود مبنی په فتحه سره به پاتے شی . اوامام مازنی اودَامام مبرد په نیزد چه کوم په صورة تمنی دَلاعمل متغیر نه منی نو مصنف هم ددهٔ مذهب اختیار کړے دے.

قوله وَنَعْتُ الْمَبْنِيِّ اَلْاَوَّلِ مُفْرَدًا يَلِيْهِ مَبْنِيٌّ وَمُعْرَبٌ رَفْعًا وَّ نَصْبًا مِثْلُ لَا رَجُلَ ظَرِيْفَ وَ ظَرِيْفٌ وَظَرِيْفًا مصنف دَلاتے نفی جنس دَاسم احکام بیانولو نه پس ده هغے دَتوابعو حکم بیانول شواړی . دَلاتے نفی جنس اسم مبنی په نعت کښے که چرے څلور شرطونه موجود وی نوددے مبنی لوستل هم جائز دی لومعرب لوستل هم جائز دی. (۱) هغه رومبے صفت وی احترازی مثال لا

رجل ظریف کریم فی الدار یعني صفت ثاني اوصفت ثالث نه احتراز راشي. (۲) هغه صفت مبني وي نو صفت معرب نه به احتراز راشي لکه لاغلام رجل ظریفًا فی الدار (۳) هغه صفت مفرد وي نوذهغے نه مضاف اوشبه مضاف خارج به شي لکه لَارَجُلَ حسن الوجه (۴) هغه صفت متصل دی. لهذا هغه وصف چه غیر متصل دے لکه لاغلام فیهما ظریفٌ دامثال به خارج شي چه کله دا څلور شرطونه موجود وي نوهغه مبني لوستل هم جائز دي. اومعرب لوستل هم جائز دي. مبني لوستلے شي نو مبني برفتحه لکه لارجُلَ ظریف اوذمعرب په صورت کښے دوه اعراب جائز دي. ذمحل په اعتبار سره رفع لوستل اوذ لفظ په اعتبار سره نصب لوستل لکه لارجُلَ ظریفٌ اوظریفًا لوستل جائز دی. خلاصه داشوه چه داسے صفت په درو طریقو سره لوستل جائز دي. (۱) مبني برفتحه لکه لارجلٌ ظریف (۲) معرب منصوب لکه لارجل ظریفًا(۳) مرفوع لکه لارجل ظریفٌ.

سوال: معرب اومبني لوستلو څه وجه ده؟

جواب: مبني خوپه دے وجه لوستلے شي چه قاعده ده چه کله نفي مقید بالقید بأندے داخل وي نو اصل اوحقیقت کښے هغه ذ نفي ذ قید په طرف راجع کیږي. نو په دے بنا بأندے ګویا چه نفي هغه نعت بأندے داخله شوه. نولهذا چه کله نعت مفرد دے نومبني برفتحه به لوستلے شي اومعرب په دے وجه چه توابع کښے ضابطه داده چه هغه ذخپل متبوعاتو ذ اعراب تابع وي نه ذبناء ځکه چه بناء یو امر عارض دے لهذا دابه معرب شي. اومعرب کیدو سره مرفوع په دے وجه چه ذ لا ذاسم محل بعید مبتدا ده اومنصوب په دے وجه چه ذلفظ تابع کیدو سره محل قریب بأندے حمل کولو سره نصب لوستل جائز دي. وَإِلَّا فالاعراب اوکه چرے نعت دغه اوصاف مذکوره سره متصف نه وي نو په دیکښے فقط معرب لوستل به جائز وي مرفوع اومنصوب مرفوع خوپه محل بعید بأندے حمل کولوسره اومنصوب لفظ اومحل قریب حمل کولو په وجه نوددغه شرائطو په وجه څلور صورتونه خارج شو (۱) ذمعرب نعت (۲) نعت ثاني اوثالث(۳) غیرمفرد(۴) غیرمتصل ددے مثالونه تیر شوي دي.

قوله وَالْعَطْفُ عَلَى اللَّفْظِ وَعَلَى الْمَحَلِّ جَائِزٌ مصنف ذلا اسم مبني معطوف حکم بیانول غواړي چه په دے معطوف بأندے په اعتبار ذلفظ اوپه اعتبار ذمحل عطف جائز دے. لیکن شرط دادے چه

معطوف نکره وی اوبیا وی هم بغیر دَتکرار دَلانه .

سوال: معطوف دَپاره دَنکره ئے ولے اولګولو؟ اودَ لا دَعدم تکرار شرط ولے ئے اولګولو ؟

جواب: دَنکره شرط ئے په دے وجه اولګولو چه دَلاعمل مختص دے دَنکره سره که چرے معرفه وی نودَهغے عمل به هیڅ نه کیږی نولهذا په داسے صورت کښے په معطوف باندے فقط رفع به واجب شی اودَ مذکوره قاعدے نه به اوځی. اودَعدم تکرار لاشرط ئے په دے وجه اولګولو چه دَتکرار لا په صورت کښے پنځه وجوه جائز دی لاحول ولاقوة الا بالله لهذا ددغه دواړو صورتونو نه دَ سوا حکم بیانول مقصود دی لکه لا اباً والاابناً چه کله داپه اعتبار لفظ معطوف جوړ کړے شی یاپه اعتبار دَمحل قریب اولا اَبًا وابنًاچه کله ددے محل بعید باندے معطوف اومنلے شی.

سوال: دغه نکره معطوف مبنی ولے جوړه نه کړے شوه. حالانکه معطوف علیه په شان مفرد دے اوقاعده ده چه کله دَ لا اسم مفرد وی نومبنی وی.؟

جواب: نکره مفرده مبنی هغه وخت وی چه کله متصل وی اودا متصل نه دے دَحرف عطف فاصله راغلی ده په دے وجه دا به معرب شی مبنی به نه وی.

سوال: مصنف دَباقی توابع حکم ولے نه دے بیان کړے؟

جواب: مسائل نحو دَ تدوین کولو والو نحاتو دَباقی توابعو په باره کښے څه تصریح نه دی کړی. په دے وجه مصنف دا ذکر نه کړل البته امام اندلسی ونیلی دی چه ددے دَپاره د توابع منادی حکم پکار دے لیکن دے دَ مدونینو نه نه دے.

قولُهٗ وَمِثْلُ لَا اَبَا لَهٗ وَلَا غُلَامِیْ لَهٗ داعبارت دَسوال مقدر جواب دے.

سوال: ماقبل کښے دا قاعده بیان کړه چه دَلااسم چه کله مفرد وی نومبنی برفتحه وی لیکن لا اَبَالَه او لاغلامی له دواړه مفرد نکره دی لیکن مبنی برفتحه نه ده؟

جواب: ددے په شان ترکیبونو دَمضاف سره تشبیه ورکولو سره دَاضافت والا احکام ئے جاری کولے شی. ځکه چه دا دَمضاف سره په اصل معنی کښے شریک دی ځکه چه دَاضافت په صورت کښے دوه فائدے حاصلیږی یاخودَ تعریف یا دَتخصیص اودَ اضافت معنی اصل تخصیص دے. ځکه چه تخصیص حرف جر ملفوظ سره حاصلیږی اوتعریف حرف جر مقدر سره حاصلیږی اودا خبره ظاهره

دہ چه تلفظ بنسبت دَ تقدیر اصل دے. نودلته ثابته شوه چه اصل تخصیص دے په اضافت کښے او ددے په شان مثالونو کښے تخصیص بیاموندے شي. چه لا ابًا له په دیکښے اَبٌ مختص بالابن دے اوغلام مختص بمولیٰ دے اوددے نه مراد هر هغه ترکیب دے چه په هغے کښے دَ لانفي جنس اسم نه پس لام اضافت وي.

قولهٗ وَمَنْ ثَمَّ لَمْ يَجُزْلَا اَبًا فِيْهَا چونکه دَسابقه دواړو ترکیبونو جواز په هغه خبره بانده موقوف وو چه غیر مضاف دمضاف سره اصل معنی یعنی دَاختصاص دننه مشابهت وي او همدغه ترکیب کښے دَمعنی اختصاص فائده نه وي په دے وجه چه کله دَاب اضافت دَیوشي په طرف اوکړے شي.نو ددینه اختصاص بالابوة مفهوم کیږي لکه چه په مذکوره بالاترکیب کښے اودا اختصاص په دے ترکیب کښے مفقود دے چه په دے ترکیب کښے فیها ضیمر مرجع دے چه دَهغے دَپاره پلارنه وي اودغه دواړو ترکیبونو اودغه دواړو ترکیبونو کښے دَله ضمیر مرجع زیدٌ دے چه دَهغے دَپاره پلار وي.

قولهٗ وَلَيْسَ بِمُضَافٍ لِفَسَادِ الْمَعْنیٰ مصنف دلته دا بیانول غواړي. چه لا ابًا له ولاغلامي له دے لره حقیقي مضاف نه شي جوړولے ځکه چه حقیقي مضاف جوړکړے نو دوه قباحتونه اودوه خرابیانے به لازم راشي. یولفظي اودوئم معنوي معنوي قباحت خوداده. چه ددے معنی به جوړه شي. لا ابًا له چه فلانے سړے ثابت النسب هډو دے نه. اودَفلاني سړي مطلقاً غلام هډو نشته ځکه چه

قاعده دہ چه کله نکره تحت النفي واقع وي نودَعموم اوشمول فائده کیږي په خلاف دَ هغه دواړو ترکیبونو چه په هغے کښے اضافت موجود دے. لا اباهٗ ولا غلامِيْهِ نومعنی به داشي چه دَمتکلم په نیزد دَفلاني سړي پلار معلوم دے لیکن موجود نه دے. دے دواړو کښے فرق واضح دے او قباحت لفظي دارنګ دے که چرے اضافت حقیقي اومنلے شي نودَ مضاف الیه نه به لام حذف کړے شي. اودلته حذف نشته اودغسے قباحت لفظي داهم دے چه دَمعرفه په طرف اضافت سره اسم معرفه کیږي لهذا دَ اضافت په صورت کښے لا اباً له ولا غلامي له معرفه به شي اوقاعده تیره شوي دہ. چه دَلانفي جنس اسم چه کله معرفه وي نورفع اوتکریر وي اواګرچه دلته نه رفع شته نه تکریر علاوا

نسیمویه کسیبویه په نیزو دغسے ترکیبونو کښے اضافت حقیقي بیامونلے شي .اوس سیبویه بانلے هم اعتراض واردیږي چه مونږ دېره قباحت په عنوان کښے ذکر کړے دے. لیکن سیبویه دَ ټولو اعتراضاتو یوجواب ورکوي. چه اباله ولا غلامي له کښے لام تاکید دَپاره دے اودا نوض دے دَلام مقدر اودا لام اضافت نه دے په دے وجه چه دَنحویانو په نیزد داقاعده مسلمه ده چه هغه کله دارنګ معرفه نکره کوي نودونم لا په عوض کښے تاکید دَپاره راوړي .چه معلوم شي چه دا نکره ده. لهذا دغه وخت دادرے واړه قباحتونه به مندفع شي.ددینه دا واضحه شوه چه دا لام اضافت نه دے نو دغے اجافت منتفي کیل و سره تعریف هم منتفي شو. اوثابته شوه چه اب او غلام نکره دي معرفه نه دي چه کله معرفه نه شول نونه رفع واجب شوه اونه تکریر اونه فساد معنی لازم راځي.

قولُهُ وَيُحْذَفُ كَثِيْرًا فِيْ مِثْلِ لَا عَلَيْكَ اَيْ لَا بَأْسَ عَلَيْكَ. دَلانفي جنس اسم اکثر حذف کولے شي. لکه چه لا علیک په اصل کښے وو لا باس علیک ددے ترکیب نه مراد هغه ترکیب دے چه په هغے کښے خبر مذکور وي اودغه اسم دَحذف دَپاره قرینه موجود وي چه هغه مصنف اګر چه ذکر نه کړه لیکن هغه معتبر ده په دے وجه چه دَ لائے نفي جنس اسم په اصل کښے مبتدا وي چه لکه څه رنګ دَمبتدا دَحذف دَپاره قرینه شرط ده دغه رنګ ددے دَحذف کولو دَپاره هم قرینه شرط ده .اوددے دَاسم دَحذف کیدو دَپاره دَخبر مذکور کیدل په دے وجه ضروري دے. چه که خبرهم حذف شي نواحجاب به لازم راشي. چه دَکلام چه دَکلام دواړه رکنونه مسندالیه اومسند محذوف شول اودرست نه دے .

سوال: لا کزیل کښے دواړه محذوف دي بیاهم دا ترکیب جائزدے؟

جواب: که چرے قرینه موجود وي نوحذف جائز دے ورنه جائز نه دے .لا علیک په دیکښے دَلادَحذف قرینه دَ لا دخول حرف بانلے دے. حالانکه لاپه حرف بانلے نه داخلیږي اوچونکه دا کلام دازاله حذف دَپاره استعمالولے شي. نواسم محذوف او باس په معنی خَوْفٌ شي.

قولُهُ خَبَرُ مَاوَلَا الْمُشَبَّهَتَيْنِ بِلَيْسَ مصنف دَمنصوباتو دولسم قسم بیانول غواړي چه هغه لا اوما مشبهتین بلیس خبر هغه اسم منصوب دے چه ددوی نه چرته دَیوداخلیدو نه پس مسند کیږي په

دے بانـدے هغه دوه سوالونه دَافعال ناقصه په خبر باندے تيرشوی دی. بعينه هغه به دلته وارد شی چه دَهغے جواب هم هغه شی.

قولُهٗ وَهِيَ لُغَةٌ حِجَازِيَّةٌ مصنف اوونيل چه دَ ما اولا مشبهتين عامل كيدل دا دَاهل حجاز مذهب دے .اگرچه دَبنوتميم په نيزد داغير عامل دے . ددينه پس والا اسم دَمبتدا اوخبر په بنا باندے مرفوع كيږی. دَبنوتميم دليل داده چه ما اولا داپه اسم اوفعل دواړو باندے داخليږی. اولكه څه رنګ داپه فعل كښے لفظًا عمل نه كوی نو دغه رنګ داپه اسم كښے هم لفظاً عمل نه كوی. اودَ اهل حجاز په نيزد دا رافع اسم ناصب خبر دے.

دليل: داده چه ددے عمل دَليس دَمشابهت په وجه سره دے اوليس چونكه په اسم كښے عمل كوی. نولهذا داهم په اسم باندے عمل به كوی. اوددهٔ دَمذهب تائيد چونكه قرآن مجيد نه حاصليږی نوهم دا مذهب راجح دے قرآن مجيد كښے دی. مَاهٰذَا بَشَرًا او مَا هُنَّ اُمَّهَاتِهِمْ نو په دے مثالونوكښے ماعامل دے عمل كوی.

سوال: مصنفؒ دا اختلاف په مرفوعاتو كښے اودَماولا مشبهتين بليس دَاسم په بحث كښے نے ولے ذكر نه كړو؟

جواب: چونكه دَماولا مشبهتين بليس عامل كيدل ددے دَعمل اظهار په خبر سره كيږی چه ددے خبر منصوب كيږی په خلاف دَاسم چه هغه مرفوع كيږی. ددے دَدخول نه مخكښے هم او روستو هم په دے وجه مصنف دا اختلاف دلته بيان كړو.

قولُهٗ وَاِذَا زِيْدَتْ اِنْ مَعَ ما اَوِ انْتُقِضَ النَّفْيُ بِاِلَّا اَوْتَقَدَّمَ الْخَبَرُ بَطَلَ الْعَمَلُ مصنفؒ هغه څيزونه بيانوی چه دَهغے په وجه دهغے عمل باطليږی .اول اِن دے چه كله دَما نه پس واقع وی.لكه مااِن زيدٌ قائمٌ . ددينه داخبره واضح كيږی. چه دلته لفظ مع په مع بعد دے لكه قرآن مجيد كښے دی. اِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا نو مع په معنی دَبَعْدُ دے دا اِنْ دَبصريانو په نيزد زائد دے .چه دَتاكيد نفی دَپاره راځی او دا اِنْ نافيه نه دے بلكه هغه اِنْ دے چه دَمامصدر يه نه پس زياتيږی لكه اِنْ تَزْنِيْ مااِنْ جَلَسَ القاضی اوكله دَ لَمَّا نه پس لكه لَمَّا اِنْ قَامَ زيدٌ نافيه دے مگر دَتاكيد دَنفی دَپاره دے .

ورنه دَمفاد کلام اثبات به اوشي . ځکه چه دخول النفي علی النفي دَاثبات فائده ورکوي. لیکن بغیر دَکوفینو فصل واقع شي اودا جائز نه دے بلکه فصل ضروري دے .لکه اِنْ زَیْدَ القائمْ کښے مصنف دَاِنْ دَ زیادت ذکر دَمانه پس په دے وجه اوکړو چه لا استعمال عرب کښے نه دے مونده شوے. باقي پاتے شوه داخبره چه ددے عمل باطلیږي. ولے ددے وجه داده چه ما اودَ هغے دَعمل معمول ترمینځ فاصله شوه نوکله چه ماعامل ضعیف دے نو دَضعف عمل په وجه دَمفعول نه پس عمل کول باطلیږي.

دوئم: اِلّا استثنائیه چه په دے سره دَاِنْ نفي ماته شي .لکه مازیدٌ اِلّا قائمٌ دَبطلان عمل وجه داده چه ددے عمل معنی نفي کښے دَلیس سره مشابهت (لو اونفي دَ اِلا نه ماته شوه نوعمل هم لاړو.

درئم :تقدیم دَخبر په اسم :. لکه ماقائمٌ زیدٌ په دیکښے دَبطلان عمل وجه داده چه دَعمل دَپاره ترتیب شرط دے. چه اسم مقدم وي اوخبر مؤخر دَفرع یعني ماولا مرتبه اصل یعني دَ لیس دمرتبے نه کم پاتے شي. (اذا فات الشرط فات المشروط)

قولُهٗ وَاِذَا عُطِفَ عَلَيْهِ بِمُوْجَبٍ فَالرَّفْعُ. چه کله خبر دَولا باندے په ذریعه عاطف موجب عطف اوکړے شي. نومعطوف باندے رفع لوستل به واجب شي. ځکه چه هغه په خبرباندے په اعتبار دَمحل معطوف به شي .اومحل خبر رفع ده اودا دَعطف المفرد علی المفرد دَقبیلے نه به شي .عاطف موجب دیته وئیلے شي چه بعد نفي دَایجاب فائده وي او هغه دَ بل اولکن په شان مَازَيْدٌ قائمًا بَلْ قاعِدٌ وَمَازیدٌ مقیمًا لکن مسافرٌ.

﴿المجرورات﴾

قولُهٗ اَلْمَجْرُوْرَاتُ: ددے تحقیقات په مرفوعاتو باندے دِقیاس کړے شي.

قولُهٗ هُوَمَا اشْتَمَلَ علیٰ عَلَمِ الْمُضَافِ اِلَيْهِ .مصنف دَمجرور تعریف بیانول غواړي. چه مجرور هغه داسے اسم دے .چه کوم علامت مضاف الیه باندے مشتمل وي چه جر دے .اودا جر کله دَکسرے سره اوکله دَ فتحے سره لکه غیر منصرف کښے کله یاء ماقبل مفتوح سره لکه ت تثنیه کښے کله یاء ماقبل مکسور سره لکه جمع مذکر سالم کښے بیاپه دے علامت کښے تعمیم دے

چه لفظی وی یا تقدیری یامحلی وی لکه مررت بزید مررت بموسیٰ ،مررت بهٰؤلاءِ دا علامت خوذ حرکت مثالونه دی. اوذعلامت بالحرف مثالونه مررت بابیک ،مررت باب الرجل اواعراب بالحرف محلی نه وی اواعراب بالحرکت هم حرف جر وی فتحه نه وی .ځکه چه فتحه حالت جر کښې په غیر منصرف باندې راځی. اوهغه مبنی نه وی ځکه چه غیرمنصرف ذمعرب قسم دے.

سوال: رَاَیۡتُ مُسۡلِمَاتٍ کښې او رَاَیۡتُ مُسۡلِمَیۡنِ کښې او رَاَیۡتُ مُسۡلِمِیۡنَ کښې ذمضاف الیه علامت جر متحقق دے. حالانکه دا ټول منصوب دی مجرور نه دی لهذا ستاسو تعریف ددخول غیر نه مانع نه دے؟

جواب: علامت مضاف الیه نه مراد دادے چه هغه علامت مضاف الیه باندے مشتمل وی ذمضاف الیه کیدو په حیثیت سره . دا خبره ظاهره ده چه دا ذمفاعیل کیدو په حیثیت سره په دیکښې نصب په جز باندے محمول کړے شوے دے. او دا جر علامت مفعول دے.

سوال:داتعریف جامع نه دے . بِحَسۡبِكَ دِرۡهَمٌ او حَسۡبُ او کَفٰی بِاللّٰهِ کښې لفظ الله مجرور کیدو نه به اوځی ځکه چه داعلامت مضاف الیه کیدو الله مجرور کیدو نه به اوځی ځکه چه داعلامت مضاف الیه کیدو په حیثیت سره مشتمل نه دے .په دے وجه چه دا په واسطه حرف جر زائد دے اوچه کومه واسطه چه ذحرف جر زائد وی نوهغه مضاف الیه نه وی ؟

جواب:مضاف الیه کښې تعمیم دے .مضاف الیه حقیقة وی یامضاف الیه صورةً مذکوره بالا دواړه اسونه مجرور صورةً مضاف الیه دی. دغه رنګ ذجمهور نحاتو ذمذهب مطابق چه اضافت لفظی بتقدیر لام نه منی . مضاف الیه باضافت لفظی مضاف الیه صورةً وی . اوتعریف مجرور چه ددهٔ په نیزد هغه مضاف الیه حقیقة دے ځکه چه اضافت لفظی هم ذمصنف په نیزدبتقدیر لام وی. لهذا مجرور په څلور قسمه شو.(۱) مجرور بحرف جاراصلی (۲) مضاف الیه باضافت معنوی (۳) مجرور بحروف جار زائد(۴) مضاف الیه باضافت لفظی داپه مسلک ذمصنف دے درنم مضاف الیه صورةً دے. باقی مضاف الیه حقیقةً اوذ جمهورو ذمسلک پمش نظر مضاف الیه باضافت لفظی هم مضاف الیه صورةً دے.

قَوْلُهٗ وَالْمُضَافُ اِلَيْهِ كُلُّ اِسْمٍ نُسِبَ اِلَيْهِ شَيْءٌ بِوَاسِطَةِ حَرْفِ الْجَرِّ لَفْظًا اَوْ تَقْدِيْرًا مُرَادًا. مصنف دَمضاف الیه حقیقي تعریف کول غواړي . چه مضاف الیه هر هغه اسم دے .چه دهغه په طرف دَیو څیز نسبت کړے شوے دي په واسطه دَحرف جر عام دے چه حرف جر لفظونو کښے مذکور وي یامقدر وي.

فوائد وقیود:. مضاف الیه هرهغه اسم دے دَاسم نه مراد تعمیم دے. یعنی کله به خو مضاف الیه حقیقةً اسم وي. لکه غلام زیدٍ اوکله حکمًا اسم به وي. لکه یوم ینفع الصادقین کښے یوم مضاف دے .ینفع په طرف .اودَکوم څیز په طرف نسبت کړے شوے دے. دَهغے دننه هم تعمیم دے. یا خو به دَاسم نسبت کولے شي. یابه دَفعل نسبت کولے شي . دَاسم نسبت اوکړے شي.لکه غلام زیدٍ کښے غلام اسم دے ددهٔ زید طرفته نسبت کړے شوے دے. اودَ فعل نسبت کړے شوے دے لکه مرورت بزیدٍ اودَحرف جر دننه هم تعمیم دے .خواه حرف جر لفظونو کښے مذکور وي .لکه مررت بزید یاحرف جر مقدر وي . لکه غلام زیدٍ کښے لام حرف جر مقدر دے. اصل کښے وو غلام لزیدٍ.

سوال: داتعریف دَدخول غیر نه مانع نه دے .ځکه چه صت یوم الجمعة کښے یوم الجمعه باندے صادق راځي. حالانکه دلته في حرف جر مقدر دے؟

جواب: دَ مقدر سره دَمرا دَا قید موجود دے چه حرف جر مقدر وي.لیکن من حیث العمل مراد وي مطلب داد ے چه دد ے عمل باقي وي اودلته دامسلم ده چه في مقدر دے. لیکن دد ے عمل چه جر دے هغه باقي پاتے نه شو. ستا تعریف صادق نه راځي؟

سوال: داتعریف جامع نه دے ځکه چهٔ یوم ینفع الصادقین کښے دَ یَوْمَ اضافت ینفع په طرف دے حالانکه ینفع اسم نه دے جمله ده؟

جواب: دا مونږ ونیملی دي.چه په اسم کښے تعمیم دے خواه حقیقة وي یا حکمًا اوداحکمًا اسم دے او بتاویل مصدر دے.

سوال: دَالمضاف الیه ذکر مخکښے شوے دے. لهٰذا دامقام دَضمیر وونو مصنف اسم ظاهر ولے راوړو اودغے دا خلاف اختصار هم دے.؟

جواب: ضمیر نے په دے وجه رانه وړو که چرے راوړلے نے وے نوددے مرجع مضاف الیه په مذکور وے. اومضاف الیه چه مذکور دے ددے نه مراد عام دے چه خواه حقیقة وی یامضاف الیه صورة وی نودا تعریف د دواړو جوړیږی حالانکه دا تعریف دمضاف الیه صورة نه دے فقط د مضاف الیه حقیقة دے په دے وجه مصنف داسم ظاهر ضمیر رانه وړو .

قَولُهُ فَالتَّقْدِيْرُ شَرْطُهُ اَنْ يَّكُوْنَ الْمُضَافُ اِسْمًا مُجَرَّدًا تَنْوِيْنُهُ لِاَجَلِهَا. مصنف دحرف جر مقدر کیدو دپاره دوه شرطونه بیانول غواړی.

شرط اول: مضاف اسم وی ځکه چه لوازم اضافت ،تعریف اوتخصیص اوتخفیف دے داداسم سره مخصوص دی .نولهذا مضاف هم داسم خاصه به شی یعنی اسم به شی.

شرط ثانی: مضاف نه تنوین اوقائم مقام تنوین یعنی نون جمع نه خالی کړے شوی وی داضافت په وجه. ددے وجه اوعلت دادے چه اضافت التنوین کښے منافات دی. چه تنوین اوقائم مقام تنوین دکلمے تمامیت غواړی. اود مابعد نه انقطاع غواړی اوچه کله اضافت دمابعد سره اتصال غواړی اوداخبره ظاهره ده چه اتصال او انقطاع کښے تضاد دے. لهذا چه کله دوه کلمے داسے ملاؤ کړے شوی وی چه داول ددوئم نه تعریف یا تخصیص یا تخفیف حاصل وی نودکلمے دتمامیت علامت داول نه به حذف کړے شی. اوداول تمامیت دوئم طرفته مضاف کولے شی. چونکه حذف تنوین وغیره کښے په وجه د اضافت معتبر دے لهذا الغلام زید او الضارب زید وئیل به جائز نه شی. ځکه چه په دیکښے دتنوین حذف په وجه دالف لام دے نه چه په وجه داضافت.

سوال: الحسن الوجه بالاتفاق جائز دے حالانکه حذف تنوین په وجه دالف لام دے نه په وجه د اضافت دمصنف په مسلک باندے دتقدیر شرط نه دے موندے شوے لهذا ددے ناجائز کیدل پکار وو؟

جواب: دوئم شرط تنوین اوقائم مقام تنوین حذف کیدل په دیکښے تعمیم دے .خواه حقیقة حذف وی لکه نون تثنیه اونون جمع کښے یاحکما لکه ضمیر کښے چونکه الحسن الوجه کښے قائم مقام حکما په وجه د اضافت محذوف دے.ځکه چه الحسن الوجه په اصل کښے وو احسن وجهه اوپه دیکښے وجهه فاعل دے اوفاعل په منزله دجزء وی .اوددے فاعل نه ضمیر مضاف الیه لے حذف

کړو چه دا دے دَتنوین قائم مقام وو اوچونکه فاعل په منزله دَجزء دے لهذا دا دے نه قائم مقام تنوین حذف کول الحسن حذف کول شو لهذا الحسن الوجه کښے دَتقدیر شرط موندلے شوے دے. چه داپه وجه دَاضافت دے ددینه قائم مقام تنوین حذف کړے شوے دے.

سوال: کَمْ رجلٌ کښے کم خبری مضاف دے پہ اضافت معنوی نوحرف جر مقدر شو . حالانکه دَتقدیر شرط حذف تنوین وغیره نه شي موندے .ځکه چه تنوین دَسره هډو موجودنه وو نو حذف څه رنګ منلے شي. دغه رنګ غیر منصرف کښے لکه حَوّا جّ بيت اللّٰه په غیر منصرف باندے هم تنوین نه راځي په دیکښے هم تقدیر حرف جر نه شي منلے. اِذَا فَاتَ الشَّرْطُ فَاتَ الْمَشْرُوْطُ.

جواب:حذف تنوین وغیره نه مراد دادے که چرے تنوین وغیره وی نو په وجه دَ اضافت به حذف کړے شي . اوکوم ځائے چه نه وی لکه مبني اوغیره منصرف کښے هلته تقدیر دَپاره حذف تنوین وغیره شرط نه دے . داجواب په الحسن الوجه کښے هم جاري کیږي.

سوال: که چرے دامراد شي نولازم به راشي غلام زید کښے باضافت معنوی په تقدیر لام صحیح وی ځکه چه دلته تنوین په وجه الف لام نه راځي حالانکه دا ترکیب صحیح نه دے؟

جواب: دا دے ترکیب دَعدم صحت دلام دَمقدر چه کوم شرط وو دَهغے دَمفقود کیدو وجه نشته بلکه په دے باندے مبني دے چه په اضافت معنوی کښے دَمضاف تعریف نه خالي کیدل شرط دی. اودا شرط دلته نه شي موندلے چه غلام معرف بالام دے.

سوال: دَمصنف مُجَرَّدًا عَنْهُ تَنْوِيْنُهُ فرمائیل صحیح نه دی ځکه چه مجرداسم دے نه چه تنوین تنوین خومجرَّدًا عنه دے اوپه دے عبارت کښے خوتنوین مجرد مقرر کړے شو ځکه چه هغه نائب فاعل دے اودَمجردًا عنه دَضمیر مرجع اسم دے لهذا مجردا عنه تنوین وئیل پکار وو؟

جواب: په دے عبرت کښے دمجاز ارتکاب دے .اوچه دَقبیلے دَذکر ملزوم او اراده لازم دے چه تجرید ته زوال لازم دے نومجرد په معني دَزائل عنه دے اوپه دے خبره کښے شک نشته چه زائل تنوین وی نه اسم .اسم خوزائل عنه وی.

قوله وَهِيَ مَعْنَوِيَّةٌ وَلَفْظِيَّةٌ. مصنف خودَ اضافت تقسیم بیانول غواړی چه دَاضافت دوه قسمونه دی(۱) اضافت معنویه (۲) اضافت لفظیه.

وجه تسمیه :. اضافت معنویه په معنی کښې یعنی ذات مضاف الیه دپاره دیو صفت افاده کوی چه معنویه په معنی کښې یعنی ذات مضاف الیه دپاره دیوصفت افاده کوی چه هغه تخصیص دے .لکه غلام رجل اوتعریف دے لکه غلام زید کښې په دے وجه هغه نے معنی په طرف منسوبه کړے دے او اضافته لفظیه صرف په لفظ کښې دَ تخفیف فائده ورکوی .چه ددینه تنوین وغیره ساقطیږی په دے وجه دا لفظ طرفته منسوب کړے شوے دے .

سوال: اضافت معنویه هم دَ تخفیف لفظی افاده کوی .چه ددینه هم تنوین وغیره ساقطیږی. نو لهذا اضافت معنویه فقط معنی طرفته منسوب کول درست نه دی؟

جواب: په دیکښې ما به الا متیاز افاده معنی ده په دے وجه معنی طرفته منسوب کړے شوے دے .

سوال: اضافت معنویه په اِضافت لفظیه باندے ولے مقدم کړو.

جواب: اضافت معنویه دوه فائدے ورکوی. دَتعریف او تخصیص اګرچه اضافت لفظیه یوه فائده ورکوی. په دے وجه اضافت معنویه ته شرافت حاصلیږی. نوپه مقام تعریف کښې هم مقدم کړو .اومقام تقسیم کښې هم مقدم کړو.

قَولُهٗ فَالْمَعْنَوِيَّةُ اَنْ يَّكُوْنَ الْمُضَافُ غَيْرُ صِفَةٍ مُضَافَةٍ اِلىٰ مَعْمُوْلِهَا مصنف دَاضافت معنویه تعریف کول غواړی . اضافت معنویه هغه دے چه په هغے کښې مضاف هغه صفت نه وی چه خپل معمول په طرف مضاف وی صیغه صفت نه مراد اسم فاعل ، مفعول به اونائب فاعل دے دَمضاف مغائر دَصفت مذکور کیدو دوه صورتونه دی.(۱) مضاف دَسره هډو صفت مضاف معمول په طرف نه وی لکه کریم البلد وغیره.

سوال: مصدر په صفت کښې ولے شمار نه کړے شو؟

جواب: صفت هغه اسم ته وئیلے شی چه په داسے ذات باندے دلالت اوکړی چه دَهغے دَبعضے اوصافو سره اتصاف وی. داتعریف په مصدر باندے صادق نه راځی. لیکن په اسم تفضیل باندے صادق راځي. یاد ساتئ شراحو په دے مقام باندے دَصفت په مثال کښې دَاسم فاعل په شان دا ذکر نه کړو ددینه قطعًا دِفهم نه کړے شی. چه اسم تفضیل ددینه خارج دے بلکه دَمتیلاتو سره

حصر مقصود نه دے.

قولـهٗ وَهِيَ إِمَّا بِمَعْنَى اللَّامِ فِيْ مَاعَدَا جِنْسِ الْمُضَافِ وَظَرْفَهٗ وَإِمَّا بِمَعْنٰى مِنْ فِيْ جِنْسِ الْمُضَافِ أَوْ بِمَعْنٰى فِيْ فِيْ ظَرْفِهٖ وَهُوَ قَلِيْلٌ مِثْلُ غُلَامِ زَيْدٍ وَ خَاتَمِ فِضَّةٍ وَضَرْبُ الْيَوْمِ

مصنف دَاضافت معنویه دَتعریف نه پس ددے تقسیم بیانول غواړی دَاضافت معنویه درے قسمونه دی. (۱) اضافت په معنی لام دا هغه وخت به وی چه کله مضاف الیه دَمضاف دَپاره نه جنس وی اونه ظرف وی. لکه غلام زید اوپه هغے کښے لام حرف جر مقدر وی په اصل کښے وو غلام لزید (۲) اضافت په معنی دَمِنْ دا یـه هـغه وخت وی چه کوم وخت مضاف الیه دَمضاف دَپاره جنس وی .لکه خاتم فضه نوپه دیکښے حرف جر مقدر وی . یعنی خاتم من فِضَّةٍ (۳) اضافت په معنی فِیْ دا هغه وخت وی چه کوم وخت مضاف الیه دَمضاف دَپاره ظرف وی. اوپه هغے کښے فی حرف مقدر وی. لکه ضرب الیوم اصل کښے دے ضربٌ فی الیوم .

فائده: اضافت معنویه دَپاره دا قاعده کلیه ده چه که دَمضاف الیه اومضاف ترمینځ تباین وی. پس که چرے مضاف الیه دَمضاف دَپاره ظرف وی نو اضافت په معنی فی به شی. ورنه په معنی دَ لام اگرچه مترادفین وی . لکه لیث الاسد ، هی مضاف الیه عام مطلق اومضاف اخص مطلق دے .لکه فقه العلم نوپه دے دواړو کښے په تقدیر باندے اضافت ممنوع دے. اوکه مضاف الیه اخص مطلق اومضاف عام مطلق لکه علم الفقه وی نواضافت په معنی دَلام شی .اوکه چرے مضاف الیه اومضاف کښے عموم خصوص من وجه دے او مضاف مضاف الیه دَپاره اصل وی یعنی مضاف دَهغے نه جوړ شوے وی. لکه دروازه دَتختونه نو اضافت په معنی دَمن به شی اوکه چرے مضاف الیه اصل نه وی نو اضافت په معنی دَلام به شی. یادساتئ عموم خصوص من وجه په اعتبار دَتحقق دے نه په اعتبار دَ صدق.

فائده: اضافت په معنی دَلام کښے دا ضروری نه دی چه دَلام تصریح درست وی .بلکه دومره کافی ده چه دَاضافت معنی دَ لام افاده کوی. هغه معنی اختصاص په معنی ارتباط دے. خودومره ده چه بعضے مقاماتو کښے تصریح به درست شی. اوبعضے مقاماتو کښے تصریح به درست نه شی. لکه

غلام زید تصریح درست لیکن علم الفقه کښے دَلام تصریح درست نه دهٔ علم للفقه دغه رنګ په کلام کښے استعمال نه دے وهو قلیلٌ اضافت په معنی فِیْ استعمال عرب کښے بالکل قلیل دے .ددے وجے نه اکثر نحویانو ددغه تقلیل پیش نظر اضافت په معنی دَلام مقرر کړو ځکه چه معنی دَلام ملابست دے.

سوال: اضافت په معنی دَمِن هم اضافت په معنی دَلام مقرر کړے شی. ځکه چه مُبین اومُبین کښے هم ملابست وی؟

جواب: دا خبرهٔ درست دهٔ لیکن دَاضافت په معنی دَفی استعمال قلیل دے .اګرچه اضافت په معنی دَمن استعمال کثیر دے .په دے وجه دا اضافت په معنی دَلام کښے شمار نه کړے شو.

قولهٔ وَتُفِيْدُ تِعْرِ يْفًامَعَ الْمَعْرَفَةِ وَتَخْصِيْصًا مَعَ النَّكِرَةِ مصنف په دے عبارت کښے دَاضافت معنو یه فوائد بیانول غواړی چه ددے دوهٔ ځائے دی. (۱) دا دَتعریف فائدهٔ ورکوی چه کوم وخت مضاف الیه معرفه وی.

سوال: په عبارت کښے خونه دَمضاف ذکر شته اونه دَمضاف الیه ستاسو دکوم ځائے نه راوویستو ؟

جواب: دَمصنف قول دے اَلَّتِيْ يَجِبُ تَجْرِيْدُ الْمُضَافِ عَنِ التَّعْرِيْفِ. ددینه معلومه شوهٔ چه دَتعریف حصول دَ مضاف الیه دَپارهٔ وی. په دے وجه تعریف قبل اضافت نه ددے تجرید واجب دے چه دَدواړو تعریفونو اجتماع لازم رانشی. یوتعریف قبل الاضافت اودوئم تعریف بعد الاضافت.

سوال: اضافت معنویه دَتعریف فائدهٔ ورکوی ددینه په ظاهرهٔ کښے دامعلومیږی چه دَتعریف وجه به داشی چه دَیوشی دَیو امر معین په طرف منسوب کیدو سرهٔ معرفه کیږی حالانکه داخبرهٔ درسته نه دهٔ لکه څه رنګ زیدٌ انسانٌ کښے دَانسان نسبت دَزید معین په طرف دے لیکن انسان معرفه نه دهٔ دغه رنګ ددینه به خو لازم شی چه اضافت لفظی هم مفید تعریف وی لکه ضارب زیدٍ؟

جواب: اضافت معنویه دَ تعریف فائدهٔ ورکوی ددے وجه دا نه دهٔ چه ستاسو ذکر کړئ دهٔ .بلکه ددے وجه دادهٔ چه داهیئت ترکیبی مضاف الیه معرفه سرهٔ په اضافت معنوی کښے په دے وجے سرهٔ موضوع دے چه دَمضاف واحد معین ومشخص کید وباندے دلالت اوکړی.

سوال: چه کله دَزید یوځو غلامان وی اوداسے اونیلے شی جاءَ غلام زید نودغه وخت دا اضافت

معنوی په دتعریف فائده نه ورکوی ورنه دترکیب مذکوره استعمال هم د سره جائز به نه وے ددینه معلومه شوه چه ددے ترکیب نه دتخصیص فائده حاصله شوه نه دتعریف ؟

جواب: دا استعمال په طریقه دمجاز دے لکه څه رنګ دمعرف باللام وضع معین دپاره ده لیکن کله مجازًا غیرمعین دپاره هم استعمالوی.

فائده: لفظ غیر اولفظ مثل باوجود دَ اضافة المعرفه معرفه به جوړیږی څکه چه دا متوغله فی الابهام نه وی که چرے دَلفظ غیر دَمضاف الیه دپاره یوضد معروف مشهور وی نوبیا معرفه جوړیږی لکه علیک بالحرکة غیر السکون.

سوال: دَمضاف الیه دَپاره ضد واحد معروف کیدو په صورت کښے دَلفظ غیر معرفه کیدل درست نه دی ورنه لازم به راشی نَعْمَل صَالِحًا غیر الذی کنانعمل کښے غَیْرَ معرفه وی اونکره دَ صالحًا صفت جوړشی داناجائز دی.

جواب: دلته غیر صفت نه دے بلکه بدل دے. (فائد فع الاشکال) دغه رنګ داهم یادساتئ چه دَمضاف الیه دَپاره چرته دَیو وصف سره څه مماثل مشهور وی نودغه وخت لفظ مثل هم معرفه جوړیږی .مثلًا زید نحوی دے او علم نحوکښے ددے مماثل مشهور عمرو دے . اوڅوک داسے اوائی جاء مثل زید نو دامثل به معرفه شی اوددے نه مراد بناً په شهرت سره عمرویه شی. اودا هم یادساتئ لفظ شبه ،نظیر اودَسوی حکم هم دا دے دغه رنګ دَاضافت معنویه فائده مذکوره په دغه الفاظو کښے هم به حاصله نه شی.

فائده: داضافت معنویه مضاف الیه نکره وی نوپه مضاف کښے تخصیص پیداکوی . لکه غلام رجلٍ .

سوال: دتخصیص معنی تقلیل شرکاء داخو مخکښے دَاضافت نه هم موجود وو غلامُ لرجلٍ کښے چه اصل دے دَ غلام رجلٍ لکه غلام زید اصل غلام لزید دے بیاددے اضافت طرفته منسوب کول درست نه دی ورنه دَتحصیل حاصل خرابی به لازم راشی.

جواب: اضافت طرفته منسوب تخصیص مع التخفیف دے چه مخکښے دَاضافت به حاصل نه وو نهذا دَتحصیل حاصل خرابی به لازم رانشی .

فائده: یادساتئ تخفیف اوتعریف اوتخصیص نه علاوه دَاضافت معنوی نورے هم ډیرے فائدے

دي.

فائده: مضاف کله دمضاف اليه نه تذکير حاصلوی . لکه اِنَّ رَحْمَةَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ کښے رحمة مضاف مؤنث دے اولفظ الله مذکر دے. نوددينه لفظ رحمة تذکير حاصل کړے دے په دے وجه دِدے خبر مذکر راغلے دے .

فائده: مضاف کله کله دمضاف اليه نه تانيث حاصلوی . لکه يَوْمَ تَجِدُ کُلُّ نَفْسٍ نولفظ کل مضاف خپل مضاف اليه نه دتانيث فائده حاصلوی .په دے وجه فعل هم مؤنث راوړلے شوے دے .

فائده: مضاف کله دخپل مضاف اليه نه دَ ظرفيت فائده حاصلوی لکه. تُؤْتِیْ اُکُلَهَا کُلَّ حِيْنٍ نولفظ کُلَّ دَمضاف اليه نه دَظرفيت فائده حاصله کړه.

فائده: کله دمضاف اليه نه دَمصدريت فائده حاصلوی لکه سَيَعْلَمُوْا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا الخ کښے اَیُّ دَ مُنْقَلِبٌ مصدريت فائده حاصله کړه. اوس د. مفعول مطلق دے .

فائده: مضاف کله دَ مضاف اليه نه دَجمعيت فائده حاصلوی. لکه:فَمَاحُبُّ الدِّيَارِ شَغَفْنَ قَلْبِیْ لٰکِنْ حُبُّ مَنْ سَکَنَتْ دِيَارَ کښے حُبُّ دَيار نه دَجمعيت فائده حاصله کړه . په دے وجه فعل په صيغه جمع راوړلے شو .

فائده:مضاف کله دَمضاف اليه نه دَتقديم فائده حاصلوی. لکه غلامُ مَنْ عندك کښے دَغلام تقديم په عندک باندے مَنْ استفهاميه مضاف اليه کيدو په وجه حاصل شو.

فائده: مضاف کله دَمضاف اليه نه دَبناء فائده حاصلوی .لکه فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّکُمْ تَنْطِقُوْنَ کښے لفظ مثل خپل مضاف اليه مانکره په معنی دَشئ دَمبنی دَبناء فائده حاصله کړه اوس دامبنی بفتحه دے اومرفوع محلًا دَاِنَّ خبرثانی دے.

فائده: حذف تاء چه په غير اضافت کښے نه حذف کيږی لکه اِقَامَ الصَّلٰوةِ کښے ما مصدريه ده.

قوله وَشَرْطُهَا تَجْرِيْدُ الْمُضَافِ مِنَ التَّعْرِيْفِ. مصنف داضافت معنوی دپاره شرط بيانوی چه دمضاف دتعريف نه خالی کړے شي اګرچه مخکښے دَاضافت نه معرفه وی ورنه دَتجريد احتياجی به اونه شي .بلکه ممکن هم نه ده. يادساتئ که چرے دَتجريد مجازی معنی په معنی دَخلو مراد وی نودا اطلاق ملزوم او اراده لازم دَقبيلے نه به شي اومعنی دَعبارت به داسے شي چه دَاضافت معنوی

شرط دادے چه په وخت دَاضافت مضاف دَتعریف نه خالي وي .اوس دا عبارت دواړو صورتونو ته به شامل شي .هغے ته هم چه مخکښے دَاضافت نه معرفه وي اودَتعریف نه خالي کړے شوی وي اوهغے ته هم چه مخکښے دَاضافت نه هډو معرفه نه وي .په دے صورت کښے چه کله مجازي معنی واخستے شي.نوتقدیر عبارت ضرورت به رانشي لیکن دَحقیقي معنی په صورت کښے دَتقدیر عبارت ضرورت به وي .

سوال: دَاضافت معنوي دَپاره دَمضاف دَتعریف نه خالي کیدل ولے ضروري دي؟

جواب: که چرے مضاف دَمخکښے نه معرفه وي نودا اضافت معنوي ضائع اوبے کاره به شي. ځکه چه دا نه مفید تعریف کیدے شي اونه مفید تخصیص .ځکه چه مضاف چه که معرفه کیدو سره کله چرے نکره طرفته مضاف کړے شي نواعلیٰ کیدو سره دَادنیٰ چه تخصیص دے ددے طلب به شي چه ممکن نه دے .ځکه چه معرفه کښے اشتراک هډو وي نه نوبیا تخصیص یعني تقلیل اشتراک څه رنګ کیدے شي. اوکه چرے معرفه طرفته مضاف وي نودَتحصیل حاصل خرابي به لازم راشي.ځکه چه هغه خو مخکښے دَ اضافت نه معرفه ده اوداهم ناجائز دي.

فائده: دَمعرفه اقسامو نه معرف باللام اوعلم ددوئ اضافت کیږي دَباقي اقسامو اضافت بالکل هډو کیدے نشي دمعرف باللام دَاضافت صورت به داشي چه دالف لام نه به هغه خالي کړے شي. اودَعلم دَتجرید صورت به دا وي چه دابه معنی نکره قرار کړے شي. مثل زَیْدٍ دَمسمی بزیدٍ په تاویل کښے واخلے نو زید دَهغے یوفرد قرار کړے شو. ځکه چه مسمی بزیدٍ مفهوم کلي دے . بیاهغه به مضاف کړے شي . لکه چه اوئیلے شي .زیدنا خیرٌ من عمرو دا دَعلم په وخت اضافت دَتنکیر معنیٌ داطریقه ده په دے طریقه علم معنیٌ نکره کیږي حقیقة نه . اودا معنی مجازي به شي حقیقة نکره هغه وي چه دَغیر معین دَپاره وضع کړے شوی وي. اوبغیر دَاضافت دَعلم دَتنکیر طریقه داده چه ددینه وصف مراد واخستے شي چه مشهور وي لکه لِکُلِّ فِرْعَوْنَ مُوْسیٰ دَفرعون نه مراد مبطل، اودَموسیٰ نه مراد محق ځکه چه دا ددۀ وصف مشهور دے.

سوال: النجم ، الثریا، ابن عباس دا مخکښے دَعلمیت نه معرفه وو نو پس دَعلمیت نه دَعلمیت نه تعریف معرف دَتحصیل حاصل خرابي به لازم راځي.لهذا د دوئ علمیت باطلول پکاردي. لکه دَمعرفه

اضافت په طرف دَمعرفه باطلیږی.

جواب: علمیت دغه الفاظو دَپاره وضع ثانی دہ. چه هغه دَ وجه اول مقتضی یعنی تعریف باطل قرار کړو لهذا په دوئ کښے تعریف فقط دَعلمیت په وجه سره دے نولهذا دَتحصیل حاصل خرابی لازم رانغله.

قولُهٗ وَمَا اَجَازَهُ الْکُوْفِیُّوْنَ مِنَ الثَّلَاثَةِ الْاَ ثْوَابِ وَشِبْهِهٖ مِنَ الْعَدَدِ ضَعِیْفٌ په دے عبارت کښے مصنف دسوال مقدر جواب ورکول غواړی.

سوال: دَاضافت معنوی دَپاره شرط لګول چه مضاف دَتعریف نه مجرد وی داخبره مُسَلَّم نه دہ. ځکه چه دَ کوفینو په نیزد الثلاثة الاثواب دد ے په شان ترکیبونه جائز دی . حالانکه مضاف دَ تعریف نه مجرد نه دے. ځکه چه مضاف معرَّف بالام دے وشبهه نه مراد دادے په شان عدد معرف باللام چه مضاف وی معدور په طرف لکه اَلْاَرْبَعَةُ الدَّارَهِمَ .وغیره

جواب: دَکوفینو دد ے جائز کول ضعیف دی قیاسًا هم چه دهغے علت نے بیان کړے دے چه دَدینه دَتحصیل حاصل خرابی لازم راځی. اواستعمالًا عدد مضاف کښے دَالف لام ادخال نه کوی بلکه ترک ئے کوی.

سوال: عدد مضاف بانسے ادخال الف لام ایردد الف لام په حدیث کښے راغلے دے . اغسلوا یوم الجمعة ولواشتریتم الکأس بالالف الدینار نوالف لام معرف باللام دینار په طرف مضاف دے .

جواب: دلته الف لام مضاف نه دے بلکه مبدل منه دے اوالدینار بدل الکل دے یاعطف لبیان دے.

سوال: ستاسو دد ے دلیل نه خودَ الثلاثه الاثواب بطلان ثابتیږی نه ضعف ځکه چه دا اضافت تحصیل حاصل ته لازم دے. اوهغه باطل دے .او

قاعده دہ چه کوم مستلزم دباطل وی هغه باطلیږی مصنف داضعیف ولے مقرر کړو؟

جواب: الثلاثة الاثواب دامشابه دے صورة الا الف الدینار په دے وجه ئے دا ضعیف کړے وے باطل کړے ئے نه دے.

قوله وَاللَّفْظِيَّةُ اَنْ يَكُوْنَ الْمُضَافُ صِفَةً مُضَافَةً اِلٰى مَعْمُوْلِهَا مِثْلُ ضَارِبُ زَيْدٍ وَ حَسَنُ الْوَجْهِ.

داضافت لفظيه تعريف: دلته به هم هغه سوال كيږي چه تير شوي دي. اضافت لفظيه هغه دے چه دَصيغه صفت مضاف وي خپل معمول په طرف ددينه دوه شرطونه مفهوم شول (١) دَ صيغه صفت مضاف وي كه چرے دَصيغه صفت مضاف نه شو نواضافت لفظي نه شو. لكه غلام زيدٍ (٢)دصيغه مضاف هم خپل معمول په طرف وي كه چرے دَغير دَمعمول په طرف مضاف شي نوبياهم اضافت لفظي به نه شي. لكه كريم البلد .

اتفاقي مثال :.ضارب زيد په ديكښے دَصيغه صفت اسم فاعل دَخپل مفعول به په طرف دے.

ضابطه:. اسم تفصيل اگرچه صيغه دَ صفت ده ليكن ددے اضافت هميشه معنوي وي ځكه چه دامعمول په طرف هيڅ مضاف كيږي نه په دے وجه چه ددهٔ معمول يعني فاعل بجز مسئله كحل هميشه مستتر وي ددغه وجے نه ددے اضافت معنوي وي.

ضابطه:. اسم فاعل او اسم مفعول خواه هغه په معني دَماضي وي ياپه معني دَحال يا په معني استقبال ياپه معني استمرار په مرفوع كښے اومفعول مطلق لومفعول فيه اوجار مجرور عمل كوي. باقي معمولات په فعل كښے هغه وخت چه كله معني حال يا استقبال وي اودَ هغے اضافت په استعمال كښے مرفوع په طرف وي يامفعول به په طرف يامفعول فيه په طرف لكه زيد صائم اليوم وزيد مصزوب اليوم (والتفصيل في الرضي)

قوله وَلَا تُفِيْدُ اِلَّا تَخْفِيْفًا فِي اللَّفْظِ. مصنف دَاضافت لفظي فائده بيانوي چه ددے فائده صرف دَ تخفيف لفظي ده اودا تخفيف لفظي كله خودَمضاف نه تنوين حذف كرے شي. لكه ضارب زيد په اصل كښے ضربٌ زيدًا وو. كله قائم مقام تنوين يعني نون تثنيه اوجمع لكه ضاربا زيدٍ ضاربوا زيد چه په اصل كښے ضاربان زيدًا ضاربون زيدًا وو اوكله صرف دَمضاف اليه نه ضمير حذف كرے شي. بياپه صفت كښے ضمير مستتر كيږي. لكه القائم الغلام اصل كښے وو القائم غلام ليكن حذف كولو سره ضمير مستتر به شي. چه موصول صله كښے ربط باقي پاتے شي. اوكله مضاف مضاف اليه په دواړو كښے تخفيف وي لكه زيدٌ قائمٌ الغلام اصل كښے وو زيدٌ قائمٌ غلامه.

سوال: مثال اول کښے القائم غلامه نه ضمیر حذف کړے شو اودغے په عوض کښے په غلام باندے لام تعریف راغے نوپه مضاف الیه کښے تحفیف څه رنګ شو دغه رنګ مثال ثاني کښے هم.

جواب: اوس هم تحفیف دے په دے وجه چه لام تعریف حرف ساکن دے . اوضمیر متحرک اوداخبره ظاهره ده چه ساکن په نسبت دمتحرک خفیف وي. دغسے غلام مخکښے ذاضافت نه مرفوع وو بناپر فاعلیت اولیس ذاضافت نه مکسور شوے دے اوداخبره ظاهره ده چه کسره په نسبت ضمه حفیف وي اوغسے دایادساتئ دلته تحفیف مجازًا په معنی دَحاصل مصدر یعني دَ خفت دے ځکه چه اضافت لفظیه سره خفت حاصلیږي نه تحفیف .

سوال: اضافت لفظیه کښے تخفیف نه مراد في اللفظ وي نوبیا ذلفظ ونیلو هیڅو ضرورت نشته؟

جواب: په دے تصریح سره مصنف وجه تسمیه په طرف اشاره اوکړه چه اضافت لفظي ته اضافت لفظي په دے وجه ونیلے شي چه هغه دتحفیف لفظ فائده ورکوي.

قولُهُ وَمَنْ ثَمَّ جَازَ مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حَسَنَ الْوَجْهِ وَامْتَنَعَ مَرَرْتُ بِزَيْدٍ حَسَنَ الْوَجْهِ وَجَازَ الضَّارِ بَازَيْدٍ وَالضَّارِبُوْا زَيْدًا وَامْتَنَعَ الضَّارِبُ زَيْدٍ. دَڅلور تعریفاتو ذکر دے سابق کلام نه درے خبرے معلومے شوي وے(۱) انتفاء تعریف (۲) انتفاء تخصیص (۳) اثبات تحفیف داڅلور تعریفات صرف دوه خبرو باندے متفرع وي (۱) انتفاء تعریف (۲) اثبات تحفیف اوتانید اومثالونه پرومبي دوه تعریفو نه (۱) انتفاء تعریف باندے متفرع دي .ځکه چه الاتفید کښے نفي مقدم ده په دے وجه دَانتفاء تعریف تعریفات نے مقدم کړي دي. ددے حاصل دادے چه اضافت لفظیه کښے دَتعریف فائده حاصلیږي نه . اوهغه دَاضافت لفظیه نه کلمه معرفه نه جوړیږي لهذا حسن الوجه داضافة لفظیه دے دا دَنکرے صفت جوړول جائز دي.چه داسے اوئیلے شي مررت برجل حسن الوجه لیکن دغه حسن الوجه دَمعرفه صفت نه شي جوړیدے داسے نه شي ونیلے مررت بزید حسن الوجه ځکه چه موصوف معرفه ده اوحسن الوجه نکره ده اواثبات تحفیف باندے دوه تعریفات متفرع دي.(۱) الضَّارِبَا زَيْدٍ ،اَلضَّارِبُوْا زَيْدٍجائز دي .ځکه چه ددینه د تخفیف فائده حاصلیږي ځکه چه نون تثنیه اونون جمع دَالف لام په وجه حذف نه دي بلکه ذاضافت په وجه حذف دي ځکه چه.

قاعده دا چه نون تثنیه اونون جمع دَالف لام نه حذف کیږی نه بلکه که حذف کیږی نوپه اضافت سره (۲) اَلضَّارِبَا زَیْدٍ داناجائز دے ځکه چه په دیکښے دَ تنوین حذف کیدل دی. دَالف لام په وجه نه دَاضافت لفظیه په وجه نولهٰذا اضافت لفظیه چه مکه دۀ دَ تحفیف فائده ورنکړه. نوداپه اضافت لفظیه باندے مثال ناجائز دے.

قوله خِلَافًا لِلْفَرَّآءِ وَضَعُفَ الْوَاهِبُ الْمِأَةِ الْهِجَانِ وَعَبْدِهَا. دااختلاف دَفراء تفریع اخر سره متعلق دے جمهور تحاتو اوفرمائیل چه دَ الضارب زید ترکیب ممتنع دے .وجه دَامتناع دادۀ چه دامفید دَتحفیف نه دے فراء اووئیل داترکیب جائز دے چه په دے باندے.

دلیل اول دادے. چه الضارب زید په اصل کښے وو ضاربٌ زیدًا نودَ ضاربٌ دَاضافت په وجه تنوین حذف شو .نولهذا دا اضافت مفید تحفیف شو. روستو دَلام دخول اوشو. نو سقوط نون په وجه دَ اضافت دے نه یوجه دَالف لام .لهذا چه کله دامفید دَتحفیف شو نوترکیب مذکوره جائز شو. مصنف په شرح کښے دابیان فرمائیلے دے چه متکلم داسے نه شي وئیلے ضاربٌ زیدًا بیا ضارب زیدٍ الضارب زید بلکه دۀ په ابتداء کښے الضارب زیدٍ وئیلے دے په دے صورت کښے دَلام تلفظ مقدم دے په دے وجه دَتنوین حذف دَ لام په وجه به شي لهذا دا اضافت مفید التحفیف نه کیدو په وجه دامثال باطل اوناجائز دے دا فراء:

دوئم دلیل دادے .چه هغه دَ فیصح بلیغ شاعر دَ اعشی قل دے چه الواهب المأة الهجان وعبدها چه دَ عبدها عطف دے په المأنة باندے نوعبارت به داسے شي الواهب عبدها خودَالضارب زیدٍ غوندے دا ترکیب دے .لکه الضارب معرفه باللام دے داسے الواهب معرفه باللام دے. اولکه څه رنګ الضارب غیر معرف باللام په طرف مضاف دے دغسے الواهب عبداها غیر معرف باللام په طرف مضاف دے .نولهذا چه کله هغه جائز دے نوداهم جائز دے. مصنف ددے جواب ورکړوالواهب المأة نه استدلال کول ضعیف دی. په دیکښے درے کمزوریانے دی.(۱) ستاسو دعویٰ کړی دۀ چه دَالواهب عبدها والا مثال جائز دے . بیااوس نے دلیل هم هغه پیش کړو لکه څه رنګ الواهب عبدها والا مثال جائز دے همدغسے دالضارب زیدًا والا مثال هم جائز دے. چه ستاسو دعویٰ وه دغه ددۀ دلیل دے . دیته مصادرت علی المطلوب وئیلے شي . چه دَنحویانو په نیزد

بالاتفاق ناجائز دے . (۲) ستاسو واو عاطفه جوړه کړی ده حالانکه دا واو په معنی دَ مع دے ځکه ، چه ددے شعر مطلب داد ے .چه زما ممدوح داسے دے چه دَسل سپین اوښانو هبه کوونکے دے سره دَاوښانو دَځرونکو .چه دَواو عاطفه سره دے واو په معنی مع استعمال دے . نوستاسو استدلال کول ضعیف شو او

قاعده ده چه اَذَاجَآءَ اْلِاِ خْتِمَالُ بَطَلَ اْلاِسْتِدْلاَلُ (۳) درنم ضعف داد ے که چرے یو څیز دَعطف په ذریعه ذکر کړے شي نوهغه صحیح کیږی اوکه بغیر دَ عطف نه ذکر کړے شي نوصحیح کیږی نه لکه : رُبَّ شَاةٍ وَسَخْلَتِهَا.

قاعده:د ه چه رُبَّ حرف جار همیشه په اسم نکره بانـدے داخلیږی .په دے مثال کښے رب اسم نکره بانـدے بغیر دَعطف نه داخلیږی .اوسخلتها معرفه ده ځکه چه اضافت معنویه دے اومعرفه بانـدے رُبَّ عطف سره داخلیږی دَعطف نه بغیر دَرُبَّ دخول معرفه نه شوه کیدے دغه رنګ الواهب عبدها والا مثال کښے الواهب دَعطف په ذریعه عبدها په طرف مضاف دے چه صحیح دے .لیکن که چرے دَعطف نه بغیر الواهب عبدها په طرف مضاف وے نودا به ناجائز وے .
بهرحال .دَفراء دادلیل ضعیف دے لهذا الضارب زیدٍ والا مثال ممتنع اوناجائز دے .

قولُهُ وَاِنَّمَا جَازَا الضَّارَبُ الرَّجُلِ حَمَلًا عَلیٰ الْمُخْتَارِ فِی الْحَسَنِ الْوَ جْهِ. دادَ فراء دَدرنم دلیل جواب دے دَفراء

درنم دلیل داد ے چه لکه څه رنګ الضارب الرجل بالاتفاق دَ نحویانو په نیزد جائز دے دغسے الضارب زیدٍ جائز کیدل پکار دی.مصنف ددے جواب ورکړو چه دَهغے تفصیل داد ے چه صیغه دَصفت دَمعرف باللام معمول هم چه کله معرف باللام وی نو په دے معمول کښے درے وجے لوستل جائز دی.(۱) معمول بانـدے رفع لوستل لکه زیدٌ الحسن الوجه (۲)معمول بانـدے جر لوستل لکه زیدٌ الحسن الوجه (۳) معمول بانـدے نصب لوستل بنابر تتشبیه بالمفعول لکه زیدٌ الحسن الوجه رومبے صورت قبیح دے ځکه چه دَ صیغه صفت ضمیر دَارابط نه خالی دے. باقی دواړه صورتونه احسن دی .ددے دپاره په یو کښے یوضمیر رابط موجود دے. لیکن په دے دواړو کښے قدرے فرق دے چه دَجر والا صورت مختار دے.ځکه چه جر مضاف الیه کیدو په بنا

بانـدے دے. اوبـالا صالـت دے .اودرنـم صورت مختار نه دے ځکه چه صیغه دَصفت معمول دَپاره نـاصب کیږی نه .لهذا مفعول سره مشابهت په وجه نصب راشے اوداخبره ظاهره ده چه دانصب بالـطبیعت بـه شي بالا صالت به نه شي. اوهـمدغه مختار صورت کښے په وجه دَ اضافت مضاف الیه کښے تـخـصیص بـه حاصل شي ځکه چه اصل کښے وو الحسن الوجه ضمیر مضاف الیه محذوف کیدو سره الـحسن کښے مستتر شوے دے. چه دَموصوف سره ربط باقي پاتے شي. بیا لام تعریف راوړلے شودے دے اوپه دیکښے هم تخفیف دے. دغسے دَرفع په ځانے کسره راتلل داهم حفت دے. لهذا الـحسن الـوجـه دا مثال به جائز شي. او الضارب الرجل همدے مشابه دے په دے طور بانـدے چه دواړو کښے صفت اومعمول معرف باللام دے .ددغه مشابهت په بنا بانـدے الـضاربُ الـرجـل جـائـز کړے شوے دے. لیکن دا مشابهت مذکوره الضارب زیدٌ کښے نه شي بیـامـوندے .لهذا داپه الضارب الرجل بانـدے قیاس کول قیاس مع الفارق شو .ځکه چه علت جواز مشترک نه دے.

سوال: حملًا علی المختار کښے حملًا مفعول له دے حالانکه دَمفعول له منصوب کیدودَپاره ضابطه تیـره شوی ده چه دَفعل معلل اودَمفعول له فاعل یووی اوحالانکه دلته فاعل یونه دے .ځکه چه دَجار فاعل الضارب الرجل دے اودَ حملًا فاعل نحوی حضرات دی.؟

جواب: دلتـه حـمـلا مـصـدر مبـنی للفاعل نه دے بلکه دامبنی للمفعول دے په معنی دمحمولیت اوداخبره ظاهر ده چه محمولیت صفت دے دَالضارب الرجل نوفاعل هم هغه دے .

قولُهُ وَالضَّارِبُكَ وَشِبْهُهُ فِيْ مَنْ قَالَ اِنَّهُ مُضَافٌ حَمْلًا عَلٰی ضَارِبُكَ. دَدلیل رابع جواب :.

دلیل رابع: . دَفـراء په نیزد دلیل رابع دے چه الضاربک اوالضارب زید دواړه عدم حصول تخفیف کښـے بـرابـر دی حکه چه دواړو کښے دَتنوین ساقط کیدل دالف لام په وجه سره دے نه دَاضافت په وجـه سره.نـوځـه رنګ الـضـاربک بالاتفاق جائز دے همدغه رنګ الضارب زید هم جائز کیدل پکار دی. مـصـنف جـواب ورکـړو الـضـارب وشبهه ددے تـفصیل دادے چه الضاربک کښے دَنحویانو اختـلاف دے. دبَـعـضـو په نیزد دامرکب اضافی نه دے بلکه کاف ضمیر منصوب متصل مفعول به دے لهذا دافی مانحن فیه نه خارج دے . اودَبعضو په نیزد دا مرکب اضافی دے. اودَتنوین ساقط

کیدل هم دَالف لام په وجه سره دی. نودباوجود ددے چه مفید تخفیف بیاهم جائز دے.په دے وجه چه ددے مشابهت دَالضاربک سره دے په دے طور بانددے چه دواړو کښے اسم فاعل ضمیر متصل په طرف مضاف دے اود دواړو دننه دَتنوین ساقط کیدل دَاضافت په وجه نه دے نوځه رنګ دَ الضاربک والا مثال جائز دے نودغه رنګ الضارب زیدوالا مثال هم جائز دے بلکه ددے تشبیه هم جائزده لکه الضاربی الضاربه لیکن دامشابهت الضارب زید کښے نشته لهذا الضارب زید والا مثال ممتنع اوناجائز دے.

سوال: ضارب زید بالاتفاق جائز دے هم دغسے الضارب زید هم جائز کیدل پکار ووځکه چه ددے سره مشابهت ددۀ .ځکه چه دواړو کښے مضاف اسم فاعل دے اومضاف الیه علم دے ددغه مشابهت په بنا بانددے الضارب زید جائز کیدل پکار وولکه چه الضاربک دَبنا مشابهت جائز قرار کړے دے.؟

جواب: الضاربک او ضاربک په مشابهت باندے قیاس کول غلط دی ځکه چه دواړو ترمینځ فرق واضح دے .هغه دا چه ددغه دواړو وجه تسمیه دَتنوین ساقط کول دی بغیر دَاضافت نه چه په دے دواړو کښے مشترک نه دے ځکه چه الضارب زید کښے دَالف لام په وجه اوضارب زید کښے دَاضافت په وجے سُره تنوین ساقط دے لهذا داقیاس درست نه دے .

سوال: په دے باندے څه دلیل دے چه ضاربک دَتنوین ساقط کیدل په وجه اتصال ضمیر دے اضافت نه؟

جواب: په دے باندے دلیل دا دے که چرے دَتنوین ساقط کیدل په وجه دَ اضافت وے چه لکه څه رنګ ضاربُ زید مخکښے دَاضافت نه ضارب زیدًا وو دغه رنګ دا مخکښے دَاضافت نه په مثل دَضاربٌ کیدل پکار وو. حالانکه دادرست نه دے ځکه چه کلام عرب کښے دغه رنګ مستعمل نه دے ددے وجه دادۀ چه تنوین اوضمیر متصل متنافی وی .په دے وجه تنوین دَکلمے په تمامیت بانددے دلالت کوی. اوضمیر متصل ماقبل دَپاره تتمه وی.

سوال: ددینه خوبه لازم راشی چه دَضاربک اضافت هم ضائع کیدل پکار دی. ځکه چه دا مفید دَ تخفیف نه دے.

جواب : افاده تخفیف هغه وخت ضروري دے، چه کله اتصال غیر نه وي.

قـولـهٗ وَلَا يُضَافُ مَوْصُوْفٌ اِلٰى صِفَةٍ وَلَا صَفَةٌ اِلٰى مَوْصُوْفِهَا مصنف په دے عبارت کښې دوه قاعدے بیانول غواړي.

اوله قاعده:۔ دَموصوف اضافت صفت په طرف ناجائز دے.

دلیل اول:۔ دَصفت دَموصوف سره په اعراب کښې موافقت واجب دے که چرے موصوف مضاف کړے شي. نوصفت به نے مجرور کړے شي.نوموافقت في الاعراب اومتابعت چه واجب وو مُنعدم به شي .اودادلیل لفظي اووجه لفظي وه.

دلیل ثاني:۔ چه علت معنوي دے هغه دادے چه ترقي ترکیبي مرکب توصیفي اودَمرکب اضافي معنی متغائر ده .دَمرکب توصیفي معنی ده وصف الشئ بشئ اودَمرکب اضافي معنی ده نسبته الشئ الی لشئ لهذا دا دواړه دَیوبل قائم مقام نه شي کیدے .

دلیل ثالث:۔ موصوف صفت کښې اتحاد وي اومضاف الیه کښې تغائر وي . په دے وجه موصوف صفت طرفته مضاف کیږي نه .

قاعده ثانیه:۔ والا صفه الی موصوفها دَصفت اضافت موصوف په طرف کول جائز نه دي.

دلیل اول :۔ صفت تابع وي او موصوف متبوع که چرے صفت مقدم کړے شي نولازم به راشي دَتابع په متبوع باندے مقدم کیدل حالانکه دا ضابطه مسلمه ده چه تابع کله هم په متبوع باندے مقدم کیږي نه.

دلیل ثاني: ددے دَپاره هم هغه دلیل ثاني جاري کیدے شي چه تیر شوے. دے چه مرکب توصیفي اومرکب اضافي په معنی کښې تغائر دے.

قوله وَمِثْلَ مَسْجَدُ الْجَامِعِ وَجَانِبُ الْغَرْبِيِّ وَصَلٰوةُ الْاُوْلٰى وَبَقْلَةُ الْحَمْقَاِ مُتَاوَّلٌ

سوال:قاعده اولیٰ باندے اوردیدونکي سوال جواب ورکول غواړي.

قاعده: بیان کړه چه دَموصوف اضافت صفت طرفته جائز نه دے حالانکه مونږ ستاسوته څلور مثالونه ښایو چه په هغے کښې دَموصوف اضافت صفت اطرفته دے کله مسجد الجامع په دیکښې.

مسجد موصوف دے. اوجامع صفت دے دغه رنګ جانب الغربي اوصلوٰة الاولیٰ بقلة الحمقاء په دے ځلور مثالونو کښے دَموصوف صفت طرفته اضافت دے نولهٰذا ستاسو دغه قاعده غلطه شوه؟

جواب: چه کله دغه قاعده اولیٰ دلائلو سره ثابته شوي دہ نوددے په شان تراکیبو تأویل کول به واجب شي. اوپه دیکښے تأویل دا دے چه دلته مضاف نه پس موصوف مقدر دے. لهٰذا ادا مضاف موصوف نه دے. لکه مسجد الجامع په اصل کښے مسجد وقت الجامع وو دغه رنګ جانب الغربي په اصل کښے جانب مکان الغربي اوصلوٰة الاولیٰ په اصل کښے صلوٰة ساعة الاولیٰ اوبقلة الحمقاء په اصل کښے بقلة حبة الحمقاء وو لهٰذا په دیکښے دَ موصوف اضافت صفت په طرف هرګز جائز نه دے.

جواب: داجواب هم ورکولے شي چه دَ جامع نه مراد مخصوص جامع یعني مسجد مراد واخستے شي. نواوس دا اضافت عام الی الخاص دَ قبیلے نه به شي. لکه چه یوم الاحد کښے اودغه رنګ جانب الغربي کښے دَغربي نه مخصوص جانب مراد واخستے شي. نودابه هم ددغه قبیلے نه شي. لکه چه جانب الیمن الاولیٰ نه مخصوص اولیٰ مراد وي یعني ظهر اوس دابه ددغه قبیلے نه شي. لکه صلوٰة الظهردغه رنګ الحمقاء نه خاص حمقاء یعني بقله مراد وي نوپه دیکښے هم همدغه اضافت العام الی الخاص دَقبیلے نه به شي. لکه حبة الحنطه ،صلوٰة الظهر ته اولیٰ په دے وجه وئیلے شي. چه دادَټولو نه رومبے مونځ دے چه په جماعت سره اداکړے شوے وو. اوبقله الحمقاء دَ خرف ساګ دے اودا په داسے مقام باندے توقیږي چه په هغے باندے خلق ځي راځي. په دے وجه دا مضبوط نه وي دَحماقت سره ددے متصف کیدل په دے وجه دي چه که ذرا برهم پوهه وے نودا به په بل ځائے توقید لے وے. اودۀ ته به مضبوطه زندګي ملاؤ شوے وے اوچه کله په دۀ کښے پوهه نشته نودا احمق شو.

قولهٗ وَمِثْلُ جَرْدُ قَطِيْفَةٍ وَاَخْلَا قُ ثِيَابٍ داپه قاعده ثانیه باندے راتلونکی اعتراض جواب ورکول غواړي.

سوال: مونږ داقاعده بیان کړه چه دَصفت اضافت موصوف طرفته نه شي کیدے مونږ درته دوه مثالونه ښایو چه کوم ځائے دَصفت اضافت موصوف طرفته دے لکه جرد قطیفةٍ واخلاق ثیاب په اصل کښے وو قطیفة جَرْدٌ ، ثیاب اخلاقٌ چه کله دا قاعده ثانیه هم په دلیل سره ثابته شوه نوددے

په شان تراکیبو تاویل کول به واجب شي. اوپه دیکښې تاوین به داشي چه په دے دواړو مثالونو کښې دَمضاف نه مخکښې موصوف وو اصل عبارت دا وو. قطيفةٌ جَرْدٌ نودامرکب توصیفی دے. موصوف نے حذف کړو اوس جَرد باقي پاتے شو .چه ددے معنی ده پارچه ریشه اوپه دیکښے دَجنس په اعتبار سره ابهام وو چه داڅادر دے یا پټکے دے یاتولیه .ددے ابهام لرے کولو دَپاره ددے اضافت اوکړے شو قطيفة په طرف .چه ابهام لرے شي. اوتخصیص حاصل شي. لهذا دادَقبیلے دَاضافت مبهم الی البیان به شي حصول تخصیص دَ پاره . یاداسے اونیلے شي . اضافت العام الی الخاص وَقبیلے نه دے دَتخصیص دَحصول دَپاره اودغسے ثیاب اخلاق کښے ثیاب موصوف نے حذف کړو اوس اخلاق کښے ابهام وو چه دَقبیلے دثیاب به دے. یاکتاب وغیره نوددغه ابهام لرے کولو دَپاره ثیاب په طرف نے مضاف کړو چه ابهام لرے شي. اوتخصیص حاصل شي.

قولُهُ وَلَا يُضَافُ اِسْمٌ مُمَاثِلٌ لِلْمُضَافِ اِلَيْهِ فِي الْعُمُوْمِ وَالْخُصُوْصِ كَلَيْثٍ وَاَسَدٍ وَ حَبْسٍ وَمَنْعٍ لِعَدَمِ الْفَائِدَةِ.

دقاعده ثالثه بیان چه مضاف نه وي داسے اسم چه دَمضاف سره عموم اوخصوص کښے مشابه وي دلته دَعموم وخصوص نه مراد مشهور معنی نه ده چه په اعتبار دَصدق وي. بلکه لغوی معنی مراد ده. عموم په معنی دَشمول اطلاق اوخصوص په معنی عدم شمول اطلاق خواه هغه دواړه مترادف وي لکه لیث اواسد چه په دیکښے مشابهت دے شمول اطلاق سره هم چه په کوم به دَ لیث اطلاق اوشي .هم په دغه به دَاسد اطلاق اوشي اوبرعکس اوعدم شمول کښے هم مشابهت دے چه په کوم څیز بانـدے دَلیث اطلاق صحیح نـه دے نوپه هغے به دَاسد اطلاق هم صحیح نه وي اوبرعکس هم دغسے چه دهغے خلاصه دادَه چه دَعام عام طرفته اودَ خاص خاص طرفته اضافت ناجائز دے.لکه دَ لیث اسد طرفته اضافت جائز نه دے دغے حَبْس دَمنع په طرف اضافت جائز نه دے .دغے دَانسان حیوان په طرف اضافت ناجائز دے ځکه چه په دے اجافت سره هیڅ فائده نه حاصلیږي خودومرهپ ده البته دَعام خاص په طرف اضافت کیدے شي. لکه کل الدداهم کل عام دے اودراهم خاص دے

دغه رنګ عین الشئ دلته هم دخاص اضافت په طریقه دے چه عین معین څیز ته ونیلے شی .چه خاص دے. اوشئ مطلق څیز ته ونیلے شی چه عام دے .

قولهٗ وَقَوْلُهُمْ سَعِیْدُ کُرْزٍ وَنَحْوُهٗ مُتَأَوَّلٌ داعبارت قاعده ثالثه باندے راتونکی سوال جواب دے .

سوال: ستاسو اوونیل چه دخاص خاص طرفته اضافت نه کیږی مونږ درته ښایو چه سعید کرز کښے دسعید کرز په طرف اضافت دے حالانکه دواړه خاص دی ځکه چه سعید علم دے کرز لقب دے .اوداخبره ظاهره ده چه نوم اولقب دواړه خاص وی؟

جواب: چه کله داقاعده ثالثه په دلیل سره ثابته شوه نودد دے په شان مثالونو کښے تاویل کول به واجب شی. هغه تاویل داد دے چه دَ سعید نه مراد دال دے اودکرز نه مثال مدلول دے یعنی دَهغه سړی ذات مراد دے اودا خبره ظاهره ده چه دال جدا څیز وی او مدلول جدا څیز وی په دے وجه اضافت سره هیڅ فرق نه پریوځی.

قولهٗ وَاِذَا اُضِیْفَ الْاِسْمُ الصَّحِیْحُ اَوِ الْمُلْحَقُ بِهٖ اِلٰی یَاءِ الْمُتَکَلِّمِ کُسِرَا اٰخِرُهٗ وَالْیَاءُ مَفْتُوْحَةٌ اَوْ سَاکِنَةٌ. مصنف داضافت لفظی معنوی اوحکامو ذکر کولو نه پس دَ اضافت لفظی احکام ذکر کوی. یادا سے تعبیر داوکړے شی. چه مصنف هغه اسماء چه دَهغے اضافت جائز نه وو چه دَهغے دَپاره نے قواعد ثلثه ذکر کړے دَهغے نه چه کله فارغ شو اوس ددے ځائے نه مصنف دَ مضاف دَآخر حکم بیانول غواړی .چه کوم ځائے به دا ثابت ساتلے شی. او کوم ځائے به حذف کولے شی. اوددے سره نور حالات به هم ذکر کولے شی. چه ددے دَپاره یوځوصورتونه دی. (۱) اسم صحیح یاملحق یاالصحیح مضاف وی یاء متکلم په طرف نوددے حکم دادے چه دَیاء متکلم دَمناسبت په وجه دَمضاف په آخر کښے کسره به ورکړی اویاء متکلم مضاف الیه مفتوح لوستل هم جائز دی. اوساکن لوستل هم جائز دی. یادساتئ اسم صحیح دَنحویانو په نیزد هغه دے . چه دَهغے په اخرکښے حرف علت نه وی اوملحق هغے ته ونیلے شی چه دهغے په آخر کښے حرف علت خو وی. لیکن ماقبل ساکن وی دیته جاری مجرایٔ صحیح هم ونیلے شی. ددے الحاق وجه داده چه لکه څه رنګ په صحیح باندے هیڅ حرکت ثقیل نه وی دغه رنګ په دے باندے هم دَحرف صحیح په شان هیڅ حرکت

ثقیل نه وی. چه لکه څه رنګ صحیح حرکات ثلثه قبلوی دغه رنګ داهم قبلوی ځکه چه دساکن نه پس حرکت ثقیل نه وی. داقاعده باقي پاتے شوه داخبره چه دیاء متکلم مفتوح اوساکن کیدو کښے اختلاف دے. چه فتحه ده سکون. اصح خبره داده چه فتحه اصل ده. ددے دلیل دادے چه یا متکلم یوحرفي دے. اویو حرفي دپاره دا قاعده ده چه هغه متحرک وی چه ابتداء بالسکون لازم رانشي. چه کله دا یاء متحرک کول دی. اوحرکت کښے دخفت په وجه اصل فتحه ده په دے وجه دیاء متکلم مفتوح کیدل اولیٰ دی. په دے وجه مصنف داهم مقدم کړو.

سوال: یوحرفي کلمه کښے حرکت اصل هغه وخت وی چه کله ابتداء بالسکون وی اودلته ابتداء بالسکون نشته بلکه یاء متکلم په آخر کښے راروان دے نولهذا چه کله هغه علت هیڅ پاتے نه شو نوددے متحرک کیدل هم اصل پاتے نه شو لهذا ساکن کیدل اصل شو.؟

جواب: ابتداء بالساکن په دوه قسمه ده. (۱) حقیقي (۲) حکمی حقیقة هغه وخت چه کله یوحرفي کلمه په ابتداء کښے وی. لکه کزید اخوک کښے کاف ساکن دے. اوحکمًا هغه وخت چه کله یوحرفي کلمه په ابتداء کښے واقع نه وی. لیکن کلمه مستقل کیدو په وجه دابتداء په حکم کښے وی. دغه رنګ ددے ساکن کیدل هم خلاف اولیٰ دے اومتحرک کیدل اولیٰ دے لکه ثَوْبِي ،دلوی .دغه رنګ ثَوْبِیْ ،دَلْوِیَ،

قوله فَاِنْ كَانَ اٰخِرُهٗ اَلِفًا تُثْبَتُ وَهُذَيْلُ تُقَلِّبُهَا لِغَيْرِ التَّثْنِيَةِ يَاءً دصورة ثانیه بیان دے چه که چرے مضاف داسے اسم وی چه د هغے چه اخر کښے الف وی نوچه کله یاء متکلم په طرف مضاف شو نوالف به ثابت ساتلے شي. ځکه چه دالف دانقلاب او تبدیلئ دپاره هیڅ علت موجبه متحقق نه دے. اوهم دا لغت فصیح دے. لکه عصا کښے عصای اولوستے شي. البته قبیله هذیل والا دغه الف په یاء سره بدلوی بیا یاء کښے مدغم کوی. چه په هغے باندے دادلیل پیش کوی چه یا ماقبل کښے کسره غواړی لکه چه ماقبل کښے صحیح او ملحق کښے تیر شوی دی. اوخبره ښکاره ده چه الف حرکت هیڅ نه قبلوی نوالف به په یاء سره بدلولے شي چه حتی الامکان مشابهت باقي پاتے شي. باقي پاتے شوه داخبره چه یاء ماقبل کښے کسره ولے غواړی؟ ددے جواب دادے چه یا جنس دے کسره نه دے اوپه دے وجه اعراب کښے هم یادکسرے په ځائے راځي. لکه تثنیه کښے

اوجمع کښې لکه عصا الف نې یا سره بدل کړو .بیاذیا په یاکښې نې اوغام اوکړو نوعَصِیّ شو لیکن یادساتی ددوی په نیزد هم الف تثنیه په یا، سره هیڅکله به نه شی بدلولې . ځکه چه الف تثنیه په یاء سره بدلیدو سره حالت رفع، حالت نصب اوحالت جر کښې التباس لازم راځی.

سوال: کـه چـرے التباس مانع جوړیدے نو بیاجمع مذکر سالم چه مضاف یائے متکلم دے نوپه دیکښے واو په یاء سره نه دی بدلیدل پکار ځکه چه بدلیدو سره خوحالت رفع اوحالت نصب اودَ حالت جر التباس لازم راځی. لکه مُسْلِمِیّ.

جواب: دواړو انقلاب اوتبدیلئ کښے فرق دے. دَالف تثنیه تبدیلی دایو وجوبی قانون سره نه وے په خلاف دَجمع مذکر سالم چه په دیکښے انقلاب اوتبدیلی وجوبی قانون سره دے لهذا البتاس دغه انقلابی تبدیلئ دَپاره مانع به شی. چه وجوبی قانون سره نه دے اودغه تبدیلی انقلاب دَپاره مانع نه وی چه وجوبی قانون نه دے .فاند فع الاشکال.

قولُهٗ وَاِنْ کَانَ یَاءً اُدْغِمَتْ

څلورم صورت که چرے اسم منقوص مضاف وی یائے متکلم په طرف ددے حکم دادے چه یاء به په یاء کښے مدغم کړے شی. ځکه چه دوه حرفونه دَیوجنس جمع وی نوددے ادغام کول واجب دی.لکه مُسْلِمِیّ حالت نصب اوحالت جر کښے اصل کښے مسلمین وو چه کله ددے اضافت یائے متکلم په طرف اوکړو نو نون پریوتو. اودَیاء په یاء کښے نے اوغام اوکړو. دغه رنګ دَقاضِ نه قاضِیّ.

سوال: فِیْ یومٍ کښے دوه حرفونه دَیو جنس دی .لیکن ادغام واجب کیدل خویو طرفته کړه دَسره هیو جائز نه دے؟

جواب: داقاعده هغه وخت ده چه کله دَدوه حرفونو اجتماع حقیقة په یو کلمه کښے وی .لکه مده کښے یاحکمًا په یوکلمه کښے وی. لکه مضاف مضاف الیه کښے مسلمی وغیره اوفی یومٍ والامثال کښے جداجدا کلمه ده نه حقیقةً یوه کلمه ده اونه حکمًا یوه کلمه ده.

قولُهٗ وَاِنْ کَانَ وَاوًا قُلِبَتْ یَاءً وَاُدْغِمَتْ وَفُتِحَتِ الْیَاءُ لِلسَّاکِنَیْنِ. په دے عبارت کښے دَ پنځم صورت بیان دے که چرے داسے اسم وی چه دَهغے په آخر کښے واو وی نوهغه په مضاف کولے

شي ياء متكلم په طرف نوواو په واو سره تبديل كړو بيا دَياء به په ياء كښے ادغام كولے شي په قانون دَقُوَيْلٌ اوپه ياهانـدے به فتحه لوستلے شي. اودافتحه به په دے .وجه وي چه دَ ساكنينو اجتماع لازم رانشي اولـلسـاكـنيـن نه مخكښے دوه مضاف مقدر دي يعني لزوم اجتماع الساكنين او حركاتونه چونكه فتحه اخف الحركات دے په دے وجه يا ته به فتحه وركولے شي.

قوله وَاَمَا الْاَسْمَاءُ السِتَّةُ فَاَ خِيْ وَاَبِيْ وَاَجَازَا الْمُبَرِّدُ اَخِيَّ وَاَبِيَّ وَتَقُوْلُ حَمِيْ وَهَنِيْ وَيُقَالُ فِيَّ فِي اْلاَ كْثَرِ وَفَمِيْ قُطِعَتْ قِيْلَ اَخٌ وَاَبٌ وَحَمٌ وَهَنٌ وَفَمٌ وَفَتْحُ الْفَاءِ اَفْصَحُ مِنْهُمَاوَجَاءَ حَمٌ مِثْلُ يَدٍ وَخَبْءٍ وَدَلْوٍ وَعَصًا مُطْلَقًا وَجَاءَ هَنٌ مِثْلُ يَدٍ مُطْلَقًا.

مصنف اسماء سته مُكَبّره بيانوي چه كله دا ياء متكلم په طرف مضاف وي سوا دَ ذُوْ نه باقي اسماء يائے متكلـم په طرف مضاف كيږي اَخٌ اواَبٌ كښے اختلاف دے. دَمبرد په نيزد اَخٌ اَبٌ په اصل كښے اَخَوٌ اَبَوٌ وو. نوچه كله اضافت اوكړے شي ياء متكلم په طرف نو واو په ياسره بدل كولو نه بعد اوعام به اوكړے شي. اودياء ماقبل ته كسره وركړے شي نو اَبِيَّ اَخِيَّ لوستل به جائز شي. دَنورو نحويانو په نيزد دَواو حذف نسيًا منسيًا مقرركړے شي. لكه څه رنګ چه يَدٌ اودَمٌ كښے مقرر كړے شوے دے. نوڅه رنګ چه يَدٌ اودمٌ يائے متكلم په طرف مضاف كولوسره يَدِيْ دَمِيْ لوستلے شي دغه رنګ داهم اَخِيْ او اَبِيْ لوستلے شي. باقي اسماء سته ؤ كښے اتفاق دے. چه دَزنانه قول حمي اوهني چه كله دا ياء متكلم په طرف مضاف كړے شي نودا واو نسيًا منسيًا به هم قرار كولے شي .اوفِيَّ چه په اصل كښے فَوْهٌ وونو هادَ نسيًا منسيًا په طور به حذف كړے شي. او واو چه دَعدم اضافت په وخت په ميم سره تبديل شوے وو هغه به واپس راوړلے شي. بيادغه واو په ياسره تبديليږ نه پس ادغام كولے شي. نواكثر په استعمال كښے فِيَّ لوستلے شي. اوبعضے استعمال كښے فمي لوستلے شي. ميم باقي ساتـلـو سره اضافت كوي. ليكن عدم اضافت په وخت واو په ميم سره په دے وجه بدليدے شو. چه دَاعراب اوتنوين دَدخول په وخت دابو حرفي كلمه پاتے نه شي .ځكه چه كله په دے بَه اعراب جاري شي نو فَوٌ فَوٌوِ واومتحرك ماقبل مفتوح وي نودَقال والا قانون سره واو به الف شي. په دے وجه دَعدم اضافت په صورت كښے واو په ميم سره بدلولے شي.اوچه كوم وخت دانهحمٌ اسم يعني اَبٌ ،اَخٌ

،هَنٌ، فَمٌ ، حَمٌ اضافت سره منقطع واقع وی. نوپه دیکښې دَاسم صریح په شان لوستلے شی .
اویادساتئ چه فَمٌ په درے حالتونو کښې لوستلے شی .دَ فاء دَ فتحے سره ،ضمے سره اوکسرے سره درے واړه حالتونه فَم،فِم، فُم جائز دی .چه کله ددے اضافت اوکړے شی. نوپه دے باندے درے اعراب لوستلے شی. لکه جَاءَ نِیْ فُوْكَ، رَاَیْتُ فَاكَ ، مَرَرْتُ بِفِیْكَ نودَاعراب مطابق لوستل او حمٌ کښے درے اعراب په لوستلے شی .اوحمٌ دَخلورو الفاظو سره دَتشبیه په وجه څلورو حالتونو کښے لوستل جائز دی. (۱) حَمٌ دَ یدٌ په شان اولوستے شی یعنی حرف محذوف واپس رانه وړے شی. لکه هٰذَا حَمٌ وَاَرَاَیْتُ حَمًا و مَرَرْتُ بِحَمٍ. دغه رنګ هٰذَا حَمُكِ الخ (۲) دَحَبْءٌ په شان یعنی مهموز اللام هم لوستلے شی .لکه هذا حَمْءٌ ،وَهٰذَا حَمْئُكَ الخ (۳) دَلَوٌّ پشان یعنی واو واپس راوړولو سره هم لوستلے شی .لکه هذا حَمْوٌ الخ (۴)دَ عَصَا په شان یعنی دَ الف مقصوره سره هم لوستلے شی لکه هذا حمًا وهذا حَمَاكَ الخ او هَنٌ مطلقًا یعنی په حالت افراد اوپه حالت اضافت مثل یَدٍ راغلے دے چه واو محذوفه هرګز واپس نه شی راوړلے . لکه هذا هَنٌ وهذا هَنُكَ الخ

قوله وَذُوْلَا یُضَافُ اِلٰی مُضْمَرٍ وَلَا یُقْطَعُ. اسماء سته مکبره کښے دَ ذُوْ دَپاره دوه قاعده بیان دے .(۱) ذُوْ همیشه دَاسم ظاهر په طرف مضاف کیږی.(۲) ذُوْ بغیر دَاضافت نه مستعملیږی نه دواړو قاعدودَپاره دلیل دا دے .چه دَذُوْ وضع په دے وجه ده چه ددے په ذریعه اسمائے جنس دَنکره یادَ معرفه صفت بیانولے شی. لکه جاء نی رَجُلٌ ذُوْمالٍ دغه رنګ جاء نی زیدٌ ذُوالمالِ اودا خبره ظاهره ده چه ضمیراسم جنس نه وی نو ذُوْ دیطرفته مضاف کیږی هم نه . که چرے ضمیر په طرف مضاف شی نوخلاف وضع ارتکاب به لازم راشی او بغیر دَاضافت هم نه استعمالیږی چه دَ وضع مخالفت رانشی.

سوال: اِنَّمَا یَعْرِفُ ذَا الْفَضْلِ مِنَ النَّاسِ ذَوُهُ دلته خو دَ ذُوْ دَضمیر په طرف اضافت دے؟

جواب: داپه اشعارو کښے دَضمیر په طرف اضافت کیدل دَقلیلے دَشاذنه دے.

تمت بالخیر بتوفیق الله تعالی